# د یوه پاچا بېرته راتګ

## د افغانستان له پاره جګړه


لیکوال

ويليم ډالريمپل William Dalrymple


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




بلومزبريBloomsbury

لندن ډهلي نيويارک سيډني

لمړی په ۲۰۱۳ کال په لندن کې چاپ شو

د کاپي حق © ۲۰۱۳ د ويليم ډلرېمپل

نقشې او د څېرکو انځورونه : اولېويه فرېزر

قومي شجرې: ايم ال ډيزاين

د ليکوال معنوي حقونه خوندي دي.

پرته د خپرونکي له ليکلې اجازې د دغه کتاب له هرې برخې په هره بڼه کار اخيستنه يا بيا چاپونه منع ده. په کره کتنو کې د کتاب له منځپانګې لنډ نقل قول مستثنی دی.

په هره مناسبه توګه هڅه شوې چې د هغه څېزونو د چاپ حق خښتن ومومندل شي چې په دغه کتاب کې بيا خپاره شوي. خو که په تېروتنه چا ته پام نه وي شوی، د کتاب خپروونکی به خوښ شي چې دوی اړيکې ورسره ونيسي. له حقوقي اړخه، په ف پاڼه کې کورودانی د چاپ د حق يوه برخه جوړوي.

د بلومزبري مطبعه
Bloomsbury Publishing PIC
50 Bedford Square
London
WC1B 3DP

د بلومزبري مطبعه لندن، ډهلي، نيويارک، سيډني
د دغه کتاب اخځليک په برتېش کتابتون British Library کې ثبت شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ګران ادم

او څلورو هغو کسانو ته چې له تاریخ سره یې زما مینه وزېږوله:

ورانېکه ټلفر Veronica Telfer

اېډوارډ کاربورلډ Fr. Edward Corbould OSB

لوسي وورک Lucy Warrack

او

اېلسي ګېبس Elsie Gibbs

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړن يادښت

د *يوه پاچا بېرته راتګ* ليکوال، ويليم ډلرېمپل، يو وتلی تاريخپوه دی چې کتابونه يې په تېره بيا په لوېديځ کې د ډېرو خلکو خوښ دي. دغه کتاب د افغان-انګليس د لمړۍ جګړې په هکله دی چې د جګړې د پيل لامل، د لوېې لوبې پيل، د اشغال بهير، د انګرېزانو پر ضد پاڅون، د دوی ماته او د جګړې په اړه ډېرې نورې پېښې په ډېر تفصيل او مستنده بڼه په کې بيان شوې دي. سربېره پر دې، په جګړه کې د ښکېلو خواوو مشـــران په پوره تفصـــيل انځور شـــوي او دا په کې ځرګندېږي چې د بېلګې په توګه په افغان لوري کې څوک د هېواد پالنې له کبله په جګړه کې ښکېل وو، څوک د پيسو وږي او څوک د واک تږي وو. ليکوال د دې کتاب د ليکلو په موخه ډېرې پلټنې نه يوازې په انګلنډ بلکې په افغانســتان، پاکســتان، روســيه او هند کې ترســره کړې دي او داســې سرچينې يې موندلې چې تر اوسه راسپړل شوې نه وې.

ډېری هغه کتابونه چې تراوســـه په انګلســـتان کې د افغان-انګليس جګړو په اړه ليکل شـــوي، يو اړخيزه دي، پېښــې د انګرېزانو په ګټه بيانوي او افغانانو ته په کې د تنګ نظرو او معتصــبو په ســترګه کتل شــوي. د *يوه پاچا بېرته راتګ* ليکوال يوازې په انګرېزي ســرچينو بســنه نه کوي او له افغان ســرچينو ســربېره له ډېرو نورو ســرچينو څخه په کار اخيســتنې يې په ډېره مفصــله او ناپيلې توګه پېښــې بيان کړې دي او دا يې لوســتونکو ته جوته کړې چې افغانان هغســې نه دي لکه په نورو انګرېزي تاريخونو کې چې ياد شـــوي. په دې اړه ليکوال په خپل يادښــت کې ليکلي: «بله ډېره مهمه خبره دا ده چې د افغان ســرچينو په برکت د افغان مقاومت مشــران ناڅاپه داسې سم سړي ځرګند شول چې له خپلو ټولو حواسو سره ښـه انسانان وو چې خپل انفرادي اندونه او انګېزې يې درلودې، خو انګرېزي ســرچينو په ټوليزه توګه يوازې د ړېرورو تنګ نظرو او متعصــبو په ســترګه ورته کتلي.»

ســـربېره پر دې، په دې کتاب کې د افغان-انګليس لمړۍ جګړې ښېلابېل اړخونه په افغانســـتان کې د اوســـنۍ جګړې سـره پرتله شـوي او په حيرانوونکې توګه د دوی ورته والی جوت شـوی. ليکوال په خپل يادښـت کې دغه وړاندوينه کړې او داســې يې ليکلي: «...دا يقيني برېښــي چې په دغه هېواد کې د لوېديځ څلورمه جګړه به له دومره لړو سـياسـي ګټو سـره پای ته ورسـېږي لکه مخکنۍ درې جګړې (د افغان-انګليس درې تېرې جګړې) او لکه همدغه تېرې جګړې، وروســـته له شـــرموونکې ماتې څخه به په ســـپکاوي ځواکونه ترې وايســـتل شـــي، افغانسـتان به يو ځل بيا په قومي ګډوډيو کې پرېښـودل شـي او دا به ډېره شـونې شـي چې هغه څوک بيا واک ترلاسه کړي چې د پرځولو په موخه يې جګړه پيل شوه.» په حيرانوونکې توګه، داسې ښکاري چې د ليکوال دغه وړاندوينه اوس په پېښېدو ده. زه چې همدا اوس دغه يادښت ليکم، د افغان-انګليس د لمړۍ جګړې د بهير يوه برخه اوســـنيو هغو پېښـــو ته کټ مټ ورته ده چې په دې ورځو کې په افغانســـتان کې تکرارېږي. هغه وخت انګرېزانو د امير دوسـت محمد واکمني ړنګه کړه او پر ځای يې خپل لاسپوڅی شـاه شـجاع پر تخت کښېناوه، خو کله چې انګرېزان له ماتې سره مخ کېدل، شـاه شـجاع ته يې شـا واړوله او بېرته يې د دوسـت محمد واکمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته لاره هواره کړه. په اوســـني پېر کې امریکایانو د طالبانو واکمني رنګه کړه او پر ځای یې د خپلې خوښــې حکومت جوړ کړ. اوس چې د ماتې په مورګه کې دي، هغه حکومت ته یې شـــا کړه چې دوی یې ملاتړ کولو او د هغه چا واک ته د رسولو هڅې کوي چې واکمني یې دوی پرځولې وه.

دا کتاب ما ته ډېر په زړه پورې ښکاره شــو او دا هیله راته پیدا شــوه چې افغانان هم دې ته لاس رسی ولري. لکه څنګه چې اوس د خدای ج په فضل ډېر کتابونه په پښتو ژبه خپرېږي، دا پوښتنه راته پیدا شوه چې دغه کتاب به ژباړل شــوی وي او که نه. کله چې پوه شــوم چې تراوســه نه دی ژباړل شــوی، نو که څه هم مســلکي ژباړن نه یم، ما یې د ژباړې تکل وکړ او دا دی له څه باندې یو کال وروسته خپرېدو ته چمتو شو.

ما هڅه وکړه چې په ژباړه کې له سوچه پښتو کلیمو څخه کار واخلم، خو دا کار راته ډېر ستونزمن شو؛ نو په دې هڅه کې بریالی نه شــوم. ســتونزه دا وه چې د ځینو انګرېزي کلیمو ســیالې کلیمې مې په پښــتو ژبه نشــوای موندلی او کله یې چې په موندلو بریالی کېدم، ډېری یې دومره نااشــنا او عجیبه راته برېښــېدې چې ما یې کارولو ته زړه نه شوای ښه کولی؛ نو دې ته اړ کېدم چې د یوې انګرېزي کلیمې د سم مفهوم له پاره یوه بشپړه غونډله ولیکم او یا د بلې ژبې کلیمې وکاروم. دا ډېر د خواشــینۍ ځای دی چې ســره له دې چې په پښــتو کې د ډېرو څیزونو له پاره ســمې کلیمې شــته، خو زموږ د لیکوالانو او قلم خاوندانو له وجې چې په خپلو لیکنو او خبرو کې له پردیو کلیمو څخه کار اخلي او همدې ته ورته د هغه پښــتنو له وجې چې زموږ د دري ژبو وطنوالو په ســیمو کې مېشــت دي او د دري ژبې اغېز پرې کړی، اوس پردی کلیمې د بې شــمېره پښــتو کلیمو ځای نیولی او دغســې پښــتو کلیمې اوس دومره نااشــنا شــوې دي چې په لیکلو او ویلو کې ډېرې عجیبې ښــکاري. د بېلګې په توګه، په پښتو کې وټه شته خو پر ځای یې اقتصاد کارول کېږي، پخلنځی شته، خو اشپزخانه، اکاړ شته خو مستبد، پاڅکی شته خو مفتخور کارول کېږي. که دا کار دوام وکړي، پښتو ژبه به هسې د نورو ژبو یوه ګډوله شي. هیله من یم چې هر پښتون په دې اړه د مسولیت احساس وکړي او د پردیو کلیمو له کارولو ډډه وکړي. د دې کتاب په ژباړه کې هغه کلیمې چې ما ته څه ناڅه نااشــنا ښــکاره شــوې، د پاڼې په حاشــیه کې مې په ګډوډه پښتو مانا ورته لیکلې چې د کتاب په لوستلو او پوهاوي کې اسانتیا راشي.

په دې کتاب کې د خوشــحال خان او رحمن بابا له څو بیتونو ســرېېره له اکبرنامې، جنګ نامې او شــجاع له ژوند لیک څخه ځینې شــعرونه په انګلیسي ژبه ژباړل شــوي. ما هڅه وکړه چې د دغه شــعرونو اصلي متن پیدا کړم ځکه چې له انګلیســي څخه یې بېرته ژباړه به بې وزنه او بې قافیې وي. د رحمن بابا بیتونه مې زده وو او د خوشــحال خان بیتونه مې د دوســتانو په مرســته وموندل، خو د نورو شــعرونو په موندلو بریالی نه شــوم که څه هم حتی د دغه کتاب د لیکوال ســره مې اړیکه ونیوه. هغه راته وویل چې د شــعرونو اصلي متنونه د ژباړن سره په هند کې دي او دی به هڅه وکړي چې زه لاس رسی ورته پیدا کړم، خو دې هڅې څه پایله ونه زېږوله؛ نو زه دې ته اړ شوم چې ویې ژباړم. ژباړه یې اصلي مفهوم افاده کوي، خو د شعر په څېر وزن او قافیه نه لري.

بل دا چې په انګلیســي ژبه کې تره او ماما ته یوه کلیمه کارول کېږي. همدې ته ورته، ښــینې او ورېنداري، وراره او خورېړ، ورېره او خورځه، امۍ او ترورۍ ته. چېرته چې زه په ژباړه کې له داســې کلیمو ســره مخ شــوی یم، دواړه ماناوې مې څنګ تر څنګ لیکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې د دغه کتاب په ژباړه کې غواړم له لاندې کسانو څخه د زړه له کومې مننه وکړم ښاغلی ویلیم ډلریمپل چې په لیکلې بڼه یې د ژباړې اجازه راکړه.

- ښاغلی عبدالحبیب صالح چې څه نا څه درې میاشتې کابو هر ماخوستن لږترلږه یو ساعت یې د تیلفون په وسیله د ژباړې د سمون او د مناسبه پښتو کلیمو د کارولو په هکله له ماسره مرسته وکړه.
- ښاغلی هېواد رفعت چې ما به د هر څپرکي ژباړه څو ځلې ولوسته او اصلاح به مې کړه، خو کله به مې چې ده ته ورولېږه، په خپلو څکو سترګو او بشپړه ځیرکتیا به یې بیا هم ډېرې تېروتنې په کې پیدا کړې.
- ښاغلی عبدالمالک بېکسیار چې په ورین تندي یې زما غوښتنه ومنله چې د ژباړې وروستۍ کتنه یې په غاړه واخیسته او ډېرې تېروتنې یې اصلاح کړې.

د دغه کتاب ژباړه خپل کړېدلي ولس ته ډالۍ کوم.

په درناوی

عبدالکریم رحیمزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویو شاهانو تل د خپل سلطنت پېښې ثبت کړې دي. ځینو ته چې خدای استعداد ورکړی، په خپله یې د خپل سلطنت په دوران کې پېښې لیکلې، خو ډېرو دغه دنده لیکوالانو او تاریخ پوهانو ته سپارلې ده چې دغسې ټولګې د تاریخ په حافظه کې پاتې شي.
نو د مهربان خدای په دربار کې دغه عاجز بنده، سلطان شجاع الملک شجاع دراني، هوډ وکړ چې د خپل سلطنت د دورې جګړې او پېښې ولیکي څو د خراسان تاریخ پوهان د دغه پېښو او جګړو په رښتیني تفصیل پوه وي او مفکر لوستونکي له دغو بېلګو څخه درس واخلي.

شاه شجاع، د شاه شجاع واقعیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

نقشې.......... ب
د شخصیتونو نوملړ.......... ث
افغانان.......... ث
*سدوزي*.......... *ث*
*بارکزي*.......... *ح*
*د مقاومت نور مشران*.......... *د*
انګرېزان.......... ر
نور کسان.......... ض
سدوزي او بارکرزي.......... ع
کورودانی.......... ف
د حاکمیت له پاره اسانه ځای نه دی.......... ۱
یو نارامه ذهن.......... ۲۱
د لوېې لوبې پیل.......... ۵۱
د دوزخ خوله.......... ۹۹
د جهاد جنډه.......... ۱۵۰
مور د خپلې نادانۍ له امله ناکامېږو.......... ۱۸۷
ټول نظم په ختمېدو دی.......... ۲۱۳
د بېګلو کوکې.......... ۲۶۸
د یوه پاچا مړینه.......... ۲۹۱
د ناښنده موخې له پاره یوه جګړه.......... ۳۱۶
د لیکوال یادښت.......... ۳۶۰
اخځلیک.......... ۳۷۰


(c) ketabton.com: The Digital Library



# نقشې

## پر افغانستان باندې يرغل ۱۸۳۹ - ۱۸۴۲


## کابل ۱۸۳۹ - ۱۸۴۲



(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاتګ تګ لوری ۱۸۴۲



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شخصیتونو نوملړ
# افغانان

## سدوزي

**احمدشاه ابدالي (۱۷۲۲-۱۷۷۲):** په ملتان کې زېږدلی او د پارس جنګسالار نادرشاه په چوپړ کې یې واک تر لاسه کړ. د نادرشاه له مرګ څخه وروسته احمد شاه د کوه نور د الماس په ګډون، د شاه د مغولي ګانو صندوق خپل کړ او له دې څخه یې د خراسان، کابل او لاهور د فتحې د تمویل له پاره کار واخیست، بیا یې په هند کې یو شمېر ګټور یرغلونه ترسره کړل. د دراني ( د ملغلرو ملغلره) لقب په ترلاسه کولو، احمدشاه دراني شمال ته د ازبکانو، سوېل ته د مغلو او لوېدیځ ته د پارس د صفویانو له درې رنګو امپراتوریو څخه یوه امپراتوري جوړه کړه. دغه امپراتوري په خپل اوج کې د اوسني ایران له نیشاپوره تر افغانستان، پنجاب او له سند څخه تر کشمیره او د مغول ډهلي تر لمنې وغزېده. احمدشاه ابدالي وروسته له دې چې یو تومور یې پزه له منځه یوړه او مغزو ته یې سرایت وکړ مړ شو.

**تیمورشاه (۱۷۷۲-۱۷۹۳):** د احمدشاه ابدالي زوی او د شاه محمود، شاه زمان او شاه شجاع پلار و. تیمور شاه چې پلار یې د درانیو امپراتوري ورته پرېښې وه، په بریالیتوب سره افغان خاوره وساتله، خو د پارس او هند پولې یې له لاسه ورکړې. تیمورشاه پلازمېنه له کندهاره کابل ته یوړه چې په دې توګه د پښتني سیمو له اړودوړ نه په امان کې وي. وروسته له مړینې یې د ۲۴ زامنو تر منځ په وراثت داسې ترخې شخړې جوړې شوې چې د دراني امپراتوري یې په کورنۍ جګړو واړوله.

**شاه زمان (سلطنت ۱۷۹۳-۱۸۰۰، مړینه ۱۸۴۴):** د خپل پلار، تیمور شاه ځای ناستی شو او هڅه یې وکړه چې د خپل نیکه دراني امپراتوري له رنګېدو وژغوري خو بریا یې محدوده وه. په ۱۷۹۶ کال کې کله چې په هندوستان باندې د یرغل په هڅه کې پاتې راغی، د خپلې واکمنۍ کنټرول یې له لاسه ورکړ او د ۱۸۰۰ کال په ژمي کې د غبرګو دښمنانو، د بارکزي قبیلې او میرني ورور شاه محمود، له خوا اسیر او ړوند کړل شو. کله چې شاه شجاع په ۱۸۰۳ کال کې واک ته ورسېد، شاه زمان یې له بند څخه ازاد کړ. ده په کابل کې ژوند کاوه، خو په ۱۸۰۹ کال د نیملې Nimla له ماتې وروسته هندوستان ته په تېښته اړ شو. په ۱۸۴۱ کال کې بېرته کابل ته راغی او د لنډې مودې له پاره د شاه شجاع سره د کابل د پاځون په بهیر کې یو ځای شو. یو کال وروسته کله چې ورور یې ووژل شو، شاه زمان د تل له پاره افغانستان پرېښود او په لودیانه Ludhiana کې یې د تبعید ژوند پیل کړ. دی په ۱۸۴۴ کال کې مړ او د سېرهند Sirhind په صوفي زیارت Sufi Shrine کې خښ کړل شو.

**شاه شجاع (۱۷۸۶-۱۸۴۲):** شاه شجاع هغه وخت نومور شو چې مشر ورور یې شاه زمان په ۱۸۰۰م کال دښمنانو اسیر او ړوند کړ. شاه شجاع د نیول کېدو له وېرې غرونو ته وتښتېد او پټ ژوند یې کولو. کله چې په ۱۸۰۳ کال په کابل کې فرقه ییزه بلوا روانه وه، دی کابل ته لاړ او هلته یې واک خپل کړ. د ده واکمني بیا هغه وخت پای ته ورسېده چې په ۱۸۰۹ کال کې بارکزیو او میرني ورور یې د نیملې په جګړه کې ماته ورکړه. دی څو کاله د هند په شمال کې د فراري په څېر ګرځېده، شتمني یې ترې واخیستل شوه او په ۱۸۱۳ کال کې تر ټولو ګرانبیه شتمني (د کوه نور الماس) هم ترې واخیستل شو. په ۱۸۱۶ کال کې د ختیځ هند برتانیوي کمپنۍ په لودیانه کې پناه ورکړه. شاه شجاع درې ناکامې هڅې وکړې چې د پاچاهۍ تاج بیا پر سر کړي. په څلورمه هڅه کې بریالی شو، خو دا ځلې د ختیځ هند برتانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپنۍ خپلو ستراتیژیکي موخو ته د رسېدو له پاره، دی د ګوډاګي په څېر واک ته ورساوه. کله چې شاه شجاع د يوې ازادې واکمنۍ هڅه وکړه، انګرېزانو سمدلاسه سپک او څنډې ته کړ. د ۱۸۴۱ کال د نومبر په میاشت کې کله چې په کابل کې پاڅون مخ په پیلېدو و، شاه شجاع ته د پاڅون د مشرۍ وړاندیز وشو، خو ده رد کړ او د انګرېزانو برعکس چې د خپلو اډو په ساتلو کې بریالي نه شول، شاه شجاع په بالاحصار کې خپله اډه په بریالیتوب وساتله. د ۱۸۴۲ کال د فبرورۍ په میاشت کې، کله چې انګرېزانو شاه شجاع یوازې پرېښود او دوی د خپلې تباهۍ په لور روان شول، داسې انګېرنه کېده چې شاه شجاع به له بېلابېلو مخالفو ګروپونو سره د معاملو په وسیله خپل تخت وساتلی شي، خو د اپریل په پنځمه، نوموړی هغه چا وواژه چې ده زوی بللی و. د شاه شجاع له مړينې سره د سدوزيو واکمني پای ته ورسېده او د بارکزيو حکومت پيل شو.

**شاه محمود ( سلطنت ۱۸۰۰-۱۸۰۳، ۱۸۰۹-۱۸۱۸؛ مړينه ۱۸۲۹ ):** شاه محمود وړورسته له دې چې خپل مېرنی ورور، شاه زمان اسیر او بیا ړوند کړ، په ۱۸۰۰ کال کې يې کابل تر خپل واک لاندې راوست. د شاه محمود سلطنت د ده بل میرني ورور شاه شجاع په ۱۸۰۳ کال کې نسکور کړ. شاه شجاع ونه غوښتل چې شاه محمود ړوند کړي؛ نو یوازې يې بندي کړ. شاه محمود په ۱۸۰۸ کال کې له بالاحصار څخه وتښتېد او د خپل ورور بارکزي سیالانو سره يو ځای شو. ده د شاه شجاع پر ضد په بریالیتوب د مخالفینو مشري وکړه او په ۱۸۰۹ کال کې يې وکولای شول چې شاه شجاع ته د نیملې په جګړه کې ماته ورکړي. نوموړي د دراني امپراتورۍ په پاتې سیمو تر ۱۸۱۸ کال پورې واکمني وکړه. کله چې ده خپل واکمن وزیر فتح خان شکنجه، ړوند او بیا وواژه، د فتح خان ځاځمنو• ورونو دی له کابله وشاړه. شاه محمود په هرات کې خپله واکمني تر خپل مرګه وساتله او په ۱۸۲۹ کال کې مړ شو. ځای ناستی يې خپل زوی شهزاده کامران شاه سدوزی شو چې تر ۱۸۴۲ کال پورې يې واکمني وکړه. شهزاده کامران د خپل ځواکمن وزیر، یارمحمد الکوزي (د واکمنۍ کلونه ۱۸۴۲-۱۸۵۱) له لوري له واک څخه ګوښه او ورپسې په ۱۸۴۲ کال کې پانسي شو.

**شهزاده تیمور، شهزاده فتح جنګ، شهزاده شاپور او شهزاده صفدرجنګ:** دا ټول د شاه شجاع زامن وو چې لمړني درې يې له وفا بېګم څخه وو. له دوی څخه یوه هم د پلار د واک تنده او یا د مور ځیرکتیا نه درلوده. شهزاده تیمور په بې خونده مزاج کې نوم درلود. د شهزاده فتح جنګ نوم یوازې په همنوريٍ• او په کندهار کې د خپلې چونۍ پر غړو په جنسي تېري یادېده. ده د شاه شجاع له مرګ نه وروسته په کابل کې پنځه میاشتې حکومت وکړ، خو کله چې پوه شو چې انګرېزان د ده د واک ساتلو له پاره نه پاتې کېږي، واک يې خپل ورور، شهزاده شاپور ته په ۱۸۴۲ کال کې پرېښود. د شهزاده شاپور واکمني له يوې میاشتې څخه لږ دوام وکړ او د وزیر اکبر خان په غوښتنه د خپلو اشرافیانو په وسیله له واک څخه وشړل شو. د شاه شجاع توربخون ښایسته زوی صفدر جنګ چې د لودیانې له يوې بازینګرې څخه زېږدلی و، دومره اغېزمن نه و. څلور واړه شهزادګانو چې ونه شو کړای د انګرېزانو له تګ وروسته د پادشاهۍ تاج وساتي، په لودیانې کې په تبعید کې مړه شول.

---

• ځاځ: غوسه

ځاځمن: په غوسه

• همنوري: هم جنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بارکزي

**حاجي جمال خان ( مړینه ۱۷۷۱):** لمړی د احمدشاه ابدالي سیال او وروسته يې توپچي باشي یا د توپچي قوماندان و. د نادر افشار له مرګ وروسته يې د احمدشاه مشرۍ هغه وخت ومنله چې علماوو د احمدشاه مشري تایید کړه او ده خپل ملاتړ له احمدشاه ابدالي څخه په پوځ کې د قوماندانۍ د څوکۍ په بدل کې څرګند کړ.

**پاینده خان ( واکمني ۱۷۷۴-۱۷۹۹):** د حاجي جمال خان زوی او د تیمور خان په دربار کې تر ټولو واکمن اشرافي و. دا پاینده خان و چې په ملاتړ يې شاه زمان وکولای شول قدرت ته ورسېږي. دوی دواړه هغه وخت بدوردي• شول چې شاه زمان هڅه وکړه د میراثي اشرافیت واک محدود کړي او کله چې پاینده خان د شاه زمان پر ضد د کودتا هڅه وکړه. شاه زمان په ۱۷۹۹ کال پاینده خان اعدام کړ. د دې پر ځای چې د بارکزیو واک پای ته ورسوي، دغه اعدام د شاه زمان د نسکورېدو او د پاینده خان د ۲۱ زامنو د واکمنۍ لامل شو، په ځانګړې توګه د پاینده خان د مشر زوی وزیر فتح خان او د ده کشر ورور او متحد، دوست محمد خان. د پاینده خان وژنې د سدوزیو او بارګزیو تر منځ داسې د وینې دښمني پیل کړه چې تر نیمې پېړۍ يې خپل سیوری په سیمه اچولی و.

**وزیرفتح خان (۱۷۷۸-۱۸۱۸):** د پاینده خان تر ټولو مشر زوی و. د پلار له اعدام وروسته، فتح خان وکولای شول ایران ته وتښتي. ده په راتلونکو کلونو کې له سدوزیو څخه خپل غچ واخیست. لمړی يې د شاه زمان د میرني ورور شاه محمود په وسیله د شاه زمان واکمني نسکوره کړه او شاه زمان يې ړوند کړ او بیا يې شاه شجاع ته د نیملې په جګړه کې ماته ورکړه. فتح خان ترهغه وخته د شاه محمود تر ټولو واکمن وزیر و چې په هرات کې د ده په مرسته په ۱۸۱۷ کال کې د سدوزیو په حرم تېری وشو. ورپسې شاه محمود هغه ړوند کړ، د سر پوستکی يې ترې واېسته، شکنجه يې کړ او په ۱۸۱۸ کال کې يې اعدام کړ. دغه اکاړې• وژنې بیا د سدوزیو او بارکزیو تر منځ دښمني تازه کړه او سیمه له افغانستان څخه د وروستي سدوزي تر شړلو وېشلې پاتې شوه.

**دوست محمد خان (۱۷۹۲-۱۸۶۳):** دوست محمد خان د پاینده خان اتلسم زوی و چې له یوې ټیټ پوړې قزلباشې ښځې څخه يې زېږېدلی و. دی په لمړي ځل د خپل مشر ورور وزیر فتح خان په وسیله واک ته ورسېد او د فتح خان له مرګ څخه وروسته د ده خپلې بېرحمه چالاکۍ او اغېزمنتیا دی واک ته ورسولو. دوست محمد له ۱۸۱۸ کال څخه واک ته تر رسېدو یعنې ۱۸۲۶ کال پورې کرار کرار خپل واک مضبوط کړ او په ۱۸۳۵ کال يې د سېکانو پر ضد جهاد اعلان او خپل ځان يې په رسمي توګه امیر اعلان کړ. دی د الکساندر برنز Alexander Burnes ډېر خوښ و او په خپلو راپورونو کې به يې تل د دوست محمد خان د عدالت او ګرانښت ستاینه کوله، خو د الکساندر برنز له هڅو سره سره، کلکتې په دوامداره توګه ده ته د برتانیې د ګټو د دښمن په سترګه کتل. کله چې دوست محمد د روسي استازی، ایوان ویتکېویچ Ivan Vitkevitch په ۱۸۳۸ کال کې خپل حضور ته ومنلو، لارډ اکلنډ Lord Auckland پرېکړه وکړه چې د دوست محمد اصلي سدوزی سیال، شاه شجاع د ده ځای ناستی کړي. کله چې انګرېزانو کابل ونیو، دوست محمد اتلس میاشتې په تېښته تېرې کړې مخکې له دې چې د ۱۸۴۰ کال د نومبر په څلورمه سېر ویلیم مېکناټن

---

• بدورده کېدل: مخالف کېدل

• اکاړ: ظالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تسلیم شي. له تسلیمی وروسته دوست محمد هند ته تبعید شو. د شاه شجاع له وژل کېدلو او ورپسې په ۱۸۴۲ کال کې له افغانستان څخه د انګرېزانو له وتلو وروسته، دوست محمد ازاد شو او اجازه ورکړل شوه چې بېرته کابل ته لاړ شي. د خپلې واکمنۍ په راتلونکو ۲۱ کلونو کې په دې بریالی شو چې خپله واکمني د هېواد تر اوسنيو پولو وغځوي. دوست محمد د هرات له فتحه کولو څخه لږ وخت وروسته په ۱۸۶۳ کال کې مړ شو.

**نواب جبارخان (۱۸۵۴-۱۸۸۲):** د پاینده خان اووم زوی او د خپل کشر ورور، دوست محمد خان نږدې متحد و چې له انګلستان سره یې خاصه مینه درلوده. که څه هم له لوېدیځي ژوند او ډېرو انګرېزي مامورینو سره یې ناتې• درلود، نواب جبار خان خپل ورور دوست محمد خان ته وفادار و. هغه د ۱۸۳۸ کال د انګرېزي یرغل په وړاندې ودرېد او د دوی پر ضد مقاومت کې یې نوم درلود.

**وفا بېګم ( مېرمنه ۱۸۳۸):** د پاینده خان لور او د فتح خان او دوست محمد خان میرنۍ خور وه چې له شاه شجاع سره یې هغه وخت واده وکړ کله چې نوموړي د ۱۸۰۳ کال څخه لږ وروسته د خپلې پاچاهۍ په لمړۍ دوره کې د سدوزیو او بارکزیو په منځ کې د دښمنۍ د نرمښت هڅه کوله. لکه څنګه چې انګرېزانو د هغې د ارامه طبیعت او زړورتیا ستاینه کوله، وفا بېګم په دې وتوانېده چې په ۱۸۱۳ کال کې رنجیت سېنګ ته د کوه نور الماس په بدل کې خپل مېړه، شاه شجاع په کشمیر کې له بند څخه ازاد کړي او د ځینې سرچینو پر بنسټ، وفا بېګم په ۱۸۱۵ کال کې د شاه شجاع سره له لاهور څخه په دویم ځل تېښته کې مرسته وکړه. کله چې لودیانې ته ورسېده، وفا بېګم انګرېزان په دې قانع کړل چې هغې ته پناه ورکړي او په دې توګه یې سدوزیو ته یوه داسې اډه جوړه کړه له کومې څخه چې دوی به یو وخت بېرته د پاچاهۍ تخت ترلاسه کړي. وفابېګم په ۱۸۳۸ کال کې مړه شوه او له مرګ څخه یې وروسته ځینې خلک د شاه شجاع د پالیسو د ناکامۍ وجه، د وفابېګم د ښو مشورو نه شتون ګڼي.

**وزیرمحمد اکبرخان (۱۸۱۶-۱۸۴۷):** د دوست محمد خان څلورم او تر ټولو وړ زوی چې له پوپلزۍ ښځې څخه یې زېږدلی و. وزیر محمد اکبر خان د یو پېچلي او پوه کرکټر خاوند و او په کابل کې ورته د مقامت تر ټولو زړور او بې باکه مشر په سترګه کتل کېدل. په اکبر نامه کې په تفصیل د ده د واده د تخت خوند تشریح شوی. وزیر محمد اکبرخان ته هغه وخت د خلکو پام شو چې ده په ۱۸۳۷ کال کې د جمرود په جګړه کې د سېک جنرال هري سېنګ Hari Singh په ماته کې مرسته وکړه. د ځینې سرچینو پر بنسټ، وزیر اکبر خان په خپله سېک جنرال مړ او اندامونه یې ټوټې ټوټې کړل. کله چې د ده پلار په ۱۸۴۰ کې انګرېزانو ته تسلیم شو او دی په خپله د بخارا له بند څخه ازاد شو، د انګرېزانو پر ضد یې په هندوکش کې د مقاومت په جوړلو پیل وکړ. وزیر اکبر خان د ۱۸۴۱ کال د نومبر په پنځه ویشتمه کابل ته ورسېد او د انګرېزانو پر ضد پاڅون ته یې بدلون ورکړ. نوموړي د انګرېزانو د وتلو په اړه له انګرېزانو سره د خبرو اترو مشري کوله. د ۱۸۴۱ کال د ډسمبر په درویشتمه د کابل رود غاړې ته څېرمه د خبرو اترو په ترخ کې، شخصاً په خپله وزیر اکبر خان د انګرېزانو استازی سېر ویلیم مېکناټن وواژه. ورپسې ده د جلال اباد د کلابندۍ مشري وکړه. د ۱۸۴۲ کال د سپټمبر په دیارلسمه کله چې پالک Pollock د کابل د بېرته نیولو هڅه وکړه، نوموړي د هغه افغان ځواکونو قومانده هم کوله چې د دغه هڅې مخنیوی یې کاوه. د انګرېزانو له وتلو وروسته، وزیر اکبر خان بیا پلازمېنه ونیوله او د خپل پلار دوست محمد خان تر بېرته راتګ ، د ۱۸۴۳ کال د اپریل تر میاشتې پورې،

---

• ناتې: علاقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو واکمن کس و. وزیر اکبر خان څلور کاله وروسته مړ شـو. ځینې وایې چې ده ته دوست محمد خان زهر ورکړل ځکه چې هغه یې خپلې واکمنۍ ته ممکنه ګواښ ګاڼه.

**نواب محمد زمان خان بارکزی:** د دوسـت محمد خان وراره او نږدې سـلاکار و. دی د دوسـت محمد خان په دوره کې له ۱۸۰۹ کال څخه تر ۱۸۳۴ کال پورې د جلال اباد والي و او له دوســـت محمد خان ســـره په ۱۸۳۹ کال کې له کابل څخه وتښـتېد، خو موهن لال کشـمیري Mohan Lal Kashmiri له تبعید څخه د هغه د بېرته راتګ لاره هواره کړه او په ۱۸۴۰ کال کې د شـاه شـجاع په دربار کې ومنل شـو. د پاځون په پیل کې یې له انګرېزانو څخه د ملاتړ نښـې نښـانې وښودې، خو ډېر ژر دې ته قانع کړل شـو چې د پاځون مشـري په غاړه واخلي. که څه هم دی په شـتمن کوچي نومور و او د یو اطرافي په سترګه ورته کتل کېدل، د سپتمبر په میاشـت کې ده ته د امیر لقب ورکړل شـو، خو کله یې چې د تره زوی ، وزیر اکبر خان د ۱۸۴۱ کال په نومبر میاشـــت کې کابل ته راغی، هغه یې څنډې ته کړ. د ۱۸۴۲ کال په فبرورۍ کې، نواب محمد زمان خان بارکزي د شاه شجاع سره ائتلاف وکړ او د وزیر دنده یې واخیسته، خو له نایب امین الله خان لوګري سره د ده د سیالۍ له کبله او د زمان خان د زوی په پرتله د لوګري پر زوی، نصرالله باندې د شاه شجاع د پام او مهربانۍ له امله دغه ائتلاف مات شـو. د زمان خان زوی، شـجاع الدوله بارکزی خپل پلار ګڼلی، شـاه شـجاع وواژو.

## د مقاومت نور مشران

**نایب امین لله خان لوګري:** امین الله خان یو یوســـفزی پښـــتون Pathan او له یوې متواضـــع کورنۍ څخه و. د تیمور شـاه په دوران کې د امین الله خان پلار د کشـمیر د والي معاون و او ده د خپلې وړتیا او سـدوزیو ته د وفادارۍ له امله پرمختګ وکړ. په ۱۸۳۹ کال کې، که څه هم هغه ډېر زوړ و، خو د خپلې ملېشـې د قوماندانۍ ســـربېره، د ډېرو مالي سـرچینو او له سـتراتېژیکي پلوه د زیاتو مهمو ځمکو اداره هم د ده په لاس کې وه. امین الله خان که څه هم د سـدوزیو شـاهي کورنۍ ته کلک وفادار و، خو په خپله خاوره کې یې د انګرېزي ملحدینو په شـتون سـخته نیوکه کوله او کله چې یو ټیټ پوړي انګرېز افسـر، کپتاین ټرور Captain Trevor هغه ته سـپکاوی وکړ او د اوچتې شـوې مالیې د نه ورکولو له امله یې ځمکه له لاســـه ورکړه، نوموړی له عبدالله خان اڅکزي ســـره یو ځای د مقاومت د مشـــرۍ یو مهم مرکز وګرځېد. په خرد کابل کې د انګرېزانو له ستولو څخه وروسته، امین الله خان بېرته د شاه شجاع چوپړ ته لاړ او د شاه شجاع له مرګ وروسته، بېرته بارکزیو ته ورغی. کله چې دوست محمد بیا واک تر لاسه کړ، نوموړی اړودوړ ته د سوله منو خلکو د پارولو په تور بندي شـو او د بالاحصار په تل خونې زندان کې مړ شـو.

**عبدالله خان اڅکزی ( مړینه ۱۸۴۱):** عبدالله خان اڅکزی یو اشـرافي جنګیالی او په سیمه کې له یوې ډېرې واکمنې او عزتمنې کورنۍ څخه و. د درانیو د امپراتورۍ په لمړیو کې د هغه نیکه د دوســـت محمد خان د نیکه ســـیال و او اڅکزي هېڅ کله د بـارکزیو مینـه وال نـه وو. عبـدالله خـان اڅکزی هم لکـه ملګری یې، نـایب امین الله خـان لوګري پـه څېر پـه افغانســـتان کې د انګرېزي پوځ د شـــتون ســـخت مخالف و او کله چې الکســـاندر برنز د ده معشـــوقه جنسـي عمل ته لېشـــه• کړه او کله چې ده د هغې د بېرته راوســـتلو هڅه وکړه او په ده ملنډې ووهل شـــوې، د انګرېزانو پر ضـــد یې

• لېشه: (جنسي) ترغیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقاومت ته مخ کړ او د مقاومت له دوو مهمو او اصلي مشرانو څخه یو دی شو. په ۱۸۴۱ کال د جګړې په پیل کې ، عبدالله خان اڅکزی د انګرېزانو پر ضد د جګړې عمومي قوماندان وګمارل شو او تر مرګه د انګرېزي ځواکونو د ماتو اصلی طراح و. نوموړی د نومبر په درویشتمه د بي بي مهرو د غونډۍ په جګړه کې مړ شو. یو قاتل ادعا وکړه چې عبدالله خان اڅکزی یې د شا له خوا په ډزو وویشت څو هغه انعام تر لاسه کړي چې موهن لال کشمیري د مخالفینو مشرانو د وژلو په سر ایښی و.

**محمد شاه خان غلجی:** د وزیر محمد اکبر خان خسر او د لغمان د غلجیو د ببرک خیلو ځواکمن مشر و. کله چې شاه شجاع په ۱۸۳۹ کال کې ببرته راوګرځېد، محمد شاه خان غلجی دې ته قانع کړل شو چې د شاه شجاع په محکمه کې کار وکړي او د شاه د جلات مشر اعزازي څوکۍ ورکړل شوه. په ۱۸۴۱ کال د اکتوبر په میاشت کې کله چې سېر ویلیم مېکناټن پر غلزیو اعانه بنده کړه، هغه د انګرېزانو پر ضد مقاومت سره یوځای شو. هر پاچا د لارې او هند ته د روان پوځي او سوداګریزو لښکرو د ساتنې په بدل کې غلزیو ته پیسې (راه داري) ورکولې، خو مېکناټن غلزي مشرانو ته خبر ورکړ چې دغه هوکړه لغوه کوي. په ۱۸۴۱ کال کې کله چې اکبر خان ببرته راوګرځېد، محمد شاه خان د انګرېزانو د شاتګ په وخت کې د دوی د ستولو مشري کوله، خو په ۱۸۴۳ کال کې د دوست محمد خان بیا واک ته له رسېدو سره، محمد شاه خان غلزی هم لکه د مخالفینو نور مشران څنډې ته کړل شو او په تبعید کې د کافرانو په منځ، نورستان کې مړ شو.

**میر مسجدي ( مړینه ۱۸۴۱) او میر حاجي:** د کوهستان دغه دوه ځواکمن او درانه وروڼه د نقشبندیه میراثي شېخان وو. میر مسجدي په پل خشتي جومات کې د جمعې د لمانځه میراثي امام، د کابل د علماوو مشر او د عاشقان او عارفان زیارت د شېخانو مشر هم و. وېډ Wade په ۱۸۳۹ کال کې دغه دوه وروڼو ته د لوی رشوت ژمنه وکړه؛ نو دوی د دوست محمد خان پر ضد د خپلو تاجکو توکموالو مشري وکړه او د شاه شجاع پر تخت کښېنولو کې یې مهم رول ولوباوه، خو یو کال وروسته هم دوی ته له ژمنې سره سم پیسې ورنه کړل شوې؛ نو دوی د شاه شجاع او د هغه د انګرېزي ملاترو پر ضد پورته شول. میر مسجدي نږدې و چې انګرېزانو ته تسلیم شي، خو د ټولو خبرو برعکس، انګرېزانو د ده پر کلا یرغل وکړ او د ده کورنی یې ووژله او څمکه یې د دښمنانو په منځ کې ووېشل شوه. له دغې پېښې وروسته، دواړه وروڼه د انګرېزانو نه پخلاکېدونکي دښمنان شول او د سدوزي ـ انګرېزي رژیم پر ضد یې لمړی د نجراو په دره کې او ورپسې په چاریکار او کابل کې د کوهستان د تاجکو مشري وکړه. د نومبر په درویشتمه میر مسجدي د بي بي مهرو په غونډۍ کې ووژل شو، خو میر حاجي د انګرېزانو پر ضد د کابل د اوسېدونکو پارولو ته دوام ورکړ. دا د انګرېزانو پر ضد په جلال اباد کې د میر حاجي د جهاد ناره وه چې شاه شجاع یې بلاخره په ۱۸۴۲ کال د اپریل په پنځمه له بالاحصار څخه په وتلو او مرګ ته د ورتګ په لور اړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انګرېزان

**مونټېسټورټ الفنسټون (۱۷۷۹-۱۸۵۹) Mountstuart Elphinstone**. د لولنډ Lowland (کوز سکاټلنډ.ژباړن) د سیمې سکاټلنډی روڼ اندی و چې لارډ مینټو Lord Monto په افغانستان کې د لمړني پلاوي د مشری له پاره په ۱۸۰۹ کال کې غوره کړ. که څه هم په پېښور کې یې د شاه شجاع تر کلا وړاندې تګ ته زړه ښه نه کړ، ده د افغانستان په هکله یو خارق العاده او نومور کتاب، د کابل د سلطنت بیان (An Acount of the  Kingdom of Caubul) چاپ کړ چې د څو نسلونو له پاره په انګرېزي ژبه د سیمې په هکله د پوهې سرچینه وګرځېد.

**تورن جنرال ویلیم الفنسټون (۱۷۸۲-۱۸۴۲) Major- General William Elphinstone** د مونټېسټورټ مشر د تره زوی او مخکې له دې چې په کابل کې د خپل عمر په اته پنځوس کلنۍ د عمومي قوماندان دنده ترسره کړي، په واټرلو Waterloo کې د ۳۳ پلي غونډ قوماندان و. ویلیم الفنسټون په پنځه پنځوس کلنۍ کې وروسته له دې چې په کلونو یې په نیمايي تنخوا ژوند وکړ، په ۱۸۳۷ کال کې بېرته پوره چوپړ ته وګرځېد چې خپل زیاتېدونکی پور خلاص کړي. د ده د ملګرو لکه لارډ اکلنډ Lord Auckland په اند، ویلیم الفنسټون جذاب شخصیت درلود، خو د هند یا هندي عسکرو د مشري کولو دومره مینه وال نه و او خپل سپاهیان یې توران Negroes ګڼل ( Negro تور پوستي سړي یا ښځې ته وايي، خو د دوی په دغه نوم یادول دوی ته سپکاوی دی .ژباړن). نوموړی هغه وخت کابل ته ورسېد چې د روماتیزم په ناروغۍ اخته و او حالت یې په چټکۍ سره په خرابېدو و. جنرال ناټ Nott نوموړی یو «وړ» سړی نه بللو. د ناټ دغه ارزونه هغه وخت بیخي سمه ثابته شوه کله چې ویلیم الفنسټون د پاځون په پیل کې هېڅ اقدام ونه کړ او ورپسې یې په خپګان کې د نه پټېیني حالت ته مخه کړه. هغه له کابل څخه د شاتګ په بهیر کې ټپي شو او له درېیو میاشتو وروسته د ۱۸۴۲ کال د اپرېل په درویشتمه د خپلو ټپونو، روحي خپګان او اسهال له وجې مړ شو.

**سېرویلیم هې مېکناټن (۱۷۹۳-۱۸۴۱) Sir William Hay Macnaghte** : مېکناټن د السټر Ulster یو په کتاب مین روڼ اندی، ژبپوه او پخوانی قاضي و چې له محکمې څخه یې د کمپنۍ د اداري چارو مشرۍ ته وده وکړه. ا یملي ایډن Eden Emily مېکناټن داسې تشریح کړی و: «زموږ لارډ پامرسټن Lord Palmerston یو وچ او معقول سړی دی چې ډېرې غټې چشمې په سترګو کوي.» نوموړي ته د هغه د هوښیارۍ په وجه ډېر درناوی کېده، خو ډېرو د ده خانتماتوب نه خوښېده او ځینې نورو به د والي د سترسلاکار څوکۍ ته د دغه «اداري کارکونکي یا د مېز شاته تل ناست سړي» وړتیا تر پوښتنې لاندې راوسته. دا مېکناټن و چې لارډ اکلنډ ته یې وویل چې دوست محمد خان ته د برتانوي ګټو د دښمن په سترګو وګوري. هغه د کلاډ وېډ Claude Wade سره په همکارۍ په کابل کې د رژیم د بدلولو کار پیل کړ چې شاه شجاع بېرته په تخت کښېنوي. د یرغل د پالیسۍ له جوړلو څخه وروسته، مېکناټن کابل ته د لېږلو غوښتنه وکړه چې دغه پالیسي هلته عملي کړي، خو اداره یې په کابل کې بریالۍ نه وه او په خپله دې ته اړ شو چې لارډ اکلنډ ته په افغانستان کې د دروغو خوشبینانه او د پوره ارامۍ پیغامونه ولېږي په داسې حال کې چې د افغانستان له بېلابېلو برخو څخه د نوموړي مامورینو له اندېښنو څخه ډک راپورونه ورلېږل. د ۱۸۴۱ کال د نومبر د میاشتې د پاځون په ترڅ کې مېکناټن خپلو جنرالانو ته د یوه کارنده عمل په لاربښونه کې پاتې راغی. نوموړی د ۱۸۴۱ کال د ډسمبر په درویشتمه له اډې څخه بهر د خبرو اترو په ترڅ کې د اکبر خان په لاس ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جګړن کلاډ وېډ (۱۷۹۴-۱۸۶۱) Major Claude Wade**: په بنګال کې زېږېدلی، یو پارس پوه و چې په لودیانه کې د برتانوي اجنټ په توګه یې دنده ترسره کوله. د نوموړي دنده یوازې د رنجیت سینګ د دربار سره د اړیکو ساتل وو، خو دغه څوکۍ یې په یوه داسې ځارګرۍ شبکې واړوله چې تر همالیا او منځنۍ اسیا غزېدلې وه. په دغه توګه نوموړی په دې وتوانېد چې په اغېزمنه توګه د لویې لوبې The Great Game د ځارګرۍ ادارې لمړنی مشر شي. دا وېډ و چې له شاه شجاع څخه په کار اخیستنې یې په کابل کې د رژیم بدلولو وړاندیز وکړ او تر یوې کچې یې له الکساندر برنز سره چې له دوست محمد سره د ائتلاف پلوی و د سیالۍ له کبله هغه پالیسي پر مخ بېوله چې د سدوزیو پاچاهۍ د بېرته اعاده کولو له پاره ترې کار اخیستل کېده. د ۱۸۳۹ کال د یرغل په بهیر کې د خیبر د نیولو په موخه پلان داسې و چې وېډ به د کمپنۍ د عسکرو او د رنجیت سینګ د پنجابي مسلمانانو د یوې ګډې قوې مشري وکړي، خو په دې بریالی نه شو چې له څو پنجابیانو پرته، پنجابي مسلمانان راټول کړي، بیا هم هغه وکړای شول چې د جولای په درویشتمه خیبر ونیسي. کله چې رنجیت سینګ مړ شو، وېډ د سیک خالصانو Khalsa سره په نانډریو شو؛ نو سیکانو له اکلنډ څخه وغوښتل چې نوموړی بدل کړي او بل څوک یې پر ځای وګماري. مخکې له دې چې تقاعد شي او د وېټ په ټاپو کې Isle of Wight هستوګن شي، وېډ د خپل ماموریت وروستي کلونه د اینډور په هستوګنځي Resident in Indore کې په لړ حساسه موقفونو کې تېر کړل.

**سېر الکساندر برنز (۱۸۰۵-۱۸۴۱) Sir Alexander Burnes** : د های لند Highlands (بر سکاټلند .ژباړن) تکړه، نوښتګر او د لوړې روحیې ځوان سکاټلندی و چې د ژبې وړتیا یې په چټکه وده کې ورسره مرسته وکړه. له ۱۸۳۰ کال څخه تر ۱۸۳۲ کال او بیا له ۱۸۳۶ کال څخه تر ۱۸۳۸ کال پورې نوموړي افغانستان او منځنۍ اسیا ته د دوه څېړنیزو یونو مشري وکړه. دغه یونونه په نامه سوداګریز خو په حقیقت کې سیاسي او کمپنۍ ته د ځارګریزه مالوماتو راټولول وو. په خپل دویم یون کې الکساندر برنز خبر شو چې په کابل کې روسي پلاوی هم د کابل دوست محمد خان ته نږدې کېدل غواړي. هغه کلکتې ته ټینګار وکړ چې له دوست محمد سره د دوستۍ تړون لاسلیک کړي، خو مشورې ته یې چا پام ونه کړ او لارډ اکلنډ دغه مشورې ته د پام پر ځای پرېکړه وکړه چې نرم خویه شاه شجاع د دوست محمد ځای ناستی کړي. برنز د دغه تګ لورې سخت مخالفت وکړ، خو کله چې هغه ته د بارونټ Baronet لقب د ورکولو او د انګرېزي استازي، سېر ویلیم مېکناټن، د مرستیال څوکۍ وړاندیز وشو، له دغه پرېکړې څخه یې خپل ملاتړ څرګند کړ. لکه څنګه چې مېکناټن په کابل کې د ادارې ټول کنټرول په خپل لاس کې واخیست، د برنز استعداد هسې ضایع شو او په پایله کې یې د افغانستان په ښځو پسې د ګرځېدو لاره خپله کړه. له همدې کبله نوموړي تر نن پورې خپل ځان افغانانو ته د کرکې څېره وګرځولو او د افغانانو د بیان پر بنسټ، د برنز همدغه کړنې په کابل کې وروستۍ خونړۍ پاڅون پیل کړ او د نومبر پر دویمه د نوموړي د بېرحمانه وژنې لامل شو.

**چارلس مسون (۱۸۰۰-۱۸۵۳) Charles Masson** : په ۱۸۲۶ کال د بهارتپور د کلابندۍ پر وخت کې یې چې کله ځان مړ واچاوه او له غونډ څخه وتښتید، نوموړی له اباسین څخه تېر او افغانستان ته یې په پښو یون وکړ. هغه لمړنی لوېدیځوال و چې د افغانستان په لرغونپوهنه کې یې پلټنې وکړې او د لوی باختري ښار پاتې شونې یې په بګرام کې وموندې او بودایي زیارت یې له خاورو څخه را وسپړو. کلاد وېډ څه نا څه د مسون په اصلي هویت او له عسکرۍ څخه یې په تېښته خبر شو او لږ وخت وروسته یې د بربنډولو په ګواښ جاسوسۍ ته اړ کړ؛ نو په دغه وسیله کلاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبې کره راپورونه په منظمه توګه له افغانستان څخه تر لاسه کول. په ۱۸۳۷ او ۱۸۳۸ کلونو کې مسون له برنز سره مرسته وکړه چې له دوست محمد سره خبرې وکړي، خو د دې سره سره چې د ټولو انګرېزانو په پرتله د افغانستان په هکله د مسون پوهه ډېره وه، د برنز برعکس، هغه ونه شو کړی چی د وروستني يرغل او اشغال پر وخت کومه ځوکۍ تر لاســـه کړي. په پای کې نوموړی بېرته انګلنډ ته لاړ او په ۱۸۵۳ کال کې د يوې نامالومې مغزي ناروغۍ له کبله د بېوزلۍ په حال کې په پاټرز بار Potters Bar کې مړ شو.

**د څلورڅلوېښـــتمې پلې فرقې بريد جنرال جـان شــلټن ( مړينـه ۱۸۴۴) Brigadier General John Shelton:** يو قهرجن، لړاک• او بې نزاکته سړی و چې خپل ښی لاس يې د پېنېسلر وور Peninsular War (د ټاپووزمې په جګړه کې. ژباړن) له لاســـه ورکړی و. هغه يو کلک انضـــباطي او پر خپلې فرقې باندې په ظلم نوموړ و. کله چې کابل ته راغی، سمدلاسه يې ځان ته په اډه کې کرکه پيدا کړه او له نرم خويه تورن جنرال الفنستون سره يې هم اړيکې خرابې شوې. تورن جنرال وروســـته ليکي: «د راتګ له لمړۍ ورځې څخه، جان شـــلټن د بې اطاعتۍ چلند درلود. هغه هېڅ کله ما ته مالومات او يا کومه مشـــوره نه راکوله، خو په هر څه کې يې عيب پيدا کولو.» د قوماندانانو دغه ناکاره جوړې ونه کړای شول چې د ۱۸۴۱ کال د نومبر مياشتې پاڅون له پاره په يوه ستراتيژۍ هوکړې ته ورسېږي، خو په پای کې جنرال جان شلټن خپل مطلب ترلاسه کړ او د هغه په وړانديز د کابل انګرېزي پوځ د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ په شپږمه له خپلې اډې څخه په واورينو درو کې د خپلې تباهۍ په لور ووت. شلټن اسير شو او وروسته ورباندې پوځي محکمه جوړه شوه خو په عزت برائت ورکړل شــو. کله چې نوموړی په ۱۸۴۴ کال له خپل اس څخه ولوېد او مړ شــو، د ده لاس لاندو په خوشحالۍ يوه ليکه جوړه او بيا يې د مارش په حالت کې د خوښۍ درې نارې وکړې.

**کالن مکنزي (۱۸۰۶-۱۸۸۱) Colin MacKenzie** : په اصل کې د پردشير Perthshire و او په هندي پوځ کې تر ټولو ښايسته ځوان افسر پېژندل کېده. په پېښور کې د سياسي اجنټ د مرستيال په توګه نوموړی په ۱۸۴۱ کال کې کابل ته لاړ او هلته په پاڅون کې بند پاتې شـــو. دی يو له هغه څو انګرېزي افســـرانو څخه و چې د جګړې په وخت کې يې خپله هوښـــياري او زړورتيا وښـــوده. په پای کې اکبر خان نوموړی يرغمل ونيو، له جګړې څخه ژوندی ووت او په سرحد کې يې د سېکانو يو غونډ جوړ او د هغه قومانده يې پر غاړه واخيسته.

**جورج لارنس (۱۸۰۴-۱۸۸۴) George Lawrence** : د دوه خورا نومورو ځېرو، هېنري او جان لارنس مشـــر ورور و. دوی دواړو وروسته د راج Raj د اتلانو په توګه نوميالتوب ترلاسه کړ. جورج د السټر Ulster يو هوښيار ځوان و چې مېکناټن د چټکې ارتقا په ورکولو سره خپل پوځي سکرتر کړ. نوموړي د ۱۸۳۹ کال په يرغل کې او همدا راز د دوست محمد په لټون کې برخه اخيستې وه او د ۱۸۴۰ کال د نومبر په څلورمه د دوست محمد په تسليمۍ کې حاضر و. هغه درې ځله له حتمي مرګ څخه بچ شو: د ۱۸۴۱ کال د نومبر په پاڅون کې، د ډسمبر په درويشتمه د مېکناټن د وژنې په وخت او له کابل څخه د شاتګ په بهير کې کله چې نوموړی يرغمل ونيول شو. هغه له دغې جګړې څخه ژوندی ووت او وروسته په ۱۸۴۶ کال کې د سېک او انګرېزانو په جګړه کې اسير شو.

• لړاک: بې ادبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الډرېډ پاټېنګر (۱۸۱۱-۱۸۴۳) Eldred Pottinger :** پاټېنګر د بوج Bhuj د څارګرۍ ادارې د مشر او د برنز د پخواني رېس، سېر هنري پاټېنګر Sir Henry Pottinger وراره/ خورېږ و. د پارسـیانو له خوا د هرات د کلابندۍ په وخت کې ۱۸۳۷-۱۸۳۸ په بدله څېره په هرات کې د پاټېنګر شتون خورا تصادفي و او انګرېزانو ته یې د اړتیا وړ مالوماتو سلسله برابره کړې وه. د انګرېزي لیکنو پر بنسـټ، پاټېنګر د هراتیانو د هوډ په ټینګښـت کې چې له هرات څخه دفاع وکړي، پوره برخه درلوده، خو د افغانانو او پارسـیانو په ډېرو لیکنو او د کلابندۍ د پېښـو په بیان کې داسـې څه نه لیدل کېږي چې د پورتنۍ خبرې پخلی وکړي. د ۱۸۴۱ کال د نومبر د میاشـتې د پاڅون په پیل کې پاټېنګر د دویم ځل له پاره د کابل په شـمال، چاریکار کې کلابند شـو او نږدې له ټولې چونۍ څخه یوازې نوموړي وکولای شـول چې د کابل اډې ته ځان ژوندی ورسوي. کله چې د هغه د مشورې برعکس، پاڅون کوونکو ته تسلیمي پیل شوه، نوموړی د نورو اسیرانو په ګډون د اکبر خان اسـیر شـو او نهه میاشـتې یې په بند کې تر هغه وخته تېرې کړې چې جنرال پالک د ۱۸۴۲ کال د سپټمبر په میاشت کې کابل بېرته ونیو. وروسته پرنوموړی باندې پوځي محکمه جوړه شوه. که څه هم په بشپړ ډول په محکمه کې برات ورکړل شـو، خو په افغانسـتان کې یې د خپل چوپړ په بدل کې کوم انعام ترلاسـه نه کړ او په کمپنۍ کې یې له خپل کار څخه استعفا وکړه. الډرېډ د خپل تره/ ماما سره د اوسېدو له پاره هانکانګ ته لاړ او هلته په ۱۸۴۳ کال کې مړ شو.

**جنرال ویلیم ناټ ( ۱۷۸۲-۱۸۴۵) General William Nott:** یو سـپین ګویه او د ولش Welsh د پولې د یو بزګر زوی و چې په ۱۸۸۰ کال کې هند ته ورسـېد. نوموړي په تدریج ځان د کمپنۍ تر ټولو لوړې جنرالۍ رتبې ته ورسـولو. یو ځیرک کس و چې خپلو سپاهیانو- تکړه زړورو عسکرو ته تل وفادار او له دوی سره یې ډېره مینه درلوده - خو هغه له خپلو امرینو سـره په چلند کې دومره اسـتعداد نه درلود. د لارډ اکلنډ په اند نوموړی نازک طبیعته، ناخوښ او د یو ښاغلي له شخصیت څخه ډېر لیرې کس و. له همدې کبله هغه ته څو ځله په کابل کې د اعلی سرقوماندان څوکۍ ور نه کړل شوه. بلاخره هغه ته د کندهار قوماندانۍ ورکړل شوه او په داسې حال کې چې په ټول افغانستان کې پاڅونونه کېدل، نوموړي وکړای شـول چې کندهار ارامه وساتي. ناټ په انګرېزي پوځي قوماندانانو کې تر ټولو اغېزمن ثابت شـو او د ۱۸۴۲ کال د اګسـټ په میاشـت کې یې د افغانسـتان له یوه سـره تر بله پوري مارش وکړ او ټول هغه ځواکونه یې مات کړل چې د نوموړي پر ضد لېږل شوي وو او د سپټمبر په اولسمه، دوه ورځې وروسته چې جنرال پالک د کابل ښار بیا ونیو، کابل ته ورسـېد. هغه د جلال اباد له لارې بېرته هند ته لاړ او په افغانسـتان کې د چوپړ په پار، په هند کې د برتانیې د استازي څوکۍ د انعام په توګه ورکړل شوه.

**دویم بریدمن هنري راولېنسـن ( ۱۸۱۰-۱۸۹۵) Lieutenant Henry Rawlinson :** یو با اسـتعداده د منځني ختیځ او سـوېلي اسـیا پېژندونکی و چې د لرغوني پارس د میخي نسـخو په پوهاوي کې یې مرسـته وکړه. په پارس کې د انګرېزي پوځي ماموریت د یوې برخې په توګه، دا راولېنسـن و چې انګرېزان یې د روسي ماموریت په هکله چې ویتکېویچ یې مشري کوله خبر کړل. نوموړي، ویتکېویچ او ورسـره مل قزاقان د پارس او افغانسـتان ترمنځ په نانډریزه سـیمه کې تصـادفي ولیدل. هغه وروسته کندهار ته بدل شو او له جنرال ناټ سره یې د سیاسي اجنټ په توګه دنده ترسره کوله. نوموړي او ناټ په شریکه وکولای شـول چې په سیمه کې ډېره کارنده اداره جوړه کړي. د ۱۸۴۲ کال د اګسـټ په میاشـت کې له ناټ سـره په ټول افغانسـتان کې په مارش یا لښـکرایسـتنه کې مل و او په کابل او اسـتالف کې یې د انګرېزي عسـکرو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګي جرمونو په لیدلو سخت ټکان وخوړ. هغه د خیبر له لارې بېرته هند ته لاړ، خو خپل پاتې کاري ژوند یې په پارس او عربي نړۍ کې تېر کړ.

**سېر رابرټ سېل (۱۷۸۲-۱۸۴۵) Sir Robert Sale:** د کمپنۍ جنګ لیدلی و چې خپلو افرادو یې د جګړمار باب په نامه پېژنده څکه نوموړي نه غوښتل چې د لیکو تر شا پاتې شي او تل به په شدیده تن په تن جګړو کې ښکېل کېدو. سېل د غزني په جګړه کې برخه واخیسته او په ۱۸۴۰ کال کې کوهستان ته د نوموړي د جزاوو او له تاوتریخوالي څخه ډک عملیات تر ډېرې کچې د دې لامل شول چې تاجکان د سدوزي - انګرېزي رژیم پر ضد متحد کړي. د ۱۸۴۱ کال د اکتوبر په پای کې نوموړی بېرته ډهلي ته وغوښتل شو او په لاره کې یې غلزیو ته د دوی د مقامت له امله د جزا هوډ درلود، خو کله چې د هغه ځواکونه د خرد کابل او تیزین په غاښیو کې پر مخ روان وو، دوی له یو لړ بریالیو غلچکي بریدونو سره مخامخ شول. داسې باور کېده چې دغه عملیات به قومي خلکو ته جزا ورکړي، خو په تنګو درو کې دغه عملیات د بل ډول قربانیانو په لړلو پای ته ورسېدل. ښکاریانو په داسې حالت کې ځان وموند چې دوی په خپله ښکار کېدل. سېل له خپلو پاتې ځواکونو سره چې له غلچکي بریدونو څخه ژوندي ووتل، د نومبر په دولسمه جلال اباد ته ورسېد. هلته د نوموړي غونډ تر هغه وخته په کلابندۍ کې پاتې شو تر څو چې د ۱۸۴۲ کال د اپریل په اوومه د نوموړي ځواکونو کلابندي ماته او همدا راز اکبر خان ته یې ماته ورکړه. نهه ورځې وروسته د پالک کساتي• ځواکونو د سېل د ځواکونو ځای ونیو او ورپسې هغوی د پالک د ځواکونو سره یو ځای کابل ته لاړل. سېل د سپتمبر په اتلسمه له خپلې تکړه مېرمنې، فلورنسیه مېرمن سېل Florentia Lady Sale سره یو ځای شو. دغه مېرمن له کابل څخه د انګرېزانو له شاتګ څخه ژوندۍ ووته او بیا نهه میاشتې د اکبر خان سره یرغمل پاتې وه. درې کاله وروسته په ۱۸۴۵ کال کې جګړه مار باب د انګرېزانو او سېکانو په جګړه کې ووژل شو. کونډې مېرمن سېل سوېلي افریقا ته مهاجرت وکړ او په ۱۸۵۳ کال کې په کېپ ټون Cape Town کې مړه شوه.

**سېر جورج پالک (۱۷۸۶-۱۸۷۲) Sir George Pollock:** د کمپنۍ یو دقیق، بې رحمه او په اغېزمنتوب کې استقامت لرونکي جنرال و. نوموړي په هند کې له دېرشو کلونو څخه ډېر وخت تېر کړی و کله چې په جلاداباد کې له کلابندې انګرېزي چوڼۍ سره د مرستې امر ورکړل شو. پالک په محتاط پلان جوړولو او په دقیق لوجیستیک کې نوم درلود او هېڅ کله یې بې وخته عمل نه کولو. کله یې چې په ډېر پام په پېښور کې خپل اکمالات پوره کړل، له خپل کساتي پوځ سره خیبر ته ننوت او بلاخره د اپرېل په شپاړسمه د جلال اباد مرستې ته ورسېد. هلته بیا د مهماتو او د ترانسپورټي اکمالاتو د پوره کولو له وقفې څخه وروسته، نوموړي خپل پرمختګ ته دوام ورکړ او اکبر خان ته یې د تیزین په غاښې کې ماته ورکړه او د سپتمبر په شپاړسم یې کابل بېرته ونیو. وروسته له دې څخه چې استالف یې وران او د کابل ډېرې برخې یې وسوځولې، نوموړی له افغانستان څخه ووت او د ۱۸۴۲ کال د ډسمبر په نولسمه لارډ ایلېنبوره Lord Ellenborough په فېروزپور کې ښه راغلاست ورته وویل.

• کسات: غچ ...... کساتي: غچ اخیستونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لارډ اکلنډ (۱۸۴۹-۱۷۸۴) :Lord Auckland** : جورج ايډن لارډ اکلنډ يو هوښـــيار خو ځان راضـــي وېګ* Whig اشـرافي و. نوموړی ۵۱ کلن جره و چې کلکتې ته ورسـېد، خو د هند د تاريخ او تمدن په هکله يې دومره مالومات نه لرل او نه يې په دې هکله د پوهې هڅه وکړه. هغه د افغانســـتان په هکله لا دومره پوهه نه درلوده چې په ۱۸۳۸ کال کې د هغه جګړه غوښتونکو سلاکارانو نوموړی يو بشپړ غير ضروري يرغل ته وهڅولو چې شاه شجاع د امير دوست محمد خان ځای ناســـتی کړي. که څه هم دغه د کړکې وړ اشـــغال ته يې اړينې ســـرچينې نه برابرولې، خو نوموړی راتلونکې انګرېزي ماتې ته هېڅ چمتو نه و. لکه څنګه چې ايملي ايډن ياده کړې، د کابل پوځ بشپړې تباهۍ غريب جورج په لسـو ســـاعتونو کې لس کاله زوړ کړ او داســـې ښـــکارېده چې هغه کوم ډول ســـکتې يا فلج وهلی وي. کله چې لارډ اېلېنبوره د نوموړي ځای ناستی شـو، هغه په څه نا څه نيمه سـپکاوي کې په کېنزنګټن کې Kensington ژوند تېر کړ او په ۱۸۴۹ کال کې په څلورشپېته کلنۍ مړ شو.

**لارډ اېلېنبوره (۱۸۷۱-۱۷۹۹) : Lord Ellenborough** : د وارن هېستنګز Warren Hastings د دفاعي وکيل زوی او يو مســـتعد خو ســـخت بدرنګه کس و. د هغه فزيکي څېره دومره بې خونده وه چې داســـې ويل کېږي چې څلورم جورج George IV يې په اړه ويلی وو چې د اېلېنبوره څېرې ته کتل يې ناروغه کوي. اېلېنبوره خپل مســـلک ته په روس - کرکه Russofobia کې وده ورکړه او تر ډېرې کچې د لويې لوبې پلار و - د روس او انګرېز د امپرياليستي سيالۍ، جاسوسۍ او فتوحاتو لوبه چې روسان او انګرېزان په اسيا کې د خپلو امپراتوريو تر ړنګېدو پورې په کې ښکېل و. هغه د ۱۸۴۱ کال د اکتوبر په مياشـــت کې د لوی والي په توګه د اکلنډ ځای ناســـتی شـــو او هند ته په داســـې ښـــه وخت کې ورســـېد چې نوموړي وکولای شول د کساتي پوځ بريا په خپل نامه کړي - هغه بريا چې انګرېزي پوځ وکړی شول له افغانستان څخه پرته له دې چې تر يوې کچې د دوی پوځي نوميالتوب زيانمن شي، ووځي. يو کټونکي ليکي چې اېلېنبوره په نورو چارو کې بې پروا او له اداري څخه وتلی کس و، خو د ټولو پوځي چارو ســـخت کازمن• و او خپل پام او ناټ يې پر همدغه چارو متمرکز کړی و.

## نور کسان

**کونټ وســـيلي الېکســـيويچ پېروفســـکي (۱۸۵۷-۱۷۹۴) Count Vasily Alekseevich Perovsky** : په اورنبورګ Orenburg کې د روسـي پوله ييزې شـاګۍ Russion Steppe Frontier د چونۍ والي او د کلاډ وېډ روسـي سـيال و چې غوښـتل يې په منځنۍ اسـيا کې د روسـي څارګريز عملياتو کچه د انګرېزانو د څارګريز فعاليتونو له کچې سـره برابره کړي. نوموړي دا هيله درلوده چې ايون و يتکېويچ به په افغانســـتان کې د «الکســـاندر برنز رول ولوبوي». وروســـته له دې چې دا خبره ښکاره شـوه چې انګرېزان پر افغانسـتان يرغل کوي، په سـيمه کې د روسي پرسـتيژ د بيا اعاده کولو په هوډ پېروفسکي د ترکمن خانات خېوې Turkman Khanate Khiva د اشغال له پاره د ملاتړ پيدا کولو سمدستي هڅې پيل کړې. پر خانات خېوې باندې د روسـانو يرغل په داسې تباهۍ پای ته ورسـېد لکه له کابل څخه د انګرېزانو شـاتګ.

---

* Whig په ۱۶۸۰ - ۱۸۵۰ کلونو کې په برتانيې کې د يو سياسي ګوند نوم و چې وروسته په نولسمه پېړۍ کې په لېبرال ګوند بدل شو. (ژباړن)

• کازمن: شايق

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېروفسـکي خپل نيمايي اوښــان او نږدې نيمايي پوځيان له لاســه ورکړل. دغه ماتې د يو نسـل له پاره د روسـيې موخې بېرته تر پوله ييزه شاګي پورې محدودې کړې. خېوه تر ۱۸۸۲ کال پورې د روسي پوځ تر کنټرول لاندې رانغله.

**ايون ويتکېويچ (۱۸۰۶-۱۸۳۹) Ivan Vitkevitch:** يو کاتوليک پولنډی اشـرافي چې په ولنيس Vilnius کې چې اوس د لېتوانيا پلازمېنه ده زېږدلی او اصلي نوم يې ين پراسپر ويتکېويچ Jan Prosper Witkiewicz و. ين د يوې پټې ټولنې چې نوم يې «تور ورونه» و، په جوړولو کې مرسته وکړه. دا يو ملي انقلابي د مقاومت خوځښت و چې پولنډي زده کوونکو د روسـيې له لوري د دوی د هېواد د اشـغال پر ضـد د جګړې په نيت جوړ کړی و. روسـانو ين او د دغه کړۍ پنځه نور مشـران ونيول، له دوی څخه يې تحقيقات وکړل، اشـرافي رتبې او القاب يې ترې واخيسـتل او د قزاق په شـاګۍ کې يې بېلابېلو پوځي اډو ته ولېږل. له نيولو څخه لږ وخت مخکې، ويتکېويچ د خپلې زوکړې ځوارلســـمه کليزه نمانځلې وه. هغه خپل قسـمت ته ځان تسـليم کړ او هوډ يې وکړ چې له خپل اوسـني حالت څخه ګټه پورته کړي؛ نو قزاقي او ترکي چاګتای ژبې يې زده کړې او د خپل نوم د داسـې بدلولو هوکړه يې وکړه چې روسـي نومونو ته ورته و، ايون وېکتوروويچ ويتکېويچ Ivan Viktorovitch Vitkevitch. نوموړي دومره وده وکړه چې په لويه لوبه کې د روسـانو لمړنی لوبغاړی شـو. ين دوه ځلې بخارا ته پلټنيز يونونه وکړل او ورپسې کابل ته ولېږل شو چې له دوست محمد سره ائتلاف جوړ کړي. دلته نوموړی له خپل انګرېزي سـيال الکسـاندر برنز څخه مخکې شـو، خو کله چې د ين مشـرانو دغه ائتلاف لغوه کړ او انګرېزانو پر افغانســتان يرغل وکړ، هغه ســن پيټرزبورګ ته لاړ او هلته د ۱۸۳۹ کال د مې مياشــتې په اتمه په يوه هوټل کې مړ وموندل شو، ظاهراً ځان وژنه يې کړې وه.

**محمد شـاه دويم قاجار (۱۸۰۸ -۱۸۴۸):** د پارس قاجاري حاکم و چې د روسـانو په پلوۍ يې ائتلاف ته غېږه خلاصه کړه او هڅه يې کوله چې افغان پوله ييز لانجمن ښــار، هرات بېرته ونيســي. د نوموړي دغه کړنې انګرېزانو تـه يو خبرداری و او انګرېزان يې دې ته ولمسول چې پر ۱۸۳۹ کال کې پر افغانستان يرغل وکړي.

**مهراجا رنجيت سېنګ (۱۷۸۰-۱۸۳۹) Maharaja Ranjit Sing** : يو مستعد او چالاک سېک حاکم و چې په پنجاب کې يې يوه ځواکمنه، منظمه او د ښـې واکمنۍ پاچاهي جوړه کړه. په ۱۷۷۹ کال د افغانانو د بېرته تګ د اړودوړ په ترڅ کې، رنجيت سـېنګ له شـاه زمان سـره د هغه توپونو په خلاصـون کې مرسـته وکړه چې د جيلم د سـيند په ختو کې بند پاتې وو. که څه هم هغه يوازې نولس کلن و، شـاه زمان د پنجاب د ډېرو برخو مسـوليت وروسـپاره. رنجيت سـېنګ له خپل پخواني بادار څخه په ځو راتلونکو کلونو کې، کرار کرار د دراني امپراتورۍ ګټور ولايتونه ونيول او په پنجاب کې يې د يو واکمن ځواک په توګه د هغه ځای ونيو. په ۱۸۱۳ کال کې يې له شـاه شجاع څخه کوه نور واخيست او په کور کې يې نظر بند کړ، خو شـاه شجاع يو کال وروسته په تېښـته بريالی شـو. رنجيت سـېنګ له سېر ويليم مېکناټن سـره د خبرو په ترڅ کې په خپله چالاکۍ وکړای شـول هغه پلان چې سېکان به افغانسـتان ته د انګرېزانو په ګټه ځي، په داسې پلان بدل کړ په کوم کې چې انګرېزانو د ســېکانو په ګټه پر افغانســـتان يرغل وکړ. کله چې انګرېزان د هغـه د لوی دښمن، دوست محمد پر خاوره د يرغل په نيمايي که وو، نوموړی په ۱۸۳۹ کال کې مړ شـو.

**موهن لال کشـميري (۱۸۱۲-۱۸۷۷) Mohan Lal Kashmiri** : د برنز ارزښـتمن منشي يا سکرتر او نږدې سـلاکار و. شل کاله مخکې د هغه پلار هم د الفنسټون په ماموريت کې منشي و. کله چې له ماموريت څخه بېرته راوګرځېد، موهن لال يې د نوي ډهلي په کالج کې شـامل کړ چې د انګرېزي درسـي نصـاب پر بنسـټ تدريس په کې کېده. موهن لال يو له

(c) ketabton.com: The Digital Library




څو هلکانو نه و چي په شـــمالي هند کې يې په لمړي ځل په نوموړي کالج کې زده کړې وکړې. دی یو هوښـــیار او هوډمن کس و او په انګرېزي، اردو، کشمیري او پارسي ژبو يې په فصاحت خبرې کولې. هغه له برنز سره د بخارا په یون کې مل و او له دغه یون څخه يې وروســـته، څه وخت په کندهار کې د جاســـوس په توګه وېډ ته کار وکړ. نوموړي برنز ته د ممکنه پېښــېدونکي پاڅون په هکله خبرداری ورکړ، خو برنز هغه ته غوږ ونه نیو او دا کار يې نېغ د مرګ لامل شـــو. د پاڅون او کلابندۍ په بهیر کې موهن لال د مېکناټن په ګټه په خپل نوم لوی پورونه واخیســـتل او په ۱۸۴۲ کال کې يې نور پور د یرغملو د ازادولو له پاره بیا واخیســت، خو نوموړي ته دغه د پور پیســې چې په ټوله کې ۷۹۴۹۶ روپۍ کېدې بېرته ورنه کړل شـــوې او ټول عمر پوروړی پاتې شـــو. هغه د خپل حق د ترلاســـه کولو له پاره برتانيې ته لاړاو هلته د کمپنۍ له مشـرانو سـره د کتنو سـربېره، سـکاټلنډ ته لاړ او په مانټروز Montrose کې يې د برنز ژورنالونه د هغه کورنۍ ته وروسـپارل. کله چې په برتانیه کې و، موهن لال منځنۍ اسـیا ته له برنز سـره د خپلو یونو یادښـتونه خپاره کړل او د دوســـت محمد خان ژوند لیک يې په یو لوی نهه ســـوه مخیزه دوه ټوکه کتاب کې خپور کړ. نوموړي حتی د ملکې وکټوریا Queen Victoria ســره هم لیدنه وکړه، خو افغان جګړې تل دردولو او په عملي توګه يې د ده کاري ژوند ته د پای ټکي کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# سدوزي او بارکرزي



(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# کورودانی

کېدای شي د تاریخ د یو کتاب د څېړنې له پاره د افغانستان او پاکستان په پرتله اسانه ځایونه پیدا شي، خو دغسې ځایونه به لږ د تمې خلاف د لیکونو، متنونو او نسخو د لټون په تګ لوري کې بدلون راولي. په دې لاره کې زه د یو شمېر ملګرو د لوی احسان پوروړی شوم. دوی د دغه کتاب له پاره د اومو موادو د راټولولو په بهیر کې زه له فزیکي او رواني اړخه خوندي وساتلم.

په افغانستان کې: رای ستیوارټ Roy Stewart په کابل کې ما ته په خپله کلا کې د هستوګنې له پاره ځای راکړ چېرته چې د فېروزکوه په بنسټ کې هر یوه زما درنه پالنه وکړه - شوشانه کوبرن کلارک Shoshana Coburn Clark، تلایه کېنیدي Thalia Kennedy، وېل Will او لوسي بهرل Lucy Beharel. سیري ټرنګ خلسه Siri Trang Khalsa د یوې اونۍ په پای کې د استالف او چاریکار لیدو ته بوتلم او هغې په کندهار کې د وطن Watan سره په اړیکه کې کړم. مېچ کرایټس Mitch Crites مې د ډاډمنه ملتیا وکړه او د شوني او ناشوني په هکله یې عالمانه مشورې راکړې. په همدې توګه د برتانیې په قونسولګرۍ کې د پاول سمېت Poul Smith له مشورو څخه برخمن شوم. دا هرکله نه پېښېږي چې د څارګرې ادارې یو مشر ستا اثار په ځیر لوستي وي. زه د کرزي د هغه وخت له ملي امنیت مشر امرالله صالح نه مننډوی یم چې په وروستي مغول The Last Mughul یې کلکه ګوتنیونه وکړه (د هغه په اند ظفر یو کرغېړن کمزوری کس و چې د هېواد پالنې مینه یې نه لرله؛ نو هېڅ د خواخوږۍ ارزښت نه لري) او په خاصه توګه دا چې زه یې جګدلک ته وروپېژندم. د جګدلک تر ساتنې لاندې ما وکړای شول چې د شاتګ تګ لوری تعقیب کړم. انورخان خپل ژوند په خطر کې واچولو او خپل کلی یې ماته وښود. زه تر ابده د هغه مننډوی یم.

همدا راز د نجیب الله رزاق د احسان ډېر پوروړی یم چې ماسره جګدلک، جلال اباد او هرات ته لاړ. کله به چې هلته د ناڅاپي سره مخ شوو، هغه ما ته د ارامه لارښونې خزانه و. زه به هېڅ کله دا هېر نه کړم کله چې موږ دواړه یوځای په هرات کې ښکته شوو موږ ته جوته شوه چې د ۱۹۵۰ کلونو د هوایي ډګر ترمینل کولپ دی څکه د چا سره چې کلی وه، د ماسپښین لمانځه له پاره تللی و. له دې څخه مخکې، د کابل په هوایي ډګر کې د حاضري ورکولو check in په وخت کې ما ته د کابل - ریاض سپرلۍ کارت Boarding pass راکړل شو. کله چې ما وویل زه خو هرات ته ځم، د هوایي شرکت مامور راته وویل پروا نه کوي، دوی به په هر حال تا ته په الوتکه کې اجازه درکړي. کله چې په هرات کې یو زوړ تراکتور راورسېد او زموږ بکسونه یې د ترمینل په څنډه کې واچول، د لاس ګاډي په نه شتون کې نجیب الله سمدستي دوه کوچني هلکان چې کراچۍ ورسره وې پیدا کړل او زموږ بکسونه یې پر چرو د لګېدلو ګاډو لیکي ته ورسول. له دغه ګاډو څخه د هرات د ټکسیانو په توګه کار اخیستل کېده. نجیب الله د هرات په جهاد موزیم کې هم یو ښه لارښود و.

په دغه موزیم کې د بېلابېلو څېزونو یوه ټولګه وه چې له هغه بهرنیانو څخه پاتې وو چې په څبنتوب• یې د افغانستان د اشغال هڅې کړې وې. د افغان-انګلیس د لمړۍ جګړې له انګرېزي توپونو څخه نیولې تر روسي ټانکونو، جېټ الوتکو او جنګي هلېکوپټرو پورې په دغه موزیم کې وې. سرې په ډاډ ویلی شي چې ډېر وخت به تېر نه شي چې دغه ټولګې ته امریکایي هموي او انګرېزي لندرور ور زیات شي.

---

•څبنتوب: حماقت..... څبن: احمق

(c) ketabton.com: The Digital Library



سېر شرردډ کوپر کولز Sir Sherard Cowper-Coles د برتانيې ځانګړی استازی، د خپلې مخه ښې مېلې له پاره پنجشير ته بوتلم چېرته چې موږ په نري باران کې د سـيند پر غاړه د ولو لاندې پر قالينو ناسـت او د بادرنګ سـانډويچ او په پلاسـتيکي پيالو کې د واين سـره عجيبه انګرېزي غرمنۍ وکړه. که سـړی د هغه د سـاتونکو څک ډله، د دوی د لاسـي مخابرو شغاری او ډزو ته چمتو ټوپک او همدا راز د روسيې ويجاړ زرهپوشه او لوېدلې جنګي هليکوپترې په پام کې ونه نيسي، دغه ځای کاتسوډس Cotswolds ته ورته و. هلته شـرردډ د سياسي وضعيت په هکله او همدا راز  افغان لمړۍ جګړې ته د دغه وضـعيت د ورته والي په هکله لنډ مالومات راکړل. هغه ما ته په مفصـل ډول امنيتي مشـوره راکړه او يوه کوچنۍ د لوړې تکنالوژۍ د څرک اله يې هم د احتياط له پاره راکړه چې که ګندمک ته د تګ په لاره کې وتښـتول شـم، له هغې کار واخلم. که زه د دغه الې د خطر تڼۍ ووهم؛ نو زما موقعيت به ښـکاره کړي او زما غږ به چې زه بايد تښـتونکي په کې په ګوته کړم د څو ثانيو له پاره ثبت کړي. اله مې ځان سـره واخيسـته، خو خوښ شـوم چې اړتيا ورته پيدا نه شوه او بېرته مې ورکړه.

برېډ جنرال سـايمون لوي  Simon Levey د شـاتګ د تګ لوري يوه ډېره کارنده د سـټلايټ نقشــه راکړه. جاينت پره سـاد Jayant Prasad او ګوتم موکوپتيايو  Gautam Mukhopadhaya دواړه د هند په سـفارت کې بې کچې مېلمه پال وو. سـعد محسـني Saad Muhseni او تامس روټيګ Thomas Ruttig دواړو ګټورې مشـورې راکړې او له کارنده خلکو سـره يې زما اړيکې ټينګې کړې. د يان لي اندرسـن Jon Lee Anderson،  يان بون Jon Boone، حيات الله حبيبي، اېکرت شـيويک Eckart Schiewek، او سـمر کواېش  Summer Coish په ګډون، زه له ډېرو ملګرو چې په کابل کې مو يو بل سره وپېژندل ډېر منندوی يم.

ډاکتر اشرف غني يو پوه تاريخپوه او د ماليې پخوانی وزير د پارسي او افغان سرچينو په موندلو کې ارزښتمنه مرسته راسره وکړه. جوان شېر راسخ د کابل د کتاب پلورنځيو بازار، جوی شير ته بوتلم چېرته چې ما ډېرې سرچينې ومونډې. د يونسـکو اندي مېلر Andy Miller بالاحصــار ته د تګ په اجازه کې راســره مرســته وکړه او د پلټنې په ترڅ کې يې له روسي مينونو څخه د ځان ساتنې لارښونه راته کوله. سيد مخدوم رهين او ډاکتر عمر سلطان د کابل ارشيف ته بوتلم او غلام سـخي منير په ارشـيف کې د ننه مرسـته راسـره وکړه. د فرانسـې د لرغونپوهنې د ماموريت بې کچې ښـه سـړی، فېليپ مارکي Philip Marquis خپل کتابتون ته پرېښــودم او ګاليکي Gallic ښــه خندا، پنير او په افغانســتان کې تر ټولو ښه سره واين يې راباندې ولورول.

جولاين لېسـلي Jolyon Leslie په خپله پوهه او تجربه کې سـخي و او زه يې د تيمورشـــاه مقبرې او په هرات کې د اختيارالدين کلا ته بوتلم. دواړه، د تيمورشاه مقبره او نوموړې کلا يې د اغاخان په مالي مرسته ښايسته بيا رغولې وې. د خاورې د لېږد له پاره يې دومره ډېر خلک ګمارلي وو چې شـــمېر يې په انجيلي فلمونو کې له خواري کښــو څخه ډېر ښـکارېده او په پايله کې يې د تيموريانو ښـايسـته زينتي کاشـي چې په پېړيو تر خاورو لاندې وو راسـپړلي وو. د دغه بيا رغونې په ترڅ کې، جولاين ډېر غير فعاله د روسي توپونو او دافع هوا وسـلو د نصب ځايونه ليرې کړي وو او سيمه يې له هغه بې ضرره څيز ته ورته بمونو څخه پاکه کړې وه چې روسانو د تګ په وخت کې هرات ته د مخه ښې ډالۍ پرېښې وو. د ژونديو ګوليو يو جال د ديارلسمې پېړۍ د يوه مسدس برج پر سـر د ټانک د يوې زړې بطرۍ سره نښـلول شـوی و؛ له دغو برجونو څخه چې لمړۍ د منګولي لښـکرو پر وړاندې د هرات د دفاع له پاره جوړ شـوي وو څه د پاســه دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لســـیـزي مــخــکــې روســـانــو د مــجــاهــدیــنــو پــر وړانــدې د دفــاع لــه پــاره کــار واخــیـســـت. مهربانه او زړه ورې ننســـي هڅ دوپري Nancy Hatch Dupree د کابل اډې او د بي بي مهرو غونډۍ ته بوتلم او نوره ډېره مرسته یې راسره وکړه. څلور څلوېښت کلنه ننسي په دوه کورونو کې چې یو په پېښور او بل کابل کې دی ژوند کوي. کله ناکله په ګاډي کې چې په خپله یې چلوي او کله بیا د ســره صـلیب په الوتکه کې دغه دوو کورونو ته تګ راتګ کوي. کله چې په تېر نږدې وخت کې د کابل په هوایي ډګر کې ورسره مخ شـوم، هغې راته وویل: «زه ډېرى وخت په دغه الوتکه کې ســفر کوم». کابل ته زما د څېړنې په لمړي ســفر کې زما یوه ډېره ښــه خاطره په ګندمک هســتوګنځي کې ننسـي ته د ماښـــامنۍ له پاره بلنه ورکول وو. د ننوتنې د دهلېز په منځنۍ برخه کې ناڅاپه د ماشـینګنو د ډزو غږ پورته شــو، ټول خلک چې سرسخته ګڼل کېدل سمدلاسه د مېزونو لاندې پټ شـول. یوازې ننسي په خپل ځای ناسته پاتې شوه او ویې ویل چې د خپلو چپسو خوراک ته به دوام ورکوي.

په کندهار کې حضرت نور کرزي زما پالنه وکړه، الیکس سټریک فان لېنشوتن Alex Strick Von Linschoten تلیفوني او حبیب ظاهوري مخامخ مشـورې راکړې. د وطن د خطر ادارې Watan Risk Management کارکونکو ، مارک اکټن Mark Acton ، ویلیم جیفس William Jeaves او ډېو برون Dave Brown زما امنیتي سـاتنه وکړه او په سخاوتمندۍ یې ما ته د دغې ادارې په بنګله کې هستوګنځای راکړ. چا به دا حدس وهولو چې له پخوانیو سکاټلندي سـاتونکو څخه ډکه بنګله به په ترینګلي وضـــعیت کې په اونیو له شـــرابو څخه ډډه وکړي، خو زه یې ډېر مننوی یم. کندهار داســې ځای نه دی چې څوک یې پرته له لږ مرستې لیدنه وکړي.

په پاکستان کې: له په زړه پورې احمد رشید سره د خبرو او د هغه له لوی کتابتون څخه زما د لیدنې په ترڅ کې زه پوه شـــوم چې اوســـنی وضـــعیت د ۱۸۲۹-۱۸۴۲ کلنو حالاتو ته څومره ډېر ورته دی. کله چې ما په لاهور کې څېړنې کولې، محسن او زهره حمید راته د پاتې کېدو له پاره ټینګ شول او خوندور پنجابي ماښامنۍ او ساعتیری یې راته برابر کړل. د محسن له پلار څخه په ځانګړې توګه مننه کوم چې خپله د مطالعې کوټه یې زما د خوب له پاره خوشې کړه. په لاهور کې زما د هســتوګنې په وخت کې عجازالدین، علي سـیتي، شـعیب حسـین شـېرزي او د پنجاب په ارشـیف کې ښـاغلي عباس په سخاوتمندۍ مشـورې راکړې او ما ته یې د اسـنادو او نویو اردو او پارسي سـرچینو لاسـرسی برابر کړ. فرخ حســـین د مبارک حویلۍ په پیدا کولو کې مرســـته راســـره وکړه او د تای خانې په هکله یې مالومات راکړل. د نوموړي نیکونو له تای خانې څخه د شاه شجاع سره په تېښته کې مرسته کړې وه.

په هند کې: زما ګاونډۍ ژا مري لفنت Jean Marie Lafont د ســیکانو تاریخ او په فوج خاص Fouj-e-Khas کې د فرانســوي جنرالانو ونډه راته تشــریح کړه. مایکل اکســـواردي Michael Axworthy د قاجاریانو په اړه درس راکړ او جېمز اســـټېل James Astill ارزښتمنه افغانانو ته وروپېژندم. دروند پروفیسر بي این ګاسوامي B N Goswamy په چندیګار کې د پام وړ انځورونه پیدا کړل او د چاپ له اجازې وروسته یې ما ته په جې پي جي فارمټ کې ولېږل. رضا حسیني په ډېر سخاوت ما ته په ملي ارشیف کې د خپلې ارزښتمنې موندنې په هکله وویل چې د محاربه کابل و کندهار Mubaraba Kabul wa Kandaha د پارسي قلمي نسخې یوه کاپي وه او بل دا چې ما ته یې د ۱۸۵۱ کال د کنپور Kanpur یوه چاپي ګڼه راوړه. فضل الرحمن او ســـچېن مولجي Suchin Mulji دواړو په زړه پورې مواد په ملي ارشــــیف کې وموندل. پیام یزدانجو د جنګنامې په ژباړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته راسره وکړه. لوسي دېوسن Lucy Davison په کشمیر باندې د پیر پنجال د لوړو غاښیو له لارې د شاه شجاع له مصیبت څخه ډکو یرغلیزه هڅو د تګ لورې د څېړنې له پاره د سفر لوجستیکي مواد راته برابر کړل.
په انګلستان کې: ډېوېډ لاین David Loyn، جمیزفرګسن James Furguson، فېل ګوډوېن Phil Goodwin او زما دترور/تره زوی انتوني فیټزربرټ Anthony Fitzherbert ټولو په اوسني افغانستان کې د ګرځېدنې په هکله مشورې راکړې. چارلس الن Charles Allen، جان کې John Leat، بېن مکېنټایر Ben Macintyre ، بېل وډبرن Bill Woodburn او سول ډېوېډ Saul Devid د افغانستان د تاریخ په هکله ارزښتمن مالومات راکړل او په دې یې وتوانولم چې نوې سرچینې پیدا کړم. د سېلک روډ له کتابتون څخه فرخ حسین د وېکتوري دورې له خوا د جګړې د شرحې په هکله پرله پسې پارسلونه راولېږل او د پام وړ مواد یې د شاهي جغرافیایي ټولنې په ارشیف او د ملی پوځ په موزیم کې وموندل او لیکلې بڼې ته یې واړول. پیټر Peter او کت هاپکرک Kath Hopkirk هغه څوک چې د لویې لوبې په اړه د دوی افسانوي اثر زه او زما د نسل ډېر خلک له افغان انګلیس جګړې سره اشنا کړل، د الکساندر برنز په هکله یې مرسته راسره وکړه. د برنز په هکله د هغه د ژوند لیک لیکونکي ګرېګ مري Graig Murray چې راتلونکی اثر یې د دغه ترټولو عجیبه څېرې د بیا ارزونې په هکله دی، هم مالومات راکړل. سارا ولېنګټن Sara Wallington او مریم فېلپاټ Maryam Philpot په برتېش کتابتون کې British Library او پېپ ډاډ Pip Dodd په ملي پوځ موزیم کې ګټورې سرچینې وموندې. سو سټرانګ Sue Stronge په V&A کې او په برتېش کتابتون کې جان فلکونر John Falconer زیار وایست چې خپلو هنري اثارو ته زما لاسرسی برابر کړي. زه یو ماسپښین له الېزابت ارېنګټن Elizabeth Errington سره هغه خوښې خاطرې لرم کله چې موږ د برتېش موزیم په ساتنخونو کې د افغانستان په هکله د چارلس مسون Charles Massing په ځیر کتلاک شوې او په ښایسته بکسونو کې ایښودل شوې موندنې څېړلې.
په مسکو کې ډاکټر الکساندر موریسن Alexander Morrison او اولګا بېرنارډ Olga Bernard په بریالیتوب د ایون ویتکېویچ وروستي ورک څارګریز راپورونه راته وموندل. یو شمېر پوهانو د اردو او پارسي سرچینو سره زما د ستونزو په حل کې مرسته راسره وکړه. بروس ونل Bruce Wannel څو اونۍ په ډهلي کې زما په باغچه کې په یوه کېږدۍ کې تېرې کړې چې ماسره په واقعیت شاه شجاع، محاربه کابل و قندهار او نواې معرکه Naway Ma'arak کار وکړي. عالیه نکوي Aliyah Naqvi د اکبر د دربار په هکله خپل تېزس ته وقفه ورکړه او له ما سره یې د یو بل اکبر په اړه مرسته وکړه. نوموړې د مولانا حمید کشمیري د اکبرنامې په اړه هم راسره مرسته وکړه. ټامي وایډ Tommy Wide په جنګ نامه او عین الوقایع کار وکړ او له ما سره یې د تیمورشاه د مقبرې د ننه او په شاوخوا کې د بېلابېلو سدوزیو د قبرونو د پېژندنې په بیا پخلي کې مرسته وکړه. دانش حسین او مور یې استاده سیده بلقیس فاطمه حسیني، دواړو په ګډه په تاریخ سلطاني او د امین الله خان لوګري په لیکونو کار وکړ. زه په ځانګړې توګه د رابرټ مکچسزني Robert McChesney مننډوی یم چې په خپل سخاوت یې ماته د سراج التواریخ ژباړه راولېږه. یو شمېر ملګرو د کتاب څو بېلابېلې برخې ولوستې او ګټورې کره کتنې یې وړاندی کړې، له دوی څخه لاندې ملګري د یادونې وړ دي: کرېس بېلي Chris Bayly، عایشه جلال، بېن هاپکېن Ben Hopkins، رابرټ نېکولز Robert Nichols الکساندر موریسن Allexander Morrison، اشرف غني، انتوني فیټزربرټ Anthony Fitzherbert، چیکي سرکار Chili Sarkar او نانديني مهتا- په پینګوین اینډیا Penguin India کې ذکي او مستعد ټیم - اکاش کپور، فلوخ زېویر Fleur Xavier، ډېوېډ ګارنر David Farmstead مونیشا راجېش Monisha Rajesh، جېمز کرون James Caring، جوان شېر راسخ، مه یه جزنوف Maya Jasanoff، جونو والټرز Jono Walters، سم مېلر Sam Miller، جولاین لسلي Jolyon Leslie، جیاني ډوبیني Gianni Dubbini، سلوي دومینیک Sylvia Dominique، پېپ ډاډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



Pip Dodd، ټامي وايډ Tommy Wide، نایل ګرین Nile Green، کریستین نوول Christine Noelle، مایکل سېمپل Michael Semple او شاه محمود حنيفي. لي Lee په اونيو په ډېر ځير د دغه کتاب لمړني جوړښت ته یادښتونه، نظرېږ او تبصرې ور زياتې کړې او زه يې د پاڅون په پېچلي محرکاتو چې له ما څخه پاتې وو پوه کړم. يوه له څو په زړه پورې او ګټورو ورځو څخه چې ما د دغه کتاب په ليکلو کې لرله، په نيوزيلاند کې له لي سره زما ليدنه وه چې د اکلنډ په شمال کې د ژمي په موسم کې د توپاني سمندر په غاړه د ګام وهلو په ترڅ کې نوموړي د افغان قومي پېچلتيا تاريخ راته تشريح کړ.
زه نيک بخته يم چې د تل په څېر بېساري اجنټ لکه ډېوېډ ګاډوين David Godwin لرم او همدا راز په بلومزبري Bloomsbury کې زما د اثارو اصلي خپروونکي مايکل فيشويک Michael Fishwick، الکساندره پرېنګل Alexandra Pringle، نايجل نيوټن Nigel Newton، رېچرد چارکېن Richard Charkin، فېلېپ بېرسفرډ Philip Beresford ، کېټي بانډ Katie Bond، لورا بروک Brooke Laura ، ټرم ای ډون Tram Anh Doan، ډېوېډ من David Mann، پاول نشPaul Nash، امنده شېپAmenda Shipp، انه سېمسن Anna Simpson، الېکسه فن هېرسبرګ Alexa Von Hirschberg اېکس اې شا Xa Shaw او ديیا حازره Diya Hazra ټولو په ډېر ناټ او زياته انرژۍ په دغه پروژه کار وکړ.
همدا راز د پيټر جېميز Peter James، کترينه بېسټ Catherine Best، ماتين براينټ Martin Bryant، کرسټوفر فېپس Christopher Phipps نه هم مننه کوم. په ناف Knopf کې د سوني مهېتا Sonny Mehta، ډايينه کولينيسي Diana Coglianese، ابرين بي هارټمن Erinn B Hartman څخه او په بوچېټ چېسټل Buchet Chastel کې د وېره ميخلسکي Vera Michalski او په ايټاليا کې د بې انډوله روبرتو کله سو RobertoCalasso په اډلفي Adelphi کې مننه کوم. زه له رېچارډ فارمن Richard Foreman څخه د ټولو هغه څه له پاره مننه کوم چې د وروستي مغول راهيسې يې زما کتابونو ته کړي.
يو ليکوال له هر څه ډېر د خپلې کورنۍ په مينې او حوصلې متکي دی. الېو Olive، ايبيIbby، سم Sam او ادم Adam په داسې حال کې ډېر خواږه وو چې د مېږه او پلار ټول حواس يې د کتاب په ليکلو متمرکز وو او په هندوکش کې لالهانده ګرځېده، خو کله چې بېرته کورته راغی، بيا يې هم د باغچې په وروستي سر کې د کمپيوټر تنۍ وهلې او روحاً له خپلې کورنۍ او ژوندانه څخه ليرې او د ۱۸۴۰ مو کلونو په ستونزو او کړکېچونو کې ډوب و. بښنه او مننه.
دغه کتاب زموږ ګران وروستي او کشر زوی ادم ته چې تر اوسه په ډهلي کې اوسېږي، ډالۍ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱
# د حاکمیت له پاره اسانه ځای نه دی

د شـاه شـجاع الملک له پاره ۱۸۰۹ کال په نېکمرغۍ پیل شـو. د مارچ میاشـت وه او افغان لنډ پسـرلی په پیلېدو و. د یخجنې منظرې رګونو ته چې تر ملا پورې په واوره کې پټه وه، ورو ورو نبض بېرته راګرځېده. اوس د اسـتالف د زنبق خوشبویه ګلانو خپله لاره په یخ وهلې ځمکه کې ایستله، د خوشبویه ګلانو پر ډنډرونو پرته پرخه پر ویلې کېدو وه او غلزي کوچیانو خپل لمور پسونه له ژمني شپولونو خوشي کول، خپلې د سنیو کېږدۍ یې ټولولې او رمې یې د پسرلي لمرني لېږد ته د لوړو شنو څړځایونو په لور تیارولې. دا ټیک هغه وخت و، هغه د نرمۍ او خوښۍ وخت چې شاه شجاع دوه ښــه خبرونه ترلاســه کړل - داســې خبرونه چې د نوموړي د ســتونزمنې واکمنۍ په دوران کې یې ډېره قحطي وه.[1]

لمړی خبر د هغه د کورنۍ د ورکې شــوې شــتمنۍ موندنه وه. په نړۍ کې تر ټولو لوی الماس، کوه نور یا د رڼا غر له څه باندې لســو کلونو راهیســې ورک و، خو د وخت کړکېچن حالات داســې وو چې د موندلو له پاره یې هېڅ هڅه نه وه شوې. د شاه زمان په هکله چې د شاه شجاع مشر ورور او د افغانستان پخوانی پاچا و، ویل کېدل چې لږ وخت مخکې له دې چې د خپلو دښــمنانو له لوري اسـیر او بیا ړوند کړل شـي، نوموړي دغه الماس چېرته پټ ایښـی و. په همدغه وخت کې د فخراج په نوم یو بل لوی هندي یاقوت هم ورک شـوی و؛ نو شاه شـجاع خپل ړوند ورور راوغوښـت او له هغه څخه یې د خپل پلار د تر ټولو نومورو کاڼو په هکله وپوښــتل: «ایا دا رښــتیا ده چې ته پوهېږې دغه کاڼي چېرته دي؟» شاه زمان وویل مخکې له دې چې نهه کاله مخکې اسیر شي، فخراج یې د خیبر غاښې ته څېرمه په یوه ویاله کې تر یوه کمر لاندې کېښــود. لږ وخت وروســته یې کوه نور د کلا د هغې کوټې د دېوال په چاک کې واچاوه، په کومه کې چې هغه ونیول او وترل شـو. وروسته د دربار یوه تاریخپوه لیکلي: «شـاه سـمدلاسـه خپل څو تر ټولو اعتباري خلک د دغه ګران بیه کاڼو د موندلو له پاره ولېږل او ورته وېې ویل چې په هر صورت چې کېږي دغه کاڼي به پیدا کوي. دوی کوه نور له یوه شـینواري شـېخ سـره وموند چې په بې خبرۍ یې د خپلو رسـمي کاغذونو له پاره د کاغذ وزن (هغه ډېره یا کوم بل څیز چې د کاغذونو پر سر ایښودل کېږي.) په څېر ترې کار اخیسته او فخراج یې له یوه طالب سره چې په یوه ویاله کې یې د خپلو جامو د مینځلو په وخت کې موندلی و، پیدا کړ. هغوی دواړه کاڼي ضبط کړل او پاچا ته یې راوړل.»[2]

دویم خبر د یو مخکني دښمن ګاونډي د پلاوي د راتګ په هکله و چې پاچا ته په عملي توګه بالقوه ګټور برېښېده. شاه شـجاع اوس یوازې په څلورویشــت کلنۍ کې د خپلې واکمنۍ په اووم کال کې و.. نوموړی فطرتاً یو متفکر، د جګړې او کمپاین په پرتله د لوســت، پوهې او شـاعرۍ ډېر شــوقي و. دا به د نوموړي په برخلیک کې وو چې په زړلمیتوب کې ورته د دراني پراخه امپراتوري په میراث پاتې شي. د هغه نیکه، احمدشاه دراني دغه امپراتوري له درېیو ړنګو امپراتوریو څخه جوړه کړې وه، شــمال ته د ازبکانو، ســوېل ته د مغلو او لوېدیځ ته د پارس د صــفویانو. دغه امپراتوري په پیل کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسني ایران له نیشاپوره تر افغانستان، بلوچستان، پنجاب او له سند څخه تر کشمیره او د مغول ډهلي تر لمنې غځېدلې وه، خو اوس د خپل نیکه له مړینې یوازې دېرش کاله وروسته، پخپله د دراني امپراتوري مخ په نړېدو وه.
دا په حقیقت کې د حیرانتیا خبره نه وه. که د افغانستان یا خراسان چې د تېرو شلو پېړیو راپه دېخوا افغانانو د دغه سیمې خاوره بللې ده، لرغوني تاریخ ته وګورو، دغه هېواد ډېر لږ وخت سیاسي او اداري یووالی درلود[۳] او ډېری وخت د دوه متضادو ځایونو په منځ کې و- د نااندریزه غرونو ماتې لړۍ، تیټې پرتې سیلاب وهلې هوارې ځمکې او دښتې دغه هېواد له خپلو ګاونډیانو چې ډېر منظم دي، جلا کوي. ولایتونو یې ځینې وخت د سیالیو او په نښتو کې د ښکېلو امپراتوریو د جګړو وروستۍ پولې جوړولې. ډېر لږ داسې پېښ شوي چې د دغه هېواد ټوټې سره راټولې شي او د خپل حق درلودونکی یو منظم او یو موټی هېواد شي.
هر څه د دغه هېواد د اوچتېدلو پر ضد په هر وخت کې په توطیه بدل شوي: د دې جغرافیه، توپوګرافي او په ځانګړې توګه د هندوکش لوی ډبرینه اسکلېټ، چې د تورو تېرو شبونده شېلې یې د یخ وهلو شوديارو او واورينو څوکو مختـه پرتـې دي، هېواد داسې وېشلی لکـه د سيـنې د قفس پښتۍ.
په همدې توګه، بېلابېل قومي، توکمیز او ژبني درزونو افغان ټولنه ټوټه ټوټه کړې: د تاجک، ازبک، هزاره او دراني او غلزي پښتنو تر منځ سیالي، د شیعه او سوني تر منځ بېلتون او په ځانګړې توګه پخپله د قومونو او قبیلو د ننه د کورنیو تر منځ د وینې دښمنۍ چې له بدنیتۍ سره له یو نسل څخه بل نسل ته پاتې کېږي، د هېواد د عدلي سیستم د ناکارۍ سمبول ښيي. په ډېرو ځایو کې دښمني نږدې په داسې ملي سرګرمۍ بدله شوې لکه د برتانوي ښارګوټو د کرکټ لوبې افغان معادل. دغه دښمنۍ ډېری د سختو وژنو لامل ګرځي. یوه کتونکي لیکلي چې د شاه شجاع یو جګپوړي مشر د پخلاینې په پلمه خپلو شاوخوا شپېتو تربرونو ته د ماښامنۍ بلنه ورکړې وه. لکه څنګه چې د مخه یې د کوټې لاندې د باروتو کڅوړې پر ځای کړې وې، د ډوډۍ خوړلو پر وخت نوموړی په یوه پلمه بهر ووت او ورپسې یې دوی ټول په باروتو والوزول؛ نو په دغسې هېواد کې کېدای شي یوازې په مهارت، ستراتیژۍ او ډکه خزانه حکومت وکړل شي.
نو د ۱۸۰۹ کال په پیل کې کله چې شاه شجاع ته له پنجابه داسې خبرونه رارسېدل چې د ډهلي له شمال څخه د ختیځ هند کمپنۍ یو پلاوی را روان دی او له ده سره ژر تر ژره د یو ائتلاف جوړول غواړي، نوموړی ډېر خوښ و. دغه کمپنۍ درانیو ته پخوا لوی سرخوږی وه ځکه چې د ښه دسپلین د سپاهیانو پوځ یې پر هندوستان باندې هغه ګټور یرغلونه ناشوني کړي وو چې په پېړیو د افغانستان د عاید اصلي سرچینې وو. اوس داسې برېښېدل چې کمپنۍ له افغانانو څخه د کومې مرستې په تمه وه. د شاه خبر لیکونکو نوموړي ته ولیکل چې پلاوی له اباسین څخه تېر شو او د پېښور په لور چې د شاه ژمنۍ پلازمېنه وه، روان دی. دغه نه یوازې پاچا ته له معمولي کلابندیو، نیونو او ترټونکو عملیاتو څخه دمه ورکوله، بلکې نوموړي ته یې یو داسې بالقوه ځواکمن متحد هم ورپه برخه کاوه چې سخته اړتیا یې ورته لرله. له دې څخه مخکې، افغانستان ته هېڅ کله کوم انګرېز پلاوی نه و تللی او دغه دوه ملتونه یو بل ته کابو نا اشنا وو؛ نو دا چې دا لمړی ځل و چې انګرېزي پلاوی افغانستان ته ځي، شاه شجاع یې ښه مېلمه پالنه وکړه. هغه په خپل یادښت کتاب Memoir کې لیکلي: «موږ د شاهي دربار چوپړیالان چې په چلند او ښه والي کې یې نوم درلود، د دوی د لیدو او مېلمه پالنې له پاره وګمارل او ورته وویل شول چې له دوی سره په ادب، پام او هوښیارۍ چلند وکړي.»[۴] کوم راپورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شاه شجاع ته راتلل له ډېرو ډالیو سره د انګرېزانو د راتګ څرګندوی وو: «پیلان له طلایي زینونو سره، یوه ډولۍ د جګې چترۍ سره، په سرو زرو ښکلې شوي ټوپک، داسې ښایسته او تخلیقي اوه ډزې تومانچې چې هېڅ کله مخکې نه وې لیدل شوې، دېوالي یا مېزي ساعتونه، لرګوتونه، ښایسته ښیښې چې نړۍ یې هماغسې ښودله لکه څرنګه چې وه، په الماسو ښکلي شوي څراغونه، په چین او ایټالیا کې جوړ شوي لوښي او ګلدانۍ چې له سرو زرو څخه په کې کار اخیستل شوی و، ونې ته ورته شمع دانۍ او نورې داسې ګران بیه او ښایسته ډالۍ چې ظرافت یې تصور نه شو څرګندولای».[۵] کلونه وروسته شاه شجاع یوه ډالۍ یاده کړه چې ډېر ورته خوشحاله و: «یو لوی بکس چې غږ ته ورته شور یې کولو، داسې سازونه او نغمې یې غږولې چې په غوږ ډېرې ښې لګېدی».[۶] دغه ماموریت افغانستان ته خپل لمړنی ارګان ( د ساز اله) راوړ.

شاه شجاع په خپل ژوندلیک کې په دې اړه څه نه دي ویلي چې ایا هغه ته د دغه انګرېزي ډالیو په اړه کوم اړنګ• پیدا شو، خو کله چې نوموړي د خپل عمر په وروستۍ نیمايي کې په دې هکله څه ولیکل، هغه پوه شوی و چې له انګرېزانو سره دغه ائتلاف د نوموړي د ژوند بهیر او په دې توګه د افغانستان هم د تل له پاره بدل کړ.

افغانستان ته د برتانیې د لمړني پلاوي لېږلو اصلي وجه د هند او هندوکش له غاښیو څخه ډېره لیرې پرته وه. د دې ریښه د شاه شجاع ، د دراني امپراتورۍ او حتی د هندوستان له ستر او پېچلي سیاست سره هېڅ تړاو نه درلود. د دغه پلاوي د لېږلو د موخې اصلي ریښه د شمال ختیځ پره شا Prussia او د نیمن سیند River Nieman تر منځ له یوې جالې څخه رامنځته شوې وه.

دلته، اتلس میاشتې وړاندې، ناپلیون چې د خپل قدرت په اوج کې و، له روسي امپراتور، دویم الکساندر Alexander II سره د سولې د تړون په هکله د خبرو له پاره وکتل. دغه لیدنه د روسانو له هغه ماتې څخه وروسته ترسره شوه چې د ۱۸۰۷ کال د جون په څورلسمه د ناپلیون توپچي ځواکونو ۲۵۰۰۰ روسان د فریدلند Friedland جګړې په ډګر کې ووژل. دا روسانو ته یوه لویه ضایعه وه، خو دوی وتوانېدل چې خپلو پولو ته په ښه نظم شاتګ وکړي. اوس دغه دوه پوځونه د نیمن د سیند د کړلېچونو او ګرداونو په دواړو خواوو کې سره مخامخ شوي وو په داسې حال کې چې روسي پوځ په دوه نورو فرقو غښتلی شوی و او ۲۰۰۰۰۰ ملېشې یې دغه سیمې ته څېرمه د بالتیک په اوبغاړو کې تم وې. رکود هغه وخت مات شو کله چه روسانو ته وویل شول چې ناپلیون نه یوازې د سولې بلکې د ائتلاف هیله هم کوي. د جولای په اوومه دغه دوه امپراتورانو د سپین کلاسیکه چتر لاندې چې لوی N پرې لیکل شوی و په یوه جاله کې مخامخ د سولې د تړون په هکله چې وروسته د تېلسټ تړون په نوم وپېژندل شو، د خبرو له پاره یو له بل سره وکتل.[۷] د تړون ډېری فقرې د جګړې او سولې په هکله وې - د ټولستای Tolstoy د خورا غوره ناول لمړی ټوک، چې «له تېلسټ نه مخکې Before Tilsit» نوم ورکړل شوی و، هسې بې ځایه نه و. - د خبرو ډېره برخه د فرانسې تر اشغال لاندې

• اړنګ: شک...... بې اړنګه: یقیناً، بې شکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپا د برخلیک په اړه وه، په ځانګړې توګه د پره شا په هکله چې پاچا یې په خبرو کې له ګټون څخه محروم شوی و او په اندېښنو یې د سیند په غاړه ښکته پورته ګامونه اخیستل. نوموړی تم و چې د غونډې په پای کې به خپله پاچاهي ولري او کنه.

خو د تړون د ټولو عامه مادو په منځ کې، ناپلیون څو پټو فقرو ته هم ځای ورکړې و چې هغه وخت یې بربنډې نه کړې؛ نو دې پر هند باندې چې ناپلیون د برتانیې د شتمنۍ سرچینه ګڼلو، د فرانسې او روسیې د ګډ یرغل بنسټ کېښود. هند بې اړنګه د هغه د دښمن تر ټولو غني ملکیت و. د هند اشغال، چې ناپلیون د برتانیې د کمزورۍ او د وټه یېزه• ودې او غښتلتیا د ماتې وسیله ګانه، د نوموړي او د څو نورو مخکنیو ستراتیژستانو له پخوا څخه لوی هوس و. کابو نهه کاله مخکې، د ۱۷۹۸ کال د جولای په لمړۍ نېټه ناپلیون خپل عسکر په الکساندریه کې ښکته کړل او د قاهرې په لور مخته لاړ. ناپلیون لیکلي: «موږ به د مصر له لارې پر هند برید وکړو او د سوس Suez زوړ تګ لورى به بیا جوړ کړو.» ناپلیون د مې سور Maysore ټیپو سلطان Tipu Sultan د لیک په ځواب کې چې د انګرېزانو پر ضد یې د مرستې سوال په کې کړی و، نوموړي ته له قاهرې څخه ولیکل: «ته به اوس خبر وې چې زه له یو نه ماتېدونکي پوځ سره په دې ارمان چې تا له اوسپنیز انګرېزي غڅ څخه ازاد کړم، د سره سمندر څنډو ته ورسېدم. خدای دې ستا ځواک ډېر او دښمنان دې تباه کړي.»[8]

خو د اګست په لمړۍ نېټه د نیل په جګړه کې د سمندري ځواکونو لوی قوماندان نېلسن Admiral Nelson نږدې ټولې فرانسوي بېړۍ ډوبې کړې او په دې توګه یې د ناپلیون لمړنی پلان شنډ کړ چې له مصر څخه به د یوې خوندي اډې په څېر کار واخلي او له همدې ځایه به پر هند برید وکړي. ناپلیون اړ شو چې خپله ستراتیژي بدله کړي، خو هېڅ کله یې پر هند باندې چې د برتانیې د وټه یېز ځواک د سرچینې په سترګه یې ورته کتل، خپل د یرغل هوډ بدل نه کړ. هند برتانیې ته داسې و لکه یو وخت هسپانیا ته د لاتین امریکا د انکه او ازټېک Inca and Aztec سره زر چې وو.

نو دا ځل ناپلیون د افغانستان او پارس له لارې پر هند باندې د یرغل پلان جوړ کړ. د پارس له سفیر سره لا د مخه په یوه تړون هوکړه شوې وه چې داسې په کې لیکل شوې وو: «که چېرې اعلحضرت د فرانسې امپراتور وغواړي خپل پوځ د ځمکې له لارې په هند کې د برتانیې په مستعمرو د یرغل له پاره ولېږي، اعلحضرت د پارس امپراتور به د یو ښه او وفادار متحد په توګه لاره ورکړي.»

د تېلسټ په پټو فقرو کې په مفصله توګه دغه پلان څرګند شوی و. ناپلیون به له لوی الکساندر سره په انډول د ستر فرانسوي پوځ پنځوس زره عسکر د پارس له لارې پر هند باندې د یرغل له پاره وخوځوي او روسیه به د سوېل په لور د افغانستان له لارې روانه شي. جنرال ګارډېن Gardane پارس ته د شاه سره د ګډ کار او همدا راز هلته د یرغل تګ لورې ته د نقشې جوړولو له پاره ولېږل شو* او دا دنده هم ورکړل شوه چې دا جوته کړي چې کوم بندر د شل زره عسکرو له پاره د اوبو او نورو اکمالاتو ځای برابرولی شي. په عین حال کې، جنرال کولن

---

• وټه: اقتصاد... وټه یېز: اقتصادي

*د ناپلیون په هغه بکس کې چې له مسکو څخه د نوموړي د شاتګ په وخت کې ونیول شو، یوه داسې دوسیه وه چې له راپورونو، نقشو او هغه تګ لورو څخه ډکه وه چې جنرال ګارډېن د ناپلیون په غوښــتنه پر هند باندې د یرغل له پاره کارلي وو، ناپلیون د روســانو له تابع کولو وروســته هم د دغه پلان د عملي کولو نیت درلود. NIA،Foreign، Secret Consultation، 19 August 1825، nod 3-4.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورټ Caulaincourt ته چې په سن پيټرزبورګ St Petersburg کې د ناپليون سفير و، دستور ورکړل شو چې له روسانو سره د دغه نظر په هکله وغږېږي. ناپليون ورته ليکلي وو: «هر څومره چې دغه نظر تخليقي وبرېښي، همدومره به يې د اجرا د هڅو ډېرښت انګرېزان وډار کړي، په هند کې به وېره او په لندن کې به مغشوشتيا خپره کړي (فرانسه او روسيه په ګډه څه نه شي کولای؟). څلوېښت زره فرانسويان به، چې پارس به د کانستن تينوپل له لارې د تېرېدو اجازه ورکړي، د قفقاز له لارې د راروانو څلوېښت زره روسانو سره يو ځای شي. په ډاډمنه توګه دغه پوځ بس دی چې اسيا په ډار کې واچوي او فتح يې کړي.»[۹]

خو انګرېزان له دې څخه بې خبره پاتې نه شول. ځارګرې ادارې هلته خپل يو جاسوس چې يو ناهيلی اشرافي روسی و، ساتلی و. نوموړي د کښتۍ لاندې په يخنۍ کې په داسې حال کې چې ښکنګري يې په اوبو کې ځړېدل وتوانېد چې ټولې خبرې واوري او ژر تر ژره لندن د دغه پلان له مهمو ټکو خبر کړي. بيا يوازې شپږ اونۍ وروسته انګرېزي ځارګرې ادارې وکولای شول چې د پټو فقرو ټول متن ترلاسه کړي. دغه متن يې په چټکۍ هند ته ولېږه او ورسره يې د هند لوی والي لارډ مېنټو Lord Minto ته دستور ورکړ چې د هند او پارس په منځ کې ټولو هېوادونو ته له دغه خطر څخه خبرداری ورکړي او له دوی سره پر هند باندې د فرانسې او يا روسيې او فرانسې د يرغل پر ضد د ائتلاف په جوړولو خبرې وکړي. بېلابېلو انګرېزي سفارتونو ته هم دستور ورکړل شو چې په سيمه کې ستراتيژيک او ځارګرېز مالومات راټول کړي چې انګرېزان وکړای شي په سيمه کې د انګرېزي نقشې تشې ډکې کړي. په عين وخت کې به په انګلنډ کې تقويتي پوځ د تيارسئ په حالت کې وساتل شي چې که له فرانسوي بندرونو څخه د پوځ د خوځښت نښې وليدل شي، دغه تقويتي قوه به هند ته ولېږل شي.[۱۰]

لارډ مېنټو د ناپليون دغه پلان خيالي ونه ګاڼه: «هغه انرژي او استقامت ته په کتو سره چې د فرانسې اوسنی حاکم له نورو څخه بېلوي، د پارس له لارې پر هند باندې يرغل له کچې څخه وتلې خبره نه ده.» نوموړي دغه خبره هغه وخت وليکله چې په پارس کې يې د هغه فرانسوي فعاله پاليسۍ پر ضد د ځوابي عمل پلان بشپړ کړ چې په ځيرکۍ د هندوستان تر درباره د توطيې د وسيلو په لټون کې وه.[۱۱]

په پای کې مېنټو څلور جلا پلاوي وګمارل چې له خورا ډېرو ډاليو سره هغه واکمنيو ته لاړ شي چې د ناپليون په لاره پرتې وې څو دوی ته خبرداری ورکړي او همدا راز د دوی ملاتړ تر لاسه کړي. يو پلاوی تهران ته ولېږل شو چې د پارس قاجار فتح علی شاه د خپل نوي متحد د بې وفايۍ او مکارۍ په هکله پوه کړي. دويم پلاوی له رنجيت سينګ او سېکانو سره د ائتلاف په موخه لاهور ته او درېيم د سند اميرانو ته ولېږل شو. د شاه شجاع او افغانانو د خپلولو دنده د کمپنۍ په چوپړ کې يو پرمختګ کوونکي ځوان ستوري، مونټسټورټ الفنسټون ته ورکړل شوه.

الفنسټون د کوز سکاټلنډ و چې په ځوانۍ کې يې له فرانسې سره د پام وړ مينه پيدا کړې وه. هغه د اېډنبوره Edinburgh په مانۍ کې، چېرته يې چې پلار والي و، د فرانسوي جنګي بنديانو په څنګ کې لوی شوی و او همدلته يې د دوی انقلابي سندرې زده کړې وې او له خپلو ايډيالانو سره د همدردۍ له کبله يې خپل تاو او طلايي وېښته د جاکوبېن Jocobin په ډول تر ملا پورې پرېښي وو.[۱۲] نوموړی په ډېر کم عمر يعنې څورلس کلنۍ هند ته ولېږل شو څو بې لارې نه شي. هلته يې پارسي، سانسکريت او هندوستاني ژبې زده کړې او ژر په يو هڅاند ډيپلومات، لېوال پوهاند او تاريخپوه بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې الفنستېون د خپل لمړني ماموریت له پاره د پونې Pune په لور روان شــو، یو پیل یوازې د نوموړي کتابونو ته بېل کړل شـو. د پارسي شـاعرانو د یو شـمېر ټوکونو سـربېره، د نورو لیکوالانو او شـاعرانو کتابونه هم ورسـره وو لکه هومر Homer، حـارس Horace، هرادتس Herodatus، تیـاکرټس Theocritus، ســفو Sappho، اپلاتون Plato، بیيووالف Beowulf، مکېولي Machiavelli، ولټېر Voltaire، حـارس والپول Horace Walpole، ډرایډن Dryden، بېکن Bacon، بازوېل Boswell او تامس جفرسن Thomas Jefferson.[١٣] الفستېون له همغه وخت څخه له ارتېر ولزلي ســره Arthur Wellesley چې د ولېنګټن راتلونکی ډیوک* و ، خوا پـه خوا پـه منځني هنـد کې د مهاراتـا پـه جګړو کې وجنګېد او ډېر د وخته له خپل ایډیال اند څخه چې د بشـري مسـاواتو غوښـتنه وه، تېر شـوی و. نوموړي لیکلي: «لکه څنګه چې د کابل دربار خانتما و، پرېکړه وشــوه چې کابل ته زموږ ماموریت باید په ډېر پرتمین ډول وي چې کېدای شـي په دې وسیله د اروپايي ملتونو ځان غوښتونکی نظر ومنې.»

په افغانســتان کې د لوېدیځ قدرتونو لمړنی پلاوی د کمپنۍ له ډهلي اډې څخه د ۱۸۰۸ کال د اکتوبر په دیارلســمه د افغانسـتان په لور روان شـو. له سـفیر سره په دغه ماموریت کې ۲۰۰ اسـوال او ۴۰۰۰ پلي عسـکر، دوولس پیلان او لږ تر لږه ۶۰۰ اوښــان مل وو. دا لوی حیرانوونکی ماموریت و، خو له دغې هڅې څخه په وضــاحت ښــکاره کېدل چې انګرېزانو غوښــتل افغانان په دې پوه کړي چې دوی د ځان په خاطر د شــاه شـجاع د ملګرتیا خپلولو ته نه وو راغلي بلکې د دوی یوازینۍ موخه د خپل امپریالیســتي ســیال د پلان شــنډول وو. د لوېدیځ په دیپلوماســۍ کې افغانانو ته د ســطرنج دانو په ســترګه کتل کېدل. چې هر وخت وغواړي، ښــکېل او یا قرباني یې کړي. دا یوه داســې کړنه وه چې په راتلونکو کلونو او لسـیزو کې ډېرو نورو قدرتونو تکرار کړه او هر ځل افغانانو وښـوده چې دوی پخپله له خپلې خاورې څخه په داسې اغېزمنه توګه دفاع کولی شي چې د دوی (ممکنه) دوکه بازانو یې تصور نه شو کولای.

معمولاً داسې ګڼل کېږي چې د شاه شجاع نیکه، احمد شـاه ابدالي په ۱۷۴۷ کال کې د مدرن افغانسـتان د بنسـټ تېږه کېښـوده. د هغه کورنۍ د پنجاب له ملتان څخه راغلې وه او له مغولو سره یې د چوپړ اوږده سابقه درلوده؛ نو له دې کبله دا مناسـبه وه چې د نادرشــاه له وژل کېدو څخه یوازې یو ســاعت وروســته، احمد شــاه د مغولو هغه له غمیو څخه ډکه خزانه تر خپل واک لاندې راولي چې د نادرشــاه لوټمارانو شـپیته کاله مخکې د ډهلي له سـرې کلا څخه چور کړې وه.* هغه له دغې خزانې څخه د خپل پوځ په غښــتلتیا کې کار واخیســت؛ نو هېڅ کله یې کومه جګړه ونه بایلله، خو نوموړي ته په پای کې یو داسې دښمن ماته ورکړه چې د هر بل پوځ په پرتله جګړه ورسره خورا سخته وه. ده خپل مخ د داسې یوه مرض له امله له لاسه ورکړ چې ځینې افغان سـرچینې یې خسـمار بولي، کېدای شي دا جزام او یا کوم

* Duke پخوا په اروپا کې د یو کوچني ازاد هېواد مشر ته ویل کېدل او اوس په انګلستان کې یو اعزازي لقب دی. (ژباړن)

* د نادرشـاه له لوټ څخه چې څه پاتې دي، د ایران د ملي بانک په سـاتنخونه کې سـاتل شـوي. په دې کې د دریای نور یا د رڼاوو سـیند، چې د کوه نور خور بلل کېږي، هم شامل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ســـرطان و. احمد شـــاه د خپل قدرت په اوج کې، وروســـته له دې چې د لوېديځ هند پر هوارو يې اته پرله پســـي يرغلونه وکړل، په پای کې وتوانېد چې د موراتز Marathas لويو لښــکرونو ته په ۱۷۶۱ کال کې د پانيپت په جګړه کې ماته ورکړي. په دغه وخت کې د نوموړي پزه مرض پوره خوړلې وه او پر ځای يې يوه جوړه شـوې پزه چې د الماسـو غمي په کې ايښـودل شـوي وو، ايښـودله. په داسې حال کې چې د هغه د پوځ شـمېر ۱۲۰۰۰۰ کسـانو ته ورسـېد او امپراتوري يې پراخه کېدله، د هغه تومور هم مخ په غځېدو و چې له امله يې مغز ته زيان ورسـاوه، د بدن غړي يې له کاره ولوېدل او مرض يې سينې او ستوني ته ورسېد.[۱۴] دی د شـفا له پاره په زيارتونو وګرځېد، خو يو يې هم هغه شـفا چې د نوموړي هيله وه، ده ته ور نه کړه. په ۱۷۷۲ کال کې په داسې حال کې چې له رغېدو څخه ناهيلی شـوی و، احمد شـاه خپل کټ ته لاړ او يو افغان ليکوال په دې هکله داســې ليکلي: «د هغه د خرما د ونې پاڼې او مېوه په ځمکه وغورځېدې او له کوم ځای څخه چې راغلی و، ښرته هلته لاړ.»[۱۵]

د دراني امپراتورۍ لويه غميزه دا وه چې بنســـټ ايښـــودونکی يې مخکې له دې چې د خپل هېواد پولې جوتې کړي يا يوه کارنده اداره جوړه کړي او يا خپلې نوې فتحې مضبوطه کړي، مړ شـو.

تيمور شـاه، چې په جسـه کې د احمد شـاه کوچنی زوی و، وکولای شـول چې له پلار څخه ورته د پاتې امپراتورۍ اسـاسي برخې وسـاتي. نوموړي پلازمېنه له کندهار څخه کابل ته ولېږدوله چې د پښـتني اصـلي سـيمو له جنجالونو څخه يې په امان کې وسـاتي او له قزلباشـو څخه يې خپل شـاهي ګارد جوړ کړ- قزلباش هغه کډوال وو چې په لمړي ځل د نادر شـاه له پوځ سـره يو ځای له پارس څخه افغانسـتان ته لاړل - د سـدوزيو واکمنه کورنۍ لکه قزلباش پاړسـي ژبي او د کلتور له اړخه پارسي شـوې وه. لکه څنګه چې رابرټ باير‌ن Robert Byron تيموري شـاهان ختيځ ميډيچي Oriental Medici نوملي، تيمور شـــاه د خپلو کلتوري ماډلونو له پاره تيموري شـــاهانو ته مخ کړی و. ده په دې اړه په خپل ناټ وياړ کولو. نوموړي د بالاحصار په کلا کې رسـمي باغونه چې په لمړي ځل د شاه جهان په پېر کې د کابل والي، علی مردان خان جوړ کړي وو، بيا ورغول او په دې هکله يې د خپلې مشـــرې ښـــځې له نکلونو الهام اخيســـتی و. نوموړی د مغولو يوه شهزادګۍ وه او د هند په سره کلا کې چې حويلۍ يې تيندکې• او د سيوري له پاره مېوه لرونکې ونې لرلې، لويه شوې وه. لکه مغول خســرخيل يې، تيمورشــاه په پرتم ښـودنه کې اســتعداد درلود. هغه خپل حکومت د لويو واکمنانو په څېر جوړ کړی و. د دربار په ورسـتني تاريخ *سـراج التواريخ* کې ليکل شـوي: «تيمور شـاه به يو داسې ګل په خپل دسـتار کې تومبلی و چې د الماســو غمي په کې ايښــودل شــوي وو، په ګاڼو پټ دســمال به يې په اوږه و او په ګران بيه تېرو ښــکلی شــوی کوټ به يې په تن و. کوه نور به يې په ښـي مړوند او فخراج ياقوت به يې په کيڼ مړوند کې اچولی و. اعلحضـرت تيمورشـــاه به د خپل اس په تنده هم د ګاڼو يو ګل ځړولو. لکه څنګه چې هغه په ونه ټيټ و، پر اس باندې د سـپرېدو له پاره په ګاڼو يو ښکلې شوی پاټکی هم ورته جوړ شوی و.»[۱۶]

که څه هم تيمورشـاه د خپل پلار د امپراتورۍ پارسـي سـيمې له لاسـه ورکړې، خو هغه وکولای شـول چې په سـختو جګړو د امپراتورۍ افغان هســـته وســـاتي: په ۱۷۷۸-۱۷۷۹مو کلونو کې هغه وکولای شـــول چې د خپل پلار د زوکړې

• تيندکه: فواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای، د پنجابي ملتان یاغي ښار بېرته ونیسي او په اوښانو بار د څو زره یاغي سېکانو له سرونو سره بېرته راوګرځي. وروسته د بریا د نښې په څېر دغه سرونه ننداریې ته کېښودل شول.[۱۷]

تیمورشاه څلورویشت زامن لرل. د هغه له مړینې وروسته، د ورونو تر منځ د واکمنۍ پر سر شخړې را منځ ته شوې. دغه شخړې تر دې کچې ورسېدې چې د واکمنۍ مدعیانو په خورا قوت د یو بل په نیولو، وژلو او عیبي کولو لاس پورې کړ او په دې توګه یې د دراني واکمنۍ د کمزورتیا بهیر پیل کړ. د تیمورشاه د ورستي ځای ناستي، شاه زمان په دوره کې دراني امپراتوري رنګه شوه. په ۱۷۹۷ کال کې، شاه زمان لکه پلار او نیکه یې د خپلې شتمنۍ د ډېرولو او د خزانې د بیا ډکولو له پاره پرهندوستان د لوی یرغل امر وکړ- دا د پیسو د بحران د حل له پاره زوړ افغاني دود و - نوموړی د ټیپو سلطان بلنې وهڅاوه چې د خیبر له هسکو ټیټو څخه ښکته د لاهور زړې او د دوبې باران وهلې کلا په لور ستون شي او د لوېدیځ هند په شتمنو هوارو د برید پلان جوړ کړي، خو په ۱۷۹۷ کال کې سیمې ته یو وېروونکی اجنبي ننوتلی و. دا د ختیځ هند کمپنۍ وه چې اوس یې هند تر خپلې ولکې لاندې راوستی و. د غورخاوڼ لوی والي، لارډ ولزلي Lord Wellesley د ولېنګټن د راتلونکي ډیوک مشر ورور تر مشرۍ لاندې، کمپنۍ له خپلو ساحلي فابریکو څخه په وچه کې د ننه په چټکۍ په پراخېدو وه او سیمې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستې. په پای کې د ولزلي هندي کمپاین د ناپلیون د اروپايي ټولو فتوحو په پرتله ډېره خاوره ونیوه. هند نور د افغانانو له پاره د پخوا په څېر د لوټ اسانه سرچینه نه و او ولزلي په ځانګړې توګه یو مکار دښمن و.

هغه پرېکړه وکړه چې د شاه زمان مخه ونیسي، خو په مخامخ جګړه نه، بلکې په دیپلوماتیک چل. په ۱۷۹۸ کال کې یې یو دیپلوماتیکي پلاوی پارس ته ولېږه. پارس ته یې د وسلو او روزنې د ورکړې ورانديز وکړ او وېې هڅاوه چې د شاه زمان پر بې دفاع سیمو یرغل وکړي. شاه زمان اړ شو چې بېرته راوګرځي او په دې ترڅ کې یې د لاهور ولايتي چارې یو تکړه او قدرت ته هوسي سېک ځوان، رنجیت سېنګ ته ورکړې. د افغانانو د بېرته تګ د اړودوړ په ترڅ کې، رنجیت سېنګ له شاه زمان سره د هغه توپونو په خلاصون کې مرسته وکړه چې د جیلم د سیند په ختو کې بند پاتې وو. نوموړي په خپل اغېزمنتوب د شاه پام ځان ته واړاوه؛ نو که څه هم هغه یوازې نولس کلن و، د پنجاب د ډېرو برخو مسولیت یې وروسپاره.[۱۸] په څو راتلونکو کلونو کې، په داسې حال کې چې شاه زمان د خپلې ټوټې ټوټې امپراتورۍ د ساتلو له پاره په لښکرکشۍ او د هغه پر ضد د نورو لښکرکشیو پر وړاندې په جګړه بوخت و، رنجیت سېنګ له خپل پخواني بادار څخه کرار کرار د دراني امپراتورۍ ګټور ختیځ ولایتونه واخیستل او په پنجاب کې یې د یو واکمن قوت په توګه د هغه ځای ونیو.

میرزا عطا محمد چې د شاه شجاع د وخت یو تر ټولو هوښمنو لیکوالانو څخه و، لیکلي: «د خراسان افغانان په یو شي کې پخوانی نوم لري، هر کله چې د قدرت څراغ روښانه بل وي، دوی لکه بوراګانې پرې ټولېږي او هر کله چې دسترخوان ډک وي، دوی لکه مچان پرې غونډ شي.»[۱۹] خو د دغه خبرو معکوس هم رښتیا وو. کله چې د هند له لوټولو څخه د شاه زمان مخه ونیول شوه او بېرته راوګرځېد او سېکانو، انګرېزانو او پارسیانو ساحه پرې تنګه کړه، سلطه یې ورو ورو په کمېدو شوه. د ده خپلوان، اشرافیان او حتی میړني ورونه یې یو په بل پسې د هغه پر ضد ودرېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه زمان د واکمنۍ پای هغه وخت راورسېد چې د ۱۸۰۰ کال په ساړه ژمي کې، ده ته کابلیانو د کابل دروازه خلاصه نه کړه. نوموړي د ژمي په یوه سړه شپه کې، په داسې حال کې چې بنو يې نرمه واوره نیولې وه، له توپاني واورې څخه د جلال اباد او خیبر تر منځ یوې کلا ته پناه یوړه. شینواري کوربه يې دی بندي کړ، د کلا دروازې يې کولپ کړې، ساتونکي يې ووژل او وروسته يې په سره ستن ړوند کړ. میرزا عطا لیکلي: «د ستنې څوکې يې سمدلاسه د لید شراب د هغه د سترګو له پیالو توبې کړل.»[20]

ویارمن او په کتاب مین شاه شجاع یوازې څورلس کلن و چې مشر ورور يې ړوند او له واکه وغورځول شو. دی په دوامداره توګه په هر وخت کې د شاه زمان د لارې مل و. د کودتا په ترڅ کې په ده پسې عسکر ولېږل شول چې دی ونیسي، خو نوموړي وکولای شول چې له دوی څخه ځان پټ کړي. وروسته له خپلو څو ملګرو سره په لیرې پرتو لارو، له سپېدار، نانګه او څېړیو نه ډکو شېلو څخه نیولې، د واورې تر بلوري کرښو پورې په لوړو درو او غرونو کې لالهانده ګرځېده. ورځ يې سرګردانه او خوب يې په بېدیا کې، ده د خپل بخت د بیا ویښېدو په تمه شپې او ورځې تېرولې. شاه شجاع یو هوښیار، نرم خویه او لوستی زلمی و. له تاوتریخوالي څخه بې، چې تر ده چاپېره وه، کرکه لرله او په سختو وختو کې يې په شاعرۍ کې راحت موندو. په دغه وخت کې يې داسې لیکلي: «کله چې له ستونزو سره مخ شوې، مه ناهیلی کېږه.» په داسې حال کې چې د خپلو وفاداره قومي کسانو تر ساتنې لاندې يې د غره په لمنو کې، کله په یوه کلي او کله په بل کې شپې او ورځې تېرولې،«توري وربځې پرته له ځنډه رڼه باران ته لاره ورکړه.»[21]

د مغلو لمړني امپراتور بابر په څېر، شاه شجاع هم خپل ژوندلیک ډېر ښایسته لیکلی او د هغه ورځو په هکله يې لیکلي چې دی بې کوره د سپین غر په لمنو کې لالهانده ګرځېده، د شین غر او فیروز کوه د لوړو پرتو چوپ او کرارو ډنډونو په غاړه يې کښانده ګامونه اخیستل او د خپل ذاتي حق د بېرته تر لاسه کولو په موخه، د ښه فرصت له پاره تم و او پلانونه يې جوړول. هغه لیکلي: «په دغه وخت کې قسمت موږ ډېر وکړولو، خو موږ د توفیق دعا کوله ځکه چې د بریا او پاچاهۍ ډالۍ یوازې له خدای سره ده. د خدای په فضل، دغه زموږ نیت و چې له هغه شېبې څخه چې پر تخت کښېناستو، موږ به پر خپل رعیت په عدالت او مهربانۍ حکومت کوو او دوی به زموږ د خوندي وزرو لاندې په خوښۍ ژوند کوي ځکه چې د پاچاهۍ موخه په خلکو پام او له ظلم څخه د کمزورو خلاصول دي.»[22]

درې کاله وروسته په ۱۸۰۳ کال کې هغه فرصت چې شاه شجاع يې په تمه و، هغه وخت راورسېد چې فرقه ییزه بلوا پیل شوه: شاه شجاع لیکلي: «د کابل خلکو زما د ورور، زمان نرم او سخي حکومت په یاد و او د لړاک زوروواکي او د هغه له ډانګه يي عسکرو سره يې پرتله کړ. دوی ته نور زغم نه و پاتې؛ نو د یو بدلون راوستلو له پاره يې مذهبي شخړو ته مخ کړ. د سني او شیعه تر منځ اخ او ډب بیا پیل شو او سمدستي د کابل په واټونو کې بلوا پیل شوه.»[23]

د یوې افغان سني سرچینې پر بنسټ، جګړه د شیعه قزلباشو او د دوی سني ګاونډیانو تر منځ پیل شوه.

یو لوچک قزلباش یو سني هلک چې په کابل کې يې ژوند کولو بې لارې کړ او خپل کور ته يې بوت. دغه قزلباش څو نورو چورباز انو• ته هم بلنه ورکړې وه چې په دې ناولې کړنه کې برخه واخلي. دوی پر دغه بې وسه هلک جنسي تېری وکړ. څو ورځې وروروسته په داسې حال کې چې هغه ته يې په دوامداره توګه مخدره مواد او شراب ورکړي وو، نوموړی يې په سړک کې واچاوه. دغه هلک کور ته لاړ او خپل پلار يې د پېښې په هکله خبر کړ. پلار يې د عدالت غوښته وکړه ... د هلک کورنۍ د جمعې په ورځ په لوڅ سر او پښو په داسې

• چورباز: بچه باز

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کې چې د جامو جېبونه يې چپه را ايستلي وو د پل خشتي جومات سره راټول شول. دوی هلک د منبر لاندې ودراوه او پر مشر امام يې غږ وکړ چې د دغه کرکجن عمل جبران ورکړي. ورپسې امام د قزلباشو پر ضد د جګړې اعلان وکړ.[۲۴]

د افغانانو کلکې دښمنۍ ډېرې د هغو خلکو تر منځ دي چې يو بل سره يې وينه ګډه وي. په دغه قضيه کې زورواکی د شاه شجاع پردی شوی ميرنی ورور، شاه محمود و. کله چې شاه محمود د زورورو قزلباشو چې د نومورې د ساتونکو او اداري نخبه ګانو پوړ ترې جوړ و، مجازات رد کړل، ځاځمن سني قومي خلک له شاوخوا غونډيو څخه پر کابل راښکته شول او د قزلباشو دېوال محاطه هستونګنځې يې کلابند کړل. په دغه اړودوړ کې شاه شجاع له پېښور څخه لکه د سنيانو اتل کابل ته ورسېد، يو ورور يې، شاه زمان له بند څخه ازاد او بل يې، شاه محمود د هغه پر ځای بندي کړ. د شينواري قبيلې له هغه مشر څخه پرته چې شاه زمان يې ړوند کړی و، شاه شجاع ټول هغه خلک وبښل چې د ده د ورور پر ضد يې بغاوت کړی و. افسرانو دغه مجرم او د هغه ملاتړې ونيول او کلا يې ورته له خاورو سره برابره کړه. د دوی هر څه يې لوټ کړل او دغه کس يې د شاه شجاع دربار ته حاضر کړ. بيا يې د نومورې خوله له باروتو څخه ډکه کړه او سرې يې د باروتو په چولو مړ کړ. د نومورې ملاتړې يې زندان ته واچول او سخته بېرحمه شکنجه يې ورکړه چې هغو خلکو ته چې د زړورتيا او سختې جزا د زغملو د توان ادعا کوي، يو درس پاتې شي.[۲۵] د محمد خان دراني د وينا پر بنسټ، په پای کې دوی د مجرم ښځه او بچيان د شاه شجاع پر توپ وتړل او بيا يې والوزول.[۲۶]

د کورنيو او په کورنيو کې د خپلمنځې جګړو په ترڅ کې، دراني افغانستان په چټکۍ د انارشۍ لور ته لاړ. په دغه پېر کې ځينې مغلو افغانستان د هند په پرتله خورا متمدن ګڼلو، خو اوس چې د خپل مدرن تاريخ په زياته برخه کې د زده کړې او هنر يو پرمختللي مرکز و، په چټکۍ سره په يو مات، جګړه ځپلي او شاته پاتې هېواد مخ په بدلېدو شو.

د شاه شجاع سلطنت لا هماغه وخت د هغه واکمنۍ يو نيمګړی انځور و چې يو وخت يې پلار درلوده. په هرات کې ستر کالجونه لکه د ګوهر شاد بېګم کالج، د کميت او نومورتوب له اړخه مخ په کمښت وو. شاعرانو، هنرمندانو، خطاطانو، ميناتورانو، مهندسانو او کاشي جوړوونکو، چې د تيموريانو په وخت کې يې خراسان ته لوی نوم ورکړی و، د سوېل-ختيځ په لور لاهور، ملتان او د هندوستان ښارونو او د لوېديځ په لور پارس ته مهاجرت ته دوام ورکړ. افغانانو لا هماغه وخت هم ځانونه د هنر او پوهې خاوندان ګڼل. ميرزا عطا، د هغه وخت يو فصيح ليکوال، کله چې د افغانستان په هکله په وياړ غږېږي، د بابر په څېر ښکاري، هغه وايي: «افغانستان د سند په پرتله چېرته چې څوک علمي خبرې او سپينه ډوډۍ نه پېژني، ډېر مهذب او متمدن دی.» بل ځای د خپل هېواد په هکله داسې وايي: «داسې هېواد چې څلورڅلوېښت ډوله انګور لري او نورې مېوې لکه مڼې، انار، ناک، رواشې، توت، خوږې هندوانې، موشکې ختکې، خوباني، شفتالو او ډېر نور ډولونه په کې پيدا کېږي او داسې سړې اوبه لري چې د هند په هوارو کې نه شته. هندوستانيان، نه د ډوډۍ په خوراک پوهېږي او نه په دې پوهېږي چې څرنګه جامې واغوندي.- خدای دې ما د دوی د دال له اوره او بې خونده چپاتي څخه وساتي.»[۲۷]

خو حقيقت داسې و چې د تيموريانو د لوی کلتور او پارسي د تهذب ورځې په چټکۍ مخ په ورکېدو وې. په افغانستان کې په دغه پېر کې کابو ټولې ميناتورۍ او نقاشۍ روغې پاتې نه شوې، خو برعکس په پنجاب کې د ټول هند ځينې تر ټولو ښايسته هنري شاهکارونه جوړ شول. د هرات لوی او ښايسته ښار اوس په چټلۍ او مردارۍ کې ډوب و. داسې ښار چې څو ځله کولرا وځپلو او په ژوندي تاريخ کې يې د هستوګنو شمېر له سل زرو څخه څه کم څلوېښت زرو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیټ شـو.[۲۸] د دراني امپراتوري چې له سخت اداري کمزورۍ سـره مخ وه، زوال ته نږدې کېده. د شـاه شـجاع واکمني په ډېرې ځایونو کې له هغه تاېو څخه چې د نوموړي د ملاتړو کوچنیو ډلو درلودې، د یوې ورځې مزل وړاندې ځایونو ته نه غځېدله. دغه ګډوډۍ او بې ثباتۍ قافلو ته ورځ تر بلې ډېرې سـتونزې رامنځ ته کړې. د مرکزي واکمنۍ په نه شـتون کې به د قبیلو مشرانو له منځنۍ اسیا څخه تلونکو او راتلونکو لویو کاروانونو څخه پخپله خوښه مالیه او حق العبور اخیســتل او یا به یې لوټول. دغـه بـه پـه خپل وار هغـه رګونـه بنـدول پـه کوم کې چې د هېواد د ژونـد وینـه بهېده او د افغانستان سیاسي وټه یې تر کلک ګواښ لاندې راوسته، خو افغانستان تر اوسه هم دا توان درلود چې ټولې سیمې ته درې ګټور محصـولات (مېوه، څرمن او اسـونه) ورکړي. په اسـیا کې د کشـمېر د اوبدلو کارخانو تر ټولو ښـه شـالونه تولیدول او د زعفرانو له بوټیو یې د ښه کیفیت زعفران حاصل کېدل. ملتان د رنګینه ټوکر په تولید کې نوم درلود. په ښــو کلونو کې به د هغه ســوداګریزو کاروانو څخه مالیه اخیســتل کېده چې د افغانســتان په لاره یې له منځنۍ اســیا څخه هند ته ورېښــم، د دېګ مســاله او اوښــان او له هند څخه منځنۍ اسـیا ته مېوه، چای، نیل، تمباکو، چرس او ترياک وړل، خو ډېرو لرو قافله چیانو د شاه زمان او شـاه شـجاع د سـیاسي ناکراریو له کبله دې ته زړه ښـه کولو چې د افغانســتان لـه خطرناکې لارې خپل مال ولېږدوي.[۲۹] افغانانو د تېرو نســلونو برعکس، کتل چې خپل هېواد یې د بېوزلۍ په لور روان دی. څه موده وروسـته د شـاه شـجاع ځای ناسـتي د افغانسـتان په هکله داسـې وویل: «یو داسـې هېواد چې له سرېیو او تیږو پرته یې نور تولیدات خورا لږ دي.»[۳۰]

دا چې د مالیې او حق العبور له لارې عاید ډېر لږ شـوی و، د شـاه شـجاع یوازېنۍ رښـتینې شـتمني د هغه د وفادار ړوند ورور، شاه زمان او د خپلې ښځې، وفا بیګم چې ځینو د تخت اصلي واکداره ګڼله، مشورې وې. د کورنۍ بله شتمني چې په چټکۍ مخ په کمښت وه د مغولي غمیو خزانه وه.

نو د شاه شجاع له پاره د انګرېزي کمپنۍ سره ائتلاف ډېر ارزښت درلود. نوموړی په دې هیله و چې دغه ائتلاف به له ده سره د داسې سرچینو په لاسته راوړنه کې مرسته وکړي چې په وسیله یې خپله ماته امپراتوري بیا متحده کړي.

په پای کې انګرېزانو په رښــتیا وکولای شــول چې افغانان د یو حاکم تر واکمنۍ لاندې متحد کړي، خو د افغانانو د یووالي دغه ډول له هغه بڼې څخه چې د شاه شجاع په پلان کې وه، توپیر درلود.

د ۱۸۰۸ کال د اکتوبر په پای کې، الفنسټون له سفارتي کاروان سره د شخاوټي Shekjawti له لارې د بیکانېر Bikaner په لور روان و. د کمپنۍ دغه دوه میله اوږد د اسـونو، اوښـانو او پیلانو کتار د کمپنۍ تر واکمنۍ لاندې سـیمو څخه د تار د دښتې Thar Desert باد ځپلو سیمو په لور چې برتانیې ته نا اشـنا وې،«د رېګ پرله پسې داسې غونډیو ته ورسېد لکه د ســمندر څپې او باد د غونډیو ځمکه داســې کړې وه لکه باد وړې واوره... د ســمې لارې په نه شــتون کې، زموږ اسونه تر زنګنو پورې په رېګ کې ډوب شـول.»[۳۱] «د بې سـارو شـاړو دښـتو له لارې، له دوه اونیو سخت مزل وروسـته د بیکانر ښـار برجونه او دېوالونه زموږ تر سترګو شـول. دغه ښـار د دښتې په منځ کې یو ښـایسته ښـار دی.»[۳۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بیکانر څخه وړاندې د شاه شجاع تر واکمنۍ لاندې د دراني امپراتورۍ پاتې سیمې پرتې وې. دومره وخت تېر نه و چې د الفنسټون ډلې په لمړي ځل افغانان ولیدل. «په خالي بېدیا کې، پراوښانو سپره د عسکرو یوسل او پنځوس کسیزه ډله د دوی په لور خوځېدله». «پرهراوښ دوه کسه سپاره وو او هر یو یې اوږد ځلانده چقمقي ټوپک درلود.»[۳۳] کله چې الفنسټون او ورسره مل ډله د درانیو له دېره اسمعیل خان اډې څخه تېر شول، الفنسټون ته د شاه شجاع له لوري یو د ښه راغلاست لیک او یوه جوړه اعزازي جامې ورکړل شوې. شاه شجاع د دوی مخې ته د اسوال عسکرو سل کسیزه ډله چې د پارسیانو په څېر رنګه جامې یې په تن، موزې یې په پښو او ټیټې قره قلۍ یې پر سر وې ولېږله. د ۱۸۰۸ کال د فبرورۍ میاشتې په وروستیو کې دغه پلاوی له کوهاټ څخه تېر شو او په لیرې واټن کې یې د سپین غر په واورو پټې څوکې ولیدې. په ټیټو غونډیو کې د کلاو په شاوخوا کې د الفنسټون ډېرو لوټمارانو ته پام شو «... خو زموږ د اسبابو ښه ساتنه کېده او لوټول یې د دوی له توان څخه وتلی کار و؛ نو دوی اړ شول چې په خپل ځای کرار کښېني او زموږ ننداره وکړي. دوی د تېرېدونکو اوښانو کتار ته په حسرت کتل.»

دلته درې داسې لوړانده او بلندویه وې لکه غونډۍ چې ځنګلي او سرکښه وې. پلاوي په اوږده نېغه لاره خپل مزل وهلو. داسې لاره چې د چنار او توت ونې یې پر غاړه ولاړې او د اوبو ویالې ترې تېرې راتېرې وې او داسې پلونو نښلولې چې کمانونه یې له مغولي نرۍ خښتو څخه جوړ او په کاشي پټ وو. کله کله به یې د ښکاریانو یوه ډله ولیده چې د سرېو په لاس کې به بازان او له پښو سره یې ښکاري سپي وو او کله به یې د سرېو یوه بله ډله ولیده چې مرز یا زرکان به یې نیول. لږ وخت وروسته دغه پلاوی له یوې داسې سیمې څخه تېرېده چې له باغونو څخه یې دېوالونه چاپېر وو او ونې او بوټي یې اشنا ښکارېدل، د ځنګلي شاتوت او تورتوت بوټي ... د الو، شفتالو او سپېدار ونو، د جړاند ولو او حتی مرغانو یې پلاوي ته د خپل وطن یادونه ژوندي کړل. د پلاوي ځینې ښاغلو فکر کاوه چې دوی چتکی او توره تورانۍ ولیدل او غړونه یې واورېدل.»[۳۴]

پېښور په هغه وخت کې لوی، ګڼ مېشته او موږ و او نه یوازې د دراني افغانستان ژمنۍ پلازمېنه بلکه د پښتون کلتور یو لوی مرکزهم و.[۳۵] د تېرې پېړۍ په ترځ کې، پېښور د دوه تر ټولو لوی پښتون شاعرانو ټاټوبی و. الفنسټون د دواړو اثار لوستي وو. رحمن بابا د پښتو ژبې یو لوی صوفي شاعر و او د سرحد رومي بلل کېږي. هغه لیکلي: «کر د ګلو کړه چې سیمه د ګلزار شي، اغزي مه کره چې پښو کې به دې لاړ شي. ادم زاد په معنا واړه یو صورت دي، څوک چې بل ازاروي هغه ازار شي.» خو د الفنسټون منطقي زړه ته، خوشحال خان چې لږ ډېر دنیوي و، نږدې و. خوشحال خان یو قومي مشر و چې د مغول امپراتور اورنګزېب پر ضد یې پاڅون وکړ. د اورنګزېب پوځ په خوشحال خان پسې د هندوکش په درو کې ګرځېده خو په نیولو یې بریالی نه شو. الفنسټون نوموړی له ویلیم ولېس William Wallace سره چې د منځنیو پېړیو سکاټلندی ازادي غوښتونکی جنګیالی و، پرتله کړی: کله کله به د شاهي پوځ په تباه کولو کې بریالی شو او کله کله به یوازې په غرونو کې ګرځېده، خو د ولېس برعکس، خوشحال خان یو تکړه شاعر هم و:

ادم خېلې اپرېدی دي سرې او سپینې
په کې شته ښایسته په رنګ رنګینې
که د باز غونډې مې ګشت په غرونو کېږي
ښکار مې هم شوې ښایسته زرکې ثمینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه واړه کار د اور لري خوشحاله
که لمبه یې پټوې لوګی یې وینې [۳۶]
او یا داسې بې باکه:
د سیند په هغه غاړه یو هلک دی، کونه یې لکه شفتالو
خو افسوس چې لامبو مې زده نه ده [۳۷]
( دغه له انګرېزي بیت څخه نېغه ژباړه ده. په ۳۷ اخځلیک کې لیکوال لیکلي چې که څه هم دغه بیت خوشحال خان ته منسوبېږي، خو ډېر پوهان د دې پر رښتیاوالي شک څرګندوي. ژباړن)
پلاوی له ډهلي نه د حرکت څخه شپږ میاشتې وروسته پېښور ته ورسېد او له اصلي بازار څخه وتلې په یوه لویه حویلۍ کې یې واړول. کله چې له شاه شجاع سره د الفنسټون د لیدنې وخت راورسېد، په کومه بڼه یې چې دنیوي زده کړې هغه ته د افغان شاعرۍ په وړاندې د غبرګون لاره ښودلې وه، په همدغه بڼه یې له خپل هغه تصور څخه کار واخیست چې د درانیو واکمنۍ په هکله یې له خپلو مطالعاتو څخه جوړ کړی و. کله چې د پېښور په لور روان و، الفنسټون له رومي امپراتورۍ سره د جرمني قومونو د مخامخ کېدو په هکله د تسېټس Tacitus کتاب په لوستلو کې ډوب و او په یادلیکچه diary کې یې دغه کرښه خپل اوسني حالت ته بدله کړه. هغه داسې تصور کاوه چې افغانان به د جرمني وحشي قبیلو په څېر وي او برعکس «عیاش پارسیان» به نرم او بې لارې رومیان وي، خو کله چې الفنسټون د شاه شجاع حضور ته ومنل شو، دی هک پک شو چې د ده د تمې خلاف، چې شاه به یو ځاځمن ځنګلي مشر وي، شاه شجاع ځومره با کلتوره و. الفنسټون لیکلي: «د کابل پاچا یو بنیالی سړی و.»

شاه غنمرنګه و او توره ګڼه ږیره یې درلوده. د معظمه او فرحت ښونکي ونګې او صاف غږ څېښتن او خطاب یې شاهانه و. موږ لمړی فکر وکړ چې شاه شجاع د ګاڼو زغره په تن کړې، خو چې لږ نږدې ورته ځیر شوو، پوه شوو چې دا د هغه رښتینې جامې دي چې د سرو زرو لوی ګلونه او غمي پرې ټومبل شوي وو. له دوی څخه پاس یو لوی له الماسو جوړ د سینې ډال و چې د دوه هوارو نښانونو بڼه یې درلوده. همدغه ته ورته یوه ګاڼه یې پر هر ورون او د زمردو لوی وښې یې پر متو او ډېرې نورې ګاڼې یې پر بېلابېلو ځایو کې وې. په یوه وښي کې یې کوه نور اېښودل شوی و... دا به څوک ډېر لږ باور وکړي چې یو ختیځي سلطان، په داسې حال کې چې د مېلمنو د خوښۍ اندېښنه ورسره وه، څومره ډېر د یو ښاغلي چلند درلود او څومره ښه یې خپل عزت او درنښت ساتلی و.[۳۸]

خو د انګرېزانو او افغانانو د لمړنۍ لیدنې تر ټولو ښه او بې اړنګه بشپړ یادښت الفنسټون نه، بلکې د هغه یو ټیټ پوړي مامور لیکلی. ویلیم فرېزر William Fraser د اېنورنېس Inverness یو پارس پوه و چې په بر سکاټلند کې یې خپل مور او پلار ته په استولې لیک کې د شاه له لوري د دوی په ښه راغلاست بې حیرانتیا څرګنده کړې وه. په دغه لیک کې نوموړي د شاه شجاع چې د خپل قدرت په اوج کې و، یو واضح او په بشپړه توګه محسوس انځور بیان کړی دی. فرېزر یوه پرتمینه تشریفاتي ډله چې د چرمو شااوړد کوټونه یې پر تن وو، یادوي چې انګرېزان یې د پېښور په واټونو کې بدرګه کړل او نارینه افغانان چې چپنې یې په تن او تورې قره قلۍ یې پر سر وې او ښځې چې د مخ لوڅو کلیوالي بزګرو ښځو برعکس، اوږدې سپینې بورقې یې اغوستې وې، د واټونو په غاړه ورته ولاړ وو.
انګرېزان د پېښور له لویې کلا چې (لکه په کابل کې) بالاحصار نومېږي د بهرني انګړ له لارې غونډ کړل شول. دوی د پاچا د پیل او پړانګ له څنګ څخه چې کېدای شي د مانۍ د انګړ تر ټولو ښه ځیز وبلل شي، تېر کړل شول او د کلا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي انګړ کې د نندارچیانو د تالار مخې ته لاره وروښودل شوه. د انګړ په منځنۍ برخه کې درې تیندکې وې چې په درېیو بېلابېلو پوړونو کې یې اوبه د نري ګرد په ډول خورا اوچتې شیندلې. د انګړ په وروستۍ برخه کې یوه دوه پوړیزه ودانۍ وه چې سروه ونې پرې انځور شوې وې. پورتنی پوړ یې پرانیستی او په ستنو ولاړ و چې په منځنۍ برخه کې یې د ګومبزې غرفه وه او د زرینه ګومبزې لاندې، شاه پر یو کثیرالاضلاع اوچت تخت ناست و. دوه حاضرباشو د اس له لکۍ څخه جوړ مچ شړوني په لاس کې نیولي وو، چې د اسیایي پاچاهیو سمبول و. فرېزر لیکي: «حالت داسې و لکه ذهن چې د ښاپیریو او یا فولکلوري کیسو د لوستلو په لړ کې انځور مجسم کړي. کله چې ننوتلو، موږ د اړینه درناوي له پاره درې ځلې له سر نه خولۍ لیرې کړې او وروسته مو لاسونه داسې لپه کړل لکه اوبه چې سړی په کې نیسي او بیا مو مخامخ د مخ ښکتنۍ برخې ته ونېول او شونډې مو داسې وښورولې لکه دعا چې کوو. په پای کې مو لاسونه پر ږیره تېر کړل.» نیمایي وسلوال عسکرو ته د تګ امر وشو چې په انګړ کې په دوه مخامخ لیکو کې درېدلي وو. دوی په لنډو ګامو او سوکه منډه په داسې حال کې انګړ پرېښود چې د سینې او اوږو زغرې یې یو له بل سره لګېدې. د تګ په بهیر کې دوی چې څومره کولای شول همدومره یې د سینې او اوږو د زغرو کړنګاری او د کلکو ګامو ترپاری اوچت کړ. کله چې دوی لاړل، د دربار مامور د الفنستېون مخ ته ودرېد او په داسې حال کې چې پاچا ته یې کتل په لوړغږ یې وویل: «دا ښاغلی الفنستېون بهادر فرنګی، استازی دی. خدای د خیر ورکړي.» ورپسې د سټرېچي Strachey مخ ته ودرېد او غږ یې کړ: «دا اسټراجي بهادر ...» په همدې ډول یې په کتار کې ولاړ د پلاوي غړي یو په بل پسې معرفي کړل، خو نوموړي زموږ د عجیبه نومونو لکه کنینګهم Cunnighame مکارټني McCartney، فیټزجرلډ Fitzgerald په اخیستلو کې سخته ستونزه درلوده او کله چې د لیکې پای ته نږدې شو، کابو د هر نوم په اخیستلو کې یې تېروتنه کوله.

کله چې د نوم اخیستنې لړۍ خلاصه شوه، دیپلوماتان یوه دقیقه په بشپړه چوپتیا درېدلي وو تر څو چې شاه شجاع په صاف غږ له پاسه غږ کړ: «خوش آمدید» (ښه راغلاست). ورپسې شاه شجاع له خپل اوچت زرین تخت څخه جګ شو او د دوه خواجه ګانو په مرسته له تخت څخه ښکته شو او د تالار په ګوټ کې یو ټیټ تخت ته لاړ. کله چې شاه کښېناست، دیپلوماتان په داسې لاره چې دواړو خواوو ته یې د سروو ونې وې، په ګومبزې پټ د نندارچیانو تالار ته ننوتل. «د ننوتلو په ترڅ کې موږ د ودانۍ په اوږده اړخ کې لیکه شوو. د ودانۍ غولۍ په بهترینو قالینو فرش و.» چوپتیا هغه وخت ماته شوه چې شاه د انګرېزي اعلحضرت، د انګرېزستان پاچا او د هغه د ملت د احوال په هکله وپوښتل او ویې ویل چې برتانیه او ملت یې تل په ښه وضعیت کې دي او باور لري چې په راتلونکې کې به هم همداسې وي. الفنستون په ځواب کې وویل: «که د خدای رضا وه.»

ورپسې شجاع ته د لوی والي لیک ورکړل شو. الفنستېون د خپل ماموریت وجه او موخه بیان کړه. پاچا په خوښۍ الفنستېون ته له سخاوت او ستاینې څخه ډک ډاډ ورکړ. وروسته انګرېزي مېلمنو ته اعزازي چپنې ورکړل شوې او دوی په همدغه چپنو کې بېرته د کور په لور ستانه شول.

په همدغه شپه فرېزر خپل مور او پلار ته د شاه شجاع په هکله خپله انګېرنه داسې لیکلې: «په خاصه توګه د هغه د ښې درنښت او ښایسته ختیځې وقار او شخصیت پر ما اغېز وکړ.» فرېزر خپل لیک ته داسې دوام ورکوي:

پاچا پرته له تکې نبغ او په زنګنو ناست و. دواړه لاسونه یې په ورنو ایښی وو او څنګلې یې مخ ته را ایستلې وې. دا د ناستې هغه بڼه ده چې معمولاً ازاد او پر ځان باورمن خلک یې نیسي. دوی پر څوکۍ کښېني، مخې ته تکیه کوي او په خپلو ټینګاریزه اصولي خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضــرین تر خپل اغېز لاندې راولي. په ولســي جرګه کې ما [چارلس جېمز فاکس Charles James Fox ] لیدلی دی چې له خپل ځای څخه د جګېدو په حال کې پر فاسدو وزیرانو د سختې ګوت نیونې تیاري نیسي. په کوم ځای کې چې مور درېدلي وو، هغه ځای و چېرته چې د شاه بیعت د هغه حضور ته د عاجزۍ او تعظیم سر ټیټوي، چېرته چې د هغه عامه غوښتنې عملي کېږي او چېرته چې عدالت د هغه منظوري اخلي، خو چېرته چې ښایي استبداد په چټکۍ اطاعت تر لاسه کوي ... ما سترګې ښکته ځمکې ته نیولې وې: په ځمکه د وینو داغ و.

کله چې شاه شجاع له تخت څخه ښکته شو او د ننداړچیانو د تالار په لور روان شو، فرېزر د هغه ونه د پنځه فوټه او شپږ اینچه په شاوخوا کې وارزوله او د مخ بڼه یې داسې بیان کړه: «په پوست غنم رنګه خو ځلا او سرخي یې نه درلوده، ږیره یې تکه توره او په بیاتي لږ لنډه شوې، وروځې یې اوچتې خو سیخې او لږ پورته یې رېونده ارغاړی• درلود خو په ګوټ کې بېرته تاو شوې وې. بانه او د جېزمې• څنډې یې په رانجو تورې وې، وروځې او ږیره یې هم په سینګار تور شوي وو.» فرېزر د شاه غږ اوچت او دروند بیان کړی.
د هغه جامې اعلی، تاج یې عجیبه او په غمیو ښکلی شوی و. زه فکر کوم چې تاج یې شپږ ګوټه و او په هر ګوټ کې یې د ډینګ د بڼکو یوه ګڼه ګېډۍ اېښودل شوې وه... دا د خپلواکۍ نښان او په ځمکه کې د خدای غوره کړل شوي نښه ده. د تاج چوکاټ به د تور بخمل و، خو بڼکو او سرو زرو داسې پټ کړی و چې ما ټول ګران بیه غمي په کې ونه پېژندل، خو یاقوت، زمرد او مرغلرې په کې له ورایه ښکارېدل چې په ښایست او جسه کې بې ساري وو.[۳۹]

د شاه شجاع او انګرېزانو تر منځ د ائتلاف په هکله خبرو څو اونۍ دوام وکړ. شاه شجاع له کمپنۍ سره د ائتلاف لېوال و او د خپل هېواد په ساتنه کې چې ناپلیون پارسیانو ته وعده ورکړې وه، د انګرېزانو د مرستې هیله من و، خو پېښور ته له هر لوري د بدو خبرونو رارسېدنې د هغه پام بلې خواته اړولو. د شاه شجاع د دربار د عظمت برعکس، د نومورې واکمنې په هغه کچه چې انګرېزانو فکر کاوه خورا ډېره کمزورې وه. الفنستون او فرېزر دواړو ته ژر په دې هکله اړنګ پیدا شو. د شاه شجاع د خپل دربار له برم څخه ډک دغه تیاتر تر یوې کچې د نومورې هغه هڅه وه چې غوښتل یې خپل کمزوری موقف پټ کړي.
د شاه شجاع ستونزې تر یوې کچې له خپل نیت څخه زېږېدلې وې چې غوښتل یې افغان سیاست ته یو نوی حرمت ورکړي. کله یې چې په ۱۸۰۳ کال کې واک تر لاسه او شاه زمان یې له بند څخه ازاد کړ، هغه ونه غوښتل چې د معمول په څېر خپل مغلوب میړنی ورور(شاه محمود) ړوند کړي. شاه شجاع پخپله یادلیکچه کې لیکلي: «مور د غچ په پرتله په ښـنه کې ډېر خواږه مومو؛ نو د ښـنې په هکله د پاک قران د ارشاداتو پر بنا او زمور د ښـونکي او نرم مزاج په

• ارغاړی: مخ پر ښکته ځای

• جېزمه: د سترګې هغه برخه چې بانه په کې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه او همدا راز د دغه پوهاوي پر بنسټ چې انسان د تېروتنو او بې پامۍ يو ترکيب دی، موږ په عدل د هغه عذر او بهانو ته غوږ ونيو او په دې باور مو وباښه چې بيا به داسې بې وفا کار نه تکراروي.»[٤٠]

نو شاه محمود بې د بالاحصار پر سر په ماڼۍ کې نظر بند کړ. د دغې پاليسۍ بده اغېزه هغه وخت څرګنده شوه چې شاه محمود په تېښته بريالی شو او د شاه شجاع له سخت دښمن (بارکزيو قبيلې) سره يې لاس يو کړ. د بارکزيو او سدوزيو تر منځ دښمني لا د مخه ترخه او خونړۍ وه او اوس دغه دښمنۍ ژر داسې کړکېچ رامنځ ته کړ چې هېواد يې ويجاړ کړ، قومونه يې ووېشل او ګاونډ هېوادو ته يې د لاس وهنې فرصت برابر کړ. دغه کړکېچ د نولسمې پېړۍ په لمړيو کې بې ځنډه د افغانستان په اساسي شخړې بدل شو.

د بارکزيو مشر پاينده خان د شاه شجاع د پلار(تيمور شاه) اعلی وزير و. کله چې تيمور شاه په ۱۷۹۳ کال کې مړ شو، پاينده خان، شاه زمان پر تخت کښېناوه. په لمړيو کې پاينده خان يو وفادار وزير و، خو شپږ کاله وروسته د دغه دواړو تر منځ سخت اختلاف پيدا شو.[٤١] څو مياشتې وروسته شاه زمان خبر شو چې پاينده خان په ماڼۍ کې د کودتا پلان جوړوي څو د زړو اشرافيانو ګټې خوندي وساتي. وروسته، د شاه زمان تېروتنه دا وه چې نه يوازې وزير پاينده خان چې دی يې پر تخت کښېنولی و، ووژلو بلکې د کودتا په پلان کې ټول ښکېل کسان چې ډېری يې قومي مخور سپين ږيري وو هم تر تېغ تېر کړل. د شاه بله تېروتنه دا وه چې د پاينده خان يوويشت زامن يې بندي نه کړل؛ نو په دې توګه، شاه زمان د بارکزيو ګواښ په شنډولو کې پاتې راغی او عملاً يې يو پېچلي وضعيت ته لاره هواره کړه او د دوه مهمو افغان کورنيو تر منځ يې د دښمنۍ په پيلولو د افغانستان په سياسي پوړ کې داسې درز رامنځ ته کړ چې ډېر ژر د کورنۍ جګړې کندې ته پراخه شو.

د پاينده خان مشر زوی فتح خان د بارکزيو د مشر په توګه د پلار ځای ناستی شو، خو ورو ورو دا څرګنده شوه چې د بارکزيو د دغه کورنۍ په هلکانو کې تر ټولو ګواښوونکی او هوډمن کس د فتح خان کشر ورور، دوست محمد خان و چې له قزلباشې مور زېږېدلی و. دوست محمد خان يوازې اووه کلن و چې د وزير د چاى باشي دنده يې درلوده او په دربار کې يې د خپل پلار اعدام په خپلو سترګو وليد. داسې ښکارېدل چې دغه هيبتناکه پېښې نوموړی د تل له پاره اغېزمن کړ.[٤٢] دی د شاه شجاع تر ټولو خطرناک دښمن شو او په ۱۸۰۹ کال کې چې نوموړی اوولس کلن و تر ټولو ځيرک جنګيالی او همدا راز د ماهر او سنجوونکي ستراتيژست په توګه پېژندل کېده.

کله چې شاه شجاع په لمړي ځل په ۱۸۰۳ کال کې واک ته ورسېد، هڅه يې وکړه چې له بارکزيو سره دښمني ختمه کړي او دوی ته بېرته په دربار کې برخه ورکړي. بارکزي ورونه وبښل شول او دربار ته لاره ورکړل شوه. شاه شجاع د دغه نوي اتحاد د ټينګښت له پاره، د دوی له خور، وفا بېګم سره واده وکړ. په لمړيو کې حالات ښه برېښېدل، خو بارکزي يوازې يو فرصت ته په تمه وو چې د خپل پلار غچ واخلي. له بالاحصار څخه د شاه محمود له تېښتې وروسته، فتح خان او دوست محمد خان سمدلاسه د هغه په ملاتړ له مخالفينو سره يوځای شول.

پېښور ته د الفنستون د ډلې له رسېدلو څخه لږ وخت وروسته، شاه محمود او بارکزيو مخالفينو د افغانستان سوېلي پلازمېنه کندهار فتح کړ. يوه مياشت وروسته د ۱۸۰۹ کال د اپريل په اوولسمه، ټيک هغه وخت چې شاه شجاع له الفنستون سره د ترون په متن وروستۍ خبرې کولې، مخالفينو کابل هم تر خپل واک لاندې راوست. ورپسې يې په پېښور کې پر شاه شجاع باندې د يرغل تياري پيل کړه. وضعيت ډېر نازک شو ځکه چې د شاه شجاع د پوځ لويه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه په کشمیر کې د یو بل پاڅون سره په جګړه بوخته وه او د مخالفینو له لوري د کابل د فتحې له خبر سره سم، د کشمیر د جګړې په هکله هم بد خبرونه رارسېدل: هغه دوه اشرافیان چې د جګړې د اداري دنده ورکړل شوې وه، یو یې د یوې خپلمنځي شخړې په پایله کې مخالفینو ته اوښتی و.

لکه څنګه چې د پاچا پام دغه پېښو ته اړول شوی و، الفنسټون خپلې موخې ته خوشی و او د څارګرېزو مالوماتو په ټولولو یې پیل وکړ. دوی به د افغانستان په ګوټ ګوټ کې له سوداګرو او عالمانو څخه د افغانستان د جغرافیې، تجارت او د قومونو د دود په هکله پوښتنې کولې او د پیسو په بدل کې به یې خلک بېلابېلو سیمو ته د مالوماتو راټولونې له پاره لېږل. د بېلګې په توګه، د ملا نجیب په نوم یو کس ته یې پنځوس روپۍ ورکړې چې په کافرستان کې، چې ویل کېږي د لوی الکساندر د یوناني پوځ له اولادې څخه دي، د سیاه پوش په هکله مالومات ټول کړي. الفنسټون ته د شاه شجاع منشي یا سکرتر د مالوماتو یوه بډایه سرچینه برېښېده. هغه لیکلي دي: «یو داسې کس چې د کوټه ناستې او مطالعې عادت یې درلود او په رښتیا یو نابغه و چې د پوهې ستره تنده یې لرله، خو په میټافیزیک او په هېواد کې د پېژندل شوو اخلاقي علومو په هکله یې پوهه ډېره ښه وه. هغه له ریاضي سره مینه لرله او د سانسکرېت په زده کړه هم په دې موخه بوخت و چې وکولای شي د هندي پوهې خزانه وسپړي.» په دربار کې نور مفکران او روڼ اندي هم وو چې د هېواد په هکله یې ډېره پوهه درلوده... ملایان، ځینې یې پوهاند، ځینې دنیوي، ځینې د ربوبیت پلویان، ځینې په کلکه د محمد پلویان او ځینې د صوفیت د باطني عقیدې په پوهه کې بې ساري وو.[۴۳]

الفنسټون او ډلې ته یې شاه اجازه ورکړې وه چې له تفریحي بڼ څخه کار واخلي. دوی به وختي پاڅېدل چې خپلې پلټنې وکړي او له غرمې وروسته به یې د شاه زمان په بڼ کې دمه کوله. «په بڼ کې د مېوې ونې دومره ګڼې ابښودل شوې وې چې د لمر وړانګې ځمکې ته نه رسېدې او د دمې له پاره یې سوړ ځای برابرولو... له غرمنۍ وروسته به مونږ یوې غرفې ته چې پر قالینو فرش وه لاړو. دلته مو خپل وخت د هغه ګڼ شمېر بیتونو په لوستلو تېرولو چې پر دېوال لیکل شوي وو: ډېری بیتونو د بخت بې ثباتۍ ته اشاره کوله، ځینې بیتونو د شاه له اوسني حالت سره ډېر سمون درلود.»[۴۴]

دلته به الفنسټون ناست و، په یاد لیکچه کې یې په لیکنه هڅه کوله چې له تناقضاتو څخه ډک په افغان کرکټر باندې ځان پوه کړي. هغه لیکلي: «د دوی عیبونه غچ، کینه، بې ساری حرص او سرتمبګي دي، خو له بلې خوا دوی د ازادۍ مینوال، خپلو ملګرو ته وفادار، په خپلو لاس لاندو مهربان، مېلمه پال، زړور، زغمن، صرفه کوونکي، خواریکښ او هوښیار خلک دي.[۴۵] الفنسټون دومره ځیرک و چې دلته په دې پوه شوی و چې په افغانستان کې د جګړې بریا په مخامخ جګړه کې په دومره کچه نه ترلاسه کېږي لکه په بریالۍ توګه په قومونو کې د بدلېدونکي بیعت او ملاتړ په جوړښت کې چې لاره پیدا کړي. الفنسټون لیکلي: «په جګړه کې بریا معمولاً هغه وخت تر لاسه کېږي چې کوم مشر د دښمن لوري ته واوړي او ورپسې د پوځ لویه برخه یا د دغه مشر په پله لاړه شي او یا تېښتې ته مخه کړي.»[۴۶] *

شاه شجاع اوس د خپل نظام د پایښت له پاره په خبرو بوخت و. هغه لیک چې ویلیم فرېزر له پېښور څخه کور ته لېږلی، ښيي چې څومره ژر د پلاوي خوشبیني په اندېښنه بدله شوه. فرېزر په ۲۲ د اپریل داسې لیکلي: «نني خبرونه زموږ د خوار ملګري، شاه شجاع الملک له پاره خورا بد دي. ویل کېږي چې مخالفینو کابل او غزنی دواړه نیولي او پوځ

*په هند کې هم ډېری وخت دغه حالت و. په پلسي Plassey او بوکسر Buxar کې د کلایف Clive بریاوې د انګرېزي بانکرانو او هندي متنفذینو تر منځ د خبرو پایلې وې، نه هغه څه چې وروسته امپریالیستي پروپاګند په جګړو کې د زړورتیا او کارنامو پایلې بللې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کشمیر کې مخ په ماتېدو دی. دا په ښار کې اوازې دي، خو پخلې یې په عمومي توګه شوې دی او زه هم وېرېږم چې رښتیا دي؛ نو دا سړی نور پاچا نه دی، یا باید وتښتي او یا خپل هر څه په یوه وروستۍ جګړه وتړي.»[47]

انګرېزان ورو ورو په دې پوهېدل چې افغانستان د حاکمیت له پاره اسانه ځای نه دی. دلته په تېرو دوه زره کلونو کې یوازې څو لنډې مودې وې چې ټولو قومونو یوازې د یوه حاکم حاکمیت منلی و او یو ځواکمن حکومت شته و. همدا راز ټولې هغه شېبې ډېرې لنډې وې چې هېواد یې د یو واحد سیاسي سیستم په لور خوځولو. افغانستان د دولت په پرتله له قومي سیالیو څخه جوړه د حکومتونو یوه بدلېدونکې ټولګه وه چې د ملکانو او وکیلانو له لوري اداره کېده. دغه حکومتونه چې بیعت او وفاداري په کې یوازې شخص ته وه، باید د خبرو له لارې راخپل شوي وای او له پام څخه نه وای غورځول شوي. د قومونو دودونه په مساواتو ولاړ او ازاده وو او دوی یوازې د خپلو شرطونو په منلو یو واک ته بیعت کولو. مالي ډالیو د دوی همکاري خپلوله، خو هېڅ کله یې وفاداري نه شوی تضمین کولی. یو عسکر تر ټولو وړاندې خپل سیمه ییز مشر ته چې هغه ته یې ارتقا او پیسې ورکولې، وفادار و، نه یو دراني پاچا ته چې لیرې به په کابل یا پېښور کې ناست و. حتی کله کله پخپله قومي مشرانو ته اطاعت نه کېده ځکه چې د دوی صلاحیت ډېر ګونګ و. لکه څنګه چې ویل کېدل: «د هرې وړې غونډۍ شاته یو امپراتور ناست دی او یا هر سړی خان دی.»[48]

په داسې نړۍ کې، حکومت هېڅ کله په واک انحصار نه درلود او پخپله حکومت یو له هغه شمېر څخه و چې د بیعت په ادعاو کې یې سیالي کوله. یو متل و چې ویل یې: «یو افغان امیر د مېږیانو په ډومبسکه• خوب کوي.»[49] په داسې حال کې چې د شاه شجاع واکمني مخ په نړېدو وه، الفنسټون په دغه حالت پوه شو. هغه لیکلي: «د قومونو کورنی دولت له خپله اړخه دومره ښه بسیا دی چې د شاهي دولت ستره ګډوډي هم د دوی په کارونو کې خنډ کېدای نه شي او نه هم د خلکو په ژوند کې مزاحمت جوړوي.»[50] دا د تعجب ځای نه دی چې افغانانو خپل غرونه په ویاړ یاغستان نومول.[51]

ګڼ شمېر قومونو په پېریو ګاونډ امپراتوریو ته د خپل چوپړ د سیاسي معادل پیسو په بدل کې همکاري کړې: د بېلګې په توګه، حتی د مغول امپراتورۍ په اوج کې، په ډهلي او اګره Agra کې امپراتوران پوهېدل چې له افغان قومونو څخه د مالیې اخیستنې په هکله د یوې هڅې حتی فکر کول هم بې مانا وو؛ نو پرځای یې، یوازېنۍ لاره چې دوی وکولای شي د مغلو له پلرني هېوادونو سره په منځنۍ اسیا کې خپلې اړیکې وساتي، قومونو ته د لویې کلنۍ اعانې ورکړه وه. د اورنګزېب د واکمنۍ پر وخت، د مغلو خزانه دار په کال کې ۶۰۰۰۰۰ روپۍ افغان قومي مشرانو ته د دوی د وفادارۍ د تضمین په موخه ورکولې، ۱۲۵۰۰۰ روپۍ یوازې افریدي قوم ته ورکول کېدی، خو سربېره پر دې، حتی د مغلو په ښو حالاتو کې، پر افغانستان باندې د دوی کنټرول وقفه یې و. حتی بریمن نادرشاه چې په ۱۷۳۹ کال کې د ډهلي له لوټ څخه تازه راغلی و، قومي مشرانو ته یې د خیبر له لارې د تګ او راتګ د اجازې د ورکړې په بدل کې ډېرې پیسې ورکړې،[52]* خو دلته نور بدیلونه هم وو: کېدای شوی نادرشاه افغانان د لوټ او غنیمت د یوې څلورمې برخې د ورکړې په بدل کې د یوه مشر حاکمیت منلو ته هڅولي وای لکه څنګه چې دواړو، احمد شاه ابدالي او تیمورشاه دغه

• ډومبسکه: راټوله شوې خاوره چې یوه کوچنۍ غونډۍ غونډې ښکاري

*انګرېزانو وروسته د مغلو لاره تعقیب کړه. د یوه بې خونده امپریالیستي سند پر بنسټ، دغه د انګرېزانو پالیسي شوه چې: «سندیان ځپه، له بلوڅانو سره ملګرتیا جوړه کړه، خو پټان ته پیسې ورکړه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار کړی و،[۵۳] خو د یوې ډکې خزانې له حاکم څخه پرته او یا د ذیعلاقه ګروپونو د یووالي له پاره د لوټ له تمې پرته، افغانستان نړدې تل ټوټه کېدو ته ګروهنه• درلوده. که په هېواد کې کوم وخت لنډ مهالی یووالی و، هغه د پوځ د بریاوو له کبله و، نه د اداري بریاوو له امله.

د شاه شجاع او د هغه د نیکه د پاتې امپراتورۍ حالات هم بې اړنګه همداسې وو. د ۱۸۰۹ کال د مې په میاشت کې چې د الفنسټون له راتګ څخه دوه میاشتې تېرې وې، د هغه ناورین بشپړه کچه څرګندېده چې شاه شجاع ورسره مخ و. فرېزر لیکلي: «لارې بې ثباته دي. ټولو قبیلو او مشـرانو هغه لړ کنټرول چې درلود له لاسه ورکړی او یو له بل سره شخړې، جګړې او لوټول کوي.»

په کشمیر کې د شاه پوځ په بشپړ ډول له منځه لاړ. له ۱۵۰۰۰ کسانو څخه یې یوازې ۳۰۰۰ بېرته راغلل، پاتې یې یا ووژل شول او یا دښمن ته واوښتل.... په عین وخت کې، شاه شجاع له بریده زیاته هڅه کوله چې له هرې ممکنه لارې څخه پیسې ټولې کړي، له ځینو څخه په ستاینه او له ځینو څخه په نرمښت قانع کولو او له نورو څخه په ژمنو. نوموړي د بل لوري له سردارانو یا قوماندانانو سره هم په پټه د معاملو هڅه وکړه او د یو اندېښمن او زړور پاچا په څېر یې د ویاړمنو او ازادو اشرافیانو سره په تشه خزانه او په مات او خواره پوځ هر څه وکړل او هره قرباني یې ورکړه.[۵۴]

شاه له ډېرې ناهیلۍ او وارخطايۍ نه د خیبر له قبیلو څخه یو بل پوځ جوړ کړ او د مې میاشت یې هر څومره چې کولی شول هغومره یې پوځ ته د خلکو په جلب کې تېره کړه. له کشمیر څخه د مات پوځ د لړ شمېر عسکرو پلې لړۍ خلع سلاح، د سپړلۍ اسانتیاوې ترې اخیستل شوې او څه نا څه په لوڅ تن را رسېده.[۵۵] په پېښور کې اوازه شوه چې د انګرېزي پلاوي ډله له مخالفینو سره په اړیکه کې ده او شاه د دوی د لوټولو امر کړی دی. ترینګلتیا دومره ډېره شوه چې د خلکو یوه ځاځمنه او پارېدلې ډله د انګرېزي پلاوي د هستونګځي مخ ته راټوله شوه.[۵۶] لکه څنګه چې د پلاوي خوندیتوب په خطر کې و او لارې هم ورځ تر بلې خطرناکه کېدې، د جون په دوولسمه دغه پلاوي له شاه سره خدای په اماني وکړه او د سوېل-ختیځ په لور ډهلي او کلکتې ته روان شو.

شاه شجاع د مقاومت له پاره تیاري نیوه. د تاریخ سلطاني په کتاب کې سلطان محمود دراني لیکلي: «که څه هم شاه شجاع ته له هر لوري بد خبرونه راتلل او په بې وسۍ یې کتل چې بد قسمت یې پر اداري سیوری غوړوي، استقامت یې له لاسه ورنه کړ، وېره یې پرېنښوده چې پر ده برلاسې شي او پر ځای یې د شاه محمود د برید مقابلې ته لښکر وایسته.»[۵۷]

له یوې اونۍ څخه لږ وخت وروسته، انګرېزان په اټک کې د اباسین کیڼې غاړې ته د اکبرخان د کلا دېوال څنګ ته تم شول. دلته دوی یو په دوړو پټ شاهي کاروان د سیند په شمالي غاړه کې ولید چې له سیند څخه د تېرېدو تیاري نیسي. دا د ړانده شاه زمان او وفابېګم کاروان و چې د سدوزیو حرم یې خوندي ځای ته لېږدولو. فرېزر لیکلي: «که زموږ پر ذهن باندې د دغه لیدنې د خپګان اغېزه درته بیان کړم، موږ ډېرو کسانو خپلې اوښکې نه شوای پټولای. ړوند شاه پر یو ټیټ کټ ناست و... په لږ منځنې واټن کې داسې نه ښکارېدل چې سترګې یې څه عیب ولري، یوازې داسې ښکارېدې لکه چې په هره یوه کې یې یو خال وي او سطحې یې لږ غیر منظمې وې. کله چې موږ کښېناستو، هغه د معمول په توګه

• ګروهنه: تمایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته ښه راغلاست ووېل او يوازې دومره يې ووېل چې د شاه شجاع په اوسني قسمت خپه دی او که د خدای رضا وه بيا به ده ته هر څه سم شي.»[۵۸]

شاه زمان د يو بد خبر سره راغلی و. د شاه شجاع ماته حتمي شوې وه. د شاه شجاع پوځ له جلال اباد څخه د کابل په لور حرکت کړی و او د پوځ مخکښه برخه يې چې څنګه په نيمله کې د مغولي بڼ سروو ته ورسېده، د شاه په سترګي او اندېښمنو ځواکونو غلچکی برېد وشو. په نېزو او خيبري چړو سمبال، په اس سپاره د دښمن جنګيالي د شاه شجاع پر ځواکونو چې تر اوسه په لاره ليکه روان وو راپورته شول او په شور او غوغا يې د چړو، نېزو او ټوپکو په کنداغونو، په وهلو پيل وکړ. د شاه په چړو غوښ او په نېزو سوري عسکر پرله پسې په ځمکه غورځېدل. ورپسې د دښمن جنګيالي ښکته شول او د مړيو د بدن د غړو په را ايستلو او د دوی د تنو په سپکاوي يې پيل وکړ. دوی به د مړيو د بدن تناسلي غړي غوڅ او په خوله کې به يې ورکړل. د څو دقيقو په ترڅ کې د شاه جنرال ووژل شو او د پوځ نويو جلب شوو عسکرو تېښتې ته مخه کړه. د اشرافيانو ډېره برخه چې فتح خان بارکزي رشوت ورکړی و، له دښمن سره يو ځای شول.[۵۹] شاه شجاع چې د کاروان په وروستۍ برخه کې و، له غلچکي برېد څخه داسې وخت خبر شو چې هر څه پای ته رسېدلي وو. د شاه نوی پوځ منحل شوی و او د بېړنۍ تېښتې په اړودوړ کې پاچا له خپلو ساتونکو څخه بېل شو. وروسته د شاه مات پوځ په تندريز ماښام کې له توپان سره مخ شو. د سترو اسونو له سپېرو کوښو څخه د اوبو لاندې غبر راپورته کېده. په تاريخ سلطاني کې ليکل شوي: «د اسمان غضب په سيندونو کې باران په سيلاب بدل کړ او له سيند څخه تېرېدل نږدې ناشوني وو، خو شاه شجاع په خدای توکل وکړ او پر اس سيند ته ور ګډ شو. لمړی د تېريدو په بهير کې د اس سيني اوبه بېلولې او پښې يې د کابل سيند په شګلن تل لګېدې، خو شجاع د سيند تر نيمايې تللی و چې يوه څپه پرې راغله او له اس څخه ولوېد. په پای کې شاه او اس يې په ډېره سختۍ وکړای شول چې د سيند بلې غاړې ته په لامبو ورسېږي، خو پوځيانو يې نه غوښتل چې له سيند څخه تېر شي. په دې توګه شاه خپلو درباريانو او چوپړيالانو يوازې پرېښود چې هلته شپه تېره کړي.[۶۰] شاه شجاع پخپله په دې هکله په ډېر صراحت ليکلي: «لکه په اډانه• کې يو ګران بيه غمی، موږ يوازې بې ساتندويانو پرېښودل شوو.»[۶۱]

پاچا چې کال يې ډېر بختور پيل شوی و او يوازې څو اونۍ مخکې يې د غوڅ واک يوه پرتمينه ننداره جوړه کړې وه، يو ځل بيا لکه په زلميتوب کې يوازې فراري شو او لکه ړوند د افغان ولايتونو په تورو شپو کې پر اس سپور ګرځېده.

---

• اډانه: په ګاڼه کې هغه ځای چې غمی په کې ايښې وي، چوکاټ

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ۲

# یو نارامه ذهن

شاه شجاع د نیملې له ماتې وروسته، د تحقیر او تبعید اوږده موده تېره کړه. لکه څنګه چې هغه له ځان سره د نړۍ تر ټولو ارزښتمن کانی ګرځولو، لالهانده ګرځېدل یې نور هم خطرناک وو. شاه شجاع څو میاشتې د خپلو متحدینو له درباره لیدنه کوله او له دوی څخه یې غوښتل چې د شاه محمود او د بارکزیو د ګوښه کولو او بېرته د ده واک ته د رسېدو په موخه یو کمپاین په لاره واچوي. یوه شپه یوه پخوانی درباري، عطا بلنه ورکړه چې د اټک په هغه لویه کلا کې پاتې شي چې د اباسین له سیند څخه د تېریدنې اصلي لاره یې ساتله. میرزا عطا په دې اړه داسې وایي:

هغوی شاه شجاع ته بلنه ورکړه چې په یوه ځانګړې مېلمستیا کې برخه واخلي. دوی خوړې هندوانې وخوړې او وروسته یې په ساتېرې د هندوانو پر پوټکیو یو بل ویشتل، خو دغه ساتېري ورو ورو په سپین سترګۍ او سپکاوۍ بدله شوه او سمدلاسه یې شاه شجاع ونیولو. لمړی یې په اټک کې وساتلو، وروسته یې له کلکې څارنې لاندې کشمیر ته ولېږدولو او هلته یې په یوه کلا کې بندي کړ. د هغه سترګو ته په وار وار نشتر ونیول شو. یو ځل یوه ساتونکي لاس تړلی د اباسین سیند ته بوت او په سملاسي مرګ یې وګواښه که چېرې تر ټولو مشهور الماس ورنه کړي.[1]

په عین حال کې وفا بېګم د شاه شجاع د خلاصون له پاره په وفادارۍ کار کولو. د خپل مېړه له ماتې وروسته لاهور ته لاړه او هلته یې د سېک سرچینو پر بنسټ، پخپله د سېک مهاراجا رنجیت سېنګ سره د خپل مېړه د خلاصون له پاره خبرې وکړې او رنجیت سېنګ ته یې د کوه نور د ورکړې ژمنه وکړه که چېرې هغه له زندان څخه د شاه شجاع په ازادولو کې مرسته وکړي.[2] رنجیت سېنګ یې شرط ومنلو او د ۱۸۱۳ کال په پسرلي کې یې یو لښکر کشمیر ته ولېږه. د ده لښکر هغه والي ته ماته ورکړه چې شاه شجاع یې د یوې کلا په تل خونه کې بندي کړی و. بیا یې شاه شجاع ازاد کړ او لاهور ته یې راوست. رنجیت سېنګ شاه شجاع له خپل حرم څخه بېل نظر بند کړ او ورته وېې ویل چې د خپلې ښځې ژمنه د کوه نور په ورکړې پوره کړي. شاه شجاع په خپل یادښت کتاب کې لیکلي: «زموږ د حرم ښځینه یې په یو بل کور کې مېشت کړې او په ډېرې خواشینۍ سره موږ ته د ورتګ اجازه نه راکول کېده. ډوډۍ او د اوبو ځیره به لږ او پرته له کوم دلیل څخه راباندې بنده شوه. زموږ چوپړیالانو ته به ښار ته د تګ اجازه کله ورکړل شوه او کله نه.» شاه شجاع دغه د مېلمه پالنې له قانون څخه سرغړونه وګڼله اود خپل یو سترګي اسیر نیوونکي په غندنه یې داسې لیکلي:
«دا په ځبنه توګه د بد چلند ښودنه وه، سوډریزه او ظالمانه او همدا راز بد رنګه او خسیسه.»[3]
رنجیت سېنګ کرار کرار په شاه زور ډېر کړ. شاه شجاع هغه وخت د خپل بخت د نزول وروستنۍ ټیټې کچې ته ورسېد چې په یو قفس کې واچول شو. په خپله د شاه شجاع د بیان پر بنسټ، د هغه مشر زوی شهزاده تیمور ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه شجاع په مخ کې تر هغه وخته شکنجه ورکړه څو چې نوموړي د خپلې تر ټولو ارزښتمنې شتمنۍ ورکړه ومنله.[۴] د ۱۸۱۳ کال د جون په لمړۍ نېټه رنجیت ســـنګ په خپله ښـــار ته چې دېوالونه ترې چاپېر وو، راغی او له خپلو څو چوپړیالانو سره د مبارک په حویلي Mubarak Haveli کې چې د ښار په زړه کې پرته وه، شجاع ته تم شـو.* شجاع په ډېر درنښت ستړي مشي ورکړل:

دواړه کښېناسـتل او ورپسې داسې یوه وقفه او بشپړه چوپتیا راغله چې نږدې یو ساعت یې دوام وکړ. رنجیت چې بې حوصلې شـو، د خپل یو چوپړیال په غوږ کې وپسـېد چې شـاه ته د الماس یادونه وکړي. شـاه ځواب ورنه کړ، خو یو خواجه (خسـي) ته یې په سـترګو اشـاره وکړه. ورپسـې خواجه لاړ او بېرته له یوه کوچني رول سـره راغی او پر قالینه یې داسـې ځای کېښـود چې شـاه او رنجیت ته یې مســاوي واټن درلود. رنجیت ســنګ خپل خواجه ته وویل چې رول پرانیزي. کله چې الماس ښـکاره او وپېژندل شــو، رنجیت سنګ واخیست او لاړ.[۵]

شـاه په هغه ژمنه او هوکړه چې وفابېګم کړې وه، وفا وکړه او په دغه شـېبه کې هغه څه چې رنجیت سـنګ غوښـتل ترلاسه یې کړل، خو له ژمنې سره سم یې شاه خوشې نه کړ. رنجیت سنګ ته د شاه د الماس سربېره پخپله شاه یوه بالقوه ارزښـتمنه شـتمني و؛ نو دغه مهاراجا، شـاه په کور کې نظر بند وسـاتو، خو کله کله یې تر کلکې څارنې لاندې د شـــالیمار په بڼ کې د مېلې اجازه ورکوله. شــجاع لیکلي: «زموږ تر منځ د هوکړې یا تړون په نبغ ټکر کې، اوس داســې ښـکارېدل چې هر کله موږ د هواخورۍ له پاره بڼ او یا زیارت ته تللو، جاسـوسـان به په پټه هر ځای په موږ پسـې وو، خو موږ په خپل وقار دوی ته هېڅ پام نه اړولو.»[۶]
شـجاع ته لږترلږه دغه اجازه ورکړل شــوې وه چې د لاهور شــاعران راټول او د ده ســات تېر کړي. د وخت یوه پېژندل شـوي شاعر، رکن الدین لاهوري مکمل، په خپل یادښـت کتاب کې لیکلي چې شجاع ده ته د مبارک حویلۍ ته د ورتګ بلنه ورکړه. کله چې د نوموړي د شـعر یوې مصـرعې شـجاع ته تېر یادونه ور په یاد کړل، شـجاع له ډېرې ژړا نه خپلې اوښکې نه شـوای درولی. هغه مصرع دا ده: «اې باده، تا زما د معشوقې په زلفو څه وکړل؟» شجاع په ځواب کې په عین نظم داسې وویل:

تا زما د زړه سکون واخیست
د زړه مرغه مې د وطن د یادونو ویرکوي
دغه بلبل له خپل بڼ نه د جدایۍ ویر کوي[۷]

رنجیت سـنګ څو میاشـتې وروسـته له شـاه شـجاع څخه د هغه څه د اخیسـتلو پرېکړه وکړه چې په خزانه کې یې پاتې وو. شجاع ته بلنه ورکړل شوه چې پر پېښور باندې د سېکانو په یو یرغل کې برخه واخلي، چېرته چې د هغه پردی شوی

*مبارک حویلۍ تر اوســه د لاهور په زاړه ښـار کې شـته او په انارکلي کې، چېرته چې د دغه کتاب له پاره تر ټولو ډېرې پلټنې تر سـره شـوې، د پنجاب له موزیم څخه د پنځو دقیقو د پښو مزل لري او تر اوسه همغسې پاتې ده لکه د شاه شجاع په وخت کې چې وه. دغه حویلۍ د یو شمېر نورو څنګ تر څنګ حویلیو سره چې حکاکي شـوې د لرګي ارکې (پنجرې) او برنډې لري د اسـتوګنې تر کورونو رسېږي. د افغان لمړۍ جګړې وروسـته، انګرېزانو دغه حویلۍ د کابل تبعید شـوو قزلباش مشرانو ته ورکړه چې تر اوسـه د شیعه ګانو د فعالیتونو مرکز دی او په وروسـتي انګړ کې خپله ځانګړې عاشـورخانه لري. کله چې زه په وروسـتي ځل هلته وم د حویلۍ څخه بهر هغه وخت بم چاودنه وشـوه چې د شـیعه محرم لاریون له حویلۍ ووت. اوس دغه حویلي د پولیســو تر کلکې ساتنې لاندې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښی، فتح خان بارکزی د خپلې واکمنۍ په مضبوطولو بوخت و. شاه شجاع لیکلي: «که څه هم زه د ستوني په سخت درد اخته وم، موږ خپلې ښځینه د شالیمار بڼ په کمپ کې پرېښودې او له سبک لښکر سره مو د جبري یوځای کېدو له پاره حرکت وکړ.» کله چې شجاع په دغه پلمه له لاهور څخه وایستل شو، یرغل په مرموزه توګه لغوه شو، ظاهراً له دې کبله چې فتح خان بېرته کابل ته شـــاتګ کړی. کله چې شـــجاع بېرته لاهور ته روان و، په نیمه شـــپه کې یوې لوټمارې ډلې د ده پر کمپ یرغل وکړ او شـاهي کېږدۍ یې لوټ کړې. د شـاه یو افغان سـاتونکي یو لوټمار ژوندی ونیو. هغه اقرار وکړ چې د رنجیت سېنګ له پاره کار کوي. شاه شجاع لیکلي: «موږ د دغه جاهل او بې وقوفو سېک سپیانو په بې احساســه او بې شـعوره خیانت هک پک شـوو.» بیا یې رنجیت سـېنګ ته ولیکل: «دا څه ډول چلند دی؟ هرې هغه کړنې ته چې ته دسیسـې جوړوې، بهتره ده چې په ښـکاره یې وکړې - خو دغه مکار او غیرعادلانه څورول بس کړه. دا شرم دی.»په راتلونکې ماښام، غلا شوي بکسونه بېرته کمپ ته راوړل شول. شجاع په ډېر خپګان وویل:

په ډېر شــورماشــور، زموږ ســېک بدرګه کوونکو، بکســونه، د قالینو کڅوړې او د خزانې صـندوقونه زموږ شــاهي حضــور ته بېرته راوړل. له څو جوړو بې ارزښـته زړو جامو پرته، هر څه لاړل. له ځلېدونکو مرغلرو څخه ډک صـندوق، د طلایي لیکو لرونکي عثماني او سـندي ټوپک، ظریفه پارسـي تورې، په ګاڼو پټې زریني تومانچې، د سـپینو او سـرو زرو له سـکو څخه ډک صـندوقونه، ښـایسـته کشمیري او د وربښمو شالونه، دا ټول لاړل او دا منحوس بیا د راتګ جرات کوي او وایي: «دغه دی موږ ستاسې مال، چې موږ په ټول توان له لوټمارانو څخه وژغوره، راوړ! اعلحضـرت دې دغه مال معاینه کړي څو ډاډه شـي چې څه شـی کم نه دي! داسـې بې شـرمه لوټماري! او بیا داسې سپین سترګې د وفاداری ښودنه! دا ټولې کړنې د کرکې وړ دي. خدای د موږ له داسې کړنو وساتي.»

شـجاع پوهېده چې د دغه لوټ تر شـــا رنجیت ســـېنګ و، هغه لیکلي: «موږ روحاً دغه ټول غلا شـــوي مالونه لکه یو خیال یا بد خوب له خپل ذهن څخه وایســـتل... په وار وار له خیانتونو وروســـته ، له موږ ســـره د دغه بلاوو له خوا د مرســـتې هیله نه وه پاتې، خو دا چې زموږ ښـځینه او زموږ ناموس په لاهور کې یرغمل نیول شـــوي وو، د ســختې کرکې ســـره ســـره، موږ اړ وو چې غاړه کېږدو او راتلونکې پنځه میاشـــتې مو د کلکې څارنې لاندې تېرې کړې چې داســـې بې کچې ځوروونکې وې لکه په سـره ګرمۍ کې ډېرې تنګې جامې. د اسـتقامت پښـو خپلې ګوتې د سـتم په کاڼي خوږولې، خو موږ به یوازې خپله سینه وهله چې د خپل زړه درد پرې ارام کړو.»[۸]

خو شـاه شجاع داسې سړی نه و چې څومره د چا خوښـه وي، هغومره یې بندي وسـاتي؛ نو په کم وخت کې یې د تېښـتې یو پلان جوړ کړ. لکه له ماتې وروسـته، د شـاه لمړنۍ کړنه د خپلو ښـځینه خوندي سـاتل وو؛ نو له خپلې تېښـتې څخه مخکې یې پرېکړه وکړه چې خپل حرم په قاچاقي ډول له لاهور څخه وباسـي. شـجاع دغه کار د یو پښـتون اس پلورونکي او یو داسې لاهوري پلورونکي په مرسـته وکړ چې د شـاه پر حرم یې د ورځنیو اړتیاوو توکي خرڅول. په سـراج التواریخ کې د لیکنو پر بنسټ:

شـاه د هغه هندي ښـځو په وسـیله څو د اس واګونونه پېرودل چې له دوی سـره یې هغه وخت لیدلي وو کله چې د ده کور ته د توکو د خرڅلاو له پاره راتلې. په څلور ځله سـفر کې چې په هر ځل کې لس ښـځې وې، قاچاقبرو ټولې ښـځې لودیانه ته د کمپنۍ د واک د پولې د ننه چېرته چې شـاه ویلي وو ورسـولې. د تګ په وخت کې به ښـځو هندي جامې په تن کړې وې او داسـې به ښـکارېدې چې دوی سـیند ته لکه د هندوانو چې دود دی، د لامبو له پاره ځي او یا د ښار اطراف ته د چکر له پاره روانې دي.[۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې رنجیت سـېنګ  د وفابېګم او نورو ښـځو په تېښـته خبر شـو،«د حیرانتیا ګوته یې د افسـوس په غاښـو ټینګه ونیوه» او د ساتونکو شمېر یې څلور زره کسانو ته اوچت کړ. ساتونکي یې د ښار په ټولو دروازو کې «په هره کوڅه، په هره حویلۍ حتی په پخلنځي او تشناب کې او زموږ د خوب خونو سره ودرول. ساتونکو به تېل ګرم کړل او موږ به یې په شـکنجه ګواښـلو. دوی به موږ ته ویل: «ګانې مو موږ ته راکړئ او کنه د دغه اېشـیدونکو تېلو سـوی به درته ښـکاره شي.»» هر کله به یې چې زړه و، شاه شجاع به یې په انګړ کې د وسپنې په یو قفس کې واچولو. «هر چېرته به چې زه تلم حتی د اودس له پاره، دوی به زما څارنه کوله. نرۍ ما ته او په کور کې زما کسـانو ته ورځ تر بلې تنګېده او موږ نور د دغه لړاکو او کم اصله سـېکانو د کړنو له کتو څخه سـتړي وو». شـاه او کسـانو یې د قران دغه ایت لوستلو ته مخه کړه: «موږ له ظالم قوم نه خلاص کړه.»

زموږ د نیمو شپو نهیلو چیغو په ځواب کې دغه نظر د هدایت په څېر راته پیدا شـو: زموږ د خوب د کوټې لاندې د شاهي کالیو الماري او د وفادار چوپړیالانو د هستوګنې ځای و. موږ دوی ته هدایت ورکړ چې د لاندینۍ کوټې په چت کې زما د کټ لاندې یو سوری وباسي چې ساتونکي یې ونه ویني او د خاورو په کیندلو او د دېوالونو په سوري کولو له لاندینۍ کوټې څخه یو تونل د هغه اوو څنګ تر څنګ کورونو لاندې وکیندي چې موږ کرایه کړې وو. د درېیو میاشـتو په بهیر کې دوی اوه دېوالونه سـوري کړل څو چې تونل بازار ته څېرمه د یوه اړخ لښتي ته ورسېد. *

د شـاه په کټ کې یې یو وفادار پلوی پرېوت او پخپله شـاه ملنګ ته ورته جامې واغوسـتې: «ما خپل ځان او مخ په ایرو وموښـــه او وېښـــته مې د ملنګانو په څېر غېټ غېټ کوڅۍ او تور پټکی مې پر سـر کړ.» شـجاع د تونل له لارې له دوه مرسـتیالانو سـره وتښـتید. بیا د ښـار په منځ کې د «کافر سـاتونکو او بدنیتو کسـانو له څنګ څخه چې خدای کانه او رانده کړل، تېر شـوو.»

بلاخره موږ د کلا د تخلیې اصلي لښـتي ته ورسـېدو چې په دغه موسـم کې وچ و. دا تنګ، تیاره و او تېریدل په کې خورا سـخت وو، خو موږ هوډمن وو چې ووځو؛ نو ځانونه مو خدای ته وسـپارل. په تېریدو کې مو د بدن ببلابېلې برخې وګرېدې او ویني شـوې. بلاخره موږ هغه سـیند غاړې ته ورسـېدو چېرته چې زموږ چوپړیالان له مناسـبو جامو سـره موږ ته تم وو. دوی تر مخه مانوګانو ته د دوی او د کښتۍ له پاره پیسې ورکړې وې؛ نو سـمدلاسـه مو حرکت وکړ او لیرې د سیند بلې غاړې ته واوښـتلو. موږ کله سـواره او کله په پښـو، یوه شېبه هم د لارې د ربړو او خطر په فکر کې نه وو او نه مو لوږه او یا تنده په فکر کې وه.

نو په دې توګه موږ له لاهوره وتښـتېدو*، خو زموږ سـره هېڅ شـی، پیسـې او اکمالاتي توکي نه وو او له دې کبله زموږ حالت ژر ناهیلۍ ته نږدې شو.[۱۰]

---

*مبارک حویلي یوه لویه د ځمکې لاندې سـره خونه لري چې ظاهراً د همغه وخت ده. کېدای شي دغه خونې د دوی تېښـته چې لمړی سخته ښـکاریده، ډېره شـونې کړې وي.

*د افغان جګړې انځورګر د خپل مشهور افغان لېتوګراف lithograph په نوټ کې ادعا کوي چې شاه شجاع نه، بلکې وفا بېګم خپل او د شجاع د تېښتې پلان جوړ کړ او نوموړي د هغې دغه کړنې په سـختو حالاتو کې «د ارامتیا او زړورتیا بېلګې» بللې دي. دا احتمالي نه برېښـي چې وفا بېګم به حتی د تونل او د کښـتۍ پلان د کمپنۍ د پولې په بله غاړه په لودیانه کې جوړ کړی وي، خو دا د وفابېګم د افسـانو د پراختیاوو کچه ښـيي چې دغه خبره د هغې له مړینې ډېرش کاله وروسته رټرې Rattray ته وویل شوه. دغه وګورئ James Rattray، The costumes of the Various Tribes، Portraits of Ladies of Ranks، Celebrated Princes and Chiefs، Views of the Principal Fortress and Cities and Interior of the Cities and Temples of Afghanistan، London، 1884، p.29

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــاه شــجاع له خپلې تېښــتې څو میاشــتې وروســته، د خپل تخت د بیا نیولو له پاره لمړنی هڅه وکړه. ده د پنجاب په غونډیو کې له ناراضه راجاګانو سره چې د رنجیت سېنګ دښمنان وو همغږي جوړه کړه او پلان یې درلود چې یو کوچنی لښکر جوړ او پر کشمیر یو نابېره یرغل وکړي څو د کشمیر دره تر خپل واک لاندې راولي. دا یو هوښیار حرکت و او کېدای شــول چې د خپلې پاچاهۍ د بېرته نیولو له پاره یې دغه ځای یوه ښــه اډه وای ځکه لکه څنګه چې وېلیم فرېزر لیکلي: «شجاع تر اوسه هم د یو پاچا په څېر د خپل نرمښت، مهربانۍ او لېبرالتوب په وجه ګرانښت درلود.»[۱۱] سربېره پر دې، د یرغل له پاره وخت هم ډېر مناسب و: وروسته له دې چې رنجیت سېنګ د شجاع د ازادولو په موخه پر کشمیر یرغل وکړ، دغه دره د یو واضح حاکم تر واکمنۍ لاندې نه وه بلکې بېلابېلو واکمنانو پرې دعوا درلوده، خو یو شی چې شــاه شــجاع په دوامداره توګه په خپل پرځنګ• کې نه درلود هغه څه و چې ناپلیون د یوه جنرال له پاره ډېر مهم ګڼل او هغه بخت و.

د شــاه شــجاع لمړنی ناورین هغه وخت پېښ شــو کله یې چې غوښــتل د یرغل مالي اړتیا پوره کړي. ده یو کس لاهور ته ولېږه چې هغه ۱۵۰۰۰۰ روپۍ راوړي چې له یوه سیمه ییز صراف سره یې ایښې وې. رنجیت سېنګ د خپلو جاسوسانو په وســیله له دغه پلان څخه خبر شــو، د ســړي لاره یې ونیوه، پیســې یې ترې واخیســتې او په خپله خزانه کې یې کېښودې.[۱۲] د نورو پیسو پیدا کول د ځنډ وجه شوه او په دې توګه د کشمیر والي ډېر وخت درلود چې خپلې چوڼۍ او نورې تولې هغه ممکنه لارې مضـبوطې کړي چې شــاه به د یرغل له پاره کارولې وای. کله چې شــاه شــجاع د هغه ګاڼو په بدل کې چې وفابېګم په پټه له لاهور څخه لودیانه ته وړې وې، د خپل لښــکر د تمویل له پاره پوره پیســې پیدا کړې او بیا یې لښــکر ته د خلکو جلب او د هغوی جنګي روزنه وکړه، راز بربنډ شـــوی او د جګړې موســـم هم تېر شـــوی و. خو شجاع دغه مشورې ته چې تر پسرلیه صبر وکړي پام ونه کړ او له نوي جوړ شوي لښکر سره د جاټ Jot د غاښې له لارې د چمبه Chamba درې ته تیک هغه وخت لاړ چې د همالیا د غرونو څوکې د ژمي لمړنی واورې ګردجنې کړې وې. شــاه شــجاع په دې نیت چې په داســې لار کشــمیر ته لاړ شـي، چې مقابل لوري یې تمه نه کوله او مضـبوطه کړې یې نه وي، پرېکړه وکړه چې خپل لښکر د پیر پنجال د لوړو په لور ســتون کړي. دلته په بربنډه او د خوشــبویه ځنګله له تورو څوکو څخه په اوچتو غونډیو کې چې سرینګر ته یوازې د څو ورځو مزل پاتې و، دوی د واورې له توپان سره مخ شول. د شجاع لښکر د غاښي له سر نه لږ لاندې په سړه هوا کې واورو بند پاتې کړ. شجاع وروسته لیکلي: «هلته د پرمختګ او یا شــاتګ لاره نه وه او اوبه او ډوډۍ مو مخ په خلاصېدو وو. هندوســتاني عســکر چې له یخنۍ او واورې ســره بلد نه وو، له یخنۍ مړه کېدل.» لږ وخت تېر نه و چې دا کوچنی لښــکر نږدې ټول تباه شــو. یوازې شــاه شــجاع او څو نورو کســانو وکړای شــول چې د غاښــې ســر ته او بېرته هوارو ته ښــکته شي.[۱۳] کله چې د برتانیې یو لیکوال دغه خبر واورېد، هغه ولیکل: «داسې ښکاري چې بد بخت د دغه شــهزاده په پله روان دی، هغه له بل څه ســره نه، یوازې له خپل بخت ســره په جګړه دی ځکه چې په وار وار یې ډېرې داســې ســتونزې زغملې دي چې ډېر کم خلک ورســره مخامخ کېږي.»[۱۴]

• پرځنګ: مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس شجاع له ناهيلۍ څخه ډک او په بد حالت کې و. ده يو ځل بيا په بدله څېره له خپلو څو تنو چوپړيالانو سره په پېچلې او اوږده غرنيزه لاره مزل وکړ تر څو بلاخره د ۱۸۱۶ کال په پشکال• کې په سوباتو Subbathu کې انګرېزي پوله ييزې تانې ته ورسېد. هلته يوې کوچنۍ ډلې بدرګه کړ او ورپسې لوديانې ته ستون شو چېرته چې د ده حرم په يوه د منځنۍ کچې حويلۍ کې اصلي بازار ته څېرمه اوسېده. شجاع ليکلي: «اوس موږ د خپل ځان د خونديتوب په هکله اندېښنه هېره کړه. د خدای شکر مې وکړ چې موږ يې د دښمنانو له منګلو خلاص کړو او په واوره کې يې موږ ته د دوستانو په لور لارښوونه وکړه. موږ د لمړي ځل له پاره پرته له وېرې په راحت شپه تېره کړه.»[۱۵]

په ۱۸۱۶ کال کې لوديانه د کمپنۍ په شمال لوېديځ پوله کې د انګرېزانو د چاونۍ ښارګوټی و، چېرته چې د برتانوي والي د هستوګنځي د بيرغ له لکنې څخه وروستنی برتانوي بيرغ د برتانيې د هندي ملکېت او په سن پيټرزبرګ کې د برتانيې د سفارت ترمنځ رپېده.

د شاه شجاع له راتګ څخه مخکې، لوديانه پر انسان باندې د سوداګرۍ په مرکز نوموره وه. د پنجاب د غونډيو د ايالت او د کشمير ښځې چې په سيمه کې يې د ښايست نوم درلود، د وينځو په څېر خرڅېدې او د سپکانو تر کنټرول لاندې به پنجاب او هندوستان ته لېږل کېدې.[۱۶] د شاه شجاع او د هغه د دربار له راتګ سره سم، لوديانې د مرييتوب له مرکز څخه د سياسي دسيسو او د جاسوسۍ په مرکز د بدلون پړاو پيل کړ. په راتلونکو لسيزو کې لوديانه په پنجاب، هماليا او منځنۍ اسيا کې د برتانيې ځارګريز مرکز وګرځېده: داسې ځای چې له دوکه بازانو، ناراضه جلا شوو، اجيرو پوځيانو او جاسوسانو څخه ډک و او د دسيسه جوړونکو او د افغانستان، د رنجيت سېنګ تر واکمنۍ لاندې د پنجاب، د کشمير نااندرېزه درې او د کمپنۍ تر تسلط لاندې د مخالفانو د مجلسونو ځای شو.[۱۷]

په بوستان Boston کې زېږېدلی، چلمي او پای جامه اغوستونکی سپر ډېوډ اکټلوني Sir David Ochterlony په لوديانه کې لمړنی انګرېزي اجنټ و. ده په لوديانه کې له رنجيت سېنګ سره د کمپنۍ دقيقې پولې مشخصې کړې. له دغې پولې څخه د اسونو يوې غير رسمي لوا ساتنه کوله چې د اکټلوني د ملګري جېمز سکېنر James Skinne ملکېت وه. سکېنر يو تکړه راجپوتي سکاټلنډی جنګسالار و چې په هنسي Hansi او د لوديانې په خپلو دوه غبرګو اډو کې، کمپنۍ د ده له ژېړرنګه کسانو څخه د شمال لوېديځ پولو لمړنی ځواک جوړ کړ چې د هر هغه څه په وړاندې چې د خيبر او سوتلېج Sutlej له لوري راتلل لمړنۍ دفاعي ليکه شي.[۱۸] د يوه کتونکي د ليکنې پر بنسټ، د سکېنر دغه کسان چې سرې لونګۍ يې پر سر، د نقره يي ځنډو کمربندونه يې په ملا او روښانه ژېړ ختونه يې په ځان کې وو، له تورو او ډالونو سره تر ټولو رنګينه او جذابه سپره پوځي ډله ښکارېده.

کله چې په ۱۸۱۲کال کې وفا بېګم مخکې له مخکې خپل يو خواجه د پناه غوښتنې له پاره انګرېزانو ته ولېږو، د

• پشکال: د اوړي باراني موسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکټلوني او همکارانو تر منځ یې د چپه شوې پاچاهۍ د پاچا کورنۍ ته د پناه ورکولو په هکله د نظر مخالفت و. د ډهلي والي چارلس مېټکف Charles Metcalfe په کلکه د پناه ورکونې پر ضد و. نوموړی هغه انګرېز و چې له رنجیت سېنګ سره یې هغه وخت د لمړني تړون په هکله خبرې کړې وې کله چې ناپلیون پر هند د یرغل پلان درلود. هغه ویل چې دا کار به کمپنۍ ته دومره ګټور نه وي او د دوی اړیکې به له یو مهم متحد سره خرابې کړي. مېټکف لیکلي: «داسې یوه کړنه چې له ناراحتۍ، شرمېدنې او ممکنه مالي لګښت ځخه ډکه وي، په لویه کچه بهتره ده چې ترسره نه شي. د هغې مقام او بد بخت ته دې درناوی په پام کې ونیول شي، خو په هره ممکنه وسیله باید د دغه کار مخنیوی وشي.»[۱۹]
اکټلوني له دغسې اعتراضونو ځخه یو هم نه درلود. هغه د خپلې شخصي تجربې پر بنسټ پوهېده چې یو مات کړل شوی مهاجر په څه حالت کې وي. د نوموړي پلار د برسکاټلنډ و چې مسېچوسېټس Massachusetts ته کډه شوی او د امریکايي انقلاب په وخت کې یې د برتانیا په پلوۍ جګړه کوله. کله چې د واشنګټن وطنپالو، انګرېزانو ته ماته ورکړه، د اکټلوني کورنۍ په کانادا کې مهاجرت ته اړ ایستل شوه. اکټلوني له کانادا ځخه د برتانيې له لارې په ۱۷۷۷ کال کې د کمپنۍ پوځ ته ورغی. هغه د خپلو هم پېرو په پرتله د مسلمانو ښځو د ساتنې په ادابو ډېر پوهېده. په ډهلي کې د اوازو پر بنسټ، نوموړي لږترلږه دیارلس هندي ښځې لرلې. کله چې په ډهلي که استوګن و، هغه به هر ماښام تولې ښځې چې هره یوه به پر یو ځانګړي پیل سپره وه، د سرې کلا د دېوالونو او سیندغاړې تر منځ په چکر بوولې.[۲۰]
نو ښځو ته د ده د معمول درناوي سره، اکټلوني د وفابېګم موضوع په خپله غاړه واخیسته او مېټکف یې د ړنګې پاچاهۍ ملکې ته د اجازې په نه ورکولو په بې رحمۍ تورن کړ. هغه لیکلي: «بېګم په یو بدمرغه او بې وسه حالت کې وه... یوه بېرنۍ، پردۍ او په اصیله کورنۍ کې زېږدلې ښځه چې له خواشیني کوونکي حالت سره مخ ده، له داسې دولت ځخه د ساتنې او پناه غوښتنه کوي چې په بشردوستۍ او سخاوت کې نوم لري. د دغه دولت د یو اجنټ په توګه، زه ډېر لېوال یم چې عدالت په ښه بڼه ترسره کړم.» هغه بیا په صراحت یاده کړې: «انګلنډ له ډېر وخت راهیسې د شهزادګانو د ساتنې او پناه ورکولو توان لرلی او ډېرو نابېره انقلابونو دوی بېرته په داسې حالاتو کې په تخت کښېنولي چې د شاه شجاع په پرتله د پاچاهۍ اعاده کېدل یې ډېر ناشوني ښکارېدل چې په پایله کې یې د شهزادګانو مننډویې عادي خبره نه وه. کېدای شي د برتانوي دولت مېلمه پالنه موږ ته په داسې سیمه کې یو ملګری راکړي چې یوه ورځ به موږ ورته اړتیا ولرو.»[۲۱] د اکټلوني دلیلونو د هند لوی والي قانع کړ چې بېګم ته پناه ورکړي. د ۱۸۱۴ کال د ډسمبر په دویمه، بېګم او ورسره مل ښځې له لاهور ځخه لودیانې ته ونګوښېدې. په دغه ورځ په ښار کې یو انګرېز افسر د دوی د ګډ وډ او په دوړو پټ راتګ په اړه راپور ورکړ او داسې یې لیکلي: «دوی چې پاسپورټ نه درلود، په اندېښنه کې وو چې له پولې ځخه د تېرېدو اجازه به ورکړل شي او که نه. ما فکر وکړ چې په دې هکله به زه د دوی اړنګ او اندېښنه په څو خبرو لیرې کړم؛ نو دوی ته مې وویل چې امنیت یې دلته خوندي دی او اندېښنه دې نه کوي. زه ښنه غواړم چې تاسو ته مې د استوګنې له پاره له دغه خېمې ځخه پرته، ښه ځای برابر نه شو کړی. دوی د مهربانه ښه راغلاست په اړه خپل کورودانی څرګند کړ او هیله یې وکړه چې زه د دوی له پاره نور ځان په عذاب نه کړم او ویې ویل چې له برتانوي دولت ځخه د دوی یوازینۍ غوښتنه د پناه ورکړه وه.»[۲۲]
د څو میاشتو په بهیر کې چې د هغې د راتګ خبر هرې خواته خپور شو، په بېګم پورې د اړوند کسانو شمېر۹۶ ته اوچت شو او نوموړې یوې نیمه ړنګې حویلۍ ته چې اکټلوني ورته پیدا کړې وه، کډه وکړه. لکه څنګه چې د تمویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه وسیله یې نه لرله، اکټلوني په لمړیو کې له خپل جیب څخه د هغې د خرڅ پیسې ورکولې، خو وروسته یې وکړای شول چې له دولت څخه د یو کوچني کلني خرڅ له پاره پیسې ورته واخلي.

شاه شجاع دوه کاله وروسته له وفابېګم سره د یوځای کېدو نیت اعلان کړ. د اعلان په یوه برخه کې یې داسې لیکلي وو: «د خپلې ملکې د مینې او خپلو معززو انګرېز ملګرو د لیدلو هوس لرم.» دلته د اکټلوني د سخاوت او ستراتیژیکي بصیرت ترکیب یو ځل بیا د مېتکف احتیاط تر پښو لاندې کړ او خپل مرستیال، ویلیم فرېزر یې د شاه د ښه راغلاست له پاره پولې ته ولېږه.[۲۳]

فرېزر په چټکۍ هغه بدلون چې د دوي له لمړنۍ لیدنې راهیسې په شاه کې راغلی و حس کړ. پر شاه باندې د ماتې، تحقیر، شنکجې او زندان اوو کلونو خپل اغېز ایښی و او دا واضح ښکارېدل چې دی زیانمن، نه قانع کېدونکی او په روحي خپګان اخته شوی و. هغه نږدې لکه ناروغ، نیت درلود چې د خپل شاهي دریځ بڼه وساتي حال دا چې اوس، لکه څنګه چې اکټلوني ویلي وو، پرته له یو معزز فراري څخه بل څه نه و او یوازې یو مهاجر و چې د خپل پخواني متحد په خیرات یې ډېره وهلې وه، خو که فرېزر دا فکر کولو چې شاه اوس یو مات او ناهیلی سړی و؛ نو په دې هکله به په خپله تېروتنه ژر پوه شوی وي. فرېزر، اکټلوني ته ولیکل: «شاه په خپلو غوښتنو او تمو کې بې کچې شاهانه دی. لکه څنګه چې اعلحضرت ته دا یوه دودیزه کړنه وه، ده ستا سکرتر ور وغوښت او ورته ویې ویل چې د سیمې خلک باید له ده څخه خپل نیم کلیومتر واټن وساتي.» لکه مخکني مغول، کله چې امپراتوري یې له لاسه ورکړه، د ده دربار د ځان غوښتنې او ځان پالنې مرکز شو. څومره یې چې واک کمېده، هغومره یې له خلکو څخه د خپل شاهي دریځ منل غوښتل، خو له ټولو ادعاوو سره سره، د هغه رښتینې وضعیت له ناهیلۍ ډک و.

نوموړی اوس پنځوس وسلوال چوپړیالان نه لري. هغه د تېر ځل راهیسې چې مونږ ورسره ولیدل، خورا ډېر بدل شوی دی. په جسه ډېر غټ شوی او بې روحه څېره یې خپله کړې. ډېر هغه کسان ترې لاړل چې له ده سره راغلي وو او ما یو له څو چوپړیالانو څخه چې تر اوسه ورسره پاتې دي ونه پېژانده چې د کابل ماموریت په ترڅ کې زما پام ورته اړول شوی وي او یا مې مخکې لیدلی وي. ما ته دغه صحنه دردوونکې وه. د بخت چپه کېدل، پرته له دې چې احسان دې خلک هېر کړي او یوازې پرېښودل شې، بل څه نه دي چې پایله یې بې اړنګه یوه خواشینوونکې صحنه ده. بخت هغه څه دی چې ټول یې غواړي او تمه یې کوي، خو د چپه بخت دردوونکی فطرت به حتی تر ټولو ښه فلسفه له بنسته ولړزوي.[۲۴]

شجاع له خپلو ښځو څخه نږدې دوه کاله وروسته د ۱۸۱۶ کال د سپتمبر په پای کې لودیانې ته ورسېد. ده له پیل څخه په واضح توګه دا څرګنده کړه چې کوم هستوګنځی چې ده ته برابر شوی و، د ده اړتیاوې یې نه پوره کولې. هغه د یو پاچا او په ترون باندې د یو متعهد په توګه له انګرېزي دولت څخه غوښتنه کوله چې ده ته د پناه او خرڅ د ورکړې سربېره نور څه هم برابر کړي: هغه ته باید د اوچتو دېوالونو یو مستور کور ورکړل شي څو کوم خلک چې په پیلانو سپاره د کور تر څنګ په لاره تېرېږي، د ده ښځینه ونه لیدی شي. شجاع دا هم څرګنده کړه چې نه غواړي په ښار کې د ډېر وخت له پاره پاتې شي او په دې هلکه یې په یو لیک کې اکټلوني ته لیکلي وو: «زما دلته د پاتې کېدو څه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــته؟»[۲۵] شــاه ډېر عیبونه لرل، خو په هغه کې هېڅ کله پر ځان نه باور او د انرژۍ نشــتوالی نه وو. د شــاه ماتو د ده مخنیوی ونه شــو کړای او د تبعید له لمړۍ میاشــتې یې د یو نوي لښــکر د جوړولو په پلان کار پیل کړ څو خپل تخت بېرته ونیسي. ده لیکلي: «د خراسان د سلطنت د بیا ترلاسه کولو خواره خوبونه وینم.» همدارنګه شجاع په خپل کتاب کې لیکلي چې څنګه یې د نورو هغه شــاهانو له بیلګو راحت موندلو چې ســلطنت یې له لاســه ورکړی و او وروســته یې بېرته واک تر لاسه کړ. شجاع لیکلي: «په معاصرو شاهانو کې، امیر تیمور [لنګ] دولس ځله له سمرقنده وشړل شــو او په لرغونو شاهانو کې، افراسیاب له کیخسرو سره په جګړو کې اویا ځله په وار وار مات کړل شــو، خو هېڅ کله یې هوډ بدل نه کړ. په همدغه بنه، [د مغول امپراتور] همایون ته د هند ولایتونه په میراث پاتې شول، خو شېرشاه تېښتې ته اړ کړ او په ایران کې یې له شاه عباس صفوي څخه د مرستې غوښتنه وکړه. په حقیقت کې، که خدای ونه غواړي هېڅ شی به بریالي نه شي، خو که خدای غوښتل مونږ به بې اړنګه بریالي شو.»[۲۶]

په دغه وخت کې د شاه طبیعت په چټکۍ له خوښۍ نه خپګان او خیالي حالت ته بدلېده. یوه ورځ به یې لکه څنګه چې اکټلوني ویلي، «له بصــیرت څخه ډک» د پلانونو خوب لیده چې د واورینو غرونو او تبېت Thibet له لارې افغانســتان ته لاړ شي او په خپلو دښمنانو نابېره یرغل وکړي.[۲۷] بله ورځ به چې پوه شو چې دغسې کار عملاً ناشونی دی، د خپګان حالت ته به لاړ. د لودیانې یو افســر لیکلي: «د شــاه شــجاع ذهن په نارامه او ناکراره حالت کې دی. زه ډېر وخت ګورم چې بوختیا ته د ده لېوالتیا او اوسنی نه فعالتوب د نوموړي له ترخې بېوسۍ سره سمون نه لري.» دغه افسر زیاتوي:

> دا زما دنده وه او دنده به مې وي څو هر څومره چې کولای شــم د شــاه نارامه ســینه مالش کړم. زه له هر هغه څه نه چې ما ته قانع کوونکی دلیل برېښي کار اخلم چې شاه له غیرعملي خیالونو څخه واړوم، لکه د خپل تخت په بیا نیونه کې له انګرېزانو څخه د مرستې غوښتنه، کلکتې ته د تګ هیله او یا د انګرېزي واکمنۍ د ننه، په بله سیمه کې د اوسېدو لوی هوس. ما حتی د شاه سلاکارانو ته اشاره وکړه چې د شاه ذهن به پرته له کابله، بل هېڅ ځای چې د شاه هیلې پوره کړای شي ارامتیا ونه لري.[۲۸]

خو شجاع له راتګ څخه یو کال وروسته خپل عملي پلانونه بشپړ کړل او له شاه سره د خدمت له پاره لودیانې ته پر اسونو د سپرو ډلو لړۍ د رارسېدو په هکله کلکتې ته اندېښمن راپورونه رسېدل. حکومت له اکټلوني بیړنۍ غوښتنې وکړې چې اعلحضرت وهڅوي څو په ارامۍ له خپلې کورنۍ سره په هغه اسانتیاوو چې دوی ته برابرې شوې، ژوند ته دوام ورکړي.[۲۹] خو هر چا ته واضح وو چې شجاع به دا ونه مني.

په کشمیر باندې د ژمني برید له ناکامه هڅې وروســته، شــاه دا ځل په پوره پاملرنه وخت غوره کړ. په ۱۸۱۷ کال کې د ســدوزیو او بارکزیو د دوه لویو کورنیو تر منځ بیا د دښــمنۍ اور بل شــو چې وجه یې د ســدوزیو یوې شــهزادګۍ ته د بارکزیو سپکاوی و. شاه محمود او د هغه زوی شهزاده کامران سدوزی، د بارکزیو دوه مخکښ ورونه، وزیر فتح خان او دوست محمد د یو ماموریت سرته رسولو له پاره د افغانستان په لوېدیځ کې تر ټولو ښایسته ښار، هرات ته ولېږل. دوی ته دنده ورکړل شــوې وه چې په نابېره یرغل د اختیارالدین لویه کلا له یو یاغي والي چې پارســیانو ته یې د کلا د ســپارلو دسـیسـه جوړوله، بېرته ونیسـي. دوی دا کار وکړ، خو د کلا له بېرته نیولو څخه وروســته، د لوټ په بهیر کې دوســت محمد او د هغه پلویانو د حرم په لوټولو پیل وکړ چې په ترڅ کې یې د یاغي والي د ښــځې په ګاڼو ښــکلې شــوی پرتوګاڼۍ هم واخیسـت.[۳۰] هغه څه چې دوی ورته پام نه و کړی دا وو چې دغه شـهزادګۍ د شـاه محمود خورځه/وراره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده کامران یوه اونۍ وروسته هرات ته لاړ او هلته له حرم څخه یو پلاوی ورته راغی چې د خپل عزت د بېرته اعاده کولو غوښتنه وکړي. کامران هم د شاه زمان په څېر، د بارکزیو په ډېرېدونکي واک لا ترمخه اندېښمن و؛ نو د سدوزیو دغه د حرم سپکاوی یې یو فرصت وګڼلو.

دغه شهزاده هرات ته له خپل راتګ وروسته، له کلا څخه بهر په شاهي بڼ کې د یوې مېلمستیا اعلان وکړ او فتح خان او ورونو ته یې بلنه ورکړه چې له ده سره د دوی د هرات فتحه ولمانځي. میرزا عطا لیکلي: «نڅاګر او سازنده د مېوې د ونو په منځ کې راټول شوي وو، د کباب لوی غوري، له سرو واینو څخه ډکې د ښیښې صراحۍ ایښودل شوې وې او د ناچ (یو ډول نڅا. ژباړن) nautch مېلمستیا ورو ورو ګرمېدله.»

کله چې وزیر او د هغه ورونه بڼ ته ننوتل، دوی پرله پســې جامونه څښــل، کباب یې خوړلو او خپل ځانونه یې د هرات ښـایسـته بازینګرو د نڅا او سـاز په تعجب کې ورک کړل. دومره وخت تېر نه و چې دوی له کچې وتلي دومره ډېر نېشـه شـول چې د وزیر له مغزو د حواســو مرغۍ الوتلې وه او بې حســه پروت و. کامران د مخه ټول تیاری نیولی و؛ نو په یوه اشــاره د مېلمستیا ټولو ګډون کوونکو وزیر ونیولو، لاس او پښې یې وتړل او ورپسې یې د هغه په ړوندولو پیل وکړ، د خنجر څوکه یې پرسترګو کېکاږله؛ نو د وزیر د سترګو رڼې اوبه د ړوندوالي په توره څمکه وبهېدې.[۳۱]

وروسته د فتح خان د ککرۍ پوستکی وایستل شـو او په بېرحمۍ شـنکنجه شـو. کله کله به په داسې حال کې چې وینې ترې بهېدې، یوې خېمې ته چې دښـمنان یې په کې ناسـت وو یوړل شـو. فتح خان ته به وویل شـول چې په یو لیک کې پر دوســت محمد د تسـلیمي غږ وکړي. کله به چې فتح خان وویل؛ هغه یو ناتوانه او بې واکه ړوند اسـیر دی، شــکنجه کوونکي به پرېې راټول شـول. یو اشـرافي، عطامحمد چې شـاه شـجاع یې بندي او د اباسـین په سـیند کې یې په ډوبولو ګواښلی و او پلار یې فتح خان په توطیه تورن او ورپسې اعدام کړی و، په داسې حال کې چې د پلار وژنه یې یادوله، د فتح خان غوږ یې غوڅ کړ. یو بل کس د خپل شــکایت په یادولو، د فتح خان بل غوږ غوڅ کړ، درېیم کس یې پزه غوڅه کړه. یو لاس او ورپسـې بل لاس یې غوڅ کړل شـول. له فتح خان څخه وینې بهېدې او هر یو اشـرافي به چې د ده بدن په چاړه غوڅولو، دغه غوڅونې ته به یې د خپل غچ نوم ورکړ؛ نو«په دې توګه یې فتح خان له هغه لوړې روحي ډاډګېرنې څخه محروم کړ چې تر شــکنجې لاندې یې ســړی په ذهن کې لري - او هغه له تېرې څخه پاک وجدان دی». وزیر پرته له شـکایته شـکنجه وزغمله، خو چې ږیره یې پرېې غوڅه شـوه، په ژړا شـو. کله چې د فتح خان دواړه پښـې قطع کړل شوې، عطا محمد خان یې په پای کې په ستوني چاړه کش کړه.[۳۲]

مخکې شـــاه زمان یوازې د فتح خان پلار پاینده خان مړ کړی و، خو د بارکزیو د مشــر وژنه یو څه دي او د ټولې ډلې راټولول بیخي بل څه دي. د فتح خان څو ورونه په بڼ کې له مېلمســتیا څخه په تېښــته بریالي شــول او په جګړو یې له هرات څخه ځانونه واېســتل. دوو نورو ورونو یې چې په حمام کې عشـرت کولو، «له خبرېدو سـره سـم له بخار خونې څخه په چټکۍ ووتل او وتښـتېدل. دوی په پټ بازار کې د سـوداګرو پر دوو اسـونو سـپاره او د کندهار په لور سـتانه شـول، د وزیر له مور سـره د نادعلي په کلا کې یوځای شـول او د خپل ورور د غچ اخیسـتنې هوډ یې وکړ».[۳۳] فتح خان خو ووژل شـو، خو پاتې ډلې د شـاه محمود او شـهزاده کامران پر ضد د جګړې اعلان وکړ او د واکمنۍ په سیمو کې یې خلک پاڅون ته وهڅول. کله چې بغاوت پراخه شـو، د قومي مشرانو له خوا شـاه شجاع ته په لودیانه کې بلنې رارسېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپل تخت بېرته ترلاسه کړي او هېواد ته نظم راولي. دا هغه شېبه وه چې شاه شجاع ورته په تمه و. شاه شجاع د وفابېګم په مرستــه وســلې پېرودې او د امریکایي «جنرال» جوســایه هارلن Josiah Harlan په ګډون یې ګډوډ اجیر عســکر راټول کړل، خو په ټوله لار کې یو انګرېزي جاســوس کپتان راس Captain Ross او د هغه دوه مرســتیالان د قرغزانو په جامه کې په پټه په دوی پسې وو. شجاع د سند بانکي مرکز شکارپور ته ورسېد.[۳۴] هلته یې د هندي پور ورکوونکو څخه پیسې پور* کړې.

ده په چټکۍ یې یو لښکر جوړ او د شمال په لور وخوځېد. د څو اونیو په ترځ کې یې خپله د پېښور پخوانۍ اډه بېرته ونیوله.

خو د ده بریا لنډ مهاله وه. د شجاع ځانمن• چلند او پر زړو دستورونو او ادابو ټینګار د سیمې قومي مشران ناراضه کړل؛ نو«د ده بې وخته شاهانه برم او په شاهي دودیزه ادابو ټینګار، د شجاع او د هغه د بلونکو تر منځ جګړه رامنځ ته کړه».[۳۵] په دغه کړکېچن وخت کې د شــاه د باروتو په زېرمه یوه مرمۍ ولګېده او یوه لویه چاودنه یې رامنځ ته کړه چې د شاه ګڼ شمېر عسکر یې ووژل. شجاع لیکلي: «د لوګي یوه لویه لړه اسمان ته پورته شوه او پښې، لاسونه، لېچې، او تنې پـه هر لوري کې خواره شــول. دښــمن پر خپـل یرغـل زور واچولو؛ نو موږ د خیبر غره تـه پنـاه یوړه.»[۳۶]

یو ځل بیا شجاع شاتګ ته اړ شو. بارکزي ځواکمنو ورونو دی په شا وتمبولو او اوس نوموړي پرته له دې چې بېرته د کمپنۍ تر واکمنۍ لاندې سیمو ته لاړ شي، بله چاره نه لرله. په سره دوبي کې د بېرته تګ په بهیر کې، شجاع د شکارپور او جایسلمېر تر منځ په شګلنه دښته کې له رېګي توپان سره مخ شو او نورعسکر یې دلته له لاسه ورکړل. ده د سند بانکرانو ته پور بېرته ادا نه شو کړای او دغه بانکرانو قسم وکړ چې بیا به ده ته پور ور نه کړي څکه چې د میرزا د یو پارسي متل په بنا: «مار چیچلی له رسۍ نه هم وېرېږي.»[۳۷]

د ۱۸۱۸ کال په اکتوبر کې وروســته له دې چې په اجمیر کې د صــوفي زیارت ته لاړ او په ډهلي کې یې د مغول امپراتور، دویم اکبرشاه سره ولیدل، شاه لودیانې ته لاړ چې د خپل راتلونکي اقدام پلان جوړ کړي.

شجاع د اوږده تبعید له منلو پرته بله چاره نه لرله او اړ شو چې په لودیانې کې د خپل دربار جوړولو ته غاړه کېږدي. خو بیا یې هم په تشــریفاتي او د دربار په برم او پرتم کې جوړجاړی نه غوښــت. په حیرانوونکي ډول، اکټلوني په دغه موضـوع کې بیا ځان ښـکېل کړ؛ نو کمپنۍ دغه د تیاتر ننداره ومنله او د تمویل له پاره یې په کال کې ۵۰۰۰۰ روپیو ته حاضـره شـوه. شـاه او ورسـره مل کسـانو یې یو لوی هسـتوګنځي ته کډه وکړه او د ده دغه د تیاتر اسـرافي ننداره د لودیانې ګردجن بازار ته د راغلو خلکو په نصیب کېده. امریکایي اجیرعسـکر جوسـایه هارلن لیکلي: «اعلحضـرت به

---

*د سند شکارپوري د پور ورکړې کمیټې له ډېره وخته د جګړو په تمویل او د وسلې په سوداګرۍ کې تخصص درلود او دغه دود تراوسه شته: په دغه سوداګرۍ کې نن ورځ په شکارپور کې تر ټولو وتلې د هندوجا ورونو کمپنۍ ده چې د ډېرو نورو معاملو سربېره، ویل کېږي چې په ۱۹۸۰ کلونو کې د راجف ګاندي حکومت ته د بوفرس Bofors وسلو د ورکړې په نانډریزه معامله کې ښکېله وه.

• ځانمن: مغرور، کبرجن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابو هره ورځ لودیانې ته نږدې په شاهي برم اوپرتم کې لیدل کېده. یو ګڼ مارش به په بې روحه باد او بې خلکو لارو کې د شــاه د راتګ داســې چیغې وهلې لکه چې شــاه د خپل بیعت د لویې ګڼې ګوڼې په منځ کې وي. د ځان ښــودنې درنې او ژورې چیغې چېرته چې د اطاعت هېڅوک نه وو.»[۳۸]

د شړل شوي شاه یو عجیب دربار و. ملا شکور اسحاقزی د دربار مشر و. هارلن لیکلي: «ملا شکور په ونه ټیټ او چاغ سړی و چې لویې لونګی یې د خپل موقف د ځانګړتیاوو څرګندویه وه او هغه یې په بنه پوره ګرد ښودلو. له لونګی یې لویې ولول سپینې تورې څنې په اوږو پرتې وې.» څنې یې د یوې ځانګړې موخې له پاره پرېښې وې: چې د خپلو غوږونو نشتوالی پټ کړي. نوموړي ته د شاه شجاع په امر په یوه جګړه کې د نه زړورتیا له وجې د غوږونو په غوڅولو جزا ورکړل شوې وه، خو د هارلن د لیکنو پر بنسټ، ملا دلته یوازې نه و ځکه چې دا د شاه عادت ګرځېدلی و چې د دربار یو کارکوونکی به چې په کوم کار کې پاتې راغی، شاه به د هغه د بدن یو غړی غوڅولو. د شجاع ډېر چوپړیالان په بېلابېلو وختو کې له غوږونو، ژبو، پزو او تناسلي غړو محروم شوي وو چې په پایله کې د پخواني پاچا په چوپړ کې د ګونګیانو او خسي شوو یوه د بې غوږو خلکو ټولګه جوړه شوې وه.

ویل کېږي چې یو بدبخته خواجه [خسي شوی] مشر، خواجه مېکه Mika چې یو افریقایي مسلمان و هغه وخت خپل نارینتوب له لاسه ورکړ چې د وفا بېګم او د شجاع د نورو ښځو د ستر له پاره پرده، د باد یوې ناڅاپې سیلۍ یوړه، خو هارلن لیکلي: «خسي کوونکی په زړه نرم سړی و او د خواجه مېکه د تناسلي غړي په لاندې برخو یې غرض ونه کړ.» له دغه وروســته نوموړي خپل غوږونه هم له لاســه ورکړل، خو خواجه مېکه ته دا یوه وړه ضــایعه وه. برعکس د ملا شــکور، نوموړی به په خرېیلي ســر ګرځېده او په دې توګه یې له وېرې پرته د شــاه دغه نیکي خلکو ته ښــودله.[۳۹] هغه چا چې د شـاه سـره لیدنه کوله، د شـاه جذابیت، چلند او درنښـت به اغېزمن کړل. د بېلګې په توګه، په سـوېلي اسـیا کې مخکښ یونی، ګاډفري وینې Godfrey Vigne لیکلي: «شـجاع د ښـه طبیعت لرونکی او ... داسې نه ښکارېده لکه یو سـلطان چې خپل سـلطنت له لاسـه ورکړی وي بلکې لکه یو ښـاغلی چې څه جایداد یې له لاسـه ورکړی وي.»[۴۰] ســربېره پر دې، شــجاع خپلو اړوندو کســانو ته له خپل عصــر نه مخکې ښــوونځي جوړ کړي وو: په ۱۸۳۶ کال کې شاوخوا درې زره هلکانو په ښوونځیو که زده کړې کولې،[۴۱] خو د لودیانې ایجنسۍ اسناد چې تر اوسه په بشپړ ډول د لاهور په ارشــیف کې ســاتل شــوي، د هارلن د اشــارتي ارزونې پخلی کوي چې شــجاع په نورو برخو کې د خپل اړوند کسانو له پاره په پنجاب کې دومره روڼ اندی نه و: د بېلګې په توګه، د هغه وینځې په وار وار تښتېدلې وې، ښايي د شاه له جزا څخه د خلاصـون په وجه، خو کله کله دوی د لودیانې په ښـارګوټي کې د انګرېزي چوڼۍ ښـایسـته افسـرانو ته هم د ساتنې له پاره تښتېدلې چې بې اړنګه د شاه او د انګرېزانو تر منځ به یې دیپلوماتیکي شخړې رامنځ ته کړې.[۴۲]

د اکتېلوني له مړینې وروســته په ۱۸۲۵ کال کې، هغه کس چې د داســې شــخړو په هکله باید اقدام وکړي، د لودیانې اجنټ کېپټان کلاډ مارټین وېډ Captain Claude Martin Wade و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېږ په بنګال کې زېږېدلی، پارس پوه او د فرانسوي پوځي اجیر کلاډ مارتین Claude Martin زوی بللی و، هغه څوک چې د کلاډ بې وزله پلار ته یې پیسې پور ورکړې وې او کلاډ د هغه په نوم نومول شوی و؛ نو همدغه د کلاډ فرانسوي اړیکې وې چې نوموړی یې د سېک دربار ته هغه وخت ورسولو چې رنجیت سېنګ یو د پام وړ ۸۵۰۰۰ کسیزه له سېک خالصانو څخه جوړ پوځ درلود. د رنجیت سېنګ پوځ ته پخوانیو فرانسوي او ایټالوي ناپلیوني افسرانو روزنه ورکوله. دغه ټولو په سیمه کې ودونه کړي وو او لویې نیمه پنجابي کورنۍ یې جوړې کړې وې. دغه پخواني ناپلیوني افسران د کلاډ په وسیله انګرېزانو ته د منځنۍ اسیا په هکله د مالوماتو ارزښتمنه سرچینه وګرځېدل.* وېږ هڅه کوله چې له دوی سره ملګرتیا ولري. یو منندوی فرانسوي یونی د ده په هکله داسې ویلي: «د پولې پاچا او یو ډېر ښه ملګری... یو هوښیار او پوه کس چې ملګري یې هم په همدغه کچه ګټوره او خوندوره ده.»[۴۳] خو د ده خپلو مامورینو د نوموړي یو پېچلی انځور کاږلی و: بې اړنګه وېږ خوش خلقه و، خو رند، وچ، پرېکنده او بدګمانه هم و. که چېرې ورسره هم انده نه وې، هغه نازک طبیعته، د خپل حریم ساتندوی او د هرې هڅې پر وړاندې چې د سېکانو او افغانانو سره د انګرېزانو د اړیکو په کنټرول کې د نوموړي انحصار مات کړي، کلک مقاومت کوونکی و.

وېږ ښار ته د خپل راتګ راهیسې، په ۱۸۲۳ کال کې د هغه پراخه خبر لیکنو او څارګرو شبکو په بیا را ژوندي کولو کار وکړ چې الفنسټون له پېښور څخه د خپل راتګ وروسته پرېښې وو. کله چې د ناپلیون د یرغل ګواښ تېر شو، دغه شبکې له پامه غورځېدلې وې؛ نو وېږ خپله یوه د خبریالانو شبکه جوړه کړه چې تر پنجاب، افغانستان او د پنجاب او افغانستان له لارې تر خېوې، بخارا او نوره هم وړاندې غځېدلې وه چې «د سیمه ییز جاسوسانو، په ځانګړې توګه له لېږل شوو سیمه ییز جاسوسانو څخه یې مالومات راټولول».[۴۴] دغه مالومات به راغونډ، چاڼ او وشنل شول او بیا به وېږ خپل مشر ته په کلکته کې ولېږل. په دغه وخت کې د خبریالانو «څارګرو» او رسمي جاسوسانو تر منځ پوله ډېره نرۍ وه، وېږ عملاً د هغه دورې یو له دوه څارګرو مشرانو څخه و چې راتلونکو نسلونو د لویې لوبې نوم ورکړ. لویه لوبه د دوه امپراتوریو د لویې سیالۍ، جاسوسۍ او فتحو هغه پېر یادېږي چې لمړني خوځښتونه یې په همدغه وخت کې پیل شول او برتانیه او روسیه په دې لوبو کې تر هغه وخته ښکېل وې څو چې د دوی اسیایي امپراتورۍ ړنګې شوې.[۴۵]

په دغه کار کې د وېږ لوی سیال یو ایرلنډی - انګرېز سرتمبه سړی، د سېر هېنري پاټېنګر په نوم و چې د بمبیي Bombay ریاست په استازیتوب یې په کوچ Kutch کې له یو ګجراتي ښار، بوج Bhuj څخه څارګریز عملیات ترسره کول او پر سند، اباسین دلتا، بلوچستان او سیستان یې ځانګړی تمرکز درلود. پاټېنګر په زلمیتوب کې پارس او هند ته د یو مسلمان سوداګر په جامه کې سفر کړی و او نه یوازې په سیمه کې بلد و بلکې د کمپنۍ له مامورینو سره یې هم بلدتیا درلوده. نوموړی د کلاډ وېږ په څېر د خپل صلاحیت د حریم کلک ساتندوی و.

دا چې وېږ د شجاع په نمایشي دربار کې د خپل رول لوبولو ستونزې درلودې؛ نو په دغه وخت کې یې د خپلو ډېرېدونکو جاسوسانو د مالوماتو او اوازو له معماو څخه د حل ټوټې راټولولې: نوموړي هندي کاتبان، سوداګر، ګرځنده اجیر نظامیان او انګرېزانو ته خواخوږي اشرافیان د مالوماتو او د بازار ګپ شپ د راټولولو له پاره ګمارلي وو. ښایي وېږ

*د ۱۸۲۰ کلونو په بهیر کې، د ختیځ هند انګرېزي کمپنۍ ډېرې پیسې، ۵۰۰۰ روپۍ ولګولې چې د یو افسر، جنرال کلاډ اګسټ کورټ General Claude August Court هغه ژورنال وپېري چې په افغانستان کې یې د خپل یون په هکله لیکلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د مالومات ورکولو تر ټولو ګټوره ســـرچینه یو د پام وړ انګرېز، جېمز لېویس James Lewis و. نوموړی یو پوځي و چې په کمپنۍ کې له خدمت څخه کابل ته تښتېدلی و او هلته یې د چارلس مسون په نوم ژوند کولو.
چارلس مســون یو کازمن تجســـسي لندنی و چې په ۱۸۲۶ کال د بهارتپور د کلابندۍ پر وخت یې ځان مړ واچولو او له غونډ څخه وتښتېد. نوموړی د شـمالي هند له لارې له اباسـین څخه تېر او افغانسـتان ته یې په پښـو یون وکړ او هلته یې د یو لالهاند ملنګ په څېر ژوند کولو. د لوی الکساندر اریایي ژوند Arrian's Life of Alexander the Great د کتاب یوه کاپي په لاس کې او د الکســـاندر په پله روان، دی لمړنی لوېدیځوال و چې د افغانســـتان په لرغونپوهنه کې یې پلټنې وکړې او د لوی باختري یوناني ښـــار پاتې شـــونې یې په بګرام کې وموندې او په نورو ســـیمو کې یې په مېتودیکي ډول بودايي زیارت او د کوشـــانیانو مانۍ له خاورو نه را وســـپړل. هغه خپل مســـولیت ته په پام ســـره، د خپلو موندنو ارزښـــتمنې برخې په ډهلي کې نوې اســـيايي ټولنې ته لېږلې. کلاد وېډ څه نا څه د مســـون په اصـلي هویت او د عسـکرۍ څخه یې له تېښـــتې خبر شـــو؛ نو نوموړی یې لړ وخت وروســـته د بربنډولو او اعدام په ګواښ او یا د بښـــنې په ژمنو جاسوسۍ ته اړ کړ؛ نو په دغه وسیله کلاد وېډ په لمړي ځل په منظمه توګه له افغانستان څخه کره راپورونه تر لاسه کول.

ځارګره پراخېدونکې شبکه د جیوپولېټېک د ګړندي بدلون په وخت کې جوړه شوه. اوس د ناپلیون ګواښ نه و، خو پر ځای یې په ۱۸۲۰مو کلونو کې روسیې پر خپل ځمکني پرمختک کمپنۍ اندېښمنه کړې وه.
روسیې د ناپلېون له ماتولو وروسته، په ۱۸۱۲ کال کې خپله پوله د ختیځ او سوېل په لور په داسې چټکۍ غځوله لکه وېلزلې چې د شـمال او لوېدیځ په لور خپله د کنټرول سـاحه پراخوله؛ نو په لندن کې ناسـت سـتراتیژسـتانو ته ورو ورو دا جوتېده چې- دغه دوه امپراتورۍ به د ســوېلي اســیا په کوم ځای کې ټکر وکړي. د کمپنۍ د کنټرول بورډ مشــر او د برتانیې په کابینه کې د هندي چارو وزیر لارډ اېلېنبوره لمړنی کس و چې دغه ډېرېدونکې اندېښـــنه یې په حکومتي عامه پالیسۍ واړوله. هغه په خپل یادښت کتاب کې لیکلي: «په اسیا کې زموږ پالیسي باید یوازې یو تګ لوری ولري او هغه د روسیې د واک محدودول دي.» نوموړي وروسته بیا لیکلي: «که دښمن له خېوې حرکت وکړي، څلور میاشتې وروسته به په کابل کې وي. په دې هکله مشــران په وېره کې دي، خو زه داډمن یم چې موږ به په اباســین کې د روســانو پر ضـد جګړه وکړو او زما په زړه کې له ډېر وخت راهیســې داســې ګرځي چې زه به هلته له دوی ســره مخامخ شــم او یوه لویه جګړه به وګټم.»[۴۶]
اېلېنبوره د وارن هېستنګز Warren Hasting د دفاعي وکیل زوی او یو مستعد خو نه قانع کېدونکی او په څېره بدرنګه کس و. یوه کتونکي هغه وېروونکی ګرې لاک* Grey Lock بللی و. د هغه فزیکي څېره دومره بې خونده وه چې ویل کېږي څلورم جورج یې په اړه ویلي وو چې د اېلېنبوره څېرې ته کتل یې ناروغه کوي. نوموړی هغه وخت له سخت تحقېر سره

*ګرې لاک چې یوه بې خونده څېره یې لرله، په ۱۶۷۰ کال کې زېږېدلی، د امریکا اصلي استوګن او د انګرېزي ښکېلاک پر ضد د جنګالیو مشر و. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ شو کله چې ښایسته خو څېرسترګې ښځې یې (جېن ډېګبي Jane Digby) پرېښود او بیا یې له پرله پسې مینانو سره وخت تېر کړ. لمړی له اطریشي شهزاده شوارزنېنبرګ Schwarzenberg سره چې الېنبوره په یو ډوول* Dual کې ورسره جنګېدلی و. ورپسې په لنډه موده کې د بوېریا Bavaria او یونان د پاچاهانو او البانیوي جنرال سره او وروسته یې د یو کوچي شېخ سره په پالمایرا Palmyra کې واده او د خوښۍ ژوند تېر کړ. دغه سپکاوي د الېنبوره په کرکټر کې د تل له پاره خپل اغېز پرېښود او د غرور او هوډمنو هیلو په لور یې سیخ کړ، خو نوموړی که خانتما هم و، د ډېرې انرژۍ خاوند او هوښیار سړی هم و او لمړنی انګرېز سیاستوال و چې خپل مسلک ته یې د روسي امپریالېزم په مخالفت کې وده ورکړه.[47]

الېنبوره د انګرېزانو تر کنټرول لاندې هندي سیمو ته د روسي ګواښ په هکله مبالغه کړې وه. دا رښتیا وو چې روسانو د عثماني ترکیې او قاجاري ایران پر وړاندې کلک تعرضي چلند کولو، خو سن پیټرزبورګ په حقیقت کې هلته پر انګرېزانو د یرغل هېڅ پلان نه درلود. د ناپلیون له شاتګه یو کال وروسته، په ۱۸۱۲ کال کې له مسکو څخه د روسانو توپچي ځواکونو د فتح علي شاه قاجاري پارسي پوځ سټ کړ او د سوېلي ارمنستان او ګرجستان عېسویانو ازادي یې اعلان کړه. وروسته روسانو د اوسني ارمنستان او اذربایجان لوېې برخې چې په قفقاز کې د پارسي امپراتورۍ سیمې وې، له ځان سره مدغم کړې. په تهران کې د برتانیې سفیر په دې هکله لیکلي: «پارس لاس او پښې تړلی، د سن پیټرزبورګ دربار ته وسپارل شو.»[48]

دا د عثمانیانو او پارسیانو د ماتو د اوږدې لړۍ پیل و چې د سوېل په لور د روسانو د بې رحمه پرمختګ څرګندونه یې کوله.[49] دا چې انګرېزان د خپل پارسي متحد په مرسته کې پاتې راغلل او پارسیان یې له روسانو سره په جګړه کې یوازې پرېښودل، وضعیت نور هم ترینګلی شو. په ۱۸۲۶-۱۸۲۷ کلونو کې پارسیان له روسانو سره په یو لړ جګړو کې له ستوونکو ماتو سره مخ شول او د قفقاز د پارسي امپراتورۍ ټولې پاتې برخې، د ټولو هغه غاښیو په ګډون چې اذاربایجان ته یې لاره کنټرولوله، له لاسه ورکړې.[50]

که روسان له عثمانیانو سره په جګړو بوخت نه وی؛ نو د تسلیمۍ شرطونه به نور هم سخت وو، خو روسانو په عین وخت کې ترکانو ته داسې ویجاړوونکې ماتې ورکولې چې د برتانیې صدراعظم باور درلود چې «دغه ماتې عثماني امپراتورۍ ته مرګونی ګوزار او د عثماني واک د نابودۍ پیلامه دي».[51] د ۱۸۲۰ لسیزې په پای کې داسې برېښېدل چې روسانو ته د تهران او قسطنطنیې نیول او د تزاریانو تر ساتنې او کنټرول لاندې د پارس او ترکیې راوستل یوازې د لږ وخت خبره وه. په چېچنیا او داغستان کې روسي جزایي لښکرې په عامه وژنو، د کلیو په لوټولو، د ښځو او ماشومانو په وژنه، د ځنګلونو په وهلو او د حاصلاتو په سوځولو بوختې وې.[52] وړاندې سوېل ته په بیت المقدس کې یو انګرېز قونسل د «روسي اجنټانو» د ډېروالي راپور ورکړ چې «د مقدسې ځمکې اشغال» ته تیاری نیسي؛ نو د روسانو یاد شوی نیت چې دوی به د عثماني امپراتورۍ له رنګو څخه د بېزن ټاین Byzantine زړه امپراتوري بیا جوړوي، لرترلره د بهرنیو چارو جګړه پالو پالیسي جوړوونکو ته ډېر شونی ښکارېده.[53]

---

*د دوو کسانو تر منځ مخامخ جګړه. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روســـانو پرله پســې او چابکې برياوې او په هغه هېوادونو کې چې تر واک لاندې يې وو، د دوی ظلمونو، په لندن کې هغه سياستوال ولړزول چې د ناپليون له مړينې وروسته يې د هند خونديتوب د برتانوي نړيوال قدرت د موقف له پاره حياتي ګڼلو. کله چې په ۱۸۲۳ کال کې د هماليا پلټونکي وېليم موركرافټ William Moorcroft رنجيت ســـېنګ ته د روســې د بهرنيو چارو وزير کونټ نېسل روډ Count Nesselrode ليک کشـف کړ، داسې بربښـېدل چې دغه ليک د هغه څه پخلی وکړ چې پاليسي جوړوونکو ورڅخه وېره لرله. دغه وېرې او ورڅخه زېږېدلې سياسي وسوسې د برتانيې او برتانوي هند په مطبوعاتو کې يو لړ روس‌کرکه رامنځ ته کړه چې روسان يې په کې ځناور، مستبد او ازادۍ او تمدن ته ګواښ بلل.

د ډګروال ډي لسي ايون De Lacy Evan يو پېچلي مغرضانه کتاب «پر برتانوي هند د يرغل شـونتيا» دغه وېرې ته نور تحرک ورکړ. په دغه کتاب کې يوه داسې ســناريو انځور شــوې وه چې ۶۰۰۰۰ روســي عســکر به پر هندوکش مارش وکړي، هرات به ونيسي او بيا به د خيبر د غاښي لاندې راښکاره شي او هرڅه چې په لاره مخې ته ورځي، له ځمکې سره به يې هوار ي. په حقيقت کې دا په هغه وخت کې يوه داسې خيالي سناريو وه لکه د شاه شجاع پلان چې د تبېت له لارې به پر کابل يرغل کوي. په دغه کتاب کې د روسي يرغل د ګواښ په اړه لويه مبالغه شوې وه. کابل خو پرېږده، په منځنۍ اسـيا کې يوازې لږ شـمېر روسـان وو، هغه هم له بخارا څخه ۱۰۰۰ ميله ليرې، خو د لندن په سـياسـي کړيو کې دغه کتاب په پراخه کچه لوسـتل کېده او که څه هم دغه ډګروال هېڅ کله هند او حتی دغه سـيمې ته نه و تللی، کتاب يې د يو روس‌کرکې نسل له پاره د انجيل ارزښت پيدا کړ.[54] په ځانګړې توګه د الېنبوره دغه کتاب ډېر خوښ و ځکه چې د ده د اوسنۍ بدګمانۍ پخلی يې کولو.

په هغه ماښــام چې الېنبوره د کتاب لوســتل خلاص کړل، نوموړی د خپلې مطالعې کوټې ته لاړ او د لندن صـدراعظم ته يې وليکل چې اباســين ته د رســېدو په موخه به روســيه په يرغل او يا په خپل نفوذ پارس خپل کړي. الېنبوره په راتلونکې ورځ د دغه کتاب کاپي تهران او بمبيي ته ولېږله او په کتاب کې يې هغه مشــوره يادښــت کړه چې يو اجنټ دې په بخارا کې وګمارل شــي څو د روســي يرغل په هکله ترمخه خبرداری راولېږي. هغه په خپل يادښــت کتاب کې ليکلي: «موږ بايد له کابل، بخارا او خېوې څخه بشپړ مالومات ولرو.»[55]

په راتلونکو اونيو کې اېلېنبوره د روســې د نور پرمختګ د مخنيوي له پاره مخکې له مخکې پلانونه جوړ کړل. هغه د هند لوی والي ته وليکل: «موږ د روسي له رښتيني يرغل څخه دومره وېره نه لرو لکه:»

شــمالي هند ته د روســانو نږدې کېدل به زموږ د بيعت او شــهزاده متحدينو په مورال اغېز وکړي. دا زموږ دنده ده چې د روســانو له اوسـنيو پولو څخه د دوی د خوځښـت د مخنيوي له پاره اقدام وکړو، خو د دغه اقدام اغېزمنتوب به يې په چټک ترسـره کولو پورې اړه ولري او تاسې ته به د هر هغه څه په هکله خبر درکول کېږي چې له روسي پولې څخه تېرېږي.[56]

د الېنبوره د څارګريز ماموريت لېږنې پراخه پاېلې وزيږولې، خو په دغه پړاو کې د ګواښ ډېره برخه چې د شـنډولو هڅه يې کېده، له بې کچې تودو انګرېزي خيالونو څخه پرته بل څه نه وو. په منځنۍ اســيا کې د يو لوی څارګريز پروګرام جوړونې، لوبې لوبې ته ډېر تحرک ورکړ- روســـانو وروســـته پر دغه لوبه د «ســـيورو تورنمنټ» نوم کېښــود.- او د روســـانو او انګرېزانو تر منځ يې په هماليه کې ســـيالي رامنځته کړه، چېرته چې يوه هم مخکې شـــتون نه درلود. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروګرام وبډ، پاتېنګر او د پولو ســاتونکو ته لوېي ســرچينې په واک کې ورکړې؛ نو ځوان پوځي افســران او ســياســي اجنټان به کله په بله جامه او کله د ښکار د رخصتۍ په پلمه پر له پسې هماليا، هندوکش او پامير ته لېږل کېدل چې ژبه او قبيلوي دودونه زده کړي، د سـيندونو او غاښـيو نقشـې وکاږي او په غرونو او دښـتو کې د لارې ارزونه وکړي.[۵۷] په راتلونکو کلونو کې امپرياليستي سيالي د لوبې په پرتله په خورا جدي ځېز بدله شوه چې پايلې يې په لوړه کچه مړينې، جګړې، يرغلونه او د مستعمرو جوړونې شوې او د افغانسـتان او منځنۍ اسيا د زرګونو اوسېدونکو ژوند يې په ژوره توګه بدل کړ. دغه وضعيت په ډېره چټکۍ انګرېزانو ته د شاه شجاع ارزښت ډېر کړ. نور انګرېزانو ته پخوانی پاچا د خپلو خيالي نظريو سره د يوه ګوښـه شـوي متحد په څېر نه و چې دوی د وجيبې له مخې ځای او خرځ ورکړی. انګرېزانو ته نوموړی ناځاپه د روسـانو د تېري پر وړاندې او د دوی د هغه هيلې کلی شـو چې په افغانسـتان کې يو متحد واکمن ولري؛ نو په دې توګه انګرېزانو ته شـجاع يوه سـتراتيژيکه شـتمني وګرځېد. د الېنبوره د څارګريزه ماموريت د لېږنې په پايله کې دوه پېټې څارګرې عملياتي ډلې وګمارل شوې.

د تورن ارتر کانولي Arthur Conolly په مشــری يوه ډله وګمارل شـــوه چې له مســکو څخه برتانوي هند ته د پلي تګ شـونتيا وازموېي . کانولي په اورنبورګ کې د روسانو پولې ته لاړ او له هغه ځای څخه په بدله څېره د بخارا او افغانسـتان له لارې هرات او اباسـين ته لاړ. دغه يون وښـوده چې د برتانوي هند پولو ته تګ په بشـپړه توګه شـونی دی - لږترلږه يوه هوډمن سـړي ته - او د هغه څه په پرتله چې کانولي يې تصـور کړی و، په کراره تګ يې له يو کال څخه لږ وخت ونيو او ډېر اسانه و.

دويمې ډلې ته له دقت او تفصـيل څخه ډکه او په بدله څېره دنده ورکړل شــوه. دغه ډله به په مخالف لوري ځي او د اباسـين سـيند په هکله به مالومات راټولوي. الېنبوره باور درلود چې لکه د ګنګا سـيند چې انګرېزي سـوداګرۍ ته يې د هند زړه خلاص کړی و، اباسين به هم منځنۍ اسيا ته د دوی ترانسپورتي تګ لوری شي.

الېنبوره هم لکه د خپل نسـل ګټپالان، د سـوداګرۍ پر تمدني طبيعت کلک باور درلود: «د سـوداګرۍ هره بسـته چې زموږ له بندرونو څخه لېږدول کېږي، دوی له ځان سـره د لږ شـاته پاتې ټولنو غړو ته ذکاوت او ګټور فکرونه وړي.»[۵۸] هغه دا تصور درلود چې انګرېزي توليدات به د روسيې د پرمختګ پر وړاندې د دفاع لمړۍ کرښـه وي - سکاټلنډي سنۍ او د مانچسـتر د پنبې بسـتې به له البيين Albion څخه د پوهې په خپرولو کې مرسـته وکړي او تر يوې کچې به د سـن پيټرزبورګ د تزاري اسـتبداد پر وړاندې د افغانانو د مقاومت تکل ټينګ کړي؛ نو نوموړي وړانديز وکړ چې يوه کښـتۍ چې په بدله بڼه کارټوګرافر او د تخنيکي رسـم او سـمندري او پوځي سـروې کارپوهان په کې وي اباسـين ته ولېږل شي چې د سـيند غاړې نقشـه وکاږي، د سـيند ژوروالی جوت کړي او په اباسـين کې د انګرېزي انکوټ• د چلېدو شـونتيا وارزوي. الېنبوره هيله درلوده چې په دغه وسيله به د منځنۍ اسيا په سوداګرۍ د برتانوي تسخير پيل برابر کړي، خو د اصلي موخې د پټولو له پاره، بايد کښـتۍ پوښ کړل شي او په رسـمي توګه وويل شي چې په کښـتۍ کې رنجيت سـېنګ ته داسې نفيسې سياسي ډالۍ دي چې لېږد يې له وچې لارې خوندي ونه ګڼل شـو.

• انکوټ: بخاري بېړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې مهاراجا له ښو اسونو سره کابو لېونی مینه لرله، اېلنبوره دغه چل ته هوکړه وکړه چې له سفک Suffolk څخه د بګۍ او باربرۍ غټو اسونو یوه ډله چې داسې نسل مخکې په هند کې هېڅ کله لیدل شوی نه و، راولېږل شي. یوازې له دې امله چې که رنجیت سېنګ امر وکړي چې اسونه دې د ځمکې له لارې ورولېږل شي، ډالیو ته یوه درنه زرینه بګۍ هم ور زیاته شوه. وروسته هوکړه وشوه چې دغه ماموریت پراخه کړل شي، هغه دا چې د سوداګر په بڼه دې یو انګرېز څارګر افسر د افغانستان له لارې بخارا ته لاړ شي او په منځنۍ اسیا کې دې د انګرېزي محصولاتو د ورپېژندنې شونتیا وارزوي او دغه افسر به د لارې په اوږدو کې پټ نوټ اخلي، نقشې به کاږي، د منځنۍ اسیا په ارامه ښارونو کې به د روسانو نفوذ ارزوي او له امو څخه د قزاقي عسکرو د تېرېدنې او بیا د افغانستان له لارې هند ته د دوی د رسېدنې په اسانتیا به راپور جوړوي.[۵۹]

د دغه ډلې د مشرۍ له پاره چې باید یو تکړه او محتاط افسر وي، د اېلنبوره لمړۍ خوښه د وېلیم فرېزر ورور بېلي فرېزر Baillie Fraser و چې یو ارټست، لیکوال او جاسوس و. نوموړی لسېزې مخکې په پراخه کچه په پارس کې ګرځېدلی و، له شاه سره یې ملګرتیا جوړه کړې وه او پارسي ژبه یې ښه زده وه،[۶۰] خو فرېزر په هغه وخت کې په اېنورنېس کې د خپل ملکیت په ژغورنه بوخت و. هغه خپل کور ډېر پراخه کړی و چې پارسي شهزادګان ورسره شپې وکړي؛ نو اېلنبوره یو بل ناپېژندل شوی خو د پرمختګ لېوال ځوان وېشت کلن ژېړوه او د پاتېنګر لاس لاندې زده کړیال الکساندر برنز د دغه ډلې د مشرۍ له پاره خوښ کړ. د الکساندر ډالریمپل Alexander Dalrymple د ۱۷۸۳ کال د مشهور چارت راهیسې، الکساندر برنز د اباسین د خولې لمړنی نقشه کاږی و او د دې له پاره انعام هم ورکړل شو.

د شپږو میاشتو سمندري یون څخه وروسته د ۱۸۳۰ کال په دوبي کې، پنځه سپین خاله-خړ رنګه د بګۍ اسونه د بمبيي بندر ته ورسېدل. له شپږو اسونو څخه یوه اسپه د سمندر په لاره کې مړه شوه. پاتې پنځه، وروسته له دې چې د ماله بار Malabar د غونډیو په څرځایونو کې یې خپل سبک بېرته واخیست، دوی بیا د یوې لویې بګۍ په ګډون د لېږد له پاره د اباسین د خولې په لور په کښتۍ کې روان کړل شول. بندر ته د ننوتلو د اجازې اخیستلو په انتظار کې، یوې توپاني سیلۍ کښتیو ته سختې جټکې ورکړې چې د دوه کښتیو ستنې یې بې ځایه کړې او د درېیمې کښتۍ چې برنز په کې ناست و بادوان یې دوه ټوټې کړ. اسونو چې اوس له څپو سره بلد شوي و، څه زیان نه و لیدلی، خو بګۍ سخته زیانمنه شوې وه او له بیا جوړېدو وروسته هېڅ کله خپل لمړني حالت ته رانغله.[۶۱] دغه سمندري یون دوه ځله ستون شو، خو د سند امیرانو به د تېرېدو اجازه نه ورکوله؛ نو دوی به بېرته راوګرځېدل. وروسته له دې چې رنجیت سېنګ د سندي امیرانو پر ضد د انګرېزانو له خوا وپارول شو او ده امیرانو ته ځاځمن ګواښ وکړ، بلاخره کښتیو ته اړینه اجازه ورکړل شوه او د لاهور په لور ستنې شوې چې له دغه ځای څخه یې ۷۰۰ میله واټن درلود. د لارې په اوږدو کې به برنز په پټه د اوبغاړو او شاوخوا سیمو مفصل انځورونه کاږل او د سیمو د خلکو او سیاست په هکله یې نوټونه اخیستل. په عین وخت کې د برنز ملګرو په احتیاط د غړیزه الو په وسیله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـیند د ژوروالي او د قوې يا وزن پر وړاندې د توان اندازه اخيسـتله، د اوبو سـرعت يې اندازه کولو، په تفصـيل يې د بهانده اوبو چارټ جوړولو او نقشې يې کاږلې. د تمې خلاف د سيند د ژوروالي کچې وښوده چې سيند دومره ژور نه و چې لکه په ګنګا کې له انګوټونو څخه په کې کار واخيسـتل شـي؛ نو په دې هکله د الېنبوره نظريه له شـونتيا څخه لېرې وبرېښېده، خو دغه یون وښـوده چې په اباسين سيند کې هغه کښتۍ چې هوار تل ولري کولای شي تر لاهور پورې لاړې شي؛ نو غټې جالې کولای شي انګرېزي محصولات د سبک تر پلازمېنې ورسوي. وروسته به دغه مالونه د ځمکې له لارې افغانستان او منځنۍ اسيا ته ولېږدول شي، خو دلته يوازې سياسي خنډونه وو.

الکســـاندر برنز چې د دغـه ماموريت د مشـــر پـه توګـه ګمـارل شـــوی و، يو کلک، د لوی مورال خـاونـد او مخور برسکاټلنډی و. دی د مانټروز Montrose د ښاري شورا د مشر څلورم زوی و او پلن مخ، لوړه ټنډه، غټې ژورې سترګې او تجسـسـي خوله يې لرله چې د ده د پلټونکي او ظريف مزاج څرګندونه يې کوله. نوموړی په دغه ځانګړتياوو کې خپل د تره زوی رابي برنز Burnes Robbie ته ورته و.[۶۲]
د مانټروز په اکاډمۍ کې چېرته چې برنز او ورور يې زده کړې کړې وې، برنز په زړوره او بې باکه سرښندنه کې نوم درلود، خو له علمي اړخه يې کومه لاسـته راوړنه نه لرله. نوموړي په کلاسـيکه زده کړه کې له لوی الکسـاندر سـره ډېره مينه درلوده او همدغې مينې افغانستان او اباسين ته وهڅولو.[۶۳]
برنز له خپل مشر ورور جېمز سره په شپاړس کلنۍ کې هند ته لاړ او اوس په شپږويشت کلنۍ يې يوه لسيزه په هند کې تېره کړې وه او په ډاډمنه توګه يې په پاړسـي او هندي ژبو خبرې کولې. ده په نثر کې هم يوه واضـح او ژوندۍ بنه خپله کړې وه او په تـاريخ کې يې خپلې مينې تـه وده ورکړې وه. د ده لمړنۍ ليکنـه چې د «پـه اباســـين کې On the Indus» تر سـرليک لاندې وه، د بمبيي جغرافيوي ټولنې په خپرونه ' Transaction of the Bombay Geographical Society ' کې چاپ شوه چې د وخت د سياست په پرتله، ډېره د يوناني تاريخ په هکله وه.
لکه له ده څخه وروســـته د لوېې لوبې ډېر نور لوبغاړي، د برنز ځيرکتيا او په ژبه کې وړتيا ده ته په چټکۍ وده ورکړه. که څه هم دی د سـکاټلنډ په لېرې پرته برخه کې د څه نا څه منځني شـاليد څخه و، خو د خپلو بډايو او د ډېرو اړيکو درلودونکو هم پېرو په پرتله يې په لږ وخت کې لوړې رتبې تر لاسـه کړې. له ده سـره د ورور سـپارښـتنو او د دوی دواړو پراخه اړيکو چې په فري مېسنس Freemasons کې يې د خپل نومياليتوب له وجې ټينګې کړې وې، هم مرسته وکړه.*
ډنګر خو غښـتلی او په ونه اته فوټه او نهه اينچه برنز، يو د پرمختګ لېوال او هوډمن سـړی و چې په بېړني حالاتو کې د ارامه فکر خاوند و. د برنز ملګرو د ده خيالي انځور او فکري چټکتيا خوښـېده: يو ملګري يې ليکلي: «برنز پرېکنده،

*دا يو کتاب دی چې جېمز برنز James Burnes ليکلی «د مقدساتو اسوالو ساتونکو د تاريخ لنډه شرح (۱۸۴۰) (1840) A Sketch of the History of the Knight's templars«
چې په لمړي ځل د فري مېسن تړاو د دغه ساتونکو او الېنبوره ته څېرمه د روزلن کليسا سره ښيي. دغه کتاب د عامه شوو اپلتو لکه «مقدسې وينې Holy Blood، مقدسه پياله Grail Holy او دا وينچي کود The Vinci Code» د مردارۍ پلار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چابک، چټک پرېکړه کوونکی، واضح او د بصیرت خاوند و.» په دغه یون کې نوموړي له خپلې څېرکتیا او ټوکو څخه د کار اخیستنې لوی فرصت درلود، په ځانګړې توګه کله چې د پنجاب له پولې تېر شو او د ده باروړونکو اسونو د رنجیت سـېنګ د مامورینو په منځ کې یوه هنګامه جوړه کړه. برنز لیکلي: «د لمړي ځل له پاره له باروړونکي اس څخه د منډې او چارګام او د ټولو هغه ځانګړتیاوو تمه وشوه ، چې یو ګړندی ځاروی یې لري.»

برنز او ملګرو ته یې د ۱۸۳۱ کال د جولای په اتلسمه په ښه توګه هرکلی ووېل شـو. پر اسـونو سـپره د تشـریفاتو یوه ډله او یوه پلې لوا د دوی د ښـه راغلاسـت له پاره لېږل شـوي وو. برنز لیکلي: «له موږ څخه مخکې روان ګاډی ښـایسـته ښکارېده او د بار وړونکو اسونو شاته موږ پر پیلانو سواره وو او د مهاراجا د افسر سره تر هغه روان وو تر څو چې د ښـار له دېوالونو څخه تېر او لاهور ته د مانۍ له دروازې څخه ننوتو. د لارې په غاړه پر اسـونو سـپاره عسـکر، توپچي او پلي ځواکونه، کتار ولاړ وو او کله یې چې له څنګه تېرېدو، موږ ته به یې سـلامي یا رسـم تعظیم وکړ. د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره زیاته وه. دوی د کورونو په بالکونو کې په درناوي چوپ او ارامه ناسـت وو.» انګرېزي ډلې ته د مغول زرې کلا د باندنې انګړ له لارې، د ښـه راغلاسـت کوټې یا دیوان خاص ته چې دروازې یې د مرمر طاق درلود لارښـوونه وشـوه. برنز بیـا لیکلي: «زه ټیـټ شـــوم چې خپـل بوټ وبـاســـم، نـاڅـاپـه یو کوچنی زاړه ســـړي کلک پـه غېږ کې ونیوم.»[٦٤] دا د پنجاب زمری رنجیت سېنګ و. وروسته رنجیت سېنګ له برنز سره لاس په لاس دربار ته ننوت او ټول اعلحضرت ته مخامخ د سپینو زرو په څوکیو کښېناستل. رنجیت سېنګ دېرش کاله مخکې واک ته رسېدلی و. دا هغه وخت و چې له شاه زمان سره یې د هغه توپونو په خلاصون کې مرسته وکړه چې د جیلم د سیند په ختو کې بند پاتې وو او اوس د رنجیت سېنګ له جبري مېلمستیا څخه د ښار د لښتیو له لارې د شاه شجاع له تېښتې دیارلس کاله تېر شـوي وو. د همغه وخت راهیسې رنجیت سـېنګ د افغان کورنۍ جګړې له فرصـت څخه په کار اخیسـتنې، د اباسـین سـوبل ته د دارانې امپراتورۍ ډېرې سـیمې تر خپل واک لاندې راوسـتې او پر ځای یې یو شـتمن، ځواکمن، مرکزي او د ښـې ادارې دولت جوړ کړ. سـربېره پر دې چې نوموړي خپل پوځ ته روزنه ورکړه، خپله بېروکراسـي یې هم عصـري کړه او یوه غښتلې څارګره شبکه یې جوړه کړه چې کله کله به یې په لودیانه کې له وېډ سره راپورونه شریکول.

د انګرېزانو اړیکې په عمومي توګه له رنجیت سـېنګ سره ښې پیل شـوې وې، خو دوی هېڅ کله هېر نه کړل چې په هند کې وروسـتی ځواک چې کېدای شـي له کمپنۍ سره جګړه پیل کړي، د رنجنیت سـېنګ پوځ دی: د ۱۸۳۰ لسـېزې په بهیر کې انګرېزانو د بنګال پوځ کابو نیمه برخه چې شـمېر یې ۳۰۰۰۰ کسـانو ته رسـېدو، د پنجاب په پوله کې ځای پرځای کړې وه؛[٦٥] نو دا ډېره مهمه وه چې برنز له رنجیت سېنګ سره ښې اړیکې ټینګې کړي.

لاهور تـه د برنز لـه رســېدو څخـه یوازې څو میـاشــتې مخکې، فرانســوي ګرځـنـدوی وېکټور جخـه مون Victor Jacquemont د رنجیت ســېنګ په هکله په زړه پورې خبرې کړې وې. هغه رنجیت ســېنګ یو هوښــیار او جذاب تېرایسـتونکی انځور کړی - څومره چې رنجیت سـېنګ په خپلو خصـوصـي کړنو کې د کرکې وړ دی، همدومره په عامه کړنو کې د ګرانښـــت وړ دی. وېکټور لیکلي: «رنجیت ســـېنګ یو زوړ ګیدړ دی، که چېرې زه خپل تر ټولو دوکه باز دیپلومات ورســره پرتله کړم؛ نو زموږ دغه دیپلومات راته ډېر بې ګناه برېښـي. له ده ســره مجلس یو افت دی. هغه نږدې لمړنی هندي کنجکاو دی چې زه ورسـره مخ شـوی یم، خو د نوموړي دغه تجسـس له ده ســره د ټول ملت د بې پروایۍ جبران دی. هغه له ما څخه ســل زره پوښــتنې وکړې، د هند په هکله، د اروپا، د انګرېزانو، د ناپلیون او ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ په هکله او په عمومي توګه د ټولې نړۍ په هکله او بلې خواته د دوزخ او جنت، د روح، خدای، شـیطان او په زرګونو نورو څيزونو په هکله...» رنجيت سـېنګ خپه و چې اوس ده ته ښـځې دومره خوند نه شـي ورکولای لکه د بڼ ګلونه يې چې ورکوي.

رنجيت سـېنګ پرون غوښـتل د خپل خپګان وجه راته وښـيي. موږ د ټولو درباريانو تر منځ يا په بل عبارت په خلاص انګړ کې چې څو زره عسـکر رانه چاپېر وو، پر قالينه د پښـو په سـر ناسـت وو چې ناڅاپه دغه عشـقي بوډا هک او پک کړم. ده له حرم څخه پنځه ځوانې نجونې راوغوښتې او ورته وېې ويل چې ما ته مخامخ کښېني. بيا يې په خندا راڅخه وپوښتل چې زه د دوی په هکله څه فکر کوم. ما په پوره صداقت ورته وويل چې زما په اند دوی ډېرې ښايسته دي خو زما دغه خبرې زما د رښتيني اند يوې لسمې ته هم نه رسېدې.

له اس سـره د رنجيت سـېنګ نږدې لېونۍ مينې ته د جخه مون هم پام شـوی و. په ګاونډ ايالتونو کې رنجيت سـېنګ ګرانې او خونړۍ جګړې د هغه اسـونو د لاسـته راوړنې له پاره کړې وې چې د ده خوښ وو خو څېښـتنو يې نه غوښـتل چې خرڅ يې کړي... هغه يو بې شـرمه تېراېسـتونکی هم دی چې د خپلو ناولو کړنو داسې غورې کوي لکه زموږ په هېواد کې چې دريم هېنري Henri III کولې... رنجيت په وار وار د خپل ښه لاهوري رعيت په وړاندې له يوې مسلمانې فاحشې سره پر پيل سپور او بې حيايي به يې ورسره کوله...٦٦

برنز ته د جخه مون په څېر رنجيت سېنګ هم په زړه پورې وبرېښېد او دوی دواړه په لږ وخت کې کلک ملګري شول. برنز ليکلي: «هېڅکوک د مهاراجا ښې طبعې ته نه شي رسېدی. هغه زموږ سره په يونيم ساعته مرکه کې مجلس پرته له وقفې ګرم وساته: ده په ځانګړې توګه د اباسين سيند د ژوروالي او په کې د بېړۍ چلولو د شونتيا په هکله وپوښتل.» ورپسې يې د باربرۍ اسونو او بګۍ کتنه وکړه. د اسونو ننداري يې تعجب وپارولو او د دوی غټ والی او رنګ يې ډېر خوښ شو. کله يې چې اسونه يو پر بل پسې له مخې تېرېدل، رنجيت سېنګ وويل چې دوی واړه پيلان دي او نورو سردارانو او افسرانو ته يې غږ کړ چې خپله خوښي ورسره شريکه کړي.٦٧ دی دغه ډاليو او د اېلېنبوره ليک ته دومره خوشحاله و چې د توپچي ځواک شپيته توپونه يې ډزو ته چمتو او په هر توپ يې شل ځله ډزې وکړې چې د لاهور خلکو ته د خپل نوي متحد په هکله خپله خوښي څرګندنه کړي.

رنجيت سېنګ د دوو مياشتو له پاره برنز ته بېلابېلې سرګرمۍ برابرې کړې، د بازينګرو ګډا، پوځي تطبيقات، د هوسيو ښکار، د يادګاري ځلو ليدنه او مېلمستياوې. برنز حتی د رنجيت سېنګ د اومو الکولو ترخه کورني شراب وڅښل چې ترياک، د مرغلرو پوډر، مشک، غورمه او مسالې په کې ګډ کړل شوي وو. د دغه شرابو دوه پيالو تر ټولو لوی برتانوي شرابي چپه کولو، خو رنجيت سېنګ برنز ته د ده د اسهال د علاج له پاره د دغه شرابو سپارښتنه کوله. برنز او رنجيت سېنګ، يو سکاټلنډی او بل سيک پوه شول چې دوی د قوي شرابو په څښلو کې ګډه وجه لرله. برنز ليکلي: «رنجيت سېنګ له هره اړخه يو فوق العاده سړی دی. ما واورېدل چې فرانسويانو ويلي رنجيت سېنګ له قسطنطنيې څخه نيولې تر هند پورې ساری نه لري.»٦٨

رنجيټ سېنګ په وروستۍ ماښامنۍ کې برنز ته کوه نور وښود. برنز ليکلي: «سړی د دغه اعلی کاڼي په پرتله د بهتره څيز تصور نه شي کولی. بشپړ خالص الماس چې د نيمې هګۍ په اندازه غټ او درې نيمې روپۍ دروند دی. ما ته وويل شـول چې دغه الماس درې نيم ميليونه ارزښت لري.»٦٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسـته رنجیت سـېنګ برنز ته دوه بشـپړ جړاو• اسـونه ډالۍ کړل. پر اسـونو ګران بیه کشـمیري شـالونه پراته وو، په غاړو کې یې د عقیقو غاړکۍ وې او د ډینګ بنګې یې له تندي څخه پاس درولې وې. په داسې وخت کې چې برنز له رنجیت سېنګ څخه مننه کوله، د باربرۍ یو اس چې د چرمو زرین جالوغ• پرې اچول شوی او د پیل زین پرې ایښودل شوی و د رنجیټ سېنګ د معاینې له پاره د دوی له مخې تېر کړل شو.[۷۰]

برنز هم لکه رنجیت سـینګ ډېر جذابیت درلود چې په وار وار یې ډېر ترینګلي حالات بېرته سـم کړي وو. رنجیت سـېنګ چې معمولا هر چا ته یې د شک په سترګه کتل، له برنز سره د مخه ښې په ورځ یې لوی والي ته ولیکل: «د ارزښتمنو او مناسبو خبرو دغه مرغۍ له خوندور مجلس څخه او د فصاحت او بلاغت د بڼ بلبل سره مې له لیدو او ناستې ولاړې ډېر خوند واخیسـت.» وروسـته له دې چې لوی والي برنز ته صـلاحیت ورکړ چې افغانسـتان ته لاړ شـي، افغانان هم د برنز په لیدو خوښ وو: کله چې برنز د اباســین ســیند د افغان پولې پر رودغاړه کې پښــه کېښــوده، لمړني افغان قومي مشــر چې دی ورســره مخ شــو، ورته وویل چې نوموړی او ملګري یې دې هلته ځان داســې خوندي احســاس کړي لکه هګۍ چې له چرګې لاندې خوندي وي. یوه میاشـــت وروســـته برنز هم دغه مهربانۍ ته د ځواب په اړه خپلې مور ته په مانېزوز کې ولیکل: «ما د کابل له لیدو څخه مخکې فکر کولو چې پېښـور خوندور ځای و خو کابل په رښـتیا جنت دی... زه دوی ته د انګوټونو، پوځونو، کښـتیو، دارو او په اروپا کې د ټولو عجایبو په هکله خبرې کوم او دوی په بدل کې زما ذهن د خپل هېواد د دودونو، تاریخ، دولتي ارګانونو، سـوداګرۍ او ...په اړه روښـانه کوي.»[۷۱] برنز له دغو خلکو سـره «چې مهربانه او مېلمه پال دي، د رښتینې مینې احساس وکړ. دوی نه د عیسویانو او نه زموږ د ملت پر وړاندې تعصب درلود. کله به چې دوی له ما څخه پوښـتنه وکړه چې ایا زه د خنځیر غوښــه خورم، زه به په رښـتیا ولړزېدم او ورته وبه مې ویل چې یوازې کم اصـله خلک دغه کرکجن کار کوي. خدای د ما ته بښــنه وکړي ځکه زما بېکن* ډېر خوښــېږي او کله چې زه دغه کلیمه لیکم، خوله مې اوبه کوي.»

د برنز کابل خوښ و، د کابل خلک یې خوښ وو، د دوی له شـــاعرۍ او د کابل له منظرو څخه یې خوند اخیســـت او واکمنو ته یې په درنه سترګه کتل. ده خپل بارکزی کوربه، دوست محمد خان چې د ده یې تود هرکلی کړی و، د کابل په واکمنۍ کې د رفعت پر لور روان تر ټولو ګرندی بللی او په ډېره رښـــتینولۍ یې په خبرو اترو کې د هغه د ځلانده ذکاوت په اړه خبرې او په بالاحصـــار کې د هغه د مانۍ بڼ او مېوه لرونکو ونو د ښـــایســـت یادونې کړې دي؛[۷۲] نو که برنز، دوست محمد او افغانان ځان ته جذب کړل، دوی هم برنز ځان ته جذب کړی و.

• جړاو: په ګاڼو سمبال

•جالوغ: د اس د زین لاندې لمڅی

*د خنزیر د ملا او یا څنګونو نیمه وچه یا مالګینه او یا په لوګي وهل شوې غوښه. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پر یو کس چې د برنز جذابیت اثر نه کولو، د شاه شجاع ساتونکی او د لودیانې د څارګرې ادارې مشر کلاډ وېډ و چې هېڅ کله یې څوک د خپل صلاحیت په حریم کې نه خوښېدل او دغه حریم یې داسې ساتلو لکه د کوچیانو سپی چې خپله کاسه ساتي. وېډ دا نه شو زغملی چې لوړ موقف ته د رسېدو یو ځوویشت کلن ځوان له ده څخه مخکې شي او د افغانستان په اړه د لوی والي غوره سلاکار شي. که څه هم د الهنبوره مکتوب د وېډ واک زیات کړ او په همالیا کې یې د څارګریزو مالوماتو د راټولولو له پاره نور اجنټان او سرچینې ورزیاتې کړې، خو نوموړي د وېډ د مسوولیت په سیمه کې هم د داسې عملیاتو امر ورکړ چې نه یوازې وېډ پرې هېڅ کنټرول نه درلود بلکې په بوج کې د ده د سیال، پاټېنګر پر ابجنسۍ تړلي وو او له سیال ولایت، بمبیې څخه رهبري کېدل. وېډ پوه شو چې برنز د ده موقف ته یو لوی ګواښ دی او کله چې له کابل څخه د برنز د راپورونو شمېر زیاتېده او څرنګوالی یې ښه کېده، مخکې له دې چې دغه راپورونه د لودیانې له لارې اړونده ادارو ته ولېږل شي، وېډ به لوستل او ملنډېزه او امرانه تبصرې به یې پرې کولې. که به یې په راپورونو کې کومه تېروتنه ترسترګو شوه، ده به په ډېره خوښۍ په ګوتو کوله.[۷۳]

وېډ پوهېده چې دی یوازې د مېز تر شاه افغانستان پوه دی او افغانستان یې هېڅ کله نه دی لیدلی، خو کله چې د انګرېزي ګټو په هکله د نوموړي د ابجنسۍ موندنې د ده د ځیرک او ځوان سیال، برنز له پایلو سره توپیر درلود، زړه یې نور هم وپړسېد. وېډ رنجیت سېنګ ته تل په شمالي هند کې د کمپنۍ د اصلي متحد په سترګه کتل او په کلکه یې باور درلود چې سېکان په سیمه کې تر ټولو ځواکمن پوځ لري. وېډ د ۱۸۲۰ مې لسیزې په بهیر کې ډېر وخت د سېکانو په دربار کې تېر کړی و؛ نو په حقیقت کې نږدې و چې د دوی د داعیې پلوی شي. په دې هکله د نوموړي مشران پوه او اندېښمن وو. نوموړي له افغانستان سره دومره ناټ نه درلود. له هغه څه نه یې کرکه درلوده چې د دوست محمد په هکله یې اورېدل او په لودیانه کې یې خپل ګاونډی او ملګری، شاه شجاع که چېرې اړتیا ورته پیدا شوه، په کابل کې د انګرېزانو د بالقوه ګوډاګي په څېر په خپل ذهن کې انځورولو.

خو د وېډ اند له بدلېدونکو حقایقو شاته پاتې و. د تخت د بېرته نیولو له پاره د شاه شجاع د ورستۍ ناکامې هڅې راهیسې، شاه محمود مړ شوی و او افغانستان کابو په بشپړه توګه د بارکزي ورونو تر واکمنۍ لاندې راغلی و. یوازې په هرات کې د شاه محمود زوی، شهزاده کامران د سدوزیو مورچل ساتلو، خو وېډ د شاه شجاع په څېر بارکرزیو ته د ځانپاله او بې اصوله زورواکانو په سترګه کتل. برنز چې په تازه سترګو دغه موضوعګانو ته کتل، بل نظر درلود. له رنجیت سېنګ سره له مخه ښې وروسته او مخکې له دې چې افغانستان ته لاړ شي، برنز لودیانې ته د لوی والي د لیدو له پاره لاړ او هلته یې د شاه شجاع له دربار څخه هم لیدنه وکړه، خو د شاه شجاع په لیدنه دومره مثبت اغېزمن نه شو، که څه هم نوموړي ورته ویلي وو:«که ما په افغانستان کې خپله پاچاهي درلودی، زه به په کابل کې د یو انګرېز په لیدو ډېر خوښ وای او د کابل او هند تر منځ به مې لاره جوړه کړې وای.» خو برنز قناعت ونه کړ او په یو لیک کې یې لیکلي وو: «زه باور نه لرم چې شجاع تخت ته د رسېدو پوره وس ولري او که خپل تخت ترلاسه هم کړي، هغه دومره وړتیا نه لري چې د داسې سختو حالاتو تر عهدې ووځي.» برنز په خپل ډېر خرڅ شوي کتاب «په بخارا کې یونونه» چې خپل راپورونه یې په کې په یون لیک اړولي وو، بیا په عین موضوع کې داسې لیکلي: «په شجاع الملک کې د پاچاهۍ وړتیا هر وخت شکمنه ښکارېده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه چلند او خبرې په رښـتیا ډېرې سـیقل شـوي دي، خو قضـاوت یې له منځنۍ کچې څخه اوچت نه دی. که دغه خبره برعکس وای، مخکې له دې چې پنځوس کلن شـي، اوس به یې پرته له کومې هیلې چې په تخت به بیا کښېني، له شـلو کلونو راهیسـې له خپل هېواد او خپل تخت څخه لیرې په تبعید کې ژوند نه کولای... د دغه کورنۍ بشـپړ زوال د وروسـتیو پاچاهانو د بې ځایه ویاړ او غرور له کبله دی چې اوس افغانان د دوی په زوال هېڅ خواخوږي نه ښيي. شـجاع به بې اړنګه خپل تخت بیا ترلاسـه کړی وای، خو مخکې له دې چې خپل واک مضـبوط کړي، په بیړه یې د یو ځواکمن پاچا له کړنو او صـلاحیتونو څخه کار واخیسـت. افغانان د یو واکمن کس پر وړاندې خپل د حسـد احسـاس نه شـي پټولی: په تېرو دېرشـو کلونو کې څوک په خپل مرګ مړه شـوي دي؟ دوی هغه وخت خوشحاله دي چې د یو مطلق واکمن تر واکمنۍ لاندې ژوند وکړي او یا په ډېرو جمهوریتونو ووېشل شي.[۷۴]

برنز په کابل کې یو مطلق واکمن وموند. هغه د خپل یون په بهیر کې ټول بارکزي وروڼه ولیدل، خو ده ته بې اړنګه دوست محمد خان تر ټولو اغېزمن ښکاره شو. دوست محمد اوس د کابل او غزني مطلق واکمن و او د خپل کم عمر او د وروڼو د حسادت برعکس، د خپلې کورنۍ د مشر په توګه د پېژندنې په درشل کې و. برنز په وضاحت د دوست محمد خان ستاینه کړې: هغه په خپل یون لیک کې لیکلي: «یوه یوني ته د دوست محمد نومیالیتوب مخکې له دې چې هېواد ته یې د ننه شي څرګند شو.»

هېڅوک د داسې کرکټر لیاقت نه لري چې دوسـت محمد خپل کړی. هغه ورځنیو چارو ته په بشـپړ ډول پاملرنه کوي او هره ورځ په قضايي او اداري ودانۍ کې حاضر وي...دغسې کړنې د خلکو ډېرې خوښېږي. نوموړی سوداګرې ډېره هڅوي او ټولې پرکښې د ده د عدل سـتاینه کوي: بزګران د اسـتبداد له نه شـتون څخه خوند اخلي، وګړي د خپلو کورونو د خوندیتوب په هکله اندېښـنه نه لري، سوداګر د پرېکړو په مساواتو او د دوی د شتمنیو له ساتنې څخه خوښ او عسکر د منظمې او پر وخت تنخوا په ترلاسه کولو راضي دي. له دې نه زیاته د یو واکمن ستاینه نه شي کېدای. دوست محمد تر اوسه څلوېښت کلن نه دی. مور یې [قزلباشه] پاړسیوانه وه او همدغه خلکو روزنه ورکړې چې پوهه او درک یې د نورو وروڼو په پرتله تېز شـو. سـړی د نوموړي د پوهې، ځیرکتیا او کنجکاوۍ او همدا راز د هغه له چلند او خبرو څخه اغېزمن کېږي. دی بې اړنګه په افغانسـتان کې تر ټولو ځواکمن مشـر دی او په داسې وړتیا او توان چې دی یې لري، کېدای شي په خپل هېواد کې لا زیات پرمختګ وکړي.[۷۵]

برنز لیکلي چې ده اورېدلي دوست محمد په زلمیتوب کې وحشي او عیاش و، خو کله چې د واک څېښتن شو، خپل ځان یې اصلاح کړ. د شراب څښل یې پرېښـودل، لوست او لیک یې زده کړل او پرهېزګاري او په جامه او چلند کې یې ساده ګي خپله کړه. هر چا کولای شـول چې له ده سـره وګوري او د عدالت غوښـتنه وکړي. برنز نه یوازې له دوسـت څخه کلک اغېزمن شـوی و، بلکې نوموړی یې په افغانسـتان کې د انګرېزانو د نفوذ تر ټولو ښـه شـونی بدیل ګڼلو. د هغه په اند د سـدوزیو وخت نور تېر و او دا چې دوسـت محمد د انګرېزانو خوا ته ګروهنه درلوده؛ نو پرته له دې چې له عامه بودیجې څخه لوی لګښـت وشي، له ده سره د یو ائتلاف جوړول شـوني وو.[۷۶] دغه سـتراتیژۍ په رادیکاله توګه له هغه سـتراتیژۍ څخه توپیر درلود چې وېډ کلکتې ته وړاندې کړې وه. اوس وېډ دوه خوبنـې درلودې، لمړی دا چې د دغه ځوان نظر ومني، چې په سـیمه کې یې لږ وخت تېر کړی و خو د ده برعکس، کابل یې لیدلی و او دویم دا چې د سـیمې په اړه د شل کلنې پوهې د خاوند په توګه په خپل دریځ ولاړ پاتې شي او په سیمه کې د انګرېزانو تر ټولو ښې شتمنۍ په توګه، د شاه شجاع ملاتړ ته دوام ورکړي. وېډ دویمه خوښـه غوره کړه او په داسې حال کې چې برنز لا په کابل کې و، د ۱۸۳۲ کال د مې په میاشـت کې یې داسې ولیکل: «خلک له جګړې او ډلو څخه سـتړي دي. دوی د پخوانۍ [سـدوزي] واکمنۍ د بیا جوړونې هیله کوي او دا د ارامۍ یوازېنۍ لاره ګڼي.»[۷۷] دغه خبرو د برنز له راپورونو سـره چې له کابل څخه یې لېږل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـمون نه درلود. وېږ خپله قضیـه جوړه کړه او په دې ډاډمن شـو چې دلایل به یې په کلکته کې ومنل شـي، خو مخکې له دې چې د دغه قضـیې پر وړاندې کولو پیل وکړي، ده تر هغه وخته صـبر وکړ تر څو چې له کابل څخه د شـمال په لور پر هندوکش د تېرېدو لارې له پوځي اړخه وڅېړي.

د افغانستان په لوېدیځ کې پېښو له وېږ سره مرسته وکړه. پارسیانو د سدوزیو د ورستي پاتې مورچل هرات، کلابندي نږدې بشـپړه کړې وه. لکه څنګه چې انګرېزانو په ۱۸۲۶ - ۱۸۲۷ مو کلنو کې له پارسـیانو سـره د روسـانو پر ضـد جګړه کې مرسته ونه کړه او ویې نه غوښـتل چې له روسـانو سـره په مخامخ جګړه کې د ایران په ګټه ښکېل شي، پارسـیانو دا بهتره وګڼله چې روسـانو ته غېږه خلاصـه کړي. اوس پارسـیانو د هرات د بیا نیولو پلان درلود او په کلکته کې سـتراتیژي جوړوونکو ګمان کولو چې دا په اصـل کې د پارس په نوم د روســانو نوښــت دی او د تزاري هغه پلان یوه برخه ده چې غوښــتل یې له افغانســتان څخه د خپل پرمختګ له پاره د اډې په څېر کار واخلي: پنځه کاله مخکې د تړون یوې مادې ســن پیټرزبورګ ته حق ورکولو چې که پارس کوم وخت هرات تر خپل واک لاندې راولي، روســان کولی شــی خپله قونســولګري هلته پرانیزي، خو په حقیقت کې د انګرېزانو دغه وېره بېځایه وه - په ۱۸۳۲ کال کې روســانو حتی هڅه وکړه چې د پارس شــهزاده عباس میرزا قـانع کړي چې پر هرات یرغل ونه کړي، خو وېږ لـه دغـه وېرې څخـه پـه کار اخیستنې لوی والي ته ولیکل چې د خلکو باور پر داسې نظریه چې په دې کار کې روسان لاس لري مخ په زیاتېدو دی ... [78]

که چېرې په دې هکله څه ونه شي او شجاع بېرته پر تخت کښـېنول نه شي، روسـیه به هرات ونیسـي او له هغه څخه به د خپلې اډې په څېر کار واخلي چې پر هند یرغل وکړي. د لیک سـربېره، وېږ د شـاه شـجاع په لاس یو لیکلی سـند چې شـجاع په کې له انګرېزانو څخه په افغانسـتان کې د روسـانو د لاسـوهنې پر وړاندې مرسـته غوښـتې وه، لوی والي ته ولېږه. شـاه شـجاع ورته لیکلي وو چې اوس یې له رنجیت سـېنګ سـره کینه له زړه ایسـتلې ده او حاضـر دی چې د پارس او روس د ګواښ پر ضد په افغانستان کې د مقاومت مشري وکړي. رنجیت سېنګ به پر پېښور یو انحرافي یرغل وکړي او په عین وخت کې به د ده خپل ځواکونه د سوېل له لارې کندهار کلابند کړي. شجاع د خپلې لیکنې په دوام کې داسې لیکلي وو: «زما د هېواد فتحه یو اسـانه کار دی. زه ډاډه یم چې زه به په افغانسـتان کې په شـپږ لکه روپیو بیا واک تر لاسـه کړم... افغانان زما د راتګ هیله کوي، پر ما به راټول شي او بل هېڅ مشـر به ونه مني... او بارکزي داسې خلک نه دي چې افغانان یې تر شـا ودرېږي... که زه حتی دوه درې لکه پور پیدا کړم، زه باور لرم چې زه به خپلې موخې ته ورسـېږم».[79]

ویلیم فرېزر د ۱۸۳۲ کال د ډسمبر په لمړۍ نېټه چې لږ موده مخکې د انګرېزانو په ډهلي نمایندګۍ کې ګمارل شـوی و، د خپلو اجنټانو له خوا راپورونه تر لاسه کړل چې افغانان په ښار کې په لویه پیمانه وسلې او مهمات پېري. دا څرګندنه نه وه چې دغه پېرودنه مشــروع او د څه له پاره وه؛ نو فرېزر پېرودونکي ونیول او څه یې چې پېرودلي وو ورڅخه ضــبط کړل. وروسته یې کلکتې ته ولیکل چې له دوی سره څه وکړي.[80]

(c) ketabton.com: The Digital Library



فریزر ته له لوی والي لارډ بېن ټېنګ Lord Bentinck څخه نېغ ځواب راغی چې دغه پېرودونکي د شـاه شـجاع اجنټان دي. دوی ډهلي ته لېږل شـوي چې دان پور ټوپک، مهمات، یونیفورم، بکری•، نښـانونه، او د کارتوسـو کڅوړې وپېرې چې خپله پاچاهي بېرته ونیسي. دا ټول د لوی والي په پټه خوښه او مرسته ترسره شول او شجاع د بېن ټېنګ په پټه خو نېغه منظوری د یرغل له پاره تابیا پیل کړه.

د ۱۸۲۸ کال په وروسـتیو کې لوی والي له شـاه شـجاع سـره حتی د لیدو غوښـتنې رد کړې وې، خو اوس هرات ته د پارسـیانو ګواښ او د روسـانو پر وړاندې د الېنبوره د مقاومت هوډ سـیاسـي ارزونې بدلې کړې وې. بېن ټېنګ امر وکړ چې د انګرېزانو رسـمي دریځ به ناپېیلتوب وي، خو له شـاه شـجاع سـره به په پټه مرسـته کېږي او د څلورو میاشـتو میاشتنی خرځ دې چې په ټوله کې ۱۶۰۰۰۰ روپۍ کېږي مخکې له مخکې ورکړل شي.[81]

په عین میاشت کې او په داسې حال کې چې بېن ټېنګ دوستانه لیکونه دوست محمد ته لېږل او نه یوازې له هغه څخه یې د برنز د مېلمه پالنې له پاره مننه کوله بلکې د دغه دولتونو تر منځ یې د ملګرتیا او اتحاد د جوړونې په هکله خپله ژوره هیله څرګندوله، د بېن ټېنګ نوي سکرتر، وېلیم مېکناټن په پټه فرېزر ته دستور ورکړ چې نه یوازې د شاه شجاع د وسلو پېرودونکي له زندان څخه ازاد کړي بلکې په ډهلي کې د دوی ټول پېرودي توکي د ګمرک له تعروفو څخه معاف کړي؛ نو په دې توګه به د بارکزي دولت پر ضد د سدوزي انقلاب سره مرسته وشي.[82]

مېکناټن چې د دغه پټو عملیاتو تر شـا و، د السـټر Ulster یو په کتاب مین روڼ اندی، ختیځپوه او پخوانی قاضـي و چې له محکمې څخه یې د کمپنۍ د بیروکراسـۍ مشـرتابه ته وده کړې وه. په پیل کې مېکناټن د هنري رسـل Henry Russell د سکرتر په توګه کار کولو. هنري رسل په حیدراباد کې د انګرابزانو یو ښوی او ځانپال مشر و. مېکناټن ته د ده د هوښـیارۍ په وجه ډېر درناوی کېده، خو ډېرو د ده د خانتما لېونتوب نه خوښـېدو او نورو به د دغه «اداري کارکوونکي یا تل د مېزشاته ناست سړي» د والي سکرتر او سټر سلاکار څوکۍ ته وړتیا تر پوښتنې لاندې راوستله، خو مېکناټن په خپلو وړتیاوو کې هېڅ اړنګ نه درلود او د سیاسي توطیو او دسیسو جوړولو د استعداد خیالونه یې پالل. هغه د افغانستان په هکله دومره پوهه نه درلوده لکه څومره یې چې باور درلود که څه هم د دغه سیمې څېرمو ځایونو ته هم نه و تللی. د ده ټولو مالوماتو د وېړ د اجنټانو د راپورونو له لوسـتلو څخه سـرچینه اخیسـته. کېدای شـي مېکناټن هم لکه وېړ د برنز په چټکه وده حسـادت کولو. لکه یو زېرېدلی بیوروکرات، د مېکناټن هر وخت دا غوښـتنه وه چې هر څه باید پروټوکول ته په پام سره ترسره شي او د برنز دغه وړتیا یې نه خوښېده چې خپل غږ په نېغه د لوی والي غوږ او د لندن کابینې ته پرته د معموله چینلونو ورسوي. ده وېړ هم له ډېرو کلونو راهیسې پېژندلو او لکه وېړ په خپل قضاوت یې باور درلود او د خپل فکر او کار دودیزه بڼه یې خوښېده.

په دې توګه په خطرناک ډول د افغانسـتان له پاره د انګرېزانو یوه متناقضـه او دوه مخې پالیسـي وزېږېده. برنز له دوست محمد او بارکزیو سره د دوستۍ پیلامه جوړوله، خو د دولت یو بل مټ په پټه د دوی پر ضد د یو پاځون ملاتړ کولو. لکه څنګه چې وخت وښوده دغه تګلاره نه یوازې دوه مخې او غولوونکې وه بلکې د داسې مصیبت لاربښونه وه چې د پېښېدو سیلۍ یې ډېر ژر د هر ښکېل کس په مخ ولګېده.

---

• بکری: یو ډول تېره چې له بلې تیزې سره په موښولو سپرغۍ بادوي او اور پرې لګول کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه شجاع له خپلې مخکنۍ هڅې څخه لس کاله وروسته، خپل خلک د ډهلي په نویو وسلو سمبال کړل او د ۱۸۳۳ کال د جنورۍ په اته ویشتمه، د یوې ورې اسوالې قوې په سر کې له لودیانې څخه ستون شو. هغه د خراسان تخت د بیا ترلاســـه کولو له پاره د خپلې دریېمې هڅې په بریا ډاډمن و او په خپل یادښــت کتاب کې یې لیکلي: «ما هېڅ کله د ستونزو او سختیو په زغملو کې د خپل سلطنت د بیا ترلاسه کولو له پاره اړنګ ونه کړ.»

د درد یوه خزانه انعام دی

خو د دغه خزانې کلی له الله سره ده

تر هغه وخته چې ژوند او اس شته، پرې سپور شه اې شجاع

هېڅ کله هیله له لاسه مه ورکوه چې اس ملونی• کړې

که د سل ځله زړه مات شي

بیا هم دوام ورکړه اې شجاع

د خدای په مهربانۍ او عظمت سپور شه

ځکه چې خدای ته هېڅ شی ناشوني نه دي[۸۳]

شاه شجاع د وېلیم کمبل William Campbell په نوم یو تکړه او هوډمن انګرېز اصله هندي وګماره چې د ده عسکرو ته روزنه ورکړي او مشري یې وکړي. د شجاع لمړی منزل بیا د پنجاب او سند په پوله د شکارپور مالي مرکز و. انګرېزانو شجاع ته یوازې د هغه پیسو یوه کوچنۍ برخه ورکړې وه چې ده ورته د جګړې له پاره اړتیا لرله. دا ځل هغه هوډمن و چې دومره بې رحمه به وي لکه څومره چې ورته اړتیا وي چې بیا ناکام نه شي؛ نو څنګه چې د انګرېزانو له خاورې ووت، خپل دغه نیت یې ثابت کړ. هغه د یو تجارتي کاروان مخه ونیوه چې د ســند په لور روان و او مالونه یې ترې واخیستل.[۸۴] اوس چې شاه شجاع پیسې پیدا کړې، ملاتړي یې په چټکۍ په ډېرېدو شول.

وېډ چې د شجاع په لښکر پسې له لیرې روان و، د شاه شجاع د پرمختګ په هکله یې خوشبینه راپورونه لېږل. هغه لیکلي وو: «شجاع اوس د معززو خلکو ۳۰۰۰ کسه راټول کړي، څلور خوځنده سپاره توپونه لري او دوه لکه روپۍ یې په خزانه کې دي.» وېډ باور درلود چې دا ځل د شاه په بریا کې اړنګ ډېر لږ دی او پرته له دې چې د چا نوم یاد کړي، ده د برنز پر هغه اند چې بارکزي په افغانانو کې ګرانښــت لري، مســخرې کولې. نوموړي لیکلي: «هغه اروپایان چې په دې وروســتیو کې یې په افغانســتان کې یونونه کړي، په دې اند دي چې افغانان د خپل پخواني پاچا د بیا راتګ په اړه، که مخالف نه دي، لږترلږه بې پروا خو دي، خو دا باید په پام کې ونیول شــي چې دغه مســافر د واکمنې کورنۍ [بارکزي] مېلمانه او اشنایان دي او واکمنه کورنۍ هم د دوی په خوښ ساتلو غواړي د دوی اند د ځان په ګټه بدل کړي.»[۸۵]

شجاع د مې میاشتې په نیمایي کې له اباسین څخه تېر شو او پرته له کوم مخالفت څخه شکارپور ته ننوت. ورپسې یې د شکارپور له بانکرانو څخه مالیه ټوله کړه، خپل صندوقونه یې د دوی له پیسو څخه ډک کړل او د عسکرو روزنه یې

• ملونه:قېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل کړه. شپږ میاشتې وروسته د ۱۸۳۴ کال د جنوری په نهمه د کمبل عسکرو د بلوڅانو یو یرغل شاته وتمباوه. د بلوڅانو دغه لښکر د سند امیر لېږلی و چې شاه شجاع ونیسي. میرزا عطا په دې هکله لیکلي: «د بلوڅانو یوې ډلې د تورې سره په نڅا جګړه پیل کړه.»

دوی په خپلو تورو د شاهي پوځ ډېر سرونه غوڅ کړل او د جګړې نغارې یې تر خپلې وژنې پورې وهلې، خو افسوس د دوی تکتیکي ناپوهی ته! دوی د جګړې په منځ کې له خپلو اسونو څخه ښکته شول او په داسې حال کې چې تورې یې ګډولې او پېریانو غوندې چیغې یې وهلې، په پښو یې غونډۍ ته په منډه پیل وکړ. مخکې له دې چې د غونډۍ سر ته ورسېږي، د دښمن ګولیو به په ځمکه وغورځول؛ نو په دې توګه ډېر پیاوړي او کمزوري بلوڅان مړه شول او د ژوند درمند یې د نابودي باد یووړ.

کله چې شاه شجاع د دوی له ماتې خبر شو، امر یې وکړ چې هېڅوک باید پرې نه ښودل شي چې له سیند څخه تېر شي او ټولې کښتۍ یې باید ضبط شي؛ نو بلوڅان چې د اور او اوبو تر منځ بند پاتې شول، وار یې خطا شو. هغوی چې قوماندان ته یې د بېرته ورتګ جرات نه درلود، ځانونه یې سیند ته واچول، ډېرو یې د ډوبېدو په حال کې مانو ګانو ته د ژغورنې چیغې وهلې او نورو یې خپل اسونه تر لکۍ نیولي و تر هغه چې دوی له اسونو سره یو ځای اوبو یووړل.[۸۶]

شاه شجاع ته اوس بریا، بریا زېږوله. کله چې یوه میاشت وروسته د شمال په لور ستون شو، د نوموړي د پوځ شمېر دېرش زره کسانو ته ورسېد او شجاع هم ښه روحیه درلوده. هغه په خپل یادښت کتاب کې لیکلي: «کله چې د خپل پوځ ګڼ شمېر ته ګورم؛ نو دا پوښتنه راته پیدا شي چې کوم پاچا به داسې لوی پوځ کوم وخت تر خپل توغ لاندې درلود؟ او که یې درلود؛ نو داسې څوک به وو چې د هغه پر وړاندې ودرېږي؟»[۸۷] شاه شجاع د سند امیر ته چې تر اوسه یې د ده پر ضد د نوي پوځ د جوړولو هڅه کوله، یوه ځانباوره ننګونه ولېږه: «لعنتي سپیانو، ان شاءالله زه به داسې سبق درکړم چې ټولې نړۍ ته یوه بېلګه پاتې شي. د لېوني سپي سره یوازېنی چلند د هغه په غاړه کې د رسۍ اچول دي. که غواړې چې پر موږ برید وکړې؛ نو د ټول ځواک سره دې راځه. زه له تا وېره نه لرم. هر څه د خدای په رضا کېږي. ملک به د فاتح په نصیب شي.»[۸۸]

د اپریل په میاشت کې شجاع خپل لښکر د بولان د غاښي په لور روان کړ او له هوکړې سره سم، رنجیت سېنګ له خپل خالصه پوځ سره له لاهور څخه د شمال لوېدیځ په لور روان شو چې په اټک کې له اباسین څخه تېر او پر پېښور انحرافي برید وکړي. د بارکزیو عسکر چې اوس په دوه جبهوووېشل شول، په یوه جبهه کې یې هم اغېزمن مقاومت نه شو کولای. بلاخره اوس شاه شجاع ته هر څه له پلان سره سم روان وو. هغه د بریا په ژبه چې خپله خوشحالي یې نه شوی پټولی او د سند د امیر په هکله یې ملنډې وهلې، وېې ته ولیکل: «دغه لنډورو• خلکو هېر کړي چې زه د خدای له ځانګړې ساتنې لاندې یم.» او خوشبیني یې څرګنده کړه چې د بارکزیو پر ضد یې بریا نږدې ده: «د خدای په خوښه، بریا به زما پر مخ خپلو دروازو پرانیستلو ته دوام ورکړي.»[۸۹]

خو د ۱۸۳۴ کال د مې په میاشت کې کله چې د شجاع پوځ بلاخره د کندهار رغیانو• ته ورسېد، د ده بخت بیا په چپه کېدو شو. بارکزیو د شجاع د برید پر وړاندې د تیاري له پاره ډېر وخت درلود. کله چې د هغه پوځ د ښار دېوالونو ته ورسېد، بارکزیو خپل اکمالات پوره کړي وو او د ښار دفاعي پوځ د یوې اوږدې کلابندۍ پر وړاندې د مقاومت له پاره

---

• لنډور: لنډ فکر

• رغیانه: په دښته کې هغه ځای چې څو ونې او اوبه ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمتو و. سـربېره پر دې، د شـجاع پوځ په جنګي کلابندۍ کې لږ تجربه لرله او دوی نه یوازې دومره روزل شـوي نه وو بلکې پوره توپچي ځواک او نور وســـایل یې نه درلودل چې د ښـــار پر دېوالونو وروخېژي. میرزا عطا لیکلي: «کلابند کوونکو ځواکونو پر ښار باندې د ډېرو مرګ ژوبلو په زغملو یو ناکامه برید وکړ.»

دوی هڅه وکړه چې په زینه پر دېوالونه وروخېژي؛ نو په پټه او بشـپړه چوپتیا یې زینې په تیاره کې د دېوالونو تر بېخه ورسـولې او تم وو چې څارونکي ویده شـي څو دوی یې خلع سـلاح کړي او بیا به پر کلا یرغل وکړي. خو خوب لمرۍ په شـاهي کلابند کوونکو لاس بری شـو...شـاه تر لمر خاته پورې ناکراره د یرغل د پیل خبر ته تم و، خو چې له کلا څخه یې د چیغو او هیاهوی غږ تر غوږ نه شـو؛ نو د ویښـېدنې توپ د ډز له پاره یې امر وکړ. کلابند کوونکي ناڅاپه له خوب څخه ویښ شـول او ګوري چې لمر په ختو دی. د کلا سـاتونکي له خوب څخه ویښ شـوي وو او د خطر زنګ یې ووهلو، خو د اعلحضـرت له ډاره کلابند کوونکو یرغل ته مخ کړ، زینې یې پر دېوالو ودرولې او پر دېوال ختل یې پیل کړل. پر دوی باندې سـمدلاسـه د ډزو داسـې باران پیل شـو چې دوی یې د ژوند له زینې څخه د مرګ لښتي ته غورځول.[۹۰]

دوه میاشتې وروسته چې کلابندي له بندښت سره مخ شـوه او دواړه لوري په خپلو ځایونو کې کلک ولاړ وو، د دوسـت محمد په هکله خبر راورسـېد چې له شـل زره بارکزیو سـره راروان دی چې د خپل میرني ورور سـره د کلابندۍ په ماتولو کې مرسته وکړي. که څه هم د پوځ د شمېر له پلوه شجاع برلاسی و- ځینې اټکلونه د نوموړي د پوځ شمېر اتیا زره ښيي - ده اندېښـنه لرله چې دوسـت محمد به د ده پر پوځ اوبه بندې کړي؛ نو نوموړي خپل پوځ د ښـار دېوال ته مخامخ له خوندي موضع څخه شمال سوېل ته وخوځولو او د ارغنداب په سیندغاړه باغونو کې چېرته چې اوبه پرېمانه وې ځای پر ځای شـو. دوسـت محمد چې دا خبر واورېد، یوازې په اس سـپور شـو څو په خپله د دغه خبرې پخلی وکړي. میرزا عطا په دې هکله لیکلي: «کله چې پر دوسـت باندې د دغه شـاتګ باد ولګېد، له خپل ښـه بخت څخه خوښ شـو او په بدله څېره ستون شـو څو په خپله د دغه اوازې پخلی وکړي.»

دی چې هلته ورسـېد، ګوري چې شـاهي عسکر په دې فکر چې د کابل لښـکر تر اوسـه په میلونو لیرې دی، له سـیوري لاندې پراته دي؛ نو بیا دوسـت محمد یوازې خپل درې زره تکړه عسـکر ځان سـره په چټکۍ بېرته راوسـتل او په باغونو کې خپاره شـاهي عسـکر یې تر برید لاندې ونیول. د سختې جګړې په بهیر کې شـیخ شـاه اغاسي چې د دوست محمد په دستور څو ورځې مخکې شـاه شجاع ته اوښـتی و، چیغه ګډه کړه: «پاچا وتښـتېد، پاچا وتښـتېد.» او ورپسې یې له دغې جوړې کړې سربدالۍ څخه په کار اخیستنې، د شـاهي پوځ د ننه په برېد پیل وکړ. د شجاع عسکر د ماتې د چیغې په اورېدو او د شېخ د لوټماری په لیدو هک پک شـول. په داسې حال کې چې د توپونو او ټوپکو لوګی اسـمان ته جګېدلو، کمبل او بلوک یې په ټینګه له خپلو مورچلونو څخه دفاع کوله، خو د کابل ځوانانو هېڅ وېره نه درلوده... او د توپ پر موضـع یې ورمنډه کړې، کمبل یې ټپي کړ او بیا یې ژوندی ونیو او ټوله توپخانه یې تر خپل واک لاندې راوسـتله. د شجاع پوځ اوس وارخطا شـو. هر چا تېښتې ته مخ کړ. پوځ هرې خواته په دښـتو او غونډیو کې ورک شـو. شجاع چې دغه حال ولید، پرته له تېښتې یې بله چاره نه لرله او دی هم وتښـتېد.[۹۱]

یوځل بیا شـجاع شـاتګ ته اړ شـو. د کندهار په باغونو کې هرې خواته د پرتو توکو په منځ کې چې د دوسـت محمد د پوځ لاس ته ورغلي وو، د وېډ داســې ملاتړلیکونه هم وو چې په دغه ناکامه کودتا کې یې د انګرېزانو لاس ثبوتولو. وېډ هڅه کوله چې دغه پایلې ته یوه ښـه وجه پیدا کړي او ویل یې چې د دغسې پایلې هېڅا وړاندوینه نه شـوای کولای، خو اوس ډېر داســې برېښــیدل چې د بارګزیو د ګرانښـــت او اغېزمنتیا په هکله د برنز خبرو حقیقت درلود او وېډ له ډېر وخت راهیسې د یو پرله پسې بایلونکي ملاتړ کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د انګرېزي پالیسۍ د ماتې د شننې په اړه د لوی والي په دستور د جوړ شوي راپور په پایله کې په واضح او لنډو کلیمو لیکل شوي وو: «شاه شجاع په یو شمېر بد قسمته هڅو کې د خپل تخت د بیا ترلاسه کولو له پاره ښکېل و.» په پایله کې د نوموړي څلور لویې ماتې یادې شوې وې: لمړۍ ماته یې د نیملې په مغولي باغونو کې د ده پر پوځ غلچکي برید، دویمه یې د کشمیر په واورو کې د ده د پوځ یخنۍ وهنه، درېیمه یې په پېښور کې د نوموړي د باروتو د زېرمې چاودنه او اوس څلورمه یې د کندهار په باغونو کې د هغه پر پوځ نابېره برید. «شاه شجاع د یرغل په تیاري او ترسره کولو کې لویه سېکمنتیا او زوړورتیا او په ماته کې لوې زغم له ځانه ښودلی دی، خو د بد بخت له کبله، د ده زړه په کړکېچنو چارو کې هر وخت مات شوی.»[۹۲]

اوس حتی وېډ منلې وه چې زده کړیال یې له کاره وتلی او وخت یې تېر شوی، خو له جنګي اجېر جوسایه هارلن سره په شخصي خبرو کې وېډ ویلي وو چې یو شی کېدای شي شجاع بېرته صحنې ته راولي: «شاه شجاع یوازې هغه وخت بل فرصت لري چې د کابل په هکله د روسانو ظاهراً رښتیا پالیسي بربنډه شي.»[۹۳]

که روسان د بارکزیو په مرسته نبغ په افغانستان کې ښکېل شي، شاه شجاع به بیا د انګرېزانو د ځانپالنې له پاره اړین ارزښت پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ۳

# د لوېې لوبې پیل

د ایران او افغانستان د نانندریزه پولې په شنډو تېتو پرتو غونډیو کې دې څوک په شپه کې نه ورکېږي. حتی اوس هم دا سیمه یوه شاړه بېدیا ده چې یوازې تېپوسان یې په هوا کې الوتنې کوي، د ژمي لېوان یې پر څمکه ګرځي او د تریاکو قاچاقبر یې د کاروانونو پر زاړه تګ لوري تېرېږي. په دغه پراخه لمر سېځلې منظره کې څېرې وړې او سوکه خوځېږي. دوه سوه کاله مخکې دا داسې سیمه وه چې مسافرو به حتی د ورځې په کې یون ته زړه نه ښه کولو. په جګړه کې د ښکېلو پاچاهیو تر منځ د دغه نانندریزه سیمې درې او غابې د شوکمارانو کارځایونه او پټنځایونه وو.

د ۱۸۳۷ کال د اکتوبر ګرمې ورځې وې او د دویم برېدمن هنري رالېنسن له پاره د یوې اوږدې اونۍ پای و. نوموړي له درېیو کلونو راهیسې په لوېدیځ پارس کې، کرمانشاه ته څېرمه په لیرې پرتو بارکونو کې د پارسي پوځ یوې نوې لوا ته روزنه ورکوله. په دغه موده کې نوموړی د هغه درې ژبې نسخو سخت مینوال شو چې د هخامنشیانو پاچا داریوش په امر په بهستان کې حجاري شوې وې؛ نو رالېنسن چې په دغه لرغوني پارسي روزېته تیږې• Rosette Stone مین و، هر ماښام به په خورا سختۍ د کابو عمودي کمر پر مخ وختلو او بیا به یې بېرته ځان د کالیو ټوکرۍ ته ور ټیټ کړ چې د نسخې چاپونه واخلي. وروسته به خپلې کېږدۍ ته لاړ او په خپلو بېسارو بریالیو هڅو به یې دغه مبهمې نسخې بې رمزه کولې،[1] خو کله چې د یو بیړني ماموریت له پاره د پارس شمال سوېل ته ولېږل شو، د ده شننې ودرېدې او له هغه وخت راهیسې چې ده په تهران کې د انګرېزي سفیر له مرستیال څخه د دغه ماموریت د ترسره کولو امر ترلاسه کړ، په شپږو ورځو کې یې پر اس ۷۰۰ میله مزل وکړ. په نورماله توګه له تهرانه تر مشهد پورې، چې افغان پولې ته څېرمه د زیارتونو ښار دی د پوځي لارې په اوږدو کې په پرتو کاروانسرایونو کې ډېر کرایي اسونه د مسافرو له پاره شته وو، خو د پارس شاه د هرات د کلابندۍ په لور روان و؛ نو دربار ته او له درباره د استونو شمېر دومره ډېر و چې رالېنسن نور اسونه پیدا نه کړل او اړ شو چې یوازې پر یو اس دومره مزل وکړي.

د رالېنسن سره مل کسان او اسونه سخت ستومانه وو او په توره تیاره کې کله وېښ او کله ویده، دوی لاره ورکه کړه. په دغه شېبه کې، ټیک کله چې سپېدې د شاه جهان د غرونو په غاښورو څنډو کې وچاودې، رالېنسن د سپېدو د رڼا په څرک کې پر اسونو یوه بله سپره ډله ولیده چې دوی ته نږدې کېده. نوموړي وروسته لیکلي : «ما له دوی سره د

---

•روزېته تیږه په ۱۷۹۹ کال په منف کې وموندل شوه چې په ۱۹۶ کاله له میلاد څخه مخکې د وخت د پاچا یو فرمان په درېیو ژبو وربانديې لیکل شوی (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو وبره نه لرله، خو کله چې د دوی له څنګه په ډګ ډګ تېرېدم، په حیرانتیا مې داسې سړي چې قزاقي جامې یې په تن وې ولیدل او زما یو مرستیال د روسي ماموریت یو چوپړیال وپېژانده.»[۲]

رالېنسن سمدلاسه پوه شو چې دلته څه خبره وه. د قزاقو یوه وسله واله ډله چې له داسې لیرې بیدیايي لارې د افغانستان د پولې په لور ستنه وه، بې دلیله نه شي کېدای او په تېره بیا په دغسې ځانګړې شېبه کې د انګرېزي څارګرې اداري یو کارکوونکي د افغانستان په پوله کې هر راز روسي فعالیت ته د شک په سترګه کتل. لاړېنسن په هند کې له خپلې لوا څخه په نوې څارګره څانګه کې ګمارل شوی و او په ځانګړې توګه د روسي نفوذ د مخنیوي له پاره ایران ته لېږل شوی و. نوموړي په ایران کې درې کاله تېر کړي وو او د یوې سنجولې ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه چې ایران بېرته د برتانیې غېږې ته راولي، پارسي پوځ ته یې ګڼ شمېر وسلې ورکړې او دوی ته یې روزنه ورکوله. پارس ته له راتګ څخه څو میاشتې وروسته، رالېنسن پوه شو چې هغه او ملګري یې د روسانو له کلکې څارنې لاندې دي. د ۱۸۳۴ کال د اکتوبر په میاشت کې یې په خپل راپور کې لیکلي و: «یو روسي افسر چې د برَن فون روزن Baron Von Rosen [ په قفقاز کې روسي نایب] ځانګړی مرستیال و، نن کمپ ته راورسېد. هغه د خپل جنرال له خوا رالېږل شوی چې د امیر لیدنه وکړي، خو اصلي موخه یې په پوځ کې زموږ د موقف، د پارسي پوځ د وضعیت او نور د داسې څه جوتول دي چې پر روسي ګټو اغېزه لري.»[۳]

په ۱۸۳۰ مو کلونو کې د برتانیې او روسیې تر منځ په سره جګړه کې پارس په ځانګړې توګه انګرېزانو ته نور هم هغه وخت سوړ شو کله چې د ۱۸۳۳ کال د مارچ په میاشت کې تهران ته په ځان باورمن کونټ ایون سیمونېچ Count Ivan Simonitch ورسېد. لکه فرانسوي افسران چې د رنجیت سېنګ دربار ته تللي وو او هغه ته یې کار کولو، سیمونېچ هم د ناپلیون پخوانی افسر و چې د واټرلو له ماتې او د ناپلیون له تبعید څخه وروسته یې غوښتل نوي فرصتونه ومومي. نوموړی په اصل کې د زاره Zara و چې د اوسنۍ کرویشاه Croatia د سمندرغاړې ټرایسته Trieste ښار سوېل ته پروت دی. دی پر روسیې باندې له یرغل څخه لږ وخت مخکې د ناپلیون لوی پوځ ته ورغلی و او لکه د ناپلیون ګڼ شمېر نور پوځیان، له مسکو څخه د ژمي په نیمايي کې د مصیبت ځپلې شاتګ په بهیر کې تزاري ځواکونو اسیر ونیو. کله چې دی له بنده ازاد شو، د ده هېواد په اطریشي-هنګري امپراتورۍ کې منحل شوی و؛ نو ده پرېکړه وکړه چې روسانو ته واوړي او هلته له روسي پوځ سره یوځای شو. ده ته د جګړن رتبه ورکړل شوه او په ګرجستان کې ځانګړې یرغلیزه لوا ته ولېږل شو. نوموړي د روس او پارس په جګړو کې په زړورتیا برخه واخیسته. وروسته له دې چې د پارس پر ضد د ټوپکو او برچو په یو مخامخ یرغل کې سخت ټپي شو، نوموړي ته د ده د زړورتیا او په کلکه د خپل سنګر د ساتلو په ویاړ د تورن جنرالۍ رتبه ورکړل شوه او لږ وخت وروسته یې په ګرجستان کې له یوې اتلس کلنې تر ټولو ښایسته کونډې شهزادګۍ، اوبیلاني Obeliani سره واده وکړ او په کمه موده کې په تبلیسي کې د روسي اداري یوه مخکښه څېره وګرځېد.[۴] کله چې تهران ته د سفیر په توګه بدل شو، سیمونېچ په کلکه هڅه کوله چې له خپل انګرېزي سیال سر جان مکنېل Sir John McNeil څخه مخکښ وي. سر مکنېل له روسانو څخه دومره کرکه درلوده لکه څومره چې سیمونېچ په ډېره سرتمبګۍ د انګرېزانو پر ضد و.

د رالېنسن او د هغه د پوځي ماموریت د راتګ راهیسې، سیمونېچ وتوانېد چې د شاه باور خپل کړي او د مکنېل په پرتله یې ډېر لاس رسی او نفوذ ترلاسه کړ. مکنېل چې په اصل کې د هېبرېډیز Hebrides له یوې څنډې و او پخوا یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـفير د ډاکتر دنده درلوده، يو ارامه کس و چې د سـتراتيژۍ او پوهې له اړخه د سـيمونيچ کچې ته نه رسـېده. په ۱۸۳۷ کال کې سـيمونيچ د نوي پر تخت ناسـت شـاه په هڅولو کې مرسـته وکړه چې په انګرېزي وسـلو سـمبال، له خپل پوځ څخه پر نانندريزه ښـار، هرات باندې د يرغل له پاره کار واخلي او شـاه ته يې ترغيبي د سـرو زرو پنځوس زره تومنو د ورکړې او د پور بښـلو وړانديز د هغه ژمنې په بدل کې وکړ چې کله يې هرات فتح کړ، شـاه به روسـانو ته په هرات کې د سـفارت جوړولو اجازه ورکوي. دا يو هوښـيار ګوزار و. د شـاه ځانپالنه يې په داسـې بنه پاروله چې په هند کې يې د انګرېزانو ګټې ګواښلې او انګرېزي روزل او وسلواله شوې لوا يې نېغه د خپلو مربيانو او د وسلو مرسته کوونکو د ګټو پر ضـد واړوله. په دغه وسـيله، سـيمونېچ هيله درلوده چې شـاه د تزار په ګټه وکاروي، خو په حقيقت کې نوی شـاه، دويم محمد Mohammed II له پخوا څخه د هرات د بيا نيولو تلوسـه درلوده - نوموړي دغه يادونه حتی د پاچا په توګه په خپله لمړنۍ وينا کې د شـاهي تاج پر سـر ايښـودلو نمانځنه کې کړې وه؛ نو د هرات د بيا نيولو له پاره يې دومره روسي لمسون ته اړتيا نه درلوده.[۵]

سـيمونيچ د شـاه او په کندهار کې د دوسـت محمد د ميرنيو ورونو تر منځ له يو بل څخه د دفاع له يو وړانديز شـوي تړون روسـي ضـمانت هم وکړ. هغه پوهېده چې دغه به د انګرېزانو پر وهم څومره اغېزه ولري. څلور کاله وروسـته په ۱۸۴۱ کال کې نوموړي د خپلې دغه بريا په هکله په خپل يادښـت کتاب کې غورې کړې چې له پارس څخه داسـې يوه اروا جوړه شـوه چې د لندن له کابينې څخه يې خوب تښـتولی و ځکه چې دوی پوهېدل چې روسـان به له هرات څخه په اسـانۍ يرغل وکړي او په هندوسـتان کې به اور بل کړي. هغه ليکلي: «روسـانو هند ته د اور اچولو له پاره پرته له نيت څخه هر څه درلودل.»[۶]

مکنيل پرته له دې چې په تهران کې ناسـت وي او يو اعتراضـي کتاب وليکي بله چاره نه درلوده. نوموړي دغه کتاب «په سـوېل کې د روسـې پرمختګ او اوسـنی موقف» بې نومه خپور کړ. د کتاب په يوه برخه کې يې ليکلي: «په اروپا کې يوازينی ملت چې د خپلو ګاونډيانو په بيه د ځان پياوړي کولو هڅې کوي، روسـيه ده. يوازې روسـيه د تختونو د چپه کولو، د امپراتوريو د کمزورولو او د ازادو هېوادونو ځانته د مطيع کولو ګواښـونه کوي... د پارس بشـپړتيا او خپلواکي د هند او اروپا امنيت ته اړينه ده او هره هغه هڅه چې يو کمزوری کوي، بل ته يو ګوزار دی - او د انګلنډ پر وړاندې د دښـمنۍ يوه ښکاره کړنه ده.» دغه زورور لفظي يرغل هغه څرګند حقيقت له پامه غورځولی و چې په هند کې برتانوي ښکېلاک د نولسمې پېړۍ په ټوله لمړۍ نيمايي کې پرته له کومې وقفې مخ په پراختيا و او برتانيې په لوی حرص د روسيې د ټولو لاسـته راوړنو په پرتله ډېر تختونه چپه کړي وو، خو دغه کتاب په لندن کې ډېر لوسـتونکي پيدا کړل او د وېسټ مېنسټر Westminister (د برتانيې ملي شـورا. ژباړن) زياتېدونکی باور يې چې په پارس او افغانسـتان کې د روسيې او برتانيې تر منځ يو لوی ټکر په پيښېدو دی، نور هم ډېر کړ.[۷]

خو په دې هکله د مکنيل خبره سـمه وه ځکه چې په سـن پيټرزبورګ کې تزار نېکولس Nicholas او وزيرانو يې که هر څومره محتاطې نظرې لرلې، سـيمونيچ بې اړنګه سـتراتيژيکي هيلې درلودې. د نوموړي يوه هيله چې د ده د ټولو هيلو هسـته يې جوړوله، په هرات کې د روسـې د اډې جوړول وو چې په لوديانې کې له برتانوي پولې څخه يې د شـپږو اونيو مزل درلود. په وروسـتيو وختو کې د مکنيل جاسـوسـانو په تهران کې د روسي سـفارت په هکله مغشـوشـونکي راپورونه ورکول - د يو مسکوي شـهزاده په هکله مبتذلې کيسې - د نوموړي په هکله ويل کېدل چې د يوې ۱۰۰۰۰ کسيزې ډلې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرۍ د پارس پولې ته ستون شوی چې د هرات په کلابندۍ کې له پارسیانو سره مرسته وکړي. د دغسې څارګریزو مالوماتو تفصیل شکمن برېښېده، خو دغه مالوماتو د پارس په وسیله پر افغانستان باندې د ځینې روسي خوځښتونو شتون ته اشاره هم کوله. لارنېسن پوه شو چې هغه ژېړ وېښته افسر چې د یوې قزاقي ډلې مشري یې کوله او دی یې تر څنګ تېر شو «کېدای شي همغه کس وي چې یادونه یې کېږي... بې اړنګه زما کنجکاوي وپارول شوه. دغسې وضعیت چې د هرات له کلابندۍ څخه مخکې و، حتی یو روسي ښاغلي ته چې په خراسان کې یې یون کولو د شک په سترګه کتل کېدل، خو په دغه بل حالت کې په وضاحت د پټ ساتنې نیت شته و او ما دا خپله دنده ګڼله چې دغه رمز وسپړم.»[٩]

نو رالېنسن له خپلې ډلې سره بېرته وګرځېد: «موږ د لوړې لارې په اوږدو کې په دوی پسې وو او په یو څه واټن کې مو دوی تعقیبول. لږ وخت وروسته دوی په غونډېو کې یو تنګي ته ننوتل. هلته زه له دغې ډلې سره چې د یوې رڼې چینې پرغاړه د سباناري له پاره ناست وو، مخ شوم. دا کس چې د افسر څېره یې لرله، په تن کوچنی او په رنګ ډېر سپین، روښانه سترګې او ډېر سېکمن ښکارېده.» رالېنسن زیاتوي:

زه پر اس سپور دوی ته ورنږدې شوم، روسی جګ شو او ما ته یې د تعظیم سر ټیټ کړ. ما په فرانسوي خبرې ورسره پیل کړې - په سوېل کې د اروپایانو تر منځ فرانسوي عامه ژبه وه - خو روسي سر وخوځاوه چې نه پوهېږي. بیا ما په انګرېزي ژبه خبرې وکړې او ده په روسي ژبه ځواب راکړ. کله چې ما په پارسي خبرې وکړې، هغه داسې ښکاره شو چې حتی یوه کلیمه هم پوه نه شو. بلاخره هغه زږه نا زږه په ترکمني یا ازبکي - ترکي خبرې وکړې. زه په دغه ژبه دومره پوهېدم چې د یوې ساده محاورې ترعهدې وتلم، خو کنجکاوي مې په کې نه شوای کولی او دا هغه څه وو چې دغه افسر غوښتل. کله چې دی پوه شو چې زه په چغتایي ژبه کې تکړه نه یم، په ترکي ژبه یې چې څومره کولی شول دومره ډېر ګړندی وغږېد. زه یوازې دومره پوه شوم چې نوموړی په رښتیا یو روسي افسر و چې د روسي [امپراتور] ډالۍ یې د پارس[امپراتور] محمد شاه ته وړلې. هغه له دې څخه زیات څه ونه ویل. وروسته له دې چې یو بل پیپ مې ورسره وڅکولو، زه په خپل اس سپور شوم او ترې لاړم.[٩]

د لویې لوبې کېم Kim،The Great Game په نوم د راډیرډ کېپلېنګ Rudyard Kipling په ناول کې یوه نوموړه صحنه کارېل شوې چې د راج د څارګرې ادارې مشر ډګروال کرایټن Creighton کېم ته روزنه ورکوي چې د لوبې جزیات په یاد وساتې، کومه چې وروسته د کېم لوبه ونومول شوه. نوموړي ته به لږ وخت ورکړل شو چې په یو پتنوس کې ببلابېل څیزونه په یاد وساتي. بیا به یې برېښنا ورته مړه کړه، پتنوس به یې ترې لیرې کړ او ورته وبه ویل شول چې د څیزونو بشپړ نوملړ له ټولو جزیاتو سره ولیکي. دا به هېڅ کله څرګنده نه شي چې رالېنسن به کله داسې روزنه لیدلې وي، خو نوموړي د دغه مرموز افسر په اړه د پام وړ او مفصل توضیحات لیکلي وو او وروسته یې کلکتې ته ولېږل او ورسره وېې لیکل: «که کچېرې په بدله جامه کې دغسې څوک هند ته د ننوتو هڅه وکړي؛ نو دا به همغه افسر وي چې زه ورسره مخ شوم.»

دغه افسر منځنی تنه، ټیټه غاړه، جګې او پراخې اوږې او نری ملا لري. په رنګ بیخي ډېر سپین دی او بارخو یې هېڅ رنګ نه لري. نوموړی پراخ تندی، ځلانده سترګې چې له یوبل څخه ډېرې جلا دي، ښه جوړه پزه، لنډه پاسنۍ شونډه او خوشحاله خوله لري. ږیره او بریت یې پرېښي او خامه نصواري رنګ لري. برېتونه یې لنډ او څوکې یې پورته تاو کړي، خو لنډې او ګڼې ږیرې یې د بارخو لاندینۍ برخې او ټوله زنه پټه کړې ده... د هغه پر سر سپینه قزاقي خولۍ ایښې وه، تیاره زرغون ګرجستانی کوټ یې اغوستی و او په سینه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرۍ ســپینه زرینه کتاروزمه تړلې وه چې په کینه خوا کې یې د ګرجســتانیانو په ډول کارتوس تومبل شــوي وو. په پولادي تیکي کې پرته توره یې له تور کمربند څخه چې ساده سپین زرین سګک یې درلود، ځړېده. ده تیاره خړ شلوار اغوستی او ښې جوړې شوې روسي موزې یې په پښو وې. نوموړي دوه ښایسته لوی خړ اسونه لرل چې پر یوه یې سپور او بل یې په لمړني اس پسې تړلی و. په ساده ایراني زین ناست و چې توره توټه او لنډ تور جالوغ ورباندې پروت و. د تومانچې پارسي کاش یې درلود او لاستی یې چې ترکي برېښېده د ابنوس له لرګي څخه و چې سپین زر په کې کارول شوي و. ده فصیح پاړسي خبرې کولې خو لنډ او تېره بهرنی ګردود یې درلود او هېڅ کله یې (a) داسې بشپړ او پراخه نه شــوای ویلی لکه پارســیان یې چې وایي او په چغتایي ترکي ژبه یې پوره حاکمیت درلود خو د قســطنطنیې او پارسي لهجه په کې نه وه.[۱۰]

رالېنسـن له نیشـاپور څخه وړاندې په تیاره کې د پارسـیانو کمپ ته ورسـېد او له شـاه سـره یې د یوې سـملاسـي مرکې غوښــتنه وکړه. شــاه نوموړی خپلې کېږدۍ ته ومنلو او ده د هغه روســانو کیســه ورته وکړه چې په لاره کې ورســره مخ شوی و. رالېنسن هغه دلیل چې روسي ده ته د خپل ماموریت په هکله ویلی و، شاه ته تکرار کړ. شاه په حیرانتیا وویل: «ما ته ډالۍ راوړې! زما له هغه سـره هېڅ کار نه شـته. دی د [روسـې] امپراتور له خوا په کابل کې دوسـت محمد ته نېغ لېږل شوی او له ما څخه یوازې غوښتنه وشوه چې له دوی سره په یون کې مرسته وکړم.»[۱۱]
رالېنســن ســمدلاســه د شــاه د خبرو په ارزښــت پوه شــو: دا د هغه څه لمړنی ثبوت و چې انګرېزانو له اوږدې مودې راهیسې ورڅخه وېره درلوده: روسـان هڅه کوي چې له دوسـت محمد او بارکزیو سـره د ائتلاف جوړولو په وسـیله په افغانســتان کې ځان ته ځای پیدا کړي او له دوی او پارســیانو ســره په هرات کې د شــاه شــجاع د ســدوزي کورنۍ د وروستي سنګر په ماتولو کې مرسته وکړي. رالېنسن په دې هم پوه شو چې له دغو مالوماتو سره په چټکۍ بېرته تهران ته لاړ شي.
روسـان له لږ ځنډ وروروسـته په خپله د پارسـیانو کمپ ته ورسـېدل. روسـي افسـر د پوځ عادي پارسـیانو ته ځان سـنی مسـلمان وروپېژانده او خپل مسـلمان نوم یې عمر بېک وښـود. هېچا په کمپ کې د ده په مسـلمانۍ شـک ونه کړ. هغه خبر نه و چې رالېنسن د دوی د ماموریت په اصلي موخه خبر دی. اوس یې خپل نوم «کپتان ویتکېویچ وښود ... او زما ســره یې ناڅاپه په ښــه فرانســوي خبرې پیل کړې او زموږ مخکنۍ لیدنې ته په اشــارې، هغې یوازې دومره په موســکا وویل: «له پردي سره په ببدیا کې ډېره اشنایي ښه نه ده.»»[۱۲]
وروســته رالېنســن په دوه ځېژونو نومیالی شــو. لمړی د میخي خط په بې رمزه کولو کې او دویم د ارتر کانولي Arthur Conolly په ګډون د «لویې لوبې The Great Game» د اصــطلاح په موندلو کې، خو اوس په اس ځغلولو کې د هغه وړتیا ډېره ګټوره ثابته شــوه. د نوموړي پلار د ځغاســتې اســونو نسـل اخیســتنه او روزنه کوله او رالېنســن له زین او اسـونو سـره سـتر شـوی و؛ نو دغه وړتیا یې باید درلودی. دی له فزیکي اړخه هم ډېر پیاوړی و. شـپږ فوټه یې ونه وه او پراخه اوږې، غښتلی اندام، ښې عضلې او وژې یې لرلې.[۱۳]
رالېنسـن په همدغه شـپه بېرته نېغ د تهران په لور روان شـو. ۸۰۰ میله مزل یې په ریکارډ وخت کې وکړ او د ۱۸۳۸ کال د نومبر په لمړۍ نېټه یې مکنېل ته د افغـانســتـان له پـاره د روســي پلاوي د شــتون خبر ورکړ. مکنېل په خپـل وار ســمدلاســه یو چابک ځړی•، لارډ پامرســټن ته په لندن کې او بل په کلکته کې د هند نوي لوی والي، لارډ اکلنډ ته ولېږه.

•ځړی: قاصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکنېل ليکلي وو: «روسانو په رسمي توګه له کابل سره ديپلوماتيکې اړيکې پرانيستې. ما ته خبر راکړل شوی چې کپتان وېکوويچ يا بيکوويچ چې د عمر بېک په نوم هم يادېږي او د روسيې سني محمدي دی، د شارژدافير په توګه د امير دوست محمد خان له پاره ګمارل شوی.» په دغه ليک کې مکنېل د ياد افسر په اړه د رالېنس مفصل توضېحات او همدا رنګه لږ نور توضيحات چې د ده استازي په کمپ کې راټول کړي وو، اضافه کړل: «هغه وويل چې د امپراتور ځانګړی سکرتر دی، خو زه پوه شوم چې هغه په حقيقت کې په اورنبورګ کې د والي پوځي سکرتر و. نومونړی دوه کاله مخکې د روسي دولت رسمي مامور په توګه څه وخت په بخارا کې تېر کړ او چغتايي ترکي او پاړسي ژبې يې په بخارا او اورنبورګ کې زده کړې.»[١۴]

داسې برېښېدل چې د ويتکېويچ په هکله د رالېنسن کتنې د هغه د مشرانو بې ساري وېره توجيه کوله. مکنېل، لارډ الينبوره او نورو انګرېزي پاليسي جوړوونکو له ډېر وخت راهيسې وېره درلوده چې روسان به افغانستان ونيسي او د اډې په څېر به کار ترې واخلي چې پر انګرېزي هند يرغل وکړي. د ويتکېويچ په اړه د رالېنسن څرګندونې سمدلاسه انګرېزي څارګرو مامورينو ته په پېښور، خيبر درې او نورو هغه ځايونو ته ولېږل شوې چې هند ته د اوښتو په لارو کې پرتې وې خو که چېرې نومونړی هند ته د اوښتو او يا رنجيت سينګ ته د خبرو له پاره د تګ هڅه وکړي، انګرېزي څارګر مامورين به يې وپېژني.

خو دغه مرموز افسر هند ته نه و روان . د هغه ماموريت د تزار او دوست محمد تر منځ د ائتلاف جوړول او په افغانستان کې د انګرېزي ګټو کمزوري کول وو.

د دغه افسر په هکله د رالېنسن يوه يا دوې انګېرنې سمې وې، خو ډېرې نورې يې تېروتنې وې. هغه نه مسلمان او نه روسی و، د اورنبورګ د پولې په اډه کې د والي پوځي سکرتر نه و او نه يې نوم بيکويچ يا وېتکويچ و. نومونړی په حقيقت کې د ين پراسپر ويتکېويچ په نوم يو کاتوليک پولنډی اشرافي و چې په ولنيس کې چې اوس د لېتوانيا پلازمېنه ده زېږدلی و. کله چې ين په ښوونځي کې زده کړه کوله، هغه د يوې پټې ټولنې چې نوم يې «تور ورونه» و، په جوړولو کې مرسته وکړه. دا د مقاومت يو ملي انقلابي خوځښت و چې پولنډي او لېتوانيايي زده کوونکو د روسيې له لوري د دوی د هېوادونو د اشغال پر وړاندې د جګړې په نيت جوړ کړی و. په ١٨٢٣ کال کې کله چې دغې ډلې د ښوونځي مدير او ښوونکو ته روسي ضد ليکونه واستول او د ښار پر نومورو عامه ځايونو او ودانيو يې انقلابي شعارونه ونښلول، دوی روسانو ته برېښ شول. روسانو ين او د دغه کړۍ پنځه نور مشران ونيول، له دوی څخه يې تحقيقات وکړل او د ١٨٢۴ کال د فبرورۍ په شپېړمه، د دې له پاره چې نور پولنډي زده کوونکي د دموکراسۍ هيلې او غوښتنې په سر کې ونه پالي، درې کسه يې په مرګ محکوم کړل او پاتې درې يې په دورو وهلو او ورپسې په شاګۍ کې په دايمي تبعيد محکوم کړل. ويتکېويچ په هغه وخت کې، مخکې له دې چې ونيول شي، د خپلې زوکړې يوازې څورلسمه کليزه لمانځلې وه.

په وروستيو شېبو کې د پولنډ نايب الحکمه ګرنډ ډيوک پاولوويچ Grand Duke Pavlovitch په مداخلې، د مرګ سزا دايمي بند او د بابرووېسک په کلا Bobruisk Fortress کې سخت جبري کار ته ټيټه شوه چېرته چې يو له دغه هلکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه لېونی او ورپسې مړ شو. له ویتکېویچ او دوه نورو څخه یې خپلې اشرافي رتبې او القاب واخیستل او دوی یې د قزاق په شاګیو کې بېلابېلو کلاوو ته د عادي عسکرو په څېر ولېږل. د ترفېع حق یې نه درلود، تر لسو کالو یې له خپلو کورنیو سره اړیکې نه شوای نیولی او ځنځیرونه یې په پښو، په اوږده مزل سوېل ته پلي ولېږل شول.[۱۵] ین له رسېدو څخه وروسته، له خپل «تور وروڼه» ملګري الایزي پیسلي اک Aloizy Peslyak سره د تېښتې یو پلان جوړ کړ او غوښتل یې د هندوکش له لارې هند ته وتښتي، خو دغه پلان بربند شو او دوی ته سخته سزا ورکړل شوه.[۱۶] په راتلونکو کلونو کې د ین یوه ملګري ځان وژنه وکړه او پیسلي اک هم نږدې ځان ویشتلی و، خو ویتکېویچ خپل قسمت ته ځان تسلیم کړ او هوډ یې وکړ چې له خپل اوسني حالت څخه ګټه پورته کړي؛ نو قزاقي او چغتایي ترکي ژبې یې زده کړې او د خپل نوم د داسې بدلولو هوکړه یې وکړه چې روسي نومونو ته ورته و یعنې ایون وېکتورویچ ویتکېویچ. د ویتکېویچ یوه وروستي پالونکي وروسته لیکلي:

کله چې د اورنبورګ د پولې یوې لیرې پوځي چاونۍ ته تبعید شو، ویتکېویچ لس کاله د یو عسکر دنده د شرابي او عیاشو افسرانو ترلاس لاندې ترسره کړه. هغه وتوانېد چې نه یوازې خپله پاکي او شرافت وساتي بلکې زده کړې یې وکړې او ځان ته یې د پوهې له پلوه وده ورکړه. ده سوېلي ژبې زده کړې او له سیمې سره دومره اشنا شو چې سړی په ډاډ ویلی شي چې د اورنبورګ له جوړښت راهیسې داسې څوک نه شته چې د ویتکېویچ په پرتله د قزاقو په اړه ډېره پوهه ولري... ټول قزاق د ده صداقت، زغم او سرسخت توب ته درناوی لري چې په وار وار یې د قزاق په شاګیو کې د یون پر مهال له ځانه ښودلي.[۱۷]

دومره وخت نه و تېر چې ویتکېویچ ټول قران حفظ کړ. نوموړي به قزاقي کوچي مشرانو ته بلنه ورکوله، دوی ته یې چای، پلو، او د پسه غوښه پخوله او له دوی څخه یې د دوی د دود، د ژوندانه ډول او د دوی د ژبې غني اصطلاح ګانې زده کولې. هغه به په ځانګړې توګه د سیمې او د یونو په هکله کتابونه لوستل او همدغه پوهه په روسي پوځ کې د ده د ودې وجه شوه.

له ادبیاتو سره د ویتکېویچ مینې د یورال Ural له سیند سره د اورسک Orsk د اډې قوماندان پام ځانته واړولو او ویتکېویچ ته یې بلنه ورکړه چې د هغه بچیانو ته سبق ورکړي. په ۱۸۳۰ کال کې دغه قوماندان یو نومیالي جرمن ګرځندوی کشاف الکساندر فون هومبولټ Alexander Von Humboldt ته مېلمستیا کړې وه. کله چې هومبولټ خپل وروستی کتاب Tableaux de la Natur چې په لاتینه امریکا کې د ده د یون په هکله و، د میز پر سر ولید، په حیرانتیا یې وپوښتل چې دا کتاب هلته څه کوي. قوماندان د ځوان پولنډي په اړه ورته وویل او زیاته یې کړه چې هغه د لویو ګرځندویانو د کتابونو یوه ټولګه لري. هومبولټ یې د لیدنې غوښتنه وکړه؛ نو دی یې ورته راوست:

سربېره پر دې چې ځوان ویتکېویچ شدېل عسکري کوټ اغوستی و، د ده په زړه پورې بڼې، دروند چلند او پوهې دغه نومیالی پوهاند اغېزمن کړ. کله چې هومبولټ د سایبریا له یون څخه بېرته اورنبورګ ته راغی، سمدلاسه یې د ویتکېویچ د ربړوونکي حالت په هکله والي کونټ پاوېل سوختلېن Count Pavel Suhktelen ته وویل او ترې وېې غوښتل چې د دغه ځوان پېټی سپک کړي. کونټ، ویتکېویچ راوغوښت، افسری ته یې ارتقاع ورکړه، د خپلو امرونو اجرایوي مشر یې وټاکلو، او قزاقي اورنبورګ ته یې بدل کړ. وروسته ویتکېویچ د قرغز په ځانګه کې وګمارل شو.[۱۸]

دومره وخت نه و تېر چې له نوموړي څخه د ژباړن کار اخیستل کېده او وروسته په قزاقي سیمو کې په بېلابېلو ماموریتونو ولېږل شو. ویتکېویچ کار او شغل پیدا کړ خو له روسي امپریالستي ماشین سره د یو ځای کېدو په بیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ماشين چې دی يې په کرکه کې ستر شوی و او وروسته يې په ايمانداری د داسې دولت چوپړ وکړ چې د ده ژوند يې تباه کړی و او داســې انګېرنه کېده چې ده په دې اړه ترخه احســاســات په زړه کې ســاتل. هومبولټ، ويتکېويچ ته د پرمختګ لاره پرانيســته، خو هغه څوک چې تر ټولو زيات يې نوموړي ته په لاشــعوري توګه د پرمختګ لاره هواروله، الکســاندر برنز و. کله چې برنز له بخارا څخه بېرته راغی، ده يو کتاب د «په بخارا کې يون» په نوم وليکه چې برنز يې خورا نوميالی کړ. نوموړي ته بلنه ورکړل شــوه چې لندن ته لاړ شــي او د لارډ الېنبوره او پاچا ســره ليدنه وکړي. د بېلابېلو ټولنيزو مېلمســتياوو کوربه والو له نوموړي څخه زمری او نوميالی جوړ کړ. ده شــاهي جغرافيايي ټولنې ته لکچرونه ورکړل. د ګڼونوالو شمېر به دومره ډېر و چې د څوکيو د کمښت له وجې به خلکو په ولاړه غوږ ورته نيولی و او دغه ټولنې ده ته د سرو زرو مډال ورکړ. کله چې د ده کتاب په فرانسوي ژبه خپور شو، دغه کتاب بيا تر ټولو ډېر خرڅ شــو او دی فرانســې ته د نورو مډالونو او انعامونو له پاره وروغوښــتل شــو. د دغه کتاب فرانســوي ژباړې د روسـانو پام د برنز يون ته واړولو. د برنز د يون موخه په بخارا او افغانسـتان کې د ۱۸۳۰ مو کلونو په پيل کې د روسـي فعاليتونو په اړه د مالوماتو راټولول په داسې وخت کې وو چې په حقيقت کې دغه دواړو سيمو ته د روسېې هېڅ پام نه و او ټوله پاملرنه يې پر قفقاز او پارس متمرکزه وه، خو اوس برعکس داسې برېښېدل چې د برنز دغه کتاب د روسانو پام افغانسـتان، بخارا او روسـي پولو ته نږدې د انګرېزانو د دسـيسـو مخنيوي ته واړولو. لکه څنګه چې ډېر وخت په نړيوالو چارو کې له ليرې ممکنه ګواښــونو څخه د پاليسـي جوړوونکو وېره کټ مټ داسـې يوه بلا جوړه کړي چې وېره ورڅخه کېږي، د اورنبورګ په شــاګيو کې د روســې د پوله ييزه چاونۍ والي، وي اې پېروفســکي د لوی درســتېز د څرګندونو پر بنسټ، سن پيټرزبورګ له منځنۍ اسيا څخه د ځارګريزو مالوماتو د کمښت په اړه دومره نارامه و لکه لندن چې د نارامۍ احســاس کولو. نوموړي هم انګرېزي انګېرنو ته انعکاس ورکړی او ليکلي يې دي: «کوم مالومات چې روسـانو تر لاسه کول، مبهم او ډېر لږ و او داسې اسـيايانو دغه مالومات برابرول چې يا د ناپوهۍ او يا د وېرې له وجې يې د ګټورو مالوماتو د راټولولو توان نه درلود.»

موږ کره مالومات درلودل چې د ختيځ هند انګرېزي کمپنۍ اجنټان په دوامداره توګه په خېوه او يا بخارا کې ښـکاره کېدل. موږ په دې هم خبر وو چې دغه کمپنۍ خورا ډېرې ســرچينې په خپل واک کې درلودې او هڅه يې کوله چې نه يوازې خپل ســوداګريز نفوذ په ټوله اســيا کې خپور کړي بلکې په اســيا کې خپلې مســتعمرې هم زياتې کړي... نو په دې اســاس په ۱۸۳۵ کال کې پرېکړه وشــوه چې روســي اجنټان منځنۍ اســيا ته ولېږل شــي چې د انګرېزي اجنټانو څارنه او د دوی هڅې شــنډې کړي. په دې موخه دويم برېدمن ويتکېويچ منځنۍ اسيا ته د اجنټ په څېر ولېږل شو...[19]

ويتکېويچ دوه ځله بخارا ته ولېږل شـو. لمړی ځل يې له قرغزي سـوداګرو سـره په بدله جامه کې اوه لس ورځې په ډېرو واورو کې او په يخ وهلي امو سيند باندې مزل وکړ. هغه يوه مياشت هلته پاتې شو، خو لکه څنګه چې برنز «د ختيځ د عجايبو کور» نوملی و، ويتکېويچ ته دغه ځای دومره په زړه پورې ښـکاره نه شـو. هغه بېرته اورنبورګ ته وليکل: «زه بايد يادونه وکړم چې برنز په خپل چاپ شـوي کتاب کې کومې کيسـې چې د بخارا په اړه کړې دي، له هغه څه څخه چې ما يې د ليدو فرصت درلود ډېر توپير لري. نوموړي هر څه ته د شان او شوکت په سترګه کتلي، خو هغه څه چې زه يې وينم يوازې او يوازې بدرنګه، د کرکې وړ، ربړن او يا مضحک دي. برنز يا په لوی لاس د بخارا د په زړه پورې توب په اړه مبالغه کړې او يا دا چې هغه مخکې له ليدو څخه د دغې ســيمې په هکله خپل قضــاوت انځور کړی و.»[20] خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویتکېویچ له کرکې سره سره، هغه په پټه د ښار د نقشو خاکې وکاږلې. د ویتکېویچ په اړه یې یو مینوال لیکلي: «هېڅ‌چا، حتی د بخارا سخت دریځو ونه شو کړای چې په قرغزي جامو کې یو اروپایي عیسوي، چې په قزاقي یې خبرې کولې او قزاقي دود او چلند یې خپل کړی و، وپېژني. سربېره پر دې، هغه په ښایسته تورو سترګو، ږیرې او لنډو وېښتانو داسې ښکارېدلو لکه یو اسیایي او یو مسلمان.»[۲۱]

په دویم ځل ویتکېویچ بخارا ته په ښکاره ډول د یو روسي افسر په توګه لاړ چې د هغه روسي سوداګرو د خلاصون غوښتنه وکړي کوم چې د بخارا امیر بندیان کړي وو. د کاروانونو ښار ته له رسېدو سره سم له ده څخه وپوښتل شول: «ته اسکندر پېژنې؟ ما فکر وکړ چې د دوی مطلب لوی الکساندر دی خو په حقیقت کې د دوی مطلب الکساندر برنز و.» د انګرېزي نفوذ دغه لمړنیو نښو ویتکېویچ سمدلاسه وهڅاوه چې مخنیوی یې وکړي او په څو اونیو کې وتوانېد چې د جاسوسی هغه شبکه چې برنز هند ته د مالوماتو د لېږلو له پاره جوړه کړې وه بربنډه کړي. نوموړي سن پیټرزبورګ ته لیکلي:

انګرېزان په بخارا کې خپل کس لري. هغه د نظام الدین په نوم یو کشمیري دی چې د څلورو کلونو راهیسې د سوداګری په پلمه په بخارا کې ژوند کوي... نوموړی یو هوښیار سړی دی، له هر چا سره اړیکه نیسي او د بخارا اشرافیانو ته مېلمستیاوې کوي. دی لړبرلړه په اونۍ کې یو ځل په کابل کې د مسون په نوم یو انګرېز ته د ځري په وسیله لیک لېږي او هغه یې په خپل وار اړونده ځای ته استوي، خو په زړه پورې خبره دا ده چې دوست محمد د مسون په کاروبار خبر دی. خان حتی د مسون لیکونه ګېر کړل، خو جاسوس یې له لیکونو سره بېرته پرېښود او ویې ویل: یو کس ما ته زیان نه شي رسولی. ظاهراً دوست محمد په عمومي توګه اروپایانو ته د درناوي له مخې نه غواړي دوی خپه کړي او مسون ته هم غږ نه کوي. دغه کس په کابل کې د لرغونو سکو د موندنې په پلمه ژوند کوي. نظام الدین په بخارا کې یو خپلوان لري چې ده ته ټول کاغذي کارونه کوي. دوی په سیمه یېزه کچه د کوچبیګي په کاروان سرای کې برمناک ژوند کوي او اشرافیانو ته مېلمستیاوې کوي. نظام ښایسته جامې اغوندي خو په رنګ دومره ښایسته نه دی. د هغه ملګری ډېر هوښیار دی او له چلند څخه یې داسې برېښي چې د ده ترلاس لاندې دی، خو په وضاحت ښکاري چې ټولې چارې دی مخته وړي. دوی خپلې پیسې له هندي بانکرانو څخه ترلاسه کوي. کله چې زه راورسیدم، نظام الدین سمدلاسه زما لیدنې ته راغی او له ما څخه یې ډېرې پوښتنې وکړې، د نوواالکساندروسک Novo Alexandrovsk او نیولاین New Line په اړه او همدا راز له خېوې سره زموږ د اړیکو په هکله. لکه څنګه چې زه له مخکې خبر کړل شوی وم، ما ده ته واضح ځوابونه ور نه کړل او نوموړي د دغې ورځې په سبا کابل ته یو لیک ولېږه.[۲۲]

د ویتکېویچ دویم یون نوموړي ته د لوی پرمختګ دروازه خلاصه کړه. له بخارا څخه د نوموړي لیدنې په تصادفي توګه بخارا ته د افغان استازي له رسېدنې سره سمون وموند. میرزا حسین علي د دوست محمد خان له خوا تزار نېکولاس ته په یو ماموریت لېږل شوی و. کله یې چې شاه شجاع ته په ۱۸۳۴ کال کې له کندهار څخه بهر ماته ورکړه، دوست محمد د وېږ لیکونه وموندل چې افغان مشران یې د شاه شجاع په مشری د سدوزي سلطنت د بیا اعادې ملاتړ ته هڅول. له شاه شجاع سره د انګرېزانو مرستې دوست محمد ته ټکان ورکړ ځکه چې دی په دې باور و چې له انګرېز لوی والي سره ښې اړیکې لري؛ نو په ځواب کې نوموړي له روسانو څخه د دیپلوماتیک تضمین غوښتنه وکړه که چېرې انګرېزان په افغانستان کې نوره لاسوهنه وکړي. هغه تزار ته لیکلي وو: «د برتانوي واکمنۍ پراختیا د افغانستان خپلواکي ګواښي او دغه پراختیا روسي سوداګرۍ ته په منځنۍ اسیا کې او سوېل ته یې پرتو هېوادونو ته هم ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. که چېرې افغانسـتان ته د انګرېزانو پر ضـد په یوازې جګړه کې ماته ورکړل شـي؛ نو دا به له بخارا سـره د روسـي سوداګرۍ د پای په مانا وي.»[٢٣]

ویتکېویچ له میرزا حسـین سـره هغه وخت مخ شـو چې دوی دواړو په یوه کاروانسـرای کې هسـتوګنه غوره کړه. هغه ځانته دغه ښــه فرصــت وګڼلو؛ نو میرزا حسـین ته یې وړاندیز وکړ چې دی به یې په خپله لمړی تر اورنبورګ پورې او بیا تر سـن پیټرزبورګ پورې بدرګه کړي. ویتکېویچ په خپل راپور کې په خوښـۍ ولیکل: «دوسـت محمد، د کابلسـتان حاکم د روسـې ملاتړ غواړي او زموږ هرې غوښـتنې ته چمتو دی.» خو ویتکېویچ لمړی باید له بخارا څخه ځان وباسي څکه چې امیر ناڅاپه د ده په هستوګنځي عسکر چاپېر ودرول، د ده اوښـان یې ضبط کړل او ده ته یې د وتلو اجازه نه ورکوله. ویتکېویچ وروسته لیکلي وو:

ما خپلو تومانچو ته لاس کړ او تر کمربند لاندې مې تېرې کړې. کوټ مې په اوږو واچولو، د یون پشـــې خولۍ مې پر ســـر کړه او د کوشـبیګي په لور مې منډه کړه. کله چې زه د ننه لاړم، که څه هم ما ســم غوږ ونه نیولو، خو زه پوه شـوم چې دوی زما او زما د ټګ په هکله خبرې کولې. ما په نېغه کوټې ته منډه وکړه...[ او و مې ویل:] «زه د وروسـتي ځل له پاره بیا درته وایم چې که زه خپل ژوند د لاســه هم ورکړم، زه دلته نه پاتې کېږم. که هر څوک زما مخه نیسي او زما د ټګ په هکله پوښـتنه کوي، لکه څنګه چې ما تا ته او په سلګونو نورو ته چې ما په دې هکله ځوروي وویل، هر څوک چې زما مخې ته درېږي؛ نو دغه ځواب به تر لاســه کوي.» دلته ما د خپل کوټ څنډه پورته کړه او تومانچو ته مې ګوته ونیوه. کوشـبیګي داسې هک پک و چې نه پوهېده څه ووایي. ما له هغه څخه وغوښـتل چې ما ته د ســفر جواز چې د ده ټاپه پرې لګېدلي وي راکړي چې څوک مې د درولو جرات ونه کړي، خو هغه ماته دغه جواز رانه کړ او راته وې ویل چې لاړ شــم. ما له ده ســره مخه ښــه وکړه او ووتم او یو ځل بیا مې وویل چې که هر چا زما مخه ونیوله، زما ځواب به مرمۍ وي. کوشبیګي خپله د ځاځ ښکارونه ونه شوی ساتلی او راته وې ویل: «کورو به» خو هغه زما په وتلو خوښ ښکارېده.[٢٤]

ویتکېویچ او حســین علي په راتلونکو میاشــتو کې کرار کرار د شـــاګۍ له لارې اورنبورګ ته ورســېدل او بیا ســن پیټرزبورګ ته روان شــول. حســین علي په لاره کې د پېچ په مرض اخته شــو، خو ویتکېویچ یې پالنه وکړه او ده ته یې تسلیت ورکولو. د ناروغۍ د اوږدې مودې د دمې او ارامتیا پر مهال، ویتکېویچ له حسین علي څخه په فصاحت د درې ژبه زده کړه. دوی دواړه بلاخره د ١٨٣٧ کال د مارچ په میاشـت کې پلازمېنې ته ورسـېدل. ویتکېویچ څلور کاله مخکې په ځنځیرونو تړلی بندي له اروپا څخه ایســتل شــوی و. خو دا ځل په خپله تزار نېکولاس ښـــار ته د رارســېدو مبارکي ورولېږلــه او د لمړي بریـدمن ترفیع یې ورکړه. نوموړی نېغ د بهرنیو چـارو وزیر او د چـانســـلر مرســـتیـال، کونـټ نېسلروډ Count Nesselrode دفتر ته بدرګه شو.

د میرزا حسین علي د ماموریت خبر ټول هغه روسي مامورین چې په راتلونکې لویې لوبې کې ښکېل وو خوشحاله کړل. کونټ سیمونیچ په تهران کې له روسي سفارت څخه ولیکل: «دغه فرصت باید ضایع نه شي. په پارس کې انګرېزي نفوذ مخ په کمېدو دی او اوس د دې وخت رارسېدلی چې روسیه له پارس او کابلستان سره یو درې ګونی ائتلاف جوړ کړي؛ نو په دغه وسـیله به له کابل څخه تر تبرېزه د روسـي نفوذ یوه لیندۍ ته ورته کرښــه جوړه شـي. په افغانسـتان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسیې برلاسی به برتانیه شاتګ ته اړ باسي او په اباسین کې به د خپل موقف د ساتنې هڅې وکړي. بیا به دوی د دې فرصت ونه لري چې د روسي طبیعي نفوذ په سیمو کې سرخوږی جوړ کړي. سربېره پر دې، په افغانستان کې د روسیې سیاسي نفوذ به د روسي محصولاتو له پاره افغان مارکیټ پرانیزي.»[٢٥] د اورنبورګ والي له سیمونیچ سره په دې اړه همغږی و. هغه لیکلي:

دا بیخي اړینه ده چې د کابل مشر [دوست محمد خان] ملاتړ وکړو ځکه که چېرې شجاع چې انګرېزان یې ملاتړ کوي واک ترلاسه کړي، افغانستان به د انګرېزي نفوذ لاندې شي؛ نو بیا به انګرېزان د یو ګام په اخیستلو بخارا ته ورسېږي. ټوله منځنۍ اسیا به د انګرېزي نفوذ لاندې راشي او له اسیا سره به زموږ سوداګري په ټپه ودرېږي. انګرېزان به اسیایي ګاونډ هېوادونه ځواکمن کړي، دوی ته به پیسې، وسلې او مهمات ورکړي او زموږ پر ضد به کار ترې واخلي. که روسیه د دوست محمد ملاتړ وکړي، هغه به ځان زموږ د احسان پوروړی وګڼي او بې اړنګه به له موږ سره ښه ملګری او د انګرېزانو به دښمن شي. دی به منځنۍ اسیا د انګرېزانو پر مخ وتړي او د دوی د سوداګرۍ ځواک ته به خنډ جوړ کړي.[٢٦]

والي دا هم وویل چې ویتکېویچ دې افغان استازی بېرته تر کابله بدرګه کړي ځکه چې دی یو کارنده او هوښیار سړی دی، په خپله دنده پوهېږي، په طبعه د عمل سړی دی، د لیکلو او خبرو په پرتله یې عمل او کړنې خوښېږي، په شاګې کې بلد دی او هستوګن یې د هر مړي او ژوندي په پرتله ډېر پېژني.[٢٧] په سن پیټرزبورګ کې د دوست محمد لیک په ځیر وڅېړل شو او جوته شوه چې په لیک کې هر څه د دوی له هیلې سره سم وو. دوست محمد لیکلي وو چې انګرېزان د ټول هند اشغال ته نږدې شوي او که کچېرې ده ته د پیسو او وسلو داسې مرسته وشي لکه له پارس سره چې کېږي، دی کولای شي چې په یوازیتوب د دوی پرمختګ ودروي: «موږ هیله من یو چې په هغه بېسارې کچه چې تاسو د سخاوت باران پر پارس جوړ کړی، په افغان دولت او زموږ د کورنۍ په سلطنت به هم دغسې باران جوړ کړئ چې ستاسې د لویې امپراتورۍ په سخاوت به بېرته خپل پخواني مطلوب حالت ته اوچت شي.»[٢٨] نو نېسلرود، افغانستان ته د یو سوداګریز او ډیپلوماتیک پلاوي د لېږلو سپارښتنه تزار ته وکړه. هغه لیکلي وو: «که هر څومره دغه هېوادونه [افغانستان او هند] زموږ څخه لیرې دي او که هر څومره زموږ پوهه او مالومات د دوی په هکله لږ دي، خو له دې څخه انکار نه شي کېدی چې د سوداګریزه اړیکو هر راز پراختیا به موږ ته ګټوره وي.»[٢٩] خو یوازېنۍ ستونزه د میرزا حسین علي نه رغېدنه وه؛ نو وروسته له ډېرو غونډو پرېکړه وشوه چې ویتکېویچ به له افغان استازي څخه مخکې لاړ شي ځکه چې میرزا حسین علي دومره ناروغه و چې د تګ توان یې نه درلود او لږ تر لږه یوې میاشتې ارامتیا ته یې اړتیا درلوده.

د ۱۸۳۷ کال د مې میاشتې په څورلسمه ویتکېویچ ته په لیکلې بڼه یو شمېر حکمونه له دوست محمد سره د سوداګریزو اړیکو د پرانیستلو په هکله ورکړل شول. د یوې روسي سرچینې پر بنسټ، ویتکېویچ ته یو شمېر پټ ګړنې حکمونه هم ورکړل شوي وو او هغه دا چې له روسانو څخه د دوست محمد د بشپړ ملاتړ په بدل کې به له ده سره د دوو میلیونو روبلو مالي مرسته وشي چې دی به د رنجیت سېنګ پر ضد ترې کار واخلي او همدا راز د پوځي اکمالاتو ژمنه دې هم ورسره وشي چې خپله ژمنۍ پلازمېنه، پېښور بېرته تر خپل واک لاندې راولي چې په ۱۸۳۴ کال د شاه شجاع له ناکامې هڅې راهیسې له لاسه وتلې وه.[٣٠] ویتکېویچ دې سربېره پر دې هڅه وکړي چې په کندهار کې د دوست محمد میرني ورونه هم په دغه نوي ائتلاف کې ګډ کړي او په کابل کې له خپل ورور دوست محمد سره د دوی په یووالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګار وکړي. ده ته وویل شول چې دا بیخي اړینه ده چې د افغان واکمنانو تر منځ سوله راولي... او دوی د یوه‌والي او ښه اړیکو په ګټه پوه کړي، نه یوازې شخصاً دوی ته د یووالي په ګټو بلکې تر خپل واک لاندې سیمو ګټې چې دوی به د بهرني یرغل پر وړاندې ترې ښه دفاع وکړای شی او د کورني اړدوړ په ارامه کولو کې به اغېزمن وي. ویتکېویچ به د خپلې لیدنې په ترڅ کې مفصل نوټونه اخلي او له بېرته راتګ سره به د افغانستان د اوسني وضعیت په اړه، د سوداګرۍ، پوځ، مالي حالت او د انګرېزانو په هکله د افغان واکمنانو د اند په اړه یو بشپړ راپور لیکي.[٣١]
ویتکېویچ د قفقاز له لارې یون وکړ. له ده سره کپتان ایون بلرمبرګ Ivan Blaramberg هم مل و. نوموړی په تهران کې د سیمونویچ د اداري مرستیال په توګه نوی ګمارل شوی و.[٣٢] په تبلیسي کې له دمې وروسته، دوی باید په بدله جامه او په پټه او ډېر پام د تهران په لور روان شي. ویتکېویچ ته وویل شول: «کله چې تهران ته ورسېدی، ته به د سیمونویچ تر لاس لاندې وې او هغه ته به راپور ورکوې. افغانستان ته ستا د تګ او د نه تګ پرېکړه به دی کوي. که د سیمونویچ په اند، د پارس اوسني سیاسي وضعیت ته په پام سره، ستا تګ افغانستان ته مناسب نه وي او یا د کوم بل دلیل له وجې ستا تګ هلته شونی نه وي؛ نو هغه به افغانستان ته ستا تګ لغوه کړي. سیمونویچ به د افغان استازي میرزا حسین علي د بعدي یون د تیارۍ په اړه هم پرېکړه کوي.»[٣٣] د لیکلي حکمونو په پای کې کونټ نېسلروډ، ویتکېویچ ته لیکلي وو: «اړینه نه ده چې موږ یې تا ته یاده کړو چې ټول پورتني حکمونه په کلکه محرم دي او په تهران کې زموږ له پلاوي، سیمونویچ او برون فن روزن Baron Von Rosen څخه پرته، نور هېڅوک باید د دغه حکمونو په اړه پوه نه شي. احتیاط دا غوښتنه هم کوي چې کله افغانستان ته تللې، ته باید ټول حکمونه له سیمونویچ سره پرېږدې. دا ځکه چې که چېرته په لاره کې څه پېښ شي؛ نو هېڅوک به ستا د ماموریت په اړه په څه پوه نه شي.» نېسلروډ دا ټینګار هم وکړ چې په ځانګړې توګه دا اړین دي چې انګرېزان له دغه پلان څخه خبر نه شي او نوموړي ته په ضمني ډول وویل شول چې که انګرېزان د ده په هکله خبر شي، روسیه به د روسي افسر په توګه د ده له شتون څخه انکار وکړي.
د ویتکېویچ له مرموزې مړینې څخه وروسته، د نوموړي د یون نوټونه ټول وسوځول شول خو د کپتان بلرمبرګ یون لیک پاتې دی. هغه لیکلي: «کله مې چې دوه میاشتې په سن پیټرزبورګ کې تېرې کړې او ټولې لاربښوونې راکړل شوې، ما د تګ له پاره تیارۍ پیل کړ، خو له دې څخه مخکې مې د لارې ملګري، لمړی بریدمن ویتکېویچ سره لیدنه وشوه. هغه یو اته ویشت کلن په زړه پورې پولنډی ځوان او د ښې پوهې خاوند او سپکمن کس وخوت... دی ټولې هغه اړینې ځانګړتیاوې لري چې په اسیا کې د الکساندر برنز رول ولوبوي.»[٣۴]
دغه دواړو د سوېل په لور خپل یون پیل کړ. دوی د پارس او افغان ماموړینو له پاره د ډالیو او رشوتونو څخه یوه ګاډۍ ډکه کړې وه. کله چې تبلیسي ته ورسېدل، دوی له سر قوماندان برون فن روزن سره وکتل او د کونټېس سیمونویچ (د سیمونویچ میرمن. ژباړن) سره یې هم لیدنه وکړه. نوموړې به ډېره هلته تلله او د هغې ښایسته لورانې خپلې حیرانوونکې مور ته ډېرې ورته وې.
دوی چې هر څومره د سوېل په لوري تلل، همدومره منظرې ښایسته کېدې. دغه دوه مسافر به تر ستورو لاندې ویده کېدل او له کوچیانو سره به یې شپې تېرولې. بلرمبرګ لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د جولای په یولسـمه د یریوان Yerivan ولایت له پولې څخه تېر شـوو او ډېرې ګرمۍ موږ اړ ایسـتو چې یوه نږېدلې جومات ته لاړ شـو. دا هغه ځای و چې موږ په لمړي ځل د ارارت Ararat ښـایسـته غر ولید چې په ځلانده واورو غبرګو پټو څوکو یې په سوېل کې له هوارو څخه سر اوچت کړی و. په دیارلسم موږ د غره په وروستۍ موړه وختلو او د ارس Aras درې ته ښکته شـوو. ورځ ډېره ښایسـته وه او اسـمان تک شـین و. موږ له ونو لاندې په سـیوري کې د یوه بهانده لښتي ترڅنګ کښېناسـتو او د ښایسـته ارارت Ararat له ننداره مو خوند اخیسـت. زموږ ارمني چوپړیال خوندور پلو راته پوخ کړ او موږ چې ساعت مو تېر و، یو بوتل مدېرا* مو تش کړ.[۳۵]

کله چې دوی د پارس له پولې تېر شـول، د ویتکېویچ ژربدلېدونکی مزاج خراب شـو. بلرمبرګ لیکلي: «په پارس کې زموږ د یون په بهیر کې به ویتکېویچ ډېر وخت د خپګان حالت درلود او ویل به یې چې له ژوند څخه یې زړه تور دی.» یوازې کله چې دوی تهران ته ورسېدل، د ویتکېویچ مزاج بېرته سم شـو. ځکه چې سیمونویچ دی له دوه ځارګرېزه مالوماتو څخه چې دغه پولنډی یې په اوربدو ډېر کازمن شو، خبر کړ. لمړی خبر چې وروسته دروغ وختوت دا و چې انګرېزي استخبارات د میرزا حسین علي په ماموریت شکمن شـوي وو او دوی له کابل څخه په دغه دوو مسافرو پسې وو او د دوی ځار یې کولو چې اوس له دې وچې کېدای شـي ویتکېویچ د انګرېزانو د دسـیسـو او پارونې ښـه وګرځي، خو دې خبرې هم حقیقت نه درلود - انګرېزان په دغه مهال کې تزار ته د افغان ماموریت د تګ په هکله هېڅ خبر نه وو- د روسـي ماموریت د خوندي سـاتلو له پاره په تهران کې روسـي سـفارت، ویتکېویچ ته قزاقي سـاتونکي ورکړل چې د نیشـاپور له لارې په هرات کې د شـاه تر کمپه یې بدرګه کړي؛ نو دغه بدرګه وه چې انګرېزي اسـتخبارات یې ځک کړل - رالېنسـن دوی ته د ویتکېویچ د ماموریت شتون بربنډ کړ.

دویم خبر ویتکېویچ ته ډېر په زړه پورې و. په افغانسـتان کې د سـیمونویچ جاسـوسـانو نوموړي ته خبر ورکړ چې ویتکېویچ به په کابل کې یوازې نه وي ځکه چې الکسـاندر برنز منځنۍ اسیا ته په خپل دویم ماموریت هم په همغه لور سـتون و. ده ته هم د ویتکېویچ غوندې ځانګړې حکمونه ورکړل شـوي وو چې د دوسـت محمد خان ملاتړ خپل کړي. ویتکېویچ چې برنز یې له نږدې ځارلو او تر یوې کچې یې د هغه موډل له ځان څخه جوړ کړی و، اوس یې له ده سـره منزل او ماموریت کټ مټ یو ډول و. دغو دوو کسـانو په رښـتیا ډېرې ګډې وجې درلودې. دوی څه نا څه همزولي وو، دواړه د خپلو امپراتوریو له لیرې پرتو ولایتونو څخه وو، دواړو له ممتاز پوړ سـره تړاو نه درلود، اسـیا ته دواړه د څو میاشتو په درشل کې لاړل او دواړو په خپله زړورتیا او لیاقت او په ځانګړې توګه په ژبو کې د وړتیا له وجې اوچت مقام ترلاسه کړی و. اوس به دوی په کابل کې یو بل سره مخامخ کېږي او د دوی د سیالۍ پایله به نه یوازې د افغانستان بلکې د منځنۍ اسیا نږدې راتلونکې تعریف کړي. لویه لوبه پیل شوه.

* په مدېرا Medeira کې جوړ شوي واین. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



الکسـاندر برنز د ۱۸۳۷ کال د اکتوبر په میاشـت کې پېښـور ته ورسـېد. له پېښـور څخه د نوموړي له وروسـتی لیدنې راهیســې کوم بدلون چې په پېښــور کې راغلی و پر ده باندې ښــه اغېز ونه کړ. کله چې شــاه شــجاع په ۱۸۳۴ کال پر کندهار یرغل وکړ، رنجیت ســـېنګ پېښـــور فتح کړ. هغه د دریېو کلونو په ترڅ کې د خپل پوځ نیمه برخه پېښـــور ته لېږدولې وه او د درانیو دغه ژمنۍ پلازمېنه یې په لویو پنجابي بارکونو بدله کړې وه. د بالاحصـــار پر نندارځایونو او د ښـایسته باغ پر ځای یې، چېرته چې په ۱۸۰۹ کال کې شاه شجاع الفنسټون ته ښه راغلاست ویلې وو، د خښتو لویه کلا جوړه کړې وه او د خیبر په خوله، جمرود کې یې یوه بله لویه کلا چې له توپونو څخه ډکه وه جوړه کړې وه. برنز لیکلي وو: «د رنجیت سـنګ یو افسـر، پاولو اویتبېلې Paolo Avitabile چې پخوانی ناپلیوني افسـر دی، اوس پېښـــور اداره کوي. سېکانو هر څه بدل کړي: په ښار کې ډېر ښایسته باغونه په عسکري قشلو بدل شوي، ونې وهل شوې او ټوله سیمه یو لوی کمپ ته ورته ده. د مسلمانانو دود او دستور ورک شـوی. د ساز او ګډا غږ هر وخت له هر ځای څخه اورېدل کېږي.»[٣٦]

برنز دا هم لیکلي وو چې په پېښــور کې د رنجیت ســېنګ له لوی اشــغالي پوځ ســره ســره، دوی ته د ســیمې پښــتون مخالفینو سـختې سـتونزې جوړې کړې وې او د دوی پر ضـد دومره ډېر قومي پاڅونونه، وژنې او بلواوې کېدې چې د پېښــور اشــغال د ســېکانو د ســرچینو د لګښــت لویه برخه جوړوله. برنز پوه شــو چې په حقیقت کې دا د نوموړي د ماموریت له پاره ښـه خبر دی ځکه چې دغه وضـعیت به رنجیت سـېنګ په دې راضـي کړي چې د پېښـور د راتلونکې په اړه له دوسـت محمد سـره جوړجاړی وکړي او که چېرې له برنز سـره بخت یاري وکړه، دوی دواړه به پخلا او د برتانیې متحدین کړي.

کابل ته د برنز د لېږلو پرېکړه نوي لوی والي کړې وه. نوموړی د مکنېل هغه راپور وهڅولو په کوم کې چې په پارس کې د روسي فعالیت د ډېرښت او د هرات او پاتې افغانستان په هکله د روسانو د ناټ ادعا شوې وه. په دغه مهال کې اکلنډ نوی کلکتې ته راغلی و او د ســیمې په هکله یې دومره پوهه نه لرله، خو دوه کاله مخکې نوموړي په یوه مېلمســـتیا کې برنز چې د خپل بریالي کتاب په هکله په دوره بوخت و، په بووډ Bowood کې لیدلی و؛ نو نوموړی یې د دغه ماموریت له پاره مناسـب وګڼلو او برنز د دویم ځل له پاره د اباسـین په لور ولېږل شـو چې لمړی د اباسـین هر اړخیزه څېړنه وکړي او په اوبو او ځمکه کې د بېړۍ چلونې شـناختې، نښې او ځلي کېږدي او بیا به افغانستـان ته ځي چې د افغان او پارس د واکمنانو د نویو اړیکو په هکله، د روســانو او په ســیمه کې د دوی د فعالیت په اړه د افغانانو د ذهنیت او په منځنۍ اسیا کې د سـوداګرۍ د پراختیا له پاره د روسـې د اقداماتو په هکله څارګریز مالومات ټول کړي - د برنز دغه دنده، د نـېسـلـروډ لـه خـوا ویـتـکـېـویـچ تـه ورکـړل شـوې دنـدې تـه ډېـره ورتـه وه.[٣٧]

په عین حال کې، په کابل کې د بارکزي حاکمانو ناڅرګند ذهنیت ته په پام او د کلکتې رســمي نظر ته په کتو ســره چې بارکزیو په زور د افغانستان د رښتیني پاچا، شاه شجاع په تخت خېته اچولې، د اکلنډ سیاسي سکرتر ویلیم مېکناټن چې تل له پروتوکول سـره سـم د کړنو غم ورسـره و، امر وکړ چې د ماموریت وټې ته کلکه پاملرنه وشي او ډېر لګښـت دې نه کېږي؛ نو دا ځل د برنز ماموریت د الفنسـټون د ماموریت په پرتله ډېر بې دبدبې او له خورا لږو ډالیو سـره و. هغه ته په حقیقت کې یوازې یوه تومانچه او یو تلسـکوپ د دوسـت محمد له پاره ډالۍ ورکړل شـول. د الفنسـټون د ماموریت شـان اوشـوکت او د بې شـمېره ډالیو په اړه د افغانانو قوي حافظې ته په کتو سـره، د برنز د دغه ماموریت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریا دومره شونې نه برېښېده او له بلې خوا په داسې وخت کې چې برنز خیبر ته چې د جګړې لمړۍ کرښه وه ستون و، د افغـانـانو او ســپکـانو تر منځ د ســختې جګړې د پیـل خبر د دغـه مـاموریـت بریـا تـه ښــه زېری نـه و. د ۱۸۳۷ کال د اپرېل په دېرشـمه، د رنجیت سـېنګ له لوري د پېښـور پر سـر د اشـغال پر سـر د جمرود جګړه د افغانانو او سېکانو تر منځ د درېیو کلونو د شخړو او تاوتریخوالي ثمره وه. په ۱۸۳۴ کال کې وروسته له دې چې د شاه شجاع یرغل یې له ماتې ســره مخ کړ، دوســت محمد ســمدلاســه خپل پام د افغان ژمنې پلازمېنې ازادولو ته واړولو. د تقوا، یا د ســتراتېژۍ له مخې او یا د دواړو له مخې، د کابل علماوو د ۱۸۳۵ کال د فبرورۍ په میاشــت کې دوســت محمد ته د امیرالمومنین لقب ورکړ. میر وزیر چې تر ټولو مشـر سني عالم و، د کابل ښـار په څنډه، عیدګاه کې د دوسـت محمد په لونګۍ کې د وربشــو تازه وږي کېښــودل.* دا د هغه مراســمو ازانګه وه په کومو کې چې یو بزرګ صــوفي، احمدشــاه ابدالي، د شاه شجاع نیکه ته د ۱۷۴۷ کال د جنورۍ په میاشت کې تقدس ورکړ. لکه څنګه چې په سراج ته التواریخ کې یاد شوي:

دوسـت محمد د شـاوخوا سـیمو خلک کابل ته وغوښـتل او د جهاد اعلان یې وکړ چې پنجاب، پېښـور او نورې سـیمې به بېرته نیسـي. مذهبي پوهانو چې جهاد فرض ګڼلو، او د دین په لار کې یې وژل او وژل کېدل د ښـه ژوند وسیله بلل، په خوښۍ راټول شـول او اعلان یې وکړ: «د جهاد ناره د امیر په شتون او د امارت په جوړېدلو ترلې ده. هر څوک چې د هغه فرمان او نهې نه مني، دا په دې مانا دي چې هغه د خدای او رســول احکام نه مني. دا په مطلق ډول اړینه ده چې خلک د ده اطاعت وکړي او هغه چا ته چې د ده له امر څخه سـرغړونه کوي جزا ورکړي.» دغه اعلان له دوسـت محمد سـره د خپل امارت په بنسـټ اېښـودلو کې مرسـته وکړه او په لنډ وخت کې یې هر څه برابر کړل. نوموړی په تخت کښـیناسـت، سـکه د ده په نوم جوړه شـوه او د جمعې خطبه د ده په نوم کېده. په سـکه کې دغه بیت لیکل شوی و.

امیر دوست محمد د جهاد هوډ وکړ
او چې سکه جوړه کړي - خدای دې بریا ورکړي

کله چې دوسـت محمد په تخت کښـیناسـت، هغه د جهاد هوډ وکړ او له ۶۰۰۰۰ کسـیز پوځ سـره چې له شـاهي سـپرو، پلي او قومي څواکونو څخه جوړ و، د پېښور په لور روان شو.[۳۸]

د سېکانو پر ضد د جهاد اعلان د دوسـت محمد واک ته مشـروعیت ورکړ. نوموړي هېڅ کله د سـدوزیو د شـاهي لقب ادعا ته زړه نه و ښــه کړی او تر دغه مهال پورې د نوموړي مشــروعیت په قدرت او عدالت کې د ده په نومیالتوب کې پروت و، خو اوس هغه لوړې قراني مرجع ته په رجوع او د یو ښـه مسلمان په څېر د کفارو پر ضد د جهاد د وجیبې په ادا کولو یې مشــروعیت ترلاســه کړ- او په تیورۍ کې- په پرهېزګارۍ او دین دارۍ کې یې یوه بله زرینه اســلامي دوره په دغه زریزه ( ۱۰۰۰ کاله. ژباړن) کې پیل کړه. په عین وخت کې دوسـت محمد د جهاد له مشـرۍ څخه ولس مشـرۍ ته د رسـېدو له پاره کار واخیســت، هغه لوی والي ته ولیکل: «دغه خلک زما د ملت قومونه دي او له دوی څخه ملاتړ او د دوی ساتنه پر ما فرض او زما دنده ده. سـوچ وکړه او دا ارزونه وکړه چې افغانان به ظلم او اسـتبداد ته پرته له کوم

*دغسې لقب د طالبانو ملا عمر هم ترلاسـه کړ. نوموړي په ۱۹۹۶ کال کې له دوسـت محمد څخه په الهام اخیسـتنې د افغانسـتان اسـلامي امارت جوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقاومت څخه چوپه خوله پاتې شي؟ تر هغه وخته چې زما په ځان کې سا چليږي، زه له خپل ملت څخه او ملت له ما څخه جلا کېدای نه شي.»[٣٩]

دوست محمد د همدغه مياشې په پای کې پر پېښور خپل لمړنی ناکام بريد وکړ. نوموړي د جهاديانو رنګ رنګ ډلې راغونډې کړې وې. جوسايه په دې هکله ليکلي: «له ليري پرتو غرونو څخه اکاړان چې ډېری يې څورب• او غښتلي وو او په ګډو وډو وسلو لکه تورو، ډالونو، غشو او لنديو، ټوپکو، تومانچو او نېزو سمبال وو، د خدای او رسول په رضا د پنجاب بې علمه کفارو د وژلو، چور او تباهۍ له پاره چمتو وو.» دغه ګډ وډ پوځ د سېکانو له ښه روزل شوي او با دسپلينه خالصه پوځ سره نه شوی پرتله کېدی او پرته له دې چې په پېښور کې د ځائمنو سېکانو له خوا د مسلمانانو عامه وژنه وپاروي، کومه د پام وړ لاسته راوړنه يې نه درلوده، خو دغه بريد دوست محمد ته فرصت ورکړ چې په ارامی، وردګ او غزني چې کابل يې د خيبر او سېکانو له پولې بېلولو، په خپله واکمنۍ کې مدغم کړي؛ نو د هغه وخت په پرتله چې يوولس کاله مخکې دوست محمد په کابل کې واک تر لاسه کړ، اوس يې له ماليې څخه عوايد پنځه برابره ډېر شول او بې اړنګه په هېواد کې تر ټولو پياوړی واکمن شوی و. د ١٨٣٧ کال د فبرورۍ له پای وروسته، امير يو ځل بيا له سېکانو سره شخړه راپورته کړه. هغه د رنجيت سېنګ جنرال او په پېښور کې د سېکانو د پوځي ځواکونو مشر، هري سېنګ ته وليکل: «ستاسې له لوري د جمرود اشغال چې د خيبر په پوله پروت دی او زما د رعيت، خيبريانوملکيت دی، خلک ډېر په غوسه کړي او دوی به هرهغه څه ترسره کړي چې له وسه يې پوره وي څو د دغه اشغال مخنيوی وکړي. زما زوی، اکبرخان هم له دوی سره د مرستې له پاره هر څه ته چمتو دی ... که ته هڅه وکړې چې مهاراجا سره خبرې وکړې چې پېښور ماته وسپاري، زه به هغه ته د دغه سيمې اسونه او نورې ډالۍ ورولېږم. که چېرې ته په دغه پرېکړه اغېز کولی شې، زه به ستا هره غوښتنه ومنم او که داسې ونه شي، بيا خو ته زما په ځواب پوهېږې.»[٤٠]

سېکانو دغه ليک ته پام ونه کړ او دوه مياشتې وروسته کله چې رنجيت سېنګ له پېښور څخه اروپايي روزل شوی ځواک لاهور ته وروغوښته چې د شاهي کورنۍ په واده کې د تشريفاتي پوځ دنده ترسره کړي، شل زره افغان سپره قوه پر خيبر ښکته شوه او وتوانېده چې د جمرود نوې کلا ته څېرمه هري سېنګ کلابند کړي. په دې اړه په سراج التواريخ کې ليکل شوي: «اکبرخان او هري سېنګ د سختې جګړې په ترڅ کې يو له بل سره مخ شول. دوی پرته له دې چې يو بل وپېژني، پر يو بل يې تر هغه وخت پورې ګوزارونه کول تر څو چې اکبر خان برلاسی شو او هري سېنګ يې پر ځمکه چپه او مړ کړ. دا چې قوماندان يې ووژل شو او د اسلام لښکر د دوی په لور لکه د سېلاب څپې روان و، سېکانو د جګړې ډګر پرېښود. سرداران تر هغه وخته په دوی پسې وو تر څو چې سېکان د جمرود کلا ته ننوتل او هره لاره يې په ځان پسې وتړله.»[٤١] د سېکانو ځانګړی پوځ بېرته په چټکۍ راوګرځيد او د دوو اونيو په ترڅ کې يې افغانان شاتګ ته اړ کړل، خو دې د دوست محمد حيثيت ډېر اوچت کړ او دا د اکبر لمړنی بريا وه او ده وښودله چې څومره يې د خپل پلار د جګړې ورتيا خپله کړې وه. له دغه وخت څخه د اکبرخان نه تر ټولو پياوړی قوماندان جوړ شو.

برنز اباسين ته تر نيمې لارې رسېدلی و کله يې چې د جګړې خبر واورېد. تر يو وخت پورې دا څرګنده نه وه چې دغه

• څورب: د غټې تنې څېښتن

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوتریخوالی به افغانستان ته د نوموړي د تګ مخنیوی وکړي او ماموریت به یې لغوه شي، خو هر څه چې کېدل، دغه جګړې برتانیه په یو بېخونده موقف کې واچوله په داسې حال کې چې برتانيې هڅه کوله د جګړې له دواړو خواوو سره متحده پاتې شي، خو کله چې برنز پېښور ته ورسېد او په خپلو سترګو یې ولیدل چې سېکان د پېښور په ساتلو کې له څومره ستونزو سره مخ دي او سېکانو ته دا ناشونې وه چې په سیمه کې نظم راولي، دی په دې پوه شو چې سېکانو ته دغه اشغال دومره ستونزمن او ګران بیه دی چې ده ته د شخړې د حل له پاره د خبرو اترو ځای شته. برنز په تهران کې مکنېل ته په یو لیک کې خپله نظریه یاده کړې وه او هغه دا چې پېښور به د رنجیت سېنګ تر مړینې د سېکانو تر واک لاندې وي او بیا به افغانستان ته وسپارل شي.[٤٢]

کله چې برنز د اګست په دېرشمه د خیبر درې په لور روان شو او له هغه سیمې تېر شو چې د دواړو خواوو تر واک لاندې سیمو تر منځ پرته وه، نوموړي باوري هیله درلوده چې دی به د افغانانو او سېکانو تر منځ یوه جوړه روغه راوستی شي. برنز لیکلي:

موږ له پېښور څخه روان شوو او اوبتیبلې تر جمروده پخپله ګاډۍ کې ورسولو. جمرود د افغانانو او سېکانو تر منځ د وروستۍ جګړې ډګر و ... وضعیت په هېڅ ډول سم نه برېښېده. هغه ډله چې موږ یې تر خیبره باید بدرګه کړي وای، تر اوسه نه وه رارسېدلې او که څه هم له جګړې څخه څو میاشتې تېرې شوې وې، د مړو له جسدونو، سرېو او اسونو څخه تورم• خوا ګرځن و. د اوښانو څو ساتونکي چې زموږ د راتګ په ورځ د څو عسکرو په بدرګه روان شوي وو، د افریدي غروالو تر برید لاندې راغلل. افریدیانو اوښان وشړل او د دوو کسانو سرونه یې غوڅ کړل. د دوی غوڅې تنې بېرته کمپ ته راوړل شوې... [خیبر ته د لارې په نیمايي کې] سړک ته څېرمه، دوی یې شمېره ورې غونډۍ موږ ته وښودلې چې د خپلې وروستۍ بریا په ترڅ کې یې د سېکانو سرونه په کې خښ کړي وو. په ځېنو دغه غونډیو کې د دوی وېښته تر اوسه ښکارېدل.

برنز او ورسره مل کسان به چې د هر قوم له پولې څخه تېرېدل، دوی به په لویه او وړه لاره کې ودرول شول. دغه پلاوی کرار کرار د دوست محمد تر واک لاندې سیمې ته ورسېد. څو ورځې وروسته، کله چې برنز په نیمله کې (چېرته چې دوست محمد، شاه شجاع ته په ۱۸۰۹ کال کې ماته ورکړې وه) د شاه جهان لوی مغولي بڼ له لوړو چنارو او سروو څخه تېر شو، نوموړی له دوو داسې کسانو سره مخ شو چې د ده په راتلونکي ژوند کې یې مهم رول لوبولی.

د دغه دوو کسانو لمړنی کس چې د برنز کمپ ته لاړ، له پوځې چوپړ څخه تښتېدلی او په جاسوس بدل شوی یو انګرېز او لرغونپوه، چارلس مسون و. نوموړي د کابل او جلال اباد په شاوخوا کې د باختري یونانیانو او کوشاني بودایانو ځایونه راسپړلي وو او له دې کبله یې په هندوستان کې لوی نوم موندلی و. برنز له مسون سره په لیدنې خوښ شو او له هغه څخه یې په خپل یادښت کتاب کې د لرغون توکو یو تکره او نومیالي انځورګر په توګه یادونه کړې او په لیکوالۍ که یې د ده د برياوو، په افغانستان کې د هغه د اوږدې اوسېدنې او د خلکو او پېښو په هکله د نوموړي د پوهې ستاینه کړې ده.[٤٣] خو مسون چې افغانستان له ډېر وخت څخه له نږدې پېژانده او د دوست محمد باور یې خپل کړی و، د پرمختګ لېوال او ځانپال نومیالي مېلمه ته دومره خوشحاله نه و. د نورو په څېر، د مسون هم بخارا ته په یوازې یو یون د برنز تر لاسه کړی نومیالتوب نه خوښېده او د هغه په ډیپلوماتیکه وړتیا او د جغرافيې له اړخه د نوموړي په پوهه ډېر شکمن و. مسون وروسته لیکلي و: «زه منم چې د برنز چلند او اند ته په کتنې، ما د نوموړي د ماموریت د

• تورم: بد بوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریا په اړه ډېر ګونګ استدلال وکړ، خوهغه فکر کوي چې له افغانانو سره د ماشومانو چلند کېدای شي.»[۴۴] خو په یوه موضوع دوی دواړه همغږي وو: سېکانو ته د پېښور اشغال یو مالي مصیبت او د رنجیت سېنګ له پاره د خطر زنګ یوه دوامداره او د روحي نارامۍ سرچینه دی. اوس د دې وخت رارسېدلی چې سېکان، افغانان او کمپنۍ په یو ائتلاف کې راوستل شي چې د روسي او پارسي دسیسو مخنیوی وکړي. مسون دې پایلې ته رسېدلی و چې افغان چارو ته د حل لاره شته او اوس د شخړې حل د دوی په واک کې دی.[۴۵]

دویم کس چې د برنز کمپ ته لاړ، یو د برم ځښتن چې پر پیل سپوراو تر شا یې یوه منظمه افغان اسواله پوځي ډله وه، په ماښام کې کمپ ته ورسېد. دا د دوست محمد ځلورم زوی محمد اکبر خان و چې په چټکۍ د ډېر واک خاوند کېده او نومیالیتوب ته یې لاره هغه وخت پرانیستل شوه چې هري سېنګ یې دوه میاشتې مخکې وواژه. اکبر خان په ځان پیاوړی، په تنه مظبوط ځوان او مخ یې د باز په څېر و. هغه په زړورتیا، جذابیت، د زړه په کلکوالي او په ستراتېژیکي وړتیا کې خپل پلار ته ورته و. نوموړی له ټولو دغه ځانګړتیاوو سره د یو اتل په څېر په افغان حماسي سندرو او شعرونو کې داسې ستایل شوی چې د شاه ارتر King Arthur، اکېلېس Achilles او رولند Roland ټولې ځانګړتیاوې راټولې شي او په دري حماسي شعرونو کې یوازې د اکبر په ستاینه کې یادې شي.[۴۶]

کله چې زړور اکبر، د تورې استاد
د غلیم قواوې وځپې او کړل یې دوی مات
کله یې چې په تونده له دښمن سره جګړه کړه
تنکی ځوان و خو جرأت یې و د سهراب
هغه یو ځواکمن اتل شو او ډېر مېړنی
په ټوله خاوره کې شهرت یې لکه پیاوړی رستم
کله یې چې موسم د ځوانۍ راغی
ښایسته او په ونه لوړ لکه سرو
عالم شو په هر علم کې
تکړه شو په هر کسب کې
ځلانده ونکه• یې روښانه کړې د الهي نور
دی لایق دی د تاج او تخت
ټول جهان کتل د ده مخ ته
ټولې سترګې وې ده ته اوښتې[۴۷]

بې اړنګه، د اکبر دومره ښایست و چې په ۱۸۳۰ مو کلونو کې په کابل کې د مینې سمبول وګرځېد. د اکبرنامې لیکوال او د اکبرخان په ستاینه کې د لمړني حماسي شعر لیکونکي مولانا حمید کشمیري څو پاڼې د اکبرخان د واده د شپې په اړه او د خپلې ښایسته ناوې، د محمدشاه غلزي لور سره د هغه د وصال په هکله لیکلې دي:

• ونکه: صورت، بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه حوره د جنت، داسې رڼا لکه لمر
چې د اسمان ستوري او سپوږمۍ ورنه شرمېږي.
هيله او هوس د دواړو پارېدلي
احساسات په لمبه شول چې دواړه يو بل ته نږدې شول
د حجب او حيا پرده دواړو لیرې کړه له مخه
د جامو پرده دواړو لیرې کړه له ځانه
دواړه دومره نږدې شول يو بل ته
لکه عطر ګلاب ته، لکه رنګ غاټول ته
يو بل سره پراته وو په خوند او خوشحالۍ
ځان پرځان، مخ پر مخ، شونډې پر شونډې
ګوتې به ولګېدې پر سپوږمۍ او زومبک ستورو کله کله
لاس به اوږد شو د مينې مشک ته کله کله
خوږو مچو يې دی ډېر کړ پارولی
دواړو غبرګې کړې خپلې هڅې انعام ته
پرله پسې غمي ځلېدل، ده وکرل تخمونه
يوې مرغلرې وشنل د بدخشان ياقوت[٤٨]

اکبر په وضاحت د ټول دغه شان او شوکت درلودلو سربېره، يو پېچلی او هوښيار سړی او د پلار په پرتله لږ ډېر احساساتي و. نوموړی په ښکلا او ظرافت کې هم حساس و. مسون او اکبر له يو بل سره ښه پېژندګلوي درلوده او حتی اکبر نوموړی تر خپلې ساتنې لاندې راوستی و. د نورو افغانانو په پرتله، اکبر له هغه يوناني ګندهاري بوداپې مجسمو سره ډېر ناټ درلود چې مسون په جلال اباد کې د کوشانيانو له عبادت ځايونه څخه راسپړلې وې. مسون په خپل يادښت کتاب کې ليکلي:

د اکبر دوه د ښځو سرونه ډېر خوښ شول او افسوس يې کولو چې د مجسمو دغسې ښايست په ژونديو کې نه شي موندل کېدای. له دغه مهال څخه زموږ تر منځ اشنايي پيل شوه. دغه ځوان سردار به هر وخت په ما پسې سړی رالېږل او زه به په وار وار د هغه د چای مېلمه کېدم. ما له اکبر خان څخه يو امر واخيست چې يو شمېر ملکانو ته په کې ليکل شوي وو چې زما سره په هر راز پلټنو کې مرسته وکړي. زه په هغه کچه چې د ده مننددوی شوم هغومره حيران هم شوم چې دغه ځوان سردار څومره ښه زما د پلټنو په ارزښت پوهېږي. نوموړي هغه چا ته چې ويل يې زه کېدای شي په خزانو پسې ګرځم وويل چې زما موخه يوازې د علم پرمختګ دی. کله چې زه بېرته خپل هېواد ته لاړ شم؛ نو له دې وچې به ماته هلته درناوی وشي. اکبر دغه يادونه هم وکړه چې په درانيو کې جنګياليو ته درناوی کېږي، خو په اروپا کې د علم خاوندانو ته.[٤٩]

يو بل اروپايي ګرځندوی، ګاډفري وينې Godfrey Vigne هم په اشرافيانو کې اکبر خان تر ټولو مترقي، ځيرک او هوښيار بللی و. هغه له وينې څخه د خوګ د غوښې چې په مسلمانانو کې يې خوړل منع دي، د خوند په اړه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وه او له تنګ نظرۍ څخه دومره ليرې و چې څو ځلې يې نوموړي ته له خپلې پيالې څخه اوبه ورکړې وې. دا داسې وخت و چې ډېرو افغانانو نه غوښتل له عيسويانو سره يو ځای ډوډۍ وخوري او يا اوبه وڅښي.[۵۰]

اکبر خان د دغه ورځې پر سبا، برنز پر پيل سپور کابل ته راوست. په دې اړه برنز ليکلي: «موږ ته په ډېر برم او پرتم ښه راغلاست وويل شو. اکبر ما ته دومره عزت راوښلو چې زه يې پر هغه پيل کښېنولم پر کوم چې دی راغلی و. زه يې د خپل پلار دربار ته بوتلم او هغه هم له ما څخه تود هرکلی وکړ. د کابل په بالاحصار کې، مانۍ ته څېرمه په يو لوی بڼ کې موږ ته هستوګنځای برابر شوی و.»[۵۱]

د راتلونکې ورځې پر سهار، برنز ته د خپل پخواني ملګري، دوست محمد له خوا په ډک دربار کې ښه راغلاست وويل شو. د پخوا په څېر، د برنز جاذبې بيا د دوست محمد پام خپل کړ. که څه هم دوست محمد له شاه شجاع سره د انګرېزانو د مرستې او د رنجيت سينګ له خوا د پېښور د اشغال د پلان په اړه د دوی د مخکنۍ خبرتيا له کبله انګرېزان په دوه مخې تورن کړل، خو هغه دا پرېښودل چې د ده او برنز تر منځ د ملګرتيا خندې وګرځي. سربېره پر دې، دوست محمد دا ارزونه کړې وه چې پر رنجيت سينګ باندې د برلاسي تر ټولو ښه لاره له انګرېزانو سره د ډيپلوماتيکو اړيکو پرانيستل وو. دومره موده نه وه تېره چې د دوی ملګرتيا د پخوا په څېر بيا توده شوه. برنز چې د خپل کوربه همغسې ستايندوی و لکه په ۱۸۳۱ کال کې، د دوست محمد په اړه يې بيا ليکلي: «واک ډېری خلک له لارې باسي، خو داسې ښکاري چې نه د واک ډېرښت او نه د امير نوي لقب دوست محمد زيانمن کړی دی او برعکس اوس د تېر ځل په پرتله چې ما ليدلی و ډېر ځک او ځيرک دی.» کله چې برنز د دوست محمد کتنخونې ته بېول شو او نوموړي په رسمي توګه خپل اعتبارليک او نهيلې کوونکې ډالۍ وړاندې کړې، دوست محمد په درناوي ومنلې. برنز دغه ليدنې ته وروسته داسې انعکاس ورکړی:

> ما وويل چې اعلحضرت ته مې د اروپا لړمونده ډالۍ راوړي دي. هغه سمدلاسه په ځواب کې وويل چې تاسې پخپله لړمونده ياست او د ډاليو په ليدو خوشحاله شو.[۵۲] د دوست محمد پوهاوی ډېر چټک دی، د کرکټر په هکله ډېره پوهه لري او اوږدمهاله دوکه کېدای نه شي. دی هر عارض ته په داسې لوی صبر او پراخه حوصله غوږ نيسي چې په دې اړه يې د انصاف او عدالت په پرتله ډېره ستاينه کېږي...تر اوسه دا څرګنده نه ده چې د نوموړي مذهبي جګړې د هغه له کلکې عقيدې څخه سرچينه اخلي او يا له ځان پالنې څخه... [په افغانستان کې] حکومتولۍ بدلون نه دی کړی. که حکومت د سدوزيو او يا بارکزيو وي، پايښت يې پر دې تړلی چې د قبايلو حقوق خوندي وي او دوی پرېښودل شي چې له خپل دود سره سم خپلې چارې ترسره کړي.[۵۳]

د دوست محمد او برنز به يو له بل سره جوړه وه، خو له يو شمېر افغان سرچينو څخه داسې شواهد موندل شوي چې حتی له پيل څخه ځينې درباريانو، اشرافيانو او مشرانو له خپل امير سره د پرنګي کافر ډېرېدونکې ملګرتيا نه خوښېده. ځينې په عقيده ټينګ کسان د دغه ائتلاف په هکله انديښمن وو او پوښتنه ورته پيدا کېده چې د اسلام د دښمنانو پر ضد د امير د جهاد اعلان له دغسې ائتلاف سره څرنګه سمون درلودای شي.

په افغان سرچينو کې برنز د يوې شيطاني جاذبې څښتن، يو ټګماره دوکه باز، په زړنګی يو غوړه مال او خاين کس ياد شوی. عجيبه دا ده چې همدغه څه د چالاکه ختيځوالو په اړه انګرېزي کليشې وې. په نوای معرکه Naway Ma'areka کې ميرزا عطا د برنز په اړه داسې ليکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



برنز د سـند او خراسـان د وضـعیت په اړه د څارګریزو مالوماتو په راټولولو کې د خپلې افلاطوني هوښـیارۍ پر مټ بریالی و. برنز پوه شـو چې د سیمې دولتونه په لړزانده بنسټ جوړ شـوي او یوازې یوه سیلۍ یې نسکورولی شي. کله چې خلک غونډ شـول چې بهرنیانو ته په ځیر وګوري، دی له خپلې کېږدۍ راووت او په ټوکه یې وویل: «راشئ زما لکۍ او ښـکر وګورئ.» ټولو وخندل او یو چا غږ کړ: «سـتا لکۍ تر انګلنډ پورې غځېدلې او ښکر به دې ډېر ژر په خراسان کې ښکاره شي.»[۵۴]

په ۱۸۴۴ کال کې مولانا کشـمیري په اکبر نامه کې د برنز انځور په لاندې ډول کاږلی دی. په دغه شـعر کې د اکبر سـخت دښـمن، برنز د ټولو دوه مخو صلیبي خیانتونو او دوکه بازیو بیا راژوندی شوی شیطاني کرښـمه دی.

د پرنګیانو یو د لوړ موقف اشرافي
نوم یې برنز و او سکندر ورته ویل کېدل
د سوداګرۍ ټول اړین څیزونه یې راټول کړل
او د سوداګر په څېره کې روان شو
کله چې په ډېره بیړه د کابل ښار ته ورسېد
له نومیالیو خلکو سره د اشنایي په لټون شو
له ډېرو ډالیو سره او د ښېګڼو په څرګنده ښودنه
نو د هر چا په زړه کې یې ځان ته ځای جوړ کړ او هر یو یې په سحر خپل اسیر کړ
امیر په خپله مهرباني او ذاتي درنښت
له ده سره یې لکه تر ټولو دروند مېلمه چلند وکړ
دی یې تر ټولو ډېر اوچت کړ
او هره نښه د عزت یې ده ته ورکړه
خو برنز په شاتو کې زهر ګډ کړل
له لندن څخه یې د سپینو او سرو زرو غوښتنه وکړه
په تور جادو او تېر ایستلو یې یوه کنده وکینده
ډېر سړي تر ستوني ونیول او ور وغورځول شول

کله چې برنز، خانان د سـرو زرو په ځنځیر کې بند کړل، دوی ټولو ده ته د وفادارۍ سـوګند وکړ. بلاخره یو چا امیر ته خبرداری ورکړ:

اې زمرې وژونکیه د لوی نوم څښتنه!
د پارونې د تخم کروند ګر برنز- ستا دښمن دی
په ظاهر کې سړی ښکاري، خو په باطن کې سم شیطان دی
د دغه شیطان په اړه ځان خبر ساته – چې دښمني خپروي
د سعدي نصیحت دې په یاد نه دی؟
ښه ده چې له بېګانه څخه ځان لیرې وساتې
څکه دښمن د دوست په جامه کې پیاوړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته شپه او ورځ دغه دښمن پالې
ورځخه ليرې شه مخکې له دې چې خيانت درسره وکړي[55]

د يو شـمېر افغان سـرچينو پرېنسـټ، د ايران قاجاري شـاه، محمد شـاه، دوسـت محمد ته په يو ليک کې د برنز شيطاني پلانونو په هکله خبرداری ورکړی و. دغه ليک په سراج التواريخ کې ياد شوی او په هکله يې داسې ليکل شوي: «د ملګرتيا او دوستانه اړيکو په هکله خبرې لا نه وې پيل شوې چې د محمد شاه يو استازی له يوه ليک سره راورسېد. په ليک کې د ايران شاه د الکساندر برنز د دوه رنګۍ په اړه خبرې کړې وې او په صداقت يې ليکلي وو چې تر هغه وخته به سـوله رانه شي تر څو چې دغه دوه مخی غولوونکی رسـوا نه شي.»[56] د دغه ليک په اړه مولانا حميد کشـميري پوره شرح ورکړې:

يوه ورځ دغه مصيبت غوښتونکی، مغرور او نېشه ناست و
لکه څنګه يې چې عادت ګرځېدلی و د دربار په معتبر ځای کې
د ښه بخت نېکمرغه امير
د ده په لاس کې يې يو زرين ليک ورکړ
ورته وېې ويل چې پرته له ځنډه يې په اوچت غږ ولولي
برنز ليک پرانيست او لوستل يې پيل کړل
وروسته د شاه د ډېرې مينې له څرګندونې
په ليک کې يو خبرداری و، ما اورېدلي اې لوی حاکمه
چې د افت کروندګر شيطان برنز
راغلی او ستا په دربار کې شپه او ورځ ناست وي
د مينې په سلو نښو دې ده ته  زوی وويل
او د يو معزز مېلمه په څېر دې لوړ ځای ورکړ
پوه شه چې دی په پرنګيانو کې ېېسارې دی
که زيان رسونه، مکاري، غولونه او يا بې وفايي ده
د ده په پټ لاس ډېر خلک وژل شوي دي
ډېر زړونه تپي شوي په هغه غېشي چې د ده له ليندۍ خوشي شوی دی
ولې دې پر ده د سرو زرو باران جوړ کړی د دې پر ځای چې وينې يې تويې کړې؟
پوه شه او د ده له جنجال څخه وېره وکړه
دی مړي بغاوت ته پاروونکی شي
دغه پرنګی حتی د ګور په ارامتيا برېد کوي
په پرنګيانو کې ننګ او وفاداري نه شته
دوی پرته له غولونې او تېرايستنې بل ايډيال نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خبرو ته غوږ ونیسه او په دغه ګوتنیونو ښه سوچ وکړه
زما نصیحت واوره، څک اوسه، څک اوسه

مولانا کشمیري دې ته هم اشاره کړې چې برنز نه یوازې د نارینه بلکې د کابل د ښځو بې لارې کولو ته هم ناتې پیدا کړی و. په دې څو بیتونو کې، برنز ښيي چې د پرنګیانو پاچا ته غړېږي:

په ښایست کې د کابل خلک
لکه د جنت حورې او غلمان دي
د هغه هېواد ښځې
د ډېرې زړه وړونکې ښکلا درلودونکې دي
سل پرنګیان یې وژل کېږي
د دوی د کونتېو په قوت باندې[۵۷]

د برنز په اړه دغسې خیالونه ظاهراً یوازې د مولانا کشمیري نه وو. مسون هم دې ته ورته اندېښنه څرګنده کړې وه چې برنز د کابل ښځو ته دومره ناتې ښود چې یو معتبر دیپلومات ته نه ښایېدل. مسون لیکلي وو چې امیر د برنز د «عیاشۍ» په اړه (د مولانا کشمیري په خوله د کابل د ښایسته حورو سره د عیاشۍ په اړه) خبر ساتل کېده او نوموړی داسې ښکارېده لکه چې د هغه دنده او ماموریت پرته له سیاسي ماهیت څخه بل هر څه کېدای شوای. د برنز د دغسې اشتها له کبله، دومره وخت نه و تېر چې د دوست محمد وزیر، میرزا سمع خان د مسون لیدو ته لاړ او هغه ته یې وړاندیز وکړ چې د خپل نامي مشر په پله لاړ شي او خپل کور له تور سترګو پېغلو څخه ډک کړي. مسون لیکلي: «ما ورته وویل چې زما کور دومره لوی نه دی، خو په هر صورت، زه به دا پېغلې له کومه کړم؟ هغه په ځواب کې راته وویل چې زه په هر چا کولای شم لاس کېږدم او راوستل یې بیا په هغه دي. ما ورته وویل چې هر څومره چې ستا د پېرزوینې ستاینه وکړم، بیا هم کمه ده، خو زما په همدغه زړه لار په چوپتیا تګ ښه دی.»[۵۸]
خو د مسون دا یوازېنۍ اندېښنه نه وه. د برنز په چلند کې د داسې اخلاقو چې د برتانوي ماموریت سره ښایېدل د نشتوالي سربېره، مسون د برنز پر دیپلوماتیکي شعور هم اندېښمن و ځکه چې د ده په اند نوموړی امیر ته له برید څخه وتلی تابع و او په غوړمالۍ یې د امیر هره خبره پر داسې کلیمو ور ګرځوله لکه *اې غریب نوازه* او *زه ستاسې عاجز چوپړیال* یم.[۵۹] مسون دا اندېښنه هم لرله چې برنز د انګرېزانو د منځګړیتوب له لارې امیر ته په بشپړ ډول د پېښور د ورسپارلو هیله ډېروله په داسې حال کې چې دا څرګنده نه وه چې رنجیت سېنګ به دغه کار ته غاړه کېږدي او یا کلکته حاضره ده چې په دې اړه پر رنجیت سېنګ زور واچوي او بل دا چې ایا دغه ځوان استازي ته د روغې جوړې له پاره د خبرو اترو واک ورکړل شوی او کنه.

برنز کابل ته له رسېدو څخه یوازې لس ورځې وروسته، د اطراف په لور یوې چټکې تفریح ته مخه کړه. نوموړی د خپل ماموریت په اړه ډېر خوشبین و او لوړه روحیه یې درلوده. هغه د خپلې خوښې په منظرو کې بیا ګرځېدنې خورا مست او خوشحاله کړی و او د دغه ورځې په سبا یې د شمالي له هوارو څخه په خوښۍ لیکلي و: «د باغونو ښایسته منظرې د څلوېښت میلو په اوږدو کې پرتې دي او په هندوکش چې څوکې یې پر واورو پټې دي ختمېږي. د هرې غونډۍ په سوېلي اړخ کې انګور باغونه لیدل کېږي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



برنز ته د ښایسته منظرو او په استالف کې د مغولو امپراتور، بابر د خوښې په باغ کې د یوې اونۍ دمې په پرتله لا ډېر خوشحاله کوونکی د نوموړي دغه باور و چې اوس یې د روسانو ضد ائتلاف تر ګوتو کړی دی. ده له استالف څخه خپل اوښې ته داسې لیکلي وو:

زموږ له ټولو نظریو سره د دوست محمد خوښه ده. زما په اند اوس وضعیت دا ښیي چې موږ له رنجیت سېنګ سره د خبرو اترو په درشل کې شو. د خبرو بنسټ به له پېښور څخه د رنجیت سېنګ د ځواکونو وتل جوړوي او همدا راز پېښور به د لاهور له خوا بارکزیو ته د ډالۍ په توګه سپارل کېږي. د کابل مشر به خپل زوی د ښنې له پاره ولېږي. اه! د دوست محمد په اړه په خپلو ادعاوو باندې [د وېډ او مېکناټن] ټینګار ته اوس ته څه وایې! زه ډاډه یم چې رنجیت به دغه پلان ومني. ما د دولت په استازولۍ ومنله چې د دوی تر منځ منځګړیتوب وکړم. دوست محمد هم له پارس او روسیې سره خپلې ټولې اړیکې وشلولې او د شاه استازی یې چې اوس په کندهار کې دې خپل حضور ته ونه منلو.[۶۰]

برنز خبر نه و چې حتی د پورتني لیک د لیکلو پر مهال، سوېل ته د سلګونو میلو په واټن کې د نوموړي د ماموریت د شنډولو له پاره داسې هڅې روانې وې چې په جګړه کې د دغه دوو ښکېلو خواوو تر منځ جوړجاړی هېڅ شونتیا ونه لري او ده خو هېڅ دا ګمان نه کولو چې هغه کس چې د دغه ماموریت په ناکامۍ پسې یې لستوني بډ وهلي وو، هغه څوک و چې برنز یې د دغه ماموریت د ترسره کولو له پاره لېږلی و، نوی لوی والي لارډ اکلنډ.

په عین وخت کې چې برنز له استالف څخه له خوښۍ ډک د بریا لیک لیکلو او ویتکېویچ او ورسره قزاقان د هرات په سوېل کې د افغان له پوڅ په ډک ډک تېرېدل، په کلکته کې د لوی والي د ودانۍ او د هغه زینو تر منځ چې څپانده سیند ته ورښکته کېدې، پر اس سپرو تشریفاتي عسکرو په هوګلي Hooghly کې یوه سره لیکه جوړه کړې وه.

لارډ اکلنډ له بنګال څخه بهر په خپل لمړني یون له کلکتې څخه په وتلو و. د ده د امپریالستي پرمختګ جوړ شوي پلان ده ته د دې فرصت ورکړی و چې په هندوستان کې د هغه لوږې او قحطۍ وهلو سیمو کتنه وکړي کومې چې د اواد Avadh د سلطنت او د برتانیې تر واک لاندې ولایتونو تر منځ پرتې وې. نوموړی د لوی والي په ځانګړې جاله کې چې پر انګوټ پسې تړل شوې وه تر بنارس پورې لاړ او له هغه ځای څخه په ګاډي، ډولۍ او پیل باندې د پنجاب له لارې په شېمله Simla کې د غونډۍ پر سر نوې جوړې شوې اډې ته ورسېد.

جورج ایډن لارډ اکلنډ یو هوښیار او تکړه خو په ځان قانع او یو بې علاقې وېګي اشرافي و. دی په ځان ډنګر یو ۵۱ کلن بکر و خو لس کاله ځوان ښکارېده او د هلکانو غوندې مخ، نرۍ شونډې او اوږدې او ښایسته ګوتې یې لرلې. نوموړي له بورژوازي ملکي چوپړیالانو څخه خپله ناخوښي او له مجبوریته له هندي بې کچې تابع او غوړه مالو راجا ګانو سره له ناستې ولاړې څخه خپله ستړیا نه پټوله. اکلنډ چې د انګرېزي سیاست په اړه د ناپوهۍ له وجې پر ځان بې باوره او یو بد ویناوال و، د لوی والي څوکۍ یې ځکه ومنله چې بله اداري څوکۍ ده ته نه شته وه که څه هم د هندي تاریخ او تمدن په اړه یې پوهه او ناټ نه درلود او هند ته له تګ وروسته یې هم په دې اړه ځان پوه نه کړ. په سمندري

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداره کې، چېرته یې چې مخکې دنده لرله، دی پر خپلو کارکوونکو باندې د ډېږ وهلو له امله نوم درلود، خو کله چې هند ته لاړ، دغه ډېره وهنه یې سخته زیانمنه تمامه شوه. هغه د حکومتولۍ له پاره لېږل شوی و، خو په دې هکله په هېڅ نه و خبر؛ نو نوموړی د یوې هوښیارې خو بې تجربې جګړه مارې او روس کرکجنې سلاکارې ډلې لاس ته ولوېد - د ډلې مشر مېکناټن و- هغه څوک چې په ۱۸۳۴ کال کې یې په پټه له شاه شجاع سره په جګړه کې مرسته کوله - او په ډله کې دوه نور کسان هنري ټورېنز Henry Torrens او جان کالوېن John Colvin د اکلنډ اداري سکرتر وو. لکه څنګه چې د هغه د شورا یو غړي، توبي پرېنسېپ Thoby Prinsep لیکلي: «اکلنډ یو ښه اداري سړی و، په بشپړ پام به یې ټول کاغذونه په ځیر لوستل او مسودې یې په ډېر احتیاط منظورولې، خو دی په چټکو پرېکړو کې ډېر سست و او له مسوولیت څخه یې خورا زیاته وېره درلوده چې له کبله یې کوم حکمونه چې هغه صادرول دومره بې خونده وو چې د نوموړي اجنټان به اړ شول چې په سختو حالاتو کې د کړنې پرېکړې په خپله وکړي. هغه خپل اداري سکرتر، جان کالوېن ته ډېره غاړه ایښې وه. کله به چې اکلنډ د شورا غړې د مشورې له پاره راټول کړل، ټولې خبرې به کالوېن کولې او لارډ اکلنډ به په څوکۍ ناست و، سر به یې په لاسونو شاته تکیه کړی و او غوږ به یې ورته نیولی و. نوموړي کالوین ته دومره د چارو واګې ورکړې وې چې اداري کارکوونکو هغه ته د لارډ کالوېن ستاینوم ورکړی و.»[۶۱]

د چکر پر دغه یون کې، له اکلنډ سره یې دوه ژبورې خو ګلالۍ خویندې، ایملي او فني ایډن Fanny Eden هم مل وې. په دغه چکر کې د نوموړي خانتما او ستونزغاړی سیاسي سکرتر، مېکناټن او د اداري ګڼ شمېر نور مامورین، استازي، ښځې، بچیان او په حکمرانۍ او نه رضایت نوموره د مېکناټن ښځه، فرنسېز او د هغې پارسي پیشو، ګلابي طوطي او پنځه وینځې هم وې.

د تک په سهار هوا پاکه او تازه وه. د مېکناټن ملګری، تامس ببېنګټن مکولي Thomas Babington Macaulay، سهار وخته پاڅېد چې له دوی سره مخه ښه وکړي. ایملي ایډن په خپل یون لیک کې چې وروسته د هغه وخت خورا نومیالی یون لیک شو لیکلي: «کارکوونکو د مخه ښې ښه تشریفات جوړ کړي وو. د لوی والي له ودانۍ څخه د سیند تر غاړې پورې د عسکرو لیکې جوړې وې.»[۶۲] ایملي وروسته په ماښام کې له لوی والي سره د مل کسانو د شمېر په حیرانوونکې کچه یوه شوه. هغې خپلې بلې خور ته چې په انګلنډ کې وه لیکلي: «موږ په پیلانو سپاره شوو او ښکته لاړو چې د کمپ د مخکښو ساتونکو تېرېدل وګورو. په رنګ سور ختیځه اسمان و، د سیندغاړه سوروره او رېګجنه وه او سیند پر ورږو کښتیو پوښلی و. د سیند د غاړې په اوږدو کې کېږدۍ، اوښان، د ځایي اوسېدونکو د پخلي له پاره بل نغري وو او ۸۵۰ اوښان، ۱۴۰ پیلان، په سلګونو اسونه، د ساتونکو یوه لوا او نور مل کسان د دوی له پاره تم وو چې په ټوله کې په دغه چکر کې ۱۲۰۰۰ کسانو برخه اخیستې.»[۶۳]

د لوی والي د ادارې دغه کچې د اکلنډ د موقف عجیب ارزښت څرګندولو. لکه څنګه چې د هغه وراره/ خورېږ او پوځي سکرتر کپټان ویلیم اسبورن Captain William Osborne یادونه کړې وه: «د برتانوي هند د لوی والي ژوند، د انساني ژوند له هره اړخه تر ټولو ځلانده او مستثنی ژوند دی. یو ځانګړی ښاغلی انګرېز او د یوې ګډې سهامي کمپنۍ [د انګرېزانو د ختیځ هند کمپنۍ] چوپړیال د خپلې لنډې حکمرانۍ پر مهال، په نړۍ کې د لویې امپراتورۍ ګمارل شوی واکمن و. دی د ۱۰۰ میلیونه سړیو حکمران و چې په تاریخ کې دغه موقف ته ورته څه نه شته.»[۶۴]

خو له ټولو دغه شان او دبدبې، بېشمېره چوپړیالانو، د ګنګا ښایست او د پشکال پر باران مینځل شوو بنګالي سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســره ســره، دا یوه خوشــحاله ډله نه وه. ایملي له پیل څخه نه غوښــتل چې هند ته لاړه شــي. کله چې په کښــتۍ کې کښــېناســته، د ســختې نهیلۍ احســاس یې وکړ او له هغې ورځې څخه یې خپل نوی کور خوښ نه و کله چې د نوموړې کښــتۍ د بنګال له ابنا څخه هوګلي ته ننوتله او هلته د باد د نه شــتون له کبله درېدلې پاتې وه. هغې حتی کلکتې ته مخکې له رسـېدو څخه په غوسـه لیکلي وو: «ما فکر کولو چې دا ځل به موږ له ښـه بخت سـره کور ته راځو، خو ... بلاخره د ډېر صبر او ډېر لږ باد په مرسـته کور ته ورسـېدو. زموږ چاپېر کښـتۍ له تورو خلکو سـره ولاړې وې او دغه خلکو په عجیبه تېروتنې هېر کړي وو چې جامې واغوندي.»[٦٥] وروروسـته نوموړې د لوی والي د کور تشـریفاتي او رسـمي چلند او همدا راز د چوپړیالانو ګڼ شمېر، چې د هغې چوپړ یې کولو، حیرانه کړې وه. هغې لیکلي وو: «زه په بشپړه توګه په سربداله حالاتو کې ژوند کوم· [ما ته داسې ښکاري] چې زما چاپېریال د تیاتر دوامداره ننداړو نېولی وي.»[٦٦]

په عین وخت کې فني، مېکناټن په غوسه کړې وه. حتی د برتانوي هند دولت ستېنډرد ته په کتو سره، هغې د خپل وړور سـیاسـي عینکي سـکرتر یو تروش او په جزیاتو او قاعدو مین سـړی یاد کړی. کله چې په بوکسـر کې اکلنډ د کښـتۍ د درېدو غوښــتنه وکړه چې د هغه جګړې ډګر وګوري چېرته چې انګرایزانو په لمړي ځل مغولو ته ماته ورکړې وه، ایملي داسې لیکلي: «مېکناټن ځاځمن شـو او له ډېرې غصې د کښـتۍ پر غولي پورته پورته غورځېده او ویل یې چې دغه کار د پروتوکول د ماتولو په مانا دی.»[٦٧] او په دې هکله فني لیکلي: «ښـاغلی ټورېنز او ښـاغلی مېکناټن نږدې بېخوده شـوي وو ځکه چې جورج پرته له مخکني پلان له کښــتۍ څخه وچې ته ووت.» د دغې ورځې په ســبا په غازي پور کې د ایډن کورنۍ مېکناټن ته بیا هغه وخت یو بل ټکان ورکړ کله چې دوی پرته له کوم ســکرتر او پرته د لوی والي له بل مامور څخه وچې ته ووتل. فني لیکلي: «کله چې موږ کمپ ته ورسـېږو، بیا به ځان سـم اصـلاح کړو او سـم چلند به کوو، خو ما ته اوس داسـې ښـکاري چې د طاووس د بڼکو د ورېځو، له زرینو چترېو او سـاتونکو سـره زموږ د کښـتۍ یون بې پایه دی.»[٦٨] خو له ټولو خانتماتوب او باریک بینۍ سره سره، ایملي منلې وه چې مېکناټن یو هوښـیار مرسـتیال و او له هغه څخه یې داسې یادونه کړې وه: «زموږ لارې پامېلسټن، یو وچ حساس سړی دی، لویې شنې عینکې پر سترګو کوي... هغه د انګلیسي په پرتله په پاړسي ژبه په ډېر فصاحت خبرې کوي، عربي یې تر پاړسي ښـه ده، خو په اشـنا خبرو اترو کې په سانسکرېت خبرې غوره ګڼي.»[٦٩]

په عین وخت کې اغلې مېکناټن په دې هڅه بوخته وه چې پارســي پیشــو یې طوطي ونه خوري - یوه وینځه یې یوازې د طوطي د ســاتنې او پالنې له پاره ګمارلې وه - نوموړې له دې څخه هم وېره درلوده چې پلي غله به په شــپه کې د دوی کښتۍ ته په پټه ورپورته شي او له دوی څخه به هر څه غلا کړي - تېر کال د اغلې مېکناټن کېږدۍ ته غله ننوتلي وو او د هغې ټولې جامې یې پټې کړې وې؛ نو مېکناټن هغې ته له کمپلې څخه خت جوړ کړ چې بنارس ته یې د نویو جامو د پېرودلو له پاره بوځي.[٧٠] په رســمي مېلمســتیاوو کې چې د ســیند په غاړه به کله کله نیول کېدې، فني، مېکناټن او د ده مېرمن نه زغملېدونکي بللي:

د دغه چارو یوازېنۍ په زړه پورې برخه د مېکناټن د خبرو په هره کلیمه کې افراطي جدیت او ټینګار دی په داسې حال کې چې د هغه د نه خوځېدونکي مخ حتی یوه عضـــله هم نه خوځېږي. هغه وایي: «زما عالیقدره، تاســې عالیقدر زما پلار، زما مور، زما تره، زما ترور، تاسې زما شپه او ورځ یاستۍ، زه پرته له تاسې بله تکیه نه لرم چې ډډه پرې ولګوم.» دی ټولې مېلمستیاوي په یو ډول درناوي او جدیت ترسره کوي. دغه سړی دغسې چارو ته زیږېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروروسته، د یوې زړې هندي ملکې د لیدنې په ترڅ کې «مېکناټن په ډېره پرتمینه او درنه بنه په ځواب کې داسې وویل: «عالیقدره، ملکه وايي چې دا په بشپړه توګه ناشونې ده چې خپله له تصور څخه وتلې خوښې د هغې کور ته ستاسې عالیقدر په راتګ څرګنده کړي او نوموړې د پیل په حضور کې د ملخ احساس کوي...» اغلې مېکناټن چې په حقیقت کې په داسې ژبه نه پوهېده، [فني او ما ته یې] د ژباړن رول لوبولو. اه ګرانې، دا څرنګه ښځه ده، دا به ما مړه کړي.»[۷۱] که څه هم دوی ته هسې ساتېري و، خو له پیل څخه لارډ اکلنډ، د ده خویندې او مېلمنانه له بېسېکه کوونکې امپریالیستي زړه تنګۍ څخه ځورېدل، داسې زړه تنګي چې پرهغه لیرې پرتې مستعمرې باندې چې دوی په کې روان وو، له خانتما مهربانۍ او سپکاوي څخه زېږېدلې وه. ایملي په دې اړه لیکلي: «د یون په دویمه ورځ زموږ ټول اشرافي مېلمانه موږ غوندې ذهناً دومره ستومانه شوي وو چې په اتو بجو کټ ته لاړل. دغه ستومانۍ جورج تر مرګه رسولی.» ایملي یوه اونۍ وروسته بیا لیکلي: «جورج له ډېرې کرکې تک ژېړ شي.»[۷۲] په دې هکله فني هم له ایملي سره همغږې وه: «موږ د اټکل خلاف ډېر سوکه روان وو. جورج چې له خپلو کاغذونو، دفتر او د شورا له غړو څخه لیرې شوی، اوس د یو معزول شوي لوی والي احساس کوي او دې ډېر بې حوصلې کړی دی. د کېږدۍ ژوند یې ورځ تر بلې په غوسه کوي او هر سهار مې ښکنځې ځکه چې منظرې ښایسته نه دي.»[۷۳] خو ځو راتلونکو مېلمستیاوو ته تمې او هیلې، دغه دوه خویندې خوشحاله کولې. فني بیا لیکلي: «برید جنرال رېچرډز Richards موږ ته د نڅا مېلمستیا بلنلیک رالېږلی. زما خیال دی چې دا به تر همالیا پورې د دوامداره نڅا پیل وي... زما په اند دا به مناسبه وي چې جورج هم له مېنیوېټ دې له کوېور Minuet De la court نڅا زده کړي. زه او ایملي به په وار د ستېښن له مشر جنرال سره نڅا کوو.» په عین وخت کې د اعاشې په ځانګه کې څه ستونزه پیدا شوې وه: «نن ماښام جنرال کېسمېنټ Casement او مېکناټن کښتۍ ته راوختل. زموږ په اند د منې په جېلي کې چې دوی سهار خوړلې وه څه خرابی و. مېکناټن په دې اړه یوه مرموزه اشاره وکړه، خو جنرال کېسمېنټ سمدلاسه غلی کړ.»[۷۴]

نو د دغسې اندېښنو پر مهال لارډ اکلنډ اړ کړل شو چې خپل پام افغانستان ته واړوي. افغانستان یو داسې هېواد و چې اکلنډ یې په اړه حتی د هند په پرتله لږ پوهه درلوده او لږ ارزښت یې ورکولو. نوموړي له پیل څخه د دغه هېواد تر ټولو ځواکمن حاکم، دوست محمد خان سره خپله ښکاره دښمني وښوده. برعکس، دوست محمد هڅه وکړه چې د نوي لوی والي ملاتړ خپل کړي. هغه په یو لیک کې اکلنډ ته لیکلي: «زما د هیلو بڼ چې مخکې ژمنۍ سیلۍ وهلی و، ستاسې عالیقدر د خوشحاله راتګ سره اوس د جنت بڼ ورسره رخه• کوي... زه هیله من یم چې تاسې عالیقدر ما او زما هېواد خپل وګڼئ.»[۷۵] دوست محمد بیا اصلي موضوع ته راګرځېدلی و. نوموړي له اکلنډ څخه غوښتنه کړې وه چې د ده په استازیتوب له رنجیت سېنګ سره خبرې وکړي او له خپل نفوذ څخه په کار اخیستنې پېښور بېرته افغانستان ته وسپاري؛ نو په دې وسیله به سیمې ته سوله راشي.

---

• رخه: کینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو مېکناټن په چټکۍ لارډ اکلنډ وډومارلو• چې له امیر سره د هر راز تړون مخالفت وکړي. اکلنډ وروسته له دې چې د امیر لیک یې ترلاسه کړ، سمدلاسه په یو یادښت لیک کې ولیکل: «له دوست محمد سره د ممکنه ائتلاف پایله به د نورو قدرتونو د سپکاوي او بدنیتۍ له پارونې پرته بل څه نه وي.»[۷۶] هغه د دوست محمد لیک ته څو میاشتې ځواب ورنه کړ، خو کله یې چې ځواب ورکړ، لیک یې دوستانه خو نهیلی کوونکی و. هغه لیکلي چې دی خوشحاله دی چې امیر له کمپنۍ سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی، خو خپه دی چې دی نه شي کولای د ده او رنجیت سېنګ تر منځ په شخړه کې لاس وهنه وکړي او هیله من دی چې دوی دغه لانجه په خپل منځ کې په خپله حل کړي. هغه د افغانستان له پاره د پرمختګ او یو متحد ملت او له پراخې سوداګرۍ څخه د ګټې هیله څرګنده کړې وه. اکلنډ خپل لیک ته په داسې کلیمو پای ورکړ چې ډېر ژر دروغ وختې: «ملګریه، ته پوهېږې چې د خپلواکو ملتونو په چارو کې لاسوهنه د برتانوي حکومت کار او پالیسي نه ده او بل دا چې زه نه پوهېږم چې زما حکومت به ولې ستا په ګټه چېرته لاسوهنه وکړي.»[۷۷]

د دغه بندښت رېښې په ځانګه یېزه سیاست او بدنیتۍ کې پرتې وې. اکلنډ ته ټول مالومات د مېکناټن او وېډ له خوا ورکول کېدل چې له دوی څخه یوه هم هېڅ کله افغانستان نه و لیدلی. د برنز مشورو او له کابل څخه د ده استونو به په هېواد کې د واک د رښتیني انډول په اړه کره ارزوني وړاندې کولې، خو اکلنډ ته به هغه وخت ورسېدې چې لمړی به په ځیر د مېکناټن د عینکو د دوه ځلې کړو شوو غبرګو شیښو له چاڼ څخه تېرې شوې او ورپسې به وېډ ملنډیزه تبصرې ورباندې وکړې. دغه دواړو غوښتل چې د برنز وړاندیزونه کمزوري وښيي. کومې لمړنۍ استونې چې برنز له کابل څخه کړې وې، په یوه کې یې د امیر د واکمنۍ د ثبات او پیاوړتیا ستاینه کړې وه، وېډ له دغې استونې سره یوه لنډیز پاڼه مل کړه چې په سپکه بڼه یې داسې په کې لیکلي وو: «د دوست محمد واکمني په واقعیت کې په ډاډمنو ستنو نه ده ولاړه. کله کله هلته عامه اړدوړ پیل شي چې دوست محمد یې له بیا ارامولو سره ستونزې لري... زما د مالوماتو سرچینې ما په دې باور کوي چې د امیر واکمني په هېڅ وجه د رعیت خوښه نه ده... د هغه د سرتېرو لویه برخه ناراضه او سرغړوونکې ده. دوی که څه هم په وسلو ښه سمبال دي، خو په دوی کې په عمومي ډول د هغه ځانګړتیاوو کمښت شته چې یو ښه سرتېری یې باید ولري.»[۷۸]

په دغه توګه به وېډ او مېکناټن، لارډ اکلنډ ته د دې باور ورکولو چې د دوست محمد په هکله د برنز ارزونې ناسمې دي: دوی به ټینګار کولو چې امیر په ولس کې ګرانښت نه لري او د واک ناروا غاصب دی چې په خورا کمزورو منګولو یې د ساتنې هڅه کوي. د هغه څه برعکس چې د برنز په استونو کې لیکل شوي وو، دوی په خپله ادعا ټینګ ولاړ وو چې دوست محمد د افغانستان په حاکمانو کې تر ټولو کمزوری دی، په کندهار کې د خپلو میرني ورونو په پرتله یې نفوذ لږ دی او همدا راز په هرات کې د «تر ټولو دروند او معزز حاکم» کامران شاه سدوزي په پرتله چې د شاه شجاع کمزوری د تره زوی و لږ نفوذ لري. په واقعیت کې دا یوه خبره هم رښتیا نه وه او په تېره بیا په اوس مهال کې یې هېڅ حقیقت نه درلود. - دوست محمد له هندوکش څخه تر خیبر پورې واکمني درلوده او وروسته له دې چې خپل میرني ورونه یې د شاه شجاع له کلابندۍ څخه خلاص کړل، دوی هم د هغه مشري منلې وه. بل دا چې اوس دوست محمد ته د امیر لقب ورکړل شوی و او د افغان جهاد مشر نومول شوی و. د برنز خبرې رښتیا وې: په افغانستان کې دوست

• ډومارل: (په استدلال) هڅول

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد برلاسی حاکم و او که کلکتې یوازې خپله لاره بدله کړې وای او هغه ته یې غبرګ خلاصه کړې وای، دوست محمد به د برتانیې د کمپنۍ شمال ته یو بالقوه ځواکمن متحد وای.
برنز خپله په سیمه کې و؛ نو د هر بل برتانوي مامور په پرتله یې له نږدې د بېلابېلو واکمنیو د ځواک په اړه کره ارزونه کولای شـوی، خو د مېکناټن دغه د پرمختګ لېوال ځوان سـکاټلنډی هېڅ کله نه خوښـېده او په دې باور و چې هغه ساده او بې تجربې دی او نوموړي ته د خپلې وړتیا په پرتله اوچت مقام ورکړل شوی دی؛ نو ځکه یې اکلنډ هڅولو چې د برنز پر ځای د لودیانې د څارګرې ادارې پر کارپوه مشـــر، وېډ باور ولري. مېکناټن اکلنډ ته لیکلي وو: «چېرته چې د دوی د نظریو تر منځ توپیر وي، زه به د کپتان وېډ نظر غوره وګڼم ځکه چې د ده اســـتدلال او پایلې پر حقایقو ولاړې دي. داسې برېښي چې د برنز استدلال د نورو کسانو په نظریو ولاړ دی او یا د نوموړي پایلې له لیدلي وضعیت څخه په خپل ذهن کې له جوړ شـوي انځور څخه سـرچینه اخلي چې په واقعیت کې به دغه وضـعیت دومره غیرمعمولي نه وي چې له حالاتو څخه د ده انګېرنې ته حقانیت ورکړل شي.»[۷۹]
په عین وخت کې، وېډ د تېر په څېر اکلنډ هڅولو چې شــاه شــجاع بېرته لوبې ته د ننه کړي. نوموړي اکلنډ ته دغه مشـوره ورکړه: «که چېرې شاه شجاع ته د خپل سلطنت په بیا اعاده کولو کې اسانتیاوې برابرې شي، د خلکو ذهنیت او له نورو واکمنیو ســره به زموږ اړیکي دومره زیانمنې نه شــي لکه د امیر واکمنۍ ته د افغانانو په اړ ابســتلو کې. له رنجیت سـېنګ سـره له وروسـتۍ نښـتې وروسـته، په کابل کې د ډلو تر منځ ترینګلتیا دومره ډېره شـوې وه چې که شـاه شجاع په هېواد کې ښکاره شوی وای، زما د مالوماتو پر بنسټ، هغه به په دوو میاشتو کې کابل او کندهار خپل کړی وای.»[۸۰]
له دغو تحریفونو سـربېره، داسې ښکارېدل چې نه مېکناټن او نه وېډ د پېښـور په اړه لارډ اکلنډ ته مالومات ورکړي وو چې رنجیت سېنګ پېښـور څرنګه اشغال کړ او افغانانو ته چې پېښـور یې خپله دویمه پلازمېنه ګڼله، دغه ځای څومره ارزښت درلود؛ نو له دې وجې اکلنډ د ناسمو مالوماتو پر بنسټ داسې دریځ خپل کړ چې پېښـور بې اړنګه د سېکانو د واکمنۍ ســیمه ده او دوســـت محمد ناښـــنده• او تېریګر دی چې بېرته یې غواړي؛ نو نوموړي په دوامداره توګه برنز هڅولو چې د اوسني وضعیت د بدلون له پاره کومه هڅه ونه کړي.
د دې پرځای چې له دوســت محمد ســره د واک پر مضــبوطولو کې مرســته وکړي او د خپل یو متحد په څېر یې ومني، اکلنډ هم د وېډ اند خپل کړی و چې د افغانسـتان ټوټې ټوټې پاتې کېدل د رنجیت سـېنګ او په دې توګه د انګرېزانو په ګټه دي. هغه لندن ته لیکلي: «زموږ په پوله کې د یو پیاوړي محمدي هېواد شـتون به د دوامداره پارونې او حتی د لوی خطر سـرچینه وي، خو له بل پلوه، ملوک الطوایفي به په خپل منځ کې انډول سـاتلی وي. دوی به وضـعیت او د خپل موقف د سـاتنې لېوالتیا دې ته وهڅوي چې زموږ د ملګرتیا له پاره تلوسـمن شـي. دغسـې ګاونډیو به موږ ته ګواښ نه پېښـوي او موږ یې غوره ګڼو.» له ټولو شـواهدو سـره سره، لارډ اکلنډ باور نه درلود چې د پارسـیانو له لوري هرات په خطر کې دی او بارکزي به د پارس له شاه سره ائتلاف جوړ کړي. هغه لیکلي وو: «دغه افغانان له پارسي حکومت سره کومه ذاتي خواخوږي نه لري او که په خپلو اوسنیو واکمنیو کې خوندي پاتې شي، دوی به له پارس سره نږدې اړیکې

• ناښنده: نامناسبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه پالي.»[۸۱] دا د وضعيت يوه بشپړه ناسمه ارزونه وه. لارډ اکلنډ او د هغه جګړه پالو مشاورينو د دوست محمد واک کمزوری وګڼلو. دوی په افغانستان کې د هندوکش سوېل ته د دوست محمد د واک د پراخېدو په اړه او همدا راز د افغانانو او رنجيت سېنګ تر منځ د واک د بدلېدونکي انډول په هکله ناسم پوهاوی درلود. همدارنګه دوی د دې اټکل هم کم کړی و چې سيمونوېچ په څومره ځيرکۍ له مسکو څخه د ورکړل شوو احکامو په پرتله ډېرې کړنې سرته رسولې او په ډېره هوښياری د روسانو تر مشرۍ لاندې په ټوله سيمه کې د انګرېزانو پر ضد د داسې يو ائتلاف په جوړولو بوخت و چې نه يوازې افغانستان او پارس به په کې ګډون ولري بلکې بخارا او خېوه به يې هم غړي وي.[۸۲] دغه تېروتنو په خپل وار ناسمو قضاوتونو ته لاره پرانيسته.

د برنز بله ستونزه دا وه چې لارډ اکلنډ د بيړې احساس نه کولو. اکلنډ خپل ډېر پام خپلې يونلارې او په هندوستان کې هغه قحطۍ او لوږې ته اړولی و چې قربانيان يې هر سهار د ګنګا پر بل لوري د هغه د کښتۍ له څنګه تېرېدل. يوازې برنز په کابل کې وپوهېد چې د اکلنډ بې پروايي به يو لوی ديپلوماتيکي ناورين وزېږوي. هغه په حقيقت کې پوهېده چې که انګرېزان د بارکزيو د ملګرتيا د لاسته راوړلو له پاره چټک عمل ونه کړي؛ نو بيا به روسان او پارسيان دا کار وکړي. که داسې وشي، برتانيه به دا فرصت له لاسه ورکړي چې افغانستان تر خپل نفوذ لاندې راولي او خپلو سيالانو ته به تياره مړۍ په خوله کې ورکړي؛ نو ځکه هغه په نه باورۍ او حيرانتيا د اکلنډ پر له پسې ليکونه لوستل چې ده ته يې امر ورکولو چې دوست محمد ته د څه شي ژمنه ورنه کړی او د پېښور په اړه د منځګړيتوب رول ونه منې.

برنز په يوه هڅه کې چې د اکلنډ اند بدل کړي، د نومبر په پای کې کلکتې ته د «کابل سياسي وضعيت» په اړه يو اوږد راپور ولېږلو. په دغه راپور کې نوموړي په ډوماروونکې توګه د دوست محمد د واک ټينګولو او پراخولو له پاره استدلال کړی و او دا يې له افغانستان څخه د روسانو د ليرې ساتلو تر ټولو ډاډمنه لاره بللې وه. هغه بيا ټينګار کړی و چې اړينه نه ده چې برتانيه د خپل متحد په توګه د کمپنۍ له اوږدمهاله متحد، رنجيت سېنګ او دوست محمد څخه يوازې يو خوښ کړي: د پېښور په اړه به په لږ نوښت او چټک عمل انګرېزانو ته دا شونې شي چې له دواړو لوريو سره ملګرتيا جوړه کړي، خو برنز نه پوهېده چې مېکناټن په عين وخت کې په کلکته کې وېډ ته د خپلې مخالفې پاليسۍ په اړه ليک لېږلو. داسې ليک چې په ځانګړي ډول د رنجيت سېنګ په پلوۍ و. په ليک کې يې پېښور د رنجيت سېنګ ملکيت بللی و او د پېښور شمال ته يې د يو وېشلي ګاونډي په اړه پلان جوړولو. همدا راز يې په ليک کې ليکلي و چې په کابل کې به د امير پر ځای، کمزوری شاه شجاع پر تخت کښېنوي.[۸۳]

له بلې خوا اکلنډ ورځ تر بلې د دوست محمد په اړه د دښمنۍ عجيبه افراطي دريځ خپلولو. هغه لندن ته ليکلي: «دوست محمد بايد خوشحاله وي چې ارامه پرېښودل شوی او له رښتيني يرغل څخه ژغورل شوی، خو نوموړی يو بې پروا او عجيب په زړه پورې سړی دی. د ده چوپ ساتل به سخت کار وي...دا د ديپلوماسۍ او دسيسو يو پېچلې حالت دی... »[۸۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې چې افغان ژمي د ډسمبر په پيل کې لمړنۍ واورې ورولې، کابل ته داسې بد خبرونه رسېدل چې برنز يې سخت اندېښمن کړی و.

داسې راپورونه ورکول کېدل چې پارسيان په خپل ټول ځواک په خوځېدو دي چې په هرات کې د تيموريانو له کلکو دېوالونو سره خپل زور وازمايي. د دې تمه کېده: پارسيانو له پخوا څخه د هرات دعوا درلوده. هرات يې په ۱۸۰۵ کال کې اشغال کړی و او په ۱۸۳۲ کال کې يې پر هرات د يو بل يرغل دسيسه جوړه کړې وه. دغه وروستی پارسي يرغل له ځو کلونو راهيسې په پلان کې و او په حقيقت کې يې د روسيې فشار او يا هڅونې ته اړتيا نه درلوده، خو د لوېديځ افغانستان د پلازمېنې د نيولو په موخه، د پارسي لښکر غټ والي - دېرش زره کسه - او په لښکر کې د ګڼ شمېر روسي سلاکارانو شتون برنز ته ټکان ورکړ.

د دې دليل چې برنز ولې په هرات کې د پېښو په اړه ډېر مالومات درلودل دا و چې په دغه مهال کې يو ځوان انګرېز افسر او د لوېې لوبې يو لوبغاړی، لمړی بريدمن ايلډرېډ پاټېنګر تصادفاً په هرات کې اوسېدلو. دی لمړی د اسونو د يو مسلمان سوداګر او وروسته د يو سيد په جامه کې هلته مېشت و. نوموړی د بوج ځارګرې ادارې د مشر او د برنز د پخواني مشر، سېر هېنري پاټېنګر وراره/ خورېر و. کېدای شي په هرات کې د ده شتون ډېر تصادفي و، خو انګرېزانو ته يې د هرات د کلابندۍ په اړه د مالوماتو ډېره اړينه لړۍ برابره کړې وه. په برتانوي روايتونو کې «د هرات اتل» ونډه (چې پاټېنګر، د موډ ډايور Maud Diver په وطنپاله ناول کې نومول شوی و) د هراتيانو د هوډ په ټينګښت کې چې له هرات څخه دفاع وکړي ډېره ارزښتمنه بللی ده او وايي چې هغه تر يوې کچې په يوازېتوب وکړای شول چې پارسيان له هرات څخه ليرې وساتي، خو د دغو روايتونو پخلی د پارسيانو او افغانانو په پېښليکونو کې نه کېږي. دلته دغه کلابندي د دوه ملتونو، شيعه او سني، تر منځ يو لوی پرځنګ بلل شوی او د هراتي مدافعينو زړورتيا چې له سختې لوږې او نورو محروميتونو سره مخ وو د افغانانو د زړورتيا او مقاومت يوه بېلګه انځور شوې. د وخت دوو مهمو افغان تاريخ ليکونکو، چې په هغه وخت کې يې ژوند کولو، د هرات د کلابندۍ په اړه دومره پانې بېلې کړې وې لکه چې دوی د انګرېزانو راتلونکي يرغل ته بېلې کړې. دغه دواړو پېښو ته د خراسان خپلواکۍ ته د ګواښ په سترګه کتل کېدل.

د افغان سرچينو پر بنسټ، کله چې د هرات په لور د پارسيانو د حرکت خبر هرات ته ورسېد، شاه کامران سمدلاسه امر وکړ چې غله او واښه د ننه راوړل شي او له دېوالونو څخه بهر باغونو د مېوې ټولې ونې دې ووهل شي. له سدوزي، ازبک او هزاره متحد قومونو څخه جنګيالي غونډ کړل شول او د ښار د ختيو لوی دېوالونه ورغول او نور هم مظبوط کړل شول. همدا راز د اختيارالدين د لوېې کلا دېوالونه هم ورغول شول چې د هرات د ښار د دوه پر درېيمې اندازې سيمه يې نيولې وه.[85] د نومبر په ديارلسمه د پارسي پوځ مخکښه ډله د غوريانو پوله ييزې کلا ته ورسېدل. هراتي پېښليکونکي، رياضي Riyazi په عين الوقايع کې ليکلي چې څرنګه پارسيانو د خپلې برتانوي روزل شوې توپچي قوې په مرسته دغه لويه کلا د دوولسو ساعتو په ترڅ کې ونيوه: «د غوريانو کلا په دومره ډېرو توپونو وويشتل شوه چې درې خواوې يې په بشپړ ډول ورانې شوې. په دغه وسيله د جګړې پلټې ته اورلګيت ووهل شو او په پارسي پوځ کې پر هرات باندې د يو لوی يرغل تابيا پيل شوه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځې وروســـته د دېرش زره کســـيز پارســـي پوځ لمړنی فرقې د هري رود د درې له لارې د هرات د دېوالونو په لور وخوځېدې او په اســانی یې د اســوالو جنګيالو هغې ډلې شــاته وتمبولې چې د دوی پر ضــد د جګړې له پاره لېږل شــوې وې. فیض محمد لیکلي: «ښــته پیل شــوه او ډېر ســړي مړه شــول، خو کله چې ګڼ شــمېره پارسـي پوځ تر ســترګو شــو، هراتیان ونه توانېدل چې جګړې ته دوام ورکړي؛ نو ښـــار ته یې شـــاتګ وکړ... دا چې د جګړې په غوړېدلي ډګر کې د پارســیانو پر ضــد مقاومت شــونی نه و، کامران خپلې ټولې هڅې په دفاعي چارو متمرکزې کړې. د شــاه ځواکونه لکه د سمندر څپې پر ښار له څلورو خواوو راتاو شول.»[۸۶]

دوه ورځې وروسـته دغه بد خبر د ډسـمبر په نولسـمه د سې شـنبې په سـهار کابل ته ورسـېد. برنز او مرسـتیالان یې په خپل بالاحصــار هســتوګنځي کې له هرات څخه ځري ته ســترګې په لار وو چې د هرات په هکله وروســتي خبرونه راوړي. برنز هیله درلوده چې وروســـته له دې چې اکلنډ د ده اوږد راپور ولولي، نوموړی به د افغانســـان په اړه خپل دریځ بدل کړي. هغه په ډېره تلوسـه غوښـتل دوسـت محمد ته یو ښـه خبر ورکړي. د هرات د کلابندۍ له خبر راهیسـې، د برنز د دښــمن یا د نوي رارســېدلي پارســي پلاوي نفوذ ورځ تر بلې په ډېرېدو و او برنز پوهېدو چې دی د برتانیې د ګرانښــت او پرستیږ لوړولو ته سخته اړتیا لري او دا کار کېدای شي یوازې په دې شونی وي چې افغانانو ته د پېښور په بېرته ورکړه کې انګرېزان منځګړيتوب وکړي.

خو پر ځای یې د دوســـت محمد له خوا برنز ته پیغام ورکړل شـــو چې له هغه ســـره لیدنه وکړي. امیر نوموړي ته په رسـمي دربار کې تر ټولو بد خبر ورکړ. د تزار له خوا یو روسی اجنټ چې غواړي له افغانسـتان سـره ډیپلوماتیکي اړیکې پرانیزي، غزني ته رارسیدلی او تمه کېږي چې په همدغه اونۍ کې کابل ته راورسېږي. د دغه اجنټ نوم لمړی بریدمن ایون ویتکېویچ و.[۸۷]

برنز لږ وخت وروســته خپل اوښــي جګړن هالند ته ولیکل: «موږ دلته په ګډ او وډ حالت کې یو. هرات کلابند شــوی او ښــايي ســقوط وکړي. د روســي امپراتور کابل ته یو پلاوی رالېږلی چې دوســت محمد ته د پیســو د ورکړې وړاندیز وکړي چې د رنجیت ســېنک پر ضــد جګړه کې یې ولګوي. زه په خپلو ســترګو او غوږو هېڅ باور نه کوم. دغه اجنټ چې نوم یې ویتکېویچ دی له تاوده او درې فوټه اوږد لیک ســره رالېږل شــوی او ســمدلاســه یې زما د لیدو غوښــتنه وکړه. ما طبعاً ومنله او د ماښامنۍ بلنه مې ورکړه.»[۸۸]

دغه دواړو سـرسـخته سـیالانو د ۱۸۳۷ کال د کرېسـمس په ورځ یو ځای ماښـامنۍ وکړه - دا د لوبې لوبې په تاریخ کې د سـیالو لمړنۍ لیدنه وه - دغه دوه اجنټانو چې اوس اسـتازي وو یو له بل سـره ولیدل. د دوی تر منځ دغه لیدنه ښـه تېره شــوه او یو بل یې خوښ شــول. دوی یو له بل ســره ډېرې ګډې وچې درلودې، خو په تفصـیل په دې اړه ډېر لږ مالومات لرو چې دوې د څه په هکله خبرې وکړې، څه یې اغوسـتي وو، څه یې وخوړل او یا ویتکېویچ څومره د خپل رېړن پخواني ژوند په هکله خبرې وکړې. برنز یوازې دغه لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پولنډی ښاغلی خوش طبعه سړی و. نوموړی شاوخوا دېرش کلن و او په فرانسوي، ترکي او پاړسي یې په فصاحت خبرې کولې. هغه د قزاقي افسر جامې په تن وې چې په کابل کې اشرافي ښکارېدې. نوموړی بخارا ته تللی و؛ نو موږ د خبرو له پاره ګډه موضوع درلوده او په سیاست کې هېڅ ونه غږېدو. هغه هوښیار سړی و، د شمالي اسیا په اړه یې ډېر مالومات درلودل او په صداقت یې وویل چې دا د روسیې دود نه دی چې د خپلو څېړنو پایلې نړۍ ته خپرې کړي لکه څنګه یې چې فرانسه او انګلنډ کوي.

برنز ورپسې لیکلي وو: «بیا مې ویتکېویچ هېڅ ونه لید، که څه هم موږ یو بل ته له درنښت څخه ډک بېلابېل پیغامونه ولېږل، خو زه په خواشینۍ وایم لکه څنګه چې زما دولتي دندې د کلکې څارنې غوښتنه کوله، ما ونه شو کړای چې د هغه په اړه زما د شخصي ملګرتیا د احساس اصولو ته پام وکړم.»[۸۹] دا رښتیا وه، ځکه چې برنز څو ځلې له سن پیټرزبورګ څخه پارس ته او له پارس څخه سن پیټرزبورګ ته د خپلې ماښامنۍ ملګري لیکونه کشف کړل.
برنز په راتلونکو اونیو کې هڅه کوله چې خپل ډېرېدونکی نارامه وضعیت دومره بد ونه ګڼي. هغه پوهېدو چې ماموریت یې بربادۍ ته ډېر نږدې دی ځکه چې تر اوسه په ځانګړې توګه داسې نښې نه لیدل کېدې چې لارډ اکلنډ په کابل کې د پېښو په جدیت پوه شوی وي او یا په دې پوه وي چې هغه نږدې دی چې افغانستان او پارس روسانو ته بایلي. لکه څنګه چې ښکاره وه، برنز د ویتکېویچ له ډالیو سره چې پر دوست محمد یې وروښې، سیالي نه شوای کولی. برنز د ۱۸۳۸ کال د فبرورۍ په اتلسمه داسې لیکلي: «کپتان ویتکېویچ امیر ته خبر ورکړ چې هغه ته د امپراتور استول شوې ډالۍ د شپېتو زرو روبلو په ارزښت دي. او مخالفې ډلې دا له هغه څو ډالیو سره په زغرده پرتله کولې چې ما امیر ته وړاندې کړې وې او دا یې د داسې یو ملت د بې پروایۍ ثبوت یادولو چې په سخاوت کې نوم لري... دغه ټولو حالاتو ته په کتو سره، دا طبیعي ده چې زه څومره په اندېښنې سره د لوی والي دستور ته په تمه یم چې زما لارښوونه وکړي.»[۹۰]
خو کلکتې ته د لیک رسېدل له درېیو تر څلورو اونیو وخت نیولو او د برنز د لیکونو په ځواب کې د کلکتې پاتې راتلل او همدا راز برنز له هرات څخه د بدو خبرونو د رارسېدلو له کبله پرېکړه وکړه چې په خپل نوښت یو عمل وکړي. هغه د کندهار بارکزیو ته د ۳۰۰۰۰۰ روپیو ژمنه وکړه چې که هرات سقوط وکړي او د شاه پوځ د افغانستان په لور وخوځېږي، له دوی سره به دغه پیسې د پارسیانو پر وړاندې د کندهار په دفاع کې مرسته وکړي.
هغه دا پرېکړه هم وکړه چې پروتوکول مات کړي او له وېرې او مېکناټن څخه پرته، یو له ژورو احساساتو څخه ډک لیک نېغ لارډ اکلنډ ته ولېږي او هغه ته عذر وکړي چې په حالاتو ځان پوه کړي چې څه په خطر کې دي. هغه دا هم ورته ولیکل چې تر اوسه د داسې یوې معاملې شونتیا شته چې پرته له ډېر لګښت څخه د برتانیې ټولې ګټې تضمین کړي او د روسانو او پارسیانو د پلانونو مخنیوی وکړي. نوموړي سېکان په تېري، د پېښور په اشغال او په جمرود کې د کلا په جوړولو ګرم کړل او ټینګار یې وکړ چې که څه هم د دوست محمد غوښتنې څو ځله په سپکه توګه رد شوې، هغه تر اوسه له انګرېزانو سره د ائتلاف هیله لري. برنز دا یادونه هم وکړه چې د سېکانو له خوا د پېښور اشغال، دوست محمد دې ته اړ کړ چې نورو ځایونو ته د ائتلاف له پاره مخ واړوي. ده په سملاسي خطر چې ویتکېویچ جوړ کړی و او د پېښور پر ناحل شوې موضوع زور واچولو چې که دغه حالت دوام وکړي، دا به د انګرېزانو دروازو ته تاوتریخوالی راولي او که دغه موضوع حل نه شي، انګرېزانو ته به د ځېبو پر ځای دښمنان ورشي. برنز خپل لیک ته داسې پای ورکړی: «د هغه کړنو په پرتله چې حکومت یې هیله او یا تصور کوي او یا یې تراوسه سرته رسولې، په دغه سیمه کې د روس او پارس د توطیو د شنډولو له پاره خورا پیاوړو کړنو ته اړتیا ده. دا بې اړنګه درسته ده چې رنجیت سېنګ زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانی او وفاداره متحد دی، خو دغسې ائتلاف نه شي کولای چې لوی قدرتونه له موږ څخه ليرې وساتي او موږ ته د ائتلافونو پايله چې زموږ په هېواد او پولو کې سوله او نېکمرغي ده، تر لاسه کړي.»[٩١]

برنز تر اوســه هم د قطعي تر ټولو ښــه پر په لاس کې درلود. دوســت محمد په وضـاحت ويلي وو چې هغه د روسـيې په پرتله له برتانيې ســـره ائتلاف غوره ګڼي او دا خبره يې ثابته هم کړه. ويتکېويچ يې تر اوســـه د نظر بند په څېر د خپل وزير، ميرزا سـمع خان په حويلۍ کې سـاتلی و چې د برنز د هسـتوګنځي په پرتله دومره مجلله نه وه او تر اوسـه يې خپل حضور ته نه و منلی. ټولې خبرې د دوی دواړو تر منځ د وزير په وسيله کېدې او ويتکېويچ يې له دوامداره څارنې لاندې نيولی و. ويتکېويچ په يو ليک کې سيمونيچ ته ليکلي وو چې دوست محمد له ده سره ډېر سوړ چلند کوي او برنز په دې اړه خپل يو محرم ته داسې ليکلي وو:

امير نبغ ما ته راغی او وېې ويل چې هر څه چې زما زړه غواړي، هغه کولای شـم – زه کولای شـم دی [ويتکېويچ] وشـړم او يا بل هر څه مې چې زړه وي هغه وکړم. ما ورته وويل چې داسې کار ونه کړئ، خو هغه ليکونه چې دغه اجنټ له ځان سره تا ته راوړي، ما ته راکړه. امير سـمدلاسـه ټول ما ته تسليم کړل. ما يو بېړنی محرم ليک په خپله لوی والي ته ولېږه. په ليک کې مې وليکل چې ګوره، مخکنيو لويو واليانو پر تا څه حال راوسـتی او ورته ومې ويل چې وروســته له دې زه نه پوهېږم چې څه به پېښ شـي او اوس په دې لوبه کې روســان زموږ کچې ته رارسېدلي دي.[٩٢]

د برنز د پرله پسـې زاريو په ځواب کې هغه حيرانووکی او غير ديپلوماتيکي ليک چې لارډ اکلنډ برنز ته لېږلی و د جنورۍ په يوويشـتمه ليکل شـوی و او کابل ته ټيک يوه مياشـت وروسـته ورسـېد. لارډ اکلنډ په يو وار د برنز ټولې کارنتياوې او هيلې له خاورو ســره برابرې کړې . مېکناټن د ليک په لنډيزپانه کې د برنز ټولې اندېښـنې رد کړې وې او ليکلي يې وو چې باور نه کوي چې هرات د روسـانو او يا پارسـيانو له خوا په رښـتيا په خطر کې وي. مېکناټن په حيراوونکي ډول ليکلي و چې عاليقدر لارډ اکلنډ روسـي ماموريت ته دومره ارزښــت نه ورکوي. برنز ته دا هم ليکل شـــوي وو چې نوموړی د دې صـــلاحيت نه لري چې د بارکزيو کندهار ته د پيســـو او يا ائتلاف وړانديز وکړي او د دوی د ملاتړ د خپلولو په اړه د نوموړي نوښت انګرېزان خپل نه ګڼي او فسخ دی.

اکلنډ په ځانګړې توګه په دوامداره توګه له کابل سره د ائتلاف د جوړولو په هکله مينه نه ښودله او نوموړي، امير ته په خپل ليک کې ليکلي وو چې هغه بايد پېښـور هېر کړي او په دغه سـيمه باندې د واکمنۍ له نظريې تېر شـي. امير بايد له پارس، روسـيې او ترکمنسـتان سـره هر ډول کړنې ودروي او په بدل کې به برتانيه، چې د اکلنډ په اند عادلانه کړنه وه، له ســـکانو څخه هېله وکړي چې پر افغانســـتان يرغل ونه کړي او په دې توګه به امير له يوې ورانوونکې جګړې څخه وژغورل شي. اکلنډ د خپل ليک په دوام کې داسې ليکلي وو: «رنجيت سـنګ په خپل وار په مهربانۍ زما غوښـتنه د اخ‌اوډب د درونې په هکله ومنله که چېرې ته له هغه ســره بل ډول چلند ونه کړې. تا ته اړينه ده چې د هغه کړنې په پايلو ژور فکر وکړې په کومه کې چې ته له داسې پياوړي شـهزاده سره د پخلاينې سرغړونه وکړې. له دغه شـهزاده سره زما ملت د ملګرتيا د نېغو اړيکو په وسـيله متحد دی او داسې هيلې پرېږده چې عملي کېدل يې ناشـوني وي.» په پای کې يې يو ګواښ هم ليکلي و: که چېرې دوست محمد خپلې بې لارۍ ته دوام ورکړي او له پارس او روسـيې سره خپلې اړيکې وســاتي، هندي دولت به د افغانســتان په لور د ســکانو د واکمنۍ د پراختيا څخه ملاتړ وکړي او کپتان برنز ... به له کابل څخه راوغوښـتل شـي ځکه چې په هغه وخت کې به په کابل کې د نوموړي شـتون څه ګټه ونه لري.[٩٣] په دغه ليک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د دوست محمد مشروع اندېښنو او هيلو ته د جوړې هېڅ اشاره نه وه شوې. اکلنډ په حقيقت کې د امير پر ضد خپل دريځ نور هم ټينګ کړ. هغه امير ته وويل چې د برتانيې له اجازې پرته له روسيې او پارس سره اړيکې نه شي نيولی او د پېښــور او کشــمېر په اړه بايد له خپلو ټولو ادعاوو څخه تېر شــي او تر ټولو نه منونکې او ترخه خبر يې دا وه چې امير بايد له رنجيت سېنګ څخه ښنه وغواړي.

برنز ته سخته وه چې له دغسې ځان زيانمنو احکامو څخه څه شی وژغوري، په ځانګړې توګه په داسې وخت کې چې روسيه د ډېر څه ورکړې ته چمتو وه: نه يوازې ملګرتيا او ملاتړ ته بلکې دوه ميليونو نغدو روبلو ته چې دوست محمد يې د سېکانو پر ضد د لښکر په جوړولو کې وکاروي - دا ټول هغه څه وو چې دوست محمد يې هيله کوله. اکلنډ ظاهراً د خپلې بې پامۍ له امله په يو وار يوه لويه تراږه، له پارس څخه نېولې تر منځنۍ اسيا او افغانســتان پورې روســانو ته وروســپارلـه. دا هغـه څـه وو چې ويتکېويچ هم وروســتـه لـه دې چې د دغـه ليکونو د منځپـانګې پـه اړه يې واورېـدل، سمدلاسه وربانديې پوه شوی و. هغه ليکلي وو: «انګرېزان له ډېر وخت راهيسې په دغه سيمه کې د نفوذ د بيا ترلاسه کولو هيلې بايلوي.»[۹۴]

برنز برباد شـوی و. د هغه ټولې نظريې له پامه غورځول شـوې وې. لکه څنګه چې مسـون ليکلي وو: «برنز د يو وخت له پاره ځان ناهيلی ته سپارلی و. هغه به خپل سر پر لانده لاسپاک وتړلو او بوين بوتل به يې راواخيستل. د داسې صحنې او د دغســې ليونتوب ليدل ډېر د شــرم ځای و.»[۹۵] خو برنز څو اونۍ وروســته بېرته په حال راغی او يوه زړوره دفاعي جګړه يې پيل کړه. هغه د خپلو هداياتو منځپانګه راوسپړله چې کومه تشه يا ګونکتيا په کې پيدا کړي چې څو په وسيله يې ويتکېويچ ليرې وساتي.

برنز له برتانوي پلوه اشــرافيانو ســره خبرې وکړې چې که دوی دوســت محمد وډوماري چې د انګرېزانو له خوا يوازې د دفاع يا ساتنې ژمنه ومني. داسې ښکاري چې د دغه خبرې د ملاتړ له پاره نوموړي پيسې هم شيندلې وې. دا هغه څه دي چې په ټولو افغان ســرچينو کې يې يادونه شــوې ده. ميرزا عطا ليکلي: «برنز د لويو اشــرافيانو او د کابل د مشــرانو په ليدو پيل وکړ. دغه ټولو يوازې يوه لويه مينه درلوده، د پيسـو مينه او د سـرو زرو د سـکو د کړنګاري مينه؛ نو هغه په چټکۍ وکړای شول دغه خلک په رشوت بې لارې او د دوی ملاتړ تر لاسه کړي.»[۹۶] خو د دې پايلې تر اوسه بې ثمره وې.

د دوســت محمد انګرېز دوســته ورور چې خپل زوی يې لوديانې ته لېږلی و چې د وېډ له خوا تعليم ورکړل شي هڅه وکړه چې دغه دوه لوري ســـره نږدې کړي، خو د اکلنډ د ليکونو ســـپکې او خانتما بڼې او په همدې ډول د ليکونو منځپانګې يوه جوړه ناشــونې کړې وه. لکه څنګه چې امير ويلي وو، يو شــی چې هغه يې هېڅ کله له پامه نه شــي غورځولی، عزت دی. هغه برنز ته وويل: «دا اکلنډ دی چې افغانان يې پرېښودل، ما انګرېزان نه دي پرېښي.»[۹۷]

په هرات کې پېښــو د روســانو لاس پياوړی کړی و، خو په عين وخت کې انګرېزانو خپل دريځ په خپله کمزوری کولو. د ښار کلابندي مخ په تنګېدو وه. ايلډرېډ پاټينګر برنز ته لاندې راپور ورکړی:

د راتلونکي کال له پاره د اطراف سيمې په بشپړه توګه ورانې دي. هلته اوس د کرلو له پاره نه تخم شته او نه غوايه چې تخم پرې وکرل شي. زه په رښـتيا وېره لرم چې [په ښـار کې] شـيعه ګان به په ډلو ډلو د مريتوب له پاره خرڅ شي... د ښـار خلک ډېر اندېښـمن او خپه دي ځکه چې دوی فکر کولو چې کلابندي به يو څو اونۍ دوام وکړي... په ښــار کې اوس پســونه نږدې هېڅ نه شــته او د اوبو رســونه درېدلې ده. د اوبو عامه زيرمتونونه او ذخيرې دومره بوينې شوې چې د کار اخيستنې نه دي.[۹۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها خوا کونټ سيمونيچ اوس د شاه کمپ ته رسېدلی و او د ښار د کلابندۍ د عملياتو په لارښوونه کې يې ډېرېدونکې کارنده برخه اخيستله. لکه څنګه چې مکنېل راپور ورکړی و: «برتانوي ګټو ته د زيان په موخه د روسانو او پارسيانو تر منځ د همغږۍ شواهد سم روښانه دي او زما په ارزونې د دغه ښر کچه چې موږ پرې ګواښول کېږو ډېره ستره ده.»[۹۹]

د دوست محمد وزير، ميرزا سمع خان د مارچ په شلمه د نوروز په مېلمستيا کې ويتکېويچ ته د اعزازي مېلمه بلنه ورکړه. برنز ته په لوی لاس هغه وخت بلنه ورکړل شوه کله چې مېلمستيا لږ وخت مخکې پيل شوې وه. ده مېلمستيا ته له تګ څخه ډډه وکړه، خو نوموړي له خپل هندي مرستيال، موهن لال کشميري څخه غوښتنه وکړه چې د ده پر ځای لاړ شي. موهن لال د اوو کلونو راهيسې د برنز ارزښتمن منشي او سلاکار و. دوی په ۱۸۳۱ کال کې په ډهلي کې له يو بل سره په لمړي ځل ليدلي وو کله چې موهن لال يوازې شل کلن و. شل کاله مخکې د نوموړي پلار د الفنستېون په ماموريت کې د منشي دنده درلوده او کله چې بېرته له ماموريت څخه راوګرځيد، موهن لال يې د نوي ډهلي په کالج کې شامل کړ چې د انګرېزي درسي نصاب پر بنسټ تدريس په کې کېده. موهن لال يو له څو هلکانو څخه و چې په شمالي هند کې يې په لمړي ځل په نوموړي کالج کې زده کړې وکړې. نوموړی يو هوښيار او هوډمن کس و او په انګرېزي، اردو، کشميري او پارسي ژبو يې په فصاحت خبرې کولې. هغه له برنز سره د بخارا په يون کې مل و او له دغه يون څخه وروسته يې څه وخت په کندهار کې د جاسوس په توګه وېډ ته کار وکړ. دی ډېری له مسون سره په اړيکه کې و چې په کابل کې يې د منشي دنده لرله. برنز پر نوموړي پوره باور درلود او په خپل کار کې يې پر ده باندې تکيه کوله. د ۱۸۳۴ کال د ډسمبر په مياشت کې د نوموړي کشميري پنډېټ ټولنې، دی په مذهب کې د شک په اړه په ښکاره ويناوو او د طبقاتي ټولنې له اصولو څخه په وار وار د سرغړونو په تور له ټولنې څخه شړلی و. اوس يې اجازه نه درلوده چې د دوی په پيالو کې له دوی سره چای يا اوبه وڅښي «... دوی زه له خپلې ټولنې څخه وشړلم... اوس زه په خپله پلرنۍ سيمه، ډهلي کې نه ملګري لرم او نه د هستوګنې ځای.»[۱۰۰]

موهن لال وروسته د خپل يون په اړه په انګرېزي ژبه يو د پام وړ کتاب وليکه او په دوه ټوکو کې يې په علمي بڼه د دوست محمد ژوند ليک هم وليکه. په وروستي ياد شوي کتاب کې نوموړي د نوروز په مېلمستيا کې د ويتکېويچ سره د ليدنې په اړه ليکلي:

کله چې ميلمستيا ته ننوتم، ګورم چې وزير او ويتکېويچ د نورو په پرتله په لږ اوچت ځای کې ناست دي. وزير په دغه کړنه غوښتل ويتکېويچ ته قدر او درناوی ورکړي... زه د روسي استازي تر څنګ کښېناستم. ساز چالان و او وزير به کله له ويتکېويچ او کله له ما سره په سياست کې غږېده. هغه زما څخه په لوديانې کې د انګرېز عسکرو د شمېر په اړه او په کرنال Kurnal ميروت Meerut او کنپور Kanpur کې د پوځي فرقو تر منځ د واټن په اړه پوښتنه وکړه. همدا راز ده وپوښتل چې د پوځ لويه برخه محمديان جوړوي او يا راجپوتيان او ځايي هنديان، د لوی تېمور [مغلو] ورستېدونکي کور په اړه څه احساس کوم. په کومه بڼه چې له ما څخه دغه پوښتنې کېدلې، زه پوه شوم چې هره پوښتنه په هغه توګه راڅخه وپوښتل شوه په کومه چې مېلمستيا ته زما له راتګ څخه مخکې جوړه شوې وه...

خبرې اترې وروسته د روسيې او کشمير تر منځ مخ پر ودې سوداګرۍ ته واوښتې. دلته ويتکېويچ له افغانانو سره د مرستې هيله څرګنده کړه چې دوی له رنجيت سېنګ څخه کشمير بېرته ونيسي. نوموړي دا ادعا هم وکړه چې ده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاحیت ورکړل شوی چې مهاراجا رنجیت سېنګ ته ووايي چې که له افغانانو سره دوستانه چلند ونه کړي، روسیه به کابل ته بې اړنګه ... پیسې ولېږي چې د سېکانو پر ضد لښکرې جوړې کړي او خپله خاوره بېرته تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي. هغه زياته کړه چې له روسي پوځي فرقو څخه پنځوس زره پوځیان چمتو دي چې استراباد Astarabad ته ښکته شي... او بیا د پنجاب په لور مارش وکړي. دغسې خوځښت به د هند ناراضي مشران د پاڅون له پاره وهڅوي او انګرېزان چې په اصل کې سرتېري نه بلکې سوداګر دي، پوهېږي چې د روسیې جګړه مار ملت د افغانانو ملاتړ کوي؛ نو دوی به له رنجیت سره مرستې ته زړه ښه نه کړي.[۱۰۱]

ویتکېویچ د کابل په سیالۍ کې د بریا په مورګه• و. دوست محمد د مارچ په درویشتمه د وروستۍ لیدنې له پاره برنز ته ورغی. هغه هیله له لاســه ورکړې وه او خپل ملګري ته یې وویل: «زه له انګرېزانو پرته د بل چا د ملاتړ هیله نه کوم، خو تاسې هېڅ راز ژمنې ته حاضــر نه یاســت او هېڅ شــی زما له پاره نه کوئ.»[۱۰۲] په عین وخت کې دا انګېرنې مخ په ډېرېدو وې چې پارسـیان او د دوی روسـي متحدین به ژر هرات ونیسـي او د افغانسـتان په لور به مارش وکړي. له بلې خوا د کابل په واټونو کې پارس توکمي شـیعه قزلباشـان په بریمنه او ډاډمنه توګه کرځېدل. برنز لیکلي: «یوه پېښـه چې زړو هستوګنو ته به بیخي نوې وي، مذهبي اړودوړ به رامنځته کړي.»[۱۰۳]

بلاخره یوه میاشت وروسته د اپریل په یوویشتمه دوست محمد، ویتکېویچ وروغوښت او د نوموړي پوځي اسوالې ډلې هغه د کابل په واټونو کې بدرګه کړ. دوست محمد په بالاحصار کې نوموړی په بشپړو تشریفاتو خپل حضور ته ومانه. په داسې حال کې چې برنز د بالاحصــار په بل اړخ کې یوازې په خپله کوټه کې ناســت و. ویتکېویچ په رســمي غونډه کې دوست محمد ته وویل چې روسیه د سېکانو له خوا د افغان خاورې اشـغال په رسمیت نه پېژني او د روسـیې په اند، پېښـور، ملتان او کشمیر تر نن پورې د افغانسـتان خاوره ده. هغه وویل: روسـیه د یو پیاوړي او متحد افغانسـتان د لیدو هیله کوي چې روســیه به یې په منځنۍ اســیا کې د برتانیې د پراختیا په لار کې د یو نه ماتېدونکي خنډ په څېر دیپلوماتیکي ســاتنه وکړي. هغه دا ومنله چې روسـیه ډېره لیرې پرته ده چې په لنډه خبرتیا د پوځ اسـتونه ترسـره کړي، خو روسیه ژمنه کوي چې د رنجیت سېنګ پر ضد دوست محمد ته د جګړې له پاره پیسې ولېږي. د موهن لال په قول، ویتکېویچ د انګرېزانو په اړه پرته له ســتاینې نور هر څه دوســت محمد ته وویل. په ځواب کې دوســت محمد وویل چې هغه به خپل زوی، محمد اعظم خان له هرات څخه وتلي د پارســیانو کمپ ته ولېږي چې له کونټ ســیمونیچ ســره وګوري او هغه ته مخامخ له روسیې سره د تل پاتې دوستانه اړیکو په هکله د امیر نیت تصدیق کړي.

د برنز له پاره هر څه پای ته ورســېدل: ویتکېویچ وګټله. اوس په کابل کې د دغه ســکاټلنډي له پاره د پاتې کېدو څه دلیل نه و پاتې. هغه او دوست محمد د اپریل په ۲۵ یو بل ته د مخه ښې خواشـیني یادښـتونه ورکړل او سبا ته برنز، موهن لال او مسـون له کابل څخه سـتانه شـول. مسـون لیکلي وو چې له کابل څخه د دوی ناڅاپي تګ، تېښـتې ته ورته و او مولانا حمید کشمیري په اکبر نامه کې برنز د خپل ژوند له پاره په تېښـته یاد کړی.

د ده غومبوري ژېړ لکه زعفران وو

په باطن کې د خپل ژوند څخه تېر و

---

• مورګه: ژۍ

د بریا په مورګه: بریا ته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر وویل: «جګ شه او ورځه! له دغه ځای څخه وځه»
یون دې په بېړه پیل کړه
د پیسو او خزانې له پاره ستا له حرص څخه وېره په کار ده
زه به تا وربړوم او جزا به درکړم
زه له خپلو اصولو څخه دا ډېر لیرې ګڼم
چې چا ښېګڼه راته څرګنده کړې وي او بیا یې ووژنم
زه نه غواړم د پیسو په بدل کې خپل عزت بایلم
چې زه خپل یو مېلمه بل ته په لاس ورکړم
سکندر [برنز] چې د ژوند هیله یې نه درلوده
د داسې خبرو تصور یې نه کولو
هغه له کابل څخه د هند په لور روان شو
لکه یو پسه چې له غورهارن زمري څخه تښتي
هر ګام یې چې پر لاره اخیسته، شا ته یې کتل
له دې وېرې چې بیا یې باز ګیر نه کړي[۱۰۴]

خو په حقیقت کې له کابل څخه د برنز تګ دومره بد هم نه و لکه افغانانو یې چې یادونه کړې. د امیر کشر زوی، غلام حیدر خان دغه انګرېزان د ښار تر پولې بدرګه کړل او د شخصي ملګرتیا د وروستۍ نښې په توګه، دوست محمد د میرزا سمیع خان په وسیله درې اسونه ورولېږل. نوموړي د برنز ډلې ته په بت خاک کې چې له کابل څخه ۱۲ میله لیرې دی ورسېد او اسونه یې وروسپارل. برنز او دوست محمد درې کاله له یو بل سره ونه لیدل خو کله یې چې بیا سره ولیدل، حالاتو بیخي ډېر توپیر درلود.

له جلال اباد څخه مخکې، برنز په جاله کې د کابل سیند له لارې پېښور ته لاړ. په دغه مهال کې ویتکېویچ د کندهار په لور روان و. دا د نوموړي د ماموریت دویم پړاو و چې د دوست محمد میرني ورونو سره یو تړون لاسلیک کړي. دوی چې انګرېزانو رد کړي وو، اوس له دوست محمد، پارسیانو او روسانو سره د ائتلاف او د هرات په کلابندۍ کې هوکړه وکړه. په افغانستان کې هرات د ویتکېویچ وروستۍ منزل و او د نوموړي ملتیا د کابل او کندهار بارکزي شهزادګانو کوله. سیمونیچ د جون په نهمه د پارسیانو په کمپ کې نوموړي ته په بریمنه توګه ښه راغلاست وویل. ویتکېویچ روسې ته داسې لاسته راوړنې ور په برخه کړې چې مشرانو یې حتی د هیلې جرات هم نه کولو.[۱۰۵] د پارس شاه لږ وخت وروسته نوموړي ته د زمري او لمر Order of the Lion and the Sun اعزازي نښان ورکړ.[۱۰۶]
برنز دغه مهال په پېښور کې نورو احکامو ته تم و او په عین وخت کې یې خپل زړه جګړن هالند ته تشولو. هغه نوموړي ته لیکلي وو: «خبره خلاصه ده. روسانو وروستۍ ګوزار راکړ او زه نور په کابل کې پاتې کېدای نه شوای؛ نو اوس مې په پېښور کې اړولي دي. زموږ حکومت هېڅ ونه کړل. روسي استازي په زغرده د مرستې او پیسو د ورکړې ژمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې، خو ما دا صــلاحیت نه درلود چې د هغه د ژمنو پر وړاندې، دې ته ورته ځه وړاندې کړم؛ نو زه طبعاً شــاته شـوم.»[۱۰۷]

خو برنز شېملې ته په خپلو لیکونو کې ډېر دیپلوماتیک و. دی پوه شو چې د نوموړي د ماموریت ناکامي برعکس په دې مانا هم ده چې اوس تر ټولو ډېر یو افغان پوه ته اړتیا پېښـېږي. هغه په دې هم پوهېده چې اوس کېدای شي او یا حتی امکان لري چې له کابل ســره جګړه پېښــه شــي. د برتانیې د پالیســۍ په اړه د نوموړي له ټولو اړنګونو ســره ســره، د پرمختګ لېوال برنز بیا هم غوښتل چې د هر هغه څه په سر کې وي چې اکلنډ په پلان کې نیولي وو.

برنز پېښــور ته لا نه و رســېدلی چې د کمپنۍ د ماشـینونو څرخونه د دوسـت محمد د بدنامولو او د اکلنډ په انګېرنې د هغه د ضــدیت له امله د جزا له پاره په څرخېدو وو. اکلنډ په بشـپړه غلطه توګه لندن ته لیکلي وو: «دوســت محمد وښــوده چې دومره ناخوښ او ځانپاله دی چې موږ د قناعت وړ اړیکي نه شــو ورســره جوړولی.»[۱۰۸] که امیر د اکلنډ د غوښــتنو پر بنســټ عمل ونه کړي، بیا نو باید شــاه شـجاع د هغه ځای ناســتی شــي، هغه څوک چې د اکلنډ په باور معقول کس و او هغه څه یې کول چې ورته ویل کېدل، خو اکلنډ تر اوســه پرېکړه نه وه کړې چې دغه کار به څرنګه او په کومه بڼه سرته ورسوي.

اوس اکلنډ او خویندې یې شـېملې ته رسـېدلي او هندي یون یې پای ته رسـېدلی و. شـېمله په هند کې لمړنی ځای و چې د دوی خوښ شــو. ایملي د دغه ســیمې په اړه لیکلي وو: «د دغه ځای هوا مســتانه او د برتانیې اقلیم ته ورته ده. ډېر ښـایسـته ځای دی او په دې ټولو سـتړیاوو ارزي. په لوېدیځ اړخ کې د رسـامۍ له کوټې ژورې درې او د خوړنځي پلو ته، چېرته چې زما کوټه هم ده د غرونو په واورو پټې څوکې ښکاري.»[۱۰۹]

په دغه پېر کې په خپله د شــېملې شــتون په هند کې د انګرېزانو د ځانمنۍ او بې پروایۍ څرګندونه کوله. کمپنۍ به په کال کې اووه میاشـتې د نړۍ یوه پر پنځمه برخه وګړي له یوه همالیایي کلي څخه اداره کول چې د تبت پوله لاندې ترې ښــکارېده. دغه کلي ته یو نری ســړک تېر شــوی و چې له څړه لارې• څخه لږ ســورور و. دلته د څه باندې دوو لســیزو راهیسـې کله چې کپتان چارلس کېنیډي Charles Kennedy دغه سـیمه کشــف کړې وه، کمپنۍ په یوه اوږده او نرۍ غونډۍ کې د خیـالونو کوچنی انګلنډ جوړ کړی و. دې تـه یې د خپلو خیـالونو یو ډول وېکتوریـایي بڼـه ورکړې وه او ګوتیکي Gothic* کلیساوې، نیمه له چارتراشو څخه جوړې شوې جونګړې او سکاټلنډي اشرافي مانۍ یې په کې ودانې کړې وې. شـېملې په وطن پسې خپګان او یادېدنه په سـړي هېرول. دا له سـرې ګرمۍ څخه د پناه او په ضـمني توګه له هند څخه د تېښتې ځای و. لکه څنګه چې یو مامور په غندنې ویلي وو: «د هند په نورو ځایونو کې به پارونې، بلواوې او

• څړه لار: د پلیو لاره، پیاده رو

*ګوتیک د مهندسۍ یوه بڼه ده چې په دولسـمه میلادي پېړۍ کې د فرانسې په شـمال کې رامنځته شـوه او تر شـپاړسـمې پېړۍ په ټوله شـمالي اروپا کې خوره شـوه. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتی وژونکي بغاوتونه روان وي، خو په شېمله کې به د پولو Polo او اس ځغاستې د پایلو او د کرکېټ د تورنمنټونو په اړه تودې خبرې کېږي.»

د ټول تېر وخت په پرتله بلاخره اکلنډ دلته اوس د افغانستان پېښو ته ډېر پام واړولو. نوموړي په تېرو دوو میاشتو کې په جدي توګه د ویتکېویچ او روسانو له خوا جوړ شوی ګواښ کم ګڼلی و. اوس یې چې له هرات او پېښور څخه ځارګریز راپورونه ولوستل، دی په یو ناوخته اندېښمن وضعیت کې ډوب شو او د یو لوی منفي غبرګون خواته یې زنګېدل پیل کړل. د دې یو لامل دا و چې ده د مکنېل له خوا د راپورونو یوه ویجاړوونکې لړۍ تر لاسه کوله. مکنېل له هرات څخه بهر د پارسیانو په کمپ کې و او د اعتراض په ډول له کمپ څخه په وتلو و ځکه چې شاه نوموړی او کارکوونکي یې له پامه غورځولي او سپک کړي وو. له دې څخه سیمونیچ ډېر خوند اخیست. مخکې له دې چې له پارس سره دیپلوماتیکې اړیکې وشلوي او عثماني ترکیې ته لاړ شي، مکنېل پر اکلنډ د جګړې غږ وکړ: «لارډ اکلنډ باید اوس یوه پرېکنده لاره غوره کړي او باید اعلان وکړي چې هر هغه څوک چې له موږ سره متحد نه دي، زموږ پر ضد دي او د دښمن چلند به ورسره وشي. که شاه هرات ونیسي، موږ باید یوه شېبه هم له لاسه ورنه کړو او زما په اند هېڅ کله زموږ دومره ګټې په خطر کې نه وې لکه اوس چې دي... موږ باید افغانستان خپل کړو.»[۱۱۰]

لارډ اکلنډ د لمړنی کړنې په توګه، د بېړیو یوې وړې قوې ته امر وکړ چې له بمبیي څخه د پارس خلیج ته لاړه شي او د شیراز سوېل لوېدیځ ته د خارګ ټاپو اشغال کړي څو شاه ته دا یو خبرداری شي. وروسته په داسې حال کې چې د رسامۍ د کوټې په یو ګوټ کې ایملي اماتوري ډرامې جوړولې - «شپږو کسانو په دې کې د هغه خلکو په ګټه برخه اخیستې وه چې په اګره کې له لوږې سره مخ وو»- لارډ اکلنډ د کوټې په بل ګوټ کې خپل پام په افغانستان کې د واکمنۍ بدلولو ته اړولی و.

د نوموړي لمړۍ هیله دا وه چې شاه شجاع او رنجیت سېنګ به دغه جنجالي امیر لیرې کړای شي او دی به په خپله د دغه عمل له اجرا څخه خلاص شي. لکه څنګه چې ایملي خپلې خور ته چې په انګلنډ کې وه لیکلي وو: «که موږ وغواړو، د یو ګاونډی د ویرولو له پاره بېلابېل خلک ګمارلی شو چې ښه چلند ته اړ کړل شي. د ځېنو سترګې ایستل شوې، د ځینو بچیان یرغمل دي او د ځینو په خپله غاصبین د دوی خپل ورونه دي او یا دوی د بېلابېلو محرومیتونو لاندې ژوند کوي، خو دوی بیا هم د خیر د کار له پاره چمتو دي. موږ یو شاه شجاع لرو چې پر دوست محمد به ورټوپ کړي که چېرې هغه په لاره سم لاړ نه شي او رنجیت سېنګ چمتو دی چې په داسې کړنو کې زموږ ملتیا وکړي ...»[۱۱۱] اکلنډ په لږ ډېره دیپلوماتیکي او رسمي بڼه دغه خبره په یو لیک کې خپلو مشرانو ته په لندن کې ولیکله: «د یو داسې اند ارزونه کوم چې موږ له شاه شجاع سره په ختیځ افغانستان کې د خپلې واکمنۍ په بېرته ترلاسه کولو کې د رنجیت سېنګ په خوښه په داسې بڼه مرسته وکړو چې د سېک حاکم غوسه پای ته ورسېږي او پر تخت کښېنول شوی پاچا زموږ د ګټو ساتلو ته ژمن کړل شي.»[۱۱۲]

نو مېکناټن د مې په لسمه، د لارډ اکلنډ له وراره/خوربړ او پوځي سکرتر، کپټان ویلیم اسبورن سره یو ځای لاهور ته ولېږل شو چې د پنجاب د زمري اند مالوم کړي. دوی چې له تېرې تجربې درس اخیستی و، دا ځل یې په ډالیو صرفه ونه کړه او له ځان سره یې په سخاوت ډېرې ډالۍ یوورې - «یوه توره چې په ډېر ښه استعداد جوړه شوې ده، دوه د پېژندلې انګرېزي نسل د ځغاستې اسونه، او دې ته مې دوه تومانچې ور زیاتې کړې چې اعلی سرقوماندان خوښې کړې او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل چې ستاسې عالیقدر به خوښې شي.» سربېره پر دې، اکلنډ د شرابو شوقي مهاراجا ته په څو اوښانو بار شراب ولېږل. د ایملي په قول: «نوموړي له اکلنډ څخه غوښتي وو چې د خپل هر راز واین نمونې هغه ته ور ولېږي او اکلنډ دا کار وکړ. اکلنډ چې د رنجیت سېنګ د شرابو په عادت پوهېده، د احتیاط له پاره یې ویسکي او د سرکیو برندي هم ورولېږل. د نوموړي ویسکي ډېر خوښ شول او مېکناټن ته یې وویل په دې نه پوهېږي چې ولې لوی والي د واین په اووه یا اته پیالو څښلو ځان ستړی کوي حال دا چې د ویسکي یوازې یوه پیاله عین کار کوي.»[۱۱۳] په لاره کې پنجابي غلو د شرابو څو کرېټونه او په ډله کې د مرستیال رنځورېوه له بکس څخه ښلابېل ځېزونه غلا کړي وو: کله چې د غلا په اړه ایملي واورېدل، داسې یې ولیکل: «غلو د ګېډې پمپ ټوټې ټوټې کړی و- دا پر درباریانو باندې د غلو مهرباني وه ځکه چې رنجیت سېنګ پر خپلو درباریانو راز راز طبي تجربې کوي. چې په دې به یې درباریان څرنګه پمپ کول!»[۱۱۴]

د مې په شلمه مېکناټن د رنجیت سېنګ تر واک لاندې سېمې ته ننوت. رنجیت سېنګ له خپل دود سره سم په ادینګر Adinagar کې د خپلې خوښې په ماڼۍ کې دغه پلاوي ته ښه راغلاست وویل. اسبورن دوی ته د رنجیت سېنګ د ښه راغلاست په اړه داسې لیکلي:

په زرینه څوکۍ کې ناست، یوه پښه یې پر بله اېښې وه. ساده سپینې جامې یې اغوستې او پرته د لویو ملغلرو له یو مزي څخه چې تر ملا یې تاو کړی و، نورې ګاڼې یې په تن نه وې. نومور کوه نور یې پر مټ بند کړی و. دغه ګاڼې په روښانتیا کې د اور د هغه سپرغیو سره سیالي کوله چې د نوموړي له یوازېنۍ سترګې څخه ورېدلې چې په ناکرارۍ شاوخوا غړېده. د رنجیت لوړپوړي کسان د هغه تر څوکۍ تاو په ګونډو ناست وو او د هغه مشر زوی، دیین سېنګ Dheean Singh یې شاته درېدلی و. که څه هم نوموړی پخپله ښایسته ځېره نه لري، خو داسې برېښېدل چې پر دې ویاړ کوي چې ښایسته خلک ترې تاو دي. زه باور نه کوم چې په اروپایي او یا ختیځي دربارونو کې داسې ښایسته خلک وي لکه د شاه اصلي سرداران چې دي.

لکه څنګه چې د رنجیت عادت و، هغه له خپلو مېلمنو څخه پلټنې پیل کړې. اسبورن په دې هکله لیکلي:

زموږ وخت په لویه کچه د رنجیت سېنګ د بې شمېره پوښتنو په ځوابونو کې تېر شو، خو د نوموړي د کنجکاوۍ تنده ماته نه شوه. دا سخته ده چې د ده د بې پایه پوښتنو بهیر او یا یې د بې کچې ښلابېلو ځېزونو په اړه د پوښتنو بشپړ انځور جوړ کړم: تاسې واین ځښۍ؟ څومره؟ د هغه واینو مزه مو وڅکه چې ما پرون درولېږل؟ څومره مو وڅښل؟ کوم توپونه مو ځان سره راوړي؟ مرمۍ مو هم ورسره راوړي؟ څومره؟ د اس سپرلۍ د خوښېږي؟ د کوم هېواد اسونه دې خوښېږي؟ ته په پوځ کې یې؟ کوم یو دې ډېر خوښېږي، پلې که سپاره؟ لارډ اکلنډ واین ځښي؟ څو پیالې؟ واین د سهاره ځښي؟ د کمپنۍ د پوځ قوت په څه کې دی؟ دوی ښه دسپلین لري؟» له څه باندې یو ساعت خبرو څخه وروسته، رنجیت سېنګ له دود سره سم ولاړ شو، موږ ته یې غېږ راکړه چې نږدې یې د چنډږ لرګي د غوړیو له بوی څخه زموږ نفس ایستلی و. بیا یې موږ ته د تګ اجازه راکړه.[۱۱۵]

رنجیت سېنګ له یو شي سره چې ډېر ناټ درلود، د انګرېزانو خصوصي ژوند و. کله چې په اصلي موضوع خبرې اترې پیل شوې، ښایسته اسبورن به کله نا کله د رنجیت سېنګ د جنسي ترجیحاتو د پوښتنو له باران لاندې راغی:

«زما کشمیري نجونې دې لیدلې دي؟ خوښې دې شوې؟ دوی د هندوستاني ښځو په پرتله ښایسته دي؟ دوی د انګرېزي ښځو په ځېر ښایسته دي؟ ستا کومه یوه خوښه شوه؟» ما ورته وویل چې دوی ټولې زما ډېرې خوښې شوې او د دوو نجونو نوم مې واخیست چې زما په اند ښایسته وې. هغه وویل: «هو، دوی ښایسته دي، خو زه نورې هم لرم چې تر دوی ډېرې ښایسته دي او زه به یې نن ماښام درولېږم. ته کولای شي چې کومې د خوښې شوې، ځان سره یې پاتې کړې.» ما د هغه له دغه بې کچې سخاوت څخه مننه وکړه؛ بیا یې په ځواب کې راته وویل: «زه ډېرې نورې لرم.» بیا یې د خبرو موضوع اسونو ته واړوله.[۱۱۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رنجیت سېنګ له کنجکاوۍ څخه د لارډ اکلنډ طبیعت هم خلاص نه و:

«لارډ اکلنډ واده کړی؟

- نه

- څه! هغه هېڅ ښځې نه لري؟

- نه، یوه هم نه لري.

- ولې واده نه کوي؟

- زه نه پوهېږم.

- ته ولې واده نه کوې؟

- زه یې وس نه لرم.

- ولې؟ انګرېزي ښځې ډېرې ګران بیه دي؟

- هو، ډېرې.

ما هم ځانته څه موده مخکې یوه وغوښتله او ستاسې دولت ته مې په دې هکله ولیکل، خو دوی راونه لېږله.»[117]

د رنجیت سېنګ د دغسې مسخرو موخه تر یوې کچې د انګرېزانو نرمول او همدا راز په مذاکراتو کې په خپل سیاسي ذکاوت د پردې اچول وو. اسبورن په دغه پردې پوه شوی و: «په رنګ داسې ژېړ ښکاري لکه هرومرو چې ناروغه وي. د رنجیت سېنګ د مخ ونګه هر سړی د یو خارق العاده سړي په فکر کې اچوي... د ډېرې هوښیارۍ په لرلو او د هغه ناکراره او هرې خوا ته لالهانده او اور غوندې سره سترګه تا دې ته هڅوي څو په دې باور شې چې په نوموړي کې عقل او جدیت هېڅ وده نه ده کړې.»

د رنجیت سېنګ د مذاکراتو وړتیاوو ژر ځان څرګند کړ او دومره وخت نه و تېر چې د سېکانو دغه سیانه• مشر له نبغ مېکناټن څخه کړۍ تاو کړه. یو همکار یې په دې اړه داسې لیکلي: «خوارکی مېکناټن باید خپل د سکرتریت دفتر نه وای پرېښی. هغه د خلکو په هکله ناخبره دی، حتی د عادي خلکو په هکله. دی په بشپړه توګه په اداري چارو کې ناتوانه دی. ښایي قضايي چارې ده ته مناسب شغل وي، هغه هم یوازې د استیناف په محکمه کې د لیکل شوو شواهدو قضايي چارې.»[118]

په لمړیو کې اکلنډ فکر نه کولو چې انګرېزي عسکر د دوست محمد په پرځولو کې ښکېل کړي. ده هیله درلوده چې جګړه به رنجیت سېنګ او شاه شجاع پر مخ بیايي او لکه د شاه شجاع په وروستۍ هڅه کې، انګرېزان به دوی ته مورال، پیسې او وسایل ورکوي او دیپلوماتیکي ملاتړ به یې کوي، خو دې ته په کتو سره چې رنجیت په پېښور کې د خپلې واکمنۍ په ټینګولو کې ستونزې لرلې، نوموړی د اکلنډ بلنې ته چې پر کابل یرغل وکړي دومره خوښ نه و؛ نو دا چې له دوست محمد څخه د ځان خلاصولو او همدا راز په دغه بهیر کې د خپلې شتمنۍ د ډېرولو تلوسمن و، خو نه یې غوښتل چې د افغانستان په جنجال کې ځان بند کړي، ده په ډېره زرنګۍ خپل رول ولوبولو. مېکناټن د جون په پیل کې په نهیلۍ راپور ورکړ چې رنجیت «پر کابل باندې د یرغل خیال نه لري.»[119] خو مهاراجا کرار

---

•سیانه: چالاکه او خودغرض

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرار هوکړې ته تیاری څرګند کړ. هغه په رموز څرګنده کړه چې که ده ته د شــکارپور مالي مرکز، خیبر او جلال اباد ورکړل شي، د نوموړي ځواکونه به له جزایي لکښر سره یو ځای شي چې خپل پخوانی افغان دښمن وځپي او له واک څخه یې لیرې کړي. مېکناټن دغه خبره ونه منله او د دوه اونیو له پاره په خبرو اترو کې هېڅ پرمختګ ونه شـو. په واقیعت کې، ښـایي رنجیت سـېنګ دغه غوښـتنې یوازې د چنې وهلو له پاره کړې وي ځکه کله چې د دوسـت محمد پر ضـد جګړې ته حاضـر شـو، ویې ویل چې یوازې غواړي د پېښـور او کشـمیرتل پاتې څښـتن وپېژندل شـي، انګرېزان دې ۲۰۰۰۰ پونډه ورکړي او د سـند امیران دې هم یو لوی شـمېر نغدې پیسـې ورکړي. سـربېره پر دې، شـاه شـجاع به له کلني باج سـربېره، پنځوس د ښـه نسـل او د منل شـوي رنګ او ځغاسـتې اسـونه، د څو اوښـانو بار مشـکي او خوږې خربوزې او ۱۰۱ پارسي غالی هم ورکوي. مېکناټن سمدلاسه دغه غوښتنې ومنلې او ژمنه یې وکړه چې پر شاه شجاع او امیرانو به دغه غوښــتنې ومني. خبرې اترې ورو ورو پر مخ روانې وې. لمړی داســې پلان و چې د ســېکانو یرغل به د انګرېزانو په ګټه وکارول شــي، خو د څو اونیو خبرو اترو په ترڅ کې د خبرو اصــلي ټکي ورو ورو د ســېکانو په ګټه د انګرېزانو په یرغل بدل شو.

کله چې د جون په پای کې خبرې اترې لاهور ته ولېږدول شــوې او وروســته له دې چې مســون او برنز له انګرېزي پلاوي ســره یو ځای شــول، د دې پخلی وشــو چې رنجیت حاضــر دی چې له انګرېزي پوځ ســره چې د ځواک لویه برخه یې جوړوله، یو ځای شي څو شاه شجاع پر تخت کښېنوي. مېکناټن رنجیت ته وویل: «تاسې اعلحضرت څه موده مخکې [په ۱۸۳۴ کې] له شـاه شـجاع الملک سـره یو تړون کړی و. تاسـې فکر کوئ چې دا به تر اوسـه سـتاسـې په ګټه وي چې د تړون دوام اعتبار ولري او ستاسې خوښه ده چې برتانیه هم د دغه تړون یوه برخه شي؟»

رنجیت سېنګ په ځواب کې وویل: «دا به شیدو ته د بورې اچولو په څېر وي.»[۱۲۰]

تر دغه وخت پورې هېچا دا فکر نه و کړی چې شـاه شـجاع ته خبر ورکړي چې ډېر ژر به بېرته په تخت کښېنول شي او مېکناټن چې له ډېر وخت راهیسې یې د شاه شجاع بیا واک ته د رسولو هلې ځلې کولې، حتی تر اوسه شاه شجاع لیدلی هم نه و.

شــجاع اوس په لودیانې کې د تبعید دېرش کاله تېر کړي وو، خو هېڅ کله یې حتی د یوې دقیقې له پاره هم خپل هېواد ته د بېرته ستنېدو او د خپلې واکمنۍ د بیا ترلاسه کولو هیله نه وه هېره کړې. دی په دې اند و چې پر دغه هېواد باندې واکمني خدای ورکړې وه. څه موده مخکې یې خپله د پام وړ ښځه، نه ماتېدونکې وفا بېګم له لاسه ورکړې وه او درد یې هغه وخت نور هم زیات شـو چې افراطي اکالي Akali سـېکانو د نوموړې مقبرې ته له جوړېدو څخه وروسـته چې شـاه شــجـاع پـه ســېرهـېنـد کې د درګـاه پـه زیـارت کې ورتـه جـوړه کړې وه، ســمـدلاســه ســپکـاوی وکـړ.[۱۲۱] مېکناټن د ۱۸۳۸ کال د جولای په څورلسمه لودیانې ته لاړ او خوښ و چې بلاخره له رنجیت سېنګ سره یوې هوکړې ته ورسېد. شاه شجاع ته د خپلو جاسوسانو او څرو له خوا خبر ورکول کېده او ښه پوهېده چې د یوه ګوډاګي چلند ورســره کېږي - یا د افغانانو په خبره، د مولۍ چلند. نوموړي ته په ځانګړې توګه دا لوی ســپکاوی و چې د هغه څه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه چې نوموړی د درېيو لســېزو راپه دېخوا ورته تم و، د ده په غياب کې ورته تابيا نيول کېږي او له ده څخه حتی يوه پوښتنه هم نه کېږي چې دا کار به څرنګه ترسره شي. که څه هم په تړون کې د باج پر ځای اعانه ليکل شوې وه، شجاع په دې خوښ نه و چې رنجيت ته به باج ورکوي. داســې چا ته چې د هغه زوی يې شــکنجه کړی و او د نوموړي تر ټولو ارزښتناکه شتمني يې اخيستې وه.

په جنګ نامه کې چې د انګرېزانو د يرغل په اړه لمړني حماسي شعرونه ليکل شوي، د انګرېزانو او شـاه شـجاع تر منځ ناســته داســې انځور شــوې چې مېکناټن (چې ناپاک او له لوګي څخه ډک زړه لري) او برنز (منافق ســړی) له خپلو شــيطاني غوړه ماليو او جذابيت څخه کار واخيســت چې د يو ګوډاګي په څېر افغانســتان ته د بېرته تګ په اړه د شــاه (پست شجاع) اړنګ ليرې کړي:

دوی وويل، اې شجاع، موږ ستا چوپړيالان يو!
موږ په تواضع ستا حکم ته سر ټيټوو
کله چې شاه د دوی خبرو ته غوږ ونيو
د خبرو د کولپ کلی را ښکاره شوه
ده ورته وويل: اې زما ملګرو!
راځئ چې د امير په سلطنت کې ستونزې جوړې کړو
زه به د ده هېواد او تاج ونيسم
زه به يې په غاړه کې د پانسی کړی واچوم
زما د تورې له سپرغۍ څخه به چېرته تښتي
دی به بې اړنګه ما ته خپل تخت راکړي
بيا به د کابل سلطنت سمدلاسه
ستاسې، بهرني صاحبانو ملکيت شي
دغه لټ [لارډ يعنی مېکناټن]، دغه هوښيار او مکار سړي
چې دغه خبرې واورېدې
احساساتي شو او وې ويل،
اې شاه! په بخت دې برکت شه
که دا دې خوښه وي
ځېزونه دې راواخله چې ځو کابل ته
زما يوازينۍ وېره دا ده چې د کابل خلکو ته
به زما شربت تريخ ښکاره شي
خو اوس د تعقيب وخت دی
بيا به څه وخت داسې ښکار درته پيدا شي؟[۱۲۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو حقيقت لږ بل ډول و. د مېکناټن د څه د پاسه شپېته کلن شجاع وقار خوښ شو او «د دغه زاړه مدعي له برم او پرتم څخه ډکې بڼې او په ځانګړې توګه د ده پر سينه پرتې اوږدې تورې ږيرې ورباندې اثر وکړ... چې خپل برخليک ته چې بيا به يې په تخت کښېنوي په زغم، تم ناست و.»[123] خو شاه شجاع نه غوښتل چې د سدوزيو حساسيتونه يې پلان وځنډوي او سدوزي په داسې دريځ کې هم نه وو چې لکه رنجيت سينګ چنې ووهي. شجاع ته په لړاکۍ د دغه پلان په هکله په لنډه توګه خبر ورکړل شو او د هغه محدوديتونو په اړه ورته وويل شول چې نومورې ته به د څه ناڅه سکنېل شوي او ټوټې کړل شوي افغانستان د واکمنۍ اجازه ورکړي. انګرېزانو ده ته څه ډاډ هم ورکړ چې دوی به پرته د ده له اجازې څخه د نومورې په کورنۍ او کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوي او وروسته له فتحې څخه به له هغه سره د افغانستان د بيا رغونې او د ده د واکمنۍ د ټينګولو له پاره مالي مرسته وکړي. په لوديانه کې د وينځو د تېښتې په اړه تل پاتې ستونزې ته په کتو سره، د مذاکراتو په هکله په خپله د شاه شجاع د بيان پر بنسټ، ده غوښتنه وکړه چې په تړون کې دې يوه فقره ور زياته شي څو د دې تضمين وکړي چې «هغه وينځې چې له يوه هېواد څخه بل هېواد ته تښتي بايد تبادله او بېرته ورکړل شي. دا ناشونې ده چې يو پاچا پرته له وينځو څخه وياړ او حرمت ولري.»[124] نومورې ته دا ډاډ هم ورکړل شو چې انګرېزان به د ده له لښکر څخه وروسته روان وي او هغه به د خپل لښکر په سر کې افغانستان ته په هغه لاره ننوځي په کومه چې په ۱۸۳۳-۱۸۳۴ کلونو کې هلته ته تللی و، نه داسې چې هغه به د انګرېزي فرقو شاته روان وي او پر تخت کښېنول شي. شاه شجاع ته د اضافي بسپنې ژمنه وشوه څو لکه په تېرو جګړو کې خپل پوځ ته روزنه ورکړي.

شاه شجاع يوازې ۴۸ ساعته وروسته چې له مېکناټن سره يې لمړنۍ ليدنه وشوه، د جولای په شپاړسمه، دغه تړون لاسليک کړ چې وروسته د درې ګوني ائتلاف په نوم پېژندل کېده.

د ايملي په اند د شېملې موسم ډېر ښه پيل شوی و. هغې په لندن کې خپلې خور ته په خوشحالۍ ليکلي: «موږ د ماښامنۍ له پاره راز راز مېلمستياوې او کله کله د نڅا محفلونه جوړوو او داسې څه مو وموندل چې د خلکو ډېر خوښېږي. زموږ د ساز ډله په اونۍ کې يو ځل په يوه غونډۍ کې سازونه غږوي او موږ اورېدونکو ته يخ او عصريه ورلېږو. دا په لږ زحمت يوه ښه بيا راغونډېدنه ده.» د هغې يوازېنۍ سرټکونه له انګوټ، سمېرېمېس Semiramis څخه وه چې بايد د هغې ليکونه يې لندن ته وړي وای، خو پر ځای يې دغه بېړۍ په خليج کې د خارګ ټاپو په لور ولېږل شوه چې سمندري پوځي ځواک هلته ورسوي او اوس د هغې ليکونه په بمبيي کې بند پاتې وو. ايملي بيا ليکلي: «موږ هر راز هڅې وکړې. يو انګوټ پشکال له کاره غورځولی او دا بل له ټولو هغه ليکونو سره چې موږ په خوښۍ فکر کولو چې اوس به په لندن کې وي بېرته دلته را روان دی. بيا موږ د يوې عربي بېړۍ په وسيله د ليکونو د لېږلو هڅه وکړه، خو زه باور لرم چې دغه بېړۍ به لالهانده روانه وي او ماښوګان به يې د کافي په څښلو او د نورو بېړيو په شکولو اخته وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عین وخت کې، د هغې ورور په خپل همالیایي هســـتوګنځي کې پر افغانســـتان باندي د انګرېزي پراخه او هر اړخیز یرغل پلانونه بشپړول، خو تر اوسه زړه نا زړه و او وسوسو ځورولو. له بلې خوا نوموړی هغه نیوکېزه لیکونو هم ابتر او اندېښـــمن کړی و چې له زاړه هند څخه یې تر لاســـه کول. چارلس مېټکف Charles Metcalfe چې د اکلنډ تر راتګ پورې سرپرست لوی والي و او د ډېرو په اند باید د اکلنډ پر ځای هغه ته د لوی والي څوکۍ ورکړل شوې وای، د اکلنډ افغان پالیسیو په هکله یې داسې لیکلي: «موږ په بې پروایۍ او غیر ضروري توګه په داسې ستونزو او شرمونو کې ځان واچولو چې هېڅ کله به ځان ترې خلاص نه شـــو کړای مګر دا چې په بې حرمتۍ شـــاتګ وکړو. زموږ اصـــلي موخه د روسانو د نفوذ پر ضد مقاومت دی، خو زموږ کړنې به بې اړنګه دغه نفوذ ته لاره هواره کړي. حتی له لمړنۍ بشپړې بریا ســـره ســـره، یوازېنۍ حتمي پایله به تلپاتې شـــرم او ســـیاســـي او وټه یېزې ســـتونزې وي ...» مخکښ انګرېز افغانپوه، مونټ سـتیورټ الفنسـتون هم په همدې کچه شـکمن و: «که ته د بولان له لارې ۲۷۰۰۰ عسکر د کندهار (زما د مالوماتو پر بنسټ لکه څنګه چې پلان دی) په لور وخوځوې او اعاشـه ورکړای شې، زه هېڅ اړنګ نه لرم چې کندهار او کابل به ونیسـې او شـاه شـجاع به پر تخت کښـېنوې، خو زه په زغرده وایم چې په یو بې وزله، سرسخته او پیاوړي هېواد کې او د داسې توپاني وګړو په منځ کې لکه افغانان، د نوموړي ساتنه ناشونی کار دی. که ته بریالی هم شـې، زه وېره لرم چې خپل دریځ به د روســانو پر وړاندې کمزوری کړې. افغانان بې پلوه وو او د تېري کوونکو پر وړاندې به یې ســتا د مرســتې هر کلی کړی وای. دوی به اوس په غوســه شـي او له هر تېري کوونکي ســره به ستا د شړلو له پاره لاس یو کړي.»[127]

د کمپنۍ سـیمه ییزو متحدینو هم باور نه درلود چې دغه یرغل به اسـانه کار وي. د بهاولپور نواب خپله ژوره اندېښـنه ځرګنده کړې وه. دغه اندېښـنه د نوموړي دربارپانو هم انګرېزي مامورینو ته ښـودلې وه. یو له دغه مامورینو څخه چې نواب خان ته د خبرو اترو له پاره تللی و چې انګرېزي لښـکر ته د نوموړي له واکمنۍ لاندې سـیمې څخه د تېرېدو اجازه واخلي، داسې لیکلي:

دوی په دغه هېواد باندې د یرغل په ســتونزو او د ســختو لارو او غاښـیو په اړه زموږ د بې خبرۍ په هکله خبرې وکړې. دوی وویل، داسـې ښـکاري چې دغه یرغل انګرېزي دولت اسـانه ګڼلی، خو په ډېر وهم یې له یرغل سـره د غیر معمولي او سـختو سـتونزو د تړاو یادونه وکړه. د شـاه شـجاع په هکله یې هم ښـه نظر نه درلود. د دوسـت محمد خان په هکله عمومي نظر دا و چې هغه به هېڅ کله د چا غوښتنو او شرطونو ته تر هغه وخته تابع نه شي تر څو چې ټولو یوازې نه وي پرېښی او ټولې دروازې یې پر مخ نه وي تړل شوې.[128]

برنز د جولای په شلمه په شېمله کې د لوی والي کارځای ته د مشورې له پاره وغوښتل شو. هغه ته تر مخې وویل شول چې اکلنډ سـربداله نه کړي او د هغه د اند د بدلولو هڅه ونه کړي. مسـون په دې هکله وایي: «کله چې برنز شـېملې ته ورسـېد، ټورنز او کالوېن په منډه ورغلل او په زارېو یې ترې غوښـتنه وکړه چې داسې څه ونه وایي چې د لوی والي ذهن مغشـوش کړي ځکه چې دوی په ډېر زحمت دغه کار ته راضـي کړی او حتی اوس هم په یوه پلمه پسـې ګرځي چې یرغل فســخ کړي.»[129] اکلـنـډ تـر اګـســـت پـورې د پلانـونـو تـر منـځ زنـګـېـده او بـېلابـېلـې لارې چـارې یې څـېړلې. خو کرار کرار د پلان ټولې برخې په بشـــپړېدو وې. د لوی والي لـه انـدېښـــنو او اړنګونو ســـره ســـره، مېکناټن او نورو جنګپالانو په دغه اداره کې په چټکۍ د یرغل پلان پر مخ وړلو.[130] هره ورځ به د یرغل کچه او په یرغل کې د انګرېزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونډه ورو ورو ډېرېدله. په پای کې پر ۲۰۰۰۰ انګرېزي عسـکرو پرېکړه وشـوه چې په یرغل کې به برخه اخلي: دا په دوه لسـیزو کې د کمپنۍ تر ټولو لوی پوځي عملیات وو او څلوېښـت کاله مخکې د ټیپو سـلطان له ماتې راهېسې لمړنی لویه شخړه وه.

د سپټمبر په لسمه د سفر برۍ امر ورکړل شو: لارډ اکلنډ په رسمي ډول له خپل سرقوماندان څخه غوښتنه وکړه چې د یرغل له پاره یو لښـکر غونډ کړي. په ټول هند کې ویدې پوځي اډې په خوځېدو شـوې. په لنډر Landour کې کپټان وېلیم ډني William Dannie په خپل یادښـت کتاب کې داسې لیکلي: «مورږ د یو خورا مهم او برخلیک ټاکونکي څیز په مورګه کې یو. دوی وایي چې مورږ به د روسـانو او یا پارسـیانو پر ضـد جګړه وکړو.»[۱۳۱] برنز په همدغه ورځ ولېږل شـو چې د سـند له لارې لښـکر ته د تګ لاره برابره کړي. نوموړي هالنډ ته ولیکل: «شـل زره عسـکرو ته امر ورکړل شـو چې هغه څه تر لاسـه کړي چې په یوه کلیمه لاسـته راوړل کېدای شـوای او په میلیونو روپۍ به هم په هغه څه خاورې شي چې ما یې د کړنې له پاره یوازې دوه لکه غوښـتې وې.»[۱۳۲] خو برنز خپه نه و: هغه ته په یو پاکټ کې اعزاز لیک راغی چې سېر الکساندر برنز پرې لیکل شوي وو. ده لمړی فکر وکړ چې تېروتنه شوې. کله یې چې پاکټ خلاص کړ، پوه شو چې د نایټهوډ Knighthood اعزازي لقب ورکړل شـوی دی. که برنز خپل ماموریت ناکامه ګڼلو او که مېکناټن ته د دغه پوځي عملیاتو سـیاسـي څوکۍ ورکړل شـوه چې برنز یې هیله کوله، خو مشـرانو یې د ده قدرداني وکړه ځکه  چې ده په خپله خوښـه په ښـکاره د داسې پالیسـۍ ملاتړ وکړ چې د هغه د خوښـې او مېلمه پال واکمن پر ضـد وه او ده یې تل مخالفت کولو او بل دا چې مخکې له دې چې د ملي شورا د کلني راپورنو په شنه کتاب* The Blue Book کې چاپ شي، نوموړی له کابل څخه د خپلو هغه اسـتونو په اړه چوپ پاتې شـو چې په داسې ډول به تحریف شـوې وې چې په هغوی کې به یې د شـاه شـجاع د بیا پرتخت کښېنولو په اړه د نوموړي همېشـنی ملاتړ څرګندولو. برنز د څو میاشـتو په بهیر کې له ډېرې نهیلۍ څخه د سـتومانۍ سـره سـره، چوپ پاتې شـوی و، اوس د دغه چوپتیا له پاره انعام ورکړل شـو او ستوری یې لا په ختو و.

اکلنډ د اکتوبر په لمړۍ نېټه یوه اعلامیه چې د شـېملې اعلامیه یادېږي خپره کړه. په دغه اعلامیه کې نوموړي په رسـمي توګه د جګړې اعلان وکړ او څرګنده یې کړه چې برتانیه به شـاه شـجاع په زور پر افغان تخت کښـېنوي. ایملي خپل تره/ ماما، پخواني لوی والي لارډ مېنټو ته چې الفنسـټون یې لمړی افغانسـتان ته لېږلی و، ولیکل: «په طبیعت ارامه خوارکي جورج جګړه پیل کړه. دغه کړنه د هغه له کرکټر سره نېغه په ټکر کې ده.»[۱۳۳]

د اکلنډ اعلامیه تر لېږ او ډېرې کچې سـوچه پروپاګند وه- د څارګریزو مالوماتو په لوی لاس یو ښـکاره تحریف - او سمدلاسه هندي رسنیو دغه اعلامیې ته «د حقایقو تر ټولو غیرعادلانه تحریف» نوم ورکړ. په دې اړه یو هندي ملکي مامور یادونه کړې وه چې په اعلامیه کې له «عدالت»، «اړتیا» او «پولې» کلیمو څخه کار اخیسـتل شـوی و او  د شـاهي برتانېې مستعمرو ته د «امنیت» او «ملي دفاع» خبرې په داسې بڼه لیکل شوې وې چې له نېکه مرغه په انګرېزي ژبه کې یې ببلګې نه وې.

*له ملي شورا څخه د جګړې د منظورۍ د ترلاسه کولو په موخه د برنز د استونو له تحریفولو وروسته یوه لویه رسوایي جوړه شوه. دا د هغه وخت یوه «بې اعتباره او انحرافي دوسیه» وه . نور مالومات دلته لوستی شئ:

pp. 229-259، no. 3، vol. XV،G. R . Alder.' The Garbled Blue Book of 1839' Historical Journal

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکلنډ په اعلامیه کې دوست محمد پر دغه کړنو تورن کړی و: «دوست محمد په ناښنده پلمو ټینګار کوي او په ښکاره د خپل واک د پراختیا او خپلو هیلو د تر سره کولو داسې نقشې جوړوي چې د هند پوله ییزو سیمو د امنیت له پاره زیانمنې دي» او د دغه نقشــو د پلې کولو په بهیر کې «ده په وضـــاحت ګواښ وکړ... چې په خپل توان به له هر بهرني هېواد څخه مرســـته وغواړي» او نوموړي «پرته له کومې پارونې زموږ پر تل پاتې متحد، مهاراجا رنجیت ســـېنګ برید وکړ». دوست محمد بې پر دې هم تورن کړ چې «په ښکاره د پارسیانو د پلانونو ... ملاتړ کوي څو د دوی د نفوذ سیمه د اباسـین تر غاړې او حتی وړاندې وغځوي». اکلنډ ادعا کړې وه چې د دغه جګړې موخه «زموږ په شـمال لوېدیځ پولو باندې د یرغل پر وړاندې د تل پاتې خنډونو جوړول دي». دغه ټولې ادعاوې بې اړنګه دروغ او د حقایقو پر تحریف ولاړې وې، خو اوس د اکلنډ له پاره ډېر نا وخته و چې خپل دریځ بدل کړي حتی که هغه غوښـــتي هم وای ځکه چې تر نوموړي جګړه پاله خلک چاپېر وو او اوس پېښو په خپل خوځښت کې قوت اخیستی و.
د اعلامیې په دوام کې لیکل شـــوي وو چې د شــــاه شــجاع نومیالتوب «ټولو د نظر خاوندانو عالیقدر لارډ اکلنډ ته په قوت تایید کړی» نو برتانیه به د کابل مشروع حاکم سره مرسته وکړي چې له خپلو عسکرو سره بېرته افغانستان ته لاړ شي. دا خبره هم له حقیقت څخه لیرې وه. وروسته له دېرش کاله اسوده ژوند څخه، څه کم شپېته کلن شاه اوس په خپله څلورمه هڅه غوښـــتل خپل تخت بیا ترلاســـه کړي، خو دا ځل نوموړی د برتانوي هندي پوځ په ســـر کې د برتانیې د کټو له پاره ستون شو او انګرېزي مامورینو به له نږدې څارلو.
دا په هېڅ وجه هېواد ته داســې بېرته تګ نه و چې نوموړي یې په لســـېزو خوبونه لیدل، خو په دغه عمر کې یې شــــاه شــجاع پروا نه لرله. د شـــاه شــجاع او د هغه د درباریانو په اند، پر یو خپلواک هېواد د انګرېزانو دغه یرغل غیر ضروري، نا حقه، پرته له کومې پارونې او غیرعادلانه نه و بلکې دا د یو پاچا بېرته راتګ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ۴

# د دوزخ خوله

د خپل تخت د بېرته نيولو له پاره د شـــاه شـــجاع څلورمه هڅه چې انګرېزي تاريخ پوهان يې د افغان-انګليس د لمړۍ جګړې پيل بولي، داسې په ګډوډۍ او بې نظمۍ پيل شوه لکه د هغه مخکنۍ هڅې.

د يرغل پلان په اصــولو کې ســم و. لمړی به د پنجاب په فېروزپور کې د مخه ښـې تشـريفاتي غونډه جوړېږي چې د درې ګوني ائتلاف لاسـليکوونکي به يې ګډونوال وي. بيا به لکه پنځه کاله مخکې چې شـاه شـجاع يرغل وکړ، پر افغانسـتان به له دوو خواوو بريد وشي. يو لښـکر به د شـاه شـجاع د زوی، وليعهد شـهزاده تيمور تر مشـرۍ لاندې او د ډګروال وېډ او رنجيت سېنګ د پنجابي مسلماني فرقې په مرسته شمال ته د پېښور او خيبر د درې له لارې د جلال اباد په لور خوځېږي. د لمړني لښکر په پرتله به دويم لښکر ډېر لوی او تش په نامه د شاه شجاع تر مشرۍ لاندې وي. مېکناټن به يې څارنه کوي او د کمپنۍ د بنګال او بمبيي پوځونه به ورسره مرسته کوي. لکه څنګه چې رنجيت سېنګ انګرېزي پوځ منع کړی و چې د نوموړي تر واکمنۍ لاندې خاورې له لارې د ســوېل په لور مارش وکړي، دويم لښـــکر به د ســـوېلي پنجاب په خوا کې مارش کوي او مخکې له دې چې غزني ته ورسـېږي، د بولان د درې له لارې به له کندهار څخه ښـکته پر سـوېلي افغانسـتان يرغل کوي. وروسـته به دواړه لښکرې په کابل کې يو ځای شي چې شاه شجاع بېرته په بالاحصار کې پر تخت کښـېنوي. په عين وخت کې به په افغانسـتان کې د شـاه شـجاع لېوال متحدين د هغه په ګټه پاڅون وکړي او د واک «غاصب» دوست محمد به وشړي. وېډ، اکلنډ ته ډاډ ورکړی و چې: «مخکې له دې چې شاه شجاع افغانستان ته ننوځي، نږدې هر مخور مشر به هغه ته خپله وفاداري څرګنده کړي.»[1]

خو له پيل څخه نږدې هر څه له پلان سره سم مخته لاړ نه شـول. د شـېملې په اعلاميه کې په صراحت ليکل شـوي وو چې شـاه شجاع به له «خپلو عسـکرو سـره» افغانسـتان ته ننوځي. سـتونزه دا وه چې شـاه شـجاع په دغه وخت کې هېڅ عسـکر نه لرل پرته د ګوتو په شـمار له څو هغو درباري معيوبو چوپړيالانو څخه چې د بدن يو يا بل غړی يې يا غوږ او يا ژبانمن شـوی و؛ نو لمړی بايد شـاه شـجاع ته له نويو جلبيانو څخه يو پوځ جوړ شـوی وای. د ۱۸۳۸ کال د اوړي په اوږدو کې لوديانې ته جلبيان رارسېدل. له دوی څخه يې ځينې د روهېلايي نسب هندي افغانان وو چې نيکونو يې د ګنګا ژورې ته په اتلســـمه پېړۍ کې هجرت کړی و، خو د جلبيانو لويه برخه ســـيمه ييزو هندوانو ... او د کمپنۍ د پوځي اډو ملکي کارکوونکو جوړوله. دغه جلبيان دومره خام، ځبن، او بې نظمه وو چې پرېکړه وشـــوه په فېروزپور کې د جګړې د پيل په پرتمينه نمانځغونډه کې د دوی پرېټ مناسـب نه و.[2] لکه څنګه چې يو برتانوي افسـر په يوه ليک کې ليکلي، بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزه دا وه چې دغه په ښکاره یو«خیال دی چې «شاه به له خپلو عسکرو سره یو ځای افغانستان ته ننوځي» حال دا چې د دغه حقیقت پټول ناشوني دي چې له دوی سره حتی یو رعیت او یا افغان هم نه شته.»[۳]

نو شاه شجاع د اګسټ په پای کې له خپلې پوځي ډلګۍ سره یو ځای په کراره د فېروزپور له لارې شکارپور ته روان شو چې هلته خپلې ډلې ته چټکه پوځي روزنه پیل کړي، خو دومره وخت تېر نه و چې دغه ډله له خپلې اصلي موخې څخه واوښته او لړکانه* Larkana یې لوټ کړه.[۴] دغه کړنې په سند کې د هغه تاوتریخوالي او نارواوو یاد بیا ژوندی کړ چې د شجاع په وروستۍ هڅه کې د نوموړي پوځ د اباسین په اوږدو کې جوړې کړې وې او د سند د امیرانو ګروهنه یې د پخوا په پرتله لږ کړه چې له هغه سره مرسته وکړي. وضعیت هغه وخت لا ډېر پېچلی شو چې د بمبيي لمړني عسکر د اوبو له لارې کراچۍ ته نږدې شول. په دې وخت کې سندیانو د سمندرغاړې له څراغ برج څخه د سلامۍ له پاره د توپ یو ډز وکړ، خو د بمبيي عسکرو خیال وکړ چې پر دوی باندی برید پیل شو؛ نو په ځوابي ډزو یې د هغه سندیانو د اوبغاړې اصلي کلا له خاورو سره برابره کړه چې دوی خپل متحدین ګڼل.

دا یوازینۍ ستونزه نه وه. له بده مرغه د شاه شجاع سر ته د بخت ویښېدنې لاره موندلې وه؛ نو نوموړي چې ښه مزاج یې د اوږد مهاله بدمرغۍ دوړو وهلی و، په لږ وخت کې یې له برتانوي افسرانو سره خپلې اړیکې خرابې کړې. دوی یې په خپل خانتما او حاکمانه چلند له ځان څخه لیرې کړل او له دوی څخه یې غوښتل چې د هغه په شتون کې باید ولاړ پاتې شي.[۵] همدا راز نوموړي خپلو انګرېزي پالونکو ته هغه وخت ټکان ورکړ چې خپل راتلونکی ټول رعیت، افغانان یې د سپیو یوه ډله وبلل.[۶] په غوسه شوي مېکناټن په دې هکله وویل: «موږ باید هڅه وکړو چې کرار کرار د شاه اند د خپل رعیت په اړه نرم کړو.» ها خوا، شهزاده تیمور لا تر اوسه له لودیانې څخه حرکت نه و کړی. پلار یې له شکارپوره وېډ ته په لودیانه کې د خپلو لیکونو د لړۍ په یو ځاځمن لیک کې ولیکل: «دغه شهزاده دومره بېړا دی چې تر اوسه له لودیانې څخه حتی یو انچ هم نه دی خوځېدلی.»[۷]

نو د اکلنډ د جګړې له پاره د مخه ښې تشریفاتي غونډه د هغه چا او یا د هغه د کورنۍ په نه شتون کې ترسره شوه د چا په نوم چې لښکرې لېږل کېدې. د سدوزیو پر ځای د ایډنز کورنۍ له شېملې څخه د پشکال په موسم کې حرکت وکړ. ایملي د خپل همالیایي استوګنځي په پرېښودلو هېڅ خوشحاله نه وه. وروسته له ستنېدو څخه کله چې هوارو ته ورسېده، هغې سمدلاسه ولیکل: «ناشونې ده چې په کمپ کې د یوې مردارې باراني ورځې ربړې بیان کړم.»

> چوپړیالان لانده خیشته او په بدحال دي. د دوی د پخلي دېګونه له مخکني کمپ څخه را ونه رسېدل. کېږدۍ مو له هرې خوا څڅېږي، چېرته چې چاک دی، هلته سېلاب دی... اوښان ښکته ښویږي او مري، بګۍ په سیند کې بندېږي. هوساینه هېڅ نه شته! د هرې کېږدۍ شاوخوا وړې ویالې بهېږي او سړی هر وخت په ختو کې ښویږي... زه له چترۍ لاندې له خپلې کېږدۍ څخه د جورج کېږدۍ ته ځم. موږ په ډولۍ کې د ډوډۍ کېږدۍ ته له یوې خوا ورل کېږو او له بلې خوا ډوډۍ په ډولۍ کې د ډوډۍ کېږدۍ ته راوړل کېږي.[۸]

په لاره کې، دوی په لودیانه کې ودرېدل چې له شهزاده تیمور سره چې تر اوسه پېښور ته نه و ستون شوی لیدنه وکړي. فني لیکلي: «موږ د جګړن وېډ په هستوګنځي کې لویه ماښامنۍ وکړه او ټول ښار په ځایي بڼه د کوچنیو څراغونو په کتارونو روښانه کړل شوی و. د شجاع زوی ته هم بلنه ورکړل شوې وه. هغه نه پیل او نه شاهي تخت درلود؛ نو د

---

* د راتلونکې بوټو کورنۍ ټاټوبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستلو له پاره یې زما پیل ورولېږل شو.»[۹] په عین وخت کې مېکناټن د تګ په اړدوړ کې خپل قابونه، کاشوغې او پنجې ورکې کړې وې. دا په ټولنیزو ادابو مین مېکناټن ته د سرخوږۍ لویه وجه وه. فني بیا لیکلي: «له دې کبله دلته په کمپ کې سخته وېره خپره ده. که هلته مېکناټن په دې اړه ناکراره او وارخطا وي؛ نو شاه شجاع چې په ګوتو ډوډۍ خوري، د هغه په هکله به څه فکر کوي.»[۱۰]

د پشکال په موسم کې د لوی والي دغه لوند یون په ټول شمالي او لوېدیځ هند کې د یو لوی لښکرکوټ یوه برخه و. پوځي فرقې د بمبیي په باران کې د اوبغاړې په لور روانې وې چې له هغه ځای څخه په کښتیو کې د توپاني سمندر له لارې کراچۍ، ټهټه Thatta او د اباسین په خوله کې نورو اوبغاړو ته ورسول شي. له ډهلي مورې څخه ښکته په پوځي اډو کې نوي ازموینښتي روزل شوي ګرځنده پوځي واحدونه چې په اوښانو بار د هاوان او د کانګرېو Congreve راکټونو ګرځنده سیستمونه یې اداره کول د سرتمبه اوښانو د ملونې کولو په جنجال کې وو. په هنسي Hansi کې ډګروال جېمز سکېنر هڅه کوله چې احتیاطي قوه د هاریانا Haryana له سېلاب وهلو څړځایونو څخه راوغواړي او خدمتي ساتونکو د پوځیانو د اوسپنې زنګ وهلې خولۍ او زغرې پالش کولې. په داسې حال کې چې په میروت Meerut او رورکي Roorkee کې اډې په ختو کې پټې وې، سپاهیانو خپلې سفربرۍ چمتو او د ګرنډ ټرنک Grand Trank په لاره د کرنال Karnal او فېروز پور په لور روان وو او د دوی باران وهلې او په ختو ککړې ښځې او معشوقې په خوړګه• کې ورپسې روانې وې.

وېلیم ناټ د پشکال په ختو کې د یوې روانې فرقې مشري کوله. دی یو سپین ګویه د وېلش په پوله کې د یو بزګر زوی و چې څلوېښت کاله مخکې هند ته تللی و. نوموړی چې تازه له کرنرون Caernarvon څخه راغلی و په تدریج یې ځان د کمپنۍ تر ټولو لوړې جنرالي رتبې ته ورسولو. دی له خپلو سپاهیانو سره - تکړه زړور عسکر چې په ده ګران وو - له ډهلي اډې څخه کرنال ته ستون شو چېرته چې لنډه موده مخکې یې خپله ګرانه د شلو کالو ښځه، لټېشیه Letitia خښه کړې وه. هغه لیکلي: «لاره پر خزانې، عسکرو، ټوپکو، د ګرځنده وسلو په بګیو او مهماتو پټه وه. سړیو او اسونو باید د زغم په ګاللو د بګیو او د جګړې د اکمالاتو په منځ کې خپله کږه وږه لاره ایستلې وای.» که څوانو پوځیانو هیله درلوده چې جګړه به دوی ته عظمت، ترفیع او لوټماري ور په برخه کړي، خو د ناټ یوازینۍ هیله د تېرو وختونو هېرونه وه. نوموړي د هغه ورځې په شپه چې کرنال ته ورسېد، خپلو لورانو ته ولیکل: «د تېرو وختونو او پر ما باندې د ګرانو خلکو په یادونو مې بده ورځ تېره کړه.» وروسته یې بیا لیکلي وو: «عجیبه ده، د جګړې په هکله سوچ مې پام غلط کړ او لږ ارامتیا یې راکړه.» خو په جګړې سخت خواشینی و او د پاڼې په حاشیه کې یې لیکلي: «څه وخت به یو انسان د بل تباهي بس کړي؟»[۱۱] نوموړی هغه وخت لږ ارامه شو کله یې چې بلاخره تورن جنرالي ته ترفیع وکړه. که یې د قدرت خاوندانو ته سپینې خبرې نه کولای هغه ته باید دغه ترفیع ډېر د مخه ورکړل شوې وای. هغه داسې سړی نه و چې د هر راز محسوس سپکاوي پر وړاندې چوپ پاتې شي. دا یې اوس هم ځانته

• خوړګه: پسته ځمکه چې تګ په کې سخت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکاوی گڼلو چې په هند کې د برتانوي پوځ نوي اعلی سرقوماندان ته لمړيتوب او ترجيح ورکړل شوه. که څه هم دغسې خلک چې بډای وو او د کمپنۍ د نورو افسرانو په پرتله يې ډېرې اړيکې درلودې، هندوستاني خبرې يې نه شوای کولای او په هند کې يې د جګړې تجربه نه درلوده. ناټ داسې اوازې اورېدلي وې چې اعلی سرقوماندان، سېر جان کين Sir John Kaene د کمپنۍ څو سپاهي فرقې د جنرالانو له کنټرول څخه اخلي؛ نو نوموړي بيا د دغه موضوع په اړه ناندريو ته ځان چمتو کولو. هغه خپلو لورانو ته وليکل: «په حقيقت کې اعلی سرقوماندان د ملکې جنرال دی او زه د کمپنۍ جنرال يم. زه کلک باور لرم چې د ملکې يو داسې جنرال که هر څومره استعداد هم ولري، د کمپنۍ د پوځ د قوماندې له پاره وړتيا نه لري.»

دغه پوځ چې د «اباسين پوځ» باعظمته نوم ورکړل شوی و، کله چې د نومبر په پيل کې د فېروزپور په هوارو کې راغونډ کړل شو، د باران درېدنه د هر چا د خوښۍ وجه وګرځېده. رنجيت سېنګ ۶۰۰ باغوانان کمپ ته ورولېږل چې پرته له مخکني پلان څخه د افسرانو د کېږديو شاوخوا ته د ګلاب ګلونه کښېنوي چې د کمپ فضا ژوندۍ او خوشحاله کړي، خو اوس د راغونډ کړل شوي پوځ مخې ته يو لوی خنډ پيدا شو چې د اکلنډ د شرم وجه هم وګرځېد. د يرغل له پاره د ټولو تياريو په منځ کې داسې خبرونه راورسېدل چې د انګرېزي سمندري پوځ له خوا د خارګ ټاپو له اشغالولو سره پارسيانو د خطر احساس وکړ او په ناڅاپه توګه يې د هرات کلابندي پرېښوده او مشهد ته يې شاتګ وکړ. لږ وخت وروسته د دې پخلی هم وشو چې په سن پيټرزبورګ کې کونټ نسلروډ د برتانيې د بهرنيو چارو وزيرلارډ پامرسټن، ديپلوماتيکي فشار ته غاړه کېښوده. کونټ سيمونيچ چې په افغانستان او پارس کې پر انګرېزانو د برلاسۍ په موخه د ديپلوماتيکي کمپاين طراح و، د دغه غاړې اېښودنې قرباني شو او په پارس کې د روسيې د سفير له دندې ګوښه کړل شو ځکه چې نوموړي له ورکړل شوو هداياتو څخه زياتی کړی و.* ويتکېويچ چې په کندهار کې د روسانو او بارکزيو د ائتلاف په ټينګښت او د دوست محمد ميرني ورونو ته د انګرېزانو د ممکنه يرغل پر وړاندې د پوځي مرستو په ژمنو بوخت و، هم له کندهار څخه سن پيټرزبورګ ته وروغوښتل شو.

اوس مهال د اکلنډ د جګړې لمړنۍ دواړه پلمې له منځه لاړې. روسان او پارسيان دواړه بېرته شاته شول؛ نو که د برتانوي هند له پاره کوم وخت ګواښ شتون درلود، اوس له منځه لاړ. اوس تر ټولو ښه وخت و چې له دوست محمد سره خبرې اترې بيا پيل کړل شوې وای او په دې وسيله به پرته له کوم ډز څخه د جګړې ټولې موخې ترلاسه شوې وای. او بل دا چې په شمالي هند که لا تراوسه سخته قحطي وه او په لس ګونو زره او حتی ډېره شونې وه چې په سلګونو زره خلک له لوږې مړه شوي وي - په دې اړه رسمي احصايې نه شته - دغه وضعيت په لويه کچه د انګرېزانو هغه هڅونې نور هم خراب کړ چې د غلې پر ځای دې کوکنار وکرل شي. د دې شونتيا هم وه چې اکلنډ به د کوکنارو د ځمکو پر سر چې يو وخت د غلې لوی حاصلات ترې اخيستل کېدل، د تيري دويمه نامشروع جګړه په يوه بله جبهه کې - دا ځل له چين سره - پيل کړي چې د کمپنۍ د ترياکو ګټوره سوداګري خوندي وساتي. له بلې خوا په افغانستان کې د شاه

---

*لږ تر لږه دا هغه څه دي چې نېسلروډ، پامرسټن ته ويلي وو. په حقيقت کې دا څرګنده وه چې سيمونيچ چمتو و چې بېرته د خپل ښايسته شهزادګۍ اوربلياي او د دوی لسو ماشومانو سره په تفلس کې يو ځای شي. په ايران کې د مخکني روسي استازي ګريبايدوف Griboyedov له وژل کېدو را په دېخوا، په تهران کې د استازي مېرمن او ماشومان خوندي نه ګڼل کېدل لکه اوس چې د امريکا او برتانيا د سفارت د کارکوونکو کورنۍ خوندي نه ګڼل کېږي. ګرجستان ته د سيمونيچ له تګ څخه وروسته د نوموړي ځای ناستي دوهمل Duhamel سيمونيچ ته ورته ديپلوماتيکي لاره تعقيب کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجاع د هرکلي په اړه هم ابهام شتون درلود او دغه پوښتنې ته چې انګرېزان به نوموړی په کابل کې پر تخت وساتلی شي، لا تراوسه ځواب نه و، خو په ډېره حیرانتیا، داسې نه برېښېدل چې په فېروزپور کې به چا له دوست محمد سره د خبرو اترو د بیا پیلولو په اړه یوه شېبه هم سوچ کړی وي او پر ځای یې، اوس چې په افغانستان کې د قزاقي او یا پارسي امپراتورۍ له پوځ سره د انګرېزي پوځ د مخامخ کېدو خطر له منځه تللی و، اعلان وشو چې د اباسین له پوځ څخه به څو فرقې کمې شي او یو کوچنی ځواک به د جګړې له پاره ولېږل شي. اکلنډ په کلکه یوه اعلامیه خپره کړه چې اوسنی پلان به په بشپړ قوت ترسره کوي. هغه ټینګار کړی و چې «د دغې تګلارې د عملي کولو په مشروعیت کې هېڅ مناسب اړنګ نه شته. زموږ خوندیتوب دا غوښتنه کوي چې موږ د افغانستان له قانوني واکمن سره د خپل تخت په بیا ترلاسه کولو کې مرسته وکړو.» شاه شجاع به درې ګوني ترون ته په درناوي سره، د خپلو «نیکونو پر تخت» بیا کښېنول شي.

بلاخره د نومبر په ۲۷ د سېکانو او انګرېزانو پوځونه د فېروزپور په هوارو کې سره راغونډ شول. د لارډ اکلنډ خودغرضه پوځي سکرتر وېلیم اسبورن د دغه غونډې کچې ته حیران پاتې شو. هغه یادونه کړې: «لارډ اکلنډ له هندي ځواک سره په بشپړ عظمت راښکاره شو. که څه هم د برتانیې د لوی والي په یونیفورم کې یې برم او پرتم د سېک د سردارانو ګاڼو او زغرو پیکه کړی و، خو د لوی والي خورا لوی مل پلاوي او د ۱۵۰۰۰ کسیز پوځ بدرګې یې د پنجاب د سلطان سره انډول برابرولو.»[12] ایملي هم په غیر معمولي ډول دغه ننداري ته حیرانه وه: «زموږ تر شا د پیلانو د سرخلاصې تیاتر په ډول زموږ خپله لویه صحنه وه. دوی ته مخامخ د رنجیت سېنګ په زرګونو ملاتړي په ژېړو او سرو ساټن جامو کې ولاړ وو او په همدغه کچه اسونه چې زرین او سپین زر رنګه جالوغونه یې لرل، له دوی سره ولاړ وو او ټول په ګاڼو کې ځلېدل. ما هېڅ کله دغسې یوه صحنه نه وه لیدلې. درې یا څلور دغسې سېکان به داسې ښکاره شي لکه له استلي Astley سرکس څخه چې څه شی خوشي شي، خو د دوی دغسې لویه کچه د احساساتي ډرامو له ورته والي څخه د دوی عظمت سپموي.»[13] خو نورو کسانو ته یې دومره خوند نه و ورکړی. د افغان جګړې راتلونکی تاریخ پوه سېر جان کې Sir John Kaye چې په هغه مهال د توپچي ځوان افسر و، د لارډ اکلنډ او رنجیت سېنګ لمړنی لیدنه یې یوه له «بیان څخه وتلې د سربدالې او ګډوډۍ صحنه» یاده کړې. په رښتیا، د جار وهونکو پیلانو د دوو لیکو د ټکر په ترځ کې او ورپسې هغه ګڼه ګوڼې چې په دواړو مشرانو پسې یې د دربار کېږدۍ ته د تګ هڅه کوله لوی ګړبړ جوړ کړ. سېک پوځیان شکمن شول چې انګرېزانو د دوی د ګران مشر پر ضد کومه توطیه جوړه کړې او غواړي له منځه یې یوسي؛ نو دوی [اورلګیتونه راوایستل او خپلې وسلې یې ډزو ته تیارې کړې او] خپلو وسلو ته یې د بې باورۍ او ځاځ په ګډه فضا کې لاس کړ.[14] لارډ اکلنډ چې دغې لویې ګڼې ګوڼې احساساتي کړی و د رنجیت سېنګ د ښه راغلاست وینا ته یې له پرتم څخه ډک ځواب ورکړ او ویې ویل: «دغه دوه متحد پوځونه به نړۍ فتح کړي». فني خپلې خور ته په انګلنډ کې ولیکل: «زما په ګمان ته به یې په لیدو سخته حیرانه شې چې دوی دواړه لاس په لاس مارش وکړي او ماټکوم Motcombe ونیسي.»[15]

د دغه شپې په مېلمستیا کې فني د رنجیت سېنګ څنګ ته ناسته وه. نوموړې ته رنجیت سېنګ په زړه پورې ښکاره شو او د هغه په اړه یې ناټ وپارېد. رنجیت سېنګ په سپینه پای جامه او کرتۍ کې مېلمستیا ته لاړ. یوازې یوې ګاڼې (کوه نور) یې پر مټ ځلا کوله. که دې ته پام وشي چې هغه کوه نور څرنګه ترلاسه کړی و، نو ښایې په داسې موقع کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ښکاره کول ناښنده وو. ده د ماښامنۍ ډېر وخت پر فني تېر کړ چې د خپل کورني شرابو څښلو ته يې رضا کړي. فني وروسته ليکلي: «هغه څه ته چې ده واين ويل، د سره اور په څېر او د برندي په پرتله ډېر ترخه وو.»

لمړی دی خوښ و چې جورج او سېر ويليم کاټن Sir W Cotton د ده شراب څښي. بيا يې ما ته ټينګار پيل کړ چې زه يې شراب چې زرينه پياله ترې ډکه وه وڅښم. يو څه وخت مې ځان ښه ترې خلاص کړی و. ما به داسې وښودل چې شراب مې وڅښل، خو ډکه پياله به مې بېرته ساقي ته ورکړه. وروسته شکمن شو، پياله يې راواخيسته، خپلې يوې سترګې ته يې پورته کړه، په ځير يې په کې وکتل او سر يې وخوځولو او بيا يې پياله بېرته ما ته راکړه. وروسته يې پياله راواخيسته او يوه ګوته يې په کې کړه چې پوه شي ما څومره وڅښل. ما له جګړن وېډ څخه وغوښتل چې ورته ووايي چې په انګلنډ کې ښځې دومره ډېر شراب نه څښي. رنجيت تر هغه وخته صبر وکړ تر څو چې جورج مخ بلې خواته واړولو، بيا يې تر خپل مړوند لاندې ما ته بله پياله راکړه. هغه فکر کولو چې جورج دومره ظالم دی چې ما له شراب څښلو څخه منع کوي.[١٦]

په عين وخت کې جورج هڅه کوله چې د رنجيت د دوامداره پوښـتنو له ځواب څخه ځان تېر کړي. هغه پوښـتل چې جورج ولې حتی يوه ښځه هم نه لري. ايملي ليکلي: «جورج په ځواب کې ورته ويل چې په انګلنډ کې يوازې د يوې ښځې درلودل اجازه شته او که چېرې هغه ښځه بده وخېژي، بيا نو ځان ترې خلاصول ډېر سخت کار دی. رنجيت وويل چې دا ډېر بد دود دی. سېکان د ۲۵ ښځو اجازه لري او دوی د بدی جرات نه شي کولای ځکه که دوی بدې شي، هغه به يې ووهي. جورج ځواب ورکړ چې دا خو تر ټولو ښــه دود دی او کله چې انګلنډ ته لاړ، هڅه به وکړي چې هلته هم دغسې دود خپور کړي.»
سبا ته سېکانو د خپلو پوځي روزنو يوه ننداره جوړه کړه. دوی خپل متحدين په خپل ښه دسپلين اغېزمن کړل او په ځانګړې توګه يې وښودل چې دوی د توپچي نښو په ويشتلو کې څومره وړتيا لري. وروسته د انګرېزانو وار راغی. جان کې ليکلي: «انګرېزي قوماندان خپله پوره وړتيا پر يو خيالي دښــمن باندې په يو يرغل کې وښــوده او همدا راز په همدغه وړتيا او پوره زړورتوب يې دښـمن ته ماته ورکړه. هغه بې اړنګه په هوارو کې ډېر ښــه وجنګېد او يوازې دا يې غوښــتل چې د ده مخ ته يو بل پوځ درېدلی وای چې ده ته يې يوه بشپړه او رښتيني بريا ور په برخه کړې وای.»[١٧]

له پوځي ننداړو، ويناوو او څو نورو مېلمستياوو څخه دوه ورځې وروسته، پوځ بلاخره د جګړې په لور روان شو. د پلې او سـپرو فرقو د کتارونو په سـر کې اسـوال نېزه لرونکي پوځيان وو چې تکې سـرې چپنې يې پر تن او ګردې او اوچتې خولۍ يې پر سـر وې چې بنکې پرې نبغې ټومبل شـوې وې. دوی د شـکارپور په لور، چېرته چې د بمبيې له پوځ او د شـاه شجاع له ډلې سره يو ځای کېدل مارش وکړ. سېکانو په عين وخت کې د شمال په لور لاهور ته حرکت وکړ.
د شاه شجاع له ۶۰۰۰ جيره خورو پوځيانو څخه پرته، د اباسين پوځ له شـاوخوا ۱۰۰۰ اروپايانو او د سـوېلي هند د کمپنۍ له ۱۴۰۰۰ سـپاهيانو څخه جوړ و او له دوی سـره لږ تر لږه ۳۸۰۰۰ په کمپ پورې تړلي ملکيان مل وو. د دغه کسـانو بکسـونو ته ۳۰۰۰۰ اوښـان ګمارل شـوي وو چې د همدغه موخې له پاره د بيکانېرBikaner جاسلمېرJaisslmir او د هاريانا په کلا Haryana Hisar کې د کمپنۍ د اوښانو له روزنتون څخه راټول شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ‌ډا د سپک تګ پلان نه درلود. یو جنرال د خپلو څېزونو د لېږد له پاره پنځوس اوښانو ته د اړتیا ادعا کړې وه. جنرال ناټ ۲۶۰ اوښان خپل ځانته بېل کړي وو او ۳۰۰ اوښان د واین ساتنخونو د لېږد له پاره بېل شوي وو. حتی د ټیټې رتبې افسرانو تر څلوېښتو چوپړیالان - له اشپز څخه نیولې تر جارو کښو او سقاو پورې له ځان سره اخیستي وو.[18] تورن جنرال ناټ خپل پوځي موقف ته پرته د چا له ملاتړ، اړیکو او یا پیســو څخه وده ورکړې وه او د ملکي د فرقې ځوانو افســرانو ته یې د ځاځ په ســترګه کتل. د نوموړي د خبرې پر بنســټ دغه پوځ مناســب جدیت نه پلی کولو. د ټیټې رتبې ډېری افسرانو پر جګړې داسې خیال کولو لکه دوی چې د ښکار ساتېري ته ستانه وو. یوې فرقې د ګېډر د ښکار سپي له ځان سره جبهې ته راوستلي وو. ناټ لیکلي: «که چېرې دوی د لږ بار لېږد ته اړ کړل شوي وای، ډېرو ځوانو افسرانو به د خپل عطر، وینډیســـر Windsor صـــابون، کولنیا او کالیو بکس پر ځای د خپلو تورو او دوه میله تومانچو پر پرېښودو فکر کړی وای. یوې فرقې پر دوو اوښانو تر ټولو ښه د منیلا Manila سیګار لېږدول او پر نورو اوښانو مربا، اچار، بې فلتره سګرټ، له هوا څخه عایق شوې غوښه، کوفته شوي پاخه کبان، قابونه، ګیلاسونه، د پخلي سامان، شمعې، دسترخوانونه او داسې نور بار وو.»[19]

نه یوازې دغه وضــعیت بلکې د اباســین پوځ د بېلابېلو ډلو تر منځ د اړیکو نه شــتون د جنګي قوې اغېزمنتیا ته ښــه علامه نه وه. اوس باید الکساندر برنز د سند له امیرانو سره خبرې اترې بشپړې او له دوی څخه یې اجازه ترلاسه کړې وای چې پوځ له ســیند څخه تېر شــي او د دوی تر واکمنۍ لاندې خاورې له لارې مخ ته لاړ شــي، خو حتی مخکې له دې چې د دوســت محمد پر ضــد جګړه پیل شي، د لړکانې لوټ او همدا راز پر کراچۍ برید د انګرېزانو او ســندیانو تر منځ نږدې یوه بله جګړه پیل کړې وه. سندیانو نه غوښتل چې انګرېزي پوځ د دوی د خاورې په منځ کې تېر شي - چې تر ډېرې کچې د پوهاوي وړ کړنه وه؛ نو دوی د اجازې په ورکولو کې ناغېړي کوله او وې نه منل چې د بمبیي عســکرو ته اوښــان او نور باروړونکي څاروي برابر کړي. دغه عسکر د اباسین په ملاریاجنې دلتا کې وچې ته شوي وو او هملته بند پاتې وو. وضــعیت مخکې له دې چې ښــه شــي ډېر خراب شــو. په راتلونکې اونۍ کې مېکناټن هڅه کوله چې بېرته پوځ ته ځان ورسوي. نوموړي تر لاهوره د سېک مشر ملتیا کړې وه چېرته چې ایملي او فني هم د رنجیت سېنګ له «یو شمېر غوره شــوو ښــځو» ســره لیدنه وکړه. په لاره کې مېکنــاټن یو ټکان ورکوونکی خبر واورېد. جنرال ســېر وېلبي کاټن Sir Willoughby Cotton پرته له دې چې امر ورته وشــي، د غونډېدو له ځای څخه چې مخکې پرې هوکړه شـــوې وه، له افغانســتان څخه لیرې د سـوېل په لور سـتون شـوی و او نږدې و چې پر سـندي پلازمېنې، حیدراباد یو غیرقانوني یرغل وکړي. مېکناټن له ناچارۍ شــېملې ته ولیکل: «بې اړنګه، کاټن لاره ورکه کړې ده. داســې برېښــي چې هغه په داســې تګ لوري روان دی چې هېڅ لاره نه لري. زه وېره لرم چې هغه به ژر چېرته په ځنګله کې ورک شي. که وضعیت داسې وي؛ نو زموږ د افغان عملیاتو برخلیک به څنګه وي؟» میرزا عطا چې ښــکاري د شــاه شــجاع له ډلې ســره مل و، په ســدوزي کمپ کې یې د یوې اوازې یادونه وکړه او هغه دا چې کاټن داسې لاره ورکه کړې چې یوازې یوه معجزه به یې بېرته لارې ته سم کړي. هغه لیکلي: «له پوځ څخه د بوټیو په ځنګله کې لاره ورکه شوې وه او ډېر وخت سربداله او وارخطا لالهانده ګرځېدل تر څو چې لکه خضر پیغمبر یو د سپیني ږیرې بوډا سړی پیدا شـو او دوی ته یې د سیند پر غاړه د کمپ لاره وښوده.»[20]

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېکناټن په ټهیلی کاټن ته د چټکو اوښـــانو په وســیله یو لړ پر له پســې لیکونه ولېږل او لـه هغـه ځخـه یې په ټینګه غوښـتنه کوله چې برید ونه کړي. دغه جنرال زړه نا زړه یوازې څو ساعته مخکې له پلان شـوي وخت څخه برید فسـخ کړ خو یوازې هغه وخت چې امیران په بشپړه ډول ورته تسلیم شـول. میرزا عطا په دې هکله داسې لیکلي: «دغه امیران د بداخلاقو او مخربو یوه ډلګۍ ده او هر وخت جګړې ته لېوال دي. کله چې دوی لکه د ســمندر پرله پســې څپې او یا لکه د جوړېدونکي توپان تورې وربځې د انګرېزي عســکرو پر له پســې څپې ولیدې چې د اوبو او وچې له لارې دوی ته نږدې کېږي، وډار شـول او د تسلیمۍ سرونه یې ټیټ کړل.»[۲۱] خو په دغه پېښـه کې عسکرو ته د جنرال مخ پاتې نه شـو ځکـه چې عســکرو یې د دغـه ښـــار د لوټولو هیلـه درلوده چې پـه غـالـب ګمـان ډېره شـــتمني پـه کې وه. د مېکناټن او د ده د یوه مهم جنرال بیا لیدنه له خوښـۍ ځخه ډېره لیرې شـېبه وه. مېکناټن، کالوېن ته شـکایت وکړ: «سېر وېلبي په ښکاره ما او اعلحضرت ته د بې واکه کسانو په سترګه ګوري. زما د هرې مشـورې پر وړاندې چې زه یې په هر څومره ارامۍ او درناوي ورکوم، له ښـــاخ• او لاســبرۍ څخه ډک چلند کوي. ما ته یې په وضـــاحت وویل چې زه هڅه کوم د پوځ قوماندې په خپل لاس کې واخلم او زیاته یې کړه چې هغه پرته له اعلی سرقوماندان سېر جان کې څخه بل امر نه پېژني او نه غواړي چې په کار کې یې څوک لاســوهنه وکړي. دا ټولې خبرې هغه وخت راپورته شـــوې چې ما د شـجاع او د ده د پوځ له پاره د ۱۰۰۰ اوښـانو غوښـتنه وکړه.»[۲۲] دغه غوښـتنه د بار وړنکو څارویو په اړه زیاتېدونکې ستونزې ته یوه اشاره وه. ستونزه هغه وخت نوره هم ډېره شوه کله چې د شاه شجاع نیمایي اوښان د یو ډول سندي زهري ګیاه چې پېروتې ته ورته یو ګل و د خوړلو له کبله مړه شـــول؛ نو لکه د پوځ هغه برخه چې د اباســین په توده او مرطوبه هوا کې بنده پاتې وه، شاه شجاع هم د څارویو د نشتوالي له امله چېرته نه شوای خوځېدی.

د شـجاع او مېکناټن تر منځ اړیکو هم ښـه پیل نه درلود. مېکناټن لیکلي: «په خواشـینۍ سـره غواړم ووایم چې هر ځل کله چې له هغه ســره کتنه کوم، دی په بې عقلۍ ما ته وایي چې د ده تر واکمنۍ لاندې خاوره به ډېره محدوده وي او په وار وار وایي چې په لودیانې کې یې پاتې کېدل ډېر غوره وو. که یې دا ځل په دې اړه خبره یاده کړه، زه به د سعدي شعر ور په یاد کړم: «که یو پاچا اووه ســیمې فتح کړي، بیا به هم د یوې بلې ســیمې فتحې ته لېوال وي.»» مېکناټن بیا زیاته کړې: «خو له بده مرغه، په راتلونکې کې به د شــاه شـجاع د خرڅ له پاره د میاشــتې ۵۰۰۰۰ روپۍ بســنه ونه کړي.»[۲۳]

د مېکناټن او برنز تر منځ هم د تل په څېر ترینګلتیا وه او بې اړنګه نوره هم هغه وخت ډېره شـــوه کله چې مېکناټن ته داسې څوکۍ ورکړل شـوه چې برنز غوښـتله او برنز ته هغه اعزازي لقب ورکړل شـو کوم چې خانتما مېکناټن یې لېوال و؛ نو مېکناټن به هر وخت له برنز ســـره چې د ده په اند له وړتیا څخه یې لوړه رتبه درلوده، داســې چلند کولو چې په ظاهر کې مهربانه خو په باطن کې ســپکاوی برېښــېده په داسې حال کې چې برنز، مېکناټن ته د «بې تجربې» په ســترګه کتل او د ده په اند له «ځایي خلکو ســـره د چلند وړتیا نه لري. هغه د پلانونو په جوړولو او بیا یې په پرېښـــودلو کې خورا چټک دی.»[۲۴]

نو له دې کبله د یرغل له پلان شـوي پیل څخه پوره درې میاشـتې وروسـته، دغه ناراضـه او بې اتفاقه پوځ بلاخره په شـــکارپور کې د ۱۸۳۹ کال د فبرورۍ په پای کې غونډ شـــو. یوازېنۍ خلک چې له اباســین پوځ څخه اغېزمن شـــوي وو،

---

• ښاخ: غرور

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان وو، خو دوی د پوځ له دسپلین، همغږۍ او مخکني پلان د نه شتون او یا د قوماندانانو تر منځ له شخړو خبر نه وو. افغانانو یوازې د انګرېزي پوځ د لویې کچې او ستر ځواک په هکله مبالغوي کیسې اورېدلې وې چې د دوی په لور روان وو. په کندهار کې د دوست محمد میرني بارکزي ورونو په ځانګړې توګه د زیانمنېدونکو احساس کولو: دوی به د بولان له لارې لکه په ۱۸۳۴ کال کې پر افغانستان د یرغل لمړنۍ نښه وي او اوس چې ویتکېویچ شاته شو او د روسیې پوځي ژمنې فسخه شوې، دوی ښه پوهېدل چې د مېرنه، ښه روزل شوي او ښه سمبال شوي ښکېلاکي پوځ پر وړاندې پوره چمتوالی نه لري. کلونه وروسته، د هېواد حماسي شاعرانو د هغه اوازو یادونه کړې چې لوی انګرېزي یرغلګر لښکر د دوی د غرونو او درو په لور روان وو:

په تاکل شوې ورځ، په تاکل شوي ساعت
ښه سمبال او د لوی شمېر پوځ د کابل په لور روان شو
کله چې دغه لویه ډله له هغه سیمې په خوځېدو شوه
ځمکه له خپل بنسټ څخه په لړزېدو شوه
د شاه ملتیا یې د سند له لارې کوله
یو لک او پنځوس زره یو یو غوره شوي عسکر وو
په بله لاره تیمور، وېډ او ډاکټر لارډ
له پنځه زره نورو عسکرو سره را روان وو
دوه ځاځمن سیندونه، له دوو لورو
له لودیانې څخه د کابل په لور په بهېدو وو
د هرې سیمې او هر ولایت حاکمان
شاه ته داسې تابع وو لکه موم چې د مهر د ګوتې له پاره وي
اسونه په ترپاري د سند غرونو ته ورسېدل
او د هند دښتو ته ننوتل
خولې او دروند باره اوښان
د غرونو په لاره لکه سیلاب روان وو
توپونه او پیلان یو ځای په مارش وو
لکه غرونه له خپل ځای څخه د نیل سیند د قوت په څېر روان وو.[۲۵]

کله چې په شکارپور کې کمپ او ساتنځی جوړ شو، د نورو اوښانو د نه شتون له کبله د جګړې اکمالات، مهمات او خوراکي توکي په چټکه راغونډتل شوو جالو کې په اباسین کې ښکته ولېږدول شول. د پلې قوې یو ځوان افسر، تامس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیټن Thomas Seaton چې د جالو د یو اکمالاتي کاروان قومانده یې په غاړه وه، وېلي: «د جالو تل هوار او ډېر ژور و. شــاتنۍ برخې یې د مخې په پرتله ســوروړې وې او پاســنۍ څوکې یې له اوبو څخه شــاوخوا څلور متره اوچتې وې. د دغه عجیبه کاروان شاوخوا ټولې پنځوس جالې یو ډول وې. په هره جاله کې یوه د پوزي دوه کوټه یېزه کوډخه جوړه وه. دغه کاروان په ســیند کې داسې ښکارېده لکه یو بهانده کلی.»[۲۶] د فبرورۍ په پای کې ټول مهمات شکارپور ته ورسېدل او د بمبۍ وروستي عسکر هم راغلل.

اوس یوازې یو پله ته اړتیا وه. ســیند له ۹۰۰ مترو څخه ډېر ســورور و او اوبه یې داســې چټکې بهېدې لکه د ژرندې د ویالې. په پیل کې انجنیرانو یوازې اته کښتۍ لرلې او دوی ته څېرمه، پرته له یو کوچني کلي بل څه نه وو... ارکېدي جېمز براډفوټ Orcadian James Brodfoot چې د پل د جوړولو مشري کوله، وېلي:

لمړی مو په ډېر زیار ۱۲۰ کښــتۍ قبضــه کړې. بیا مو ډېرې ونې ووهلې او دســتک مو ترې جوړ کړل. رسۍ نه وې، خو موږ له یو ډول عجیبه وښــو څخه چې له دغه ځای څخه په سل میله لیرې سیمه کې شــنه کېږي، پنځه ســوه کېبل جوړ کړل. وړې ونې مو له یو بل سره وتړلې او پنځه سوه کیلو ګرامه تیږې مو په کې واچولې چې د لنګرونو کار ترې واخلو. سـمدلاسـه مو په همدغه ځای کې مېخونه جوړ کړل. وروســته مو په ســیند کې کښــتۍ په یوه لیکه داســې لنګر کړې چې د هرې یوې تر منځ دوولس فوټه واټن و. بیا مو قوي دستک په کښـتیو او د کښـتیو ترمنځ کېښـودل او د دستکو پر سـر مو تختې مېخ کړې؛ نو په یوولس ورځو کې مو پل بشـپړ کړ. تر اوسه هېڅ کله دومره لوی پوځي پل نه و جوړ شوی. اوس په خپله فکر وکړئ چې موږ به په یوولس ورځو کې څومره خواري کړې وي[۲۷]

یرغلګر لښـکر بالاخره له اباسـین څخه د فبرورۍ په وروسـتۍ ورځ تېر شـو. مېرزا عطا د پل په جوړولو سخت اغېزمن شـوی و: «د انګرېزي پوځ حیرانوونکې تخنیکي وړتیا ته به سـقراط او اپلاتون شـرمېدلي وای. په یقین سـره هر څوک چې دغه پل ووینې، هک پک به شي.»[۲۸] خو د انګرېزي وړتیا کچه په راتلونکو ورځو کې ښـه واضح شـوه. وروسـته له دې چې له اباسـین څخه تېر شـول او د شـکارپور او بولان د درې تر منځ یوسـل او پنځوس میله خاره او مالګینه سـیمې ته ننوتل، مېکناټن او د هغه جنرالانو ته جوته شـوه چې دوی په رښـتیا څه شی په غاړه اخیسـتي: داسې یو کمپاین چې د دوی له خپلې خاورې څخه ډېر لیرې ترسـره کېدو او د خورا لږ او کمزورو اړیکو سـره په ناوړه، وچ او بې نقشـې ځای کې چې له هرې خوا بې باوره او بې ګروهنې متحدین ترې تاو وو.

د ځنډ له کبله اوړی رانږدې کېده او دښـــته په چټکۍ په تودېدو وه؛ نو په دغه بیدیا کې به دوی د شـــپې مزل کولو. مخکې له ټاکل شـــوي تګ لوري څخه، د اوبو او نورو اکمالاتو د نیمګړې ســـروې له کبله هېڅوک نه پوهېدل چې څومره خوراکي توکو او اوبو ته اړتیا وه او نه هم چا داسې ګرمۍ ته تابیا درلوده. سیټن ته له پیل څخه هر څه له زغم څخه وتلي ښکاره شـول. له شکارپوره له ستنېدو څخه یې دوه ورځې وروروسته لیکلي: «موږ به مزل په لمرلوېدو کې پیل کړ. وروروسته له دې چې موږ دښـتې ته ننوتو، سـمدلاسـه باد پیل شـو. لمړی نرم و، خو وروسـته تود او تېز شـو. د پوډر په څېر دوړې په هر څه کې ننوتلې او په داسې حال کې چې ګرمي له ځمکې څخه لا تر اوسـه اوچتېده، د نه زغملو تنده یې رامنځ کړه.» هغه زیاتوي:

په دغه مارش کې ســپاهیانو درووند بار درلود. هر ســپاهي یو درووند ټوپک، شــپېته مرمۍ، جامې، د اړتیا وړ توکو څخه ډکه چانته، د اوبو پتک او نور ضروري څېزونه ځان سره لېږدول. د دوی د کتان تنګ یونیفورم له دغسې درانده بار سره د دوی رېړه نوره هم زیاته کړې وه. په دغسې وضعیت کې د هر یو حالت د زړه سواندۍ وړ و او هره دقیقه یې ځورېدنه ډېرېده. په پتکو کې یې اوبه په خلاصېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې. د شپې په نیمایي کې سخت سټړي شول. وروسته یې په زګېروي پیل وکړ. بیا چیغې پیل شوې، «اوبه - اوبه!» د دوی ډېری نیمه اله ګوپي کوله... یو سـپاهي په داسې بد وضـعیت کې و چې ما کله خبرې ورسـره وکړې، ځواب یې نه شـو راکولای. په خوله کې یې ژبې ګرنجاری کولو او د ده ټول مخ له ډېرې ربړې څخه کوږ شوی و.

یوازې د سپاهیانو دغسې ربړن وضعیت نه و:

د لښـکر خوارکي ملکیان چې درانده بارونه ورسـره وو او ځینو یې خپل ماشـومان هم لېږدول، لا په ډېر بد حالت کې وو. د کوچنیو ماشـومانو چیغې زړه دردوونکې وې. تکړه خلک چې درنو بارونو سـخت سـټړي کړي وو په ځمکه خواره پراته وو، زګېروي یې کول او خپل ټټر یې وهل... په کمپ کې له یوه ځایي افسـر سـره خپله یوازېنۍ کوچنۍ لور وه. مور یې مړه شـوې وه. هغه یوه ښـایسـته، خوش خویه او شـوخه شـپېږ کلنه نجلۍ وه او په هر چا ډېره ګرانه وه. ما به هر کله لیدله، له پلار سـره به یې ما مجلسـونه کول، د اور په بلولو او ډوډۍ پخولو کې به مې مرسته ورسره کوله او په عین وخت کې د دغه ښایسته کوچنۍ نجلۍ خبرو او چلند ډېره خوښي رابښله. ما نوموړې په لسـو بجو جوړه روغه ولیده، خو په دریو بجو مړه پرته وه او د ښـخولو له پاره یې تیاروله... [کله چې دوی په لمرخاته کې کمپ ته ورسېدل]، له هغه دوه دېرشـو ځاه ګانو څخه چې په یوه تنګي کې کیندل شـوي وو، یوازې شپږو یې اوبه لرلې. په یو ځا کې چې یو ځاروی لوېدلی و، اوبه زهرجنې شوې وې. په نورو پاتې پنځو ځاه ګانو کې اوبه داسې ترخې او تروې وې چې سړیو وویل د دوی پټکونه [چې له ژېړو څخه جوړ وو] دغه اوبو تک تور کړل.[۲۹]

له بلې خوا د بلوڅ لوټمارانو بریدونه مخ په ډېرېدو وو. د نیمګړې دیپلوماسـۍ، د زورواکۍ او برلاسـۍ احسـاس او له سیمه ییزو مشرانو سره د نه همغږۍ له کبله، د سیمې قبیلو پر انګرېزي ژبانمنوونکو کتارونو باندې بریدونه مناسب ګڼل. په عمومي توګه، په عسـکرو باندی چا غرض ونه کړ، خو د کمپ بې دفاع ملکي خلک هره ورځ لوټ او وژل کېدل.

نوېل چمبرلېن Neville Chamberlain چې د اسـوالو ځواکونو یو ځوان افسـر و، د شـکارپوره له سـتنېدو څخه یوه اونۍ وروسـته د یوه ډنډ تر څنګ خپلې لمړنۍ مرګ ژوبلې ولیدې: «یوه ښـځه - خوارکۍ بنده - د اوبو پر څنډه پرته وه. د هغې تور اوږده وېښـته د اوبو څپو ښـکته پورته کول». سـتونی یې له یو غوږ څخه تر بل پورې غوڅ شـوی و. ورپسـې نورې مرګ ژوبلې هم پېښـې شـوې. «مړي په لاره کې پرېښـودل شـول او مخ په خوسـا کېدو وو. په هغه ربا کې چې سـپوږمۍ کوله، نه یوه ونه، نه یو بوټی او نه د وښـو یو تار لیدل کېده. سـر تر پایه رېګ و او په دغه دښـته کې یوه مرغۍ هم نه وه او حتی شـغال هم نه و- دا ځکه وایم چې موږ له اوښـانو سـره په ډېرو سـختو ځایونو کې مزل کړی او چېرته به چې شـغالان وو، اوښـان به یې خامخا پیدا کول. زموږ اوښـانو د خوراک له پاره څو ورځې هېڅ نه لرل او له هغوی څخه ۴۵ یوازې په یوه شپه کې له لوږې مړه شول. »[۳۰]

د مزل دغسې ګرمې او په سپوږمۍ ربا شپې وې چې عسکرو - د ډېرو له پاره په لمړي ځل - هغه کس ولید چې دوی یې له پاره خپل ژوند په خطر کې اچولی و. چمبرلېن لیکلي: «شاه شجاع یو زوړ سړی دی، شاوخوا شپېته کاله عمر لري. ږیره یې تر ټټر پورې رسـېږي او سـپینه ده، خو چې خپل ځان ځوان وښـیي، هغې ته تور رنګ ورکوي. نوموړی په یو ډول سرخلاصې ډولۍ کې ناست وي چې دوولس کسه یې لېږدوي او په اس سپاره، پلي، اوښان، اسونه او سل سپاهیان یې په چوپړ کې دي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



شــجاع ظاهراً د مارش ربړن وضـــعيت دومره بد نه ګڼلو، خو د نورو په څېر هغه هم د پلان د نه شـــتون، د بلوڅ شـوکمارانو د ډېرېدونکو ستونزو او د بار وړونکو اوښانو د مړينې په هکله اندېښـمن و. نوموړی په دې هم اندېښـمن و چې له خپل راتلونکي رعيت څخه يې د خپلې هغه غوښـتنې په اړه سـوړ ځواب ترلاسـه کړ چې د ده ملاتړ وکړي. له هغه ورځې څخه چې مېکناټن نوموړي ته واک ته د رسولو خبر ورکړ، په ټول قوت يې په خپله زړه واکمنۍ کې ببلابېلو قومي مشـرانو ته ليکونه واسـتول او «د خپلې کورنۍ د دود پر بنسـټ يې دوی ته بلنه ورکوله چې راپورته شي او ده ته بيعت وکړي او خپل پخواني حقوق او ځمکې د تل له پاره خوندي کړي»، خو د ده ليکونو ته ځواب يوه کنبوونکې چوپتيا وه. يوازې د غلزيو او خيبر يو شمېر مشـرانو په ځواب کې پيسې ترې وغوښتې.[۳۱]

د هغو مشـــرانو چوپتيا هم د اندېښــنې وړ وه چې ســيمو ته يې انګرېزان ور روان وو.- لکه د قلات محراب خان. پخوا محراب خان تر ډېرې کچې د شـاه شـجاع پلوی و او ده ته يې پنځه کاله وړاندې کله چې نوموړی په کندهار کې له ماتې څخه وروسـته په تېښـته و، پناه ورکړې وه، خو محراب خان په کلکه د انګرېزانو د لاسـپوڅي په توګه د شـاه شـجاع واک ته رسېدل نه خوښېدل.

کله چې برنز محراب خان ته ولېږل شـو چې د ده ملاتړ خپل کړي او له ده څخه د عسکرو له پاره ۱۰۰۰ پسـونه وپېري چې اوس د ځيرې نيمايي برخه ورکول کېده، محراب خان په صـداقت څرګنده کړه چې دی دغې پاليسـۍ ته د بې فکرۍ او بې پلانۍ په سـتـرګه ګوري او دغه پاليســي له ســتراتيژيکي اړخه په غلطه لاره روانه ده. برنز وېلي: «محراب خان په بشپړ صداقت د هغه څه په اړه وضاحت ورکړ چې موږ په ذمه اخيستي او ويې ويل چې دا خورا لويه مړۍ ده او تېرول يې اسانه کار نه دی.»

هغه وويل د دې پر ځای چې پر افغانانو ډېرې ولګوي، زموږ حکومت دوی څنګ ته ووهل او هېواد مو په بهرني عســکرو ډک کړ. که زموږ موخه دا وي چې په افغانسـتان کې ځان ته ځای پيدا کړو او شـاه شـجاع ته هسـې په نامه د کابل او کندهار واکمني ورکړو؛ نو موږ پر غلطه لاره روان يو. ټول افغانان له شـاه شـجاع څخه ناراضـه دي او د لښـکرو په تېرېدنه ټول محمديان څک او پارول شـوي دي. که چېرې د شاه شجاع خپلې غلطۍ ور په ګوته نه کړو موږ به په بد حالت کې ځان ومومو او د کابل مشر(دوست محمد) د توان او استعداد څښـتن دی. که څه هم موږ کولی شـو حتی په خپل اوسـني پلان، شاه شـجاع د هغه ځای ناستی کړو، خو موږ به هېڅ کله پر افغان ملت بريالي نه شـو.[۳۲]

دا يوه هوښـــياره مشـــوره وه. برنز ونه کړای شـــول چې د پوځ د اړتيا وړ څه وپېري او يا د محراب خان يوه کوچنۍ ذره ملاتړ خپل کړي. په داســې حال کې چې هغه د تګ له پاره چمتو کېده، د ده کوربه په خپل بصـيرت هغه ته وروســتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرداری ورکړ. هغه وویل: «تاسې دغه هېواد ته خپل پوځ د ننه کړ، خو په دې مو فکر کړی چې بېرته به یې څنګه وباسی؟*»[۳۳]

د دادور Dadur له مالګینو او سپینو ړندوونکو دلدلونو• څخه، د هوارې دښتې ځلانده تاوده خوپ• کرار کرار د غونډیو شېونده لمنو ته لاره وکړه او دې په خپل وار د سوېلي افغانستان د لویو غرونو په لیرې پرتو مورو کې سپینو زرینو کرښو ته لاره اېستلې وه چې د دوبي د توپان له دوړو جوړې شوې وې. سیمه او شاوخوا یې همدغسې سپېره وو. رنګ یې د اېرو په شان و او د مخکنیو سیمو په څېر وچه وه، خو پېچومي یې ورو ورو تر هغه وخته ستوغ او شېونده کېدل تر څو چې ناڅاپه د عسکرو مخې ته د بولان غاښې توره خلاصه خوله ښکاره شوه. د اویا میلو په اوږدو کې د څلورو لمریو غاښیو لاره دومره تنګه وه چې یوازې به یو اوښ په کې تېرېدی شوی. اوس چې اسونو په سختۍ په داسې لاره ګامونه اېښودل چې تیرې به لاندې ورخخه د وچ سیند تل ته غورځېدې، د قوماندانانو غلطیو د مرګ ژوبلې شمېر څو برابره کړ. د دوبي په هوا کې په ستغه لاره د ختلو له پاره د پلي ځواکونو ساه تنګوونکی د ژمي یونیفورم له کچې وتلی ګرم و او که څه هم جګو ګړنګونو سپاهیان د لمر له وړانګو څخه ساتل خو له کمرونو څخه د تودوخې انعکاس د دوی پر مخ داسې لګېدو لکه د تنور تاو. د کېږدۍ په دوېچنه هوا کې ترمامیتر د تودوخې درجه ۱۱۹ درجې ښوده (د سانتي ګرېټ ۴۸،۳۳ درجې. ژباړن).

سرکونه سم نه وو سروې شوي او نه هم پوځي انجنیرانو څه ښه والی په کې راوستی و؛ نو د توپونو لېږد نږدې ناشونی و. په لمریو کې به اته اسونه پر یو توپ پسې وتړل شول او د سپاهیانو څو لیکو به په رسۍ له اسونو سره یو ځای کش کول، خو کله چې لاره نوره هم ستغه او ډبرینه شوه، توپونه به پرزه پرزه شول او په لاس کې به لېږدول کېدل. جګړن ویلیم هو William Hough لیکلي: «نه یوازې هر توپ، بلکې هره کراچۍ، هره بګۍ او داسې نور پرزه پرزه شول او لاس په لاس به لېږدول کېدل. لاره دومره ستغه شوه چې ځینو نه غوښتل چې سپاره لاړ شي. یو څو اوښان چې ولوېدل، شاته یې نور کرار ودرېدل... د غاښې په سر کې [بلوڅانو] په پوره قوت زموږ پر بار برید وکړ. په ۴۹ اوښانو بار غله یې راڅخه یوړه. شاتنې عسکرو په لاره کې د کمپ د ملکیانو تولې مړي وموندل.»[۳۴]

---

*دا یوه مهمه جمله وګرځېده او حتی تر نن پورې په پراخه کچه په یاد پاتې ده. په ۲۰۰۳ کال کې ماته همدغه جمله جاوید پراچه تکرار کړه. دی یو تکړه وکیل دی چې په بریالیتوب یې د پېښور په ستره محکمه کې د القاعدې له شکمنو څخه دفاع وکړه. په کوهاټ کې چېرته چې ازادې قبایلي سیمې د پاکستان او افغانستان تر منځ د ډال کمربند جوړوي، نوموړي په خپل کلا ورته مضبوط کور کې تېې طالب جنګیالیو - او د دوی یخ وهلو ښځو او موشومانو ته چې په توره بوره کې د امریکا له ۱۵۰۰۰ پونډه Daisy Cutter بمونو څخه په غرونو کې تښتېدلي وو، پناه ورکړې وه او دوه ځله د دېرې اسمعیل خان په بدنامه زندان کې بندي شوی و. دی ادعا کوي چې د سي ای اې مستنطقینو شنکجه ورکړې. که څه هم د غربي وسلو له توان او وړتیا څخه له نږدې خبر و، په خپل تاریخ پوهېده او هېڅکله په دې باور نه و چې ناټو به د افغانستان په اشغال کې بریالی شي. وروسته له دې چې کرزی د جمهور رېس په توګه واک ته ورسول شو، زه ژر له ده سره د مرکې له پاره کوهاټ ته لاړم. د یو بل پوپلزي واک ته د رسولو د هڅو د ناکامۍ په اړه، ده همدغه د محراب خان خبره د ثبوت له پاره راته وکړه.

• دلدل: اوبجنه ځمکه

• خوپ: ګرد، غبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې له خوا به د اوښانو او په کمپ کې د ملکیانو د زګېروي او ځانکدن شورماشور و: ډېر سپاهیان به چپه شول. نرۍ، وچه او ګرمه هوا به یې زبېښله او اوبه به یې غوښتې، خو دوی ته به په خوب کې ویل کېدل چې اوبه نه شته. سربېره پر دې، سیټن لیکلي: «د مړو اوښانو تورېږم د زغملو نه و. زه نه شم کولای د ګرمۍ، دوړو، د دښتې باد او د مچانو د ګلې عذاب بیان کړم. د ټول کمپ داسې بوی لګېده لکه د مړستون. په هرو درې ګامو کې به یو سړی او یا یو څاروی مړ پروت و.»[۳۵]

د خوراکي توکو د کمښت له امله، ځینې له نیمایي څخه یو پرځلورمې برخې ته کمه کړل شوه. د کمپنۍ ملکیانو«په غوړو کې سره شوې د پسه څرمن، د څارویو ټینګې ختې شوې وینې او د بوټیو ریښې چه هلته موندل کېدې خوړلې».[۳۶] د اکاړ تاوتریخوالي ناځاپه پېښو په دوامداره توګه هر یو په وېره کې اچولی و. ویلیم هو د اپرېل په دریم په خپل یادښت کتاب کې لیکلي: «د توپچي ډلګۍ دوه مشرانو په داسې حال کې چې د پزې نصوار یې کول، په سرونو کې یې مرمۍ غار جوړ کړ او ورپسې ټوټې ټوټې کړل شول.»[۳۷] هغه اسونه چې له ډېرې کمزورۍ څخه نور د تګ نه وو په ګڼ شمېر وویشتل شول او له کبله یې ډېر بارونه وسوځول شول چې د بلوڅانو لاس ته ور نه شي.[۳۸] سپاهي سیتارام ویلي:

دا د دوزخ خوله وه. اوبه ترخې وې. هر څه، حتی د سوڼ لرګي باید په اوښانو لېږدول شوي وای. اوس بلوڅانو د شپې له خوا پر موږ بریدونه کول او د اوښانو اوږده کتارونه به یې له ځان سره وړل. د ګرمۍ له امله ډېر مړه شول. په یوه ورځ کې پنځه دېرش کسه د ګرمۍ قرباني شول. په دې وخت کې د کمپنۍ د پوځ سپاهیان نږدې ېرته هند ته تللي وو او په ډېرو فرقو کې د بلوا او پاڅون نښې لیدل کېدې، خو د شاه شجاع لوبي سخاوتمنې ژمنې له یوې خوا او له بلوڅانو څخه وېرې له بلې خوا چې شمېر یې ورځ تر بلې ډېرېده، پوځ خپل مارش ته دوام ورکړ. ډېر خلک د دغه قبیلې د خلکو له لاسه ووژل شول. هر وخت چه دوی ته فرصت برابرېده، په وژنه به یې لاس پورې کړ او لوی لوی کمرونه به یې له غره څخه لاندې راخوشې کړل.[۳۹]

میرزا عطا لیکلي چې د شاه شجاع ډلې ځان نېک بخته ګڼلو چې د بلوڅانو په غلچکي بریدونو کې د مرمیو له باران څخه ژوندي پاتې شول. کله به چې د دوی پر کتار ډزې پیل شوې، دوی به د کمرونو په چولو کې او د کمرونو شاته پټ شول. میرزا عطا زیاتوي:

پوځ د بولان غاښي تنګي ته ننوت. غاښی ډېرین او ډېر هسک او ټیټ و. د غرونو هسکې څوکې ترې چاپېر وې. پوځ په وېره څک څک کتل او د بلوڅي قبیلې غرني خلکو له پټو ځایونو څخه په ډزو او لوټ کې ځنډ نه کولو. په زرګونو د بار څاروي لکه اوښان، اسونه او پیلان له بار سره ورک شول. له غاښي څخه تېرېدنه بې کچې سخته وه. انګرېزانو دوه میاشتې وړاندې دوه توپونه او په زرګونو پر خرو بار باروت غاښي ته لېږلي وو چې لاره وساتي. توپونه یې جلا جلا په رسیو پورته کش کړي وو. نور اکمالات هم په همدغه توګه د ډېرو اوښانو، اسونو او غویو د مړینې په بیه ډېر په سختۍ ولېږدول شول. ګڼ شمېر عسکر له لوږې او تندې مړه او ډېر پوځي وسایل لوټ شول. دوی په دغه دوزخ ته ورته او بې اوبو تنګي کې درې ورځې او شپې تېرې کړې. خوراکي توکي دومره لږ وو چې نیم من اوړه حتی د سرو زرو په یوه روپۍ نه پیدا کېدل.[۴۰]

له غاښي څخه شجاع، وېړ ته ولیکل چې دی به «په مناسب وخت کې» د دغه سیمې د قبیلې سریو ته د «دوی د جنایتکاره چلند» له کبله جزا ورکړي. نوموړي خپله دا اندېښنه هم ورته لیکلې وه چې د واک غاصبین به د پوهانو او علماوو په وسیله خلک د ده پر ضد وپاروي او اړودوړ به جوړ کړي.[۴۱] د شجاع دغه اندېښنه د توجه وړ وه: له کافرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرنګیانو سره د ده تړاو د نوموړي تر ټولو زیانمنېدونکی ټکی و. مذهبي تعصب د ده د بارکزي رقیبانو په وسله تون کې تر ټولو غښتلې وسله وه.

له بولان څخه بر کوېټه پرته وه چې په هغه وخت کې یوازې یو خوار ۵۰۰ کوره کلی و. له دې څخه وروسته یو بل سخت غابنی، خوجک Khojak و چې د بولان په پرتله لنډ او لږ سټغ خو ډېر وچ و. میرزا عطا لیکلي: «دوی شپه په تنده کې تېره کړه. چېرته به چې اوبه ومومندل شوې، چټلې او خوسا به وې. مړه ځاروي به په کې پراته وو. چا به چې دغه اوبه وڅښلې، سمدلاسه به یې په ګېډه درد شو او د لمنې به شول. دوی د اوبو له نشتوالي څخه دومره وځورېدل چې دوه ورځې انسانان او ځاروي داسې لړزېدل لکه ولې.»[42] د کمپ ملکیانو سره ډوډۍ نږدې په بشپړه توګه خلاصه شوې وه. یو افسر په خپل راپور کې لیکلي: «داسې کسان ولیدل شول چې د مړو ځارویو په خوسا غوښه کې یې ګوتې خښې کړې وې او د ځارویو له خوشایو څخه یې د جوارو دانې راټولولې. ما یوه ورځ د لارې پر غاړه یو مړی ولید چې کله یې د مړه غویي وژې پر خوله شکولې، مړ شوی و.»[43] پوځ مخکې له دې چې یوازې له یو افغان سره جګړه وکړي، سخت زیانمن شوی و.

خو لږ وړاندې یې د ارامۍ سا وکښله. یرغلګر پوځ د خوجک په لیرې اړخ کې داسې څړځایونو ته ورسېد چېرته چې ځای ځای د ځېرۍ ونې هم ولاړې وې. کله کله به د کوچیانو د لمړو پسونو او بېرو نصواري وزو رمې ولیدل شوې چې په ونه جګو سرېو به پوولې. د دوی به سپینې لونګۍ پر سر او بانجاني جامې په تن وې . له دوی سره به د کوچیانو یو لوی سپی هم و. سیمه تر اوسه وچه وه او تود باد هم لګېده، خو چېرته به چې اوبه وې، هلته به د سپېدارو سوړ سیوری هم و چې له ځینو څخه به پېروتې تاو وې.*

اوس دغه پوځ د بلوڅانو د خاورې له نامالومې پولې څخه تېر شوی او د پښتنو خاورې ته ننوتی و. له غلچکي بلوڅي شوکمارانو څخه وروسته، د اڅکزي قوم د اړوند کسانو زړورتیا پر ناټ اغېزه وکړه. دوی په ډېر ویاړ د دغه خاورې د څښتن په توګه د انګرېزانو کمپ ته ګامونه واخیستل او خپل ممکنه راتلونکي ښکېلاکیان یې تر پوښتنو لاندې ونیول. ناټ خپلې لور ته لیکلي: «دوی یې اړنګه ډېر ښه ښکارېدل، سم لکه د ښاغلو په څېر.» کله چې یو افغان له ده څخه پوښتنه وکړه چې انګرېزان ولې راغلي، ناټ ځواب ورکړ چې شاه شجاع بېرته راغلی چې خپل مشروع میراث ترلاسه کړي او دوست محمد د تخت حق نه لري. افغان په ترخه بڼه په ځواب کې ورته وویل: «تاسې د بنارس او ډهلي څه حق لرئ؟ ولې، همدغسې دوست محمد د کابل حق لري او هغه به خپل حق خوندي وساتي.» له دغه خبرو څخه وروسته، ناټ د شاه شجاع د راتګ په اړه د خلکو د غبرګون په هکله ډېر اړنګ درلود: «زه د حکومت او نورو سره همغږی نه یم او زه په رښتیا باور لرم چې د افغانستان خلک به پرته له جګړې خپل هېواد له لاسه ورنه کړي. زه پوهېږم، څکه چې که زه د دوی پرځای وای، ما به هم همدغسې کړي وای.»[44]

نورو افسرانو یو بل سره دې ته ورته خبرې کولې. د تورن تامس ګیسفورډ Thomas Gaisford له یو هندي چوپړیال

---

*اوس دغه سیمه چې د کندهار سوبل ته د غرونو له لمنې، سپین بولدک څخه غځېدلې، دومره وچه ده چې نږدې په یوه دښته بدله شوې. هلته د پسرلي څړځایونه او د ځېرۍ ونې یوازې د غره په ارغاړو کې محدودې دي، خو لکه نوم یې، چمن چې اوس د افغانستان او پاکستان تر منځ پوله ده، د اباسین د پوځیانو څرګندونې دغه سیمه ښه بیانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه يو پښتون وپوښتل: «تاسې په رښتيا دغه پرنګيانو ته صاحب وايئ؟»[۴۵] هغه دغه پوښتنه په داسې بڼه وکړه لکه د ده په اند «د يو کافر سـپي» يادونه به دوی ته يوه مناسـبه کليمه وه. يو تکړه افسـر، جورج لارنس چې لږ مخکې مېکناټن ورته د خپل سکرتر ترفيع ورکړې وه، ليکلي: «په ښـو جامو پټ او پر اس سـپور يو افغان زموږ مخې ته راغی. هغه چې زموږ کمپ او زموږ عسـکر وليدل، ما ته يې په ډېر سـپکاي وويل: «تاسـې د کېږديو او د اوښـانو پوځ ياسـت. زموږ پوځ له اسونو او سرېو څخه جوړ دی.» هغه زياته کړه: «تاسې څه شي هڅولي ياست! چې زموږ غونډې يو داسې ډېرين او بې وزله هېواد ته چې اوبه او داسـې نور څه نه لري، په خپل راتګ سـره په کروړونو روپۍ ضـايع کوئ چې د پاچا په توګه يو بدبخته سړی پر موږ وتپئ؟ داسې يو پاچا چې څنګه ستاسې ورته شا شوه، زموږ خپل پاچا، دوست محمد به يې بېرته را وپرځوي.»»[۴۶] د وخت په تېرېدو سـره به د دغه افغان وړاندوينه بيخي سـمه وخېژي او کله چې پـاڅـون پـيـل کـېـږي، د هـمـدغـه افـغـان د سـيـمې اڅـکـزي بـه د پـاڅـون پـه سـر کې وي.

افغانانو پر ناټ بانـدې اغېز وکړ، خو هغـه لـه خپلو همکارانو څخـه دومره خوښ نـه و. پـه دغـه مهال اعلی سـر قوماندان سېر جان کې کمپ ته رارسـېدلی و او د ناټ پر ځای، چې مشـر او د تجربې خاوند و، د «ملکي افسـر» جنرال وېلشـر Willshire ته يې د ټولې کمپنۍ د بمبيي د پلي سـپاهيانو قومانده په لاس ورکړه. که څه هم ده له پخوا څخه انګېرل چې دې ته ورته څه به پېښ شـي، خو اوس دغه کړنې په دې وځورولو چې د ده د نسـب له وجې او د انګرېزي منظم پوځ په پرتله د کمپنۍ د فرقې د پرسـتيژ د نه شـتون له مخې هغه له پامه وغورځول شـو؛ نو نوموړی سـخت ځاځمن و. دی سمدلاسه له اعلی سرقوماندان سره د خبرو له پاره د هغه کېږدۍ ته لاړ. دغه مرکه ډېره لنډه او ډېره بده پای ته ورسېده.

ناټ وويل: «زه پوهېږم چې له دې امله قرباني شـوم چې زه تصادفاً د ملکي د افسرانو په پرتله جګپوړی يم.»

جان کين په ځواب کې وويل: «بې خونده نظر! ته زما صلاحيت او پرېکړې ته په ټيټه سترګه ګورې. زه چې تر څو ژوندی يم، تا به په دغه چلند هېڅ کله ونه بښم.» ناټ ځواب ورکړ: «عالي جنابه، چې داسې ده؛ نو تا ته ښه شپه غواړم.»[۴۷]

دغه شخړه ناټ ته ډېره ګرانبيه تمامه شوه. که څه هم د اباسين په پوځ کې هغه تر ټولو وړ، نومور او د اوږدې تجربې جنرال و، له دې څخه وروسـته يې له خپلو مشـرانو سـره د تند مزاجی نوم پيدا کړ او اوس اکلنډ او جان کين دواړه په دې باور وو چې نوموړی د ډېرې سـتونزغاړۍ او بې ديپلوماتيکۍ له امله د بشـپړې قوماندانۍ له پاره وړ کس نه و. دغه اند د يو شـمېر خورا بدو ګمارنو سـبب شـو په کومو کې چې ناټ په وار وار د لږ وړ کسـانو په ګټه له پامه وغورځول شو او لږ وخت وروسته يې د اشغال له پاره ډېرې مرګونې پايلې درلودې.

د اباسـين پوځ اوس خپلې لمرنۍ جدي ننګونې ته چې د کندهار نيول وو نږدې کېده. داسـې ګنګوسـې وې چې د بارکزيو اسـواله ځواک په نږدې سـيمو کې له پوځ څخه راتاو شـوې او بريد ته چمتو دی. يوه شـپه د يو غلط راپور له مخې چې بريد پېښېدونکی دی، عسکر په کېږديو کې له خوب څخه ويښ کړل شول او پوځ په بېړه دفاعي ليکې جوړې کړې. دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لمر ختو پورې ګوته په ماشـــه ویښ پاتې شـــول. په ســـیمه کې په مرموزه توګه د مېکناټن د دوه پیلانو ورکېدل او همدارنګه د شـپې له خوا د هغه ویالې د اوبو بل لور ته اړول چې کمپ ته یې اوبه ورکولې، داسې شـک رامنځته کړ چې یوه پټه دښمنه قوا دلته شته او د یرغل له پاره ښه فرصت ته تم ده.

د پوځ له پاره دا ډېر ښـــه وشـــول چې افغانانو په خپل بشـپړ قوت پر دوی یرغل ونه کړ ځکه چې په غاښـیو کې اوږده مزل، پوځ څه نا څه له سېکه ایستلی و. تامس ګیسفورډ لیکلي: «موږ په دغه مهال کې هېڅ د جګړې وړتیا نه لرله. هر سړي د بیا سېک اخیستنې له پاره دمې ته اړتیا درلوده او اسونه هم نور د تګ نه وو. د کمپ ملکیان له لوږې سره مخ وو او په اکمالاتو کې هم نږدې څه نه وو پاتې. موږ په رښتیا د یو لښکر د برید پر وړاندې ناتوانه او عاجز وو.»[۴۸]

د اپرېل په شـلمه د سـهار شـاوخوا لس بجې وې چې د اباسـین پوځ خپله رښـتینې لمړنۍ لاسـته راوړنه ومونده. د برنز د ښارګرې ښانګې مشر، موهن لال کشـمیري کېږدۍ ته یو ځړی راغی او ویې ویل چې د دوسـت محمد یو مخور اشـرافي له کمپ څخه لږ وړاندې له ۲۰۰ ملاتړو سره ولاړ دی او غواړي چې شاه شجاع ته بیعت وکړي.[۴۹] بلاخره د شاه شجاع له لېږلو لیکونو څخه یوه یې پایله وزېږوله.[۵۰] موهن لال د دغه اشـرافي د بدرګې له پاره ولېږل شـو چې د شـاه کېږدۍ ته یې بدرګه کړي.

حاجي خان کاکړ حتی په نولسمه پېړۍ کې د افغاني سیاست د معیار پر بنسټ، یوه ښویه، ځانپاله او بې اصوله څېره و. د هغه نیکونو د پخوا راهیسې په سیمه کې د واک په وېشلو او پاچا جوړولو کې رول لوبولی و. نوموړی چې د دوست محمد په چوپړ کې لمړی د بامیانو والي وګمارل شـو او وروسـته د دوسـت محمد د ځانګړې اسـوالۍ قوې د قوماندان دنده ورکړل شوې وه، دوه ځله یې دوست محمد یوازې پرېښی و، په وروستي ځل په ۱۹۳۷ کال د جمرود په جګړه کې، خو ده به تل خپله د قطعي پره ښـــه لوبوله. هغه وتوانېد چې د لوري بدلولو له پاره ځان ته مناســب وخت وټاکي او د پرله پسې خیانت په وسـیله په واک او ارزښـت کې اوچت مقام ترلاسـه کړي. مولانا حمید کشـمیري په اکبر نامه کې نوموړی «پردی، خاین او د درغلۍ اسـتاد» بللی چې «زهر به یې له شـکرې سـره ګډول» او په غوړه مالۍ او درغلۍ به یې خپلې سیانه موخې ترلاسـه کولې. اوس په داسې مهم پړاو کې پر انګرېزي پوځ باندې د یرغل په پلمه نوموړي له فرصت څخه په کار اخیسـتنې له خپلو ملاتړو سـره یوځای خپل پلو په دې هیله بدل کړ چې له شـتمنو او سـاده انګرېزانو څخه ګټه ترلاســه کړي او د شـجاع د لیکلي وړاندیز پر بنسـټ په حکومت کې لوړه څوکۍ خپله کړي. په دغه پړاو کې نوموړي د اوښتنې بهیر پیل کړ او د کندهار د دفاعیانو نیمګړی مورال یې مات کړ.

د یرغلګر پوځ د لوږې او وران وضــعیت څخه ناخبره کندهاري اشــرافیان په راتلونکو څلورو ورځو کې په ډېرېدونکې شـمېر شـاه شـجاع ته واوښـتل او راتلونکي پاچا ته یې خپله وفاداري بېرته څرګنده کړه. د شـجاع له پاره دا یوه داسې معجزه وه چې ده یې نږدې هېڅ هیله نه درلوده. د دوســت محمد دوه میرني ورونو پرته له دې چې په نهیلۍ د ډېرېدونکو اوښتنو ننداره وکړي، بل څه نه شوی کولای:

په سربدالۍ کې لکه لېوني پیلان
دوی بې کچې ځاځ سخت په عذاب کړي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دوه ځاځمنو زمریانو یوازې دا غوښتل
چې د غځ او دښمنۍ تورې له تېکیو• راوباسي
خو دوی ملګري نه لرل او پوځ یې کوچنی و
وروسته د حاجي کاکړ له خیانت څخه
دوی د کلا د کلوپې دروازې شاته ناست وو
د دغه بخت له چپه کېدو څخه یې زړونه مات وو
کله چې دوی په خپلو لیکو کې بېلتون ولید
په خاصه توګه د شاه په پوپلزي قبیله کې
نو دوی بله لار و نه مونده
پرته له دې چې بل هېواد ته لاړ شي
په شپه کې یې خپلوان او عزیزان ټول کړل
او د ایران په لور روان شول۵۱
په عین وخت کې د شیطان حاجي په لیدو د شاه شجاع زړه خوښ و
او د دښمن له وېرې څخه یې ځان خلاص ولید
هغه پر کرغېړن حاجي د شتمنیو باران جوړ کړ
او داسې برېښېدل چې هغه یې د سرو زرو په تېړو ویشته

پنځه ورځې وروسته د ۱۸۳۹ کال د اپرېل په ۲۵مه کله چې شاه شجاع په اس سپور د غنمو او وربشو په پټیو او همدارنګه د کندهار په څنډو کې له باغونو او باغچو څخه په بریا تېرېده، حاجي خان یې کیڼې خوا ته روان و. په لاره کې د نوموړي مخې ته د ښار بېلابېل پلاوي راغلي وو چې ده ته ښه راغلاست ووایي. برنز لیکلي: «خوارکیو، د ده شاوخوا ته ګڼه ګونه جوړه کړې وه، ګلان یې ورکول او د شاه په لاره یې شیندل. هر سړي، جګ او ټیټ، هڅه کوله چې څنګه خپل اخلاص او خوښي د سدوزیو بیا واک ته په رسېدو وښيي.»۵۲ شاه شجاع چې د خپلو نږدې ملاتړو یوې وړې ډلې بدرګه کولو او شا ته یې مېکناټن او برنز روان وو، پرته له ساتندویانو د کندهار په واټونو کې روان او له خلاصو دروازو څخه تېرېده. کندهار هغه ښار و چې یوازې پنځه کاله مخکې یې په بریالیتوب د ده پر ضد مقاومت کړی و.

لرغونی کندهار د شاه شجاع نیکه، احمد شاه ابدالي بیا رغولی و. هغه نوی ښار وروسته له دې اباد کړ چې زوړ ښار په ۱۷۳۸ کال کې نادرشاه وسوځولو او ویجاړ یې کړ. نوموړي خپل قبر په یوه ظریفه مقبره کې خوښ کړی و چې د همدغه ښار په زړه کې له مغولي ودانیو څخه په الهام جوړه شوې ده. شجاع تر هر څه لمړی د همدغه مقبرې بڼ ته لاړ، خپلې د سپړلۍ موزې یې له پښو وایستلې او یوازې د ګومبزې کوټې ته ننوت. وروسته له دې چې هلته یې لمونځ وکړ او له خپل نیکه څخه یې د برکت دعا وغوښته، څېرمه ودانۍ ته لاړ، هغه ودانۍ ته چې ابدالي د افغانستان تر ټولو

•تېکی: د تورې پوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلي توکي ته جوړه کړې وه - د وړیو خرقه چې ویل کېږي د پیغمبر محمد وه. شجاع په دواړو لاسونو راواخیسته او په داسې حال کې چې اوښکې یې تر سترګو روانې وې، په خپل تټر کې یې ونیوه او غېږ یې ترې چاپېره کړه. درې کاله مخکې دوست محمد دلته راغلی و چې د سېکانو پر ضد جهاد اعلان کړي او د امیرالمومنین لقب ترلاسه کړي. یوسل او پنځوس کاله وروسته په ۱۹۹۶ کال کې ملا عمر هم دغه ځای ته راغی چې پښتانه علما همدغه لقب ورکړي او هغه همدلته ځان د محمد په خرقه کې راونغښت چې مذهبي صلاحیت ورکړل شي څو د افغانستان خلک د طالبانو تر واکمنۍ لاندې راولي. اوس شاه شجاع په همدغه جامه کې ځان ونغښت چې د خپل ورور، پلار او نیکه خانداني تخت ته د پاچا په توګه خپل بېرته راتګ ته مشروعیت ورکړي. دی څه باندې دېرش کاله مخکې کله چې د نیملې په جګړه کې ماته ورکړل شوه دغه تخت له لاسه ورکړی و، خو هېڅ کله نهیلی نه شو که څه هم څلور هڅې یې وکړې چې د پاچاهۍ تخت بېرته ترلاسه کړي. اوس خپل هېواد ته بېرته راغلی و او د خپل اوږدمهاله بارکزي دښمنانو د ماتې په مورګه کې و.

تامس ګیسفورډ یوه اونۍ وروسته په یوه لیک کې داسې لیکلي وو:

دا ډېر خوشحالوونکی ځای دی. منظرې ډېرې عاشقانه دي. هوا ښه ده او مېوه په څرنګوالي کې دومره ښه، پرېمانه او ارزانه ده چې ته به یې تصور هم ونه شې کړی. تر ټولو ښه شفتالو، چې ګرد نېه نیم تر لس نیم انچه اندازه لري، په شپږ پولۍ penny پېرودل کېږي، ګلابي منې په نېم پولۍ. وچ شفتالو، خوبانی، ممیز، الو او توت پرېمانه دي. یخ شربت، کباب، ډوډۍ، پتاسې او نور په زړه پورې خواړه په هر ګوټ کې بیخي ارزانه پلورل کېږي. یوه ورځ لښکر ته هېڅ کله د مرښت له پاره داسې ځای نه و لکه دغه ځای چې دی، خو څه نه وو چې موږ دغه ځای ته د راتګ له پاره ونه زغمل! کندهار ته زموږ دوه درې سوه میله مزل کېدای شي پرته له مسکو څخه د فرانسویانو له شاتګ سره، له بل هېڅ شي سره پرتله نه شي.[۵۳]

له ډېرو ستونزو سره سره، د اباسین پوځ تر کندهاره ورسېد. د دوی ښه بخت او د شمېر او ځواک په هکله له مبالغې څخه د ډکو راپورونو له کبله چې دښمنان یې وارخطا کړل، دوی وکړای شول چې د سوېلي افغانستان لرغونې پلازمېنه پرته له کوم ډز ونیسي. اوس په ځانګړې توګه مېکناټن ډېر خوشحاله و. هغه خپل ګوتنیوونکي مات کړل او د ده په اند شاه شجاع ته د خلکو له خوا ښه راغلاست د نوموړي د ګرانښت مانا درلوده. مېکناټن له پنځو کالو راهیسي کله چې له لوی والي سره یې کار پیل کړ د شاه شجاع پلوي کوله. هغه باور درلود چې دی له پیل څخه پر سمه لار روان و او برنز برعکس تل پرغلطه. شاه شجاع مشروع او ګران پاچا و او بارکزي د کرکې وړ غاصبین وو. د کندهار له مانۍ څخه یې د بریا له احساس څخه ډک لیک اکلنډ ته ولېږه او څرګنده یې کړه چې کندهار ته تګ داسې و لکه چې پوځ ناڅاپه «جنت ته ننوځي... زه په خوښۍ راپور درکوم چې د کندهار ښار او سیمه په بشپړ ډول په یو ارامه او هوسا وضعیت کې دي. دا د خوښۍ ځای دی چې په داسې ګڼ مېشته ښار کې کوم جدي اړودوړ پېښ نه شو. د شاه شجاع واکمني کرار کرار په ټول هېواد کې ټینګېږي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېکناټن زياته کړې چې شاه شجاع اوس لږ نرم شوی او چلند يې هم ارامه او ډېر حاکمانه او خانتما نه دی. «زه اوس په خوښــی دا هم وايم چې له شـــاه شــجاع ســـره زما د تېرو څلورو يا پنځو مياشـــتو تجربې زه په دې باور کړم چې اعلحضرت د ښه کرکټر خاوند دی.»

د خپلې پاچاهۍ په بيا تر لاســه کولو کې کومې ماتې چې اعلحضـرت وزغملې خلک دې انګېرنې ته وهڅول چې د ده داعيه محبوبيت نه لري او يا دی په روحيه او توان کې بشپړ نه دی، خو داسې خلک هغه سخت او ستونزمن وضعيت ته پام نه کوي په کوم کې چې دغه هڅې وشوې. ډېرو لږو خلکو به په دغسې وضـعيت کې داسې هڅو ته زړه ښــه کړی وای کومې چې ده وکړې... شـاه لږترلږه په هوډ او توان کې کمښـت نه لري. زما په اند هغه د نرم، انسـاني، هوښـيار، عادل او ټينګ کرکټر خاوند دی. تشې يې ښـاخ او ســوګتي دي. د نوموړي ښـاخ په ښـکاره د هغه بارکزي غاصـبينو له چلند سـره په ټکر کې دی کوم چې د واک سـاتلو په موخه يې خپل چلند د خپلو پلويانو له کچې سره برابر کړی.

مېکناټن وويل داسې وجه شته چې نوموړی په دې هيله من کوي چې «د اعلحضرت ښاخمن چلند به کرار کرار لږ شي او يا به يې رعيت د خپل پاچا له تشريفاتي او سوړ چلند سره عادت شي». سوګتي يې «په اوسني کړکېچ کې بېځايه ده، خو د دې د دفاع له پاره ډېر دليلونه شته. د هغه مالي سرچينې ډېرې محدودې دي او سخاوت يې ډېرو خلکو ته ښکاره دی».[۵۴]

لس ورځې وروسته د مې په اتمه کله چې د پوځ شاتنی د بمبيي لښکر له ښار څخه بهر کمپ ته ورسېد، مېکناټن شاه شجاع ته يو پرتمين دربار په دې نيت جوړ کړ چې د شاه شجاع واک ته بيا رسېدنه اعلان کړي او د کندهار خلکو ته فرصت ورکړي چې په رسـمي توګه ده ته بيعت وکړي. د ښـار له دېوالونو بهر په عيدګاه کې يې يو شـاندار چترلرونکی تخت ورته جوړ کړ او له ختو څخه پر جوړ ستېج يې کېښود. د تخت مخ سرپوزې ته و چېرته چې د چل زينې او د بابر د دالان لاندې د زاړه ښـــار رنګې پرتې وې - دا پنځه کاله مخکې ټيک د شــــاه د ماتې ځای و. شـــاه په کلا کې د مانۍ له تيموري طاقونو څخه مېکناټن بدرګه کړ. مېکناټن له فرصـــت څخه په کار اخيســـتې په لمړي ځل خپلې نوې د نايب الحکومه جامې واغوستې. يو افسر وېلي: «د مېکناټن په بشپړه توګه درباري جامې پر تن وې، ټيک هغسې جامې چې په انګلنډ کې له ملکې سره د ليدنې پر مهال د مامورينو پر تن وي.»

سېر الکسـاندر برنز په سـاده دريشي کې په دوی پسې روان و. د ده شاوخوا ته نور افغان مشـران هم روان وو او داسې ښکارېدل چې له دوی سره په تودو او دوسـتانه خبرو اترو لګيا وو. نوموړي په خپله خندا او مودبه چلند تر يوې کچې د دوی پام ځانته داسې خپل کړ چې هېڅ بل اروپايي به يې ونه شـي کړی... کومې د برم او دبدبې جامې چې د مشـــرانو پر تن وې، ښېســـارې وې. د دوی په لونګيو او ټوپکو کې ګرانبيه غمي ټومبل او اېښودل شوي وو او پر ښايسته او بې عيبه اسونو سپاره وو.[۵۵]

د حاجي خان کاکړ او نورو هغه مشـــرانو شـــاته چې شــجاع ته يې خپل ملاتړ څرګند کړی و، کېن، کاټن، ناټ او نور بېلابېل انګرېزي قوماندانان روان وو. دوی د هرات له دراوزې او د لارې په دواړو غاړو کې د شجاع د شډلو عسکرو له کتار څخه تېر شول. د شپېليو او بېګلو په غږ سره، چې انګرېزي ترانه يې - خدای د پاچا وساتي - غږوله، شاه شجاع په تشريفاتو د افغانسـتان د پاچا په توګه پر تخت کښـېنول شـو. د خلکو وړې ګڼې ګوڼې ته چې د دغه ننداړې د ليدو له پاره راغلي وو سـلامي وکړل شـوه او د دوې په منځ کې د هندي پيسـو کڅوړې وشـيندل شـوې. د هرات يو سـوداګر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد حسین چې د شجاع یو مینه وال ملاتړی و او د شاه له مرګه وروسته یې د نوموړي لمړنۍ بیوګرافي لیکلې، داسې لیکلي:

هر سړی بدای شو. اعلحضرت امر وکړ چې دوه لکه روپۍ دې بې وزلو ته وویشل شي. هغه خلکو چې د بارکزیو په وخت کې خر نه درلود، اوس یې د اسونو او اوښانو د ښایسته زینونو توان درلود. د دوی کڅوړې د سپینو زرو له سکو څخه ډکې شوې. زړونو یې اندېښنې نه لرلې. پیسې دومره پرېمانه وې چې ماشومانو به په کوڅو کې د سرو او سپینو زرو له سکو سره لوبې کولې؛ نو اعلحضرت او انګرېزان پر عسکرو او کروندګرو داسې مهربان وو.[۵۶]

خو د شاه د ملاترو له ټولو خوشبینیو سره سره، له دربار جوړونې څخه وروسته سمدلاسه یوه پېښه وشوه چې په انګرېزي سرچینو کې هېڅ یاده شوې نه ده. د ټولو افغان سرچینو پر بنسټ، دغه پېښې د شاه د نوي رعیت تر منځ د ده د بدنامۍ په پیلامه کې بنسټیز رول درلود. محمد حسین هراتي د دغه پېښې لمړني او بشپړ توضیحات ورکړي.هغه لیکلي:

پە دغه وخت کې یوه بدمرغه پېښه وشوه. کله چې د یوې ښې کورنۍ یوه نجلۍ په خپل کار پسې وتلې وه، یو نېشه ېهرني عسکر یې لاره ونیوه، لاس یې ور واچولو، څېرمه وپالې څنګ ته یې کش کړله او د هغې بکارت یې مات کړ. د نجلۍ چیغې د لارویو تر غوږ شوې او دوی په منډه د هغې کورنۍ خبره کړه. د سیدانو او ملایانو په ګډون ډېر خلک راغونډ شول او ټول په ګډه اعلحضرت ته د عدالت غوښتنې له پاره لاړل. که څه هم ښځې وغوښتل او خواشینۍ څرګندې شوې، افغانان چې د ناموس په دغسې ټکو کې ډېر حساس دي، په زړه کې سخت په غوسه وو. دوی ویل :«که د دغه اشغال په پیل کې داسې کرغېړنه کړنه د یوې شریفې کورنۍ پر نجلۍ شونې وي او که اوسنۍ وضعیت همداسې دوام وکړي؛ نو بیا د هېچا عزت او ناموس خوندي نه دی! دا اوس جوته کېږي چې اعلحضرت یو ګوډاګی او هسې په نوم پاچا دی.»

هراتي زیاتوي:

د کندهار خلک تل په خپله زړورتیا او د خپل عزت په ساتلو وياړي او دغه پېښه یې یوازې په ښځه هېره نه بلله. که څه هم انګرېزانو د خپل ځواک په ښودنه د نجلۍ کورنۍ او ملاتړي چوپتیا ته اړ ایستل، د درانیو کورنۍ له غوسې څخه په جوش وې ځکه چې د دوی په عزت تېری شوی و او وینې یې په رګونو کې اېشېدې. شرم او سپکاوی یې په مخونو کې له ورایه ښکارېده. حتی د شاه وفاداره دراني خانان لکه حاجي خان کاکړ وښوده چې دغه سپکاوی دوی دردوي او که څه هم دوی خپله غوسه کابو کوله، ناراضتیا یې په چلند کې ښکاره کېده.[۵۷]

په سراج التواریخ کې دغه پېښه لنډه خو واضح بیان شوې: «د غچ تخم د غیرتي افغانانو په ناموس پاله سینو کې وکرل شو او دغه تخم سونځ• حاصل ورکړ. قومي مشران په دې اند شول چې پاچا پرته له دې چې خپل ښه نوم وساتي، یوازې د زورورو له پیالې واین څښي. دغه پېښې دراني خانان له شاه څخه پردي کړل او په پټه یې د یو ښه فرصت تر راتګ پورې خپل کرج• پاللو.»[۵۸]

یو له دغه خانانو څخه یو مخکښ د ځمکو خاوند، امین الله خان لوګری و. نوموړی د یوسفزیو یو څه نا څه ټېټ

• سونځ: وېروونکی

• کرج: کینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسبي سپينږيری پښتون و. د هغه پلار د تيمورشاه په وخت کی د کشمير د والي مرستيال و- او ده د سدوزيو په چوپړ کې وده کړې وه. په کندهار کې د ډېرو نورو خلکو په څېر، ده هم د شـــاه په بېرته راتگ کوم اعتراض نه درلود، خو په دې سخت خوابدی و چې هغه د بهرني کافر لښکر په مټ راغلی و. د جنسي تېري له پېښې وروسته، امين الله خان کابل ته لاړ او په نواب باغ کې مېشت شـو. نوموړی هلته د هم انده کسانو د يو اتحاد جوړولو په «فرصت پسې گرځېده چې انگرېزان له هېواد څخه وشړي».[۵۹]

د انگرېزانو پر ضد د مقاومت لمړنی کړني لږ وخت وروسته پيل شوې. د سپرې نېزه لرونکې شپاړسمې ډلې دوه افسران د ارغنداب رودغاړې ته د کب نيونې له پاره تللي وو. د بېرته راتگ پر مهال پر دوی باندې د درانيو يوې ډلې بريد وکړ، يو يې په چاړه ووهل شو او وروسته مړ شو. د خواجک غاښې د لارې په اوږدو کې پر انگرېزي پوځيانو باندې يرغلونه مخ په ډېرېدو او همدارنگه د دوی پر څرو او ډاگيانو باندې هم بريدونه زيات شول. د کمپ دوه سوه ملکي کارکوونکي چې بېرته هند ته روان وو، په لاره کې وغولول شـــول، بې وســـلې کړل شـــول او ورپســـې ووژل شـــول. د خزانې، مهماتو او اکمالاتو کاروانونـه بـه پـه هر غـاښـې کې لـه جگړې سـره مخ شـول او ځـاني او مـالي زيـانونـه بـه يې گالـل.[۶۰] د سپاهي سيتارام په اند، په دوو مياشتو کې چې انگرېزانو په کندهار کې دمه کوله، وضعيت بدل شوی و. هغه ليکي:

په لمړيو کې خلک د پاچا په بېرته راتگ خوښ ښکارېدل، خو داسې ويل کېدل چې دوی په خپلو زړونو کې له ده څخه کرکه لرله او له انگرېزانو سره يې راتگ خان ته سپکاوی گڼلو. دوی به ويل چې نوموړي د دوی د هېواد لاره انگرېزانو ته وښوده او دومره وخت به تېر نه وي چې انگرېزان به يې هېواد تر خپلې ســـلطې لاندې راولي. بيا به د هندوســـتان په څېر کار ترې واخلي او خپل کرکجن قانون او قاعدې به پلې کړي؛ نو له دې امله دوی په غوسه وو او ويل يې چې که شاه يوازې د خپل لښکر سره راغلی وای، هر څه به سم وای، خو کله چې دوی پوه شـول چې انگرېزان بېرته نه ځي، غوســـه يې نوره هم زياته شـــوه... که څه هم دوی ته په وار وار وويل شـــول چې انگرېزان د دوی د هېواد د نيولو له پاره نه دي راغلي، دوی د هندوستان کيسه نه هېروله.[۶۱]

دومره وخت نه و تېر چې انگرېزي عسـکرو او سـپاهيانو ته «پرته له دې چې ډله ييز او په وسـلو ښـه سـمبال» وي، له کمپ څخه د نه وتلو امر وشـو.[۶۲] له ټولو هغه ادعاوو سـره سـره چې دوی د سـولې د راوسـتلو له پاره افغانسـتان ته راغلي او د هېواد د مشـروع پاچا په بلنه هلته مېشـت دي، انگرېزان ښـه پوهېدل چې له دوی څخه کرکه کېږي او که چېرې له خپلې اډې څخه بهر گام کېږدي، همغه شېبه به يې په ستوني چاړه تېره شي.

وروســـته له دې چې شـــاه شـــجاع پر تخت کښـــېنول شـــو، د دغســـې ډېرېدونکو بريدونو په ځواب کې، لارډ اکلنډ په افغانســـتان کې د انگرېزي پوځ د پاتې کېدو مرگونې پرېکړه وکړه. هغه لندن ته وليکل: «موږ بايد د يوې مودې له پاره دې ته چمتو وو چې د شاه ملاتړ، چېرته مو چې واک ته رسولی، وکړو.»[۶۳]

کله چې شاه په کندهار کې پر تخت کښېنول کېده، په پېښور کې وېډ او شهزاده تيمور ډېر لږ پرمختگ کړی و. که څه هم وېډ څه باندې ۵۰۰۰۰ روپۍ په رشـــوت ولگولې، خو داســـې نښـــې نه ليدل کېدې چې د خيبر قومونه به د شـــاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکونو ته د تېرېدو اجازه ورکړي. دوی دې ته هم نه وو حاضر چې د وېښ په وړاندیز له دوکې ځخه په کار اخیستنې د خیبر غابښي لاندې د علي مسجد کلا ونیسي او یا «پر جلال اباد یرغل وکړي او هلته د بارکزیو شتمنۍ او ملکیتونه چور او ویجاړ کړي».[۶۴] یو مشر رتې ځواب ورکړ چې لکه څنګه چې اوس شاه د کافرانو ملګری شو، «حتی که ټول بارکزي ووژل شي، دی به د خپل دین په خاطر جګړې ته مخ کړي».[۶۵]

لکه د کلات محراب خان، افریدي او د پولې نور قومونه د شاه شجاع وفاداره ملاتړي وو او کله چې نوموړي د خپل ژوند سختې ورځې شېې تېرولې، دوی یې په وار وار ساتنه کړې وه. لږترلږه یو کس، د ملک الدین خېل د قبیلې خان بهادر خان له شاه شجاع سره نږدې خپښي لرله، خو ټول له کافرو انګرېزانو او سېکانو سره د هغه په اتحاد کې شکمن وو. دا هغه څه وو چې دوست محمد ښه ګټه ترې واخیسته او هر یوه ته یې پیغام ولېږه چې «که ته نورې پیسې غواړې، راته ووایه، خو په یاد ولره چې ته یو افغان او مسلمان یې او اوس شاه د کافرانو غلام دی».[۶۶] که چېرې د افغانیت او اسلامیت دغه نارې پوره اغېز ونه کړي، دوست محمد د احتیاط له پاره په ټولو سرکښه ملکانو پورې تړلي خلک په کابل کې په پاملرنه تر خپل څنګ یرغمل وساتل چې د دوی ملاتړ تضمین کړي.

شهزاده تیمور یو جذاب او کرزماتیک کس نه و. د وارخطا او بې اغېزې ولیعهد شهزاده د لېږنې موخه دا وه چې د خیبر مشرانو ته تمه پیدا شي، خو تیمور یو طبیعي مشر نه و- د هغه د مخ انځور ښیي چې یو نری او د اندېښمنې څېرې څښتن و.- وېښ ده ته یو دربار جوړ کړ چې دی په پېښور کې ور وپېژني، خو په دربار کې د ده نابلدتیا او تېروتنې هم ښه ښاګوم نه درلود. یو کتونکي لیکلي: «کله چې د دربار کېږدۍ ته ننوتلو، خوارکی شهزاده چې په هغه شاهي چلند چې باید کړی یې وای، بلد نه و، د درناوي له پاره ولاړ شو... د جګړن وېښ په یو حرکت ده سمدلاسه خپله تېروتنه په خورا ډېر ناتې سمه کړه او پر خپل تخت په شاهي ځوکۍ کښېناست.» خو ده ژر له دغسې تشریفاتو سره مینه له لاسه ورکړه او «خپل دریغ ته په بېشمېره بې پامۍ او شاوخوا ته یې له هر څه سره په بې پروایۍ چلند کولو... په دې وروستیو کې د نسبي ورکنومۍ څخه را ایستل شوی او د پردیو له ځېر سره د نه بلدتیا له امله به په عامه ناستو ولاړو کې د خپل عظمت په ښکارونه کې له ورایه نارامه برېښېدلو».[۶۷]

له بلې خوا تر اوسه د سېک پوځ چې رنجیت سېنګ یې د یرغل له پاره ژمنه کړې وه، کومې نښې نه لیدل کېدې. د تېرو دوو میاشتو راهیسې دا ښکاره شوه چې وروسته له دې چې لاړې اکلنډ ښېرته شېملې ته ستون شو، سیانه مهاراجا سمدلاسه تر خپلې وسې هڅه کوله چې خپلې ښنې له هغه ژمنې څخه وباسي چې ده د عسکرو او تدارکاتو د برابرولو په اړه کړې وه. وېښ د ۱۸۳۹ کال د مارچ په ۱۹مه مهاراجا ته په خواشینۍ ولیکل چې د مسلمان پوځ او یو مسلمان قوماندان ګمارنه تر اوسه نه ده ترسره شوې» او له ده یې وغوښتل چې «دغه موضوع ته سملاسي خپل پام واړوي».[۶۸] وېښ دوه ورځې وروسته بیا مهاراجا ته ولیکل چې اوس څلور میاشتې کیږي چې د اباسین پوځ له فېروزپور څخه حرکت کړی، خو تر اوسه یوازې د رنجیت سېنګ د دوو اشرافیانو کورني عسکر د دندې له پاره راغلي.[۶۹] کله چې پسرلی په ګرم دوبي بدل شو، د سرټکونو لړۍ پیل شوه: سېک مامورینو په اټک کې همکاري نه کوله چې د شهزاده تیمور ځواکونه له اباسین څخه په جالو کې تېر کړي. نور مامورین د عسکرو، هستوګنځي، خوراکه توکو او وښو په برابرولو کې پاتې راغلل. عسکر لا تراوسه نه وو رارسېدلي. وېښ په وار وار ولیکل: «د مسلمان عسکرو چوپړ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سملاسي اړتیا ده.» یوه میاشت وروسته یې بیا سر وټکاوه چې «کوم پوځ چې په پېښور کې ګمارل شوی، لویې ستونزې لري ځکه چې د عسکرو تنخوا لا تر اوسه نه ده ورکړل شوې».[۷۰]

بلاخره د اپرېل په پای کې، په پېښـور کې د رنجیت والي جنرال اویتبېلي ته امر وشـو چې له ځایي مسـلمانانو څخه یوه فرقه جوړه کړي چې په یرغل کې مرسته وکړي.[۷۱] د مې په نیمایي کې کله چې شاه شجاع او د پوځ اصلي برخې د کندهار په شفتالو، خوبانیو او منو خېټې پړسولې، یوازې د غیر منظمه سپرو یو ۶۵۰ کسیز کنډک پېښور ته راغلی و.[۷۲] د مې په تېوله میاشـت کې، د خیبر مشـرانو د پېشـکي پیسـو او ډالیو غوښـتنې کولې. یو مشـر لیکلي وو: «ما د خپلې غونډۍ خلک قانع کړل او اوس ۲۰۰۰۰ روپیو ته اړتیا ده.» په همدې وخت کې رنجیت سـېنګ، وارخطا وېډ ته یو پیغام ولېږه چې بیرې ته اړتیا نه شـته او ایا کولای شـي لاهور ته د پلان شـوي یرغل په اړه د خبرو اترو لـه پاره ورشـي؟[۷۳] وېډ یوه میاشت وروسته تراوسه تر ټولو بد خبر ترلاسه کړ. رنجیت سېنګ له ناڅاپي بې هوښۍ څخه وروسته اوس په کټ کې پروت دی. نوموړی په ۵۸ کلنۍ د جون په ۲۷ مړ شو. د هغه وروستنۍ کړنه د یو شمېر لویو صدقو وېشنه وه. ویلیم اسـبورن په راپور کې لیکلي: «له مرګ څخه دوه سـاعته مخکې، هغه خپلې ټولې ګانې ور وغوښـتې او خپل نوموړ الماس یې چې د رڼا غر نومېده، یو معبد ته، د ملغلرو ښایسته غاړکۍ بل ته، او د هغه د خوښې ټول اسونه له ټولو زینتي توکو سره درېیم معبد ته ورکړل. د هغه څلورو ښایسته ښځو او پنځو کشمیري وینځو د ده له مړي سره سـم ځـانونـه وسـوځول... ډېرې هڅې وشـوې چې د دې مخنیـوی وکـړي خـو څـه پـایلـه یې ورنـه کـړه.»[۷۴]

ایملي دغه مهال د کندهار فتح لمانځله - زموږ د نڅا مېلمسـتیا به ډېره له خوښـۍ څخه ډکه وي. ما همدا اوس نورو رڼاوو ته مخامخ یو لوی «کندهار» سرېښ کړ.- دې د رنجیت سېنګ ښځې څو میاشتې مخکې لیدلې وې او اوس د دوی پر برخلیک باندې سخته په لړېکه• شـوه. هغې لیکلي: «دوی ډېرې ښـایسـته او خوشحاله وې. د دغه خوارکیو مړینه ډېره خواشینوونکې ده. دوی یو خوشحاله مخلوق و او په بېساري زرورتیا مړې شوې. داسې ښکاري چې د یوې ښځې د لرلو په پرتله د «سلو ښځو» د درلودلو سیستم ښه دی. دوی ډېرې مینه ناکې او وفاداره وې.»[۷۵]

وېډ سمدلاسه پر افغانستان باندې د یرغل په جدي پایلو پوه شو. د رنجیت سېنګ په ژوند کې وېډ ته دا ډېره سخته وه چې له ژمنې سره سم له هغه څخه یو لښکر ترلاسه کړي. اوس چې هغه مړ شو، دغه کار نږدې ناشونی برېښېده. د رنجیت سـېنګ یوازې څو اشـرافیان له انګرایزانو سـره د ائتلاف په اړه له ده سـره همغږي وو او اوس به د ده د ځای ناسـتي پر سـر د شـخړې او د کورنۍ جګړې د ممکنه پیل له وجې ډېر وخت ونیسـي چې انګرېزي دیپلوماسـي د مړه مهاراجا پر ځای ناستي وتپل شي.

بله لویه سـتونزه د اباسـین پوځ ته د خوراکه توکو او تدارکاتو رسـونه وه: په داسې حال کې چې په هغه پنجابي هوارو کې د اړودوړ پیل نږدې حتمي ښـکاره کېده کومې چې یرغلګر پوځ یې په برتانوي هند کې له خپلې اکمالاتي اډې څخه بېلولو؛ نو افغانسـتان ته د خوراکه توکو، وسـلو، پیسـو او تازه دمو څواکونو د لېږلو له پاره به کوم فرصتونه وو؟ د اباسـین پوځ چې همدا اوس په تجرید کې و، د پنجاب د لارې په بندېدو سـره نور هم یوازې برېښېده. په عین وخت کې، دغه پوځ د منځنۍ اسـیا په غرونو کې نور هم د ننه روان و چې تدارکاتي تګ لوری یې لا اوږد، حسـاس او زیانمنوونکی

• لړېکه: اندېښنه، لرزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده او پرته له مرستې، د هېڅ کار سم پرمختګ شوني نه و نو یو سخت یرغل، چې بریا یې نامالومه وه، نور هم سخت شو.

د ۱۸۳۹ کال د جون په ۲۷مه ، کومه ورځ چې رنجیت سېنګ د مرګ په حالت کې و، د اباسین پوځ له کندهار څخه د کابل په لور وخوځید. دغه ځواک اوس په درې برخو ووېشل شو او په ثابته توګه یې د ورځې شاوخو ۱۵ میله مزل کولو. دغه مارش د مخکني په پرتله لږ چټک و ځکه چې جان کین پرېکړه وکړه چې د کلابندۍ درنې وسلې چې په مخکني مارش کې یې ډېرې ستونزې رامنځته کړې وې، په کندهار کې پرېږدي. ده دغه پرېکړه د هغه مشورو پر بنسټ وکړه چې د غزني او کابل استحکامات دومره غښتلي نه دي او شجاع ده ته ډاډ ورکړی و چې پوپلزي به د پوځ له رارسېدو سره سم واک په خپل لاس کې واخلي او د غزني دروازې به پوځ ته خلاصې کړي. په کندهار کې یوه ۳۰۰۰ کسیزه چونۍ د شجاع د یو کشر زوی، شهزاده فتح خان د تش په نامه واکمنۍ لاندې پاتې شوه، خو په حقیقت کې دغه چونۍ د تورن جنرال ناټ تر قوماندې لاندې وه. د درانیو ډېری اشرافیان چې شجاع ته یې بیعت کړی و، هم په کندهار کې پاتې شول. یوازې حاجي خان چې د لوړ مقام هیله یې درلوده، له پوځ سره مل شو.

په کندهار کې دوه میاشتنۍ دمه وروسته له دې پای ته ورسېده چې په لوېدیځ کې له هرات څخه او په ختیځ کې له غزني څخه اندېښمنوونکي ځارګریز راپورونه راورسېدل. په هرات کې وزیر یارمحمد الکوزي ځان د هغه احسان پوروړی نه ګڼلو کوم چې انګرېزانو یې پرهرات باندي د پارسي ویجاړوونکي یرغل د پای ته رسولو په بدل کې تمه کوله او پر ځای یې، د پارسي پوځ له شاتګه یوازې څو اونۍ وروسته، نوموړي له انګرېزي استازي اېلډرېډ پاټېنګر سره چې لږ موده مخکې یې ۳۰۰۰۰ پونډه د خیرېې په توګه په ښار کې لګولي وو، شخړه وکړه، د هغه د یو چوپړیال لاس یې غوڅ کړ او په خپله یې د پاټېنګر د وژلو هڅه وکړه. وروسته دغه وزیر د پارس له محمد شاه سره چې پوځ یې تر دې وروستیو پورې د ده د ښار مخې ته کمپ جوړ کړی و، په پټه خبرې اترې پیل کړې او څرګنده یې کړه: «زه په خدای قسم کوم چې زه د شاهانو شاه [د پارس شاه] غضب د یو میلیون انګرېزانو د مهربانۍ په پرتله غوره بولم.»[۷۶]
مېکناټن ډاډه نه و چې د اړیکو د شلېدو پړه پر یار محمد وه او یا د ډېرې تجربې پر خاوند، پاټېنګر؛ نو ده پرېکړه وکړه چې یو پلاوی هرات ته ولېږي چې هرات بېرته خپل کړي. مېکناټن له برنز څخه وغوښتل چې د دغه پلاوي مشري وکړي، خو نوموړي په هوښیارۍ دغه غوښتنه ونه منله ځکه چې ده غوښتل چې په کابل کې وي او هلته کله چې مېکناټن بېرته لاړ شي، د هغه ځای ناستی شي او بل دا چې، لکه څنګه چې وروسته څرګنده شوه، د دغه پلاوي د ماموریت بریا ناشونې برېښېده؛ نو مېکناټن د ده پر ځای ډارسي ټاډ D'Arcy Tidd چې پارسي یې خبرې کولای شوې او په تهران کې د برتانيې په پوځي ماموریت کې د هېنري لارنسن همکار و، هرات ته ولېږه. برنز خپل یو ملګري ته ولیکل: «ځوان پاټېنګر غواړي چې د وژنې د ګواښ له امله بښنه ترې وغوښتل شي. تورن ټاډ سبا ته د هرات په لور ستنېږي او زه له وړاندې وایم چې هېڅ به ونه شي کړی ځکه چې له دوی سره هېڅ نه شي کولای.»[۷۷]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاډ ته ورکړل شوی دستور ساده و: یار محمد دې خپل ملګری کړي، د ایران په پوله پروت هرات دې د انګرېزانو متحد کړي او د شاه شجاع د واکمنۍ پوله دې ورسره مالومه کړي، خو دومره وخت نه و تېر چې ټاډ په وېرجنه بڼه د یارمحمد په هکله یو لیک ولېږه او لیکلي یې وو چې یارمحمد ته به چې هر څوک په لاس ورغلل، په زور او جبر به یې په ظالمانه توګه پیسې ترې اخیستې چې د هرات خزانه پرې بېرته جوړه کړي:

کوم سړی چې غوره شوی و، په عامه توګه یو خان و چې خلکو به ډالۍ ورکولې؛ نو له دې کبله داسې انګېرل کېدل چې شتمن به و او یا د مرګ د سزا یو ترسره کوونکی و چې د خپلې دندې په نه ترسره کولو د شتمنۍ په ټولولو تورن شوی و. وروسته دغه تورن تر شکنجې لاندې راوستل شو. د شکنجې تر ټولو عامه بڼه په کرار اور باندې په اوبو کې د تورن ابېشول او یا وریتول او پخول وو. په دغسې وخت کې له کومو ډاروونکو نابغوي جزاوو څخه چې کار اخیستل کېده دومره کرکجنې وې چې هېڅ د یادولو وړ نه دي. له ډېر درد څخه تاو راتاو سړي کرار کرار خپله شتمني بربنډه کړه او مخکې له دې چې مړ شي، هغه پوه شو چې ښځې او لورانې یې په ترکمنانو خرڅې شوې او یا د ده د وژونکو د چوپړیالانو او جاروکوونکو تر منځ ووېشل شوې. له دوو وروستني قربانیانو څخه یو یې نیم کباب او بیا په ډېرو وړو ټوټو غوڅ کړل شو، دویم یې په جوش اوبو کې خوړین او وروسته پوخ کړل شو.[۷۸]

هرات انګرېزانو ته یوه داسې معضله پیدا کړه چې دوی د اشغال په پېر کې ښه ورسره بلد شول او وروسته نور ښکېلاکي ځواکونه هم ورسره مخ شول. لکه څنګه چې ټاډ په یو لیک کې مېکناټن ته لیکلي وو: ایا باید هڅه وشي چې «د انسانیت ګټو ته وده ورکړل شي». د ټولنیزو اصلاحاتو ملاتړ وشي او داسې دودونه منع کړل شي لکه د زناکارو ښځو سنګسار؟. په ځارګره ځانګه کې یوازې وېر، کله چې له دغې پوښتنې سره مخ شو، په وضاحت وویل چې دوی د ملت جوړونې او یا د ښځې او نر د حقوقو د اصلاحاتو له پاره هلته نه دي تللي. هغه لیکلي: «زموږ د بنسټونو د فضیلت په اړه له هغه اوچت باور څخه پرته چې موږ ورسره اشنا یو او په یوه نوې او نه ازموېل شوې خاوره کې د دوی په پلي کولو کې زموږ د اندېښنې له څرګندونې څخه پرته، بل هېڅ داسې څه نه شته چې وېره ترې وشي او یا له هغوی څخه خوندي وساتل شي. دغسې لاسوهنه، که له تاوتریخوالي څخه ډک غبرګون نه زېږوي؛ نو لږ تر لږه به تل ترخې شخړې رامنځ ته کړي.»[۷۹]

په عین وخت کې په کابل او غزني کې د وېر ځارګرو د دوست محمد په اړه راپورونه ورکول چې په اغېزمنه توګه او په بشپړه سېکمنتیا د انګرېزي پوځ د پرمختک پر ضد خپل پوځ جوړوي او دفاعي کرښې بیا رغوي. هغه د کابل سیند له لارې جلال اباد ته په لویه کچه اکمالات وکړل او د کابل له علماوو څخه یې د شاه شجاع پر ضد د جهاد فتوا ترلاسه کړه. نوموړي په یوه هڅه کې ایران ته هم ولیکل چې محمد شاه وډوماري چې د جګړې ډګر ته لاړ شي، «اعلحضرت ته یې ټینګار وکړ چې پرته له ځنډه د ده سره مرسته وکړي» او څرګنده یې کړه چې اوس به دا د ده وروستی فرصت وي مخکې له دې څخه چې انګرېزان په افغانستان کې ځان ته ځای پیدا کړي. هغه لیکلي وو: «د یوې چینې خوله پر یوه ستن هم بندېدی شي، خو چې یو ځل یې اوبو سر وکړ، بیا یې پیل هم مخه نه شي نیولای.»[۸۰] د دوست محمد د ټولو کړنو په هکله ځارګریزه راپورونه انګرېزي کمپ ته د جون په ۲۰ مه ورسېدل او پرېکړه وشوه چې هر څومره ژر پر دوست محمد برید وشي همدومره به ښې پایلې ولري.

له کندهار څخه تر غزني پورې د انګرېزي پوځ د ۲۰۰ میلو مزل په اوږدو کې، دوی لمړی د ارغنداب له حاصل خېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې څخه تېر شــول چې خړې اوبه په کې بهېدې او ســپین‌زر رنګه ولې په کې ولاړې وې او د پنې• ویالې د انار، انګور او ســرو توتو د باغونو له لیکې څخه چې د ختې دېوالونه ترې چاپېر وو بهېدې، خو له دې څخه وړاندې، څومره چې پوځ د ارغنداب لـه غاړې او د پنې ویالو لـه شــبکې چې د درې تر لمنې د خټکو تر پټیو غځېدلې وه، لیرې کېده، همدومره به وچې سـیمې ته ننوت. د قلات غلزی Qalat e-Ghizai شـاوخوا سـپینې ځمکې چې سـپین واښــه یې باد رپول، کرار کرار دېرینو غونډیو ته لار خلاصـوله. دغه سـیمې یوه ګوښــه د پربنــو او بکرو منظره جوړوله چې ځای ځای به د ســپینو کوکنارو پټي او بانجاني څڅ• په کې لیدل کېدل. انګرېزي لښکر اوس د غلزیو سیمې ته ننوت. ویلیم تېلر لیکلي:

> دا یوه وچه، غرنیزه او طبیعي ســیمه وه. لارې یې ډېرې ســختې او کله کله تګ پرې نږدې ناشــونی و. غلزي زموږ په لیدو ســره د ختو بې‌شــمېره کلاوو ته، چېرته چې ډېرې غونډۍ دي، وتښــتېدل. دوی زموږ لارې نیولو ته هېڅ زړه ښــه نه کړ. په هســتوګنځایونو کې چې دوی پرېښــي وو، موږ یو څو بدرنګه زړې ښــځې او ســپي ولیدل. دوی دواړو موږ ته یو شــانته په غوراري ښــه راغلاســت وکړ... موږ نېکبخته وو چې د غلې او وښــو زېرمې مو وموندې. ځایي خلکو زموږ د راتګ په اورېدو غلې خښــې کړې وې. د اوبو کمښــت مو هم نه درلود ځکه چې په ســیمه کې له هر لوري ویالې او ســیندونه تېر وو، خو د دغه ښــېګنو انډول د ملخو ځوروونکو ګلو برابر کړی و. د دوی دومره ډېرې ګلې وې چې اســمان یې ســم تیاره کړی و او په دوامداره توګه یې زموږ په غوړونو کې بنګاری جوړ کړی و. داســې ښــکارېدل چې ملخ د ســیمه ییزو خلکو په زړه پورې خوراک و. دوی به ملخ په کرار اور ډاډه کړل او په ناڅ به یې په چټکۍ وخوړل، خو موږ ونه شو کړای چې دغه خوراک ته زړه ښه کړو که څه هم زموږ ځېره دومره خوندوره او ډېر ډوله نه وه.[۸۱]

کین د جولای په ۱۸مه دوه ځارګریز خبرونه تر لاســه کړل. لمړی، د پوپلزیو دســیســه چې د ښــار دروازې به پرانیزي برېنده شوې او د شاه شجاع د وفادارو پر ځای غلزي چې بارکزیو ته وفاداره وو ګمارل شوي وو او دویم خبر، د غزني په شاوخوا کې بارکزي د کلک مقاومت له پاره تابیا نیسي. محتاط کین پرېکړه وکړه چې تر هغه وخته تم شي چې د شاه شجاع په مشرۍ د پوځ منځنۍ برخه او د وېلشر په مشرۍ د پوځ وروستنۍ برخه ور ورسېږي.[۸۲] کله چې ټول ځواکونه غونډ شــول، دوی په داســې حال کې چې پوځي ډلې یو بل ته نږدې رواني وې، مخ پر وړاندې مارش پیل کړ. د جولای په ۲۰مه د لمر ختو پر مهال د غزني منارونه د بوټیو پر سر ښکاره شـول او له دوی څخه وړاندې داسې یوه لویه کلا تر سـترګو شـوه چې په مرکزې اسـیا کې یوه تر ټولو لویه او نه ماتېدونکې کلا وه. کین لیکلي: «د راپورونو پر بنسـټ، د دې پر ځـای چې دغـه کلا ډېره کمزورې او د مقاومت توان ونـه لري، یو دویم جبرل الطارق مو مخې تـه څرګند شــو. یو اوچت او سم رغول شوی دېوال چې د یوې ستوغې غونډۍ پر سر جوړ شوی و او په هر لوري کې یې بې‌شمېره برجونه درلودل. ګرد را ګرد یې ښــه پاټکي او د اوبو خندقونه جوړ وو. چې لنډه یې ووایم، موږ هک پک شــوو.»[۸۳] د دغســې نه ماتېدونکو دفاعي کلاوو شــتون د انګرېزي ځارګرې ادارې ناکامي ښــودله او اوس مالومه نه وه چې څه باید وشــي. د کلابندۍ درنې وسلې ۲۰۰ میله شاته له ناڅ سره په کندهار کې پرتې وې. یرغلګرو ته وړاندې تګ شونی نه و ځکه چې که غزني همداسې پرېږدي، د دوی د اړیکو لړۍ به وګوانښـي او د پوره تدارکاتو د نه شـتون له امله، دوی نه شـا ته تګ کړلی شوای او نه یې اوږد مهاله کلابندي جوړولی شوای.

لکه څنګه چې وېره کېده، د انګرېزانو په نږدې کېدو سره افغانانو په کلکه مقاومت پیل وکړ. د دوی اسوالې ډلې د

• پنه: اوبونه، خړوبونه

•څڅ: یو ډول اغزن سارایي بوټی دی چې بانجاني رنګ او تار ته ورته ګل پاڼې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاهیانو مخکښې لیکې تر بریدونو لاندې ونیولې او کله چې یرغلګرو هڅه وکړه چې د کلا شاوخوا ته سنګر ونیسي، دوی د کلا له دېوالونو څخه پر دغه یرغلګرو د مرمیو باران جوړ کړ او پرې برلاسي شول. سیتا رام لیکي: «دښمن په ډېر قوت را ښکاره شو او سختې ډزې پیل شوې. افغانانو د دغه کلا په قوت باور درلود. دېوالونه ډېر اوچت وو او ختل پرې شوني نه وو او زموږ پر اس باندې اېښو سپکو توپچي وسلو پر دوی هېڅ اغېز نه درلود. افغانستان ته له راتګ راهیسې، دا لمړی ځل و چې موږ له جګړې سره مخ شوو.»[۸۴]

دلته افغانانو هم په لمړي ځل د خپل اوږد میله تور ټوپکو کره توب وښوت، د ۱۹ پېړۍ لیرنښې ټوپک. کله چې نښه وېشتونکو انګریزي پوځیان د خپلو ټوپکو د اعظمي واټن د ننه وموندل، دوی به ډز وکړ او په دې توګه یې ګڼ شمېر سپاهیان چپه کړل. میرزا عطا لیکلي: «هره مرمۍ به چې له کلا څخه فیر شوه، پر انګریزي عسکرو به لکه د الهي جزا په څېر ولګېده. عسکر وړي پاتې شول او ځاروي له اوږده مزل څخه ستړي وو او تر ماښام پورې یې بارونه تر هغه وخت پورې پر شا پاتې وو تر څو چې د لنډمهاله سنګرونو او مورچلونو تر شا کمپ جوړ شو. له کلا څخه د یو لوی توپ چې زبرزن نومېده ډز وشو او اوښان، عسکر او اسونه داسې په هوا شول لکه کاغذ باد.»[۸۵]

په دغه شپه، انګرېزانو له کلا څخه د شنو رڼاوو اشارې ولیدې او دوی ته د سوېل په غرونو کې په نورو رڼاوو ځواب ورکړل شو. د دغه اشارو موخه انګرېزانو ته تر هغه وخته څرګنده نه شوه تر څو چې سهار وختي پر دوی باندې له شا څخه یوې اسوالې ۲۰۰۰ کسیزه د ځاځمن سترګو غازیانو ډلې برید وکړ. وروسته له دې چې سپېدې وچاودې، دوی سمدلاسه د کمپ شاته د جهاد له شنو جنډو سره په لوړو ځمکو ښکاره شول. کله چې د خطر بېګل وغږول شو، د جهادیانو مخکښې برخې وکړی شول چې د دفاعي خندقونو څخه تېر او نېغ د شاه شجاع د کمپ منځ ته ورسېږي په داسې حال کې چې د الله اکبر نارې یې وهلې او د ځان وژنې په زړورتیا یې تر هغه وخت جګړه وکړه تر څو چې کلابند شول.

په پای کې یوازې ۵۰ کسه تسلیمۍ ته حاضر شول او حتی دوی کله چې شجاع ته کش کړل شول، ده ته یې په سپکاوي «په زړه کې کافر او د کافرانو ملګری» وویل.[۸۶] په داسې وخت کې چې شجاع د غوسې پزه کش کوله، یو غازي په پټه یو خنجر راوایست او د شاه د وهلو هڅه یې وکړه. وروسته له دې چې دغه کس په ډېرو کسانو کابو او ووژل شو، د شجاع ساتونکو سمدلاسه د دغه اسیرانو له ټولې ډلې څخه سرونه غوڅ کړل چې مېکناټن ته یې سخته لړېکه ورکړه. داسې راپور ورکړل شوی چې د شجاع کسانو په خندا او ټوکو دغه کم بخته خوارکي «په چړو او تورو ټوټې ټوټې کول». لکه څنګه چې بندیان پراته او لاسونه یې تر شا تړلي وو، موهن لال لیکلي: «انګرېزي کمپ ته څېرمه د بېشمېره بندیانو وژنې، زموږ په کړنو یوه بې خونده رڼا واچوله. په یقین سره، هېڅ هېواد به په بې کچې ظالمانه او وحشیانه توګه د ۵۰ کسانو وژنه د یو کس د سپکاوي په بدل کې ونه مني او نه به یې منظور کړي؟»[۸۷]

په راتلونکو ساعتونو کې موهن لال د انګرېزانو په ږغورنه کې له هغه انجړ بنجړ څخه چې دوی په خپله ځان ته جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې و، اړین رول ولوبولو. یوه ورځ مخکې کله چې انګرېزان کلا ته نږدې کېدل، د بارکزیو یو مشر شهزاده او د دوست محمد سیال، عبدالرشید خان د جګړې له کرښې تېر او موهن لال ته یې ځان تسلیم کړ. نوموړي موهن لال د منشي توب له وخته پېژنده کله یې چې په ۱۸۳۰ مو کلونو کې له وېښ سره د څارګر په څېر په کندهار کې کار کولو. عبدالرشید د موهن لال په کېږدۍ کې ده ته وویل چې دغه کلا یوه لویه نیمګړتیا لري. د انګرېزانو په نږدې کېدو سره د کلا ډېرې دروازې په خښتو پټې شوې وې، خو د کابل دروازه پرانیستې پاتې شوه چې له دوست محمد سره دوامداره اړیکې وساتل شي. کله چې برنز دغه مالومات کین ته ورکړل، اعلی سر قوماندان پرېکړه وکړه چې پرته له دې چې همغه شپه برید وکړي، بله چاره نه لري او هیله من و چې دغه نابېره برید به د پلان او څارګریزو مالوماتو د نه شتون تلافي وکړي.

یو پلان په چټکۍ جوړ شو. د توپچي پرله پسې ډزې او پر سوېل باندې یو انحرافي برید به انجنیرانو ته مهلت ورکړي چې د کابل دروازې ته وښېږي او هلته چاودنیز توکي کېږدي څو دروازه والوزوي. پر دې پسې به یو ډله یېز یرغل چې توپک به په برچو سمبال وي پیل شي. هنري ډیورنډ چې په خپله خوښه د چاودنې ډلې مشرۍ ته حاضر شو، لیکلي: «دغسې عملیات له خطر څخه ډک وو او حتی بریا یوازې د ډېرې مرګ ژوبلې په زغملو اتکل کېدای شوی.» کله چې ډیورنډ دغه خبره له کین سره مطرح کړه، اعلی سر قوماندان ځواب ورکړ چې بله چاره نه شته ځکه چې یوازې د دوه یا درې ورځو له پاره په زېرمتون کې ډوډۍ پاتې ده.[۸۸]

پاتې ورځ په څار تېره شوه. کین او انجنیران پر اسونو د کلا د بهرني دېوالونو شاوخوا د خوبانیو او چارمغزو د باغونو د دېوالونو تر شا چې د کلا په تیرکشو کې له تورتوپکو نښې ویشتونکو څخه په امان وو، وګرځېدل. له نیمې شپې څخه لږ مخکې، امر ورکړل شو چې عسکر باید په څلورو بجو راغونډ شي او د خپلو خولیو سپین پوښونه لیرې کړي چې له کلا څخه په اسانۍ ونه لیدل شي. مېکناټن د شپې په دوو بجو شجاع یوې غونډۍ ته بوتلو چې د کابل دروازې ته مخامخ او اوچته پرته وه. د هغه د بیوګرافي لیکونکي، محمد حسین هراتي د خبرو پر بنسټ: «مېکناټن ته دا عزت په برخه شو چې شاهي حضور ته لاړ شي او اعلحضرت ته بلنه ورکړي چې د هوښیار صوفي بهلول د زیارت غونډۍ ته لاړ شي چې له هغه ځای څخه د غزني پر کلا د یرغل لیدنه وکړي. وروسته له دې چې اعلحضرت پر خپل ځای کښېناست، سمدلاسه د توپونو اورجنې ډزې پیل شوې.» (۸۹) شاه شجاع په خپل بربنډ موقعیت کې له کلا څخه د سختو ډزو لاندې راغی، خو له دښمنۍ څخه په خپله ډکه زړورتیا له ځایه ونه خوځېد. نوموړي په دې کار خپل انګرېزي پالونکي اغېزمن کړل چې د ده په هکله د دروا‌غو کیسې ورته ویل شوې وې چې د جګړې له ډګره له وخت څخه مخکې وځي.

سیتا رام د انحرافي قوې یوه برخه و. هغه لیکلي: «امر راکړل شو چې سور اور بل کړو چې د غازیانو پام بلې خوا ته واړوو. په دغه شپه ډېر باد لګېده او له دورو څخه جوړو وربځو هر څه د معمول په پرتله تیاره کړي وو. کله چې ډزې پیل شوې، موږ غازیان ولیدل چې له مشالونو سره یې منډې وهلې او سمدلاسه ټول ځای داسې ښکارېده لکه دېوالي پوجا Diwali puja.»[۹۰]

په سوېل کې د ډزو د درزاري برعکس، د کلا په شمالي اړخ کې چوپه چوپتیا وه کله چې ډیورنډ او نورو انجنیرانو په تیاره کې د دېوال په لور ښښېدل پیل کړل. دوی اندېښمن وو ځکه چې بریا د محرمیت په ساتلو تړلې وه او مېکناټن د شجاع کارکوونکو ته د یرغل پلان ښودلی او د جګړې په ټولو طرحو د شجاع کمپ خبر شوی و، خو دغه پلان د مدافعینو غوږو ته نه و رسېدلی. د سپېدو له چاودو مخکې، ډیورنډ د کلا د دروازې تر ۱۳۷ متره وښښېد چې ناڅاپه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو پېره دار له خوا وننګول شــو. هغه وروســته لیکلي: «یو ډز او یوې چیغې ووېل چې ډله ولیدل شــوه، ســمدلاســه افغانان څک شــول، ټوپکوالو له دېوال څخه په چټکۍ د خطر زنګ وواهه او ناڅاپه په کلا کې د مورچلونو له پاســه شــنه رڼا خپره شــوه او دروازې ته نږدې ځایونه یې ښــه رڼا کړل. د کلا له لاندنۍ برخې څخه په لنډ واټن کې زموږ د لیکې پر اوږدو باندې ډزو به ټول انجنیران او نور کسـان هلاک کړي وای، خو په تعجب سـره د کلا له هر تیرکش څخه ډزې روانې وې، خو زموږ لیکــه پرتــه لــه دې چې د کلا لــه لانــدینۍ برخې څخــه حتی یو ډز پرې وشــي، تېره شــوه.» د باروتو کڅوړې کېښودل شوې او پلتې ته اور ولګول شو. په داسې حال کې چې دفاعیان له تیرکش څخه د لید او ډزو د محدویت څخه په تنګ شــول، دوی به پر دېوال ودرېدل، ښـکته د دېوال بېخ ته به یې په ډزو د تیږو او خښــتو ټوټې والوزولې او بېرته به د دېوال شاته شول. کله چې یوه لویه چاودنه وشوه، انجنیرانو د خندق په اوبو کې غوټه ووهله او بلې خواته ســمدلاســه د پرمختګ بېګل ووهل شــو.[۹۱] د دروازې په لور د عســکرو مشــري ویلیم ډني William Dennie کوله او په دوی پسې له لږ ځنډ وروسته، د جنرال رابرټ سېل په مشرۍ یوه ډله روانه وه. رابرټ سېل د خپلو کسانو په منځ کې جګړه مار باب نومېده ځکه چې ده نه غوښــتل د کتار په شــا کې پاتې شــي او تل به په تن په تن جګړو کې ښکېل و.

محمد حســین هراتي د شــاه شــجاع ترځنګ د غونډۍ له ســر څخه ننداره کوله. هغه لیکلي: «د کلا دروازې والوزول شــوې او انګرېزانو تن په تن جګړې ته منډه کړه. دوی تر هغه وخته وجنګېدل تر څو چې د تسـلیمۍ چیغې اســمان ته اوچتې شــوې. «ال امن، موږ مه وژنئ» او افغان عســکرو خپلې وســلې پر ځمکه واچولې. د هغه چا چې اجل پوره و، ووژل شــول. ځینې نور، ښځې او نارینه، اســیر ونیول شــول او د دوی مال، شــتمني او څاروي شــوکمارۍ ته پرېښــودل شول.»[۹۲] میرزا عطا د دفاعیانو په اړه خپله ژوره خواخوږي ښودلې. ده لیکلي:

> کله چې دوی باروتو ته پلتې ولګولې، دروازه له ډېرو سوریو څخه په غلبیل بدله شوه او پر ځمکه ولوېده. چاودنې هوا د دوړو له توپان څخه ډکه کړه او هېڅ شــی نه ښــکاره کېدل. د شــاه عســکرو په منډه پر کلا یرغل وکړ او د ۳۰۰ غازیانو یا د خپل ایمان له پاره له جنګیالیو ســره مخامخ شــول. غازیانو خپلې تورې را وایســتلې چې د خپل دین د دفاع له پاره وجنګېږي او درې ځلې یې انګرېزان له دروازې څخه بهر شــاته وتمبول. عســکر دې ته اړ شــول چې شــاتګ وکړي او د زر فوټه په واټن کې یې ډزې کولې، خو جنرال ســېل او اعلی ســر قوماندان بیا عســکر راغونډ کړل. دوی کلا ته ننوتل او غازیان یې له پښــو وغورځول. د بنګال پوځ یو ځل بیا پر کلا یرغل وکړ او د کلا قوماندان، نواب غلام حیدر خان [د دوســت محمد زوی چې یو کال مخکې یې برنز له کابل څخه د وتلو پر مهال بدرګه کړی و] خپلو خاینو ملګرو یوازې پرېښــود چې خپل ځانونه وژغوري او چټل انګرېزي ســره زر تر لاســه کړي. دوی انګرېزي رشــوت ومانه، مخونه یې په خیانت تور شول او له جګړې څخه وتښتېدل. پاتې غازیان د جنت له ویالو څخه د شهادت جام تر څښلو پورې وجنګېدل او د جنت بڼ ته چې لاندې یې ســیندونه بهېږي یوړل شــول. خدای دې د دوی پر روح رحمت و اوروي. یوازې د غازیانو له مړینې وروسته، انګرېزانو د غزني کلا ونیوله او بریا یې ترلاسه کړه.[۹۳]

په داســې حال کې چې د کلا په ښــکتنۍ برخه کې لوټماري روانه وه، پورته د کلا په پاســنۍ برخه کې مقاومت په زړوتیا روان و. جورج لارنس لیکلي: «افغانانو په باتورۍ په تورو جګړه کوله، حتی هغه وخت یې هم زموږ یو شـمېر خلک ټپي کړل چې دوی زموږ د ټوپکو په برچو ســوري شــوي وو.»[۹۴] د ده د ملګري، نوېل چېمبرلېن د انګرېزي عســکرو چلند خوښ نه شـــو. وژنې او بې رحمۍ اوس ټول ځایونه نیولي وو. نوېل لیکلي: «عســکر به د لوټمارۍ په موخه کورونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتل، په دغه توګه ډېر خلک ووژل شــول...زه نه غواړم هغه ظلم او وحشــت درته بیان کړم کوم چې ما په هغه ورځ ولید ځکه چې زه ډاډه یم چې سـتا به له بشـریت څخه کرکه وشي: خو زه خوشحاله یم چې ډېر لږ ښځې او ماشـومان مړه شــول او دا هم د حیرانتیا ځـای دی ځکه چې لـه هرې کوټې څخـه بـه چې د چـا د خوځېدو غږ واورېدل شـــو، سـمدلاسـه به لس، دوولس ډزې پر کوټه وشـوې او له دې وجې ډېر بې‌ګناه خلک ووژل شـول.»[۹۵] د سـپېدو له چاودو سره، د دفاعیانو تېښته پیل شوه. تامس ګیسفورډ لیکلي:

یو شمېر دښمنان ولیدل شول چې له کلا څخه په پړیو ښکته کېږي. ځینې یې په ښکته کېدو کې وویشـتل شول او ځینې چې په ښکته کېدو بریالي شـول، په پټیو کې سـپرو عسـکرو په تورو ووهل. وروسـته له دې چې ټوله کلا زموږ لاس ته راغله، هغه ډلو چې په کورونو کې یې دروازې پر ځانونو پسې تړلې وې لا تر اوسـه په عسـکرو ډزې کولې. هغه کسـان چې تسـلیم شـول، یو ځای به وسـاتل شـول، خو مشـران او نور هغه کسـان چې زموږ ډېر سـړي یې د کلا له نیولو څخه ډېر وخت وروسـته ووژل، ځای په ځای به وویشـتل شـول. هر څه چې په کرار شـول، له یو کور څخه یوه ډله راووتله چې ځان ته د تېښتې لاره پیدا کړي، په دغه هڅه کې یې ډېر سړي ټپیان کړل.

ګیسفورډ زیاتوي:

دغه ګڼ شمېر ظالمانه وژنې ډېرې ویروونکې وې. په یوه دهلیز کې، چې زینې ورڅخه د کلا سر ته ختلې وې، دېرش، څلوېښت مړي پراته وو او ډېری یې نیمه سوځېدلي او اور پرې بل و... ځینې اغېز کوونکې صحنې د مړیو په ایستلو کې رامنځته شوې. یوې ډلې چې یو مړی یې له یوه کور څخه وایست، ګوري چې مړی بېرته شـاته کش کړل شـو، کله چې دوی شـاته وکتل، یوه ښځه او یو ماشـوم همدغه مړي ته په ژړا ناسـت وو. هر کور او هره هټۍ لوټ او زیانمنه شـوه او داسـې کور نه موندل کېده چې پر هغه به د وینو داغونه نه وو. ۵۰۰ تر ۶۰۰ مړي په کنده کې وشـمېرل شـول او ښـایي په ټوله کې لږترلږه ۱۰۰۰ کسـه وژل شـوي وي. ټپیان په بد حالت کې وو او په ښـار کې زموږ تر شـــتون پورې یې پالنه کېده... ځینې ســـوځېدلي، ځینې په مرمۍ یا برچې ټپیان، د نورو د بدن غړي ټوټې ټوټې او حتی دیارلس کسه د توپ په یوه چاودنه کې الوتي وو.

د کلا حاکم، د دوست محمد زوی حیدر خان د یوې دروازې پر سر په یو برج کې وموندل شو او وروسته له دې چې د ژوند تضمین یې وشو، خپله توره یې تسلیم کړه.[۹۶]

د سهار په ۹ بجو، مقاومت پای ته ورسېد او اوس د غنیمت وېش کارکوونکي په سیستماتیک ډول د لوټ شوو مالونو په راټولولو لګیا شـول چې د عسـکرو ترمنځ یې ووېشي. دغه کار پنځه ورځې ونیوې چې ټول لوټ شـوی مال راوباسـي. د میرزا عطا د لیکنو پر بنسټ: «دوی خپل ساتنځای ته ۳۰۰۰ د ترکي، عربي او ایراني نسل اسونه؛ ۲۰۰۰ کابلي، بلخي، بخاري او بغدادي اوښــان بوتلل او اصـفهاني او تهراني د تورو لاسـتي، په سـلګونو د پشـمینې کشـمیري شـالونه، په زرګونو د ممیزو، بادامو، مالګینې پسـتو، کوچو، وریجو او اوړو ډېرۍ او په زرګونو تومانچې یې راټولې کړې وې.» روڼ اندی میرزا عطا د غنیمت په څېزونو کې له یو څېز سـره چې د انګرېزانو ورته پام شـوی نه و، مینه درلوده: د کندهار مانۍ کتابتون - «په پارســي او عربي ژبه څو زره ګټور او بې جوړې کتابونه چې د ټولو علمونو، منطق، ادبي نقد، د قانون تیوري، فلسفې، نحوې او پښـوېي• په اړه وو.»[۹۷]

دا یوه لویه بریا وه: انګرېزانو د غزني نه ماتېدونکې کلا له لمړي ځل لیدو څخه ۷۲ ساعته وروسته تر خپل واک لاندې

• پښـوېي: ګرامر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوسته. همدا راز ۱۰۰۰ کسه یې ووژل، شاوخوا ۳۰۰ افغانان ټپي شول او ۱۵۰۰ کسه اسیر ونیول شول. برعکس، د انګرېزانو تلفات یوازې ۱۷ کسه وو او شاوخوا ۶۵ کسه ټپي شوي وو.[۹۸]

لکه څنګه چې وروسته ته ډیورنډ ورته اشاره کړې، دغه بریا یوازې د ښه بخت له وجې وه. په کندهار کې د کلابندۍ توپونو په پرېښودو او پرته له پوره اکمالاتو څخه د غزني په لور په ستنېدو سره، کین «لویه پوځي تېروتنه وکړه، خو لکه د انسان په پاملرنه او بصیرت باندې د ملنډو په توګه، جګړې کله کله داسې بېلګې رامنځته کوي په کومو کې چې تېروتنې په توکلي توګه د په زړه پورې او حیرانوونکې بریا وجه ګرځي. او دغه تېروتنې پورتنۍ خبره ثبوت کړه».[۹۹]

که انګرېزان له ټولو نیمګړتیاوو سره سره بریالي شول، خو افغانانو هم ځان و نه شرمولو. دوی خپله جنګي وړتیا وښوده او د دفاعیانو زړورتیا حتی په هغه وخت کې چې هر څه یې له لاسه تللي وو افسانې جوړې کړې چې سمدلاسه یې وده وکړه. میرزا عطا چې د نورو افغانو په څېر د وفادارۍ د اوښتنې احساس وکړ لیکلي چې ډېر خلک په دې باور وو چې وژل شوو ته پرښتې راغلې. ده لیکلي:

لکه د کربلا شهیدان، مړه غازیان پرته له قبر او کفن څخه د جګړې په ډګر کې پرېښودل شول او سره له دې چې پرهېزګاره مسلمانانو په مناسبه توګه د دوی د ښخولو غوښتنه په عاجزۍ وکړه، انګرېزانو اجازه ورنه کړه، خو د لوی خدای څخه شکر، د شپې په بهیر کې د شهیدانو ټول مړي تري تام شول او حتی د دوی د وینو یو ځاڅکی په ځمکه کې پاتې نه و. یوه بله عجیبه کیسه د یو غازي وه چې د کلا په یو برج کې درې ورځې پاتې شوی و او هر څوک چې نږدې ورتلل، غوځول او وژل به یې - د کمپنۍ ۷۰ عسکر یې ووژل، بیا ناڅاپه ورک شو - او هېڅوک پوه نه شول چې چېرته لاړ. د غزني کلا د ننه، د ځمکې لاندې ډېر تونلونه دي او انګرېزان څو میاشتې تر هغه وخته ورباندې خبر نه وو چې ویل کېږي شاوخوا ۸۰۰ بکرې نجونې او ماشومان، ۳۰۰ اسونه او ۵۰۰ نارینه افغانان ناڅاپه راښکاره شول او له کلا څخه لاړل. د یرغلګرو حتی یو عسکر هم هڅه ونه کړه چې دوی ودروي او یا وننګوي؛ نو بیا انګرېزي واکمني پر غزني خوره شوه.[۱۰۰]

دوست محمد ته په کابل کې د ۴۸ ساعتو څخه په لږ وخت کې د غزني د سقوط خبر ورسېد. ده ۳ میاشتې په هېواد کې د تر ټولو لوېې کلا په بیا رغونې او ټینګولو کې تېرې کړې وې، خو په ۳ ساعتو کې د کافرانو لاسته ولوېده. په راتلونکو څو ورځو کې دوست محمد ته نور بد خبرونه هم ورسېدل چې نه یوازې د ده باور یې زیانمن کړ بلکې د ده د ملاتړو هوډ یې هم کمزوری کړ.

لمړی او تر ټولو زیانمنوونکی خبر د ده ګران او تر ټولو اغېزمن زوی اکبر خان په اړه و. اکبرخان چې د خیبر د ساتنې او د وېښ او شهزاده تیمور د پرمختګ د درولو له پاره دوست محمد ګمارلی و، ناڅاپه ناروغ شوی و. داسې ګنګوسې وې چې زهر ورکړل شوي وو. هغه دوه ورځې د مرګ په مورګه کې پروت و. د افغان سرچینو پر بنسټ، دغه خبر تر هر څه ډېر د دوست محمد په روحیه اغېز وکړ: «کله یې چې خپل زوی، چې د ځیګر ټوټه یې وه، ولید، د غم درد یې زړه ټوټې ټوټې کړ او خپل سر یې د ناچارۍ پر لاسونو ووهلو».[۱۰۱]

د اکبر خان ناروغۍ بلاخره وېښ ته هغه فرصت ورکړ چې دی ورته سترګې په لار و. په دغه سربدالۍ کې ده پرېکړه وکړه چې پر خیبر د یو برید خطر په ځان ومني که څه هم دی وتوانېد چې یوازې له ۵۰۰۰ کسانو څخه لږ عسکر راټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او هغه هم داسې خلک چې د عسکرۍ وړتیا یې نه درلوده. د برید پر وړاندې نه یوازې ځایي افریدیو بلکې د محمد شاه خان قومي خلکو، د ببرک خیل غلزیو سخت مقاومت وکړ. محمد شاه خان د اکبر خان د ناوې چې په ښایست کې یې نوم درلود پلار و، خو د جولای په ۲۶مه وېد د خیبر د غاښې لاندې علي مسجد ونیو او لږ وخت وروسته یې د جلال اباد په لور، له کوم ځای څخه چې بې سېکه اکبر خان په بېړه په کټ کې بل ځای ته یوړل شو، مارش پیل کړ. په ۴۸ ساعتونو کې د غزني او علي مسجد سقوط نور ناراضه قومي خلک وهڅول. له کابل څخه ۳۵ میله بر په استالف کې تاجک کوهستانیان د دوی د مذهبي مشر، نقشبندي پیر او د پل خشتي جمات میراثي امام میر حاجي تر مشرۍ لاندې د بارکزیو پر ضد ودرېدل او خپل بارکزی والي، د دوست محمد مشر زوی سردار شېرعلي خان یې وشړلو. دوی په نوموړي پسې تر چاریکاره، چېرته چې هغه خپلې ودانۍ ته چې د ختو دېوالونه ترې چاپېر وو راغلل او دی یې هلته کلابند کړ،«د پانسي کړۍ یې په غاړه کې ورتنګوله ».[۱۰۲] په ځوانۍ کې کله چې دوست محمد د خپل مشر میرني ورور، فتح خان له پاره سیمه اداره کوله، ده دېر کوهستاني ملکان وژلي وو. کله چې وېد، میرحاجي ته د پیسو وړاندیز وکړ، میرحاجي خپل خلک د پاڅون له پاره وهڅول او د هغه غچ اخیستلو غږ یې پرې وکړ چې دوی شل کاله ورته تم وو.[۱۰۳]

دا چې له یوې خوا د غزني له لوري یو لښکر د کابل په لور د پرمختګ په حال کې و او له بلې خوا د جلال اباد له لوري بل لښکر او ها خوا کوهستانیانو پاڅون کړی و، د دوست محمد غوراوي په چټکۍ مخ په کمښت وو؛ نو د ده لمړنی غبرګون، د ماتې پر وړاندې د پښتون دودېزه ځواب، خبرې اترې و. د کابل په اشرافیانو کې نواب جبار خان تر ټولو دېر انګرېز پلوی و: هغه د برنز کوربه توب او د چارلس مسون د لرغون کیندنې مالي تضمین کړی و. همدارنګه، نوموړي خپل زوی لودیانې ته لېږلی و چې د وېد په ښوونځي کې په انګرېزي سیستم زده کړې وکړي. سربېره پر دې، د ویتکېویچ د لیدنې په بهیر کې ده هڅه وکړه چې خپل ورور د انګرېزي داعیې په ګټه وډوماري؛ نو جبار خان غزني ته له یوه وړاندیز سره ولېږل شو- شاه شجاع تخت ته بېرته راګرځېدی شي، خو په دې شرط چې د سدوزیو په پاچاهۍ کې دوست محمد د وزیر دنده ولري، هغه دنده چې د وراثت ادعا یې د لرلو حق ورکوي. هغه دا چې د ده میرنی ورور، فتح خان د شاه زمان وزیر و او پلار یې، پاینده خان د شجاع د پلار، تیمورشاه وزیر و. د پښتون په اند، دا د ستونزې یوه دودیزه او واضح د حل لاره وه، خو د انګرېزانو له خوا په حاکمانه ډول د دغه وړاندیز ردونې جبار خان ګځ ګول کړ. دی د خپل دویم وړاندیز په ردونې هم هک پک شو: «د خپلې خورځې/ ورېرې ورسپارل، د حیدر خان ښځه». لکه څنګه چې د یوه ځوان انګرېزي افسر ورته پام شو: «جبار خان له بریده وتلې د غوسې احساس وکړ.»[۱۰۴] خو یوازې موهن لال چې د پټ په اړه یې د افغانانو د مفکورې او انګېرنې په هکله اوږده تجربه درلوده، پوه شو چې دغه ردونه څومره لوی سپکاوی و. ده لیکلي:

دا هېڅ اړینه نه وه چې په داسې مهم وخت داسې ارزښتمن ملګری لکه جبار خان له لاسه ورکړل شي. ده په رښتیا هیله او پر موږ باندې باور له لاسه ورکړ. د خبرو اترو په ترځ کې چې موږ درلودې، کله چې موضوع د شاه شجاع الملک په اړه شوه چې موږ یې نوم په دېر درناوي واخیست، ده موسکا وکړه او استازي ته یې وویل: «که شاه شجاع رښتیا پاچا دی او د خپلو نیکونو سلطنت ته راغلی؛ نو ستاسې پوځ دلته څه کوي؟ هغه تاسې د خپل پوځ او پیسو په وسیله افغانستان ته راوست او تاسې له ده سره له هر اړخه دوستانه او لېبرال چلند کړی دی. اوس یې موږ افغانانو ته پرېږدئ او دی پرېږدئ چې که کولی شي پر موږ د واکمني وکړي.» موږ ته داسې سپینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې خوندورې نه وې... او ښــه نواب خان چې زموږ په ترخه چلند ناهيلی او خپه شــوی و، زموږ له کمپ څخه د جولای په ۲۹مه د غرمې په شاوخوا کې لاړ. ما ته وويل شـول چې زه نوموړی تر خپل حريم پورې بدرګه کړم. په لاره مو د څو ښځو چيغې واورېدې چې د غزني په کلا کې نيول شـوې وې، نواب خان ماته مخ کړ او سـر يې وښـورولو... د بېرته تګ په وخت کې، زموږ سـره د نواب د خبرو بنه ترخه وه[۱۰۵]

لکه څنګه چې خبرې اترې ناکامه شــوې، دوســت محمد ته يوازې يوه بله لاره پاتې وه: نوموړي خپل ملاتړي په هغه بن کې را غونډ کړل چې د تيمورشاه له نابشپړې مقبرې څخه چاپېر و. هلته يې يوه احساساتي وينا وکړه چې څو برخې يې تر اوســه شــته. هغه خپلو ملاتړو ته وويل: «تاسـې تېر ديارلس کاله زما نمک وخوړ، زما د اوږد مهاله مهربانی، ســولې او نېکمرغۍ په بدل کې له ما سره يوازې يوه نيکي وکړئ. ما ته د وياړلې مړينې توان راکړئ. د فتح خان له ورور سره ودرېږئ چې د پرنګي سـپيانو پر سـپاره لښـکر خپل وروسـتنی ګوزار وکړي. که چېرې په جګړه کې زه مړ شـوم، بيا تاسې په خپله خوښـه چې له شـاه شـجاع سـره څه کوئ هغه وکړئ.»[۱۰۶] دغه غوښـتنه له بشـپړې چوپتيا سـره مخ شـوه. مولانا حميد کشـميري په اکبر نامه کې د دې پوره بيان ليکلی دی چېرته چې دوسـت محمد د خپل مشـروعيت په اړه له خپلو ملاتړو سره خبرې اترې کولې. امير ادعا کړې چې د اسلامي قانون او عدالت اسـتازيتوب کوي، خو د ده پلويانو چې درنې تلې ته يې سـترګې وې، ځواب ورکړ چې يو مشـروع پاچا چې په سـر يې د پاچاهۍ تاج وي لمړی د وفادارۍ حق لري، نه امير؛ نو په دغه دليل يې د دوسـت محمد هغه خبره رد کړه چې له پرنګي کافرانو سـره د اتحاد له وجې شـاه شـجاع خپل قانوني خونديتوب له لاسه ورکړی. دوست محمد پوښتنه وکړه: «دا زمانه اوس څرنګه بدله شوه؟»

چې په سل ملکرو کې يو ملګری پاتې نه شو
چې نارينه د ښځينه په پرتله بې ايمانه شول
نو بيا د ښځو ايمان ولې په بد نوم يادېږي
زه وېرېږم چې هېواد به د پرنګيانو لاسته ولوېږي
او بيا به دوی خپل قانون، دين او مذهب دلته پلی کړي
د هېچا پت به بيا خوندي نه وي
نه به د چا په رېړه د رحم په سترګه کتل کېږي
دوی په ځواب کې ورته وويل: «اې د دغه غونډې مشره
موږ په دغه جګړه کې ستا مرستندويه نه يوو
ځکه چې د پاچا پر ضد پاځون خدای منع کړی دی
د امير او پاچا تر منځ ډېر توپير شته
موږ د ده پر ضد د تورې ايستلو ته زړه نه کوو
پرېږده، هر څه چې پېښېږي، پېښ دې شي »
امير ځواب ورکړ: «د پاچا اطاعت حق دی
که پاچا د شرعيت پر سمه لار روان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه داسې پاچا چې بې ایمانه شو
د ده اکاړي به په هېواد کې مصیبت جوړ کړي
اوس د کافرانو په مرسته
هغه له لوی پوځ سره ځان چمتو کړ
د احادیثو پر بنسټ، د کافرانو مرستندویان
نجس، بدکاره او کافرېږي
د دغسې نجس پاچا وژل برحق دي
له ده سره مرسته ناحقه او ناسمه ده»

دوست محمد ته د قزلباشو مشر، خان شرین خان ځواب ورکړ. دوست محمد قزلباشه مور درلوده او هیله من و چې دوی به د ده تر څنګ ودرېږي او د ده په پلوۍ به جګړه وکړي، خو لکه نورو خلکو دوی هم درنې تلې ته کتل.

چوپ شه [شرین خان ځواب ورکړ] دومره سپکې سپورې مه وایه
څکه چې نورهېڅ نه وي، موږ د پاچا نمک خوړلی
خپل بې ځایه ښاخ پرېږده، ستا د پلمو وخت تېر دی
ستا د غرور او لېونتوب وخت اوس تېر دی
کله چې شپه شوه، په ډېره ښاځمنۍ او ډېرې بدوردۍ
قزلباشان او نور چې د پانسي وړ وو
لکه بې ډاره غله، دوی خزانه چور کړله
ډېره شتمني یې په لوټ ځان سره یوړه
بیا د یوې شپې په ترخ کې لکه باد
والوتل چې له پرنګیانو سره یو ځای شي
د امیر، چې خپلو ځواکونو خیانت ورسره وکړ، زړه مات شو.
د ده ټول ملګري ده ته پردي شول
او خپلې داعیې ته په اندېښنو کې ډوب شو
لکه څنګه چې سعدي وایي: هرکله د چې ملګري درسره بد شول
له ډګر څخه د تېښته خپله بریا بوله
نو ده له خپل زړه څخه د جګړې ټول سوچونه وایستل
د وسلو، مهماتو څخه او هر څه چې ورته ګران وو
دومره یې واخیستل چې ځان سره یې وړلای شوی
بیا یې د تګ ډول ووهو او جنډه یې پورته کړه
دی د خپل قوم له ۱۵۰۰ کسانو سره ستون شو
د بامیانو له لارې خلم ته[۱۰۷]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوست محمد د تگ خبر انگرېزي کمپ ته د ۱۸۳۹ کال د اگسټ په ۳مه ورسېد. درې ورځې وروسته انگرېزي پوځ کابل ته خپل ځو میله پاتې مارش وکړ. له فېروز پوره له حرکت څخه ۸ میاشتې وروسته، د اگسټ په ۷مه انگرېزي پوځ چې شاه شجاع یې په سر کې و، بلاخره کابل ته ننوت. د شاه شجاع «ځلانده تاج پر سر، په غمیو پټ کمربند یې پر ملا او وښي یې پر لاسو وو». مېکناټن هم له شجاع څخه کم نه و. د ده پر سر انگرېزي «خولۍ وه چې د اوښمرغه په بڼکو ښکلې شوې وه او د ځنگ دواړه ژۍ یې پورته اړول شوې وې. شین دوه ټټریزه کوټ یې په تن و چې اوچته تنۍ یې درلودې، وړغندی• او لستوني یې گڼ گلدوزي شوې وو او د اوږو پر سر نښانونه یې په پرتم کې له مارشال څخه کم نه وو. د ده د پرتوگ ځنډو اوږده او سورووره زرینه فیته درلوده». دېرش کاله کېدل چې شاه شجاع د بالا حصار چې د کابل نږدې یو پر ځلورمه برخه یې نیولې وه، پر لوی کمر باندې خپله پرتمینه تیموري ماڼۍ نه وه لیدلې. د کابل واټونه په چوپه گڼه گوڼې ډک وو. کله چې شاه د دوی له مخې تېرېده، دوی به ودرېدل او کله به چې په شاه پسې انگرېزي مامورین دوی ته ور ورسېدل، بېرته به کښېناستل، خو د خوشالۍ چیغې نه وې. د جورج لارنس د خبرو پر بنسټ، کابلیانو [د شاه په راتگ] «خپله بشپړه بې پروايي وښوده او شاه ته یې د ښه راغلاست هېڅ کومه اشاره ونه کړه او نه یې د ده بیا واک ته په رسېدو کومه خوښي څرگنده کړه. د دوی زړونه او مینه په ښکاره له خپل مخکني واکمن سره وه چې اوس د هندوکش هاخوا لالهاند گرځېده.»[۱۰۸] یو بل ځوان افسر ویلي: «په پلازمېنه کې خپل تخت ته د یو شاه بیا راتگ د جنازې د بدرگې په څېر و.»[۱۰۹]

یوازې شاه خپله خوښي او احساسات څرگند کړل. جگړن هو لیکلي: «اعلحضرت مخکې او نور ورپسې ماڼۍ او بڼ ته ننوتل. په تېرو دېرشو کلونو کې ماڼۍ دومره زړه او خرابه شوې وه چې سپینږیري شاه په ژړا خپلو لمسیانو او کورنۍ ته د دغه ماڼۍ پخوانۍ ښکلا او پرتمین توب بیانولو.» په داسې حال کې چې د ماڼۍ لوړ پوړ ته په اشنا زینو کې ختلو، لاندې یې ولیدل چې کابل خپور پروت دی. دا چې د نوموړي خپل دېرش کلن خوب بلاخره رښتیا شو، روحیه یې جگه شوه: «کله به چې په ښایسته زینو کې پورته شو، دی به لکه ماشوم د ماڼۍ د شاهي استوگنځي له یو دالان څخه بل دالان ته په منډه شو او په اوچت غږ به یې له ماڼۍ سره بې پروايي او ورته اوښتې زیانونه چې هر ځای لیدل کېدل، غندل. ده په ځانگړې توگه له شش محل څخه د هیندارو په لیرې کولو خپل خپگان څرگند کړ».[۱۱۰] خو له ټولو دغه سرټکونو سره سره، شاه خوشحاله و. هغه بلاخره خپل کور ته راغلی و.

• وړغندی: چپه گردن


(c) ketabton.com: The Digital Library



His Majesty Shah Shoojah-ool-Moolk

شاه شجاع د احمد شاه ابدالي لمسی او د سدوزي قبيلې مشر د خپل نيکه پر پاتې امپراتوري يې په ۱۸۰۳ کال کې واکمني پيل کړه. نومورې ليکلي: «دغه زمور نيت و چې له هغه شېبې څخه چې په تخت کښېناستو، مور به پر خپل رعيت په عدالت او مهربانۍ حکومت کوو او دوی به زمور د خوندي وزرو لاندې په خوښۍ ژوند کوي.» د ده له واکمنۍ شپږ کاله تېر شوي نه وو چې بارکزي دښمنانو يې ماته ورکړه او تېښتې او بيا په هند کې تبعيد ته اړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد خان د پلار
اتلسم زوی و چې له یوې
تیټ پوړې ښځې څخه یې
زیږېدلی و. دا د ده خپله
بېرحمه چالاکي او اغېزمنتیا
وه چې دی یې واک ته
ورسولو. دوست محمد کرار
کرار خپل واک تر هغه
وخت پورې مضبوط کړ چې
په ۱۸۳۵ کال کې یې د
سېکانو پر ضد جهاد اعلان
او خپل ځان یې په رسمي
توګه امیر اعلان کړ



(c) ketabton.com: The Digital Library





اکبرخان (پورته او ښی خوا
ته) د دوست محمد ( لاندې
انځور ) په زامنو کې تر
ټولو هوښیار او اغېزمن و.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د افغانستان خلک



د کافرستان یوه کورنۍ (کیڼ پورتنی انځور)، یو خروټی غلزی (ښی پورتنی انځور) او (لاندې) د اسونو پښتانه سوداګر. افغانستان یو داسې هېواد و چې په قومي، توکمي او ژبني ژورو درزونو وېشلی و.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دري افغان درباري اسوال
چې په ۱۸۰۹ کال کې د
الفنستون په ماموریت کې یو
ارټیېست انځور کړي دي.





یو دراني ښاغلی




(c) ketabton.com: The Digital Library






رنجیت سینګ، سیک ټول واک او د دوست محمد سخت دښمن چې په پنجاب کې
یې یوه ځواکمنه پاچاهي جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنجیت سېنګ، «د پنجاب زمری» او د ده اشرافیان




سیک اسوال




د رنجیت سېنګ د مدرن فوج خاص د
لوا دوه پلي عسکر. دغه لوا د ناپلیون
پخوانیو افسرانو روزلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لویې لوبې لوبغاړي




اډوارډ لارډ الېنبوره لمړی اېرل (اېرل اعزازي لقب دی. ژباړن) لمړنی کس وو چې د روسیې په هکله یې اندېښنې په عامه پالیسۍ بدلې کړې. ده په خپله یادلیکچه کې لیکلي: « په اسیا کې زموږ پالیسي باید یوازې یو تګ لوری ولري او هغه د روسیې د واک محدودول دي.»



مکنېل په ایران کې د برتانیې روس کرکجن سفیر و چې دغه استونې یې « روسیې په رسمي توګه د کابل سره دیپلوماتیکي اړیکي پرانیستي» انګرېزان دې ته قانع کړل چې دوست محمد باید له واک څخه لیرې او پر ځای یې بل څوک کښېنول شي. نوموړي د مشورې په توګه داسې لیکلي: « لارډ اکلنډ باید یو پتېیلی تګ لوری ونیسي او اعلان وکړي چې هر هغه څوک چې زموږ سره نه دي، نو زموږ پر ضد دي. موږ باید افغانستان خپل کړو.»




سېر کلاډ وېډ په بنګال کې زېږېدلی یو پارس پوه او د لویې لوبې یو له لمړنیو او اصلي څارګرو مشرانو څخه و. لویه لوبه د امپراتوریو د جاسوسۍ او فتحو هغه لویه سیالي وه چې برتانیې او روسیې په دغه پېر کې پیل کړه او تر هغه وخت پورې په کې بنکېل وې تر څو چې د دوی اسیایي امپراتورۍ ونړېدې.




جګړن الدرېډ پاتېنګر د وېډ لوی سیال هنري پاتېنګر وراره/خورېږ و چې د مسلمان او د اسونو د سوداګر په جامه کې هغه وخت په هرات کې و کله چې د قاجار پارسي لښکر پر هرات یرغل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د لويي لوبې سکاټلندی اجنټ الکساندر برنز
په دغه انځور کې يې په افغانستان کې افغاني
جامې اغوستې دي. ده تل سرټکاوه چې دغه
نومور انځور هېڅ ده ته ورته نه دی



موهن لال کشميري د الکساندر برنز نامتو
هندي مرستيال او د څارګرې ادارې مشر و
چې د هر انګرېز په پرتله د افغانستان په
هکله ډېر پوهېده. تر هغه وخت پورې چې
انګرېزانو د ده مشورو ته غوږ نيوه، هر څه
سم مخته روان وو.



ايون ويتکېويچ يو ځوان پولندی اشرافي و چې
د قزاق په شاګيو کې د خپل تبعيدي ژوند په
بهير کې د هغه ترکيک کلتور سره مينه پيدا
کړه چې سيمه يې اوس د ازبکستان، قزاقستان
او تاجکستان په هېوادونو وېشل شوې. دی تر
ټولو وړ څارګر و او د دې توان يې درلود
چې برنز ونګوي. دغه جوړې وروسته له
دې چې ډېره موده د يو او بل په پله روان
وو، د ۱۸۳۸ کال د کرېسمس په ماښامنۍ کې
يې په کابل کې سره وليدل



هنري لارنسن د سپېدو په نيمه رڼا کې
تصادفي د ويتکېويچ له قزاقانو سره هغه
وخت مخ شو چې د پارس او افغانستان په
پوله کې يې لاره ورکه کړې وه. له مشهد
څخه تهران ته پر اس باندې نومورې په
ريکارډ ماتوونکې مزل وکړی شول چې
افغانستان ته د روسي پټ ماموريت خبر
ورسوي. لارنسن د انګرېزي اشغال په بهير
کې په کندهار کې سياسي اجنټ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الکساندر برنز یو تکړه سکاټلنډی څارګر افسر و. دی ختیځ ته ولېږل شو چې د یو داسې ګوابښ په هکله مالومات راټول کړي چې هېڅ نه شته و. کله چې ختیځ ته د خپل یون په اړه لیکلی کتاب یې نوموړ شو، روسان چې د دغه کتاب فرانسوي ژباړه یې ولوسته وهڅېدل چې دوی هم د څاکریزه مالوماتو په راټولولو پیل وکړي؛ نو ویتکېویچ یې لمړی بخارا او بیا کابل ته ولېږه چې له امله یې په لندن کې د جګړه پالو بدګمانۍ هغه ګوابښ رامنځته کړ چې ډېره وېره تری کېده؛ نو په دې توګه لویه لوبه وزیږېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته سېر ویلیم هې مېکناټن د خپلو نومورو کمرنګه شنو عینکو سره لیدل کېږي. دی د السټر Ulster یو په کتاب مین پخوانی قاضي و چې له محکمې څخه یې د کمپنۍ د اداري چارو مشرۍ ته وده وکړه. نوموړی د اکلنډ یو روس کرکجن او په پروتوکول مین سیاسي سکرتر شو. د برنز د چټکې ودی سره حسادت دې ته وهڅاوه چې د هغه نظریې ملاتړ وکړي چې شاه شجاع یې د دوست محمد ځای ناستی کولو. دا هغه نظریه وه چې برنز یې په کلکه مخالفت کولو. دغه دوه کسان چې هېڅ کله یو بل سره جوړ نه شول، په افغانستان کې د یوې ناکاره اداري مرکزي برخه وګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایډن کورنۍ



ایملي ایډن د لارډ اکلنډ یوه بکره خور وه. نوموړې په هند کې د انګرېزي واکمنۍ د ځینو ټوکماره او بوږنوونکو لیکونو لیکواله هم وه.



جورج ایډن لارډ اکلنډ د انګرېزي هند لوی والي یو هوښیار خو ځان راضي سړی و چې د هند په هکله یې لږ پوهه درلوده.

لارډ اکلنډ د مېکناټن او وېډ په چاڼ شوو څارکرېزه راپورونو ډېره ووهله؛ نو په دې کې پاتې راغی چې له سیمې څخه د برنز سمو او رښتیا استونو ته پام واړوي او دې ته قانع کړل شو چې دوست محمد د انګرېزانو ضد دریځ لري. د نوموړي خور ایملي لیکلي: «ګران او خوارکی سوله من جورج په جګړه کې ځان ښکېل کړ. دا د ده د کرکټر سره په ټکر کې دی.»



(c) ketabton.com: The Digital Library

سدوزي



د ۱۸۳۸ کال د جولای په میاشت کی مېکناټن په لودیانی کي د شاه شجاع دربار ته لاړ او د ده سره یې ولیدل. شاه شجاع ته یې په لنډه توګه خبر ورکړ چې له ډېرش کلن تبعید وروسته به دی د انګرېزانو په مرسته بیا پر تخت کېنېنول شي.



په تبعید کي د شاه شجاع دربار. له کیڼي خوا څخه ښي لوري ته: شهزاده تیمور، شاه شجاع، شهزاده صفدرجنګ او ملاشکور اسحاقزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جګړې ته تیاری



د بنګال بومي پلې قوا دوه سپاهیان



د باجوړ یو تورټوپکوال



د کابل پلې پوځیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېز-هندي د اباسين پوځ د ختيځ په لور روان دی



د سکېنرز هارس اسواله قوا جګړې ته ستنه ده

۵

# د جهاد جنډه

د ۱۸۳۹ کال د مې د اتمې په سهار چې شاه په بریا د کندهار له دروازو تېربده، د پاکارۍ یوې مېرمنې یو څه د پاسه دېرش کلن سړی مړ وموند. دغه مړی د سن پیټرزبورګ په ورانو فرعي واټونو کې د پاریس مېلمستون د پاسني پوړ په یوه کوټه کې شوی و. داسې برېښېدل چې دغه سړي په ځان پسې ور کولپ کړی و او بیا یې خپل ماغزه په ډز باد کړي وو.

د پېښې لنډ او له احساساتو څخه تش یو نوټ د مړي تر څنګ پر یو مېز پروت و چې داسې په کې لیکل شوي وو:

داسې څوک نه شته چې زما د برخلیک پروا ولري؛ نو ما ته د دې ویل بسنه کوي چې زه په خپله خوښه خپل ژوند پای ته رسوم. لکه څنګه چې زه اوس مهال د بهرنیو چارو د وزارت په اسیايي څانګه کې مامور یم، زه په عاجزۍ له نوموړې څانګې څخه بیړنۍ غوښتنه کوم چې د ارنبورګ له غونډ څخه زما دوه کلنۍ تنخوا په لاندې توګه ووېشي: ۱. د افسرانو د یونیفورم د توکو د پارچې ادا کول چې په ټوله کې شاوخو ۳۰۰ روبله کېږي؛ ۲. ۵۰۰ روبله، درزي مارکوویچ Markevitch ته د هغه کمیس له پاره ورکړئ چې ما فرمایش ورکړ خو وا مې نه خیست؛ ۳. زما چوپړیال دیمتري Dmitry ته اجازه ورکړئ چې له هر هغه څه څخه چې زه یې اوس لرم کار واخلي. ما د خپل مخکني یون ټول کاغذونه وسوځول؛ نو د دوی د موندنې له پاره د لټون ټولې هڅې به بېځایه وي. ما د پاریس مېلمستون له څښتن سره حساب د مې تر اووم پرې کړی، خو که هغه کومه بله غوښتنه ولري، زه له څانګې څخه په عاجزۍ هیله کوم چې له پورتنیو پیسو څخه یې غوښتنه پوره کړي. د ۱۸۳۹ کال د مې ۸ سهار درې بجې.. ویتکېویچ.[۱]

د ایون وېکتورویچ ویتکېویچ د داوستویفسکي* Dostoyevskian مرګ په هکله هېڅ کومه خبره نه شوی توجیه کېدای او کابو له هغه شپې وروسته چې مړی یې وموندل شو، د روسانو د لوبې لوبې د لمړني اجنټ د مرموزه مړینې په هکله ګنګوسې پیل شوې. انګرېزانو دا د تزاري مطلقه واکمنۍ د هغه استبداد او بې رحمۍ ګواهي بلله چې دوی ترې وېره درلوده. ویتکېویچ په وحشیانه توګه له خپل پلرني هېواد څخه په ۱۴ کلنۍ په جزايي توګه په شاګۍ کې لیرې پرتې اډې ته ولېږل شو. بیا، کله چې د ډېرو سختیو له ګاللو سره سره، ده خپل ځان ته وده ورکړه، یو تکړه ځارګر ترې جوړ شو، پر خپل سیال، برنز برلاسی شو او بارکزي یې خپل کړل، روسي مشرانو یې په بې رحمۍ له ده سره د تړاو څخه انکار وکړ او ویې شړلو.

په سن پیټرزبورګ کې انګرېزي سفیر، پامرستن ته ولیکل: «ویل کېږي چې د ویتکېویچ د مړینې وجه دا وه چې د دې پر ځای چې انعام او ترفیع ورکړل شي لکه څنګه چې ده یې تمه درلوده، روسي دولت په افغانستان کې د ده له بېسارو

*داوستویفسکي یو روسي لیکوال و. دلته د ویتکېویچ مړینه داسې ښودل شوې لکه هغه مرموزې مړینې چې د داوستویفسکي په داستانونو کې راغلې. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړنو څخه انکار وکړ.»[۲] د روسـيې د مهاجرينو او جلاوطنۍ د ادارې پر بنســټ چې ســـر جان کې Sir John Kaye د ۱۸۴۰مو کلونو په پای کې په دې اړه اريکه ورسـره ونيوه، ويتکېويچ پلازمېنې ته «راورسـېد او په ښـه توګه د ورسـپارل شـوې دندې د ترسره کولو په بدل کې يې ډېرې هيلې درلودې». خو کونټ نېسلروډ د ده له ليدو څخه انکار وکړ او کله يې چې ځان وزارت ته ور وپېژندو، ده ته د ننوتو اجازه ورنه کړل شـــوه. وروســـته کونټ يو پيغام ولېږه چې «پرته له يو ګرځندوی څخه چې نوم يې ويتکېويچ و، په دغه نوم بل څوک نه پېژني او د راپورونو پر بنسټ، دغه ګرځندوی پرته له دې چې صلاحيت ورکړل شي، په خپل سر په کابل او کندهار کې په ځينو دسيسو کې ښکېل و». ويتکېويچ «سمدلاسه د دغه پيغام په خورا ناوړه مانا پوه شـــو ځکه چې نوموړی د خپل دولت په کرکټر ښـــه پوهېده». لکه څنګه چې هغه پوهېده چې پر افغانســـتان باندې د انګرېزانو په ظاهراً بريالي يرغل کې، برنز نوموړی چک او مات کړی و، اوس «په وضـاحت پوه شـــو» چې ســـرېږه پر پورتنۍ ماتې، دی هغه سـياســتوالو«قرباني کړ» چې ده يې په پوره ايمانداری او اغېزمنتوب چوپړ کړی و.[۳]

په بخارا کې انګرېزي اجنټ او خبر ليکونکی، نظير خان الله، په جلا او ازاده توګه د پورتنۍ څرګندونې پخلی له منځنۍ اسـيا څخه په يوې پټې اسـتونې کې کړی دی. ويتکېويچ دا احسـاس وکړ چې مشـرانو يې خيانت ورسـره وکړ. دوی له بارکزيو سـره د پوځي مرسـتې په ژمنه کې پاتې راغلل او بارکزي يې انګرېزانو ته يوازې پرېښـودل. نظير خان خپل مدير، برنز ته ليکلي: «يو روسـي اجنټ چې زما اشـنا دی ووېل، کله چې ويتکېويچ له کابل څخه روسـيې ته راغی، روسـي اړوند ادارو ته يې ووېل چې دوی ته يې ګڼ شـمېر داسـې ليکونه ولېږل چې د پوځي او مالي مرسـتې غوښـتنې يې په کې کړې وې، خو دوی هېڅ ځواب ور ونه لېږه چې له کبله يې د ده کار وځنډېد او دی يې په کابل او کندهار کې دروغجن وښـــود؛ نو ځکه يې د بې عزتۍ احســـاس وکړ او کله يې چې له ســـن پيټرزبرګ څخه ځواب ترلاســـه کړ، خپل ځان يې وواژه.»[۴]

خو د ډېرو روســـي کتونکو په اند، د ويتکېويچ پر مرموز مرګ او د افغانســـتان په اړه د ده د اســـنادو پر مشـــکوکه ورکېدنه د انګرېزانو د ناولې لوبې ټاپې لګېدلې او دا څرګنده وه چې د ويتکېويچ په کاغذونو کې په منځنۍ اسـيا کې د انګرېزي څارګرو او خبري شبکو په اړه چې نوموړی په بريا ورننوتلی و، په تفصيل مالومات نغښتي وو. د اسيايي څانګې مدير، ايل جي سينياوين L G Sinyavin په دې اړه ليکلي:

د دې پر ځای چې اســناد موږ ته وســپاري، ويتکېويچ ټول وســوځول. په دغه اســنادو کې ډېرې داسـې کتنې وې چې له ده سـره يې د افغانسـتان د وضـعيت په اړه د راپور په جوړولو کې مرسـته کړې وه او همدا راز له ده سـره په افغانسـتان کې بېلابېلو کسـانو ته د انګرېزي اجنټانو د استونو کاپي وې. د نوموړي د پام وړ استعداد ته او په څار او کتنو کې يې وړتيا ته په کتو سره، موږ پوره باور لرو چې دا ټول اسناد به اوس موږ ته ډېر ارزښتمن او کټور مالومات وای. هغه څه چې ده په شخصي توګه ما ته بيان کړي، څرګند دي.[۶]

ټولو پورتنيو څرګندونو دغه ګنګوسـې ته لاره خلاصـه کړه چې د ويتکېويچ وژنه د انګرېزي اسـتخباراتو د اجنټانو يوه پټه کړنه وه. ځکه چې د ويتکېويچ د ځان وژنې له پاره هېڅ دليل نه و- په دې هکله د روســـيې د رســـمي څرګندونو پر بنسـټ - ده ته په عزت ښـه راغلاسـت وشـو، ورته وويل شـول چې مډال به ورکړل شـي او د مړينې په سـهار يې د تزار نيکولس ۱ Tsar Nicholas I سره د ليدنې وخت درلود؛ نو د خپل ژوند د جلال په شـپه کې به ولې يو سړی ځان وژني؟ ســـينياوين هک پک و. نوموړي په ارنبورګ کې د ويتکېويچ ملاتړي، پېرافســـکي Perovsky ته وليکل: «ويتکېويچ يوازې اته ورځې مخکې سـن پيټرزبورګ ته راورسـېد. وزارت په ډېره ښـه بنه ده ته ښـه راغلاسـت وويل او د مړينې په شـپه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو راپور راورسېد چې ګارد ته دې بدل کړل شي. سربېره پر دې، ترفېع، اعزاز او پيسو ته هم نومول شوی و.» سينياوين دوام ورکوي:

له ده سره زما د ليدنې په ترڅ کې، ما ستا يادونه وکړه چې څومره پرې پام کوې. کله چې تاسې واورېدل چې دی خبوې ته تللی و او هلته ووژل شو [چې درواغ وو] تاسې څومره غمجن وی او مخکې له دې چې لاړ شي، د داسې ستونزمن يون په بدل کې تاسې په ځانګړې توګه ما ته سپارښتنه وکړه چې يو مناسب انعام ورته برابر کړم. هغه ډېر راضي او خوښ ښکارېده او له مړينې څخه يې يوه ورځ مخکې ما په تياتر کې وليد چې ټول ماښام يې له شهزاده سالټيکوف Prince Saltykov سره بنډار کولو. د همغې ورځې په نيمايي کې چې شپې ته يې مړ شو، دوی بيا نوموړی خوشحاله وليد. ماښام ته يې له کونټ سيمونيچ سره وکتل... دا ډېره عجيبه ده.[۶]

د همدغه روسي څرګندونو پر بنسټ، ويتکېويچ سن پيټرزبورګ ته د خپل ټول يون په بهير کې خوشحاله و. په ارنبورګ کې د ويتکېويچ ملګری، کې بک K Bukh وايي چې څرنګه هغه سهار دوی سره يو ځای شول او «په ټاپو کې پر اس چکر ته لاړل»، بيا يې د کمېنوسټروسکي په تياتر کې يوه ننداره وليده. بک ليکلي: «په ويتکېويچ کې د خپګان هېڅ نښې نه ليدل کېدې. د غمجنې مړينې په شپه يې زه د ليدو له پاره ورغلم. دی د جرمني په يوه خبرپاڼه کې د کومې مقالې په اړه چې له ده څخه په کې يادونه شوې وه، ډېر خوشحاله و. ما ته يې د ژوند شتمني، خپل ټوپک او تومانچې وښودې چې په ختيځ کې يې پېرودلې وې. هوټل ته د تګ پر وخت خوشحاله و او غوښتنه يې وکړه چې په نهو بجو ويښ کړل شي.»

د ځان وژنې عجيبه لنډ او وچ وصيت يې هم ګونګوسې وزېږولې: ولې په وصيت کې يې د مور، ورور او يا د کوم ملګري يا همکار يادونه نه وه شوې؟ لمړنی کس چې خپل شک يې په ليکلي بڼه ښکاره کړ، تزار پوځي تاريخپوه ايم اې ټرنټييوف M. A. Terntyev و. هغه ليکلي: «پلټنې هېڅ پايله نه درلوده، خو په دې باور ګران دی چې يو سړی چې ډېر زيار يې وايست چې په خپل رسمي ژوند کې وده وکړي، د خپلو لېوالو هيلو له ترسره کېدو څخه يوازې يوه شپه مخکې هر څه ته نه وو ايي... ډېرو په دې مرموزه پېښه کې د انګرېزانو په ښکېلتيا شک کولو... له انګرېزانو څخه پرته بل چا د ويتکېويچ له اسنادو سره ناټ درلود؟ له انګرېزانو څخه پرته د برنز په ناکامۍ څوک زيانمن شول او څوک پر ويتکېويچ په غوسه وو؟ د ويتکېويچ مړينې موږ د افغانستان په اړه له مهمو څارګريزو مالوماتو څخه بې برخې کړو. کوم ټرون چې ده له دوست محمد سره لاسليک کړی و هم ورک شو.» د پېښو دغه څرګندونې د سړې جګړې په پير کې د لوېې لوبې تاريخپوه، ان اې خالفېن N. A. Khalfin، بې اړنګه خوښېدې. هغه پوښتلي: «نو بل به څه و؟ يوه وژنه، چې د سن پيټرزبورګ په زړه کې د يوه بهرني قدرت په دستور ترسره شوه؟»[۷]

خو د پاريس په مېلمستون کې د پېښو په اړه دريمه څرګندونه هم شته چې د ويتکېويچ په پلرني هېواد کې په ټولېز ډول باور ورباندې کېږي او ښايي ډېره رښتيا وبرېښي ځکه چې په ارنبورګ کې د ويتکېويچ د يو همکار د وينا پر بنسټ، له مړينې څخه يوه شپه مخکې ويتکېويچ - يا جان پراسپر ويتکېويچ - چې پولنډي ملګرو يې په دغه نوم پېژانده، په تياتر کې د ويلنيس Vilnius له يوه پخواني ملګري، توشکويچ Tyshkevitch سره مخ شو. دغه ملګري يې دی په ځاځ تر نيوکې لاندې ونيو او ورته وې ويل چې دی يو وخت د خپل پلرني هېواد له پاره د ځان قربانۍ ته حاضر و، خو اوس يې خپل ټول ابډيالونه هېر کړي او د ځانغوښتنې په پار يې خپل تر ټولو ګران اصول پرېښي دي. د دغه سرچينو تر ټولو لمړني نوټونه د ډګروال پي ای سنګوروف P. I. Sungurov دي. نوموړي په ارنبورګ کې دېرش

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاله چوپړ کړی و او ویتکېویچ یې ښه پېژانده. د سنکوروف د لیکنې پر بنسټ، له تیاتر څخه وروسته ویتکېویچ بېرته مېلمستون ته لاړ چې خپل کاغذ او بېلابېل نوټونه سره راټول کړي او له تزار سره سبا ته د لیدنې تیاری ونیسي. د شپې ناوخته توشکویچ د ویتکېویچ کوټې ته د ده د لیدنې له پاره لاړ. د کوټې ور یې وټکولو، ویتکېویچ په خپله کوټه کې ناست او ژورنالونه او کاغذ یې شـاوخوا پراته وو. د خپلو یونو، روسـانو ته د خپل لوی چوپړ او همدارنګه د خپل راتلونکي ځوبمن• رسـمي ژوند په اړه د ویتکېویچ خبرو د توشـکویچ ځاځمن ځواب وپارولو: «ته وشـرمېږه، پن ویتکېویچ... ته د خپل ماموریت په اړه داسـې خبرې کوې لکه چې یوه سـپېڅلې لاسـته راوړنه وي.. ته چې له غلامۍ څخه د خپل پلرني هېواد د ازادولو له پاره د خپل ژوند، شـتمنۍ او موقف قربانۍ ته حاضـر وې... اوس غلامۍ ته د خپلواکو ملتونو په اړ ایستلو کې مرسته کوې. تا چې له جاسوسانو او خاینانو څخه کرکه درلوده، اوس په خپله له دوی څخه یو شـوې...» توشکویچ چې خپل ملګري ته له سبق ورکولو څخه خلاص شو، ویتکېویچ پرېوتو، غونج، ګروم او خپه شو او له ځان سـره یې په پس پسي وویل: «خاین، هو، خاین. بلا دې په ټولو پسې شي.» وروسـته له دې چې توشـکویچ لاړ، پښـېمانه ویتکېویچ سمدلاسه اور بل کړ، خپل کاغذونه یې وسوځول، د کوټې په غولي کې یې له بکس څخه تومانچه راواخېسته په خوله کې یې ونیوه او ورپسې یې ماشه کش کړه.[8]

روحي خپګان یا د وېکتوریایانو خبره مالیخولیا چې شـرم او د ګناه احسـاس وزېږوله او د ویتکېویچ د مرګ وجه شـوه، همغه څرګندونه وه چې د ویتکېویچ یون ملګري، ایون بلرمبرګ Ivan Blaramberg سـمه بلله. نوموړی له ویتکېویچ سره وروستی څو میاشتې یو ځای و. ده په خپل یادښت کتاب کې لیکلي:

د اپرېل په میاشـت کې موږ د خپل ملګري د ځان وژنې خواشـینوونکی خبر ترلاسـه کړ. دا د داسـې ځوان له پاره د ژوند غمجن پای و چې ښـایي زموږ د حکومت له پاره نور هم ګټور وای ځکه چې ده یې توان، استعداد او ټولې هغه اړینې وړتیاوې درلودې چې په اسیا کې یې د الکسـاندر برنز په رول کې ولوبوي. پارس ته زموږ د یون او اسـتوګنې په بهیر کې به د ده ډېر وخت طبیعت خراب و او ویل به یې چې له ژوند څخه یې زړه تور دی. یو ځل یې جاغورلرونکې بېرټرنی Bertran تومانچې ته اشاره وکړه او ویې ویل: «په دغه تومانچه به زه یوه ورځ خپل ماغزه والوزوم.» ده همداسې وکړل او په همدغه تومانچه یې د ژور خپګان په شېبو کې ځان وویشت.[9]

د ویتکېویچ ځان وژنه، افغانسـتان ته د شـاه شـجاع د بېرته راتګ یوازې یوه له ډېرو پراخو او ناوړه پایلو څخه وه. په ارنبورګ کې د ویتکېویچ اتل، کونټ پېرافسـکي هوډ درلود چې په منځنۍ اسـیا کې به روسـان د انګرېزي دسـیسـو په وسیله له صحنې څخه نه ایستل کېږي. وروسته له دې چې پر افغانستان باندې د انګرېزانو د یرغل هوډ څرګند شـو، پېرافسـکي سـمدلاسـه د ترکمني خاناتې خېوې د اشـغال په هکله د ملاتړ خپلولو له پاره هڅې پیل کړې چې د روسـې پرسـتیژ بیا ژوندی کړي. دا هغه څه وو چې نوموړي له ۱۸۳۵ کال راهیسـي پرې ټینګار کولو. د خېوې خلکو به هغه مزدور بزګران له ډېرو کلونو راهیسـي پېرودل چې قزاقانو د روسـې له پولې تښـتول او مرېتوب ته یې اړ ایسـتل. په

• ځوبمن:له هیلو، لېوالتیا او ناټ څخه ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځنۍ اسـیا کې انګرېزي پرمختګ، پېرافسـکي ته هغه پلمه جوړه کړه چې ده یې د خپل یرغل پلان د عملي کولو له پاره هیله کوله. نو په سـن پیټرزبورګ کې یوه کمېټه جوړه شـوه چې د نوموړي وړاندیز وڅېړي. دوی پرېکړه وکړه چې دغه یرغل به «په منځنۍ اسـیا کې د روسـیې نفوذ مضبوط کړي، د خېوبانو له جزا څخه پخوانی معافیت به کمزوری کړي او په ځانګړې توګه، په سیمه کې به د انګرېزي دولت د هغه هڅو ثبات مات کړي، چې زموږ د صنعت او سوداګرۍ په زیان خپله برلاسي پراخه کوي. نو دغه ټکو ته په کتو سره، کمیټه په بشپړه توګه د وړاندیز پلي کول اړین بولي».[۱۰]

په عین وخت کې، په لندن کې خوښي وه چې د ملکې ویکتوریا د پېر لمړني پوځي عملیات پرته له ډېرو هڅو په بریالۍ توګه ترسـره شـول. د لندن په ټولنه کې یوې نوې چابکې نڅا ته د «غزني یرغل» نوم ورکړل شـو او د دغه موسـم ډولي نڅا وګرځېده.[۱۱] ځواني ملکې ته یې سـیاسـتوالو ډاډ ورکړ چې اوس څوک د ختیځ څښـتن دي، روسـیه که برتانیه؛ نو نوموړې په خپل یادښـت کتاب کې ولیکل چې دغه یرغل «پر منځنۍ اسـیا باندې د واکمنۍ له پاره یو ګام و». له هغه ورځې څخه چې شـاه شـجاع بالاحصـار ته بېرته راوګرځېد، د برتانیې صـدراعظم د افغانسـتان اصـلي پاچا مېکناټن ګڼلو[۱۲] او حکومـت هم مېکنـاټن، وېډ او کین د بـارونېـټ Baronet او اکلنـډ د اېرل Earl پـه لـقـب ونـازول. ها خوا، د جګړې د بهیر ښه ترسره کېدل شېملې ته سکون وروباښه. ایملي ایډن لیکلي: «د بریا د لمانځنې په ویاړ د لوی والي مېلمستیا په بریالیتوب ترسره شوه، په شېمله کې چې څوک مېشت وو، ټول راغلي وو. په رڼو پلاستیکونو د غزني د نیونې انځورونه کښـل شـوي وو او اکلنډ په هر لوري کې د ګلانو طاقونه او په ګلانو پوښ برنډې جوړې کړې وې. عالي جناب ته د قطعو یو مېز هم اېښودل شوی و.»[۱۳]

په کابل کې هم لمانځنې وې، لږ تر لږه د سـدوزیو د شـاهي ملاتړو او د هغه چا په منځ کې چې له اشـغال څخه یې ګټه پورته کوله او ترفیع یې کولې. شـاه شجاع په بالاحصـار کی مېشـت شـو او خپل زوړ دربار یې بېرته جوړ کړ. په لودیانه کې خپل وفادار مرستیال، ملا شکور ته یې د اداري د ریاسـت څوکۍ ورکړه او خپل اوږد مهاله اتل، وېډ یې راوغوښـت چې یوه ځانګړې اعزازي چپنه ورکړي. په ناسـته کې راټول شـوو اشـرافیانو ته یې د افغانسـتان له پاره د یو نوي او تازه پیل اعلان وکړ: دی به خپل دښـمنان وبښـي او له انګرېزانو سـره به د خپلو ژمنو درناوی وکړي. انګرېزانو په داسـې وخت کې د ده پالنه وکړه چې ده هر څه له لاسه ورکړي وو.د نوموړي وفاداره ژوند لیک لیکونکي په دې اړه لیکلي:

اعلحضرت به ډېر ځلې ویل چې دی د انګرېزانو دېرش کاله مېلمه و او له دوی څخه یې پرته له مهربانۍ او درناوي بل څه نه دي لیدلي؛ نو دا د دې غوښتنه کوي چې نه یوازې دی بلکې د ده وارثان او راتلونکي نسلونه دوی ته په بشپړه توګه وفاداره وي. ده خپله قضیه له امپراتور همایون سره پرتله کوله. نوموړي په ایران کې د صفویانو دربار ته پناه وړې وه او د خپلې پاچاهۍ په بېرته ترلاسه کولو کې یې مرسته ترلاسه کړې وه. شجاع په دربار کې له عامه خلکو سره په لیدنه کې په زغرده وویل چې هغه بارکزي خانان به وبښل شي او مال به یې بېرته ورکړل شي کوم چې خپل کورونه یې پرېښي او تښتېدلي که چېرې دوی بېرته کابل ته راشي: ځیني داسې خلک لکه نواب زمان خـان، زامن، ورونـه او ټول خپلوان او تېروال یې لـه دغـه بیـا پخلاینې وړانـدیز څخـه ګټـه پورتـه کـړه او دوی تـه بېرتـه خپـل پخواني موقفونه ورکړل شول.[۱۴]

په عین حال کې انګرېزي عسـکر او سـپاهیان په خوښـۍ د مانۍ چاپېر په پانړېژه بنونو او د کابل په باغونو کې چې له مېوو څخه ډک وو ګرځېدل او نور به «ډله ډله کله دلته، کله هلته پر اسـونو سـپاره تلل چی د هغه عجایبو لیدنه وکړي چې دوی ته یې په هکله توضـېحات ورکړل شـوي وو».[۱۵] دوی له دوسـت محمد څخه کابل داسـې وخت ونیو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار د ښېرازۍ په اوج کې و او ۷۰۰۰۰ خلک په کې مېشت وو. په ۱۸۳۹ کال کې کابل ښايي په ټوله منځنۍ اسيا کې تر ټولو لوی د سوداګرۍ بندر او د سيمې د کاروانيزه سوداګرۍ مرکز و. کوم امنيت چې دوست محمد په خپله واکمنۍ کې راوستی و او کوم نرمښت چې ده د مذهبي لړکيو پر وړاندې ښودلو، دې ته لاره هواره کړې وه چې کابل د سندي هندو سوداګرو په تېره بيا د سندي بانکونو د پلازمېنې، شکارپور د سوداګرو په مرکز بدل شي. همدا راز په کابل کې د يهودي، ګرجستاني او ارمني سوداګرو مخ په وده ټولنې هم وې.[16]

تنګو واټونو د بډای سوداګرو د ختو کورونو ته او د قومي مشرانو او زمیندارو ځو پوړيزه او ځنګ پر ځنګ کورونو ته لاره ايستله او له لارې ځخه به ښايسته حکاکي شوې دروازې او د بالاخانو حکاکي کړکۍ او ارګنې ښکارېدې. د کورونو له دېوالونو ځخه به د توت ونو سر پورته کړی و. که چېرې به د کوم کور ور پرانيسی و؛ نو د لاروي به په لوی انګړ ستر کې ولګېدې چې د برنډې په منځ کې به د اوبو تيندکو دارې وهلې او شاوخوا به يې قالينې غوړېدلې، بالښتونه به پرې ايښي وو او د مېوې ونو به سېوری پرې جوړ کړی و. محراب ته ورته د طاقچو نې دېوالونه په ښايسته او ډېره پېچلې توګه سيم ګل شوي وو. دلته به د ماښامه مشرانو د چيلې لاندې ډډې وهلې وې، چلم به يې ځکول او ربابيانو او يا شاعرانو ته به غوږ وو چې ښايسته حماسي شعرونه به يې ويل.

د لويو کورونو ترمنځ د ځو ميلو په اوږدو کې له ګڼې ګوڼې ځخه ډک بازارونه غځېدلي وو چې هر ځه بېل بازار درلود. د شالونو سوداګر په يوه کوځه کې، د ديګ مسالې او د ګلابو د اوبو سوداګر په بله کې. همدې ته ورته، د بخارا ورېښمن، روسي چای، لکنهوي نيل، تاتاري پوست، چيني لوښي او د اصفهان نومور خنجر ځان ته د سوداګرۍ کوځې درلودې. يو ځوان افسر، جېمز رټرې James Rattray چې وروسته يې د کابل ښايسته انځورونه کاږلي، ليکلي:

> د هټيو کړکۍ پرانيستې او تر ځمکې رسېږي. ډېر توکي لکه ميوه، مرغان او سارايي ځاروي، زغرې، کاچوغې، پنجې او چاړې داسې پرېمانه ننداړې ته ايښودل شوې وې چې بيان يې ناشونی دی. دغه توکي په فوق العاده توګه منظم ايښودل شوي او له غولي ځخه تر چت پورې انبار دي. د هرې هټۍ مخې ته يو کسبګر ناست وي او د پرېمانه توکو له منځ ځخه پېرودونکو ته سر راپورته کړي. واټونه دومره تنګ دي چې د بار اوښانو يو کتار ساعتونه وخت نيسي چې د داسې دوامداره خوځېدونکي او بدلېدونکي ګڼې ګوڼې په منځ کې تېر شي چې ټوله ورځ واټونه ترې ډک وي... ښځې، چې کفن ته ورته حجاب يې پر تن وي، پر اس سپرې د اسانه لارې په لټه کې خپله لار په ګڼه ګوڼه کې وباسي... د پلي عسکرو له خوا د خلکو ګڼه ګوڼه ناڅاپه ځنګ ته پورې وهل شي. دغه عسکر د کوم لوی مشر مخکښ ساتونکي وي. مشر په ډېر وياړ پر اس سپور تېرېږي او سپاره عسکر چې ځلانده ګلدوزي چپنې او جامې يې پر تن وي په داسې حال کې پسې روان وي چې خپل ټوپک او نېزې يو خوا بل خوا خوځوي... بيا د شاه پيلان په لنډو ګامو کاږه واږه راروان وي او له بامونو ځخه راوتلې د اوبو نلونه مات کړي او يا د يخ يا د مېوې هټۍ په لوري شا ته حرکت وکړي.[17]

د شور ماشور او ګڼې ګوڼې له منځه به د ژېړو پيالې او د اوبو له مشک سره د اوبه پلورونکي چيغه واورېدل شوه «اوبه! اوبه!»، د ړندو سوالګرو له ليکو ځخه به د خيرات ناره پورته شوه او د دوبي په پای کې به، د پېنۍ پلورونکو د«شاباش پېنۍ» نارې وهلې.

د ډېرو سختيو له ګاللو ځخه وروسته، انګرېزي عسکر خوشحاله او حتی لږ هک پک شوي هم وو: ميرزا عطا د انګرېزانو په اړه هغه په ګومبزې پټ مارکېټ ته په اشارې سره ليکلي چې د شاه جهان والي، علي مردان خان په ۱۶۴۰مو کلونو کې هغه وخت چې تاج (تاج محل. ژباړن) جوړېده، جوړ کړی و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د پټ بازار په لیدو ګوته په غاښ شول او د لامبو د حوضونو او د اوبو د مخزنونو ښایسته سنګاري، جنت ته ورته باغونه، د پلازمېنې ښایسته ودانۍ او ډکې هټۍ یې خوښې شوې... انګرېزي عسکر، چې لکه د سمندر څپې ګڼ شمېره وو، د خراسان پر لاره ډېرې سختۍ وزغملې. اوس په کابل کې دمه جوړوي او غوښې، وریجې، د بادام حلوا، فالوده، تندوري او کباب او رنګارنګ مېوې لکه د صاحبي او خلیلي انګورو ډولونه، او تر ټولو ښه یې، د خایې غلامان khaya-e-ghulaman خوري. وروسته له دې چې په بې‌خونده هندي مرچو، دال او چپاتي نیم ګېډې هم نه وو، اوس دوی ممیز دانه دانه خولې ته اچوي او چاغ شوي. لکه څنګه چې عسکر په بې کچې توګه د خپل شهوت پر اس شپه او ورځ کښېناستل، هغه متل چې «د کابل ټولې ښځې وینده لري» داسې په چټکۍ په ثبوت ورسېد لکه «د پېښور د غنمو اوړو سره د جوارو د اوړو ګډول».[18]

کله چې د لوا د کلیساګۍ خوښ طبیعته ملا، ج. ر. ګلیګ G. R. Gleig د هغه نارینه کړنو په هکله په خپل یادښت کتاب کې خبرې کړې، کومې چې انګرېزي عسکر یې په کابل کې بوخت ساتلي وو، نوموړي په پورتنۍ څرګندونې پرده اچولې. ده لیکلي:

هر چېرته به چې انګرېزان تلل، دوی به څه ژر او یا څه وروسته خلکو ته راز راز نارینه سپورټي لوبې وروپېژندلې. دواړه، د اس ځغاستې او د کرېکټ لوبې کابل ته څېرمه پیل شوې او مشرانو او خلکو ورسره مینه پیدا کړه. په خپله شاه شجاع یوه ګرانبیه توره د جایزې په توګه کښېښوده چې جګړن ډېلي Daly د څلورمې سپکې سپرې ډلګۍ غړي وګټله. دغه لوبه دومره په زړه پورې وه چې ځایي ښاغلو هم په کې ګډون کولو، خو د کرېکټ لوبه افغانانو ته دومره خوندوره نه وه. دوی چې په خپله ښه لوی جوارګر دي، د انګرېزي لوبغاړو توپ او ډنډه وهلو ته یې په حیرانتیا کتل، خو داسې نه برېښېدل چې دوی به دې ته وهڅول شي چې خپل څادر او لوی دستارونه یوې خوا ته کېږدي او لوبې ته د سیالۍ له پاره ور د ننه شي. مګر برعکس، زموږ وطنوال د دوی د چرګانو، مرزو او نورو ژوو جنګ ته ورتلل، شرطونه یې وهل، او روپۍ به یې په ډېره په زړه پورې توګه ګټلې او یا بایللې.[19]

تر ټولو د حیرانتیا وړ د افغانانو په اړه د ګلیګ دغه ادعا ده چې افغانانو د اماتوري تیاتر سره مینه پیدا کړې وه. ده بیا لیکلي:

انګرېزي افسرانو څو ډرامې جوړې کړې. د تیاتر یوه ودانۍ جوړه کړل شوه، سټېژ جوړ شو، جامې جوړې شوې او ډېرې ښې ډلګۍ لوبې ته حاضرې وې. په ټوله کې، خوښې کړل شوې ډرامې کمیډي وې، لکه «ایرلنډي سفیر» او دې ته ورته داسې نورې. د نندارچیانو ډرامې ډېرې خوښې شوې ځکه چې د ډرامو پر مهال برنز ژباړه کوله او د لوبغاړو او د دفترونو نومونه داسې بدل شوي وو چې افغانان پرې پوه شي. افغانان خوشحاله خلک دي او له مسخرو او طنزونو څخه خوند اخلي. لکه څنګه چې ژباړن په سمه توګه د لوبغاړو ټوکې ژباړلې، نندارچیانو به خپله خوښي د خندا په کړساري ښودله.[20]

د دوبي پای په مني بدل شو او شپې اوږدې او سړې کېدې؛ نو عسکرو ته د پسه د څرمن جامې، تاوده لاس ماغو او برېستنې ورکړل شوې. اوس دغه وخت د ښکار موسم ګڼل کېده. هغه ښکاري سپي چې د بولان د غاښي او لوړې څخه ژوندي پاتې شوې وو او د کمپ خلکو نه وو خوړلي، اوس یې د شغال د ښکار له پاره ایستل. د چینچلغزي او هیلۍ ښکار او همدا راز لږ وخت وروسته لخشک skating او د واورې سړیو جوړول مشهوره مشغولتیا وګرځېده. تامس سیټن لیکلي: «موږ د لخشک بوټونه چې موږ پخپله جوړ کړي و په ښو کړل او په یخ مو لخشک ووهلو. د کابل خلکو چې داسې ننداره هېڅ کله نه وه لیدلې، په منډو راغونډ شول چې زموږ ننداره وکړي. دوی ته یې ډېر خوند ورکړ او سات یې تېر شو. موږ له ژمي څخه دومره خوند واخیست څومره چې حالاتو اجازه ورکوله - ښکار، د واورې توپ ویشتنه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واورې سرې جوړونه او ډنډ ته د مېلې له پاره تګ، ځکه چې هوا ډېر وخت خوندوره وه. ځومره صاف، ځومره شین او ځومره له وربځو څخه پاک اسمان و!»

په عین وخت کې شجاع د بالاحصار په بیا رغولو بوخت و. ده هڅه کوله چې بالاحصار ته بیا داسې جلال ورکړي لکه څنګه چې د ده په ځوانۍ کې یې درلود او داسې یوه ماڼۍ ترې جوړه کړي چې د ده د پاچاهۍ له لوړو خیالونو سره سمون ولري. اوچت دېوالونه او برجونه چې له لوی کمر څخه تاو شوي وو، په ښه وضعیت کې وو، خو د ماڼۍ د هغه ودانیو میده کاري یې په طبعه برابره نه وه چې برنډې ته څېرمه وې؛ نو ده د دربار له سالون څخه کار پیل کړ. نوی یې فرش کړ، پلستر یې له سره رنګ کړ، کتارې او طاقونه یې ورغول. په مغول باغ کې نوې ونې کېښودل شوې او یو حرمسرای له بنسټ څخه نوی ډیزاین شو او له لودیانې څخه د ده د ښځینه له راتګ څخه مخکې جوړ شو. په عین وخت کې د دربار تشریفاتي اصول د سدوزیو د دربار ډېرې رسمې بڼې ته چې بارکزیو پرېښې وو، بېرته بدل کړل شول. د دولت پخواني دفترونه بېرته فعال کړل شول او یو داسې پېچلی او په پام جوړ یونیفورم ته رسمیت ورکړل شو چې انګرېزي کتونکي ورته هک حیران شول. انځورګر جېمز رټرې لیکلي: «د دربار مامورینو ته دې د څو سل کسیزه ډلې په څېر وکتل شي. سرې ګلابي رنګه کورتۍ یې پر تن، له هره اړخه ډېرې په زړه پورې او اوچتې خولۍ یې پر سر. پر ځینو یې اوږده غوړونه لکه د خره او یا نېښونه لکه د شکېه ګنډل شوي وو او ځینو نورو یې د وزې او ګاومېښې د ښکر بڼې درلودې. د خولیو ډېری یې د مخروط، فنر او یا د ګونګړې بڼې درلودې چې ټولې یې لږ یا ډېرې په انځورونو او نورو ځیزونو ښکلې شوې وې. ځینو یې د نېزو ځوکې لرلې چې د لوړې رتبې نښه وه.»[21] په رسمي دربار کې په خپله شجاع هم د پام وړ جامې اغوستې. یوه اوږده چپنه به یې په اوږو پرته وه چې ژۍ یې په ګاڼو ښکلې شوې وې او ایټالوي والي ته ورته خولۍ یې د بخمل ځنډې درلودې چې ګاڼې په کې ټومبل شوې وې. هغه به له عارضینو سره د کټو پر مهال پر خپل اتخنده او له سپین مرمر څخه جوړ تخت ناست و او یوازې به تر ټولو لوړ پوړه انګرېزي مامورینو ته ودرېد. په دغسې موکه کې به یې د هوسۍ پر یوه اوږده او کاږه واږه ښکر تکیه کړې وه، «د مخ بڼه یې مدبره خو له اندېښنو څخه ستومانه ښکارېده».

کله چې ژمي خپلې منګولې خښې کړې، ورځې لا نورې سرې شوې. له واورو څخه ډکې درنې او تیږې وربځې نه ورېدې. په دې وخت کې شجاع پرېکړه وکړه چې ځینې ځانګړو افسرانو ته په خپل نوښت جوړ شوی مډال ورکړي. دا د دراني امپراتورۍ مډال و چې بڼه او جوړښت یې د فري مېسن Freemason مډال ته ورته و. د فري مېسن مډال درلودونکي د ګولفین Guelphian اعزازي مقام ته رسېدل. الکساندر برنز ته هم له بخارا څخه د بېرته راتګ وروسته دغه مډال ورکړل شوی و.[22] کله چې د انګرېزانو لمړنۍ لوا مخکې له دې چې د ژمي لمړنۍ بادورېې د واورو انبارونه جوړ او لارې بندې کړي، بېرته هند ته ستنه شي، د دغه مډالونو د لمړنۍ ورکړې بهیر پیل شو. لکه څنګه چې د مېکناټن ځوان سکرتر، جورج لارنس یادونه کړې: «مډالونه یوازې انګرېزي افسرانو ته ورکړل شول ځکه چې شجاع له خپلو مامورینو څخه هېڅوک د دغه مډال لایق نه وو ګڼلي. »[23]

د نومبر په پای کې بېرته ستنېدونکې لمړنۍ لوا شېملې ته ورسېده. ایملي لېکلي: «دوی ډېر تندرست ښکاري او اوس د خپل هغه ربړن حالت ښکارندویي نه شي کولی چې په هکله یې لیکنې شوې دي. دوی ډېرې ستونزې او ناخوالې زغملې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په غیر معموله توګه ټول ډېر چاغ ښکاري. د لارډ اکلنډ ساتونکی، کپتان ډاکېنز Dawkins خو بېرته داسې راغی چې حتی له فالستیف Falstaff څخه هم ډېر چاغ برېښي.»[۲۴]

په داسې حال کې چې شاه شجاع په بالاحصار کې پر تخت کښېنول کېده، د دغه ځای مخکنی اوسېدونکی، دوست محمد خان د شمال په لوري په چټکۍ په تېښته و. دېرش کاله مخکې، د نیملې له جګړې څخه وروسته د شاه شجاع په څېر، د واک بایلل دوست محمد ته سمدلاسه هر څه بدل کړل او ده ته یې یو لړ سپکاوي رامنځته کړل چې نږدې یې د تباهۍ او مرګ لامل شوي وو.

بارکزي په سختۍ په کنګلي درو کې له هغه انګرېزي ځارونکو څخه په تېښته کې و چې د دوی د نیولو له پاره استول شوي وو په داسې حال کې چې دوست محمد په پوره چټکۍ تګ نه شو کولای ځکه چې له ده سره یې «خپلې مېرمنې، کوچني ماشومان، ورونه، زامن او چوپړیالان مل وو».[۲۵] سربېره پر دې، د ده وارث، اکبر خان چې ظاهراً په خیبر کې او ښایي د وېډ په امر زهر ورکړل شوي وو، لا تر اوسه پوره روغ شوی نه و. لکه څنګه چې نوموړي پر اس د سپرلۍ توان نه درلود؛ نو په کټ کې وړل کېدو. د دوست محمد تېښته حماسي شاعرانو په دومره خواخوږۍ یاده کړې ده لکه سکاټلنډي شاعرانو چې د کولاډېن Culloden له ماتې څخه وروسته باني پرېنس چارلي Bonnei Price Charlie افسانوي کړی دی. په جنګ نامه کې غلام کوهستاني لیکلي:

نو زړور سلطان مخ پر وړاندې روان و
او زرکسیزه زړوره سپره ډله ورسره وه
له خپل زاړه دود سره سم
خپل حرم یې تر شا روان و
ورپسې یې خپل مال او زر وو
او څک سرتېري یې ښه بیدار وو
د دوی پر پله، په ګامونو لکه برېښنا
غچ غوښتونکي پسې روان وو
شپه او ورځ دوی سپاره روان وو
لکه وریځې چې په اسمان کې په بیړه وي[۲۶]

د تعقیبوونکې ډلې مشري جېمز اوټرم James Outram او جورج لارنس دوو سرسختو او هوښیارو ځوانو افسرانو کوله. د دوی د لارښوونې او ساتنې له پاره حاجي خان کاکړ او د شجاع پوځي زرکسیزه سپره ډله ګمارل شوې وه. په خپل چټک تګ سره دوی ته سخته نه وه چې د بارکزیو سوکه کاروان ته ځان ورسوي، خو د دوی له هڅو سره سره، د اوټرم ډله د امیر په نیولو کې هېڅ کله بریالۍ نه شوه او دا ژر څرګنده شوه چې حاجي خان د معمول په ډول دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخېزه لوبه پيل کړې وه. نوموړي په لوی لاس انګرېزان په غلطه لاره بېول او تر خپلې وسې يې د دوی پرمختګ سوکه کولو.

دوه اونۍ وروسته د بارکزيو بوی د لېټون ډلې تر سربرمو شو. دوی د دوست محمد د ساتونکې ډلې له څو تښتېدلو سره مخ شول او ورته وويل شول چې د دوی او دوست محمد تر منځ يوازې د يوې ورځې واټن دی. سټرې لارنس ليکلي:

د حاجي له اعتراض سره سره، چې په ستوغه او خطرناکه لاره کې د شپې له خوا د مزل د ناښندۍ په پلمه يې نه غوښتل مخ ته لاړ شي، موږ د سهار په پنځو بجو خپل مزل پيل کړ.* دا ښه څرګنده وه چې دغه عملياتو ته د نوموړي زړه نه و. د ده اعتراضونو ته غوږ ونه نيول شو او موږ په خورا بده لاره په جګو غونډيو او د غرونو په وچو ويالو کې لس ميله مخ ته لاړو او بيا مو د خپلو اسونو تر څنګ دمه وکړه. له پنځوسو څخه لږ افغانان زموږ سره يو ځای دغه ځای ته ورسېدل او پاتې يې د ورځې په بهير کې راورسېدل. دلته موږ ته څارګريز راپور راغی چې دوست محمد د يوک Youk په نوم يو ځای کې دی چې يوازې يو مزل لېرې پروت دی. حاجي خان يو ځل بيا په وړاندې تګ کې خپل زړه نازړه توب وښود او اوټرم ته يې زاری کولې چې هملته تم شي ځکه چې دوست محمد دوه زره کسيزه سپره ډله لري، خو اوټرم ډلې ته امر وکړ چې د مازيګر په څلورو بجو حرکت وکړي او کله چې افغانان راغونډ کړل شول، د دوی شمېر يوازې ۳۵۰ کسانو ته ورسېد او خورا بد تجهيز شوي وو.[۲۷]

په راتلونکو ورځو کې دغه ځنډوونکو تکتيکونو دوام وکړ. حاجي ټينګار کولو چې دوی بايد تقويتي قوا ته تم شي، خو کله چې اوټرم د شپې له خوا مزل پيل کړ «د تېروتنې او يا چل له امله، موږ څلور ميله مخته نه وو تللي چې زموږ لارښوونکي، چې د حاجي خان د کسانو تر امر لاندي وو، وتښتېدل. دغه مهال تور تم و او موږ د داسې بې پايه درو په منځ کې يوازې پرېښودل شوو چې حتی يوه نری لاره هم په کې نه تر سترګو کېده؛ نو موږ پرته له دې چې تر سهاره تم شو بله چاره نه لرله».[۲۸] راتلونکی ماښام کله چې انګرېزانو په تګ ټينګار کولو، حاجي خان اوټرم تر مټ ونيو او«په جګ غږ يې ماته عذر وکړ چې مخ ته لاړ نه شم او بيا يې ګواښ راته وکړ چې په زور به مې ونيسي، خو د څرګندې تباهۍ په لور تګ ته به اجازه رانه کړي». او ده بې اړنګه اوټرم ته په رښتيا ډرکه• ورکړه:

که ته له دوست محمد سره مخامخ شوې، هېڅ افغان به د هغه پر ضد توره را ونه باسي او زه به د دې مسوول هم نه وم چې په جګړه کې دوی ستاسې پر ضد ودرېږي... کله چې زموږ د هوډ په کمزوري کولو کې پاتې راغی، حاجي خان زما له کېږدۍ څخه څو متره لېرې کښېناست او په تياره کې يې له خپلو درېيو يا څلورو مشرانو سره له يو ساعت څخه زيات په ټيټ غږ خبرې کولې. دغه کسانو حاجي خان له پرنګيانو سره په مرسته کې چې دوست محمد ونيسي، ګرم کړ او ترې وېې پوښتل چې امير څه بد ورسره کړي... او حاجي خان په ټولو هغه څه اعتراف وکړ چې دوی ورته ياد کړل.[۲۹]

سبا ته يې په داسې حال کې چې واوره ورېدل پيل شول، افغان ډله په ډېرېدونکې توګه بغاوتي کېده. اوټرم ليکلي: «موږ پوه شوو چې زموږ افغانان خاينان دي او هېڅ باور نه شي پرې کېدای.» نو اوټرم او لارنس پرېکړه وکړه چې په داسې ماموريت لاړ شي چې نږدې ځان وژنې ته ورته و. دوی له يوازې ديارلس انګرېزي افسرانو سره د واورې په توپان کې د

---

*په حقيقت کې حاجي رښتيا ويل. د حاجي کاک غابنی حتی په دوبي کې او د ورځې له خوا هم ډېر ګران دی. سربېره پر دې، نوموړي د احتياط له پاره ښه دليل درلود ځکه چې دغه غابنی د هزاره ګانو تر واک لاندې و. ده څو کاله مخکې دغه هزاره ګان ځپلي وو او په دې کې يې اړنګ نه درلود چې دوی به له دغه فرصت څخه په کار اخيستنې له خپل پخواني ځپونکي څخه غچ واخلي.

•ډرکه: ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد د نیولو له پاره لاړل. په دغه شپه اوتړم په پلنه واوره کې ویده شو. دی پوهېده چې ښایي سبا ته به مړ وي، خو کلک هوډ یې درلود چې تر خپل وس پورې به هڅه کوي چې امیر یا ژوندی ونیسي او یا یې ووژني. وروسته د ده یاد ته ورغلل چې «سهار ته د یوې پرتمینې هڅې په تمه، دی هېڅ کله دومره خوشحاله نه و لکه په هغه شپه چې و»، خو دغه هڅه هېڅ کله بریالۍ نه شوه. اوتړم او کسان یې په چارکام د بامیان درې ته ښکته شول، خو دوست محمد همدغه سهار د هندوکش شمال، له سیغان څخه وړاندې، تاشقرغان ته تښتېدلی و چېرته چې د خپلواک ازبک مشر، میرعلي «چې له شجاع سره یې دښمني لرله»، واکمني وه. اوتړم اوس بله چاره نه درلوده پرته له دې چې مېکناټن ته ولیکي چې «په دغسې وضعیت کې اوس هېڅ داسې هیله نه شته چې فراري په داسې سیمو کې ونیسو چې د شجاع تر واکمنۍ لاندې دي او زموږ ماموریت په کې محدود دی. زموږ سپاره افسران وایي چې اسونه یې د لوړې او ستړیا له کبله د دې توان نه لري چې اوس سمدلاسه بل مزل وکړي؛ نو موږ اړ شوو چې د دوی تعقیب پرېږدو».[30] په همغه شپه دوست محمد او ملاتړي یې په خوندي توګه د خامرد Khamard پناه ځای، د میر ولي د مریپانو د سوداګرۍ کلا ته ورسېدل. میرزا عطا لیکلي:

امیر دوه میاشتې د ازبکانو د ځانګړې مېلمه په توګه تېرې کړې او له هغه ځای څخه بلخ ته لاړ. د بلخ والي د یو ښایسته بڼ په مېلمستون کې ځای ورکړ. دلته د بخارا حاکم، نصرالله خان له خوا امیر ته د اوښ ډاګي په وسیله یو لیک راورسېد. نوموړي امیر ته بلنه ورکړې وه چې د ده دربار ته په خپل ورتګ عزت وروښيي. امیر خپله کورنۍ او نور په ده پورې تړلي کسان په بلخ کې پرېښودل او له خپل وارث، اکبرخان سره یو ځای بخارا ته ستون شو. په بخارا کې چې د اسلامي علومو ښار و امیر ته شاهي ښه راغلاست وویل شو، د استوګنې له پاره یوه ځانګړې ماڼۍ ورکړل شوه او د ورځني لګښت له پاره کوچنۍ خرڅ هم ورته حواله شو.[31]

دا په بشپړه توګه څرګنده نه ده چې په بخارا کې څه پېښ شول، خو څو اونۍ وروسته دوست محمد له خپل کوربه سره بدورده شو: میرزا عطا ویلي چې وجه یې د دوست محمد د تند خویه زوی، اکبر خان څو سپکې څرګندونې وې. د دې وجه د دوست محمد مخکنۍ هڅې هم کېداې شي چې غوښتل یې د پولې نانندریزه ښار، بلخ ونیسي. ښایي د بخارا حاکم د امیر په دغه کړنو ناراضه و ځکه چې د امیر په څېر ده هم پر بلخ باندې د واکمنۍ ادعا درلوده او اوس یې د امیر پر پلان اعتراض درلود چې د ده په استازیتوب د بخارا علما د جهاد اعلان وکړي، خو له یوې او یا له بلې وجې د دوی تر منځ ترخې خبرې تبادله شوې او بارکزیو ښار پرېښود. دا نصرالله خان ته لوی سپکاوی و. بیا د بخارا مکار، بې رحمه (او ښایي څرښنده روحي ناروغ) حاکم د دوست محمد د وژلو هڅه وکړه. فیض محمد په سراج التواریخ کې لیکلي:

د بخارا امیر خپلو کسانو ته چې دوست محمد یې بدرګه کولو په پټه دستور ورکړ چې کله له امو سیند څخه تېرېږي، دوی دې هغه کښتۍ ډوبه کړي په کومه کې چې دوست محمد او شهزاده سپاره دي څو په سیند کې دوی ډوب شي؛ نو په دې توګه افغانان د ساتونکو تر نظر لاندې د امو تر غاړې ولېږدول او په کښتۍ کې کښېنول شول. هغه کوچنۍ کښتۍ چې امیر په کې کښېناست په پټه سورۍ کړل شوه. کله چې کښتۍ حرکت وکړ د بخارا د امیر یو کس چې له دغه دسیسې خبر نه و هم په دې کښتۍ کې ناست و. نوموړي غوښتل چې دوست محمد د سیند تر بلې غاړې بدرګه کړي او بیا بېرته راوګرځي. یو بل کس چې له دسیسې خبر و، له ده سره یې په ترکي خبرې وکړې او ورته ویې ویل چې له کښتۍ څخه ښکته شي چې د امیر سره یو ځای ډوب نه شي، خو دوست محمد په ترکي ژبه پوهېده ځکه چې مور یې ترکۍ او د کابل د یو مشر قزلباش لور وه. کله چې امیر دغه خبرې واورېدې، له کښتۍ څخه ښکته شو او نه یې غوښتل چې له سیند څخه تېر شي. د بخارا د امیر کسانو چې هر څومره هڅه وکړه چې دی په کښتۍ کې له سیند څخه تېریدو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وډوماري، ده ونه منله او خپلو ملګرو ته يې وويل: «دا بهتره ده چې په خپلو وينو کې ولامبم خو نه چې په سـيند کې له ډوبېدو څخه مړ شم ځکه چې د توري په ژۍ زما مړينه به د بخارا د امير د نه انکارېدونکې بې عدالتۍ بېلګه پاتې شي، خو که زه ډوب شم، هېڅوک به د هغه بد چلند په اړه چې ده زما سره وکړ چې ميلمه يې وم، خبرې ونه کړي.»*

امير له خپلې ډلې سـره د بخارا په لور د سـاتونکو تر څارنې لاندې روان شـو «خو په لاره داسـې سـخت د واورې توپان پيل شـو چې ټول يې د مرګ مورګې ته ورسـول. ډېرو کوچنيو شـهزاده ګانو له ډېرې يخنۍ څخه حتی خبرې هم نه شـوې کولای. امير خپلو شـخصي چوپړيالانو ته امر وکړ چې هر چوپړيال يو شـهزاده راواخلي او خپله ژوره توده ساه پر دوی کوف کړي چې تاوده شي» او له مرګه وژغورل شي.

لنډه دا چې دوی بخارا ته په ډېره سـختۍ ونګوښـېدل. اوس د بخارا امير هغه لږ خرڅ چې دوی ته ورکول کېده هم پرې ودراوه. له دوی څخه شاوخوا ۷۰ کسه وتښتېدل ... کله چې نصرالله خان خبر شو، يوه اووه زره کسيزه سپره ډله يې په دوی پسې ولېږله چې د تېښتې مخه يې ونيسـي او امر يې ورته وکړ چې که چېرې سـردارانو جګړې ته مخ کړ؛ نو وينې يې دې تويې کړي او که جګړه يې ونه کړه، بيا يې دې په ځنځيرونو تړلي بېرته راولي. دوی په چراغچي Chiraghchi کې له سـردارانو سـره مخ شـول، کلابند يې کړل او يرغل يې پرې وکړ. تر څو چې مرمۍ او باروت وو، افغانانو، بخارايان نږدې پرېنښـودل او د ډېرو وينې يې تويې کړې، خو په پای کې کله چې د دوی مهمات خلاص شــول، بخارايانو پر دوی رامنډه کړه او يرغمل يې ونيول. افضـــل خان او اکبرخان دواړه په جګړه کې ټپي شــوي وو، څو نور کسان مړه او له پاتې کسانو څخه ډېری يې سخت ټپي شوي وو. بخارايانو دوست محمد او ورسره مل کسان يې بېرته ښار ته يووړل او د بخارا د امير په امر يې، ټول په تياره تلخونه کې واچول.[۳۲]

د ۱۸۳۹ کال د نومبر په دويمه کله چې د کابل بازار ډنډونه کنګل شـول او د کابل سـيندغاړې په ولو کې پربنې ځلېدې، شـاه شـجاع له بالاحصـار څخه جلال اباد ته د ژمي د تېرولو له پاره لاړ. اوس يې چې پېښـور په واک کې نه و، جلال اباد يې خپله ژمنۍ پلازمېنه ونوموله. مېکناټن هم ورسـره لاړ. دی له شـجاع څخه مخکې ورسـېد ځکه چې شـاه په نيمله کې وځنډېد چې يو کوچنی شـهزاده د نيملې د باغ د سپېدارو په منځ کې خښ کړي. مېکناټن ځان ته د ښـار په تر ټولو ښـه مېنه کې هســتوګنځی پيدا کړ او شــجاع يې پرېښــود چې په داســې ځای کې هســتوګن شــي چې يو انګرېزي کتونکي د «کوډخې» نوم ورکړ.[۳۳]

ملا شکور ته په کابل کې د چارو واک وسپارل شـو او برنز د مېکناټن ځای ونيو. د کال په وروستۍ شپه چې د ژمي يخني خورا ډېره وه، برنز د نوي کال د شپې Hogmanay مېلمستيا جوړه کړه. سکاټلنډي لمن يې اغوستې، د پوستکي کڅوړه يې تر ملا تړلې وه او په خپله يې د مېلمستيا کوربه توب کولو. نوېل چېمبرلېن چې له کندهاره راغلی و په دغه مېلمستيا کې مېلمه و. ده ليکلي:

* د دوســت محمد دغه خبره ډېره په زړه پورې وه. نوموړي به په خپل وخت کې يو شــمېر خپل دښــمنان وروســته له دې ووژل چې له دوی ســره به يې د خوندي چلند ژمنه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ یوه له خوښۍ ډکه مېلمستیا درلوده، خو پرته له برندي او جین مو بل څه د څښاک له پاره نه لرل. شاوخوا د سهار په دوو بجو خوړنځي ته لاړو او د ریلز reels نڅا مو پیل کړه. کپتان سېنکلیر Sinclair چې د برسکاټلنډ جامې اغوستې وې، پر مېز ولاړ او بین باجه یې غږوله. برنز له موږ سره ډېر په ادب چلند وکړ. دی د هر چا خوښېږي ځکه چې برعکس د ډېرو مامورینو، په ده کې سیاسي چل او تېرایستنه نه شته... [ بې اړنګه، دی] په ټولیزه توګه د ټولو خوښ دی او رښتیا همداسې ښه سړی دی. زما په اند، دی تر ټولو صادق، په زړه پورې، ساتېره او یو ښه ښاغلی دی چې زه نیک بخته وم چې پېژندګلوي مې ورسره پیدا کړه.[۳۴]

کومې نمانځنې چې د ژمي په بهیر کې دوام درلود د هر چا په طبعه نه وې. مخکې له دې چې بلاخره افغانستان په کرجنه توګه پرېږدي، امریکایي جنرال، جوسایه هارلن چې په بریالیتوب یې د ختیځ هند کمپنۍ، شاه شجاع، سېکانو او وروسته دوست محمد ته جګړې وکړې او یوه لنډه موده یې په خپله ځان د غور شاه اعلان کړی و، انګرېزانو ته د ډېرېدونکې غوسې په سترګه کتل. وروسته له دې چې برنز له هند څخه د نابللي پردي په توګه وشړلو، ده کور ته په لاره کې په انګوټ کې ولیکل: «په هغه ورځو کې کابل، د زرو بڼونو ښار، یو جنت و. ما دغه هېواد لیدلی چې د سپېڅلي خلوت سمونتیا ته مقدس و، خو د بېګانه او بې احساسه لړاکانو سپین سترګي ورتګ ناولی کړ. په عاداتو کې اړام•، په بده سلیقه کې نومور، د بیباکه اشغال په خونړیو یرغلونو کې اکاړ مشران چې ناپراندهٔ• زړونه یې مات کړل، د خوښۍ، خوشحالۍ او ساتېرۍ خوشحاله غږ یې چوپ کړ...» نوموړي دغه وړاندوینه هم وکړه: «د یوځي قوې په وسېله د یو ملت د خلکو رټل او ځپل، د ټول ملت د حبس د هڅې مانا لري په داسې حال کې چې ټول د خپلواکۍ په هوډ کې همغږي دي: د داسې پروژو عمر لنډ او پایله یې له مصیبت ډکه وي.»[۳۵]

خو د اشغال په لمړني ژمي کې د هارلن وړاندوینې پرته له دې چې دی یو داسې ناراضه او ځانمن افغان برخه وال وښیي چې خپلې د عظمت شېبې یې تېرې کړې وې، بل څه ونه ښودل. برعکس، ډېرو ته د حیرانتیا وړ دا وه چې د کابل اشرافیان دومره ناراضه نه ښکارېدل. ر. ج. ر ګلیګ په خپل تصور کې چې د افغانانو په شخصي توګه انګرېزي افسران په انفرادي ډول خوښېږي، یوازې نه و، خو ده د یو افغان مشر خبره داسې نقل قول کړې ده: «کاشکي چې تاسې موږ ته د ملګرو په څېر راغلي وای، نه د دښمنانو په څېر ځکه تاسې په جلا جلا ډول ښه خلک یاست، خو کله چې تاسې ته د یو واحد په سترګو وګورو، بیا له تاسې څخه کرکه کوو.»[۳۶]

د دوست محمد مطلقې واکمنۍ او پر خپلو خلکو د لویو مالیو وضع کول او همدارنګه د ډېرو شتمنیو ضبطول چې خپله د جهاد پروژه وربانديې تمویل کړي، له شاه شجاع سره مرسته وکړه چې خپله واکمني څه ناڅه پرته له ستونزو پیل کړي. په پیل کې ډېر کابلیان او د درانیو ممتاز پوړ حاضر وو چې د بیا پر تخت کښېنولي حاکم په اړه خپل اړنګ ته پام ونه کړي او وګوري چې دی څه کوي. میرزا عطا لیکلي: «د کابل د اشغال په لمړنیو میاشتو کې انګرېزانو ډېری مشران او همدارنګه کابل او شاوخوا یې ځان ته تسلیم اومطیع کړل. لږ شمېر خلک چې د دوی اطاعت یې نه کولو، بندیان شول او کلاوې او شتمنۍ یې د کمپنۍ حکومت ضبط کړې.»[۳۷] سربېره پر دې، مېکناټن له سخاوت څخه یوې ډکې سیاسي حل لارې ته مخ کړ. په سوبل کې یې مخور دراني اشرافیان په پیسو واخیستل او په ختیځ کې یې غلزي مشرانو او همدا راز علماوو ته په لویه کچه بسپنې حواله کړې. دا د هند خزانې ته یو درووند لګښت و او ډېر ژر

• اړام: سپین سترګی

• ناپراند: ډېر کمزوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګنده شــوه چې د افغانســتان اشــغال ارزانه نه دی، خو دغه ســتراتيژۍ په لمړني مني او ژمي کې وکولای شــول چې د شـاه شـجاع په واکمنۍ کې سـوله وسـاتي.[٣٨] په دې توګه اکلنډ وتوانېد چې په خوښۍ لندن ته راپور ورکړي: «ويل کېږي چې دغه هېواد ارامه دی، لارې خوندي دي، سوداګري مخ په ښه کېدو ده او شاهي نظام او د حکومت بدلون تر اوسه محبوبيت لري... ډګرمن رابرټ Robert ليکي: «ما له ډېرو مشـــرانو ســـره اشـــنايي پيدا کړه. دوی په ټوليزه توګه له صاحب لوجې Sahib Loge سره د اشـنايۍ مينه وال دي او کله چې زه بېرته کابل ته لاړ شـم، زما د کور ور به د دوی پر مخ خلاص وي. دوی زموږ ســره پـه خوښــۍ ډوډۍ خوري او کورونو تـه يې زموږ پـه ورتـګ خوشــحـالـه کېږي.»»[٣٩] دغه د رضـايت روښـانه فضـا هغه اړنګ لړ پيکه کړې وه چې ايا بېرته راغلي بارکزي به په رښـتيا د شـاه شـجاع د سـولې وړانديز ومني او هغه دښـمنۍ ته به د پای ټکی کېږدي چې دوه نسـله په ډېره پاملرنه وپالل شــوه، محمد حســين ليکلي: «ډېری ســدوزي اشـرافيانو د شـاه شـجاع د پخلاينې پاليسـي بې خونده بلله. دوی به د يون په ترڅ کې او يا کله به چې په دربار کې وو، په ځانګړنه بڼه يو بل ته ســرټکولو او داســې به يې ويل: «دا چې اوس د بارکزيو قبيلې ته دومره په درنه سـترګه کتل کېږي او ټول پخواني امتيازونه يې بيا ورکړل شـول، دومره وخت به تېر نه شي چې د ناراضـتيا ناولې لمبې به پورتـه اوچتې شـــي. انګرېزان، چې د پوهې، منطق او ســـيـاســـي تجربې ادعـا کوي، څـه فکر کوي چې د خپل ملګري د دښمنانو د ښې پالنې پايله به څه وي؟ د دې پايله به غمجنې او پښېمانې وي!»»
يو مسافر چې له پېښور څخه لږ وخت مخکې را رسېدلی و، ويلي:

کله چې د پېښــور والي، اويتېبلې د کابل د وضــعيت په اړه پوښــتنه وکړه او ورته وويل شــول چې د بارکزيو په ګډون ټولو ډلو ســره ښــه چلند کېږي، نوموړي خپلو کسـانو ته مخ واړاوه، اوسـېلی يې وايسـت او ويې ويل: «خدای دې له شـاه شـجاع سـره مرسـته وکړي او خدای د عفوه ورته وکړي.» حاضر کسان په دغه دعا حيران شول څکه په عامه توګه دغسې دعا مړو ته کېده، نو ويې پوښتل: «شاه ژوندی نه دی؟» اويتابېلی په ځواب کې وويل: «هر څوک چې خپل سخت دښمن ته ځای ورکوي او د اعتبار غېږ ورته خلاصوي، اوږد ژوند به ونه لري، فردوسي په دې اړه وايي:

تا يو پلار وواژه او د غچ تخم دې وشينده
نو دغه يتيم به څه وخت سکون ولري
تا يو مار وواژه خو بچي يې روزې
دا څه ځېن توب دی؟

يو وخت به د دغه دښمنيو مېوه پخه شي. تاسې به ډېر ژر واورئ چې همدغه بارکزيو شاه شجاع مړ کړ.»[٤٠]

د کابل پر ماحول نور سـيوري هم پراته وو. يوه لوا چې بېرته هند ته روانه وه، وروسـتۍ سـاتونکې ډله يې د خيبر په دره کې تر غلچکي برید لاندې راغله چې ١٥٠ اوښـان يې له بار سـره له لاسـه ورکړل. وروسـته له دې د علي مسـجد چونۍ ســمدلاســه پېښــور ته تخليه کړل شــوه.[٤١] په عين وخت کې، د افغانانو يوې ډلې يو جګپوړی انګرېز افســر، ډګرمن هرېنګ Herring چې په چکر وتلی و، په وردګو کې وواژه. نوموړی له امر څخه په ســرغړونې، له ســړک څخه وړاندې تللی و چې په يوه غونډۍ کې له څو افغانانو ســره مجلس وکړي. دوی ټوټې ټوټې کړ. تـامس ســيټن ليکلي: «زموږ په برخليک کې به لوی خپګان و چې د ده مړی مو وليد. دا يوه ناوړه صـحنه وه. په ډېره وېروونکې بڼه وهل شــوی او ټوټې ټوټې شـوی و. له لسـتوڼو څخه پرته، جامې يې ټوکل شـوې او څيرې وې. تنه يې په خېټه کې نږدې دوه ټوټې وه او سينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پوښتې يې په چاړه وهل شوې وې. په تنه کې يې شپاړس اوولس داسې زخمونه وو چې هر يو يې د مرګ لامل کېده.»[٤٢]
خو په ټوله کې، هېواد ارامه و. کله چې غلزيو له مېکناټن څخه اعانه ترلاســه کړه، دوی هم د معاملې خپله برخه ترسره کړه. په تاريخ سلطاني کې ليکل شوي: «د کابل او خيبر لاره له شوکمارانو او لاروهونکو څخه ډکه وه. دوی ټول مســافر تر ګواښ لاندې نيولي وو، خو کله چې د غلزي خانانو د لارې اداره په لاس کې ونيوه، دغه ګواښــونه له منځه لاړل او ټول ژمی سوله واکمنه وه.»[٤٣]

خو په بخارا کې د نظير خان له خوا را رسـېدونکي خارګريز راپورونه د ډېرې اندېښــنې وړ وو او هغه دا چې روســان د خپلې تيارۍ په وروستي پړاو کې دي چې پر خېوه يرغل وکړي. نوموړي ليکلي: «دوی د کسـپين بحيرې پرغاړه ډېر شـمېر اوښـان، ګاډي، او کښـتۍ راغونډ کړي دي او پرېکړه يې کړې چې خپل پوځ او اکمالات د کسـپين د بحيرې له لارې، کير Kir تـه څېرمه، چې تر خېوې پورې درې ورځې مزل لري، ولېږدوي.»[٤٤] مېکناټن چې په بخارا کې د دوســـت محمـد لـه بنديتوب څخه خبر نه و، وېرېده چې روسان به بيا له امير سره څه دسيسه جوړه کړي او پلان به جوړوي چې په هرات کې به چې اوس «څه نا څه په بې دفاع حالت کې دی» دی پر تخت کښېنوي.[٤٥]

داسې برېښـدل چې يوازې برنز پوهېده چې د روسـانو دغه کړنه پر افغانسـتان باندې د انګرېزانو د تيري پر وړاندې نبغ ځواب و. نوموړي خپل ملګري کپټان ج. الف. جېکب Jacob ته ليکلي: «روسـانو خپل ځواکونه زموږ د پاليسۍ پر ضد رامخ‌ته کړل. کابل ته په ننوتو ســـره موږ لوی کړکېچ رامنځ‌ته کړ.» حتی په دغه پړاو کې، برنز پوهېده چې د انګلنډ يا روســـېې واکمني به پر داســـې ازاد او خپلواکه خلکو لکه افغانانو باندې څومره لنډ مهاله وي. ده وړاندوينه کړې چې: «انګلنډ او روسـيه به اسـيا په خپل منځ کې ووېشـي او دغه دوه امپراتورۍ به په اوبو کې د کړۍ په څېر تر هغه وخته غټې شي تر څو چې په نه شتون کې ورکې شي او راتلونکي نسلونه به دوی دواړه په دغه سيمو کې داسې لټوي لکه اوس چې موږ د الکساندر او د هغه د يونانيانو پاتې شوني لټوو.»[٤٦] *

دغســې ريالېزم د ١٣٣٩-١٣٤٩ په ژمي کې خورا لږ موندل کېده. همدغه وخت په ټټه د تل له پاره د افغانســتان د ضـميمه کولو خبرې کېدې. حتی دا خبرې هم کېدې چې د راج د دوبي پلازمېنه دې د همالېې له موږې، شـېملې څخه د حاصلخېزه باغونو درلودونکې درې، کابل ته ولېږدول شـي، کټ مټ هغسـې چې يو وخت به مغولو د مې په مياشـت کې له ډهلي او اګرې څخه کشــمير او جلال اباد ته څېرمه د نيملې ښــايســته باغونو ته لېږدېدل.[٤٧] په ځان باندې دومره لوی باور يو لږ لويو ســـتراتيژيکي تېروتنو ته لاره پرانيســـتله. لمړی، د دې پر ځای چې د شـــاه شـــجاع د نازکې واکمنۍ ټينګولو ته پام واړوي او د اشـــغال د خونديتوب او بريا له پاره اړينې ســـرچينې برابرې کړي، اکلنډ هم د وروســـتنيو يرغلګرو په څېر، له وخت څخه وړاندې په دې اند و چې اشغال بشپړ شوی او پام يې يو بل جګړه ييز تېري ته په يو بل تياتر کې واړولو. په دغه وخت کې ايملي پرته له سنجونې او په ښکاره په سپکه توګه ليکلي: «چينايانو د خندا وړ کړنې

---

* پر خېوه باندې د روسـانو بريد داسې په مصيبت پای ته ورسـېد لکه له کابل څخه د انګرېزانو شـاتګ چې پای ته ورسـېد. پېراسـفکي خپل نيمايي اوښـان او نږدې نيمايي سـړي د منځنۍ اسـيا د واورو ژمني توپان ته له لاسـه ورکړل. دغه پايلې د شـاګې په هکله د روسـانو هيلې يو نسـل شـاته واچولې: خېوه تر ١٨٧٢ پورې د روســانو لاســته و نه لوېده او دې ته ورته انګرېزان هم شــاوخوا تر څلوېښــتو کلونو بيا افغانســتان ته بېرته و نه ګرځېدل. دغه وګورئ: Twin Imperial Disasters: The Invasion of Khiva and Afghanistan in the Russion and British Official Mind, 1839-1842(راتلونکی دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل کړې دي. دوی ځان وسلوال کوي، ملامتیا په کوچنیو بې ګناه امریکایي کښتیو اچوي او د جګړې بېړۍ را غونډوي. زما په اند دوی دومره خانتما دي چې په کوم عجیبه چل ســره به زمونږ ټولې ۷۴مادډله بېړۍ په شــنو او ســرو لمبو والوزوي، زمونږ ټول ســرتیري او ماڼوګان به اســیر کړي او دوی ته به له عاج څخه د منځ تشــو مردکیو د جوړولو زده کړه ورکړي.»[۴۸] له افغانستان څخه د بمبیي د پوځ لویه برخه ایستل او خپلې نوې د تریاکو جګړې ته د هغه ډېرو اړینو ســرچینو په راګرځولو ســره چې په افغانســتان کې د اشــغال د ټینګښــت له پاره ښلې شــوې وې، اکلنډ، مېکناټن ته دا ناشونې کړه چې پوره عسکر او پیسې د شاه شجاع د واکمنۍ د بریا له پاره ولري.

د هغه کوچنۍ بودجې چې شاه شجاع او مېکناټن هېواد وربالندې اداره کړی وای، یوه نېغه پایله هغه وخت ښکاره شوه چې اکلنډ د اعلی سرقوماندان هغه غوښتنې رد کړې چې په کابل کې یوه لویه کلا چې خپل ښارګوټی ولري او په کندهار کې یوه دفاعي کلا جوړه کړي. اکلنډ ویلي: «مخکې له دې چې زه د کلاوو په جوړولو لوی لګښتونه وکړم، د اوس په پرتله زه غواړم سم پوه شم چې د افغانســتان وروســتی بنه به څرنګه وي.»[۴۹] دغه کړنې پوځ له داسې یوه وضعیت ســره مخ کړ چې په دې اړه یې هره پرېکړه ســتونزمنه برېښــېده. په داســې حال کې چې په کابل کې ژمي د یخنۍ منګولې خښــولې، ځینې عسکر په بالاحصار کې ځای پر ځای شول او ځینو ته د کلا له دېوالونو د ننه هاخوا دېخوا ځای ورکړل شو او پاتې نور په کمپ کې د کوهســتان واټ تر څنګ په خېمو کې لړزېدل. ســربېره پر دې، شــاه شــجاع پر مېکناټن زور واچولو چې له بالاحصار څخه چې په اسانۍ دفاع ترې کېدای شي خپل عسکر لیرې کړي. شاه شجاع ویل چې دی به افغانانو ته سخت بې عزته شي چې د انګرېزي عسکرو په شتون کې د ده حرم له لودیانې څخه دلته راشي. لکه څنګه چې اکلنډ د مناســبې نوې کلا جوړول منع کړي وو، جنرالانو بله چاره نه درلوده پرته له دې چې داســې ســپکه دفاعي پوځي اډه او بارکونه د عسکرو د اوسېدو له پاره جوړ کړي لکه دوی چې د سوله من بنګال د وریجو په پټیو کې وي، نه د افغانستان د بدورده غرونو په منځ کې.

دا څرګنده نه ده چې چا په حاصل خېزه ځمکه کې د پوځي اډې د جوړلو پرېکړه وکړه. په داسې ځمکه کې چې شاوخوا یې ویالې او په دېوالونو محاط باغونه چاپېر او له پاســه یې د یو شــمېر افغان اشــرافیانو دفاعي کلاوې پرتې وې. لکه څنګه چې په دې اړه یو کتونکي یادونه کړې: «دا به د تل له پاره د حیرانتیا ځای وي چې یو دولت، یو افســر او یا د افســرانو یوه ډله چې په دې مسلک کې پوهه او یا تجربه ولري، خپل ځواکونه په یوه نیمه اشــغال هېواد کې په داسې عجیبه او له تعقل څخه لیرې ځای کې واچوي.» حتی ګلیګ - چې تکتیکي پوهه یې نه درلوده - سمدلاسه پوه شو چې د دغسې ځای دفاع خورا ګرانه ده. ده لیکلي:

دا د اســتحکاماتو له پاره یو حیرانوونکی ځای و. کلاوې او برجونه داســې ځای وو چې یو او یا ډېرو ته یې کړی ته ورته بارکونه چې د انګرېزانو دفاعي لیکه یې جوړوله، لاندې پراته وو... داسې برېښــدل چې دوی خلک په دې قانع کوي چې انګرېزان له دوی څخه وېره نه لري او نه په دوی کوم شــک کوي ځکه تدارکاتي او د مهماتو زېرمې په خپله د پوځي اډې د ننه نه وې جوړې شــوې بلکې دغه زېرمې چې پر امنیت یې د پوځ پایښــت تړلی و، په یوه زړه کلا کې چې دفاع یې خورا ناشــونې او له بالاحصــار او پوځي اډې څخه لیرې پرته وه، جوړې شوې وې او د امنیت له پاره یې یوازې سل سپاهیان د یو دویم بریدمن تر قوماندې لاندې پوره ګڼل شوي وو. داسې یوه پوځي اډه چې لوړې ترې چاپېر وي او د برجونو تر اغېز لاندې وي هېڅ شــی تر خپلې اغېزې لاندې نه شـي راوســتی او داسې ځای پرته ده چې سیند یې له ښار څخه بېلوي؛ نو په ښار کې د نظم د ساتلو له پاره په بشپړه توګه بې ارزښته ده.[۵۰]

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو یوازې دا نه و چې پوځي اډې ته تر ټولو بد ځای غوره شــوی و. اډه د خورا بد ډیزاین پر بنسـټ جوړه شــوې وه. دا ګلیک ته له ورایه څرګنده شــوې وه چې په بیړه د ودان شـــوو بارکونو په هدېاونه کې لویه نیمګړتیا وه. له بارکونو څخه چاپېر دېوال نږدې دوه میله اوږد و چې په اغېزمنه توګه ســاتل یې ناشــوني و او د دفاع له پاره یې یوازې یو نری خندق او داسې ټیټ دفاعي دېوالونه جوړ شوي وو چې ختل پرې ډېر اسانه وو.[۵۱]

خو که څه هم د شغال ښکار او د تیاتر لمړنیو لوبو د دوی پام بل لوري ته اړولی و، د یو څو افسرانو عین نیمګړتیاوې تر ســترګو شــوې وې. د ســېکنر Skinner اســوالي لوا افســر او ځوان انګرېز- هندوســتانی کپتان جېمز ســکېنر چې د اعاشې او اباتې چارواکی و، ویلي وو چې زېرمې باید د اډې له دېوالونو د ننه راوړل شي خو سېر ولېبي کاټن Willoughby Cotton بې خونده ځواب ورکړ چې «ده ته داسې ځای نه شي ورکولی څکه چې دوی د عسکرو د بارکونو په جوړولو کې دومره بوخت دی چې د زېرمو په اړه فکر ته هېڅ وخت نه لري». یو بل کس چې د اډې ډیزاین یې تر پوښـــتنې لاندې راوســت، ډګرمن ابرهم رابرټز Abraham Roberts د شــاه شــجاع د ســاتونکې ډلې قوماندان و. کله چې د اډې جوړېدل پیل شـول، دی پوه شـو چې نه یوازې موقیعت، د اډې دفاع کمزورې کړې بلکې د بارکونو پر دېوالونو د ټکلارې ډیزاین، چې تیرکش او داسې سـوري یې نه درلودل چې له پاسـه پر دښـمنانو لویې ډبري او یا جوش تېل واچول شی، د برید په صــورت کې د اډې دفاع لږ یا ډېره ناشــونې کړې وه. نوموړي په یو لیک کې دغه نیمګړتیاوې تورن جان ســټرټ John Sturt ته چې د بنګال د انجینری ډلې غړی او د اډې ډیزاین کوونکی و، په ګوته کړې، خو هغه په ســپک او لنډ ځواب کې ورته وویل چې هېڅ به ونه کړي او ویې ویل: «تا ډېر ناوخته دغه سپارښتنې وکړې څکه نیمايي بنسټ اېښودل شوی دی. زه نه پوهېږم چې څه مناسب دي او څه نه دي. ما نقشه سېر مېکناټن ته ورکړه. زه نه پوهېږم چې نوموړي له پوځي مشاورینو څخه پرته بل چا ته ښودلې او که نه، خو چې له ده څخه ما څه وا نه اورېدل؛ نو چوپتیا یې ما د ده رضایت وګڼله او په کار مې پیل وکړ. اوس له دې څخه سم کار واخلئ او د کارنتیا په اړه یې پوښتنې بې ګټې دي.»[۵۲]

حالت هغه وخت نور هم خراب شـو چې انګرېزي عسـکرو په ډېرېدونکې توګه له افغان ښـځو سـره د اړیکو په پیلولو د افغانانو عزت ته سپکاوی وکړ. ښايي تر ټولو نوموړه یې د دوست محمد له ښایسته وریرې/ خورځې، شاه جهان بېګم ســـره د کپټان رابرټ وربرټن Robert Warburton واده و چې برنز او تورن ســـټرټ یې شـــاهدان وو.* په همدې کچه حساس، یو بل واده و چې د سیمه ییز غلزي مشر، ولو خان شمالزي د ښایسته خور او د قلات سیاسي اجنټ، تورن لېنچ Lynch سره ترسره شو، خو تر ټولو څرګنده کړنې په کابل کې وې چېرې چې مخ په ودې د فحاشۍ شور او غر په ښـــار کې د جره عســـکرو چوپېر ته ور ودانګل.[۵۳] په دې اړه میرزا عطا لیکلي: «انګرېزانو د بې شـــرمه بد اخلاقۍ واین وڅښـل او دا یې هېره کړې وه چې هره کړنه ثواب او عذاب لري؛ نو لږ موده وروسـته د شـاه رژیم د پسـرلي بڼونه د دغه ناوړه پېښـو مني ککړ کړل... اشـرافیانو یو بل ته سـرونه ټکول: «هره ورځ موږ د انګرېزانو د درواغو، ټېر ایسـتنې او بې شرمۍ سره مخ کېږو. دومره وخت به تېر نه وي چې د کابل ښځې به دوه رګه بیزوګانې وزېږوي - دا یو سـپکاوی دی!» خو په دې اړه هېڅ و نه کړل شـول.»[۵۴]

*ډګروال ســـېر رابرټ وربرټن چې د وربرټن په کورنۍ کې زېږېدلی و، له خپل ګډ دوه ګوني دود او ژبو څخه یې په ښـــه کار اخیســـتنه، په خیبر کې ۱۸۷۹-۱۸۹۸ د سرحدي قوا قومانده په لاس کې درلوده او د خیبر ملېشه Khyber Riffles یې جوړه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه خلکو څخه چې په کابل کې یې له دغه فرصت څخه پوره ګټه اخیسته، په خپله الکساندر برنز و چې اوس د ښار په منځ کې په خپل پخواني استوګنځي کې اوسېده. ده هر څه په برم او پرتم کې کول. نوموړي په بازار کې روسۍ هنداري پېرودې، له هغه به یې سیماب وګرول او د خپل کور په کړکۍ کې یې کېښودې. دا په کابل کې لمړنۍ کور و چې د ښیښې کړکۍ یې درلودې. لکه څنګه چې مېکناټن په جلال اباد کې ورځ تر بلې د حکومت ډېرې چارې په لاس کې اخیستې، برنز ته ډګر تش او بخت یې مل و. ده خپل یو ملګري ته لیکلي:

زه په کاغذ باندې دوی ته خپل نظر ورکوم، خو هېڅ کله یې په جزیاتو او تفصیل کې برخه نه اخلم... دغه زما موخې دي: چوپ اوسه، خپله تنخواه دې اخله، هېڅ داسې کار مه کوه چې امر یې درته نه وي شوی. په دغه توګه ډېر رضایت تر لاسه کوم... خو زه ډېر په زړه پورې ژوند لرم. که چاغي او خوشحالي د ښې روغتیا ثبوت وي، نو زه یې لرم. عسکري ډوډۍ مې ډېر وخت نه ده خوړلې. د اوو کسانو له پاره د ډوډۍ مېز جوړوم. شپږ افسران چې لرمونډي سکاټلنډي سهارنۍ ته یې زړه وشي، ما کره راشي او لوګي وهلي کبان، د سرو شویو کبانو کباب، مساله لرونکي خواړه او جلي وخوري او تر لسو بجو پورې خپل سېګار پو کوي... په اونۍ کې یو ځل اته کسانو ته مېلمستیا کوم. اباسین د عشرت او سوداګرۍ سیند دی. زه پر خپلو ملګرو بېلابېل توکي د بمبيي د نرخ په پرتله یو پر درېیمه ارزانه پلورم، شمپاین، د پنډۍ غوښه، مدېرا واین، هسپانوي، پرتګالي او فرانسوي واین، او حتی له ابردین Aberdeen څخه د سرو کبانو سرغوچ کوتي او پرېمانه نور توکي دوی ته موندلی شم او په خدای چې ډېر ښه ... [55]

که افغاني ګنګوسو ته پام وکړل شي، د برنز عیش او عشرت یوازې په ښه خوراک او څښاک محدود نه و. د ده تل وفادار موهن لال په وضاحت ویلي چې برنز په خپل چوپړ کې کشمیري ښځې درلودې او له افغان ښځو سره یې کار نه لرلو، خو د کابل اوازو بل څه ویل.[56] مېرزا عطا ویلي: «برنز په ځانګړې توګه بې شرمه و. ده به په خپل شخصي استوګنځي کې له خپلې افغانې رنډۍ سره د خوند او شهوت تاوده غسلونه کول او د بې سده خوند په کیسه او د عشق په پوډر به یې یو بل موښل. دوه انګرېزې معشوقې به یې هم ورسره یو ځای شوې.»[57]
دغسې ګنګوسو د کابل د خلکو او اشغالګر پوځ ښې اړیکې په چټکۍ تروې کړې. کابل د انګرېزانو له راتګ څخه مخکې هم یوه پټه د فحشا سیمه د بالاحصار دېوالونو ته څېرمه په یوه مېنه کې درلوده چې هندي سازنده او نڅاګرې په کې اوسېدې، خو هلته دومره رنډۍ نه وې چې د ۴۵۰۰ سپاهیانو او ۱۵۵۰۰ د کمپ د ملکیانو اړتیا پوره کړي او داسې برېښېدل چې د افغان ښځو یو ډېرېدونکي شمېر په لنډ وخت کې د ډېرې ګټې له پاره اډې ته ورتللې. دغه کړنې دومره ډېرې شوې چې انګرېزانو، افغان ښځو ته د لاس رسۍ په اړه یو شعر جوړ کړ:

د کابل ښځې په چادرۍ کې
له چا سره وي خامخا په عاشقۍ کې [58]

محمد حسین هراتي لیکلي:

اعلحضرت ته د ښه نیت له مخې راپور ورکړل شو چې یو مخ پر ودې د رنډیو بازار شته چې فحاشې پرته له وېرې او پرته له دې چې څوک څه ورته ووايي شپه او ورځ د انګرېزانو کمپ ته پر اس وړل او راوړل کېږي. دوی ښې جامې او ګاڼې پر تن او ښه په سینګار تګ راتګ کوي چې څوک یې ونه پېژني چې دا د کومې اشرافي کورنۍ غړې او یا فحاشې دي. دغه کړنو عامه اخلاق اغېزمن او د دولت بنستونه یې کمزوري کړي. دا د بارکزیو دوه مخې ډله وه چې لمړی یې دغه ناولتوب ته لاره هواره کړه او بیا یې په دې هیله چې د عوامو کرکه وپاروي، پړه پر اعلحضرت واچوله. اعلحضرت دغه خبره له مېکناټن سره چې د دغه خلکو د خیانت او اخلاقي اصولو په اړه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربه نه درلوده، مطرح کړه. مېکناټن یوازې داسې ځواب ورکړ: «که موږ د دغه خوارکیو د جنسي نږدېوالي مخنیوی وکړو، دوی به ناروغه شي.» اعلحضرت ځواب ورکړ: «سمه ده، خو په دغه پاچاهۍ کې به دا لېترلېږه ښه وي چې عسکرو ته دسپلین ورکړل شي او د اخلاقو د باندنۍ ونګې درناوی وکړي.»[٥٩]

فیض محمد وروسته په سراج التواریخ کې لیکلي چې افغان ننګ او عزت ته دغه ډېرېدونکي سپکاوي له خپل حکومت څخه د خلکو د ناراضتیا لوی لامل شو.

د شاه خیرخوا چې د محمدي شرعیت پلویان وو او پوهېدل چې دغه بې شرمه کاروبار د مذهبي سپېڅلتیا او درنښت پرده څیرې کړې ... شاه ته یې سرټکونه وکړه. شاه مېکناټن ته وویل چې «دی باید د دغه کړنو مخه په جزا ورکولو ونیسي. او که نه، دغه ناولې ونه به د بد اخلاقۍ ناوړه مېوه وکړي»، خو مېکناټن د شــــاه خبرو ته پام ونه کړ او په دې اړه یې هر څه هېر کړل... تر دغه وخته خلکو ته څرګنده نه وه چې د دولت په چارو او هغه موضــوعګانو کې شـــاه هېڅ واک نه لري چې پر پوځ اغېز اچوي. اوس بارکزیو د حقیقت په بربنډولو پیل وکړ او ویل یې: «شـاه یوازې په نوم شـاه دی او د دولت په چارو کې هېڅ واک نه لري.» سـربېره پر دې، د خپلو موخو له پاره به دوی د انګرېزانو د واک ډېره یادونه کوله او پر خپلو ګاونډیو یې مسخرې کولې او ویل یې: «حتی ستاسې ښځې اوس ستاسې نه دي.»[٦٠]

د ۱۸۴۰ کال د مارچ په میاشت کې، شاه له خپلې ژمنۍ مېنې څخه بېرته کابل ته لاړ او دربار د بالاحصار د سرپټو برنډو په منځ کې راغونډ شو. اوس چې دوست محمد خان په تل خونه کې بندي و، شاه شجاع او ملاترو یې د خپلې واکمنۍ ټینګښـــت ته ښـــه فرصـــت درلود، خو د پســـرلي واورې ویلېدنې دوه ســـیالې ادارې ولیدې. د واک له پاره انګرابېزانو او ســدوزیو له یو بل سره سیالي پیل کړه. په همدغه وخت کې د خلکو تر منځ ډېرېدونکې انګېرنه مخ په پراخېدو وه چې د نوي رژیم د واک چارې د مېکناټن په لاس کې دي، نه د شاه شجاع.
د مخالفت وجه د شخصـیتونو ټکر نه و: شـاه شـجاع اوس هم لکه تل په مېکناټن ګران و: کله چې مېکناټن له جلال اباد څخه بېرته کابل ته لاړ، اکلنډ ته یې داسې ولیکل:

د اعلحضـرت د کرکټر په اړه زما تجربه ما په بشـپړه توګه قانع کوي چې د هغه د واکمنۍ په ټوله سـیمه کې د ده په پرتله بل وړ کس نه شته. له پنځ شنبې څخه پرته، اعلحضرت هره ورځ دوه ساعته په دربار کې په ډېره حوصله خپلو مشرانو استازو ته غوږ نیسي. یوه ورځ یې د ټولو هغه خلکو سـرټکونو ته بېله کړې چې چارواکو یې د عریضـو په اړه اقدام نه وي کړی. د عدالت په پلې کولو کې ډېر رټ دی. یوه بېلګه یې د یوه قاتل جزا وه چې د نومورې د ښـلو په پار له ډېرو سـپارښـتنو سـره سـره، شـاه عدالت پلی کړ، خو له بلې خوا اعلحضرت مهربان او بې کچې ډېر په زړه نرم دی. که د یو سلطان شخصي ځانګړتیاوې د هغه نومیالتوب تضمینوي؛ نو شاه شجاع به هرومرو ګرانښت ترلاسه کوي.[٦١]

خو د پالیســی په هکله یو لړ موضــوعګانو او همدا راز د واک د وېش ســاده حقیقت کرار کرار شــاه له خپل انګرېز ملاترو څخه بېلاوه. لکه څنګه چې موهن لال لیکلي: «نه موږ د واک چارې په خپل لاس کې واخیستې او نه مو په بشپړه توګه شاه شجاع الملک ته ورکړې. له شجاع سره د هوکړې د شرطونو برعکس، موږ نه یوازې په باطن کې بلکې په ټته په ټولو چارو کې لاس وهنه کوله، خو په ظاهر کې موږ د بې پلوۍ نقاب پر مخ اېښــی و.» داســې حالتونو شــجاع

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځورولو. موهن لال بیا لیکلي: «شـاه زمورږ په واک په غوسـه شـو، هغه نفوذ ناراضـه کړی چې د ده په اند مورږ ورځ تر بلې د خپلو ګټو له پاره ترلاسه کولو او هغه شک خپه کړی و چی ټول خلک انګرېزانو ته د هېواد د واکدارانو په سترګه ګوري.»[۶۲]

د بېلتون لمړنی ټکی د پوځ په اړه مخالفت و. اکلنډ اوس له افغانسـتان څخه د دفاع په لوړه بیه پوه و او همدا راز خبر و چی دې د سوېلي هند د کمپنۍ کوچنۍ ګټه په لوی تاوان بدله کړې. نوموړي ته له لندن څخه په کلکه دستور ورکړل شـوی و چې د شـاه شـجاع له پاره یو اغېزمن افغان ملي پوځ ته روزنه ورکړي څو دی په خپله په خوندي توګه له ځان څخه د دفاع وړتیا پیدا کړي او انګرېزان به بیا په دې وتوانېږي چې له افغانسـتان څخه ووځي. لوی والي په دې اړه لیکلي: «ما مېکناټن ته په کلکه ټینګار وکړ چې خپل ټول توان د شـــاه شـــجاع د حکومت په ټینګولو، د ده د پوځ په اغېزمنتیا او د ده د ګرانښـت په پیدا کولو ولګوي [ځکه چې] زمورږ منظم عسـکر له دغه موسـم څخه ډېر نه شي پاتې کېدای.»[۶۳] اکلنډ په همدې کچه شاه شجاع ته سپین وویل: «زه تر اوسه حاضر وم چې تر هغه وخته به انګرېز عسکر په افغانسـتان کې پاتې کېږي تر څو چې څوک تاسې ته د زیان رسـولو ګواښ برېښـي، خو تاسې اعلحضـرت د انګرېزي عسـکرو په اړه زما په هیله پوهېږئ چې سـتاسې له خوندیتوب سـره سـم یې له افغانسـتان څخه وباسـم او سـتاسې اعلحضرت پوځ به داسې تنظیم شي چې تاسې په بشپړه توګه د افغان مشروع پاچاهۍ په ساتلو کې تکیه پرې وکړئ.»[۶۴] کېدای شي په شـېمله کې دغه پلان سـم برېښـېده، خو شـاه شـجاع د مېکناټن په سـتراتیژۍ پوره پوهېده چې د قومي سپرو عسکرو مالي سـرچینې د یو مسـلکي پلي پوځ جوړونې ته په راګرځولو سـره به هغه وسـیلې له منځه لاړې شي چې دی یې د قومي مشـرانو د ملاتړ ساتلو له پاره کاروي. شاه شجاع مکلف و چې د سپرو جنګي ډلو په بدل کې اشرافیانو ته پیسـې، ځمکه او جایداد ورکړي. دغه سـیسـتم له فسـاد څخه ډک و: قومي مشـرانو به د تنخواوو په لېسـت کې د رښـتیني شـمېر په پرتله ډېر لوی شـمېر نومونه ورکړي وو او په دې توګه به یې ډېرې پیسـې ترلاسـه کولې، خو همدغه پیسـو په مرکز کې رژیم ته د ځایي او سـیمه ییزه قومي مشـرانو وفاداري سـاتلې وه. د قومي مشـرانو په بیه، د یو مېړن او ښـه روزل شـوي ځواک په جوړولو سـره مېکناټن له شاه شجاع څخه هغه یوازینی فرصت واخیسـت چې اشـرافیانو تـه د دوی د وفـادارۍ پـه بـدل کې انعـام ورکړي او همـدا راز د نوموړي د تر ټولو ارزښـــتمنو ملاتړو واک او شـــتمنې کمزورې کړي.

خو مېکناټن د اصـــلاحاتو په پلي کولو ټینګار کولو او ویل یې چې د خطر په پرتله یې، ســـپما او ګټې ډېرې دي؛ نو لکه څنګه چې تمه یې کېده، قومي مشـرانو ته د پیسـو ورکړه یو پر څلورمه لږ شـوه. په ۱۸۳۹ کال کې د ۳،۱ میلیونو روپیو څخه دوه کاله وروســـته یو میلیون روپیو ته ټیټه شـــوه. تر ټولو ډېرې پیســـې په ســـوېلي غلزي قبیلو چې د کابل خیبر حیاتي لاره یې ساتله، کمې شوې په داسې حال کې چې قومي مشرانو طبعاً تمه درلوده چې بډای پرنګیان به د دوی خرڅ ډېر کړي. د دغه لوېې تمې برعکس کړنې دوی ته دا احســـاس ورکړ چې له دوی ســـره دوکه او خیانت شـــوی دی، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د ازبک، جانباز او هزازه، حاضـر باش نویو لواوو داسـې جلبیان لرل چې د موهن لال په خبره له اشرافیت څخه ډېر لیرې او «د ټیټې کچې او کم ارزښته خلک و».

کله چې قومي مشرانو په دې اړه سرټکونه وکړه، د برنز تر روزنې لاندې بې باکه او نه خوښېدونکی کپټان ر. س. ټرور R S Trevor چې مېکناټن د اصلاحاتو چارې ور سـپارلې وې، ورته ولیکل چې «په دوو کالو کې به ټول مشـران چې په پوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو کې ښکېل دي، د ده [د شاه] له چوپړ څخه به ګوښه شي او کومې پيسې چې دوی په دغه دوو کالو کې تر لاسه کوي، د خيرات په څېر يې دې وګڼي». دا يوه جدي موضوع وه ځکه چې دغه کار ټول دوديز نظم ته ګواښ و او د قومي مشرانو عايد يې بندولو. په دې توګه مېکناټن د شاه شجاع طبيعي ملاتړي چې تر اوسه د سدوزيو په راتګ ډېر خوښ وو، ناراضه کړل؛ نو بې اړنګه دا هغه پاليسي نه وه چې شاه شجاع د داسې خلکو په منځ کې ګران کړي چې د نوموړي واکمني يې ګډوډه کولی شواى.[۶۵]

دوه کلک شاهي پلوه اشرافيان د انګرېزانو په دې کړنه چې دوی د خپلو دوديزه حقونو توږل ګڼل، ډېر په ځاځ وو. د دغه دوه کسانو شاليد له يو بل څخه توپير درلود. عبدالله خان اڅکزی چې يو ځوان ميراثي اشرافي جنګيالی و، په سيمه کې له تر ټولو واکمنې او پېژندل شوې کورنۍ څخه و. د درانيو د امپراتورۍ په لمړيو کې، د احمدشاه ابدالي په سلطنت کې د نوموړي نيکه د وزير څوکۍ په لاسته راوړلو کې د دوست محمد د نيکه سيال و او اڅکزيو هېڅ کله د بارکزيو په اړه دومره ناتې نه درلود. عبدالله خان اڅکزي د کندهار په سوبل کې له نه تسخيرېدونکې کلا څخه د سيمې لويه برخه په واک کې لرله. دوست محمد تل د ده د ملاتړ په خپلولو کې پام کولو. د اڅکزي په پرتله، سپينږيری امين الله خان لوګری څه نا څه په خپل مټ لوی مقام ترلاسه کړی و. د تيمورشاه په وخت کې د نوموړي پلار د کشمير د والي يو لوی اداري مامور و. دی سدوزيو ته د شاه زمان، شاه محمود او بلاخره د شاه شجاع په واکمنۍ کې د وفادارۍ په وسيله د کابل سوېل ته د لوګر مهمو ستراتېژکو سيمو لويه برخه، د کابل شمال ته کوهستان او همدارنګه د خرد کابل حياتي دره چې د سوېل له لوري يې د کابل لاره تر اغېز لاندې درلوده، تر خپل واک لاندې لرله. دی اوس ډېر سپينږيری و، خو تر اوسه يې هم ډېر واک درلود او د خپلې شخصي ملېشې سربېره يې ډېره پانګه په واک کې لرله. دوی دواړه ژمن سدوزي پلوه شاهي غوښتونکي وو چې طبعاً د دوست محمد د واکمنۍ په پرتله يې د شاه شجاع حکومت غوره ګڼلو، خو دوی په خپل هېواد کې د کافر انګرېزانو په شتون کلک اعتراض درلود او هوډمن وو چې د کافرانو هېڅ نوښت به دوی د خپل سلطان له چوپړ څخه او يا خپلو ملاتړو ته د بسپنې له ورکړې څخه محروم نه کړي. کله چې دوی کپتان ټرور ته د خپلو معاشونو د کمښت په اړه د سرټکونې له پاره ورغلل، د موهن لال د خبرو پر بنسټ، ټرور دوی سپک کړل او وېې شړل.[۶۶]

د دغسې لوړې رتبې او لوړ پوړي اشرافيانو عزت ته د داسې ټيټې کچې کس چلند د منلو وړ نه و. دوی شاه ته سر وټکاوه. نوموړي له دوی سره خواخوږي ښرګنده کړه او مېکناټن ته يې ولېږل، خو مېکناټن ورسره مرسته ونه کړه. لنډه موده وروسته، له امين الله څخه «غوښتنه وشوه چې د خپلې سيمې مشري پرېږدي او يا دې ډېره ماليه ورکړي».[۶۷] امين الله دغه غوښتنه ونه منله؛ نو لږ وخت وروسته د سيمې واک ورڅخه واخيستل شو.[۶۸] له دغه شېبې څخه وروسته، عبدالله خان اڅکزی او امين الله خان لوګری په کابل کې د انګرېزانو د مخالفت تر ټولو فعال مرکزونه وګرځېدل او د داسې فرصت له پاره يې پلانونه جوړول چې د غچ اخيستلو له پاره ورته تم وو.

د مېکناټن نوي افغان ملي پوځ د جوړښت په اړه شاه شجاع د خپلو اندېښنو له پاره دلايل لرل. دی په ځانګړې توګه ډاډه نه و چې داسې انګرېزي روزل شوی پوځ به د ده اطاعت وکړي چې انګرېز افسران ولري. لکه څنګه چې ده اکلنډ ته ياده کړې وه، د شاه شجاع د ساتونکو انګرېزي ډلې د نوموړي د خبرو اطاعت ته دومره ګروهنه نه ښوده. هغه ليکلي: «زه په شخصي توګه له ډېرو افسرانو سره اشنايي نه لرم او نه په دې پوهېږم چې د دوی دنده څه ده. داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري چې دوی حتی په دې نه پوهېږي چې دوی زما عسکر دي. زه هيله لرم چې دغه افسران او کنډکونه چې تاسې په خپله مهرباني زما د چوپړ له پاره راکړي په دې پوه شي چې دوی زما مستخدمان دي؛ نو د دغه هېواد اتباع به پوه شي چې پر ما باندې تړلي خلک زما چوپړيالان دي. نه ويشت کاله کېږي چې دغه هېواد له شاهي واکمنۍ څخه محروم و او پايله يې بغاوتونه وو. اوس هره کورنۍ د خپل ځان باداره ده... نو زه هيله لرم چې ټول افســران او کنډکونه زما تر امر لاندې وي چې دا به د دوی په منځ کې او همدا راز د دوی او د دې هېواد د خلکو ترمنځ ښه احساس رامنځته کړي او د خلکو ټول بد اړنګونه به ليرې کړي.»[۶۹]

د خپل پوځ په کنټرول کې کمزورتيا، شـــاه شــجاع ته پرته له بې وســۍ بل څه رامنځته نه کړل. همدغه مهال و چې نوموړی په ژور خپګان اخته شــو. ډيورنډ ليکلي: «دی به ډېر کله د مانۍ په کړکۍ کې ناســت و او خپل وخت به يې په ښــار او د ښــار په هوارو کې بېلابېلو ځيزونو ته پر کتلو تېرولو. يو ځل، وروســته له اوږدې چوپتيا څخه شـاه شـجاع وويل چې «ده ته هر څه غونج، کوچني او خوار ښــکاري او د خپل زوړتوب کابل يې له هېڅ پلوه د خپلې ځوانۍ د کابل يادونو ته ورته نه دی».»[۷۰] حتی د تل بې احساسه مېکناټن دې ته پام شو چې «اعلحضرت په دې ورستيو کې له روحي خپګان سره مخ دی».[۷۱]

که شـاه شـجاع هر څومره غوښـتل چې نوې لواوې په خپل واک کې ولري، خو دی په کړوونکې توګه پوهېده چې پرته د انګرېزانو له مالي مرستې څخه نه شي کولای يو څه نا څه لوی پوځ ولري. د هر وخت په څېر، د داسې بې وزله، وېشلي او نه کنټرولېدونکي هېواد د ساتلو په موخه د يو لوی پوځ د درلودلو له پاره د پيسو موندل ډېر رېړن کار و. د درانيو د زړې امپراتورۍ پوځ د باج ورکوونکو بډايه ســيمو لکه ســند او کشــمير په ماليو جوړ شــوی و. کله چې دغې ســيمې د افغان واکمنانو له لاســه ووتلې، دوی پرته له دې چې د نه منلو وړ ماليې په څه نا څه شــنډو او کم حاصـله ځمکو چې ورته پاتې وې، وضع کړي، د پوځ په ساتلو کې يې لويه ستونزه لرله. شجاع، اکلنډ ته ليکلي:

د ســدوزيو په دوران کې، په هره کورنۍ او قبيله کې يو درونډ مشــر و چې د ســپرو نظاميانو لګښــت يې د ترلاس لاندې ســيمو لکه پنجاب، سـند، کشـمير، ملتان او د خراسـان د يوې برخې له عايداتو څخه ورکول کېده. اوس له هرې کورنۍ څخه لس، شـل کسـه د مشرۍ ادعا او د لګښت د ورکړې غوښتنې کوي. زه بله چاره نه لرم مګر دا چې ستاسې د دوستانه مرستې غوښتنه وکړم.
دوست محمد چې د شوکې، غصب او استبدادي عادتونو څخه يې لاس نه شـوای اخيسـتی، ونه شـو کړی چې له خپلو عايداتو څخه خرڅ پوره کړي، په يو کال کې يې خپلو خلکو ته شپږ مياشتې پيسې ورنه کړې او د معاش په بدل کې يې د کتان جامې ورکړې؛ نو خلک ترې خپه شــول او ورڅخه لاړل. که د شــمېر له پلوه داســې پوځ جوړ کړم چې د دوســت محمد له پوځ ســره برابر وي؛ نو بيا زما او د دوست محمد تر منځ توپير نه شته او که زه داسې لوی پوځ جوړ کړم چې د هېواد عايدات يې خرڅ پوره نه شي کړی؛ نو زه به د دوی د اعاشې له پاره پوره څه ونه لرم او که چېرې د دوست محمد د پوځ په پرتله، زما پوځ کوچنی وي؛ نو خلک به چې ورځ تر بلې په لوی شمېر زما په چوپړ کې د ګمارنې غوښـتنه کوي، له ما څخه ناهيلي شي. زه له دې وچې په سـتونزو اخته يم او شـپه او ورځ په اندېښـنو کې ډوب يم. کله چې زه د عسـکرو د تنخوا په اړه سـوچ کوم، زه هېڅ چاره نه شـم موندلی پرته له دې چې سـتاسې عاليقدر په مرسـته تکيه وکړم.[۷۲]

له يوې خوا په پوځ کې د اصــلاحاتو په اړه د شـــاه شــجاع او مېکناټن تر منځ مخالفت و او له بلې خوا د شـــاه اداري رييس، ملا شکور د برنز او مېکناټن د نظرياتو پر وړاندې په ډېرېدونکې توګه ټينګ درېده. موهن لال ليکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې ټولې پیسې د دولتي او غیر دولتي لارو ترلاسه کولې، د شاه شجاع د پیسو په صندوق کې به یې کېښودې. نوموړی شاه ته ډېر نږدې و، خو دی خورا ډېر بوډا او د لوړې څوکۍ وړ نه و. حافظه یې دومره کمزوري شوې وه چې خپل ښه اشنا خلک یې نه پېژندل، حتی که یوه ورځ مخکې یې هم لیدلي وو، خو له شاه سره زموږ په ترون په بشپړه توګه پوه و او د همدغه ترون پر بنسټ پوهېده چې موږ د هېواد د اداري حق نه لرو.[۷۳]

ډېره موده مخکې له دې چې شاه شجاع په خپلو کورنیو چارو کې د مېکناټن او برنز د لاسوهنې په اړه خپل زغم بایلي، ملا شکور هڅه کوله چې د هېواد په ورځنیو چارو کې د انګرېزانو د لاسوهنې مخه ونیسي او په ټولو چارو کې شجاع واکمن وښیي. محمد حسین هراتي په دې هکله لیکلي:

که څه هم ټول په حقیقت پوهېدل، خو تر څو به چې ملا شکور په دفتر کې و، وضعیت ته به داسې بڼه ورکړل شوې وه لکه اعلحضرت چې د سلطنت او پوخ په چارو کې واک درلود. د بېلګې په توګه، که اوږو ته به یوه ټاکلې بیه کېښودل شوه او کوم سوداګر به له دې څخه سرغړونه وکړه؛ نو ملا شکور به د کابل د مرستیال والي په توګه ده ته جزا ورکوله، خو کله به چې برنز هغه ته خپل چېړاسي د اعتراض له پاره ورولېږه چې نیول شوی کس د ده له کسانو څخه دی، بیا به یې خوشي کړ. په دی توګه به ملا شکور هڅه کوله چې حکومت ته د مشروعیت ونګه ورکړي، خو برنز او مېکناټن نه غوښتل چې په هېڅ وجه له دوی سره څوک په ټکر کې شي او نه یې د حکومت پیچلتیا ته پام کولو. دوی ورځ تر بلې له ملا شکور سره بدورده کېدل.[۷۴]

په ۱۸۴۰ کال کې کله چې پسرلی په اوړي بدل شو، دا یوازې هغه څه نه وو چې د شجاع د حکومت ګرانښت او اغېزمنتیا یې کمزورې کړې وه. خلکو د شاه په اړه هم سرټکونې کولې چې ده ته لاس رسی نه لري او له خلکو څخه ځان لیرې ساتي. د شاه دغه چلند د دوست محمد د هغه چلند سره برعکس و چې په لوی لاس یې د انساني حقونو د مساواتو پر بنسټ د خپلو خلکو سره اړیکې ساتلې. د پخوا راهیسې، هر څومره به چې شاه شجاع خپل واک کمزوری احساسولو، هغومره به یې ځان خلکو ته په شان او دبدبې ښکاره کولو. په ۱۸۴۰ کال کې هم څنګه چې نوموړی پوه شو چې واک یې له لاسه تلونکی دی، سمدلاسه داسې راپورونه ورکول کېدل چې شاه له خپلو درباریانو سره په کابل او څېرمه سیمو کې شانداره یوندودونه کوي. کله چې په دې وخت کې انځورګر جېمز رټري له دوی سره مخ شو، نوموړي لیکلي: «د شجاع پرتمینه او له شوکت څخه ډکه بدرګه له بیان څخه وتلې خبره ده. په سر کې په هسکه غاړه سینګار شوي او په ځونډېیو پټ په سلګونو شاهي اسونه په تعلیم قدم روان وو» . ډېر توپونه په زرغون او روښانه سره رنګه جنډو سینګار شوي وو او اوښبونو به وخت نا وخت په دغه توپونو هوایي ډزې کولې: «د لوګیو لړې اوچتېدې او نښه ویشتونکي په وېروونکې توګه عجیبه ښکارېدل. د دوی ړېرې له توپ څخه د ډزو د اور لمبو سوځولې او دوی به ورته خوشحالېدل.» کله چې د اوښانو کنوونکې توپخانه تېره شوه، د شاهي نسلي اسونو ډله راورسېده چې «په زرینه ټوټو او ګاڼو پټ وو».

ورپسې د دربار افسران روان وو، اعدام کوونکي، نېزه وهونکي، تورزن، ډولچي او د بیرغ وړونکي چې ښکر لرونکې د اوږدو څوکو زرغون او روښانه سرې خولۍ یې پر سر وې. دوی به لاره پرانیستله، خو په خپله ګنه ګوڼه به یې بنده کړه او د نظم په راوستلو کې به یې بې نظمي جوړه کړه. ورپسې سر تر پښو وسلوال او سینګار شوې د اسونو یوه ډله په دوی پسې روانه وه، ډولچیان، چې په ستارو ښکلي شوو ډولونو یې شرنګاری جوړ کړی و، زموږ له مخې څخه تېرېدل او ډولونه یې وهل. وروسته ګڼ شمېر پښې لوڅي او څېور اس پالونکي راغلل. بیا په شنو او سپینزر رنګه جامو کې د استازي د ساتونکو یوه ډلګی په توپونو راغله او ورپسې په خپله اعلحضرت راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه په ډېره دبدبه نیغ ناست و. سم د پاچا په شان ښکاره کېده. امپراتوریزه د بخمل تاج یې پر سر و چې له پاسنۍ برخې څخه یې د زمرودو د پاڼو هار ځړېده او تر اوچتې وروځې یې چې په ګرانبیه ګاڼو کې ځلېده، چاپېر و. چسپ د چوڼیا ساتڼ کمیس یې اغوستی و چې سره زر او نور ګرانبیه غمي په کې ګنډل شوي وو او له اوږو څخه تر مچ پورې یې متې بندونونه او وېښې اچولي وو. د تېرو څوکو او اوچتو پوندو د څرمنې موزې یې په پښو وې. یو تخته او پلن کشمیري کمربند یې تړلی و چې یو ښایسته اصفهاني خنجر ترې ځړېده. شاه د ډېر ښایست څښتن و او داسې ځېره یې درلوده چې هېڅ یې د عمر اټکل نه شوی کولای. د ښې کرکټر یې له خپګان سره ګډ له بریده وتلی خانتما و، د ښې داسې کرکټر چې وروځو، اوږدو تورو سترګو او تک تورې ږیرې یې لس ځله ډېر کړی و.

رټري هک پک شو او ویې لیدل چې د کابل خلک بې علاقې نه ښکارېدل: «کله چې شاهي کتار د کابل په تنګو او کږو وږو واټونو کې تېرېده، هره کړکۍ، دروازه او بام له ننداره‌چیانو څخه ډک وو». خو دوی د شاه «د پرنګیانو شاه» په ستاینه کې هېڅ چیغه ونه وهله او نه یې د «خوښۍ او یا وفادارۍ » نښه نښانه وښوده، خو یوازې «بې حرکته کرار ولاړ وو، لاســونه یې یو تر بل تاو او په ســینه ایښــي، خپلې تســبیح یې اړولې او په دوامداره چوپه خوله یې ننداره کوله. دغه چوپتیا له یوې خوا د یو عارض پر چیغه ماته شوه چې غوښتل یې خپل غږ شاه ته ورسوي، خو بېرته شاته وتمبول شو او له بلې خوا د سپرې پوځي ډلې په ترپاري او د افسرانو پر چیغو چې د شاهانو شاه او د دراني کورنۍ د مرغلرې د واک او فضــیلت ادعا یې کوله». یو بل افســر، لاکیر ویلیس هارټ Lockyer Willis Hart زیاته کړې: «دغســې ښه او مراسم چې افغانانو ورڅخه ډېره کرکه لرله، د شاه د کمزورۍ او عیب څرګندوی وو او کله کله به د لېونتوب تر کچې ترسره کېدل».[۷۵]

د شاه شجاع له ولس څخه لیرې افراطي شاهي ښې نه یوازې عادي خلکو ته بلکې مشرانو ته هم د سپکاوي احساس ورکړی و. د ډګرمن وېډ منشي شـاه همت علي لیکلي: «د مخکني واکمن په دوره کې له اشـرافیانو سـره په ډېر پام او کابو په مســاوي توګه چلند کېده او د ډېر نفوذ څښــتن وو، خو اوس ... په ډېره ســختۍ له شــاه ســره د لیدو وخت ترلاســه کوي او څوک چې دربار کارکوونکو ته په غوړه مالۍ وخت تر لاســه کړي، دې ته اړ ایسـتل کېږي چې له شــاه څخه په مناسب واټن کې په ډېره تواضع ودرېږي. ډېر داسې پېښ شوي چې دغه خلک پرته له دې چې له شاه سره حتی د یوې خبرې اجازه ورکړل شي، له دربار څخه وتلو ته اړ شوي.»[۷۶]

همدغه چلند د شجاع د ساتونکې ډلې انګرېزي افسـرانو په زړه کې هم سخته کرکه د خپل تش په نامه ګمارونکي پر وړاندې پیدا کړې وه. برنز هڅه وکړه چې شاه ته ووایي: «که چېرې د اونۍ په یوه ځانګړې ورځ کې انګرېزانو ته ستاسې د لیدو وخت ورکړل شي، دوی به په دربار کې ډېر نه ترسترګو کېږي ځکه چې اوس دوی ډېر کله راځي او له تاسې سـره د کتنې له پاره ډېر وخت تم وي او کله کله له ډېر انتظار وروسته پرته له کتنې بېرته لاړ شي.»[۷۷]

خو تر ټولو لویه سـتونزه چې مېکناټن هم وربانديې پوه و، د شـاه شـجاع په ګرانښـت کې هغه زیاتېدونکی داغ و چې له کافر انګرېزانو ســره د ده دوامداره تړاو رامنځته کړی و. د خلکو په منځ کې دغه پراخېدونکی اند هم چې نوموړی د انګرېزانو لاسپوڅی دی، د ده شهرت زیانمن کړی و. مېکناټن، اکلنډ ته لیکلي:

اعلحضــرت له عجیبه او پېچلو ســتونزو ســره لاس او ګرېوان دی. تر ټولو لویه ســتونزه یې له موږ ســره تړاو دی. موږ پر تخت کښــېناوه، خو زموږ د دغه کړنې د انګېزې په اړه پوهېدنه به څه وخت ونیســي. ډېر خلک شــته چې زموږ دغه کړنه په لوی لاس بده تلقین کوي. زموږ د ادیانو توپیر بې اړنګه د خلکو د کرکې لویه وجه ده. افغان یو ســخت دریزه ملت دی. دوی ته نه یوازې زموږ دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې زموږ دودونه هم د زغملو وړ نه دي؛ نو موږ باید دلته د نوښــتونو په هره هڅه کې ډېر پام وکړو او باید هېڅ کله هېر نه کړو چې یو سیستم، که هر څومره ښه وي، کېدای شي په دغه هېواد کې یې پلي کول ښه نه وي او نه به له هرکلي سره مخ شي. ډېر پام په کار دی چې له یوې خوا د خلکو تعصب ونه پاروړل شي او له بلې خوا دولت په هغه بنه پرېښودل شي په کومه چې موږ ترلاسه کړ.[78]

مېکناټن همدې ته ورته موضوع کالوین ته وړاندې کړه: «ستاسې ارزونه سمه ده چې بارکزي تر ټولو پاروونکې توکي په لاس کې لري. له ټولو اخلاقي څرنګتیاوو څخه حرص، خوش باوري او تعصـــب تر ټولو پاروونکي دي او افغانان دغه درې واړه په بشـــپړ ډول لري.» که څه هم مېکناټن د ادیانو توپیر ته ســـمه اشـــاره کړې وه چې پر نوي رژیم باندې د افغانانو د اعتراضونو زړه یې جوړ کړی و او مسلمان علما په چټکۍ سره د شجاع پر وړاندې د مخالفت په مرکزونو بدلېدل، خو د افغانانو مخالفت ته یې د تعصب رنګ ورکول ناسم وو. په پیل کې د سدوزیو او انګرېزانو رژیم ملایان خپل کړي وو او له پیل څخه یې هغه ملایانو ته چې «د رژیم ملاتړ یې وکړ» تنخواوې ورکولې، خو د وخت په تېرېدو، ملایانو کرار کرار د داسې رژیم د مخالفت له پاره دلایل پیدا کول چې یوازې کله نا کله به یې د دوی له بنسـتونو سـره او د جوماتونو په بیا رغونه کې مرســته کوله او رژیم د خپلو عایداتو د مظبوطولو له پاره په مذهبي ځایونو ډېره بســپنه ودروله. لویه کرکه هغه وخت رامنځته شــوه چې «انګرېزان تر دې کچې لاړل چې حتی د صــوفیانو لوی زیارت، عاشـقان او عارفان د بسـپنې کنټرول یې په لاس کې واخیسـت حال دا چې له پخوا څخه پخوانیو حاکمانو اعانه ورته ځانګړې کوله». دا ډېره بې کفایته کړنه وه ځکه چې دغه زیارت چې پخوا د بودایانو عبادتځای و، د زاړه کابل تر ټولو مهم او پخوانی د مذهبي ټولنې مرکز و او د څو نسلونو راهیسې په کې د بارکزیو هدیره وه. سربېره پر دې، دغه ځای د دوه تر ټولو ځواکمنو او مخورو کوهستاني میراثي شېخانو، میرمسجدي او ورور یې میرحاجي تر کنټرول لاندې و. میر مسـجدي په کابل کې د پل خشــتي میراثي امام او همدارنګه د کابل د علماوو مشــر هم و.[79] دوی ډېر نفوذ درلود او د انګرېز- ســـدوزیو حکومت باید تر خپله وســـه هڅه کړې وای چې د دوی ملاتړ خپل کړي، خو داســې برېښـــېدل چې حکومت د دغسې کړنو د ترسره کولو په هڅو کې لېوال و چې دوی یې پردي کول.

د ملایانو د عدالت د ادارې په چارو کې د انګرېزانو لاس وهنې وضعیت نور هم خراب کړ. د ملایانو نه خوښېدل (دا د پوهاوي وړ وه) چې په شـــریعت کې د کلانکار مېکناټن له خوا لکچر ورکړل شــي. مېکناټن بیا لیکلي: «زه پر ملایانو په بشپړ ډول بریالی شـوم او دوی ومنله چې په محمدي قانون کې زما پوهه د دوی په پرتله ډېره ده.»[80] خو د خپل ښـار په ناولتوب او فســـاد ډوبولو کې دوی له دغه عیاش کافرانو څخه ډېره کرکه درلوده او په کلکه یې د شـــرابي انګرېزي او هندي ډلو په اړه اعتراضونه کول چې په ښکاره یې په واټونو کې شراب څښل او په فحشاوو کې ښکېل وو.

د انګرېزانو د شـــتون پر ضـــد په محافظه کاره اعتراضـــونو کې اشـــرافیان هم شـــریک وو. د ۱۸۴۰ کال په دوبي کې انګرېزانو ته د یو لوړپوړي بارکزي مشـر، سـلطان محمد خان لیک په لاس ورغی چې د پېښـور پخوانی والي و. نوموړي خپل میړني ورور دوسـت محمد ته په سـر ټکونه لیکلي وو: «زه نه شـم کولای هغه اکاړي چې انګرېزان یې کوي درته بیان کړم، ځینې خلک په ښـکاره توګه عیسـویان شـول او نورو فحشـاوو ته مخ کړ. غله ډېره ګرانه شـوې. خدای دې دغه لعنتیان زموږ له هېواد څخه وباسي ځکه چې د دوی راتګ نه یوازې دین بلکې حیا هم له منځه یوړه.»[81]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۸۴۰ کال په جولای کې تولې دغسې ناراضـتیاوې او اعتراضـونه هغه وخت خپل کرکېچن پړاو ته ورسـېدل چې د میرحاجي په لمسـون د جمعې لمانځه په خطبه کې علماوو د شـاه نوم نه اخیسـته او دلیل یې دا و چې د هېواد اصـلي واکمن کافران دي. د برنز له قوله، شاه شجاع سمدلاسه میرحاجي بالاحصار ته ور وغوښت. میرحاجي، شاه ته وویل:

په ښار کې شپه او ورځ ملایان او نور خلک چې اوسنی وضعیت ګوري، ده ته په غوسه دي او وایي چې دغه پاچاهي به هر څه وي خو محمدي سـلطنت نه دی. خلک له ده څخه پوښـتي، که چېرې شاه هم په همدې اند وي، نو د انګرېزانو پر ضـد یو پاڅون به په ډېره اسـانی رامنځته کړل شـي. اعلحضـرت وویل، ما بې اړنګه هڅه کړې چې د دغه خلکو تېروتلی اند په ډاډ ورکولو سـم کړم چې زه او انګرېزان لکه دوه زړونه په یو وجود کې یو، خو په داسې حال کې چې په پلازمېنه کې زما خپل عسکر نه شته او د دوی په کړنو زه هېڅ نه خبرېږم... اعلحضـرت یاده کړه چې دا هسې یوه ښکاره افسـانه ده چې هغه خلک او افسـران چې لوی والي د ده په واک کې ورکړي، خپل عسـکر وبولي. یو یې حتی ده ته ورنږدې شـوی هم نه دی او نه یې داسـې ښـودلې چې دوی د ده لاس لاندې دي؛ نو دا د حیرانتیا خبره نه ده چې د ده رعیت دی هسې یوه مولی بولي او دی په خپل هېواد کې عزت او درناوی نه لري... [82]

همدغه وخت و چې په افغانسـتان کې ځینې با درکه انګرېزان د خپل موقف په نازک حالت او د خپل کښېنولي رژیم په کمزورتیا پوه شول. ابراهم رابرټس د اړیکو په پراخه کرښو، د انګرېزي چوڼۍ وړه شوې کچه او په مهمو اطرافي سیمو کې د انګرېزي کوچنیو تانو په اړه چې د پاڅون پر وړاندې بې وسـه وې، په اندېښـنه کې و. نوموړي سـمدسـتي اکلنډ ته ولیکل او خپله اندېښـنه یې د «هغه بې شـمېره انګرېزي پوځي ډلو په اړه ورته ځرګنده کړه چې په هېواد کې خورې ورې پرتې وې. نوموړي زیاته کړې وه چې دغه پوځې ډلې له پوځي کنټرول څخه وتلې او د داسـې سـیاسـي څانګې له خوا اداره کېږي چې له پوځي اړخه یې تجربه او ارزونه خورا لږ ده». [83] په عین وخت کې جنرال ناټ په کندهار کې مېکناټن ګرم وګانه. نوموړي خپل لور ته سر وټکاوه او ویې ویل:

دوی خپل فرانسـوي واین څښـي، لوړې تنخواوې اخلي، هاخوا دېخوا ګرځي او لویه ګنه ګونه یې په ځان پسـې جوړه کړې وي. جان بول John Bull تولو ته ښې پیسې ورکوي، یا که رښتیا وویل شي د هندوستان د مظلومو کروندګرو پیسې دوی ورکول کېږي. د کلکتې خزانه له پیسـو څخه تشـه شـوې او مهربانه اکلنډ هر څه ورته منظوروي، خو په عین وخت کې دلته هر څه بد روان دي. خلک له موږ څخه کرکه لري... خلک په واسـطه ګمارل کېږي. ګڼ شـمېر سـیاسـتوالو زموږ انګېزه ورانه کړه او په دغه هېواد کې یې د هر اروپایي غاړه د کسـاتي افغانانو چړو او تورو ته لوڅه کړې ده او که چېرې یو شـمېر غونډونه په چټکۍ را ونه لېږل شـي، هېڅوک به ژوندي پاتې نه شي. پرته له زور څخه به هېڅ شی افغانان شاه شجاع ته تابع نه کړي. [84]

حتی په معموله توګه خوشـبین برنز هم تپرا• و. ده په خصـوصـي توګه خپل ملګري، جېکب ته سـرټکولی: «داسې دوه ورځې نه شـته چې یو واحد هدف په کې وي. د راتلونکي کورنۍ او یا بهرنۍ پالیسـۍ له پاره هېڅ پلان نه شـته چې سـړی حتی یوه اونۍ تکیه پرې وکړي. کوچني سیستمونو حاکم دي او هېڅ جامع سیستم تر غور لاندې نه نیول کېږي... او زه په خپله په دې اند یم چې وېډ [چې اوس بېرته په لودیانې کې اوسـېږي] زموږ تولو په پرتله بختور دی ځکه چې دی به د زوال پر وخت نه وي او که چېرې بدلون رانه شي، موږ به خامخا له زوال سره مخ کېږو.» [85]

---

• تپرا: وېرې اخیستی، ډار شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو متمرکز وسلوال مقاوت لمړنۍ نښې د ۱۸۴۰ کال د مې په میاشت کې هغه وخت ښکاره شوې چې ۲۰۰۰ غلزي اس والو پر یو کتار چې له کندهار څخه غزني ته روان و برید وکړ. غلزي په لږ وخت کې شا ته وتمبول شول او دوه سوه مړي ترې پاتې شول، خو دوی دغه درس واخیست چې په هواره کې پر انګرېزانو باندې برید د جګړې سمه لاره نه ده. بیا، د اګسټ په نیمایي کې چې کابل ته په بریالیتوب د شاه شجاع له ننوتلو څخه لا یو کال پوره شوی نه و، کابل ته هغه خبر راورسېد چې انګرېزانو ترې ډېره وېره درلوده او هغه دا چې دوست محمد په بخارا کې له زندان څخه تښتېدلی. میرزا عطا لیکلي: «کله چې له بخارا څخه د دوست محمد د تېښتې خبر راورسېد، په کابل کې انګرېزان د خوند او لټې په غېږ کې پراته وو. له دوست محمد سره یو سوداګر په تېښته کې مرسته کړې وه. نوموړي د هغه تلخونې پیره دار ته رشوت ورکړ چې دوست محمد په کې بندي و. ویل کېږي چې رشوت لس زره روپۍ و.» داسې راپورونه راتلل چې دوست محمد د افغانستان شمال ته راغلی او د جهاد جنده یې پورته کړې. د کندز د میروليي په سرحدي پوله، سیغان کې چېرته چې دره په هوارو ختمېږي، د انګرېزانو یوه وړه تانه اړ شوه چې یو بهتره دفاعي ځای ته د بامیانو په لور شل میله شا ته شي. تر دې بده پېښه د هغه پوځي ډلي بغاوت او له پاڅون کوونکو سره یو ځای کېدل وو چې شاه شجاع پر دوست محمد باندې د برید له پاره لېږلې وه. په همدغه مهال، په کوهستان کې چې له کابل څخه یوازې د څو ساعتو په مزل کې پروت و، د بل جلا پاڅون خبرونه راورسېدل. هلته تاجکان په دې ناراضه وو چې په ۱۸۳۹ کال کې د کابل په نیولو کې له شاه شجاع سره د دوی د مرستې په بدل کې مناسب انعام نه دی ورکړل شوی او شجاع په ټولو هغه ژمنو کې پاتې راغلی چې له دوی سره یې کړې وې.*
یوازې یو کال تېر شوی و چې افغانانو پاڅون وکړ او د انګرېزانو پر ضد جهاد اوس پیل شو.

حماسي شاعرانو له بخارا څخه د امیر تېښته په بشپړه توګه بیان کړې. مولانا حمید ګردیزي لیکلي چې څنګه د کابل یو پېژندل شوي سوداګر، خان کبیر له خپل کاروان سره بخارا ته ورسېد او خبر شو چې امیر په یو ډوغل• کې اچول شوی. دا چې دی د دوست محمد د احسانونو پوروړی و،

خپل زړه او ځان یې کړ د امیر ازادولو ته ځانګړی
شپه او ورځ یې د خلاصون له پاره ورته سوچ کړی
د امیر په مرسته کې یې د سخا موتی خلاص کړی
سره زر یې شیندل چې بندي کوونکی یې شي د ده زنداني شوی

*وېل کوهستانیان د پاڅون له پاره وهڅول او د دوی پیرانو، میرمسجدي او د نوموړي ورور ته یې د پاڅون په بدل کې په کال کې د ۵۰۰ تومنو وعده ورکړه، خو دغه پیسې هېڅکله ورنه کړل شوې؛ نو د تاجک پاڅون مشري همدغه علماوو کوله چې د جمعې د لمانځه په خطبه کې یې د شاه د نوم یادول لیرې کړل.

•ډوغل: ژور غار، ژور ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امیر په لومه کې پیره دار و کلک داسې تړلی
لکه زر خریده مریی، هڅاند د امیر په چوپړ کې سترړی
کله چې امیر پوه شو چې ور دی پرانیستلی
یوه شپه یې فرصت وموند او وتښتېد بېړې نیولی [۸۶]

اکبر خان هم په همدغه مهال وتښتېد، خو مخکې له دې څخه چې له ښاره ووځي، بېرته ونیول شو. پلار یې په تېښته بریالی شو او د خان کبیر په مرسته یې ځان د فقیر صوفي په جامه کې داسې بدل کړ لکه دېرش کاله پخوا چې شاه شجاع په لاهور کې له رنجیت سېنګ څخه په تېښته کې کړی و. په پیل کې امیر لاره غلطه کړه او په وچو غرونو کې یې په وارخطایي د ډېر مزل له وجې ورکړل شوی اس مړ شو. دی یوازې او لالهانده په اوچتو دښتو کې ګرځېده او همغه وو چې د ژوند هیله له لاسه ورکړې چې د اوښانو له یو کاروان سره مخ شو چې بلخ ته روان و. موهن لال چې وروسته د دوست محمد لمړنی ژوندلیکونکی شو، لیکلي:

امیر ته یو اوښ ورکړل شو چې په دواړو خواوو کې یې کجاوې درلودې. په یوه کجاوه کې په خپله امیر د ناروغۍ په پلمه کښېناست. په چراغچي کې [چېرته چې یو کال مخکې امیر کلابند او بیا ونیول شـو] د بخارا د حکومت کارکوونکو چې د امیر له تېښتې خبر وو، په کاروان کې د ده په شتون شکمن وو. دوی د کاروان ټولې کجاوې وکتلې، خو امیر یې و نه موند ځکه چې امیر په ډېره ځیرکۍ خپله شنه ږیره په هغه رنګ چې ده د همدې موخې لـه پاره پیدا کړی و، رنګ کړې وه. چا چې په کاروان کې د امیر د شـتون راپور ورکړی و، د افسرانو له خوا مجازات شول ځکه چې دوی یې په دغه کړنه وشرمول.[۸۷]

په راتلونکو څو اونیو کې امیر له کاروان سره و. پیسې یې نه درلودې؛ نو یوازې په هغه څه پایېده چې ده په دروېزه تر لاسه کول. افغان دودیزه کیسې په دغه یون کې د امیر له ربړو او ناخوالو څخه ډکې دي. فیض محمد ځینې دغه ناخوالې په خپل تاریخ کې راټولې کړې دي. نوموړي لیکلي:

امیر په شهر سبز کې د ملنګانو د یو نیمه وران او زاړه هستوګنځي مخې ته ښکته شو. دلته څو کسان ناست او د شیدو چای یې څښه. امیر ډېر وږی و او په دې تمه چې دوی به ده ته لږ چای ورکړي، د هستوګنځي له دروازې سره کښېناست. دغه بې فکره او ځانپاله خلکو چې ځانونه یې قلندر بلل خو د سپېڅلتوب کرکټر یې نه درلود، پر امیر هېڅ غږ ونه کړ او نه یې څه ورکړل. امیر په وږې خېټه ښار ته لاړ او هلته یې د ملا کبیر په نوم د یوه سوداګر پوښتنه وکړه. ملا کبیر د کابل و، خو کورنی یې په شهر سبز کې اوسېده... کله یې چې امیر ولید، ملاکبیر یې لاسونه ښکول کړل او خپل کور ته یې بوت. کور ته له ننوتو سره سم، ملاکبیر چې امیر د ملنګانو په جامه کې لیده، زړه یې له خواخوږۍ څخه دومره ډک شو چې ژړا ورغله.

امیر وروسته له دمې څخه ملا کبیر د شهرسبز والي ته ولېږه چې د خپل راتګ خبر ورکړي.

کله چې والي خبر شو، سمدلاسه د ملاکبیر کور ته لاړ. هلته یې د امیر ډېر درناوی وکړ، په شاهي مېلمستون کې یې هستوګنځای ورکړ او وروسته له مېلمه پالنې یې، د بخارا د امیر د سپک چلند په اړه خبرې وکړې او امیر ته یې وویل چې که غواړي دی به د غچ اخیستنې له پاره یو لښکر بخارا ته ولېږي دوست محمد ترې مننه وکړه او ورڅخه یې وغوښتل چې پر ځای یې یو اوه سوه کسیز اس وال لښکر ورکړي چې له ده سره د امو بلې غاړې ته مل شي. والي یې غوښتنه ومنله او ټول د اړتیا وړ اذوقه او توکي یې سره له اوه سوه عسکرو ورته تیار کړل.[۸۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دغه شــېبې څخه د امیر بخت مخ په ویښــېدو و. له امو څخه تېر او په خوندي توګه بلخ ته ورســېد. کله چې دی د لارې په اوږدو کې د شمالي افغانستان له کلیو څخه تېرېده، پوه شو چې د ده له بندي کېدو راهیسې حالت بدل شوی او له انګرېز- سدوزي رژیم څخه د خلکو ناهیلي پراخه شوې. په اکبرنامه کې مولانا کشمیري لیکلي: «د لارې په اوږدو کې ده له مسافرو څخه د کابل او بخارا په اړه پوښتنې کولې.»

یوه ورځ یې د مسافرو په منځ کې و لیدلی
یو ځوان چې نوی له کابل څخه راغلی
ترې ویې پوښتل چې د کابل د وضعیت دې څه خبر راوړی؟
د شاه او پرنګي مشرانو په اړه څه وایي کور او کلی
د جګړې او سولې کوم پلان یې دی جوړ کړی
او کوم خان د پخوا په شان تر اوسه پاتې شوی
ځوان وویل اې غښتلیه او د ښه بخت حاکمه!
شجاع پخوانی شجاع نه دی او نه یې ذهن مخکنی
لکه شاهان خپل ځای لري په تخت کې پاسنی
خو واکمني یې له لاسه وتلې، او واک نه لري لکه پرونی
لاس نه لري په خزانه کې، شجاع نه دی هغه شاه پخوانی
په پټه ځاځناک دی او روح یې ستړی همېشنی
په واک کې له ناظر څخه ټیټ هسې نوم یې سلطانی[۸۹]

دوســت محمد بلاخره په خامرد کې خپل پخواني کوربه، میرولي ته ځان ورســولو. هلته یې خپل زوی افضــل خان هم ولید چې ورته تم و. دلته دوست محمد ته ازبکي مشر بیا د مرستې وړاندیز وکړ- میر ولي په بشپړه ډول د ده د مرستې له امله د واک او موقف څښتن شوی و- خو دلته امیر بد خبر هم تر لاسه کړ. د نوموړي ورور، نواب جبار خان چې د ده د ازادۍ هیله یې بایللې وه، د امیر له حرم ســره یو ځای انګرېزانو ته تســلیم شــوی و، خو امیر وار خطا نه کړ او پرېکړه یې وکړه چې پرته له جګړې بله چاره نه شــته او بیا یې د پرنګیانو پر ضــد د جهاد اعلان وکړ. د افغان شــاعرانو له پاره دا له اتلولۍ څخه ډکه شېبه وه:

خپلو زمرو ته یې د دښمن سره د جګړې کمربند پر ملا کړ
خپل خور وور پوځ یې بېرته پیدا کړ
د جنګیالو، د وسلوالو کنډکونو
د پنځو سوو اس والو ډله یې ښه تابیا کړه
د کابل لاټ جنګي مېکناټن داسې خبر شو
چې زړور امیر ور روان، خپل پوځ یې جګړې ته ایثار کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري چمتو او ملاتړلي وو جګړې ته
د ازبک کنډکونو سره امیر جګړې ته ځان تیار کړ
لات جنګي مېکناټن، د جګړې ښتن ډاکټر ته امر ورکړ [ ډاکتر پرسیول Percival] ډاکتر د څلوېښت زره عسکرو او څلوېښت قوماندانانو د راټولو خبر ورکړ

لکه داړه مار پړانګان ورپسې روان شول
په دې عزم چې زړور زمریان د دوی ښکار شول
په غوراري او جذبې وړاندې روان وو
د بامیانو په لور د دوی کتارونه عیان وو[۹۰]

دوســـت محمد اوس یو کوچنی ځواک چې لـه څه کم زر کســـه ازبک اس والو څخه جوړ و، په لاس کې درلود. دی د سوېل په لور مخ‌ته روان شو او وېې کړای شول چې د انګرېزي سپاهیانو لمړنی تانه شا ته وتمبوي. لږ وخت وروسته په بامیانو کې د صالح محمد تر قوماندې لاندې د افغان دولت پوځ، امیر ته واوښت او له ده سره یو ځای شو.
د زیاتېدونکي کړکېچ راپورونه کابل ته ورسېدل. میرزا عطا لیکلي: «دغه خبر د انګرېزي عسـکرو او حتی د پاچا په زړه کې وېره رامنځ‌ته کړه. دی د امیر پرمختګ دومره نارامه کړی و چې خوب یې تښتېدلی او د شپې به د بالاحصار په ښکتنی برخه کې شـاهي باغ ته لاړ. د تېښـتې له پاره یې د خپل تخت د سـپاچې لاندې یو تونل وایسـت.» رښـتیا او یا دروغ، ډېر انګرېزي افســرانو خپلې کورنۍ له بکســونو او مالونو ســره بالاحصــار ته د امان له پاره ولېږلې. په پیل کې مېکناټن نه غوښتل چې تازه دمه ځواکونه بامیانو ته ولېږي او ویل یې چې دوی له کابل څخه د دفاع له کبله نه شي سپمولی. بیا یې یو لږ نارامه او له وېرې ډک پیغامونه شـېملې ته ولېږل: «افغانان باروت دي او دوسـت محمد اورلګیت... له موږ څخه جاسوسان چاپېر دي.»[۹۱]
خو د دوی له ډار سـره سـره، د هغه اسـوال جنګي ځواک انډول چې امیر جوړ کړی و، د کمپنۍ له دسـپلین لرونکي پوځ سـره په مخامخ جګړه کې برابر نه و. بلاخره کله چې د ویلیم ډني تر قوماندې لاندې انګرېزي تازه دمه ځواک بامیانو ته ولېږل شـو، دغه دوه خواوې د سپتمبر په اتلسم د جمعې په ورځ سره مخامخ شوې. دوست محمد هغه کلاوې په واک کې درلودې چې د درې خوله لاندې ورته پرته وه او خپله سپره ډله یې مرکزي برخې ته ولېږله. خپل زوی، افضل خان یې هغـه لوړو تـه ولېږلو چې د درې د خولې کیڼ لور تـه پرتې وې او میرولي د درې بـل لوري پـه لوړو کې ځـای ونیو،[۹۲] خو افغانانو تر اوســه هم د خپل ژوند په بیه دا درس اخیســته چې د انګرېز پوځ ســره چې په مډرنه وســلو ســمبال و، په هواره ډاګ کې جګړه یوه لویه غلطي ده. انګرېزي د اس توپچي قوا وتوانېده چې په انګرېزانو باندي یرغلیزه افغان سپاره جنګیالي مخکې له دې چې انګرېزانو ته ورسېږي، له پښو وغورځوي:

وحشي او ځکن پوځ د پرنګي
په جګړه یې پیل وکړ سمدستي
سمدلاسه په یو وار ټوله ډله
برید یې وکړ لکه باد د طاعوني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټوپک ډزو او د توپونو ګولۍ
ځمکه او اسمان کړل لړزاني
پرنګیان په لمبو کې را ښکاره شول
کټ مټ لکه شیطانان دوزخي

دوست محمد د جګړې حالت او په خپل ورون سخت ټپ ته په کتو سره، د شاتګ پرېکړه وکړه. که څه هم سل کسه یې مړه شـــول، خو د بلې جګړې له پاره یې د خپلې قوې ډېره برخه وژغورله. دغه ماتې نوموړی بې اســـرې نه کړ او د بشپړ شاتګ پر ځای، د غرونو په نرۍ لارو او په وچو سیندونو کې په مزل کابل ته په دې نیت لاړ چې په کوهستان کې له تاجک یاغیانو سره وګوري.

دا یوه زړوره خو خطرناکه ســتراتیژي وه. مېکناټن، برنز او جګرمار باب سـېل له دوو لواوو سـره چاریکار ته لېږلي وو چې د ولســوالۍ مرکزي دفتر ونیسـي. اوس دغو عسـکرو د کوهســتاني یاغیانو او امیر تر منځ لاره بنده کړې وه. پر دې ســربېره، دوســت محمد ډېر کوهســتاني دښــمنان لرل. یوازې یو کال مخکې کله چې انګرېزان د کابل په لور روان وو، کوهســتانیان د امیر پر ضـــد پورته شـــوي وو، خو امیر دا خطر پر ځان قبول کړ او هیله یې درلوده چې له انګرېزانو څخه ګډه کرکه به د پخوانیو دښمنیو د هېرېدو لامل شي.

دوست محمد مخکې له مخکې خپل اسـتازي کوهسـتاني مشـرانو ته ولېږل او له خپل متحد، د تګاب صـافي امیر څخه یې وغوښـــتل چې د کوهســـتان او غوربند شـیخان او میران دې ته وهڅوي چې د ده تر مشـرۍ لاندې یولاس شـي؛ نو دوست محمد د خپل وراندیز په اړه د سملاسي ځواب په ترلاسه کولو سره سکون وموند. د جنګ نامې لیکوال غلام کوهســتاني چې د همدې ســیمې و، ســیمه ییز یادښــتونه لیکلي چې څرنګه په تګاب کې د دوســت محمد راتګ ته ښــه راغلاست وویل شو:

لمړی تر ټولو وړاندې چې رامخته شو د پروان و جنګیالی
نوم یې رجب خان او و هوښیار، پوه او بریالی
ویې ویل، ته امیر یې او موږ د چوپړیالان یو
ستا به امر وي، زموږ به د اطاعت درته سر ټیټ او خلاص تندی
زموږ بې ارزښته جونګړې او زموږ ډېرینه، له څخ نه ډکه ځمکه
کړه دې ارزښتمنه په خپل شتون دې دم ګړی
د امیر په امر دغه زړور پاڅون کوونکي
روان شول په اسونو داسې ځای کې غرنی
یوه شېبه یې اړنګ نه و او نه یې دمه کړه په هېڅ ځای کې
په زړونو کې یې وه وېره، د پرنګیانو د یو برید غلچکی
اندېښمن وو چې دی به ورسېږي
بد بخته برنز چاریکار ته له دوی څخه لمړنی[۹۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپسې په اونیو چریکي جګړې روانې وې. دوست محمد به دولتي تانو ته په غلچکي بریدونو زیانونه اړول، خو دومره ځواک یې نه درلود چې د کمپنۍ په لویو ځواکونو برید وکړي. په عین وخت کې، جنرال سېل په سیستماتیکه توګه د مخالفینو تر واک لاندې کلي وران کړل، باغونه او کروندې یې له منځه یوړې او د کوهدامن په شاوخوا کې یې د مخالفینو تر واک لاندې کلاوې کلابند کړې. له بلې خوا برنز هڅه کوله چې د کوهستان مشرانو ته رشوت ورکړي چې له دوست محمد سره خیانت وکړي او انګرېزانو ته یې وسپاري. د سپتمبر په پای کې برنز وتوانېد چې میر ولي او ورسره ازبکان یې له دوست محمد څخه لیرې کړي؛ نو دوست محمد ته یوازې څو سوه کوهستاني ملاترې پاتې شول، خو بیا هم انګرېزانو ونه شو کړای چې دی ونیسي. میرزا عطا لیکلي: «د امیر او انګرېزانو ترمنځ جګړو دوه میاشتې دوام وکړ. په ټوله کې دیارلس جګړې او نښتې وشوې، خو په دغه موده کې انګرېزانو هېڅ کله د بریا ښایسته مخ حتی یوه شېبه هم ونه لید. دا دوست محمد و چې د پولو polo د بریا پنډوسکی یې د جګړې په ډګر کې درلود. بلاخره انګرېزانو خپل لټون بس کړ او بېرته چاریکار ته داسې لاړل چې نیمایي یې مړه او ډېر وسایل او ارتزاقي توکي ترې پاتې شوي وو.»
د موهن لال په قول، د دغه جګړو او ورانیو لویه برخه غیر ضروري وه او سمه ارزونه یې نه وه شوې. د کوهستان مشرانو په وضاحت ویلي وو چې دوی حاضر دي چې خپل پاڅون پای ته ورسوي او یوازې د هغه ژمنو پوره کول غواړي چې له دوی سره تېر کال شوې وې. په ځانګړې توګه یو مهم مشر، نقشبندي پیر میر مسجدي خان چې په سیمه کې تر ټولو ډېر د نفوذ خاوند و، په حقیقت کې د تسلیمۍ په مورګه و او ژمنه یې کړې وه چې کابل ته به ځي او«د تېمورشاه په مقبره کې به پناه اخلي». نوموړی په دې اړه د شاه او انګرېز استازي ځواب ته تم و. برنز له دې سره هوکړه وکړه خو «برعکس د مخکنیو ترتیباتو»، سېل او شهزاده تېمور د میرمسجدي د کلا کلابندۍ ته ور ودانګل. د کلا دفاع دومره کلکه وه چې په سر کې دوی ونه شو کړای چې ورننوځي او ټپي او له غوسې څخه ډک مسجدي نجراب ته په تېښته بریالی شو، خو د ده په نه شتون کې یې، کلا ورانه، کورنۍ یې ووژل او ځمکه یې د دښمنانو تر منځ ووېشل شوه. د کلا ویجاړونه او د اوسېدونکو د وژنې ظلم او اکاړۍ د کوهستان خلک ولړزول. غلام کوهستاني لیکلي: دوی د کلا دېوالونه ونړول،

په هر ښایسته زرین کور کې د کلا
چې جوړ شوي وو لکه د پسرلي بڼ سر تر پا
داسې اور یې ورته کړ دروازو او چتو ته
چې پیغام یې تر اسمانو ورسېدا
هېچا د ژوند نښه په کې ونه لیده
هېڅ کله داسې ویجاړوونکې کیسه اورېدلې نه ده چا [۹۴]

نو په دې توګه موهن لال دغه پایله لیکلې: «موږ میر ولي د تل له پاره خپل دښمن کړ.»[۹۵] میر ولي په مناسب وخت کې بېرته راغی او وتوانېد چې انګرېزان له کوهستان څخه وباسي او د چونۍ په وروستي ژوندي پاتو عسکرو پسې چې په تېښته وو، تر کابله لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکتوبر په نیمايي کې وضــعیت نور هم هغه وخت خراب شــو کله چې په چاریکار کې یوه لویه کوهســتاني ډله چې انګرېزانو روزلې وه، په بشپړه توګه دوست محمد ته واوښته.[۹۶] د موهن لال په اند، د انګرېزانو د اشغال په ټوله دوره کې دا یو تر ټولو لوی ګواښ و چې انګرېزان ورسره مخ شـول، امیر ازاد ګرځېده، کوهسـتان په سـرو لمبو کې و او پاتې قومونه د دې لیدو ته تم وو چې څوک بریالي کېږي.«خلک او مشـران په مســاوي توګه زموږ د هغه ژمنو په نه ترســره کولو ناراضه وو چې موږ ورسره کړې وې.»[۹۷]

بلاخره دغه دوه لورو یو له بل ســره ټکر وکړ، خو دواړو خواوو د دغه نښـــتې تمه نه درلوده. د ۱۸۸۰ کال د نومبر په دویمه، دوســت محمد په ځیرکۍ برنز او ســېل په چاریکار کې له خپلې اډې څخه لیرې، پنجشــېر ته وهڅول. دوی په پروان دره کې چې له ونو څخه ډکه او د خټو کلاوې او د خوبانیو باغونه یې لرل، پورته روان وو چې پر یوه لیرې پرتې کلا برید وکړي. دوی تـه راپور راغی چې دوســـت محمد لږ وړانـدې دی او پـه چټکۍ د دوی خوا تـه ور روان دی. د څو دقیقو په ترڅ کې دوست محمد له څلور سوه اس والو سره د دوی مخ ته په یوه لوړه پرته ځمکه ښکاره شو. د سېل درنې وسـلې شـاته وې؛ نو هغه کسـان چې د کتار په سـر کې وو د دغه وسـلو رارسـېدو ته تم نه شـول او د برنز نږدې ملګري، ډاکټر پرســیول لارډ په ګډون چې افغان شـــاعرانو د ډاکټر په نوم پېژانده، د برید پیلولو پرېکړه وکړه. انګرېز افسـرانو خپل اسـونه یرغل ته چمتو کول چې ګوري د دوی خپلې هندي پوځي سـپرې ډلې بېرته وګرځېدې او وتښـتېدې. وروسته چې څه پېښ شـول، افغان شـاعرانو د دوست محمد له پاره د بریا اعلی شېبه بللې:

بیا ډاکټر داسې ټوپ کړ لکه لوخړه
پوځي سپره ډله وه ور سره خپله
امیر ځیر شو ډاکټر ته
دغه سپي بدبخت ته
او ده ټوپ کړ خپل اس ته
چټکي یې ورته وه سره اور ته
ښکته د مرمرو له غونډۍ نه
د غضب توره یې وایسته له تېکي نه
دی مخ ته او اس وال یې ورپسې وو
بې ځنډه مخ پر وړاندې په ټوپو وو
په عیسویانو یې پیل کړل ګوزارونه
ځمکه توده شوه د پرنګیانو په وینه
چیغه اسمان ته پورته شوه د زړورو
د لمر او مشتري ستر‌ګې ډکې کړلې دوړو

لږ وخت وروسته ځمکې د اتلانو له وینې ګلابي رنګ واخیست

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتلانو، پرنګیان کړل قصابي او زېر او زبر
د جګړې دغه ورځ وه لکه محشر
بیا افضل خان د خپل زین لاندې،
ټوپک ته لاس کړ وړاندې،
ډز یې وکړ په ډاکټر باندې
ګولۍ د ډاکټر په تنه کې ننوته، لاړه وړاندې
تر ټټر یې تېره او له شا یې ووته
تنه یې څیرې او دمه یې وخته
انګرېزانو شاتګ پیل کړ«د کابل زړور په دوی پسې وو»
بیا برنز امر ورکړ په پرېکړې بیړنۍ
چې جګړې ته توپونه راوړئ، ژر شئ
غوراری او درزاری په اسمان کې داسې جوړ شو
تا ویل چې په نړۍ کې لړزان خپور شو
په دې، د ایماندارو زړه حیران شو
جهان ټول تپ تیاره شو
دوی پوه شول چې څه نه شي کولی
څنګه د اوبو یو څاڅکی په سیند کې شي سېلاب ماتولی
نو امیر او افضل هم شول پورته
د جګړې له ډګر څخه لوړو غرو ته
هلته یې یو ځای د کمپ له پاره خوښ کړ
د خپلې غوسې او ستومانۍ د کښېنولو له پاره یې یو څه وخت وقف کړ[۹۸]

دوې ورځې وروسته، د نومبر د څلورم په ماښام ټېرا مېکناټن د خپل پوځي سکرتر، جورج لارنس او یوې کوچنۍ سپرې پوځي ساتکونکې ډلې سره د کابل په لمن کې چکر ته لاړ. د ډاکټر لارډ او یو شمېر نورو افسرانو د مړینې خبر یوه ورځ مخکې رارسېدلی و او ورپسې همغه مازدېګر د برنز یو د بشپړې نابودۍ پیغام هم رارسېدلی و. برنز ټینګار کړی و چې انګرېزان باید د کابل په شمال کې خپل ټول ځایونه پرېږدي او خپلو عسکرو ته دې د مرکز په دفاع کې تمرکز ورکړي. دغه ورځ په وارخطا خبرو اترو تېره شوه - ایا عسکر باید خپل ځایونه پرېږدي او مرکز ته راوغوښتل شي؟ ایا یوه بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوه دې جوړه او شمال ته ولېږل شي؟ ایا دا سم کار دی چې په کابل کې د عسکرو شمېر لږ کړل شي؟ په دغه شېبه کې چې څه پېښ شول، په اړه یې لارنس خپل یادښت داسې لیکلی:

کله چې موږ هستوګنځي ته په نږدې کېدو وو، ناڅاپه یو اس وال زما او د مېکناټن تر منځ خپل اس ځایولو او له ما څخه یې پوښتنه وکړه چې «دا لارډ صاحب دی؟» کله چې ما هو ورته وویل، ده د سېر ویلیم ترسېرى ونیو او چیغه یې کړه «امیر، امیر» مېکناټن حیران او لږ په غوسه یې غږ کړ:«څوک؟ څوک؟ چېرته، چېرته؟» سمدلاسه ما شاته وکتل، یو بل اس وال مې نږدې ولید چې راروان و، له اس څخه ښکته شو او د مېکناټن رکاب یې په لاس کې ونیو. بیا یې د هغه لاس واخیست، لمړی یې په تنډه او بیایې په شنډو کېښود چې دا یې د تسلیمۍ نښه وه. سېر ویلیم سمدلاسه له اس څخه ښکته شو او ویې ویل: «ښه راغلاست، ښه راغلاست» او بیا یې د هستوګنځي د بڼ له لارې خپلې کوټې ته بوت. دوست محمد کوټې ته په ننوتو سره په ختیځې بنه په سجده شو، دستار یې لیرې کړ او تنډه یې په غولي ولګوله. بیا پورته شو او د تسلیمۍ د نښې په توګه یې خپله توره تسلیم کړه او ویې ویل چې «نور دې ته اړتیا نه لري.» مېکناټن سمدلاسه توره بېرته ورکړه او امیر ته یې د هر راز پاملرنې ډاډ ورکړ که څه هم د اوږدې مودې راهیسې یې د برتانوي حکومت مخالفت کړی. امیر په ځواب کې ورته وویل: «دا به د ده برخلیک وو چې ده نه شوای بدلولی.»

دوست محمد یو مضبوط او قوي سړی و. لوړه او تېره پوزه، ډېرې کمان وروځې او ببره ږیره او بریت یې لرل. لارنس ویلي: «دوست محمد... موږ ته وویل چې د پروان درې له عملیاتو څخه مخکې یې د تسلیمۍ پرېکړه کړې وه او په دغه عملیاتو کې د ده لندمهاله بریا یوه ذره هم دغه پرېکړه بدله نه شوی کړای... د امیر د ښه راغلاست له پاره خبرې ودرول شوې او د پالنې دنده یې ما ته راکړل شوه. دا ما ته له اندېښنو څخه ډکه دنده وه. دوه شپې چې د ده مسولیت زما په غاړه و، ما سترګې پټې نه کړې. هره شېبه به له کټ څخه پورته شوم او خبمې ته به ورغلم چې تر اوسه شته او که نه. ما ته دا ټول د خوب په څېر ښکارېدل چې بلاخره امیر په خوندي توګه لاس ته راغی او ما دا هېڅ منلی نه شوای پرته له دې چې په وار وار خېمې ته د کتو له پاره ورشم.»[۹۹]

که انګرېزان د دوست محمد تسلیمۍ ته حیران وو او دا یې انګېرلې وه چې دی نه پوهېده چې بشپړې بریا ته څومره نږدې شوی و، خو دوست محمد د خپل اند پر بنسټ په خپله تسلیمۍ کې د ترک - پارس نورمال پروتوکول تعقیبولو. ماتو شاهانو ته دا غیر معمولي کړنه نه وه چې بریالیو او سیمه ییزو قدرتونو ته په دې تمه تسلیم شي چې فیوډال شي. د اولسمې پېړۍ په پای کې دواړه، درانیان او هوتکي غلزي د صفویانو د والیانو په توګه واک ته ورسېدل او کله چې دراني امپراتورۍ په پراخېدو وه، په وار وار یې ځایي حاکمان د والیانو په توګه ګمارلي وو. دغسې سیستم دوام او ثبات ټینګ کړی و او ماتو حاکمانو ته یې د ژوند فرصت ور ښېلو. همدا راز د حالاتو په بدلون سره دوی ته بېرته واک ته د رسېدو فرصت هم پیدا کېده. لکه څنګه چې محمد حسین هراتي لیکلي: «کله چې انګرېز پوځ د پرمختګ په درشل کې و، دوی اعلان وکړ چې هر چا دوست محمد ونیو، هغه ته به دوه لکه روپۍ انعام ورکړل شي»؛ نو امیر فکر وکړ: «په دې هېواد کې چې یو کس په یوه روپۍ او یا پنځه کسه په پنځه روپۍ وژل کېږي؛ نو زما پر سر چې دغسې انعام اېښودل شوی، زما سره به خیانت ونه شي؟»

دوست محمد کابل ته لاړ او په خپله خوښه تسلیم شو ځکه دی پوهېده چې د اوس له پاره خبره خلاصه ده او یو نوی سیمه ییز ځواک راڅرګند شوی. ده په وضاحت هیله درلوده چې یوه ورځ به یې انګرېزان بېرته واک ته رسوي او یا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکې کې د دوی بشپړه ماته به ده ته دا فرصت ورکړي چې په خپله ځان واک ته ورسوي. دغه ارزونه یې وروسته سمه ثابته شوه.[۱۰۰]

په چټکۍ تیاری ونیول شو چې امیر هند ته بوتلل شي. ده ته په سخاوت خرڅ ورکړل شو او له خپل حرم سره چې هغه وخت د غزني په کلا کې ساتل کېده، بیا یو ځای شو. په دې هوکړه وشوه چې ده ته په لودیانې کې د شاه شجاع هستوګنځی ورکړل شي ځکه چې لنډه موده وروسته د شجاع حرم د کابل په لور ستنېده. مېرزا عطا لیکلي: «د تمې خلاف، په نهو ورځو کې چې دوست محمد په کابل کې پاتې و، د ده او مېکناټن تر منځ ملګرتیا جوړه شوه.»[۱۰۱] مېکناټن حتی اکلنډ ته د دوست په اړه سپارښتنه وکړه. ده لیکلي: «زه باور لرم چې له دوست محمد سره به په سخاوت چلند کېږي. د نوموړي قضیه له شاه شجاع سره پرتله کېږي او زه داسې اورم چې له ده سره باید د شاه شجاع په پرتله ښه چلند ونه شي، خو د دوی قضیې بې اړنګه له یو بل څخه توپیر لري. موږ د شاه د احسان پوروړي نه یو. موږ نوموړی له خپلې پاچاهۍ څخه په محروموولو کې هېڅ لاس نه درلود حال دا چې موږ دوست نسکور کړ په داسې حال کې چې زموږ هغه پالیسیو ته یې هېڅ زیان نه و رسولی چې دی یې قرباني شو.»[۱۰۲]

امیر، انګرېزانو ته په خپله عزتمنه تسلیمۍ او په پروان دره کې د خپلې زړورتیا په ثابتولو دومره خوښ او ذهناً ارامه شو چې د برنز ښېلو ته تیار و حال دا چې هر بارکزي د دوکه باز او ښوی نمک حرام په سترګه ورته کتل. [نمک حرام لوی سپکاوی دی او هغه چا ته وایي چې له خپل کوربه سره خیانت وکړي] لکه څنګه چې برنز خپل یو ملګري ته لیکلي:

له دوست محمد سره زما مرکه ډېره په زړه پورې او دوستانه وه. ده زه په هېڅ څه ګرم نه کړم او راته وېې ویل چې زه یې ښه ملګری یم او دی د هغه لیک په لوستلو تسلیم شو چې ما ورته لیکلی و. زه په دغه خبره باور نه کوم ځکه چې موږ [په کوهستان کې] کور په کور په ده پسې ګرځېدو او بل دا چې دی تسلیمۍ ته اړ شو، خو د هغه لیک په وسیله زه هیله من یم چه د ده کلنی خرڅ مې له یو لک روپیو څخه دوه لکو ته اوچت کړی وي. د مخه ښې پر مهال مې یو عربي اس ورته ډالۍ کړ او پوهېږې چې ما ته یې څه راکړل؟ خپله یوازینۍ توره یې چې په وینو ککړه ده. دی هند ته ستون شو ... او په لودیانې کې به ژوند کوي. په کوهستان کې ما د خپلې توپخانې، د خپلو اروپايي عسکرو د یرغل او د سپرو نظامیانو د برید ناکامۍ ولېدې، خو بیا هم خدای موږ ته بری راکړ. که موږ یوه نوې پانه واړوو، موږ به له دغه ناکامیو سره سره، له افغانستان څخه یو خنډ جوړ کړو.[۱۰۳]

یوازې په یوه موضوع کې دوست محمد د انګرېزانو سره همکاري ونه منله. مېکناټن په وار وار له ده څخه وغوښتنه وکړه چې له شاه شجاع سره وګوري، خو دوست محمد په کلکه رد کړه او حتی د ډوډۍ هغه پټنوس یې بېرته ولېږه چې شاه شجاع ورته لېږلی و- دا په افغانستان کې د عزت په دودیزه سیستم کې لوی سپکاوی دی. د مېرزا عطا د لیکنې پر بنسټ: «امیر په ځانمنه توګه د مېکناټن د غوښتنو په ځواب کې وویل: «دا بس دي چې زه تاسې ته راغلم چې له امله یې زه د زنداني په څېر بهر ته وړل کېږم. زه به د داسې پاچا له لیدو څخه څه ترلاسه کړم چې د بدبختیو دغه توپان یې پر خپل هېواد راوست؟ له شاه څخه پرته به تاسې انګرېزان هېڅ کله نه وای توانېدلي چې افغانستان ته ننوځئ.»»[۱۰۴] فیض محمد د امیر په هکله دې ته ورته خبره کړې: «زما له شاه شجاع سره څه کار نه شته.» داسې ویل کېږي چې ده مېکناټن ته وویل: زه دلته شاه شجاع ته د بیعت کولو له پاره نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلی.» خو مېکناټن ټینګار وکړ: «د ده موقف ته په کتو سره، دا به یوه مناسبه کړنه وي چې ته له هغه سره وګورې.» امیر ځواب ورکړ: «تاسو دی په تخت کېنولی، نه هغه لوی ولس چې په ازاده توګه غوره او خلع کول کوي. که د ده دغه دریځ رښتینی دی، نو تاسې یې ملاتړ پرېږدئ. که داسې مو وکړل، تاسې او نورو هوښیارو خلکو ته به څرګنده شي چې څوک د سلطنت لیاقت لري او د هېواد خلک او مشران له چا څخه اطاعت کوي. که دی ما ته د ویلو څه لري، دلته دې راشي او ستاسې په شتون کې دې ما ته ووایي.»[۱۰۵]

شاه شجاع ته لوی سپکاوی دا و چې انګرېزانو یې هغه غوښتنه ونه منله چې دوست محمد سدوزیو ته د اعدام له پاره وسپاري. ده په اونیو مېکناټن ته ټینګار وکړ چې دوست محمد ته خونکاران ورولېږي چې ویې وژني او یا یې لږ تر لږه ړوند کړي، خو مېکناټن حتی په دې اړه خبرې هم رد کړې. محمد حسین هراتي لیکلي: «اعلحضرت هک پک شو او نه پوهېده چې ولې دوست محمد په بې ادبۍ دربار ته تګ رد کړ. د امیر ټول ملاتړي او پلویان او همدا راز خپلوان چې په افغانستان کې پاتې وو په داسې ازاده توګه خپل کارونه کول لکه کافران چې مسلمان شوي وي او ټولې ګناوې یې پاکې شوې وي! کومه پاملرنه او ښېګنه چې انګرېزانو د دوست محمد ډلې او قبیلې ته وکړه، په بشپړه توګه ډېر ژر د اعلحضرت داسې د پرستیژ د لاسته ورکولو لامل شوه لکه چې له اسمان څخه ډېر کلک په څمکه ولوېږي. په عین وخت کې، د مېکناټن هغه هڅې چې خپل مېلمه خوښ وساتي او د اعلحضرت حق له پامه وغورځوي بلاخره یې د خپل مرګ لامل شو: نو لکه څنګه چې شاعر وایي: «که ته له بد سړي سره ښېګنه کوې؛ نو ته ښه او ایماندارو خلکو ته زیان رسوې.»»[۱۰۶]

د نومبر په دیارلسم، دوست محمد خان او زوی یې افضل خان له کابل څخه ووتل. دوست محمد مخکې خپل زوی ته لیکلي وو چې «له ده سره په ډېره مهربانۍ او درناوي چلند وشو» او زوی ته یې ټینګار وکړ چې د ده په پله لاړ او تسلیم شي. په جلال اباد کې دوی دواړه له خپل حرم سره یوځای شول: د دوست محمد نهه ښځې، یوویشت نګورانې، یوسل او دوه وینځې او دوه سوه او لس مریي او چوپړیالان وو چې له ملسیانو او نورو خپلوانو سره ټول درې سوه او یو اتیا کسه کېدل.[۱۰۷] څنګه چې له امیر سره د ښه چلند خبر خپور شو، دغه شمېر بیخي ډېر شو او کله چې دوی لودیانې ته ورسېدل، میرزا عطا لیکلي: «د امیر ټوله کورنۍ او په ده پورې اړوند کسان لودیانې ته ورسېدل: ۲۲ زامن، ۱۳ ورېرونه/ ورېرې/ خوریونه/ خورځې او ۲۹ نور خپلوان، ۴۰۰ چوپړیالان، او ۳۰۰ چوپړیالانې چې په ټوله کې ۱۱۱۵ کسه له امیر سره په تبعید کې یو ځای شول.»[۱۰۸]

کله چې بارکزي بلاخره لودیانې ته د ډسمبر په پای کې ورسېدل، په شېملې او کابل کې سکون او خوښي رامنځته شوه. سېر وېلبي کاټن چې په افغانستان کې د پوځي قوماندان دنده یې پای ته رسېدلې وه او دنده ورکړل شوه چې امیر خپل هستوګنځي ته بدرګه کړي حتی خپل ځای ناستي ته لیکلي وو: «ته به دلته هېڅ کار ونه لرې. دلته بشپړه ارامي ده.»[۱۰۹]

خو په حقیقت کې بغاوت په هېڅ وجه پای ته نه و رسېدلی. اکبرخان، د دوست محمد تر ټولو جنګیالی زوی، لږ وخت مخکې وتوانېد چې له بخارا څخه وتښتي. ده ډېر ژر ثابته کړه چې د مقاومت یو پیاوړی نوی مرکز وګرځي او د پلار په پرتله ډېر اغېزمن، بې رحمه او زورمټی څرګند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ۶
# موږ د خپلې ناداني له امله ناکامېږو

د ۱۸۴۰ کال د فبرورۍ په پيل کې کله چې د ايډن کورنۍ له شـــېملې څخه بېرته کلکتې ته روانه وه، دوی له یوه پخواني سکاټلنډي اشـنا، تورن جنرال ویلیم الفنسـټون سـره مخ شـول. دغه دوه کورنیو له پخوا ملګرتیا درلوده او دی چې یو زوړ او صمیمي خو بې کفایته او شاړیار تورن جنرال و- د مونټسټورټ الفنسټون د تره/ترور مشر زوی هم و- د ایډن کورنۍ یې د وروســـتي ځل له پاره د ســـکاټلنډ په پوله په خپل کور کې چېرته یې چې ځمکه درلوده لیدلې وه. کله چې له خپلې ډولۍ څخه ووت، دی د خپل ځوان ملګري، اکلنډ د لیدو له پاره ډېر انتظار خورا ناراحته کړ. ده ایملي ته وویل: «دا عجیبه ده چې ما اې A [لارډ اکلنډ] له هغه وخت راهیسې نه دی لیدلی چې موږ د سـیسـۍ ښـکار ته تللي وو او اوس زه باید د ده حضور ته د منلو له پاره او زما د ګمارنې له پاره غوښتنه وکړم.»[۱]

د ناهیلیو احســـاس دوه اړخیزه و. که الفنســـټون د دوی د موقف په بدلېدو خوښ نه و، د ایډن کورنۍ هم یوازې د الفنسټون په لیدو اندېښـمنه کېده. د هغه ورځو را په دېخوا چې دوی د سیسۍ د ښکار د موسم په پیل کې د ساړایي ګلانو پر پوله چټک ګامونه اخیســـتل او ټوپک به یې د تخرګ لاندې نیولي وو، د الفنســـټون روغتیایي حالت خراب شــوی و او اوس په «دردوونکي روماتیزم» اخته و، «خوارکی! یو لاس یې په غاړه او په پښــو ګوډ» له مرســـتې او یا لکڼې پرته یې تګ نه شــوای کولی. د نوموړي وضــعیت دومره خراب و چې په پیل کې ایملي ونه پېژانده. نوموړې لیکلي: «زما د الفي بې Elphy Bey په نوم په یاد دی او هېڅ مې ونه پېژانده چې دا همغه سـړی دی، خو یوه اونۍ مخکې مې ناڅاپه په یـاد راغی.[۲] مـا هــغـســـې بـد رومـاتـیـزم چې دی پـرې اخـتــه دی نـړدې هــېــڅ کـلــه نــه دی لــیــدلـی.»[۳]

جورج اوس هم اندېښــمن و، خو د ده اندېښــنه ســرکاري وه ځکه چې لږ وخت مخکې یې همدغه سـړی په افغانسـتان کې د پوځ د قوماندې له پاره غوره کړی و او ګمارنه یې د سېږ وېلبي کاټن له تګ څخه وروسته اعلانېده: جنرال ناټ چې د اکلنډ په اند هېڅ ښاغلی نه و او د ستونزغاړي او لنډپاري• په سترګه یې ورته کتل، یو ځل بیا دغه څوکۍ ته له پامه وغورځول شـو او اکلنډ په دې اړه لیکلي چې «دا یې یوازې له خپله لاسه دي». د اکلنډ د قضاوت او طبقاتي تعصب په اړه د ناټ وېره هم هغه وخت رښـــتیا شـــوه چې د ده پر ځای د ملکې د اړینې رتبې له افســـرانو څخه «تر ټولو بې کفایته افسـر ته د قوماندانۍ څوکۍ» ورکړل شـوه.

---

• لنډپاري: ژر غوسه کېدونکی، اندک رنجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې ناتې ښه پوهېده، د الفنستون نېمګړتیا یوازې ناروغي نه وه. لکه د ده د دورې د ملکې ډېری افسران، ده پنځه ویشت کاله مخکې په واټرلو کې د دري دېرشـمې پلې لوا له قوماندې څخه وروسـته په پوځي عملیاتو کې برخه نه وه اخیسـتې او کلونه وروسـته یې چې په نیمه تنخوا دنده ترسـره کوله، په ۱۸۳۷ کال کې بېرته فعال چوپړ ته په پنځه پنځوس کلنۍ راوګرځېد چې خپل زیاتېدونکی پور ادا کړي. د ده ملاتړي او هغه څوک چې دی یې هند ته ولېږه، فیتزرای سـمرسـټ لارډ رګلن Fitzroy Somerset Lord Raglan و، هغه څوک چې وروسـته د لایټ Light غونډ ته د داسې له خطر څخه ډک یرغل په امر ورکولو نومور شـو چې ځان وژني ته ورته و.[۴] الفنسـتون د هغه نرۍ په اړه پوهه او ناتې نه لرل چې رګلن ور ولېږه. ایملي یې په اړه داسې لیکلي: «دلته یې اوسېدل نه خوښېږي او په غوسه دی ځکه چې هېڅوک د لندن په اړه د هغه په خبرو نه پوهېږي او نه د ده لندني خلک پېژني. د ویلېنګټن له اورده لیک څخه خوند اخلي ... په هندي ژبه نه یوازې دی بلکې مرسـتیال یې هم حتی په یوه کلیمه نه پوهېږي. دی سـرټکوي چې بار وړونکي یې په خبره هېڅ کله نه پوهېږي او وایي: «زه یو تورپوسته سړی لرم چې انګرېزي خبرې کولی شي، خو ما دلته نه شوای راوستلای.» دی نه شـي کولای چې داسې یو تور پوسـتی غوره کړي چې هندوسـتاني خبرې کولای شـي. زما په انګېرنه له تورپوسـتي څخه د ده مطلب ځایي خلک دي.»[۵]

که څه هم اکلنډ پوهېده چې الفنسـتون څه نا څه معلول و او له هند او هندي سـپاهیانو سـره یې چې دی یې مشـر کېده خواخوږي نه درلوده، خو داسې نه برېښېدل چې د خپل ملګري مشـري تر پوښتنې لاندې ونیسي او یا یې ګمارنه بېرته لغوه کړي. برعکس، اکلنډ د ټول کال په اوږدو کې نوموړي ته تـاوده لیکونـه اسـتول او د دوسـت محمد لـه تسلیمېدو څخه لږ وخت وروسته یې له ده سره هغه وخت د اشغال په اړه خپلې اندېښنې شریکې کړې کله چې ګمارنه یې بلاخره د ۱۸۴۰ کال د ډسـمبر په میاشـت کې منظور شـوه. ده ورته لیکلي وو: «که څه هم له افغانسـتان څخه زه کرار کرار د خپلو منظمو عسـکرو د وتو لېوال یم، زه په دې اند یم چې لږ تر لږه باید د اوس په پرتله نوی رژیم ښـه مضبوط او امنیت یې ټینګ کړل شي.»[۶]

د اکلنډ په څېر، الفنسـتون هم په ټینګ عزم کې ښـه نوم نه درلود او لکه اکلنډ خپل ټول کاري ژوند یې د خپلو مرسـتیالانو په نظریو باندې په ډېرو لګولو تېر کړی و، خو په داسې حال کې چې دا به د الفنسـتون په برخلیک کې وو چې د جنګ غوښـتونکي کالوین او په جزیاتو ولاړ، خو بې اړنګه هوښـیار مېکناټن لاس ته ولوېږي. نوموړی لا ډېر کم بخته و چې په ټول پوځ کې تر ټولو ناوړه، بدنامه او ناکاره افسر یې مرستیال شو.

د څلور څلوېښـتم پلي غونډ برید جنرال جان شـلټن یو کرېندی، لړاک او بې نزاکته سـړی و چې خپل ښی لاس یې د ټاپو وزمې په جګړه کې بایللی و او بې پایه درد یې کرکټر تریو او تیاره کړی و. دی یو کلک دسـپلیني افسـر و چې په خپل غونډ کې «د مسـتبد په نامه یادېده». کله چې کپتان کالن مکنزي د لږي ځل له پاره دی هغه وخت ولید چې ده خپل عسکر هېواد ته د ننه ستانه کړي وو، په خپل یادښت لیک کې یې ولیکل: «دی یو بروس جنرال دی. هغه لویه ګډوډي چې له سـیند څخه د تېرېدو پر وخت د ده د بدې ارزوني له امله رامنځته شـوه د شـرم وړ او د یو ښـکاره او هوډمن دښـمن په هېواد کې وژونکې وه.»[۷] وروسته مکنزي بیا د ده پر لاره تېر شـو او ویې لیکل: «لکه څنګه چې ما یې تمه کوله، شـلټن خپل غونډ له پښـو غورځولی... د توپچي اسـونه بې کچې سـتومانه دي، د سپرو قوا همداسې در ونیسـه او لوی شـمېر باروړونکي څاروي، اوښـان او داسې نور ...مړه شـول او د ډېرې سـتومانۍ له امله به د دوی مړینه دوام ولري. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بې ځایه سختیو سره، په تېره بیا له خیبر څخه د تېرېدو په بهیر کې چې ده خپل کسان مخ کړل، ډېره ناراضتیا رامنځته شوه او حتی یو ځل د توپچي اسونو پوځیانو بغاوت وکړ.»[۸]

ټولې پوځي اډې سمدلاسه له شلېتن سره کرکه پیدا کړه. جراح جان مګرت John Magrath چې له ده سره یې په هند کې لیدلي وو، ډېر ژر وویل چې شلېتن «د هر وخت په پرتله اوس د خلکو تر ټولو ډېره کرکه ترې کېږي».[۹] د شلېتن حتی له نرم خویه او صمیمي الفنستون سره هم ګذاره نه کېده. الفنستون لیکلي: «له لمړۍ ورځې څخه د ده چلند ډېر سرغړوونکی و. هېڅ کله یې ما ته مالومات یا مشوره نه راکوله، خو په هر کار کې به یې عیب پیدا کولو او د افسرانو په شتون کې به یې هر امر غندلو او تر پوښتنې لاندې نیولو- ډېری به یې د امر اصلي بڼه بدله کړله او په اجرا کې یې ځنډ راوستلو. داسې برېښي چې دی زما په اړه ښه نیت نه لري.»[۱۰]

د الفنستون له سیاسي افسرانو سره هم نه وه جوړه او نه یې هغه پاچا خوښېده چې ده کار ورسره کاوه. د ۱۸۴۱ کال د اپریل په میاشت کې له میروت څخه نوموړی د خپل سفر په پای کې ژمنۍ پلازمېنې جلال اباد ته ورسېد چېرته چې شاه شجاع هم د کابل له ساړه ژمي څخه تللی و. له مېکناټن سره له لیدو څخه لږ ځنډ وروسته، ده خپل د تره زوی ته لیکلي:

زه فکر نه کوم چې زما څوکۍ په زړه پورې ده. له مسوولیت او اندېښنو څخه ډکه ده... دلته د مشورو له پاره دومره افسران نه شته. زما په څېر ډېری یی لږ وخت مخکې دغه هېواد ته راغلي. سیاسي اجنټان چې په عمومي توګه ځوان افسران دي، ډېری داسې نقشې طرح کوي چې دوی یې د اجرا مسوولیت پر غاړه نه لري. لږ موده مخکې یې حکومت ته پر هرات باندې د یرغل وړاندیز وکړ چې له کابل څخه ۶۰۰ میله لیرې پروت دی، لاره یې له ستونزو ډکه او هلته د اکمالاتي توکو د لېږد له پاره ۴۰۰۰ اوښانو ته اړتیا ده...[مېکناټن] سوړ او ځانیخوتی دی، خو زما په باور هوښیار هم دی... شاه شجاع چې ما دوه ورځې مخکې ولید، یو څورب او له اندېښنو څخه ستومانه سړی ښکاري. زه یې په یو بڼ کې چې په بد حالت کې و، خپل حضور ته ومنلم. د ده کور هم د ډېرو نورو کورونو په څېر نارامه او خراب ښکارېده. پرته له مېکناټن څخه نور ټول د ختې جونګړې لري. پاچا په لسمه نېټه کابل ته ستنېږي او زه هم باید ورسره لاړ شم. دغه ما څوروي ځکه ما نیت درلود چې یوازې لاړ شم. له ده سره مل مشاورین، یاوران او نور به ما ته په لاره کې یو لوی سرخوږی وي.[۱۱]

یوه اونۍ وروسته الفنستون کابل ته ورسېد او د جلال اباد په پرتله یې نور هم زړه په تنګ شو. ده لیکلي: «ښار ډېر پراخ، ککړ او ګڼ دی. په عین وخت کې پرته له یو شمېر عسکرو څخه، د پوځي اډې دفاع مضبوطه نه ده ځکه چې خلک د اډې له ډېرو برخو څخه ننوتلای شي. که چېرې عسکر په بل ځای کې په کار شي، دا به د اډې دفاع ته ښه نه وي او له ما څخه اوس لاره ورکه ده چې څه شی ښه دي چې ترسره شي.»

د افغانستان په اړه یوازې الفنستون سرېداله نه و. مېکناټن چې تر ټولو خیالي خوشبین انګرېز و، اوس پوهېده چې د دوست محمد له تسلیمۍ سره سره، هر څه تر اوسه نه دي سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوېل ختیځ ته، پنجاب اوس په یوه مېرځمنه• ګډوډۍ کې په ډوبېدو و: په دوو کلونو کې درې سېکان پر له پسې د خالصه مشران شول چې په پایله کې یې یو بې مشره او تېر ایستونکی رژیم چې د ملاتړ باور نه شوی پرې کېدای، په افغانستان کې د اشغالګرې قوا او په فېروزپور کې د همدغه قوا د اکمالاتي مرکز ترمنځ پروت و. د ۱۸۴۱ کال د اپرېل په میاشت کې ایملي لیکلي: «پنجاب دومره بې ثباته دی چې ټول اضافي عسکر د اړتیا له کبله په پوله کې وساتل شول. د رنجیت سېنګ مړینه د الکساندر مړینې او د نیمايي هغه پخوانیو لویو فاتحانو مرګ ته ورته وه چې موږ یې په اړه لوستي دي. ده ښه پوځ او ښه پاچايي درلوده او خپل پوځ او سلطنت ته یې پام کولو، خو له مړینې وروسته یې سمدلاسه هر څه په ګډوډۍ بدل شول او د نومورې عسکرو خپل فرانسوي او انګرېزي افسران ووژل. اوس همدغه عسکر په ټول هېواد کې په لوټماری بوخت دي. په حقیقت کې دا په موږ پورې اړه نه لري، خو له افغانستان سره زموږ اړیکې ستونزمنې کوي...»[۱۲] د ایملي دغه څرګندونې سطحي وې. په حقیقت کې نه یوازې د افغانستان په لور ستانه اکمالاتي کتارونه د لارې په اوږدو کې تر بریدونو لاندې نیول کېدل او باروړونکي څاروي تښتول کېدل، بلکې زیاتېدونکي باوري راپورونه ورکول کېدل چې په لاهور او راولپنډۍ کې د سېکانو لوړپوړي مشران بارکزي، دراني او نور د حکومت ضد افغان مشرانو ته پناه ورکړې او دوی ته یې د پنجاب او پېښور په شاوخوا غونډیو کې مرکزونه ورکړي چې د افغانستان د پولې په بله غاړه کې پر انګرېزي عسکرو بریدونه وکړي. په هند کې حکومتي ادارې په ستونزمن وضعیت کې راغلې: سېک سرداران لا تر اوسه په نامه متحدین وو، خو په حقیقت کې ډېرو دغه مشرانو تر خپلې وسې هڅه کوله چې په افغانستان کې انګرېزان کمزوري کړي. دومره وخت تېر نه و چې اکلنډ خپل پام د جنګ غوښتونکي کالوېن هغه وړاندیز شوي پلان ته واړولو چې پنجاب له هند سره ضمیمه کړي څو د مخالفینو مرکزونه وتړي او په اکمالاتي لارو کې اسانتیاوې راولي. اکلنډ لیکلي: «زما په اند، که چېرې د سېکانو اداره نوره هم مخ په منحل کېدو شي؛ نو بېرته جوړول یې شونی کار نه ګڼل کېږي. وضعیت تر اوسه کړکېچن حالت ته نه دی رسېدلی، خو په چټکۍ ور روان دی.»[۱۳]

په عین حال کې، د افغانستان د لوېدیځ په اړه داسې اندېښنې وې چې تهران په پوله کې د وضعیت په ترینګلتیا بوخت دی. ډارسې ټاډ، چې د هرات د وزیر، یار محمد د خپلولو سخت کار په غاړه اخیستی و، د خپل ماموریت د ناکامۍ په اړه یې د برنز وړاندوینه رښتیا کړه او په دې کې پاتې راغی چې د هراتیانو او پارسیانو د اړیکو د نږدېوالي مخه ونیسي. وروستی بد خبر دا و چې یارمحمد ټولې هغه روپۍ په خپل جیب کې واچولې چې ټاډ ورکړې وې څو په پوله کې پرغوریانو کلا چې ایران اشغال کړې وه یو برید تمویل کړي. کله چې ټاډ په بشپړه توګه ومنله چې یارمحمد له پارسیانو سره د شاه شجاع او د ده د انګرېزي ملاتړو پر ضد د یو اسلامي ایتلاف نیت لري، د ۱۸۴۱ کال د فبروري په لسمه له رسمي اجازې پرته، بېرته کندهار ته ستون شو او عملاً یې له یارمحمد سره ډیپلوماتیکي اړیکې وشلولې. په همدغه مهال یارمحمد د شاه شجاع د تره زوی، کامران شاه سدوزی ونیولو او پانسي یې کړ. د ښار واک یې په خپل لاس کې واخیست. بیا یې سمدلاسه د انګرېزانو پر ضد د پارس له محمد شاه سره ائتلاف وکړ.[۱۴]

د کندهار په سوېل او ختیځ کې حتی حالات نور هم له ګواښونو څخه ډک وو. په هلمند او کلات کې دراني او نه

• مېرځمن: دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتېدونکي توخي او هوتکي غلزي د انګرېزانو پر ضــد پورته شــوي وو. که څه هم ظاهراً دغه پاڅون پر توخي قبېلې باندې چې په دوديزه توګه لـه مالیې ورکولو څخه معاف وه، د مالیې د وضـع کولو لـه کبله رامنځته شــوی و، خو د مقاومت وینااوو پر اســلامي ناراضــتیاوو تمرکز درلود او مخالفینو داســې د جهاد ژبه کاروله چې «خپل ځانونه یې د اسلام سـرتېري بلل».[15] د ډېرو نورو انګرېز افسـرانو برعکس، جنرال ناټ د مخالفینو پر ضـد ځان ډېر اغېزمن ثابت کړ. ده د مخالفینو پر ضـد د چټک غبرګون یو ۵۰۰۰ کسیز ځواک جوړ کړ چې په چټکۍ هر لوري ته لېږل کېده، خو کله به یې په یوه سیمه کې چې یو پاڅون مات کړ، په بله سـیمه کې به بل پاڅون رامنځته شـو. دی په دې اند شـو چې: «د کافرانو او اشــغالګرو په توګه، درانیان لـه موږ څخه ګومره ډېره کرکه لري.» اختر [په هلمند کې د مخالفینو مخکښ مشـر] خپله ډله د «مسـلمانانو او علماوو جماعت» ګڼي او خپله موخه «د اسـلام جلال» بولي. دی باور لـري چې «پرنګیانو هوډ کړی چې ټول محمدي وګړي تباه کړي او وېې شړي.»[16]

د ناټ سـیاسـي مرسـتیال ځیرک او وړ هنري لارېنسـن و، هغه څوک چې څلور کاله مخکې یې تر ټولو لمړی ویتکېویچ تر ستړګو شـو چې د افغانستان د پولې په لور روان و او تهران ته یې په چټک تګ د پېښو هغه سلسله رامنځته کړه چې په جګړې ختمه شــوه. په پارس کې د خپلو پلټنو او په بهســتان کې د پخواني پارس درې ژبې میخي نســخې د ژباړې په بدل کې، ده ته لږ وخت وړاندې د جغرافیې شـاهي ټولنې د بنسـټ ایښـودونکي مډال ورکړل شـوی و او اوس په کندهار کې دنده ورکړل شــوې وه چې ډېر وخت یې جهاد ته د بلنې هغه پاڼې ژباړلې چې نږدې هره ورځ د کندهار او هلمند غلزیو خپرولې. په یو سند کې چې لارېنسن، مېکناټن ته لېږلی و داسې لیکل شوي وو:

ټولو سـپېڅلو او ریښـتینو ایماندارو، د خدای رحمت دې پر تاسې ووربږي. زه غواړم تاسې خبر کړم چې مسـلمانانو او علماوو ۵۰۰۰ پلي کسان له چقمقي ټوپکو سره او ۲۰۰۰ بشپړ وسلوال اس وال راټول کړي او د الله په رحمت به موږ د اسلام جلال ساتو- خو موږ باید یو ځای کار وکړو او په همغږۍ تیاری ونیسـو. د دغه پاڼې په لوسـتلو سـره تاسې او پاتې نور غلزي باید خپلې قواوې جوړې کړئ او راځئ موږ سره یو ځای شئ. دروند او نومیالي وزیر [یارمحمد] له هرات څخه موږ ته لیکلي او د خدای په رضا، کله چې زموږ قواوې متحدې او روانې شـوې، وزیر به ګرشـک ته رسـېدلی او فتح کړی به یې وي. د ملاتړو په راټولولو کې ناغېږي مه کوئ، زموږ په سـپېڅلې موخه بشپړ باور ولرئ او پر انګرېزانو باندې د برید له پاره روان شئ.[17]

کله چې رالېنس ته د ځرو له خوا د دغسې سندونو د راټولولو کچه اوچته شوه، دی د مقاومت په بشپړه کچه پوه شـو چې اوس انګرېزان ورسـره مخ وو. ده ناټ ته په لړېکه لیکلي: «زه به ډېر مننـدوی شـم چې تاسـې له دري څلوېښـتم پلي غونډ سره یو ځای بیا دغه ښـار ته ننوځئ ځکه چې د دولت ضد روحیه په هره ولسوالۍ کې څرګندېږي او که څه پېښ شي، د شاهي اداري د ملاتړ له پاره [تر څو چې تاسې راځئ] د یوې قوي ګمارنه شـونې نه ده.» یوه ورځ وروسـته یې حتی په ډېر تلوار بیا ناټ ته ولیکل: «په خواشــینۍ ســره باید ووایم چې لوېدیځ لور ته وضــعیت دومره ډېره خطرناکه بڼه اخلي چې د دولتي اداري د ملاتړ له پاره، زه د منظمې قوا سملاسي ګمارنه اړینه بولم.»[18] خو وروسته له لوستلو څخه، د لارېنسن د اندېښمنو استونو په اړه د مېکناټن ځواب دومره خانتما و لکه ګومره چې پر غلط قضاوت ولاړ و. ده پر لارېنســن تور ولګاوه چې «زموږ د موقف ډېر ناموجه ســوړ انځور کاږي او د دغه نظر په پاللو او خپرولو کې ګنګوسـې خپروي. زموږ ستونزې اوس هم ډېرې دي او د نورو ستونزو جوړولو اړتیا څه ده... زه پوهېږم چې د هېواد په دغه برخه کې [دغسې ګنګوسې] په بشـپړه توګه غلطې دي او زه داسې دلیل نه لرم چې د پاچاهۍ په هغه برخه کې چې له تا سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، په رښـــتینتوب یې باور وکړم.»[۱۹] لارېنســـن ته یې په یو لیک کې د ده د ارزونې په اړه چې یو پاڅون په پېښېـــدو دی، داسې لیکلي:

زموږ د موقف د ستونزو په اړه زه له تا سره همغږی نه یم. برعکس، زما په اند زموږ راتلونکی حالت ډېر خوښـوونکی دی او هغه څه چې موږ یې هلته لرو، ســتونزې باید هېڅ نه وي او یا ډېرې لږ وي... د دغه هېواد خلک ډېر خوشـــباوره دي. دوی پر هر هغه څه چې زموږ پر ضد کارول کېږي باور کوي، خو دوی به ژر پوه شي چې موږ هغه سـړي خواره نه یو لکه څنګه چې موږ انځور شـوي یو... زموږ له عسکرو سره بې اړنګه په داسې ښار کې خواخوږي نه شته چې د خپلې هستوګنې له پاره یې نیم اوسېدونکي له خپلو کورونو څخه وشړل، خو زه دا ویلی شم چې په انګلنډ کې هم داسې ښار چې پوځ په کې هستوګن وي نه شته چې دې ته ورته پېښې په کې ونه شي... دغه خلک کټ مټ ماشـومان دي او د ماشـومانو چلند باید ورسره وشي. که چېرې موږ یو شـوخ ماشـوم د کوټې په ګوټ کې ودروو، پاتې ماشـومان به ووېرېږي. موږ د دوی د لوېي سامان اخیستی، یعنې د درانیو له مشـرانو څخه مو واک واخیست او دوی یې پایله نه خوښـــوي. دوی د واک په کارونه نه پوهېدل او د دوی په لاس کې واک پاچاهانو ته بې ګټې او زیانمنوونکی و. موږ باید دغه واک خپلو روڼ اندو ته وسپارو. دوی ملایان پاروي او د ملایانو خبرې خلک، خو دا به ډېر لنډ مهاله وي.[۲۰]

د کابل شـــمال ته په کوهســـتان کې همدغســې وضـــعیت و. د ۱۸۴۱ کال په دوبي کې، پخوانی د «هرات اتل» اېلډرېډ پاټېنګر د ګورخه Ghukhas له یوې چوڼۍ سـره چاریکار ته لاړ. هلته یې انګرېزي اډه ولیده چې د دفاعي نیمګړتیاوو له اړخه کټ مټ د کابل اډې ته ورته وه. په داســې حال کې چې د ګورخه پوځیانو د خټو او بې دروازو بارکونه په لږ واټن کې له یوې لوېې کلا څخه ښــکته پراته وو چې په لږ اوچته ځمکه جوړه شـــوې وه، دوی اړ شـــول چې خېمې ودروي. ســرېېره پر دې، په ټولو شـاوخوا سـیمو کې د تاوتریخوالي له نښـو سـره سـره، دوی توپچي قوا نه درلوده. یو فقیر چې مخکې د پاټېنګر یو مرسـتیال خیرات ورکړی و دغه مرسـتیال ګوښـې ته کړ او ورته وېې ویل چې په بازار کې په ښـکاره ډول د انګرېزي عسکرو د ټولوژنې خبرې کېږي او «ما ته یې په کابل کې د ژمي د تېرولو ټینګه سپارښتنه وکړه». پاټېنګر پوه شـــو چې یو بل لوی پاڅون په پېښـــېدو دی،[۲۱] خو مېکناټن د ده اندېښـــنو ته غوږ ونه نیوه او نه یې توپچي او یا تقویتي قوه چې پاټېنګر د اډې د دفـاع لـه پـاره اړینـه بللـه، ورولېږلـه؛ نو پاټېنګر څو اونۍ نور څارګریز مالومات راټول کړل او یوه مفصله ارزونه یې بیا مېکناټن ته ولېږله. هغه لیکلي وو:

د کوهستان مشـرانو په پیل کې د شاه شجاع ملاتړ وکړ، خو د سدوزیو او انګرېزانو د ادارې سخت ګیري د دوی ګټو او قدرت ته تر دې کچې زیانمنه تمامه شـوه چې پاچا د دې پر ځای چې د دوی پر زیاتیو سـترګې پټې کړي، اوس یې اطاعت ته اړ باسي. سـرېېره پر دې، دلته د بغاوت نور دلیلونه هم شـته: د بهرنیانو واکمني، افراطیت، زموږ د عسـکرو عیاشي او په خاصـه توګه د هغه چا له جزا څخه معافیت چې په داســې یو هېواد کې ښـــځې لېښـــه کوي او بیا یې له ځان ســـره بیایي چې خلک یې په غیرت کې نوم لري... د انګرېزانو دښـمنانو خپلې هڅې ډېرې کړې دي چې زموږ کرکټر تور وښـيي، د خلکو تعصـب زموږ پر ضـد وپاروي او قانون ماتوونکي وډوماري. د جولای او اګسـټ په بهیر کې چې د کروندو حاصـلات لا اخیســتل شـوي نه وو، د درمندونو د سـوځونې او د اوبو لګولو د کانالونو د نړونې پېښې په وار وار وشوې. همدا راز باغیانو په دوامداره توګه بریدونه ترسره کول، خو شاهي ادارې د دوی د نیولو توان نه درلود که څه هم دا ښــکاره وه چې ډېر خلک د دوی په تګ او راتګ خبر وو... نږدې هره ګړی د پراخې توطیې د جوړښـــت ګنګوســې اورېدل کېږي... او زه د دغه سپارښتنې ورکړه خپله دنده بولم چې د کوهستان له مشرانو څخه یرغمل وغوښتل شي.[۲۲]

حقیقت دا و چې د انګرېزانو پر ضد هر ځای مقاومت په ډېرېدو و. یوازې په کابل کې تر اوسه د سدوزیو او انګرېزانو د رژیم څه نا څه ملاتړ کېدلو، خو حتی هلته هم د شاه شجاع نومورتوب مخ په نړېدو و. د مولانا کشمیري له قوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل يې خلک زور ځپلي زور زياتي د پرنګي
دوی يې ځورولي خانتمايي د پرنګي
پاتې نه دی ذره عزت په ښار کې
نظم او قانون نه شته په پام کې
خانان بې عزته شول ډېر وارې
لکه اوبه چې واچوې په خاورې
کله چې کابل ترور ځپلی شو
مصيبت وهلی سور لړلی شو
په هر کور کې وو يادونه د امير د عدالت
شپه او ورځ وو د امير په حسرت[۲۳]

ډېرو انګرېزي افســرانو اوس منلې وه چې د ســدوزيو او انګرېزانو رژيم ناکامېږي - مېکناټن غوندې ډېر لږ خلکو نه منونکی او له بريده وتلی ډاډمن ذهنيت درلود - خو د وضــعيت د بدلولو له پاره د دوی د حل لارو له يو بل څخه توپير درلود. په لندن کې د کنټرول بورډ رييس، جان کم هابهوسJohn Cam Hobhouse چې په ځوانۍ کې د لارډ بايرن نږدې ملګری او يون ملی و، استدلال کولو چې د عسکرو شمېر په بشپړ ډول ډېر شي، يا دې انګرېزان له افغانستان څخه ووځي او يا دې غښتلي کړل شي. هغه ويل چې د عسکرو شمېر دې په سکلېټي چوڼۍ کې چې د دوست محمد له تسليمۍ څخه وروســته يې د عســکرو شــمېر ډېر کم کړل شــوی و، بېرته په لويه کچه لوړ شــي. د هېواد بوديجه دې ډېره او پانګونه دې په کې زياته شي. په افغان دولت دې کنټرول ډېر شي او دغه بنسټيز حقيقت دې ومنل شي چې انګرېزان د دغه هېواد واکمنان دي. شاه شجاع بايد د امر اطاعت ته اړ کړل شي. د شاتګ خبره هېڅ بايد مطرح نه شي.[۲۴]
برنز هم د شاه شجاع ځنډې کولو او د هغه په فاسد حکومت کې د اصلاحاتو راوستلو ته لېوال و. ده د ۱۸۴۰ کال د اګست په مياشت کې د دوست محمد له تسليمۍ څخه لږ وړاندې، په يوه اوږد يادښت ليک کې مېکناټن ته خپل اند ليکلی و چې د شــاه دولت بې کفايته، ناګران او ګران بيه دی او د رژيم د ژغورنې يوازينۍ لاره په اداره کې د انګرېزانو ډېره ونډه ده. دی شخصاً د افغانستان د بشپړ ادغام يا ضميمې پلوی نه و او دا يې هم په ډاګه کړې وه چې «موږ بايد هېڅ کله د افغانستان موضوع د برچې په زور حل نه کړو»، خو دا يادونه يې کړې وه چې د ډېری همکاران يې اوس په دې باور دي چې تر ټولو ښــه د حل لاره د کمپنۍ په واکمنۍ Company Raj کې د افغانســتان او پنجاب ادغامول دي.[۲۵]
برنز په خپلو شخصي مکاتبو کې توند ناقد و او د ملامتيا ګوته يې اکلنډ او مېکناټن ته نيوله. ده خپل اوښې، هالند ته ليکلي: «دلته پرته له بشــپړې ناتوانۍ څخه بل څه نه شــته.»[۲۶] په همدغه وخت کې يې خپل مشــر ورور ته ليکلي وو: «ښــارونه زموږ په واک کې دي، خو نه مو هېواد په لاس کې دی او نه خلک [د خلکو ملاتړ]، خو بيا مو هم په لويه کچه هېڅ داسې څه نه دي کړي چې افغانستان پياوړی کړو. د لارډ اې A په وس پوره دي چې پېښور او هرات ونيسي او سلطنت بيا اعاده کړي څو په خپله خپل لګښــت پوره کړي او هند د خپلو ټولو لګښــتونو له بار څخه خلاص کړي، خو دی هېڅ نه کوي. دی دغه شــعار لري: «که زه لاړ شــم، هر څه به تباه شــي.» نوموړی کور ته د تګ هيله من دی، خو د هغه څه له پايلو څخه وېره لري چې تر اوسه يې ترسره کړي دي.»[۲۷]

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عین وخت کې مېکناټن دربېمه لاره تعقیبوله: ده تر اوســـه د شـــاه شـــجاع د واک پیاوړي کولو نظریه په ذهن کې درلوده او لکه مرستیال یې، ده هم غوښتل چې د رژیم پولې وغځوي او پرهرات برید وکړي. ده باور درلود چې یار محمد د انګرېزانو پر ضـد قبیلې پاڅون ته ډوماري. دا هیله یې هم درلوده چې پنجاب په خپله واکمنۍ کې مدغم او [اسـاسـي لاره] په کې جوړې کړي. همدارنګه د شـــمال په لور پرمختګ وکړي او د ازبک میرولي تر واکمنۍ لاندې خاوره مدغم کړي چې د شاه شجاع د واکمنۍ پولې تر امو پورې وغځوي او دوی په خپله له منځنۍ اسیا څخه د روسانو د پرمختګ پر وړاندې چمتو وي،[28] خو د ټولو دغسـې ځوبمنو نقشـو پر وړاندې چې د عسـکرو شـمېر ډېر کړي او په لویه کچه انګرېزي واکمنۍ ته پراختیا ورکړي، یو نه انکارېدونکی حقیقت پروت و او هغه دا چې د کلکتې خزانه په بشـــپړ ډول تشــه وه. د افغانســتان اشــغال تل یوه لوړبیه ســوداګري ده. په ۱۸۴۱ کال کې د اشــغال ټول لګښــت په کال کې دوه میلیونه پونډو ته ورسـېد چې دا څو ځله له هغه لګښـت څخه ډېر و چې په لمړیو کې یې تمه کېده او له هغه ګټې څخه خورا ډېر و چې د ختیځ هند کمپنۍ د چای او تریاکو له سوادګرۍ څخه دغه اشغال تمویل کولو.

د ۱۸۴۱ کال د فبرورۍ په میاشت کې د محاسبې څانګې مشر چې په دغه شمېرو یې په کلکته کې کار کولو، اړ شـو چې اکلنډ ته ولیکي او دغه خبر خپور کړي چې «د شپږو میاشـتو له تېرېدو څخه مخکې به د هند خزانه په بشـپړه توګه تشـه شـي».[29] د مارچ په میاشـت کې د سـتونزې بشـپړه کچه اکلنډ ته څرګنده شـوه. ده مېکناټن ته ولیکل: «پیسـې، پیسـې، پیسـې زموږ لمړنی، دویمه او وروسـتۍ اړتیا ده. دغسـې لګښـت چې اوس یې ته لرې، زه نه شـم ویلی چې تر څه وخته به پیسې در ورسولی شم. د لګښت ډېروالی به مو په مطلق ډول وېرځوي.»

کله چې د محاسبې پایله اعلی سر قوماندان سېر جان کېن ته ولېږل شوه، ده په خپل یادښت کتاب کې د ۱۸۴۱ کال د مارچ په ۲۶مه لیکلي : «موږ بې اړنګه په ناوړه حالت کې یو. دغه هېواد په کال کې له یو میلیون څخه ډېر لګښـــت غواړي او موږ یوازې د دومره خلکو په بیعت باوري یو چې زموږ د وســـلو مرمۍ او یا زموږ پوځي اس وال ور رســـېدای شي... هر څه به وران شي. موږ د درانه او ډېرېدونکي لګښت او د عسکرو د زیاتولو توان نه لرو.» څو ورځې وروسته ده بیا لیکلي: «د هند له خزانې څخه په کال کې د یو میلیون او دوه نیم لکه [په حقیقت کې دغه شــمېرې ډېرې اوچتې وې] پونډو لګښت د یو داسې ډېرېنې پولې له پاره چې ساتل یې ۲۵۰۰۰ عسکر او له لګښت څخه ډک بنسټونه غواړي، د منلو وړ نه دی.»[30]

خو په داسې حال کې چې پالیسي ګونګه او پیسې په خلاصېدو وې، اشغال ورځ تر بلې مخ په ټینګېدو و او لمړنۍ او تر ټولو سخت ګېره مېم صاحبانو* د پنجاب له لارې د کابل اډې ته له خطر څخه ډک یون پیل کړ. د مېکناټن له ټولنیز اړخه لېواله ښځه، فرانسـز د هغې پیشـو، طوطي او پنځه چوپړیالانې کابل ته لمړی ورسـېدل. د فرانسـز تګ لږ تر لږه د ایډن خویندو ته راحت ورکړ. له هغه ورځې څخه چې مېړه یې په شـېمله کې له دوی سـره پرېښـوده، دوی هڅه کوله چې له هغې څخه ځان لیرې وساتي. ورپسې فلورونسیه سېل، د جګړه مار باب نه تابع کېدونکې او په هند کې زېږېدلې ښـځه د ۱۸۴۱ کال په دوبي کې د لوېې پیانو او خپلې خوړې کشـرې لور الکســانډرین Alexandrine ســره کابل ته ورســـــېــده.

* هندوستانیانو انګریزي ښځو ته مېم صاحب ویلې. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښــځو په راتګ هر څوک خوښ نه وو. په اړه کې د تند خویه ډاکټر جان مګرت په اند دواړه مېرمنې، مېرمن مېکناټن او مېرمن سېل «د یو او بل په څېر لړاکې او بې شـرمه» وې. (خو په خواشـینۍ سـره نور تفصیل یې نه دی ورکړی) او د مېرمن مېکناټن د کورنیو چارو خورا بدې ورتیاوې یې نه خوښــېدې. ده د ۱۸۴۱ کال د مې په میاشـــت کې لیکلي: «ما څو ورځې مخکې د مېکناټن په کور کې ماښـامنۍ وکړه او د شپږ میله مزل په بدل کې مې ډېره بې خونده ډوډۍ وخوړه.» بیـا یې لیکلي چې «الکســـانډرینـه نـادانـه او نـالوســـتې وه»، خو پـه دې یې هم اعتراف کړی چې «خوش خویـه» وه. له دې سـره سـره چې الکسـانډرینه ګواکې نالوسـتې وه، د اډې نیمایي افسـرانو د مینې هیله ورته پیدا کړه. مګرت یې په اړه لیکلي: «دلته یوازېنۍ بکره ده ... او د واده هوډ لري... یو شــی چې دلته د هغې په ګټه دي د پرتلې نه شـــتون دی.»[۳۱]

مېرمن ســېل د هغې ډېری مینه وال نه خوښــول او نه یې د دوی مینه ناکې خبرې خوښــېدې - «په غوړه مالۍ او تشــو الفاظو هېڅ شـی نه شـي ترلاسـه کېدای »؛ نو نوموړې دوی څارل - خو د هغې یو ښـایسـته لمړی بریدمن، جان سـټرټ خوښ و، هغه انجنیر چې بې دفاع بارکونه یې ډیزاین کړي وو؛ نو ډېر وخت نه و تېر چې دی د مینه والو په ډله کې تر ټولو مخکښ شـو او د جره همکارانو حسادت یې وپارولو.

راتلونکې ته په پام، مېرمن ســـېل په کارنـال Karnal کې لـه خپل بڼ څخـه دومره تخم راوړی و چې په کابل کې د خپل هســـتوګنځي چارچاپېره یې د انګرېزي ګلانو دېوالونه جوړ کړل. نوموړې لږ موده وروســـته لیکلي وو: «ما داســـې ګلان کرلي چې د هر افغان ښـــاغلي خوښ دي. زما د خوږو نخودو او جیري بند ګلونه یې ډېر خوښ شـــول او دوی ټولو د خوراکي نخودو چې ډېر ښه غټ شـول، د تخم غوښتنه وکړه او په باغچه ګۍ کې مې کچالو ښه په وده کې دي.»[۳۲]

په دغه وخت کې یوازې مېم صـاحبانې کابل ته رانغلې. کله چې شـجاع، مېکناټن له خپلې مېرمنې سـره په کابل کې ولید، ده هم له لودیانې څخه د خپل ړانده ورور، شـاه زمان او د دوی د حرم د راوسـتلو پرېکړه وکړه. دا ځکه چې له یوې خوا به ښـایي په دوی پسې خپه شـوی و او له بلې خوا به ده خامخا دا ارزونه کړې وي چې مخکې له دې چې د پنجاب حالات نور هم خطرناک او یا حتی لاره یې بیخي بنده شـي، باید دوی کابل ته راوســتل شــي څو دی له خپلې کورنۍ څخه جلا پاتې نه شي.

له لودیانې څخه کابل ته د حرم د وړلو له پاره دوه ځوان ســـکاټلنډي افســـران وګمارل شـــول، دغه یون په نورماله حالاتو کې په دوه درې اونیو کې ترسـره کېدای شـوی، خو اوس چې خالصـه د ګډوډویو سـره مخ وو او ډېر غونډېونه یې د بغاوت په حالت کې وو، دغه یون ډېر خطرناکه او له اړنګ څخه ډک و. ځوانو افســـرانو ته هغه وخت دغه دنده نوره هم ګرانه شـوه چې شـجاع د خپلې سـپما لویه برخه او همدا راز د مغولي ګانو خپل نومور بکس له خپلو ښـځینه سره یو ځای د راوړلو پرېکړه وکړه او دغه خبره ډېر زر خوره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جورج براډفوټ George Broadfoot چې د کاروان مسوولیت ورکړل شوی و، یو ځورب سور سری، حساس، واقعبین ارکېډي و او پلار یې په کرکوال Kirkwall کې د سېنټ مګنس St Magnus کلیسا مشر و. مرستیال یې خپل ملګری، کالن مکنزي و چې یو تکړه بریتور او په اصل کې د پردشییر و، د هند په پوځ کې یې د یو ځوان ښایسته افسر په توګه نوم درلود او کلکتې ته له راتګ څخه لنډه موده وروسته یې په ښایست کې د ښار د یوې نومیالۍ، ادولینه پټل Adeline Pattle زړه خپل کړ. نومورې پنځه خویندې درلودې او په ختې انګرېزه، بنګالۍ او فرانسوۍ وه. ښایسته تورې سترګې او پوستکی یې چنده نوګاري Chandarnagore انا ته ورته وو. دغه خویندې په بنګال او وغسای Versailles کې له خپل فرانسوي بابا سره ستړې شوې وې او بابا یې شولېې د لېتان Chevalie de L’Etang د ماریا اونتونېټ Marie Antoinette د واده اعزازي برخه وال و. دوی په خپل منځ کې بنګالي، هندي او فرانسوي خبرې کولې. د ادولینې یوې کشرې خور د اکلنډ د مشاور، هنري توبي پرېنسېپ Henry Thoby Prinsip سره واده وکړ. نومورې - که څه هم ایملي «ترټولو زړه تنګوونکی او ستومانه کوونکی مخلوق» بللی - ویلي وو چې د اکلنډ شورا ته د الفنستون او مېکناټن په راوستلو کې مکنزي نېغ لاس درلود. دا هغه څه وو چې وروسته ډېر ګټور ثابت شول. په الیګار Aligarh کې دغه دوه افسران له خپلو بارکونو څخه د شاه شجاع د حرم په لور د تاج محل له لارې ستانه شول. دوی په لاره کې تم شول چې متورا Mathura ته په څېرمه ځنګلونو کې د چیتا ښکار وکړي. لودیانې ته په رسېدو سره دوی پوه شول چې کاروان له رانده او زاړه شاه زمان، یو شمېر شهزادګانو او ګڼ شمېر د ببلا ببلو عمرونو او موقفونو ښځې [له دوه ښځینه مېنو څخه] شاوخوا ۶۰۰ ښځې له ګڼ شمېر چوپړیاالانو سره او لویې خزانې او بکسونو څخه جوړ و. په ټوله کې د دغه ډلې شمېر ۶۰۰۰ کسانو ته رسېده او د دوی د بکسونو او نورو توکو د لېږدولو له پاره ۱۵۰۰۰ اوښانو ته اړتیا وه، خو دغه دوو ځوانو افسرانو تمه درلوده چې داسې ارزښتمن او په اسانۍ زیانمنېدونکی کاروان چې د شوکمارانو وسوسې یې پاروله، یوازې په ۵۰۰ ساتونکو خوندي وساتي. دوی ته دغه دنده نوره هم هغه وخت سخته شوه کله چې دوی د سپکانو په پوله کې د سپکانو د پوځ د یوې ډلې سره مخ شول چې عسکر یې د دوی د ساتنې له پاره خوښ کړل شوي وو. براډفوټ لیکلي: «دغه عسکر د بغاوت روحیې اغېزمن کړي وو او د ساتنې پر ځای مورږ ته د خطر سرچینه وو. د یون په پیل کې پنجاب د انارشۍ په مورګه کې و او څومره چې مورږ وړاندې تلو، همدومره له سربدالۍ سره مخ کېدو. یاغي عسکر له هر لوري لاهور ته روان وو او کله کله به زمورږ مخې ته هم راغلل. له حرکت څخه مخکې یې خپل افسران وژلي او یا شړلي وو...»[۳۳] کاروان کرار کرار مخ ته روان و، خو دوی وکړای شول چې د محتاطې ځارنې او ځارګریزو مالوماتو په وسیله د سپکانو تر واکمنۍ لاندې سیمې له یوې پر درېیمې برخې څخه تېر شي.

حالت دوی ته هغه وخت ترینګلی شو کله چې دوی په پېښور کې له لوی بغاوت څخه هغه وخت خبر شول چې په اټک کې له اباسین څخه نه وو تېر شوي. تر دې لا بده خو دا وه چې څلور باغي کندکونه - شاوخوا ۵۰۰۰ کسه - د دوی له راتګ څخه خبر شوي وو، اوس یې لاره بنده کړې وه او له ټولې توپخانې سره په خپلو مورچلونو کې دوی ته تم وو چې «کاروان لوټ کړي». وروسته له دې چې له اباسین څخه تېر شول، مکنزي د کښتیو مانوخونې ماتې کړې څو په دوه جېهو کې په جګړه کې ښکېل نه شي او له سپک ساتونکو څخه چې دوی یې بدرګه کول ځان وساتي. د څو ورځو له پاره دواړو خواوو هېڅ پرمختګ ونه شو کړای تر څو چې براډفوټ یوه ورځ د یاغیانو مشران داسې تېر ایستل چې د ده تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلچکي برید لاندې راغلل او دوی یې یرغمل ونیول. په دې توګه یې وکړای شــول چې په خبرو اترو کې ځان ته د تګ خوندي لاره تضـمین کړي او د پېښـور په څنډه کې تېر شي، خو په جمرود کې کاروان بیا له سختو یاغیانو سره چې د پولې ساتونکي وو، مخ شـو. دوی ډېره شـتمنۍ ولکه کړه او د بېګم د ډولۍ لېتولو هڅه یې وکړه، خو بلاخره دوی د خیبر له غاښې څخه پرته له یو ډز څخه تېر شول.[۳۴]

کله چې دوی له جلال اباد څخه د کابل په لور تېرېدل، دواړه افسـران سخت نارامه او اندېښـمن شـول او سـمدلاسـه پوه شــول چې افغانســتان د یوه لوی پاڅون په مورګه دی. براډفوټ پوه شــو چې دغه خلک له انګرېزانو څخه څومره کرکه لري او اوسنی پوځ د دغه هېواد د ساتلو له پاره بسنه نه کوي. ده لیکلي: «د اشـغالګر پوځ شـمېر لږ کړل شـوی. یوه برخه یې بېرته هند ته ولېږل شوه او هغه چې پاتې دی، د دې پر ځای چې په یوه یا دوو مهمو ځایونو کې راغونډ کړل شــي، په لوی هېواد کې په وړو وړو ډلو وېشــل شــوی دی.»[۳۵] د افغانســـتان په اړه چې دوی یې د واکمنۍ هڅه کوله، د انګرېزانو سوچه ناپوهي هم براډفوټ ته ټکان ورکړی و. ده په حیرانتیا ویلي:

په دې اړه زموږ بې پروايي او د دغه هېواد د بنسـټونو او کړو وړو په هکله زموږ ناپوهي د شـرم وړ ده. کله چې یو هېواد اشـغال کېږي، له سرچینو څخه یې اشغالګر پوځ تل کار اخلي او د پوځ مشر حکومتولي په لاس کې نیسي. لارډ ولېنګټن د سوېلي فرانسې ملکي دولت اداره کولو، مالیې یې ټولولې او د دولت په ټولو چارو کې یې خلک وګمارل. له اشـــغال څخه څلور کاله وروســـته، په عملي توګه موږ د دغه کړنو په ترســـره کولو کې دومره لږ تابیا لرو لکه په ۱۸۳۸ کې مو چې درلوده او تر یوې کچې په دې اړه د پوهې تر لاســـه کولو ته لېوالتیا لږ شـوې ځکه چې ټول په دې اند دي چې موږ به ژر افغانسـتان پرېږدو... داسـې ښـکاري چې د هېواد د سـرچینو په اړه د کره مالوماتو ترلاســه کول، د راټولولو بڼې او د دولت او یو بل ســره د بېلابېلو پرګنو حقوق هېڅ اړین نه دي ګڼل شــوي...نو موږ د خپلې ناداني له امله ناکامېږو.[۳۶]

کله چې دغه دوه افسران کابل ته ورسېدل، دوی ته سمدلاسه د مېکناټن او برنز د لیدو له پاره بلنه ورکړل شوه. دوی د خپلې انګېرنې په اړه نوموړو ته څرګندونې وکړې، خو مکنزي لیکلي: «مېکناټن دغه خبرداریو ته پام ونه کړ او د برنز نوره مداخله نه خوښـــېده: برنز د جزیاتو په اســـتثنا مېکناټن ته ورته اند درلود او دومره ړوند و چې نه پوهېده په شـاوخوا کې یې څه تېرېږي.»[۳۷] خو پر ځای یې مېکناټن چې تل د تشـریفاتو څوبمن و، دوی ته د شـاه شـجاع له خوا په بالاحصـار کې د یوې لویې مېلمسـتیا لاره هواره کړه. د ده په خبره، شــاه شـجاع غوښــتل چې په خوندي توګه د ده د ښځینه راوستلو او د خزانې د راوړلو په بدل کې د دغه مېلمستیا په جوړولو له دوی څخه مننه کوي او هر یوه ته به «یو اس، یوه توره او یوه جوړه اعزازي جامې» ورکړي.[۳۸]

دغه ټولې ډرامې مکنزي نارامه او اندېښمن کړی و. نوموړي په کلکته کې خپلې خسرګنۍ، توبي پرېنسېب ته لیکلي چې د ده په باور دغه اشـغال په اوسنۍ بڼه ډېر سـست او حالت په عمومي ډول ډېر خطرناک دی...«په افغانسـتان کې زموږ زړور ملکري باید ژر تر ژره تقویه شي او که نه، تباه کېږي».[۳۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـاه شـجاع خپلې بېگم ته د انتظار په وخت کې پرېکړه وکړه چې یوه بله ځوانه ښـځه خپله کړي: «تر ټولو سـپېڅلې ملکه چې بیرغ یې لمر دی.» دا هغه څه دي چې نوموړي، ملکې ویکتوریا تـه همغـه وخت لیکلي وو او دی دوام ورکوي: «زما مهرباني او درنې خورې، خدای دې وساته! زه ډېر خوښ یم چې ستاسې عالیقدرې په بې‌ساري مهربانۍ او ملګرتیا مې سـتاسـې د مبارکې پیغام تر لاسـه کړ او سـتاسـې د روغتیا او نېکمرغۍ خبر یې راکړ. دغه لیک د مینې په بڼ کې د بهترینې مېوې لامل وګرځېد.»

ده لیکلي چې هېڅ کله یې له برتانیې سره دومره ډېره مینه نه درلوده لکه اوس یې چې له ملکې څخه لیک ترلاسه کړ. دی بیا خپل لیک ته دوام ورکوي: «په هغه شـېبه کې د سـمونتیا او همغږۍ رنګین او خوشـبویه د ګلاب او د مینې معطر ګلونه زما د مینه ناک زړه په باغچه کې وغوړېدل او په خندا شـول.» دی په لیک کې ملکې ته وایي چې نوموړې څه یو مینه وال د کابل په تخت کې لري او څومره پرې ګرانه ده او لیکي:«داسـې ځلانده ذهن لکه لمر، د واکمنې عالیقدرې موقف دومره اوچت لکه اسمانونه، لکه سپوږمۍ، هوښیاره لکه عطارد، خوشخویه لکه زهره چې له لمر یې مخ ببلګه دی، نېک بخته لکه مشتري چې مریخ یې لاس دی، شـوکت یې لکه زحل، د عدالت او بریا ګانه، د مساوات او ساتنې د تخت جلال، د شـهرت او عظمت ځلانده د جنت څورلسمه سپوږمۍ او د خپلواکۍ او ښـه بخت روښـانه ستورۍ.»[۴۰]

خو که د ځوانې ملکې په اړه شاه شجاع هر راز احساسات درلودل، په کابل کې یې له خپلو چوپړیالانو سره مینه ورځ تر بلې لږېده که څه هم مېکناټن یې په خپل لیک کې «په مقام کې اوچت، د فضیلت او زړورتیا ټاټوبی، د هوښیارۍ او خپلواکۍ غمی، په ارزښـت او مقام کې ډېر اوچت، وتلی او د درناوي وړ» بللی و. له بلې خوا د مېکناټن پوځي سـکرتر، جورج لارېنسن د شاه شجاع په اړه داسې یادونه کړې وه: «نوموړی چې د پخوا په پرتله اوس خپل موقف ډېر خوندي ګڼي او د واک په ساتلو کې پر موږ باندې د تکیې لږ احساس کوي، زموږ په شتون کې بې صبري ښـيي. ده څرګندده کړه چې دی څومره په هغه اړینو محدودیتونو چې اسـتازي د ده په بشـپړ واک لګولي د ځورېدنې احسـاس کوي... او ویې ښوده چې د استازي له څارنې څخه په خلاصون کې به څومره خوشحاله وي.»[۴۱]

په عین وخت کې، په انګرېزي اداره کې برنز په خپل استدلال کې مخ په بریا و چې په شـاه شـجاع دې کنټرول ډېر کړل شي او شجاع ته وفادار او د نفوذ خاوند ملا شکور دې ګوښـه او پر ځای یې یو انګرېز پلوه نرم او مطیع سړی وګمارل شـي. د دوه کلونو راپه دېخوا د شـاه شـجاع په اداره کې لاسـوهنه په ثابته توګه په ډېرېدو وه او په دغه پرېکړه چې ملا شـکور دې ګوښـه کړل شـي، د افغانسـتان رښـتینی حکومت بلاخره په بشـپړه توګه د انګرېزانو لاسـته ولوېد.[۴۲] محمد حسـین هراتي لیکلي: «برنز د ملاشـکور د سـیال، عثمان خان پلوی و چې مخکې د بارکزیو له وفادارانو څخه و. دغه سـړي یوازې د خپلې ګټې په پار خپل بخت په انګرېزانو کې لټولو او په هېڅ وجه یې د اعلحضـرت ملاتړ نه کولو- نو خامخا د ناراضـتیا لمبې پورته شـوې. پلار یې د [شـاه شـجاع د ورور] شـاه زمان وزیر و او له درانې خانانو سـره یې د دښـمنۍ له کبله، د پاچا پرځولو ته لاره هواره کړه، خو مېکناټن پرته له دې چې د ده وړتیا او کرکټر و ازمویې، ده ته د دغه څوکۍ په ورکولو یې ټینګار کولو ځکه چې دغه څوکۍ یې پخوا د پلار وه.» محمد حسین هراتي دوام ورکوي:

په دغه وخت کې میرزا امام وردي Imamverdi چې د دوست محمد له نږدې کسـانو څخه و او په جعل او مکارۍ کې یې نوم درلود، د بخارا په زندان کې ځان په لېونتوب اچولو او په خپلو غاښـو د خپلې غوښې په شکولو ازاد کړل شـو او وروسـته کابل ته راورسېد. ده د ملاشـکور په اداره کې د خپل پرمختګ شـونتیا ونه لیده؛ نو هلته یې کار کول غوره ونه بلل او پر ځای یې له عثمان خان سـره اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیوه چې د اعلحضرت په تېټ پوړي اداره کې یې کار کولو. د ځو ورځو په ترڅ کې یې د ملاشکور پر ضد د پروپاګند او د بدنامۍ دومره اغېزمن کمپاین پیل کړ چې ټولو دراني خانانو او عادي خلکو د ملا شکور په هکله اعلحضرت ته سرونه ټکول. برنز او مېکناټن به په رسمي توګه ویل: «ملا د دغه دندې وړ نه دی - باید ګوښه کړل شي.» خو که اعلحضرت هر څومره دوی ته ویل چې ملا شکور یو پرهېزګار، صادق او خیرخواه سړی دی او د ده په پرتله بل ښه والي نه پیدا کېږي، هېڅ ګټه یې نه درلوده؛ نو عثمان وګمارل شو او د نظام الدوله لقب او ځوکۍ ورکړل شوه چې په ټوله پاچاهۍ کې یې واک او د پرېکړې صلاحیت درلود. ملا شکور له دندې ګوښه کړل شو او په کور کې تر کلکې څارنې لاندې ساتل کېده.

د نظام الدوله له باطني خوساتوب څخه ناخبره مېکناټن یې دومره پلوی و چې د هراتي په قول «په څو میاشتو کې په ځان ډېر خانتما شو او په ډېره بې ادبۍ یې له لویو او وړو خلکو سره چلند پیل کړ». هراتي لیکلي: «حتی د اعلحضرت په حضور کې یې سم چلند نه درلود. مېکناټن ته په غلطو راپورونو یې د اوږدې سابقې درانه درباریان، دراني او غیر دراني، کمزوري کړل او بیا به یې د دوی د تنخوا د کمښت او یا بندولو پرېکړه کوله، خو دوی به چې هرڅومره اعتراضونه وکړل او اعلحضرت به چې هر څومره د دوی پلوي وکړه، هېڅ ګټه یې نه درلوده.»[43]

لکه څنګه چې نظام الدوله له شاه سره ښې اړیکې نه درلودې او په بشپړه توګه یې پر انګرېزانو تکیه کړې وه، حتی ډېر سدوزي پلوو اشرافیانو دغه د خپل اړنګ رښتیا کېدل وبلل چې شاه شجاع د خپل حکومت واکدار نه دی او اوس انګرېزان د اصلي واک ټولې ملونې په لاس کې لري. فیض محمد وروسته لیکلي: «د نظام الدوله له خوښې پرته به د شاه غوښتنې هېڅ شوې او که چېرې به یو عسکر او یا بزګر چې ظلم او زیاتی ورسره شوی و، د عدالت غوښتلو له پاره شاه ته راغی، که د نظام الدوله خوښه نه وای؛ نو پرته له تشو خبرو یې هېڅ نه ترلاسه کول. دا هم بارکزیو ته یوه بله ګواهي شوه چې خلکو ته به یې ویل چې له لقب څخه یې پرته، شاه د حکومت په چارو کې هېڅ واک نه لري.»[44]

د شاه له پاره دا د عامه شرمېدنې یوه بله کچه وه. ده د انګرېزانو احسان نه هېرولو او غوښتل یې چې د کوروداني په پار د دوی یو ښه متحد پاتې شي، خو د ویاړ او غرور څخه دومره ډک و چې یوازې د بې واکه نانځکې په څېر پاتې کېدل ورته د منلو وړ نه وو. د ملا شکور له ګوښه کېدو څخه وروسته برنز لیکلي:

زه یو ځل بیا شاه وروغوښتم . د هغه له خبرو څخه ځرګندېده چې له [نوي] وزیر سره ژوره کینه لري. له ما سره یې د خپل ځور او احساساتو په اړه اوږدې خبرې وکړې. ده وویل چې په خپل هېواد کې یو د اعتبار وړ سړی نه لري او ټول پر دې بوخت دي چې دی زموږ او موږ د ده پر ضد کړي - د ده دښمنان په واک کې پرېښودل شول - د عایداتو هغه برخه چې ده ته بېله شوې وه، راټوله نه شوه او ده ته ورنه کړل شوه - د ده پلویان ناراضه دي - دی په ټولو چارو کې موږ ګوښه کړی، خو بیا هم هېڅ شی سم نه شول. یوازینۍ لاره چې ده ته پاتې ده، مکې ته تګ او حج کول دي [ په بل عبارت، پاچاهي پرېښودل دي] او دا چې د دغه ځای په پرتله، ده په لودیانې کې ډېر واک درلود.[45]

خو شاه شجاع هېڅ کله د برنز نه خوښېده، نه یې د هغه وړتیاوو ته ارزښت ورکولو او نه یې اوس ده ته د خواخوږۍ څه احساس درلود. سربېره پر دې، اوس د برنز مشر هم له ده سره همغږی شوی و. برنز په یو لیک کې لیکلي: «له مېکناټن څخه نن یوه اصطلاح واورېدل شوه او هغه دا چې شاه شجاع یوه زړه ښځه دی او پر خلکو د واکمنۍ وړتیا نه لري. ده یې ډېرې نورې غندنې هم وکړې.» برنز بیا لیکلي: «هو، لس کال مخکې تر ۱۸۳۱ کال پورې، زما [د بخارا]

(c) ketabton.com: The Digital Library



یونونو ته وګوره، خو بیا هم د ده وړتیا او ناوړتیا ما ته څه مانا نه لري. مورږ دلته راغلي یو چې ده ته حکومت وکړو او مورږ یې باید وکړو.»[۴۶]

لږ وخت وروسته جوته شوه چې نظام الدوله له افغان اشرافیانو سره څومره بد چلند وکړ. مېکناټن د ۱۸۴۱ کال د اګست په پای کې، له اکلنډ څخه یو لیک ترلاسه کړ. اکلنډ ورته لیکلي وو چې مالي وضعیت اوس د زوال مورګې ته رسېدلی. کمپنۍ دې ته اړ شوه چې په اوچت سود له هندي سوداګرو څخه پنځه میلیونه پونډه پور واخلي چې د تنخواوو ورکړې ته دوام ورکړای شي.[۴۷] مېکناټن ته امر وشو چې سمدلاسه او په پراخه توګه په لګښتونو کې کمښت راولي. سربېره پر دې، د یوې راپې په توپیر، په لندن کې محافظه کاره حکومت واک ته ورسېد او نوي صدراعظم، سېر رابرټ پیل Sir Robert Peel د دغه جګړې د تمویل په اړه ناټ ونه ښود. ده او همکارانو یې دا د لارډ پامېرسټن یوه ګران بیه او غیر ضروري وېګي جګړه ګڼله.[۴۸] اوس اکلنډ، چې وېګي سیاستوالو ګمارلی و، په جدي توګه خپله استعفا تر غور لاندې نېولې وه. مېکناټن هک پک شو او ویې ویل: «که چېرې دوی - محافظه کاران - شاه شجاع په بشپړه توګه زمورږ له مرستې محروم کړي، زه بې اړنګه وایم چې دوی به یو بېساری سیاسي ظلم وکړي. دا به نه یوازې د ترون ماتونه بلکې په لویه کچه درغلي هم وي.»[۴۹]

مېکناټن په لیک کې اکلنډ ته یو لړمونډی اعتراض ولیکلو:«زه دغه پرله پسې لیکونو [چې د لګښت د کمولو غوښتنې په کې کېږي] حیران کړی یم په داسې حال کې چې ما د دغه دولت د خراب مالي وضعیت او د بې شمېره ستونزو په اړه چې زه یې باید حل کړم، ډېر توضیحات ورکړي... زه له دې څخه چې تر اوسه مې کړي نور زیات څه نه شم کولای.» نوموړي د شاه شجاع، چې ورځ تربلې ناراضه او اندېښمن کېده، د اداره کولو په اړه ستونزې هم اکلنډ ته په دغه لیک کې یادې کړې وې: «په دغه وروستیو کې ما له اعلحضرت سره یو شمېر جنجالي مرکې لرلې او زه په ډاډ ویلی شم چې هغه هڅو چې زه یې د لګښت د کمولو له پاره کوم، نه یوازې اعلحضرت اندېښمن کړی بلکې په هېواد کې یې د ټولو نفوذ خاوندانو دښمني هم خپله کړې ده،» خو مېکناټن د یو ښه ملکي مامور په څېر پوهېده چې د اطاعت سر هغه څه ته ټیټ کړي چې کړنه او کېدل یې حتمي وي: «ما ته ستاسې دوامداره غوښتنې بله چاره نه ده پرېښې پرته له دې چې په بېساري توګه د لګښت کمولو ته مخ کړم. زه پوهېږم چې دغه لوی لګښت چې تر اوسه شوی، د بسپنې جدي کنټرول اړین کوي، خو تاسې به له داسې پاچاهۍ سره څه کوئ چې خالص عایدات یې په کال کې یوازې ۱۵ لکه روپۍ وي؟»[۵۰]

دا ځل مېکناټن د شاه شجاع په لږ کړل شوي خرڅ څه نا څه غرض ونه کړ او نه یې هغه بودیجه کمه کړه چې د شاه افغان ملي پوځ نوي اصلاح شوي غونډونو ته ځانګړې شوې وه. ده غوره وګڼله چې د پلازمېنې پر ځای د لیرې پرتو سیمو بودیجه کمه کړي. نوموړي په کابل کې غلزي او د خیبر مشران دربار ته وروغوښتل او ورته ویې ویل چې دوی ته د اعانې کچه ۸۰۰۰ پونډه کمېږي. په دې کې د اعانې تر ټولو ډېره برخه د ختیځ غلزیو او د دوی د مشر، محمد شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان لر کړل شـوه. محمد شـاه خان چې د اکبر خان خسـر و، کله چې شـاه شـجاع ته د چوپړ له پاره راغلی و، ده ته د «جلات مشـر» وېروونکی لقب ورکړل شـوی و. دغه کړنه مېکناټن ته بیخي سـمه برېښېده: دی په دې باور و چې لکه په هند کې، د زړو اشـرافیانو ورځې په ختمېدو دي. ده یوازې د فیوډالي سیسـتم حتمي مړینه ګړندۍ کوله. د دوی هر څه یې هسې لاپې بلل او په دې اند و چې د کابل حکومت سـارایي کوچي قبیلو ته په پرېمانه باج ورکولو روږدی و، خو دوی یې په بدل کې داسې څه نه کول چې دغه پیسې جبران کړي.

د دغه کړنې پایلې دا ثابته کړه چې د مېکناټن په ټول کاري ژوند کې دا د نوموړي یوه تر ټولو لویه غلطه ارزونه وه چې د څو اونیو په ترځ کې یې د اشـغال بشـپړ سیسـتم ونړاوه. د غلزویو په اند، دوی د دغه اعانې په بدل کې ډېر زیار ایسـتلی و او په دې باور وو چې دوی د شـجاع له رژیم څخه د ملاتړ په بدل کې، کابل ته د انعام له پاره ورغوښـتل شـوي وو. هنري هولاکHenry Havelock لیکلي: «دوی حتی یوه ګوته پرېښـوده چې زموږ د تانو، ځرو او کمزورو پوځي ډلګیو پر وړاندې پورته شـي. په دغه غاښـیو او تنګیو کې بېلابېل کتارونه تېرېدل. دا په نړۍ کې تر ټولو لوی غرنیز خنډونه وو، خو دغه ښـکاري قبیلو ډېر لږ او حتی هېڅ غرض پرې ونه کړ. له دغه ځای څخه د لیکونو لېږل داسـې منظم او پر خپل وخت وو لکه د کلکتې او د بنګال د هرې اډې تر منځ.» کالن مکنزي هم دې ته ورته نظر درلود او په ټینګار یې ویلي وو چې دې ته غلزیو د نېغ خیانت په سترګه کتل: «سېر ویلیم راپور ورکړ چې «د قبیلو مشرانو د اعانې کمښت» ومنلو، که څه هم په زړه کې ناراضـه وو،» خو برعکس دا یې د اعتماد او باور نیغ بایلل هم وګڼل. د بودیجې ټول کسـر یوازې څلوېښت زره روپۍ و او د سپما دغه هڅه د جګړې د پیل او ورپسې د راتلونکو مصیبتونو اصلي وجه وه.[51] موهن لال په دې اړه لنډ خو ډېر په وضاحت لیکلي: «موږ د څو لکو روپیو د سپما له پاره ټول هېواد د ځان پر ضد کړ.»[52]

د سـتونزې یوه برخه دا وه چې د ۱۸۴۱ کال په مني کې دغه مشـرانو او د دوی اړوند کسـانو د اعانې د کمښـت توان نه درلود. پوځي اصـلاحاتو د دوی د عاید یوه برخه خوړلې وه او د ور پاتې عاید ارزښـت یې د اوچت انفلاسـیون له کبله کمېده. څلور زره او پنځه سـوه عسـکر او ۱۱۵۰۰ د کمپ کارکوونکي چې په کابل کې مېشـت وو، پر افغان وټې باندې درونه پېټی اچولی و او هېواد ته د ناڅاپي سپین زر روپیو او همدا راز د تعرفو سیلاب د ورځني اړتیا وړ توکو بیه اوچته کړې وه. د مېکناټن په قول، د ۱۸۴۱ کال د جون په میاشـت کې د ځینې اړینو توکو بیه ۵۰۰ سـلنه اوچته شـوې وه*.[53]

په دې کې د غلې بیه هم په همدې کچه لوړه شـــوې وه چې بې وزلـه افغانان یې د لوږې مورګې ته نږدې کړي وو. موهن لال په دې پوه شـوی و او برنز ته یې د پایلو د خبرداري هڅه وکړه. ده لیکلي: «زموږ د غلې د اکمالاتو د دفتر افسـرانو چې کومه د غلې پېرودنه کړې وه، نرخونـه یې دومره اوچت کړل چې پېرودنـه یې په بشـــپړ ډول د وګړو لـه توان څخـه اوچته شـوه. غوښـه، سـابه، د څارویو له پاره واښـه، لنډه دا چې د ژوندانه له پاره ټول اړین توکي ګران بیه شـوي وو. د لوږې چیغې عامې وې. ډېرو خلکو حتی په زاریو یوه ټوټه ډوډۍ په واټونو کې نه شـوای پېرودلی. که موږ دغه پېرودنه نه وای کړې، هر څه به پرېمانه وو.»[54]

---

*په ۲۰۰۲ کال کې کابل ته د امریکا په مشـــرۍ د ائتلاف راتګ دې ته ورته اغېز درلود چې له امله یې په څو میاشـــتو کې د کورونو بیه لس برابره اوچته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بله بدي دا وه چې مېکناټن د اعانو کمولو د جزیاتو او د اجرا د څرنګوالي دنده بې نزاکته او ناګرانه نظام الدوله ته ورکړې وه. ده نه یوازې خرڅ او اعانې په داسې بڼه کمې کړې چې د شاه شجاع ډېر وفادار ملاتړي یې سپک کړل بلکې د سپټمبر په لمړی نېټه یې حتی ډېر لوړ پوړي اشرافیان اړ کړل چې پوځي څوکیو ته له سره عریضې وکړي او له سره شاه ته د وفادارۍ ســوګند ادا کړي. کله چې دوی دغه غوښــتنې ونه منلې او ویې ویل چې داســې کړنه مخکې هېڅ کله نه وه شــوې او دا د دوی بې عزتي ده او «د شـــاهانو دود دا نه دی چې پر خپلو چوپړیالانو باور ونه لري او د دغســې پانې غوښــته ترې وکړي»، دوی ټولو ته د تبعید ګواښ وشــو.[55] په راتلونکې درباري ناســته کې لمړني کلک مخالفت ځان څرګند کړ. په دغه وخت کې محمد حسین هراتي په بالاحصار کې و. هغه لیکلي:

یوه ورځ کله چې ټول درباریان په شاهي کتنخونه کې د خپل موقف په اساس حاضر وو، صمد خان، د ځلبک خان دراني بدوزي لمسي عرض وکړ: «زما تنخوا نه ده راکړل شـوې.» اعلحضـرت نظام الدوله ته اشـاره وکړه چې په ځواب کې څه وواېي، خو ده یوازې وویل: «ته دروغ وایې!» صـمد خان ځواب ورکړ: «دا ته یې چې دروغ وایې. تا ټول هغه کسـان چې شـاهي کورنۍ پرې ګرانه ده او ورته وفادار دي، ســپک کړي دي.» نظام الدوله چې دغه رښــتیا خبرې واورېدې، عصــاب یې له لاســه ورکړل او چیغه یې کړه: «زه به دې ســترګې وباسم.» صمد خان چې د شاه په حضور کې دغه لړاکي ولیده، په ځواب کې وویل: «که چېرې موږ د اعلحضرت په حضور کې نه وای، ما به د ژبه پر خپله توره ستا له ستوني را ایستلې وای. د اعلحضرت له راتګ څخه مخکې، ما او تا دواړو په دغه هېواد کې ډېر وخت تېر کړی او ټول ښــه پوهېږي چې په هېواد کې زما کورنۍ پرته له وقفې لوړ او عزتمن موقفونه درلودل په داســې حال کې چې تا یوازې د محمد زمان خان بارکزي د متیازو لوښی وړه راوړه.»

هراتي وایي چې شــاه پوهېده چې صــمد خان په رښــتیا له یوې لویې دراني کورنۍ څخه و. په دغه شــېبه کې شــاه اوچت شــو او له شــاهي کتنخونې څخه ووت. نظام الدوله په ســرتېټۍ مېکناټن ته لاړ چې د خپلې خونړې د پېښې بیان ورته وکړي. مېکناټن ســمدلاســه اعلحضــرت ته ولیکل: «صــمد په دربار کې د پاتې کېدو ارزښــت نه لري - باید وشــړل شــي.» اعلحضــرت د انګرېزانو هر امر ته داســې کتل لکه له اســمان څخه چې نازل شــوی وي؛ نو صــمد خان یې له درباره ګوښه کړ. درانیان په اندېښنو کې ډوب وو په داسې حال کې چې بارکزي په بریا او ویاړ ګرځېدل او د شاه په ناتوانۍ یې د بریا مینه ماتوله.

مېکناټن د نظام الدوله مشـــوره ومنله چې د غلزي خانانو اعانه په ځانګړې توګه په دې دلیل کمه کړي چې «دوی په زرګونو روپۍ خوري او دغه پیســې بېځایه ضــایع کېږي. که دغه پیســې ودرول شــي، هېڅوک به د اعتراض جرات ونه کړي»، خو هراتي لیکلي: «غلزیو د اعتراض جرات وکړ او ښــه اوچت یې وکړ: «هېڅ حاکم هېڅ کله زموږ اعانه کمه او یا بنده کړې نه ده: موږ یې د خپل کار په بدل کې اخلو، د لارو او امنیتي تانو ســـاتنه کوو اوغلا شـــوي توکي بېرته پیدا کوو. موږ ته دغه پیسې هسې وړیا نه راکول کېږي. موږ ته په پیسو کې کمښت هېڅ د منلو وړ نه دی.»» غلزي په دې کې برحقه وو. د مغلو له وخت راهیسې، غلزیو او همدا راز د پېښور او خیبر قبیلو ته راه داري ورکول کېده چې لارې، هند ته روان پوځونه او سـوداګر خوندي وسـاتي. خټکو له اباسـین څخه تر پېښـوره او افرېدیو د پېښـور څخه تر جمروده لاره سـاتله. هر پاچا دغه پیسـې ورکولې، خو اوس مېکناټن د دغه قبیلو مشـرانو ته خبر ورکړ چې دی په خپل واک او لیکلي امر دغه هوکړه لغوه کوي. د نوموړي دغه کړنه له دودیز قبیلوي قانون سـره په ټکر کې وه. هراتي د وضـعیت د لا ترینګلتیا په اړه لیکلي: «نظام الدوله په ځبنتوب د دوی سـرټکونو ته غوږ ونه نیو او دوی ته یې سـتوغې خبرې وکړې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له ده څخه په شپه کې لاړل او له کابل څخه بېرته خپلو غونډیو ته وتښتېدل چې د پاروني ور پرانیزي، بغاوت جوړ، کاروانونه لوټ او لاره بنده کړي.»[۵۶]

په اکبرنامه کې مولانا کشمیري له کابل څخه د خانانو تګ ته، نه د ځائمن اعتراض بلکې د یوې ارزول شوې ستراتیژۍ په سترګه کتلي. د ده په قول، افغان سردارانو وېره درلوده چې د تنخواوو له کمولو څخه وروسته به دوی هند او حتی لندن ته په جبري تبعید اړ ایستل شي؛ نو د یوې کړنې پرېکړه یې وکړه. دوی سره یو ځای شول او په قران یې قسم وکړ چې پاځون به کوي څو د انګرېزي عسکرو لویه برخه د پاځون د کرارولو په موخه له کابل څخه ووځي. کله چې په کابل کې د عسکرو شمېر دومره لږ شي چې د کابل دفاع ورته سخته وي، دوی به پر انګرېزي مشرانو یرغل وکړي.

د شپې په راتګ سره خانان غونډ شول ټول
چې کښېني او وغږیږي، عبدالله خان اڅکزي ورته پرانیست خپل کور
دوی وویل اوس د حل لاره ده زموږ په لاس کې
لیندۍ تیارې او غښې مو دي په لاس کې
د دغه توپان اوبه زموږ تر سره رسېدلې نه دي
موږ باید د عمل له پاره ونیسو تیاري
مړه پر توره ښه یوو د جګړې په ډګر کې
تر دې چې ژوند وکړو د پرنګي په زندان کې
لکه شیطان، د برنز له لاسه دی دغه شر
پسېږي په غوږ کې د هر نفر
نو همدغه شپه به ځي محمد شاه خان وړاندې
له خپلو قومیانو سره چې دي توند او زړور
دوی به د جګړې کړي اور بل
په لمبو به یې واچوي سلفر
دوی به د غرونو په درو کې پټ ناست وي
نیسي به یرغمل ټول سوداګر او مسافر
نو شاه به خپل پوځ جګړې ته ولېږي
چې پوځ لاړ شي بیا به برنز سره موږ ګورو...[۵۷]

قسمت داسې و چې د غلزي مخالفینو پاځون پر الفنسټون د روماتیزم له یو نوي یرغل سره سمون درلود. یوه میاشت مخکې، د الفنسټون ډاکتر ، ډاکتر کمبل Dr Compbell دی معاینه کړ: د ناروغۍ تشخیص یې دغه ډاکتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـخت ووېرولو. د نوموړي د محرم راپور پر بنسـت: «له خپل راتګ څخه را په دېخوا، الفسـنټون ډېر ناروغه دی. مرض یې ټولو اندامونو ته رسېدلی او ډېر یې ژوبل کړی. ما لنډ وخت مخکې لیدلی و او له هغه وخت څخه تر اوسـه د ده بدلې ونګې حیران کړم. سـم د اسـکلېټ په څېر ښـکاري. دواړه لاسـونه یې په اوږو او اوبو او پښـې یې په پلالین ټوکر ترلې وې. دی په ډېر بد حالت کې ناهیلی او په بشـپړ ډول ناتوانه و. زما په عاجز اند، د نوموړي حالت دومره خراب شـوی دی چې زه وېره لرم چې علاج یې ناشـونی دی. ما ته داډ راکړل شـوی چې هرې مهمې چارې ته به بشـپړ پام اړول کېږي...»[58] الفنسـټون دغه راپور اکلنډ ته ولېږه او له دندې څخه د معافیت غوښتنه یې وکړه. اوس یې د هند په لوري د تګ پلان بشـپړولو چې تقاعـد واخلي او بیـا پـه سـکاټلنـډ کې د خپلې خوښـې د سـیسـی جلګو تـه لاړ شـي. د لګښـت کمولو د یوې برخې په توګه، مېکناټن په افغانسـتان کې د انګرېزي عسـکرو شـمېر د بیا کمولو پرېکړه هم کړې وه. نوموړي پرېکړه وکړه چې «جګړه مار» باب سـېل، له خپل غونډ سـره بېرته هند ته ولېږي. سـېل ته یې دسـتور ورکړ چې خپل د بېرته تګ لوری بدل کړي چې د غلزیو یو څو کلاوې ونړوي او ټولې هغه د پاڅون نښې وځپي چې دی په لاره کې ورسره مخ کېږي : مېکناټن په ارامۍ لیکلي: «دغه قبیلې ډېرې مهربانه دي، ځکه داسې وخت یې پاڅون وکړ چې زموږ له موخې سره ښه سمون لري. عسکر به هند ته د بېرته تګ په لاره دوی وځپي.»[59]

کله چې د سـېل ارکېدي انجنیر، جورج براډفوټ، الفسـټون ته ورغی چې څارګریز مالوت ورڅخه واخلي او د ختیځ غلزیو ته د جزا پلان ورسـره بشـپړ کړي، دی یې «په داسـې ډېر خواشـینوونکي حالت کې وموند چې د کار توان یې نه درلود» او داسې «ابتر او مغشوش و» چې براډفوټ د دماغي خلل شک پرې وکړ.[60]

ده په اوچتېدو ټینګار وکړ او د نورو په مرسـته د مېلمنو کوټې ته لاړ. دغه هڅې دومره سـتړی کړ چې نیم سـاعت یې ونه شـو کړای چې مجلس پیل کړي. ده څو ځلې هڅه وکړه، خو هر ځل به دومره سـتومانه شـو چې زه به خپل راتګ پښـېمانه شـوم... ده وویل چې د غلزیو د کلاوو په شـمېر او پیاوړتیا نه پوهېږي او په ترخه ژبه یې سـر وټکاوه چې [مېکناټن] نوموړی له ټولو صلاحیتونو څخه محروم [او] له صـفر سـره ضـرب کړی دی... زه [وروسـته] بېرته جنرال ته ورغلم. دی په کټ کې پروت او ډېر بې سـېکه و... ده یو ځل بیا راته وویل چې څنګه له لمړۍ ورځې څخه مېکناټن ځورولی دی. ده په خپله ژبه وویل چې له جنرالۍ څخه یې د بریدمنۍ موقف ته ټیټ کړی. له ما څخه یې وغوښـتل چې مخکې له تګ څخه د ده لیدنې ته ورشـم، خو دا یې هم وویل: «که هر څه پېښـېږي، خو د خدای له پاره لاړې خلاصې کړئ ځکه چې کېدای شي زه له افغانسـتان څخه ووتلی شـم. ما لاړې اکلنډ ته ویلي چې که زما هر حالت وي، که یون ته جوړ او یا ناجوړه وم، که مې وجود او یا دماغ له کاره لوېدلی هم وي، زه به ځم.» دغه خبره یې دوه درې ځلې وکړه او زیاته یې کړه چې د خپل کور په بیا لیدو اړنګ لري حتی که له افغانستان څخه ووتلی هم شي.[61]

براډفوټ، جنرال ته خپلې اندېښـنې بیان کړې: کله چې دی د ښـار پېښـانو او وسله جوړوونکو ته ورغی چې د غلزي کلاوو د کلابندۍ له پاره د ماین ایښـودنې ځینې وسـایل ورته جوړ کړي، هېڅوک پرنګیانو ته د کار له پاره حاضـر نه شـول ځکه چې دوی نورې وسـلې جوړولې. دا چې د کومې موخې له پاره دوی په دغه کار اخته وو، برنز وروسـته وویل چې دوی کوچیانو ته چې ژر به مهاجرت پیل کړي، دغه وسلې جوړولې.[62]

په عین وخت کې د خپل معمول خاصیت په شان، مېکناټن د خپل جنرال په تګ او په ښار کې د وسلو چابکې جوړونې په اړه د څارګریزو راپورنو او حتی له کابل څخه د غلزي مشـرانو د ځاځمنې وتنې په اړه هېڅ اندېښـنه او حیرانتیا ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوده. ده اکلنډ ته وليکل چې دوی د اعانې د کمښت له کبله شخړې راپورته کوي او «د دغه سرخوږي له پاره به دوی ښه وځپل شي ... مخکې له دې چې په سوله ييزه توګه ژوند وکړي، دغه خلک به ډېرو پېټنځايونو ته اړتيا پيدا کړي.»[۶۳]

د اکتوبر د نهمې په سهار، د سېل د غونډ مخکښه ساتونکې ډله چې شمېر يې شاوخوا ۱۰۰۰ کسانو ته رسېده، له کابل څخه تګ پيل کړ. دوی بتخاک ته ورسېدل چې د جلال اباد په سړک د انګرېزانو له اډې څخه يې ۱۵ ميله واټن درلود او عسکرو د غابنې خولې ته څېرمه کمپ جوړ کړ. په دغه شپه چې تيارې خورې شوې، عسکرو عجيب غږ واورېد چې له ارغاړو او د دوی پر سر د ستغو پانړو څخه يې انعکاس کولو. يو ځوان افسر، تامس سيټن چې د هند خوندونو ته د بېرته ورتګ لېوال و، ليکلي:

موږ چې څنګه ډله ييزه ماښامنۍ وکړه، د تشريفاتي ګارد ځايي افسرانو يو سپاهي راولېږه چې ډګروال ته ووايي چې د دوی په سر په غونډۍ کې ډېر خلک ليدل کېږي او ده واورېدل چې دوی خپل تور ټوپک ډکول... مردکي د ټوپک په ميله کې اچول کېږي او د وسپنې په يو اوږد سيخ ښې ښکته ټکول کېږي چې خپل ځای ته لاړې شي. دغه ټکونه د وسپنې اوچت غږ پورته کوي چې له ليرې واټن څخه اورېدل کېږي. دا په خپل کرکټر کې داسې يو نا اشنا غږ دی چې چا يو ځلې اورېدلی وي، هېڅ کله به يې هېر نه کړي. ډګروال غږ کړ: «ښاغلو، بهتره ده چې تاسې خپلو کنډکونو ته په هر څومره چوپتيا چې کولای شئ، بېرته لاړ شئ . دوی به ډېر زر دربانډې راشي.»

ډګروال خپل کسان د کمپ ټولو برخو ته ولېږل چې ټول څراغونه مړه کړي او سيټن ته يې امر وکړ چې له دوو کنډکونو سره د هغه غونډۍ لمنې ته لاړ شي چې افغانان په کې راغونډ شوي. عسکر دې زنګون کېښ او يا ناست وي او بايد داسې چوپ وي لکه مړي. تر څو چې دښمن له غونډۍ څخه نه وي ښکته شوی، بايد هېڅ ډز ونه شي. «ما د خپلو کسانو په سر کې حرکت وکړ او خپل ځای ته نه وم رسېدلی چې ناڅاپه ټوله غونډۍ د سلګونو تور ټوپکو د اراب• څخه داسې ښکاره شوه لکه اور چې واخلي. په عين وخت کې د يالي يالي [د يا الله لنډه بڼه] چيغو هوا ځيرې کړه او وريسې داسې انګولاوې جوړې شوې لکه زر شغالان چې يو ځای په انګولا شي». دغه يرغل څه باندې يو ساعت دوام وکړ.

زموږ په کمپ کې اوږدې چوپتيا او دوامداره تيارې او په ځانګړې توګه زموږ له خوا پر دوی باندې د ډزو نه کول افغانان ډېر ګېچ کړل. دوی په دې خيال وو چې ټول يا تښتېدلي دي او يا«د سويو زامن يې ټول جهنم» ته لېږلي. دوی په دوو ډلو په چيغو د کمپ په لور راروان وو چې کمپ ويجار کړي او ټپيان ووژني...
بلاخره په تياره کې دوی پيکه زموږ تر سترګو شول. زما د دوه کنډکونو عسکر ناست وو او دان پور ټوپک يې د زنګنونو تر منځ نيولي وو، خو د «تيار» لنډې کليمې دوی زنګون کېښ کړل او د «اوس» کليمې په اورېدو ۱۷۰ عسکرو د دښمن په لور اراب وکړې چې ډېره اغېزه يې درلوده. .. موږ د څلوېښتو کسانو په شاوخوا کې مړه او ټپيان لرل او که د ډګروال د زړه سکون او بصيرت نه وای، زموږ مرګ ژوبله به درې برابره وای.[۶۴]

•ارابه: هم وخته ډزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مېکناټن د دغه غلچکي برید په اړه واروېدل، ډېر ځاځناک شو. ده لیکلي: «د دغه سرکوزو سپین سترګی ته ګوره. له څلور یا پنځه سوه کسانو سره په خرد کابل کې چې له پلازمېنې څخه ۱۵ میله واټن نه لري کمین نیسي.» «جګړه مار» باب سېل له پاتې خلکو سره یو ځای چې شاوخوا ۱۶۰۰ کسان وو، د اکتوبر په ۱۲مه له مخکښ ګارد سره د مرستې او د غاښیو د خلاصولو په موخه ولېږل شو. د غاښي په خوله کې لمړی شپه ارامه وه. په سباوون یې دوی د خرد کابل په کږو وږو لوړو کې تګ پیل کړ. ر. ج. ر. ګلیګ چې له غونډ سره هند ته روان و، ویلي:

موږ تر هغه وخته له کومې نښتې سره مخ نه شولو چې غاښي ته ښه د ننه شوي نه وو. د غاښي په دواړو خواوو کې له کمرونو او کړنګونو څخه داسې د مرمیو باران راباندې جوړ شو چې موږ پوه شوو چې لوړې له لوي ځواک څخه ډکې وې. په جګړه کې افغانان دومره ډېر تکړه او وړ وو چې د تور ټوپکو له لمبو څخه پرته موږ نه پوهېدو چې نښې ویشتونکي چېرته پراته وو. داسې برېښېدل چې دوی ته کمرونو او تېږو چې ځینې یې له یوې دیارلس انچه تختې څخه لوې نه وې، ښه پټنځایونه برابر کړي وو. دوی د پښو پر سر ناست وو، خو له کړنګ څخه د تورټوپکو او دان پورو له میلو او دستارونو د پاسنۍ برخې څخه پرته بل څه نه ښکاره کېدل. نښې یې دومره کره وې چې د مخکښ ګارد او نورو واحدونو عسکر په ځمکه غورځېدل.[٦٥]

لکه څنګه چې کلکتې ته په یو رسمي راپور کې ورته اشاره شوې وه، دا څرګنده وه چې په اوچتو غاښیو کې «زموږ اروپايي او هندوستاني منظم عسکر د افغانانو پر ضد جګړه کې په ناوړه حالت کې وو. افغانانو په خپله اعلی زغردتوب او جلتیا، له تعقیب څخه د تېښتې توان درلود او اوږدو تور ټوپکو یې په اوږده واټن کې چې زموږ د دان پور ټوپکو مرمۍ نه ور رسېدې، په وژونکي دقت نښې ویشتلې».[٦٦] د افغانانو دغه وړتیا چې په سیمه کې تري تام شي، انګرېزان وېرولي وو. په دې اړه سېل خپلې میرمنې ته لیکلي: «تر څو یې چې ډزې نه وي پیل کړې، هېڅوک نه پوهېږي چې دوی شته او که نه»[٦٧] له ټیپانو څخه یو په خپله سېل و چې د غلچکي برید په لمړیو دقیقو کې یې پښه د تورټوپک مردکۍ ټوټې ټوټې کړې وه. د نوموړي د غونډ جګړن ویلي: «د زاړه سېل سکون زما ډېر خوښ شو. ده ما ته مخ کړ او وېې ویل: «وېږه، زه خو ټپي شوم.» او بیا په اس سپور قوماندې ته یې تر هغه وخته دوام ورکړ تر څو چې د ډېرې وینې د ضایع کېدو له امه یې، قومانده ډني ته وسپارله.»[٦٨]

له دې سره سره، د سېل ځواکونه چې له کابل څخه تقویتي قواوې ور رسېدلې وې، د خرد کابل په غاښي کې مخته روان وو، خو په ډېرېدونکې توګه درنه مرګ ژوبله ور اوښته. سېل بیا قومانده په لاس کې واخیسته، خو دا ځل یې له ډولۍ څخه قوماندې ورکولې. تر ټولو درنه مرګ ژوبله د یوې بلې شپې په برید کې شاوخوا د سهار په پنځو بجو یوه اونۍ وروسته د اکتوبر په ۱۷مه ور واوښته. د تیزین یو مشر انګرېزانو ته یو نوټ ولېږه چې په کې ویلي یې وو«دوی تنګي تاریکي [تیاره تنګي] ته رسېدلي او په دوو ساعتو کی به پر موږ برید وکړي. یو مودبه ځواب دوی ته ولېږل شو چې موږ د تاسې مشرانو راتګ ته خوښ یوو او هڅه به وکړو چې مناسب ښه راغلاست درته ووایو»[٦٩]، خو دغه نوټ یو جنګي تکتیک و:

د دغه نوټ په وسیله انګرېزانو ته وویل شول چې اوس دې د یو مخامخ برید په تمه اوسي، خو غلزي وتوانېدل چې د ځواک اصلي برخه یې له شا څخه په انګرېزانو نابېره برید وکړي چېرته چې د شاه شجاع نوې جلب شوې حاضر باشې سپرې قوې ته رشوت ورکړل شوی و چې دوی کمپ ته د ننه پرېږدي: «دوی له یوې قبیلې وو. په داسې حال کې چې نورو جګړه کوله، دغه تل چمتو ښاغلو خپل کار څه ناڅه ترسره کړ، اوښبانه یې وژل او د اوښانو د پښو عضلې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوځولې چې له تګه ولوېږي.»[۷۰]

په دغه شپه د سېل غونډ ۸۹ کسه نور له لاسه ورکړل. همدا راز افغانانو له کمپ څخه ډېر پېټي او مهمات په خپله د کمپنۍ پر ۹۰ اوښانو په تېزین کې د غلزیو کلاوو ته یوړل. کوم عملیات چې موخه یې غلزیو ته د جزا ورکړه وه، داسې بڼه واخیسته چې قربانیان یې هغه څوک نه وو چې په نظر کې نیول شوي وو: د غرونو د غاښیو په تنګ جال کې ګېنه په مچ بدله شوه او ښکاریان په ډېره ناراحتۍ او حیرانتیا پوه شول چې دوی په خپله ښکار کېږي.

د اکتوبر د ۲۳ مې په سهار انګرېزانو له تېزین څخه لږ مخکې د غاښي په ډېره تنګه برخه کې بیا مخ ته تګ پیل کړ. له دوو خورا لویو کمرو څخه په تېرېدو او څنګ ته یې په اوښتو سره ولیدل شول چې «ټول اړخونه او غونډۍ چې له درې څخه چاپېر وې، له افغانانو څخه ډکې وې». له سنګرونو څخه په کره نښه وېشتنې او په مناسب وخت کې پر شاتنې ساتونکو او د پېټیو پر کتار یرغل، «دوی یو ځل بیا زموږ ګڼ شمېر خلک ووژل او د پام وړ غنیمت یې ونیو. ما ته سخته ده چې ووایم زموږ خلک له ټول اړوند فرنیچر سره د روغتون هغه ټهو خېموغوسه او عقده من کړي وو چې افغانانو په غنیمت یوړل او یا هغه بکسونو چې لږ تر لږه د دان پور دېرش زره ګولۍ په کې وې».[۷۱] وروسته دغه مهمات د کابل پر پاتې پوځ وکارول شول چې مرګونی اغېز یې درلود.

په راتلونکې ورځ انګرېزان بیا پوه شول چې کلابند شوي، خو دا ځل د پلې قوا سربېره، د تېزین په لور د دوی لاره لوی شمېر سپرې قوې بنده کړې وه. له لنډ رکود څخه وروسته، سېل کمپ ته د یو داسې پلاوي راتګ ومنه چې د اوربند جنډه ورسره وه. مذاکرې د غلزیو په کمپ کې بیا پیل شوې. سیاسي افسر، جورج مکګرېګر George MacGrego چې له غونډ سره مل و، په راپور کې لیکلي چې «ده ته مشرانو په ډېر ادب ښه راغلاست وویل او په دې خوښ وو چې پر دوی یې باور وکړ چې یوازې له یو اسوال سره د خبرو اترو له پاره ورشي. دوی ګڼ شمېر او همغږي برېښېدل او ۷۰۰ کسه یې لرل چې شمېر یې ورځ تر بلې ډېرېده».[۷۲]

مکګرېګر هر هغه څه ومنل چې دوی غوښتل. مېرمن سېل لیکلي: «دوی به ۴۰۰۰۰ روپۍ تر لاسه کړي. دا هغه څه وو چې شخړه یې پیل کړه. د دې په بدل کې دوی ژمنه وکړه چې ټول هغه څه چې زموږ دي بېرته راکړي. د تاوان، مهماتو، پېټو او یو شمېر تانو له لاسه ورکولو او زموږ له ځنډېدنې وروسته، اوس به موږ له هغه ځای څخه روانېږو چېرته مو چې یون پیل کړی و، خو پرته له مړیو او ټپیانو څخه.»[۷۳] وضعیت د مېرمن سېل د یادونې په پرتله ډېر ترینګلی و. ځینې په دې باور وو چې خبرې اترې یوازې د ډېر وخت د ترلاسه کولو په پلمه وې. هنري ډیورنډ Henry Durand دغه خبرې اترې لویه تېروتنه وبللې. ده لیکلي: «دا د عمل وخت و. جګړمار باب باید جګړه کړې وای، نه خبرې»[۷۴]، خو د پیسو ورکړې سېل ته فرصت ورکړ چې ټپیان له یوې وسلوالې ساتونکې ډلې سره کابل ته ولېږي چې هلته حکومت ته د پاڅون د کچې په اړه هم خبر ورکړي او پاتې عسکر په چټکۍ ښکته د جلال اباد په لور روان کړي. د انګرېزي ځواک بدغونې او تروش ډاکتر، جان مکګرېګر د دغه خبرو اترو په هکله لیکلي: «خوښ یم چې جګړه به نوره نه وي ځکه چې په هرڅه کې چې سېل او ډني لاس ووهي، هغه به خامخا ناکامه کېږي.»[۷۵]

له بده مرغه، له دوو ورځو سکوت څخه وروسته بریدونه بیا پیل شول. د اونۍ په پای کې سېل راپور ورکړ: «د قوې وروستنۍ ساتونکې ډله هره ورځ تر برید لاندې راځي او هره شپه پر کمپ ډزې کېږي.»[۷۶] هر سهار «وروسته له دې چې د ښار ډله د بېګل په غږولو بېرته راوغوښتل شي، لکه جادو او سحر یې چې کړې وي، سمدلاسه افغانان له کمپه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیم میل څخه په لږ واټن کې له هرې وړې غونډۍ، کرکنډې•، د وښــو ګېډۍ، هر بوټي او هر کمر څخه بیا برید پیل کړي او په لویه پیمانه د دښــمنانو نیمه کړۍ را څخه تاو شــي.»[۷۷] د افغانانو شــمېر په دوامداره توګه ډېرېده. مېرمن سېل په اډه کې داسې یادونه کړې: «د کابل شاوخوا ټولې کلاوې تشې دي او (ویل کېږي چې) ځوانان تللي چې په تېزین کې زموږ پر ضد جګړه کې مرسته وکړي.» د نومبر په دویمه، بلاخره د سېل غونډ له غانښي څخه تیر، په هوارو کې ښکاره او د ګندمک کوچني حاصل‌خېزه کلي ته ورسېد، چېرته چې د شاه جهان د نیملې باغونه وو او د شــاه شــجاع پوځیانو یو کوچنی بارک درلود.

دلته ســېل او افســران یې د لســو ورځو له پاره پاتې شــول چې دمه وکړي او بېرته ورغېږي، خو لکه څنګه چې د پوځ مذهبي مشر ټینګار کړی و، دا د سدتیا وخت و او هېڅ‌چا د شرابو په څښلو کې زیاتی ونه کړ. دلته هغه شمېر پوځیانو چې د مېکناټن له خوا په جوړه شــوې افغان لوا، جانبازان، کې پاتې وو «بغاوت وکړ او د انګرېزي افســرانو په وژنه یې پیل وکړ... اوس دا څرګنده وه چې یوازې غلزي مشــرانو د خپلې اعانې د اعادې له پاره پاڅون نه دی کړی، بلکې ټول هېواد زموږ پر ضد پاڅېدلی دی».[۷۸] تر اوسه یوازې د څو ورځو په ترڅ کې دغه غونډ ۲۵۰ کسه له لاسه ورکړي وو او د دوی وضـعیت ورځ تر بلې په چټکۍ خرابېدو. داسې اوازې وې چې د دوی تر شــا په غانښــیو کې او په خپله د کابل په شاوخوا کې درنې جګړې روانې وې؛ نو د جګړې یوه شورا جوړه شــوه چې د کړنو په یوه تر ټولو ښــه لړۍ پرېکړه وکړي. ســېل او افســرانو یې پرېکړه وکړه چې هند ته او یا بیا بېرته کابل ته د تګ پرځای، ښــکته د جلال اباد په لور خپل پاتې ۳۵ میله مزل بشپړ کړي چې د ښار دفاع بیا پیاوړې کړي او هلته دې ته تم شي چې بیا څه پېښېږي. که څه هم هېڅوک یې په پایله نه پوهېدل، خو دغه پرېکړې د جګړې بهیر بدل کړ.

د سېل غونډ د نومبر په ۱۲مه جلال اباد ته ورسېد او ښــار یې پرته له کلک مقاومت څخه ونیو. د ختو ټیټ دېوالونه په نړېدو وو او عســکرو ته د جلال اباد ښــار «کوچنی او ککړ» ښــکاره شــو، خو یوه خوا یې چې د کابل ســیند ته څېرمه پرته وه، لږ تر لږه حاصلخېزه او ښــه پنه کړل شــوې وه او په نس وږو عســکرو، ســیند له شــیرماهي او د خوږو اوبو له کبانو څخه ډک وموند. دوی به په ذغالو د کبانو کباب کولو. ګلیګ په دې اړه په یوه تبصــره کې ویلي: «که څه هم عادي یون کوونکو ته ښــایي دغه شــاړ ښــار بې خونده برېښــېده، خو د زړورو او په ترخه بنه د ځورېدلو عســکرو په اند... دغه ښــار ډېر ښــه جزابیتونه درلودل.»[۷۹] جلال اباد ته د راتګ په ماســپښــین، براډ فوټ د اســتحکاماتو په بیا جوړولو پیل وکړ. په دفاعي دېوال کې درزونه او ســوري ډک کړل شــول، تیر کش او مورچلونه جوړ شــول، لس توپونه ســنګرونو ته وخېژول او ډزو ته تیار کړل شــول. لیدونکې ډلې د خوراکي توکو او وښــو د راټولولو له پاره ولېږل شــوې او د هغه خنډونو ړنګول پیل شول چې له سنجونو• څخه یې د دوی د ډزو مخه نیوله. دغه رغونه په ښه وخت کې ترسره شــوه. ســبا ســهار د غلزیو او شــینوارو ګډه قوه د ښــار ســوېل ته «په ټیټو غونډیو کې ښکاره شــوه. د ورځې په تېرېدو ګاګریزه لوړې له دوی څخه ډکې شوې».[۸۰]

د ښار دروازې وتړل شوې، خو له دې څخه لږ وخت مخکې، سېل یو وروستی چټک ځړی په دې هیله ولېږه چې د خیبر له لارې په خوندي توګه په پېښور کې انګرېزي استازي ته ورشي. نوموړي په یوه ټوټه کاغذ کې په بیړه لیکلي:

• کرکنډه: لویه تیږه چې له غره رارغړېدلې وي

• سنج: هغه دېوال چې د بام پر څنډه د کلا شاوخوا جوړ شوی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړم چې اعلی سرقوماندان ته خبر ورکړم چې مخالفینو موږ له هرې خوا کلابند کړي یوو. دوه غونډونه او یوه مېکانیزه ډله د دغه پراخه دېوالونو د دفاع له پاره بسنه نه کوي او زموږ د ډېرو هڅو غوښتنه کوي. موږ سمدلاسه د پیسو او همدارنګه ۲۰۰۰۰ د دان پور ګولیو غوښتنه کوو. په حقیقت کې موږ همدا اوس هر راز مرستې ته اړ یو لکه عسکر، پیسې، خوراکي توکي او مهمات. د دغه کړنو ژر تر ژره ترسره کېدنه به موږ ته ګټور وي. عسکرو ته د ورځې نیمه ځېره ورکول کیږي او یوازې د شپږو ورځو له پاره وریجې پاتي دي او اوړه هېڅ نه شته.[۸۱]
د جلال اباد کلابندي پیل شوې وه.

په سوبلې افغانستان کې اوس په وضاحت یو لوی پاڅون په پېښېدو و. په کندهار کې لارېنس په دغه باور و: «زموږ پر ضد احساسات ورځ تر بلې ډېرېږي او زه د پرله پسې اړودوړ تصور کوم. د دوی ملایان د هېواد له یوې ګوښې څخه تر بلې زموږ پر ضد وعظ کوي.»[۸۲] د نوموړي پوځي سیال، جنرال ناټ له ده سره همغږی و او خپلې لور ته یې داسې لیکلي وو: «هېواد په خواشینوونکي وضعیت کې دی... د سېر ویلیم مېکناټن تېروتنې او کمزوری سیستم تر ټولو ډېر جنجال زېږوونکي دي. نوموړی یا باید بدل شي او یا موږ باید د نړۍ له دغه برخې څخه ووځو... ډېر کلونه به ونیسي چې د مېکناټن کړنې بېرته جبران شي. ولې لارډ اکلنډ دغسې سړی چې د انګرېزانو اړوند هر څه یې له سپکاوي سره مخ کړل، په دغه واکمنه څوکۍ پرېښی؟»[۸۳]
په غزني کې د چوڼۍ قوماندان، ډګروال تامس پامر په همدغه کچه اندېښمن و. نوموړي ناټ ته لیکلي: «دلته سیمه ورځ تر بلې له ډېر اړودوړ سره مخ کېږي... زه نه پوهېږم چې ولې د جنرال سېل غونډ هېواد پرېږدي. هو، کېدای شي دوی په جګړو خپله لار وباسي، خو دښمن به د دوی شاته لاره بنده کړي او زموږ اړیکي به له هند سره په داسې بشپړه توګه وشلوي لکه په دا تېرو دوه اونیو کې.»[۸۴]
په چاریکار کې الډرېډ پاټېنګر تر ټولو ډېر په وېره کې و. نوموړي اوس په دې کې اړینګ نه درلود چې د ده کوچنۍ د ګورخه چوڼۍ به له ټولوژنې سره مخ شي؛ نو کابل ته لاړ چې له الفنسټون او مېکناټن سره مخامخ استدلال وکړي. الفنسټون وارخطا ناست و. ډېر زړه نا زړه او اندېښمن ښکارېده، خو ده ونه شو کړای چې پاټېنګر ته کومه فزیکي مرسته او یا لږ تر لږه هغه پوځي سپره قوه او توپخانه چې نوموړي یې له ناچارۍ غوښتنه کوله، په دې دلیل ولېږي چې دغه ځواکونو ته په کابل کې اړتیا وه. په عین وخت کې مېکناټن وویل چې له پاټېنګر سره د لیدو وخت نه لري او د نوموړي په لیکلي راپور یې مسخرې وکړې: «پاټېنګر داسې لیکلي لکه اوس چې [د میرمسجدي] نجرابیانو تر یرغل لاندې راځي، خو زما خیال دا دی چې د وېرې له پاره دومره ډېر لوی دلیل نه شته. کله چې دغه خلک واوري چې غلزي بېرته ارامه شول، دوی به بېرته خپلو سوړو ته ننوځي.»[۸۵]
مېکناټن اوس هم په خپل اند کې سرتمبه برېښېده او هوډ یې درلود چې هېڅ خبر، حتی که ډېر بد او جدي هم و، باید د ده رضایت او قناعت ګډوډ نه کړي او دا هغه وخت ډېر د پام وړ و کله چې په کابل کې ستونزې په ښکاره پراخېدلې، چېرته چې انګرېزان اوس په څرګنده توګه په واټونو کې کنځل کېدل. کالن مکنزي لیکلي: «د ټولو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلند داسې و لکه د انګرېزانو په تباهۍ کې چې دوی د بریا اټکل کړی وي.» یو شمېر وژنې هم وشوې: یو عسکر په خپله خېمه کې ویده و چې یو افغان په تومانچه وواژه. یو د ټیټې رتبې عسکر چې ستونی یې غوڅ و په یو لښتي کې وموندل شو. کپتان والر Waller د یو هدفي وژونکي له خوا ټپي شو او یو تورزن، ډاکتر مېټکف Metcalfe خپل کور ته ځېرمه هغه وخت په توره وواهه کله چې له ښار څخه د اډې په لور تللو. مېرمن سېل اندېښمنه او په وېره کې وه. نوموړې په خپل یادښت کتاب کې لیکلي: «عمومي انګېرنه داسې ده چې مېکناټن ځان ته په ډاډګېرنه خپل ځان غولوي چې هېواد ارامه دی. دی یو سخت کار په مخ کې لري ځکه چې داسې زړوتیا له ځانه نه ښيي چې اوسنۍ ستونزې په یوازېتوب حل کړي.»[86]

د نوموړي د سرزورۍ د دلیل یوه وجه دا وه چې لږ وخت مخکې یې خبر تر لاسه کړی و چې لارډ اکلنډ ده ته په افغانستان کې د زیار په بدل کې د بمبیي ولایت څوکۍ ورکړې. دا داسې څوکۍ وه چې د ختیځ هند په ټوله کمپنۍ کې یو ملکي مامور ته تر ټولو ښه وه. سربېره پر دې نوموړي ته د ملبار Malaba غونډۍ پر سر یو بشپړ ښایسته پلډیوني Palladian هستوګنځی هم ورکړل شو؛ نو ځکه دا د ده په ګټه وو چې ژر تر ژره له افغانستان څخه لاړ شي او خلکو ته د ښې دندې د ترسره کولو انګېرنه ورکړي. بیا، چې د ده له تګ څخه وروسته څه پېښېږي، ملامتیا به د ده د ځای ناستي په غاړه کېږي. نوموړي اکلنډ ته په غوړه مالۍ لیکلي: «دا یو نابېره درناوی دی او داسې وخت راکړل شو چې په مسوولیت ویلی شم چې زه دغه هېواد د بشپړه ارامۍ او چټک پرمختګ په حال کې پرېږدم.»[87]

هغه کس چې په ډېر احتمال سره د مېکناټن ځای ناستی کېده الکساندر برنز و. استازي نوموړی د څو میاشتو راهیسې په ډېرېدونکې توګه څنګ ته وهلی و؛ نو پرته له دې چې د خپلې خوښې لیکوالانو اثار ولولي، بل څه یې د کړنې له پاره دومره ډېر نه درلودل. نوموړي په اګست کې خپل کور ته ولیکل: «بې اړنګه، زما د ژوند تر ټولو بې موخې او لټ پړاو همدغه اوس دی. زه د حکومت له پاره له مشورې ورکولو پرته کوم بل کار نه کوم او پرته له دې چې زه د میاشتې ۳۵۰۰ روپۍ اخلم، بله کومه دنده نه ترسره کوم... [په عین وخت کې] د تسېتس Tacitus لوستل ما ته دومره خوندور دي لکه د استونو لیکل.»[89] کله چې د استازي له نوې دندې څخه خبر شو، هغه لیکلي چې دی د مېکناټن ځای ناستي ته «څوبمن» دی، خو بیا هم، اوس چې د هغه انعام د ترلاسه کولو په درشل کې و چې له ډېرې مودې راهیسې یې په لټه کې و، نوموړي په دې فکر کولو چې ده په رښتیا څومره دغه څوکۍ غوښته او یا نه. خپل ورور ته یې په ورستي لیک کې لیکلي: «زه ساعت په ساعت د واک او مقام له پاره څوب له لاسه ورکوم او له ځانه پوښتم چې ایا زه د دغه لوی واک دومره وړتیا لرم لکه دومره چې زه پرې باور کوم. کله کله فکر کوم چې نه، خو کله چې په زولانو کې نه وم تړلی ، زه هېڅ کله په واک کې ناکامه شوی نه یم... هیله من یم چې دغه اړنګ مې لیرې شي ځکه چې اندېښنې دردوونکې دي. زما د کرکټر یوه لومه بشپړ جدیت دی. زه د هېڅ داسې کړنې په اړه بې پروا نه یم چې زه یې ترسره کوم. په حقیقت کې، که زه یو کار ته ملا وتړم، بیا نو بې پروا نه شم پاتې کیدای.»[89]

حقیقت دا و چې د اشغال په وخت کې د برنز ډېر استعدادونه په لویه کچه ضایع شول. له مسون څخه پرته، برنز د هر انګرېز افسر او یا یون کوونکي په پرتله افغانستان ډېر پېژانده. په دغه هېواد پوهېده او پرې ګران و. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ذاتي سـياسـي وړتيا دومره کره وه لکه قضـاوت يې چې اکثراً بې عيبه و، خو نيمګړتيا يې واک او پرمختګ ته لېوالتيا وه چې دی يې په يو بشپړ داسې غير ضروري يرغل او د اشغال په غلطه اداره کې ښکېل کړ چې دواړه يې د يو ځبن دسـپليني له خوا اداره کېدل چې نه يې ده ته غوږ نيوه او نه يې د ده نظريو ته درناوی کولو. لکه ويتکېويچ چې د ده سـيال و، دی يو زړور او پوه ځوان و او يو داسـې بېګانه و چې د خپل زيار په وسـيله يې د خپل پېر په تر ټولو لويه جيوپولټيک هڅه کې لوی موقف تر لاسه کړ، خو دغه دواړه په بېلو وسيلو پوه شول چې دوی په پراخه امپرياليسـتي لوبه کې د سـطرنج پلې دانې دي. کله چې ويتکېويچ پوه شـو چې د عمر خواري او زيار يې لـه پامه وغورځول او ضـايع شـول، د روحي خپګان او کرکې په حالت کې يې ځان وژنه وکړه. دغه حالت ته د برنز ځواب عياشـی ته مخ اړول وو. په دې توګه، نوموړي تر نن پورې په افغانسـتان کې خپل ځان د کرکې څېره وګرځولو. د افغان ماخذونو پر بنسټ، د برنز همدغه کړنو د کابل وروستي وژونکي اور ته پلته ووهله. په دې هکله ميرزا عطا تر ټولو ښـه افغاني بيان کړی چې څرنګه برنز دغه اور بل کړ. نوموړي ليکلي چې په کابل کې اشـرافيان په پرمختلونکې توګه د انګرېزي اشـغال په هکله ځاځمن کېدل او په ځانګړې توګه د دوی د کړنو هغه بنه چې پر غلزي مشـرانو يې پيسـې کمې کړې وې، شـاه شـجاع يې څنګ ته کړی او د نوموړي وزير، ملاشـکور يې له دندې ګوښـه کړی و. دا د خپلې ناتوانۍ په هکله د شاه شجاع سرټکونه وه چې بلاخره يې عزت او ايمان ته د سپکاوي په اړه د شـاهي سـردارانو ځاځ د اشـغالګر پوځ پر وړاندې اوج ته ورسولو. د مېرزا عطا په قول: «دوی هر يو خپلو کورونو ته لاړل او په ترغونې• کې کله چې لمر په لوېديځ کې ولوېد او سـپوږمۍ په خپله ښـکلا راپورته شـوه، دوی سره راغونډ شول او په قران يې سوګند وکړ.» په داسې حال کې چې د سېل ځواکونه لا تر اوسه په خردکابل کې وو، مولانا کشميري د چټک عمل له پاره د ځينو مشرانو ټينګار ياد کړی دی.

پاچا هېڅ پوځ نه لري او لات هې جنګي [مېکناټن] نېشه دی
شراب څښي، مستي کوي، پټک يې تل په لاس کې
ناوخته کېږي، د ځنډ له پاره ځای نه شته
موږ کرار کښېناستی نه شو، بايد لاس په کار شو
چې سويه خبره نه شي
او ښکار مو له لاسه و نه وځي
راځئ چې د بد عمله ارواح، برنز په لوري بيړه وکړو،
او د سپېډو په چاودو کې، د ده کار جوړ کړو[۹۰]

خو په پای کې دوی هوکړه وکړه چې د اشـغالګرو تر يو بد چلند پورې صـبر وکړي چې د دوی پاڅون توجېه شـي. د نومبر په لمړي ماښـام چې د روژې لمړی اونۍ وه، مخکښـو سـردارانو هغه پلمه پيدا کړه چې دوی ورته تم وو. ميرزا عطا ليکلي: «د خدای په رضـا، پېښـه داسـې پيل شـوه چې د عبدالله خان اڅکزي يوه وينځه نجلی د ده له

• ترغونې: د ماښام تياره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هستوګنځي څخه د الکساندر برنز کور ته وتښتېده. خان په ځانځ خپل يو چوپړيال د نادانۍ نجلۍ د بېرته راوستلو له پاره ور ولېږه. دغه انګرېز چې له غرور څخه پړسېدلی و، کنځاوې پيل کړې او د خان چوپړيال يې سخت ووهه او له کور څخه يې بهر واچاوه.» دا له کچې څخه وتلې پاروونه وه. د موهن لال کشميري په قول: «له خپلوانو سره يو ځای، عبدالله خان اڅکزی د امين الله خان لوګري کور ته لاړ، قران يې په لاس کې، ده ته يې زاري وکړې چې له ده سره ملګری شي چې په ښار کې خلک د پاڅون له پاره وپاروي. کله چې امين الله خان لوګري دغه غوښتنه ومنله، ځينې نور ناراضه مشران د اڅکزي کور ته ولېږل شول.»[۹۱] کله چې جرګه راغونډه شوه، عبدالله خان اشرافيانو ته وينا پيل کړه:

اوس موږ برحق يو چې دغه انګرېزي ژغ ايسته واچوو: دوی د استبداد لاس غځوي چې ښاريان، لوی او واړه بې عزته کړي: له يوې وينځې نجلۍ سره جماع د مذهبي غسل ارزښت نه لري، خو موږ يې بايد همدلته او همدا اوس مخه ونيسو. دغه انګرېزان د خپلو هوسونو پر خرو د ځبنتوب تر ډګره کښېني. تر دې کچې چې موږ تول به ونيسي او لږ ځند وروسته به مو يو بهرني زندان ته ولېږي. زه په خدای تکيه کوم او د جګړې معيار د خپل پيغمبر، محمد کچې ته اوچتوم او په دې توګه جګړه پيلوم. که برېا موږ ته انعام راکړي؛ نو دا هغه څه دي چې موږ يې غواړو، او که په جګړه کې مړه شوو، بيا هم مرګ له بې عزتۍ او سپک ژوند څخه ښه دی![۹۲]

نورو سردارانو، د ده د ورکتوب ملګرو خپلې ملاوې وتړلې، ځانونه يې تيار کړل او جهاد ته چمتو شول. کله چې موهن لال د خپلو ځرو په وسيله د توطيې جوړوونکو په هکله خبر شو، سمدلاسه د برنز کور ته لاړ چې ده ته د هغه څه په اړه خبرداری ورکړي چې په خوټېدو وو. برنز خپله ورځ د خپلې راتلونکې په هکله په اندېښنو تېره کړې وه او په لمړي ځل يې هند ته د تګ شلمه کليزه وه. ده دا احساس وکړ چې دغه ورځ به ده ته ژوند بدلوونکې وي. د خپل ژورنال په ورستيو ليکو کې يې داسې ليکلي: «دغه ورځ به ما ته څه رامخته کړي؟ زما په اند، تخت يا تابوت. له لمر لوېدو څخه مخکې به پوه شم»[۹۳]، خو د غلزيو پاڅون لارې بندې کړې وې او کوم ليک کابل ته رانغی. د ۱۸۴۱ کال د نومبر په لمړي ماښام، موهن لال ليکلي:

ما برنز وليد او ورته و مې ويل [چې څه په پېښېدو دي] .. ده وويل چې نه غواړي په هغه څه کې لاس ووهي چې استازي جوړ کړي. لکه څنګه چې هغه په څو ورځو کې بمبيي ته ځي او بيا به دی [برنز] پخوانۍ اعانې بېرته اعاده کړي او مشران به پخلا کړي. ما بيا ورته وويل چې دا د چوپړ له احکامو سره ټکر دی چې داسې بدبخته بلاوې پرېښودل شي چې وده وکړي او د بد حالت د مخنيوي مانا دا ده چې مخکې له دې چې دښمنان موږ ته زيان ورسوي دوی نابود کړل شي. کله چې برنز دغه خبرې واورېدې، له څوکۍ څخه اوچت شو، اسوېلی يې وکيښ، بېرته کښېناست او ما ته يې وويل چې له دغه هېواد څخه د وتلو او د بايللو له کبله يې د ماتم وخت رارسېدلی دی.[۹۴]

کله چې موهن لال بېرته د پل چرخي بازار په لور خپل کور ته روان و، توطيه ګر په تيارۍ بوخت وو. ميرزا عطا ليکلي:

همدغه شپه، د سپېدو له چاودو څخه مخکې دوی د برنز کور ته لاړل او په خپلو بې رحمو تورو يې پيره داران ووژل. د جګړې خبر په ټول ښار کې خپور شو او د کابل نارينوو، ځوربو جنګيالو، دغه خبر له خدای څخه هغه ډالۍ وبلله چې دوی يې غوښتنه کوله. دوی خپلو هتيو ته لاړل، وسلې يې واخيستې او د جګړې ډګر ته يې د يا چار يار [د درانيو او بارکزيو د جګړې ناره] په چيغو منډې کړې. د سپېدو په چاودو سره، دوی لکه ملخ کوڅو ته راتوېې او د الکساندر برنز د کور شاوخوا ته راغونډ شول.[۹۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

# ټول نظم په ختمېدو دی

د ۱۸۴۱ کال د نومبر ســـهار روڼ او یخ پیل شـــو. د کابل لـه دېوالونو بهر په باغونو کې د ژمني لمر وړانګو، لـه افغاني نښـترو او سـروو څخه تیاره او اوږده سـیوري اچولي وو. له باغونو څخه وړاندې، په نوې جوړه شـوې اډه کې د شـاه شجاع د عسکرو د تنخواوو معتمد، کپتېر هیو جانسن Captair Hugh Johnson سهار وختي له خوبه ویښ شـوی و. نوموړی تېره شپه د غونډ یوې ماښامنۍ مېلمستیا ته تللی و. خرابېدونکي امنیتي حالت ته په کتو سره، ورونو افسرانو یې وډومارو چې په اډه کې شـپه تېره کړي که څه هم افغانه معشـوقه یې د ښـار په مرکز، شـور بازار کې د ده په کټ کې ورته تم وه.

نوموړي په هغه شپه په خپل یادښـت کتاب کې لیکلي: «د لمر ختو په شـاوخوا کې، مخکې له دې چې ویښ شـم، زما یو چوپړیال راغی او ویې ویل چې کارګران نن په خپلو کورونو کې پاتې شـول ځکه چې له دوی سـره د خپلې شـتمنۍ د چور وېره وه. د شپې له خوا داسې ګنګوسې خپرې شـوې وې چې په ښـار کې به اړودوړ رامنځ ته شي. ما دغه کارګران لـه څو ورځو راهیسـې د ماموریت په احاطه کې په یو کور کې چې ما پېرودلی و په کار ګمارلي وو.»[1] جانسـن دا ناشـونې وګڼله. پرون ماښـام، مخکې له دې چې له ښاره ووځي، د پېښـدونکي اړودوړ هېڅ کومې نښې نه لیدل کېدې او لکه څنګه چې د نوموړي کور د الکسـاندر برنز کور ته نږدې و، دی ډاډه و چې که څارګریزو مالوماتو د اړودوړ د پېښـېدو یادونه کړې وای؛ نو ملګري به یې ده ته خبرداری ورکړی وای. نوموړی زیاتوي: «نیم ساعت وروسـته مې چې چوپړیال د ښـار په لور لاړ، ما ته درې چپړاسـیان راغلل او ویې ویل چې زما د کور او خزانې مخ ته یوه ډله خلک راغونډ شـوي. دوی د ننوتلو هڅې کوي او برنز د دوی د ارامولو هڅه کوي.» جانسن خپلو څرګندونو ته داسې دوام ورکوي:

د اس چمتو کولو امر مې وکړ، خو مخکې له دې چې پر اس سـپور شـم، د اسـتازي پوځي سـکرتر، کپتان لارېنس ته ورغلم چې د هغه څه په هکله خبر ورکړم چې ما اورېدلي وو، خو په دې هکله یې له برنز څخه مخکې یو نوټ ترلاسـه کړی و او د جنرال دفتر ته روان و. زما یو بل چوپړیال راغی او ویې ویل چې د هغه واټ کنټرول چې زما او د برنز کور په کې دی، بلوا کوونکو په لاس کې واخیست. ځینو یې هڅه کوله چې زما دروازه پرانیزي، خو زما د خزانې سـاتونکو پر دوی باندې درنو ډزو ته دوام ورکولو. ده چې زما اس زین شـوی ولیده، راته ویې ویل چې خپل کور ته تګ ناشـــونی دی ځکه چې پاڅون کوونکي هره دقیقه ډېرېږي او هر اروپایي یا هندوســـتاني چې مخې ته ورځي، دوی یې وژني. په دې خیال چې جنرال به یوه پوځي ډله ولېږي څو دغه بلوا وځپي او زما خزانه او د هستوګن، الکساندر برنز چې مخکې یې په یو بل نوټ کې د سـملاسـي مرستې له پاره زارۍ کړې وې، ژوند وژغوري، زما اس چمتو سـاتل کېده چې زه هم د پوځي ډلې ملتیا وکړم. زه د دفاعي دېوال سر ته وختم چې که له ښـار څخه د بلوا څه نښې ولیدی شم. هلته مې پنځه دقیقې لا تېرې نه وې چې د ښـــار له لوري مې یو ټینګ لوګی ولید. زه ســـمدلاســـه پوه شـــوم چې مخالفینو زما کور ته اور واچولو. ما د دان پورو درنې ارابې هم واورېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ته د وژنو او چور د ناوړه راپورونو... رسېدل پيل شول.

موږ حيران وو چې تر اوسه هم کومې پوځي ډلې ته امر نه و شـوی. په سـاعتونو وخت ضايع شـو او د پاڅون د ځپلو له پاره هېڅ کړنه ترسره نه شوه. داسې ګنګوسې چې وروسته په حقيقت بدلې شوې رواڼې وې چې پاڅون کوونکو زما د خزانې دېوال په ماين والوزاوه او خزانه يې چور کړه. همدا راز دروازې ته د اور اچولو په وسيله يې زما د کور واک هم خپل کړی او ټول سـاتونکي، يو سـوبه دار او ۲۸ سـپاهيان، [اروپايي] افسـران، زما ټول چوپړيالان - نارينه، ښځې او ماشـومان يې وژلي او زما ټوله خزانه يې چې ۱۷۰۰۰۰ روپۍ په کې وې، لوټ کړې ده. زما په دفتر کې د درې کلونو راپه دېخوا ټول اسـناد يې سـوځولي چې نږدې د يو ميليون پونډو نه تصـفيه شـوي حسابونه په کې وو او زما شخصي شتمني چې له ۱۰۰۰۰ روپيو څخه يې ډېر ارزښت درلود ترلاسه کړې.[۲]

جانسـن باور نه کولو چې د برنز، خزانې او د ده د کارکوونکو د ژغورلو له پاره ډېر څه نه ترسـره کېدل او په وار وار يې په دې اړه د پلان پوښتنه کوله. وروسـته څرګنده شـوه چې سـتونزه له الفنسـټون سره وه. کله چې په ښـار کې د اړودوړ راپورونه راورسېدل، دغه ناروغه جنرال له خپل راتګ څخه را په دېخوا په لمړي ځل پر اس د سـپرېدو هڅه وکړه، خو دی ډېر کلک پر ځمکه او اس هم پر ده ولوېد. وروسـته له دې، د کپتان وېنسـنټ ايير په قول: «الفسـټون چې زما په خيال هېڅ کله يو غښتلی او ازاد فکره سړی نه و، داسې يو حالت ته يې تنزيل وکړ چې د زوړتوب له کبله يې اوس دماغ پر ځای نه دی.»[۳]

په اړه کې يو کس چې عسکر يې عمل ته هڅول، د مېکناټن سېکمن ځوان پوځي سکرتر جورج لارنس و. جانسـن هم د لارنس په څېر سـهار د وخته له خوبه پاڅېدلی و او پوه شـو چې اړودوړ روان دی. نوموړي ليکلي: «يو ځړی چې ما ښـار ته د عادي توکو د پېرودلو له پاره لېږلی و، ساه نيولی او په ډېره وارخطايي بېرته راغی او ويې ويل چې ټولې هټۍ بندې دي او له وسـلوالې ګڼې ګوڼې څخه واټونه ډک دي. زه سـمدلاسـه اوچت شـوم او د اسـتازي په لټه کې شـوم. نوموړی مې د سهار په اتو بجو پيدا کړ چې له الفنسټون سره په ژورو خبرو بوخت و...»[٤]

لارنس وړانديز وکړ چې د اوږې ۵۰۰۰ عسـکر دې سـمدلاسـه د ښـار په لور د برنز هسـتوګنځي ته ولېږل شي او د بلوا د غدی دواړه مشـران، امين الله خان لوګری او عبدالله خان اڅکزی دې ونيول شي: «حتی يوه شـېبه بايد ضايع نه شي.» ده بيا وروسـته ليکلي: «زما وړانديز سـمدلاسـه رد شـو او په داسـې حالاتو کې سـوچه لېونتوب او بيخي ناشـونی وبلل شـو.» خو د نوموړي دويم وړانديز ومنل شـو او هغه دا چې: د چوڼۍ انجنير، بريدمن سـټرټ چې نوی واده يې کړی و، پر اس چارګام بريد جنرال شلټن ته ورشي. دغه جنرال په سياسنګ کې چې له ښار څخه ليرې سيمه وه، ګمارل شوی و چې د نارامه خرد کابل د غابښـي خولې او د کابل ښـار تر منځ د لارې امنيت وسـاتي. سـټرټ به يې د بلوا په هکله چې د پل چرخي په شـاوخوا کې لوټول کوي، خبر کړي او ويې هڅوي چې بالاحصـار ته لاړ شـي څو له هغه ځای څخه پر دېوال محاط ښـار قومانده کړي او مناسـب اقدام تر سـره کړي. لارنس بايد همدا مهال، د بالاحصـار په لور روان شـي چې دغه پلان له شاه شجاع سره منظور کړي.

لارنس د سـهار نهو بجو شاوخوا، د يوې کوچنۍ څلور کسيزه ډلې په بدرګه د بالاحصار په لور وخوځېد. نوموړي خپلو سـاتونکو ته هدايت ورکړ چې «له ده سـره نږدې روان وي، که اړتيا وي د بوټانو په پوندو کې دې له تېرو څوکو څخه د اس په چټک ځغلولو کې کار واخلي خو په هېڅ وجه دې نه درېږي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمدخان کلا ته څېرمه یو افغان له یوه لښتي څخه راپورته شـو او په داسې حال کې چې یوه لویه غبرګ لاسې توره یې خوځوله، د واټ په لور یې را منډې کړې. زما په لور یې یوه ځاځناکه منډه وکړه، خو ما د خپلې ډنډې په ور وارولو ځان ورڅخه بچ کړ، توره مې راوایســته او خپل اس مې د ده په لور په تراټ کړ، بیا زما یو ســاتونکي دغه کس د کربین په ډز وویشــت... کله چې موږ له واټ څخه ښکاره شوو، سمدلاسه یوې بلې ډلې چې په یوه لښتي کې پټه وه، پر موږ چیغه وکړه او د دان پورو سملاسي پرله پسې ډزې یې راباندې پیل کړې. یوازې زموږ چټکې ځغاستې او له موږ څخه اوچتو ډزو له تباهۍ څخه وژغورلو.

لارنس چې کله بالاحصار ته ورسېد، د شاه حضور ته بوتلل شو. شاه په ډېره غوسه ښکته پورته ګامونه اخیستل.

اعلحضـرت په اوچت غږ وویل: «دا هغه څه نه دي چې ما اســتازي ته ویل چې که زما مشـورې ته پام ونه کړي، پېښ به شي؟» ورپسې ما پاچا ته د خپل راتګ د موخې په هکله خبر ورکړ او غوښـــتنه مې ترې وکړه چې اجازه راکړي څو د شـــلږن غونډ تـه امر وکړم چې بالاحصــار ته راشـي. شــاه په ځواب کې وویل: «لږ صـبر وکړه، زما زوی، فتح جنګ او صــدراعظم عثمان خان [نظام الدوله] زما له عسکرو سره ښکته ښار ته تللي دي. زه په دې کې اړنګ نه لرم چې دوی به بلوا وځپي.»[۵]

لکه څنګه چې لارنس پوهېده، په دې کې د طنز کوچنی څرک هم نه و. له میاشـتو راهیسې انګرېزانو، شجاع لټ او بې اغېزې بللو، خو چې کله کړکېچ راغی، دا یوازې شــاه شــجاع و چې ســمدســتي لاس په کار شـــو چې پاڅون مخکې له دې چې له کنټرول ووځي، وځپي. نوموړي د خپلې ساتونکې ډلې وفادار او د ډېرې سابقې قوماندان، ویلیم کمبل د ۱۰۰۰ کسیزه پوځ او دوو توپونو او همدا راز له فتح جنګ ســره یو ځای چې د ده صـلاحیت ته مشـروعیت ورکړي، د بلوا پر ضـد لېږلي وو. په رښـتیا، شـجاع یوازینی کس و چې د برنز د ژغورلو له پاره یې هڅې وکړې که څه هم نوموړی له لسېزو راهیسې د ده کلک ناقد و. کله چې لارنس له شـجاع سـره یو ځای تم و، په ښار کې د فتح جنګ د بریالي پرمختګ او د پر له پسې سیمو د ارامولو په اړه راپورونه راتلل.

خو په بربڅر کې، پېښـــو توره څېره خپله کړه. لمړی بریدمن ســـټرټ «په داســې حال کې چې ډېرې وینې ترې روانې وې» «توره پـه لاس» دربـار تـه راغی او «چیغـه یې کړه چې دی وژل کېږي. ده وویـل چې کلـه پـه دروازه کې لـه خپل اس څخـه ښـکته کېده، له ګڼې ګونې څخه یو سـړي د ده په لور منډه کړه او دی یې درې ځلې پر مخ او سـتوني په چاړه ووهلو». وروسته راپور راغی چې مخالفینو د فتح جنګ او کمبل عسکر په تنګو واټونو کې تر غلچکي برید لاندې راوستي او نښه ویشـتونکو چې د شـوربازار په کورونو کې پټ وو، دوی ته د سـلو کسـانو په شـاوخوا کې مرګ ژوبله اړولې ده. دوی خپل دوه توپونه هم له لاســه ورکړي او اوس د برنز کور ته په لږ واټن کې بند پاتې شـوي. شـجاع اوس په ډېرېدونکې توګه د خپل زوی په هکله اندېښـمن شـو او د لارنس له زاریو سـره سـره، نوموړي «په داسې حال کې چې پلرنی عاطفي اغېزمن کړی و، له لږ ځنډ څخه وروسـته یې بلاخره خپل زوی او صـدر اعظم بېرته راوغوښـتل. رټ، صـادق، او جوړجاړی نه خوښوونکی صدر اعظم بلاخره سخت پارېدلی او په نیولې ساه له جګړې څخه بېرته راغی او پاچا ته یې په ځاځمنه بڼه وویل: «د بریا په شېبه کې دې موږ بېرته راوغوښتو.عسکر به دې مات شي او پر موږ ټولو به بلا نازله شي.»»[۶]

موهن لال یوازې له درې ســاعته خوب وروســته یوې چوپړیالې ویښ کړ او په وارخطایي یې د برنز له دروازې څخه بهر چې څو کوره هاخوا د بازار په وروســتۍ برخه کې و، د لویې ګڼې ګونې په هکله ورته وویل: «اغا، ته ویده یې او ښـــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترینګلی دی.» موهن لال د خپل باغ انګړ ته ننوت او ويې ليدل چې خلک خپل مالونه له سـيمې څخه وتلو خوندي ځايونو ته لېږدوي.

هڅې والو له خپلو هټيو څخه مالونه ايستل او ټول ښار په خوځښت و. د سلطان جان [د غلزيو يو مخکښ پاڅونوال چې له دوست محمد سره په بخارا کې و] سکرتر، ميرزا خدا داد چې له ما سره يې اشنايي درلوده، زما کور ته راغی او ما ته يې په کور کې د پاتې کېدو او د خپلې شتمنۍ د نه ايستلو له کبله چې زه له کوم خطر سره مخ وم، خبرداری راکړ. نايب شريف هم [د قزلباشو يو مشر چې له پخوا راهيسې د برنز يو عياش انډيوال و] خپل خسر راولېږه چې ما له خپلو ټولو ارزښتمنو مالونو سره د پارسيانو مېنې ته بوځي، خو ما د دوی دغه مهربانه مشوره ونه منله ځکه چې له کور څخه زما خوځېدنه به د پېښېدونکي خطر په اړه اړنګونه ډېر کړي؛ نو ما خپل چوپړيال له يوه نوټ سره سېرالکساندر برنز ته ولېږه. د نوموړي هستوګنځی زما له کور څخه د څو کورونو په واټن کې و. په نوټ کې مې د هغه مالوماتو په اړه ورته ليکلي وو چې ما ترلاسه کړي وو... د ده ځواب دا و چې زه بايد په خپل کور کې پاتې شم او ده د عسکرو غوښتنه کړې. دوی به ژر ښار ته راورسېږي. نيم ساعت وروسته مې چوپړيال خبر راکړ چې نظام الدوله، برنز ته مشوره ورکوله چې خپل کور پرېږدي او له ده سره بالاحصار ته لاړ شي ځکه د نوموړي ژوند ته ډېر خطر و.[7]

برنز په خپل شهرت او خونديتوب دومره باورمن و چې يوازې دوولس ساتونکي يې لرل. نوموړي لږ شېبه مخکې پرېکړه وکړه چې له دغه وزير سره لاړ شي، خو په وروستيو شېبو کې د نوموړي پخواني جومه دار (د برنز د ساتونکو مشر) ور په ياد کړه چې اسـتازي ته يې پيغام لېږلی؛ نو د هغه تر ځواب پورې دې پاتې شي او دی يې وډومارو چې لاړ نه شي؛ نو نظام الدوله يوازې لاړ او ژمنه يې وکړه چې د شـاه د عسکرو له يوه کنډک سـره به بېرته راشي. نوموړی چې کله پر اس سـپور سـتون شـو، له بامونو څخه ډزې پرې وشـوې، خو ويې کړای شـول چې په جګړې خپله لاره بالاحصـار ته وباسي.

په دغه وخت کې د مخالفينو مشـران داسـې يوه ټولګه وه چې له ناراضـه شـاهي پلوو، بارکزي سـردارانو، ځاځناکه اشـرافيانو، چې د پوځي اصلاحاتو په هکله په غوسـه وو، پخواني وزګاره بېروکراتانو او له منځنۍ پوړې «علماوو، چې د شـاه په چوپړ کې نه وو»، جوړه شـوې وه. دوی د شـور بازار په ګوټ کې عاشـقان او عارفان ته راورسـېدل اوعبدالله خان اڅکزي چې سـمدسـتي يې د پاځون پوځي قومانده په لاس کې اخيسـتې وه، دوی ته لارښـونه کوله. دوی په يوه باغ کې مورچلې ونېولې چې د برنز کور ته څېرمه و. کالن مکنزي په خپله ياد ليکچه کې يادونه کړې چې د مخالفينو مشـرانو «له برنز څخه د داسې سړي په توګه کرکه درلوده چې په ټوليزه توګه داسې باور کېده چې ده انګرېزانو ته د افغانستان لاره وښـوده او ادعا يې کوله چې له دوی سره يې په مناسب درناوي چلند نه کولو. که څه هم برنز فکر کولو چې د ټيټې کچې خلکو په منځ کې يې ګرانښت درلود، خو په دې کې ډېر اړنګ شته چې همداسې به وو حال دا چې مشرانو نوموړي ته د نظم يو داسـې سـيسـتم د اصلي پلي کوونکي په سـترګه کتل چې دوی ته ډېر ناوړه و.»[8] کله چې برنز دوی ته ځري ورولېږل چې د مخالفينو د مشـرانو د سـرټکونو په اړه وپوښـتي او خبرو ته بلنه ورکړي، دوی له لمړي ځري څخه سـر غوڅ کړ او نور يې پرېښـودل چې دغه ځواب برنز ته ورسـوي. ورپسـې، د مشـرانو سـړيو ته امر وشـو چې بامونو ته وخېژي او د برنز د هسـتوګنځي شـا ته ځانونه ورسـوي. برنز ته بايد هېڅ ځای پرې نه ښـودل شـي. موهن لال ليکلي: «اوس يې هرې خوا ته څه نا څه دوه سـوه کسـه راغونډ شـوي وو او سـېر الکسـاندر برنز د خپلې پاسـنۍ کوټې له کړکۍ نه له پاځون کوونکو څخه د ارامۍ غوښـتنه کوله او ټولو ته يې د ښـه انعام ژمنه وکړه. له برنز سـره کپتان ويليم

(c) ketabton.com: The Digital Library



براډفوټ، د جنرال سېل د سور سري انجنير کشر ورور او د برنز خپل کشر ورور، چارلس چې لږه موده مخکې کابل ته راغلی و، هم په بالکن کې وو.»

په داسې حال کې چې برنز پر پاڅونوالو چيغې وهلې، براډفوټ له سينې څخه لږ ښکته [د دان پور] په مردکي ولګېد. برنز او ورور يې دغه تپي ښکته راوړ او په لاندې خونه کې يې ځای پر ځای کړ. [سپاهي] ساتونکو چې له سختو ډزو لاندې وو، د مخالفينو د پرمختګ مخه نيوله. د سېر الکساندر ځينو چوپړيالانو غوښتل چې نوموړی په خېمه کې ونغاړي او په اوږو يې په داسې بڼه يوسي لکه نور چې د چور مال وړي، خو ده وويل چې خپل ورور او تپي ملګری کپتان براډ فوټ نه شي پرېښودی.

په دغه شېبه کې بلواګر وتوانېدل چې د برنز د کور دروازې ته اور واچوي. «کپتان براډ فوټ د اور لمبو وخوړ او د اور لمبې هغه کوټې ته ورسېدې چې سېر الکساندر او ورور يې په کې درېدلي وو. دوی د لمبو کچې ته کتل او د رحم او بښنې له پاره يې زاری کولې. ورپسې بريدمن چارلس باغ ته ووت او مخکې له دې چې ټوټې ټوټې غوڅ کړل شي، شاوخوا شپږ کسه يې ووژل.»

موهن لال پر خپل بام ولاړ و او په وېره يې ننداره کوله په داسې حال کې چې د برنز له کوره مردکيو دېوالونه سوري کول او د ده شاوخوا د کړکۍ ښيښې يې ماتولې. اوس ټوپکوالو نوموړی پر بام وليد او دی بايد ژر تر ژره ووځي. دی د خپلې حويلۍ د بهرني دېوال له هغه سوري څخه ووت چې مخکې يې د تېښتې له پاره جوړ کړی و. پلان يې دا و چې په مراد خانۍ کې پر دېوالونو چاپېر د قزلباشو مېنې ته چې ښه دفاع ترې کېده، په منډه لاړ شي او د برنز د مرستې له پاره انګرېز پلوه شيعه مشر، خان شيرين خان راولي، خو کله چې په واټونو کې په منډه و، مخالفينو چې له مخامخ لوري څخه راروان وو، دی ونيو او ترې چاپېر شول. همغه وو چې د کافرانو د جاسوس په توګه له ده څخه سر غوڅ کړي، د ښه بخته، سپين ږيری بارکزی مشر او د دوست محمد د تره زوی، محمد زمان خان چې موهن لال يې يو کال مخکې د تسليمۍ او د شاه شجاع په دربار کې د ځای لاره برابره کړې وه، مخالفينو ته په مخه ورغی:

دغه نواب له خپل کور څخه بهر راغی او هغه څوک يې ورټل چې زه يې نيولی وم. زه يې د دوی له لاسونو څخه کش کړم، له ځان سره يې ستون کړم او د خپلو ښځينه په منځ کې يې ځای راکړ. دوی چې زما له لوري څه وخت مخکې مرسته ترلاسه کړې وه، ما ته يې د سهارنۍ له پاره يو قاب ښايسته پلو راوړ. د افغانانو په لاس او له دوی سره په ناسته کې به دغه خواړه په يوه بله موکه کې ناڅاپي او ډېر ارزښتمن وای، خو په اوسنيو ناورينجنو شېبو کې داسې برېښېدل چې د وريجو هره دانه زما په ستوني کې بندېده. زه اوس په يوه تياره کوټه کې کښېنول شوم او ور راپسې کولپ کړل شو. مهربانه نواب له ما څخه وغوښتل چې خپلې کوټې له ګوتو څخه وباسم او چېرته يې پټې کړم چې حرص د ده زوی ته ونه هڅوي چې د ګوتيو له پاره زما ګوتې غوڅې کړي. په عين وخت کې زما کور په بشپړ ډول لوټ شو.[۹]

لکه څنګه چې موهن لال چې هر څه يې له نږدې ليدل، اوس د ښځينه په منځ کې پټ کړل شوی و، د کوم بل شاهد داسې څرګندونه نه ده پاتې چې د برنز وروستۍ شېبې بيان کړي او تر يوې کچې هغه بېلابېلې نسخې چې اوس شته، ټولې ګنګوسې دي. تر ټولو ناشونې او په رښتيا تر ټولو خيالي نسخه د ميرزا عطا ده. په دې اړه د نوموړي نکل داسې دی:

داسې ويل کېږي، کله چې غازيان هستوګنځي ته په زور ننوتل، په دغه مهال کې برنز د کور په خصوصي برخه کې له خپلې معشوقې سره د شهوت او خوند تود غسل کولو... دغه شېبه غازي چريکان ور ننوتل او ټول يې د ژوند د بدلون له کوټې څخه را وايستل، په تورو يې ټوټې ټوټې کړل او د مرګ په ايره دانۍ کې يې وغورځول. په کور کې هر څه لوټ شول. جنګياليو د خزانو بکسونه پرانيستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپلې لمنې يې د کمپنۍ له سکو څخه چې اوچت شرنګاری يې کولو ډکې کړې. وروسته يې د تنخواوو د معتمد، کپتان [هيو] جانسن پر کور بريد وکړ او د نوموړي خزانه او د ګدام ټولې زېرمې يې لوټ کړې. هر انګرېز چې په ښار کې و، هڅه يې کوله چې ژر تر ژره اډې ته وتښتي.[۱۰]

د دغه نکل يو بل ډول، منشي عبدالکريم په *محاربه کابل و کندهار* کې ليکلی. منشي عبدالکريم هم لکه ميرزا عطا په دې اند و چې دغه کړکېچ ګواکې د برنز لوېي جنسي اشتها وزېږولو. د منشي په اند، د اور بلېدنه د عبدالله خان اڅکزي د وينځې له کبله نه، بلکې «له يوې افغانې ښځې سره په شهوت کې د برنز ډوبېدل او د هغې د مېړه بندي کول وو».

داسې ويل کېږي چې يوه ورځ برنز د ښار د حالاتو د ارزونې له پاره ګرځېده چې ناڅاپه يې يوه ښايسته افغانه ښځه تر سترګو شوه چې د خپل بام پر سر ولاړه وه او په ښايست کې بې جوړې وه. برنز يې په ليدو سمدلاسه لېونی شو، خپله دنده يې هېره کړه او د تقوا او شرم حس يې له لاسه ورکړ. وروسته له دې چې بېرته خپل دفتر ته لاړ، سمدستي يې کوتوال يا د پوليسو مشر ته وويل چې د هغه ځانګړي کور چې په هغه ځانګړې مېنه کې دی څښتن ورته راولي. دغه پوليس لاړ چې ورکړل شوی امر تر سره کړي. دی بېرته له يو ځوان، صادق، او پرهېزګار افغان عسکر سره راغی. نوموړی د دغه کور څښتن او د دغې بې جوړې ښايسته ښځې مېړه و. برنز وويل: «زه تا ته يو کار لرم - که دې زما وړانديز ومنلو، زه به تا افسر کړم، زه به تا بډای کړم، زه به تا يو له خپلو نږدې اشنايانو څخه وګڼم!» دغه ځوان عسکر وپوښتل: «دا کوم کار دی چې زه يې بايد ستا د هيلې د پوره کولو لپاره د ترسره کولو هڅه وکړم؟» برنز وويل : «ته يوه ښځه لرې، ښايسته لکه د څورلسم سپوږمۍ. ما ستا د کور د بام پر سر وليده. زه يې له خپل ذهن څخه نه شم ايستلی. ما ته يې راکړه. ما پرېږده چې هوس مې پوره کړم او هر هغه څه چې ته يې غوښتنه کوې، هغه به ستا شي.»
ځوان عسکر له شرم څخه په لړيکه شو، د ننګ له ترخه غضب او ځاځ څخه ډک شو او په پساري يې وويل: «مردار ځناوره! له خدای څخه وېره نه لرې؟ زه يو بروا• يم چې خپله ښځه د سرو زرو په بدل کې پر تا خرڅه کړم. خبردار، که دې يوه بله خبره وکړه، زه به د خپلې تورې پر څوکه څواب درکړم.» برنز چې غوښتل يې خپله سربدالي پټه کړي، دغه سړي ته يې زولانې واچولې او په تل خونې زندان کې يې لکه يو رښتينی قاتل واچاوه.

د منشي عبدالکريم په قول، دا د دغه عسکر خپلوان وو چې وروستنی ګوزار يې پر برنز وکړ:

د دغه ځوان عسکر دوولس خپلوان د برنز کوټې ته ننوتل. له دوی څخه دوه کسانو برنز ته لاس کړ، پر ځمکه يې څملاوه او يو يې پر سينه کېښناسته او په چيغه يې ورته وويل: «ځناوره، ته د سپېڅلو ښځو د بې عزته کولو جرات کوې؟ که ته د عدالت په محکمه کې مشر وای؛ نو راته ووايه چې د دغسې بېشرمه جزا به څه وه؟ د يهودو، عيسويانو او د زردشتيانو د عدالت کتابونه په دې اړه څه وايي؟» برنز د خپل ژوند د ژغورلو له پاره د ښــې زارۍ وکړې - خو د ده زاريو پر افغانانو اغېز ونه کړ. وروسته له دې چې کور يې لوټ کړ او ټول هغه څوک يې ووژل چې د برنز د مرستې له پاره د دوی په مخه ورتلل، برنز يې وواژه، مرۍ يې ټوټې ټوټې کړ، ږيره يې پرې کله کړه او سر يې په واټونو کې د ننداري له پاره وګرځولو. وروسته بلوا کوونکي زندان ته لاړل، د زندان پر ساتونکو برلاسي شول او دوی يې ووژل. بيا يې دغه ځوان عسکر او نور زنديانيان ازاد کړل. يوې بلې ډلې د Bakshi پر خزانه بريد وکړ، په خپلو تورو يې ټول ساتونکي او نور مامورين يې چې هلته ومونډل پر ځمکه وغورځول او بيا يې څه چې په خزانه کې وو چور کړل.[۱۱]

د دغه بهير درېيم ډول چې د افغان جګړې لوی ويکتوريايي پېښليکونکی، سېر جان کې يې غوره ګڼي، وايي چې په داسې حال کې چې د برنز کور لمبو نيولی و، يو «نامالوم کشميري مسلمان» ده ته د مرستې وړانديز وکړ. دغه نامالومه سړی - چې په هېڅ نورو پېښليکونو کې يې يادونه نه ده شوې - هغه بالکن ته لاره پيدا کړه چېرته چې برنز او ورور يې له بلوا

• بروا: مرده ګاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د ژغورنې په هڅه کې وو او پر قران يې قسم وکړ چې دوی به د کور شا ته د باغ له لارې خوندي ځای ته ورسوي. لکه څنګه چې اوس دا واضـح وو چې مېکناټن د خپل ځوان مرسـتيال د ژغورنې نيت نه درلود، «دواړو ځايي جامې واغوستې» او په دې هيله چې دوی به وتښتېدلی شي، په دغه سرې پسې ښکته د باغ په لور ستانه شول، خو دوی لا څو ګامونه نه وو اخيستي چې «بې وفا کشميري په اوچت غږ چيغه کړه: «وګورئ ملګرو! سکندر برنز دغه دی!» بلواګرو له يوې دقيقې څخه په لږ وخت کې قربانيان ووژل».[۱۲]

موهن لال يې څلورم ډول لري چې ښايي تر ټولو معتبر او بې اړنګه ډېر خواشينوونکی دی. نوموړی وايي، وروسته له دې چې په ښځينه کوټه کې د الماري ور يو ساعت ورپسې کولپ و، محمد زمان خان ته يې زاری وکړې چې بام ته يې پرېږدي. کوربه يې اجازه ورکړه، خو په دغه شېبه کې هر څه پای ته رسېدلي وو. برنز او د لسـو کلونو را په دېخوا د يون نږدې ملګری يې وژل شوي وو او د کور پاټې برخې يې د اور په لمبو کې پټې وې، خو د نواب د ساتونکو په قول چې وروستنۍ شېبې يې د کلا له برج څخه ليدلې وې:

کله چې چارلس ووژل شو او ټوله کوټه له اور څخه ډکه شوه، برنز اړ شو چې هغه دروازې ته لاړ شي چې باغ ته پرانيستل کېده. دلته يې ګڼې ګونې ته زاری وکړې چې ژوند يې وسپموي، خو پر ځای يې د ښکنځلو او سپکاوي له باران سره مخ شو... د خونديتوب ټولې هيلې يې له لاسه ورکړې؛ نو د غاړې تور دستمال يې خلاص کړ او خپلې سترګې يې پرې وتړلې چې پوه نه شي چې مرګونی ګوزار له کوم لوري پرې ورځي. وروسته له دې يې بهر ته ګام کېښود او په يوه دقيقه کې ځاځمنو بلواګرو ټوټې ټوټې کړ.[۱۳]

مولانا کشميري ليکلي: «د زړورو افغانانو تېرو تېغونو د نوموړي مړی د هډوکو په ذرو بدل کړ.»

دوی يې اوچت وځړول چې ټول يې ووينې
له هر ګوټ څخه د وينو سيند بهېده
د ده ټوله شتمني او مال يې په غنيمت کې يوړل
لکه د منې باد چې له ونې څخه پاڼې وربېژوي[۱۴]

له دې څخه لږ وخت وروسته مخالفينو په هېواد کې ټولو مشـرانو ته يوه اعلاميه ولېږه: «د روژې مبارکې مياشتې د درېيمې سه شنبې په سهار له نورو اتلانو سره چې لکه زمري هنګامه يې جوړه کړې وه، موږ د سکندر برنز پر کور يرغل وکړ. د سپېڅلي او قدير خدای په فضل، زړور جنګيالي له خپل کمين څخه ښې او کيڼ لوري ته خواره شول او د يو شمېر د پام وړ پرنګيانو سربېره، سکندر برنز او نږدې ۵۰۰ د کنډک پوځيان يې پر تورو باندې په بشپړ ډول نابودی او ابدي سزا ته وسپارل.»[۱۵]

د برنز بې سره تنه په واټ کې پرېښودل شوه چې د ښار سپي يې وخوري. د څه کم يوې اونۍ له پاره يې هېڅوک حتی د ليرې کولو له پاره د هڅې په فکر کې هم نه وو. بلاخره د برنز ملګری، نايب شريف چې له برنز سره يې ډېر مست ماښامونه تېر کړي وو، خپل يو چوپړيال ور ولېږه چې خوسا شوي پاتې شوني يې په خپله د برنز په باغ کې ښخ کړي.[۱۶]

سېر الکساندر برنز، سرباز، څارګر، ګرځندوی، ډيپلومات او له بريا څخه محروم شوی د استازي مرستيال د مړينې پر مهال يوازې ۳۶ کلن و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځاځمن بلواګر وروسته له دې چې د برنز کور او د جانسن خزانې ته یې اور واچاوه او د دغو دوو کورونو اوسېدونکي یې ووژل، د سنیانو له مرکز عاشقان او عارفان او شوربازار څخه لاړل او د شاه زمان د پل خشتي جومات له لارې له پله څخه تېر شول چې نورې نښې ومومي. په عین وخت کې کله چې د چور او ګټې خبر خپور شو، د کابل له اطرافو څخه وسلوال قبیلوي خلک ښار ته راتویې شول. فیض محمد لیکلي: «د شاوخوا سیمو خلک د برنز له وژنې څخه خبر شول او په داسې حال کې چې شاه شجاع او انګرېز افسران لا تر اوسه د یو پلان په جوړولو بوخت وو، په لنډ وخت کې ډېر خلک په ښار کې غونډ شول... دغلزیو پلي عسکرو د ډوډۍ کځورې پر شا وې او اسوالو یې د خپلو زینونو په کځورو کې اچولې وې. دوی مخکې له دې چې خپل داسې نا اړین څېزونه پر خپلو ځایونو کې پرېږدي، سمدلاسه ښار ته یې اړنګه د ننه شول.»[۱۷]

مېرمن سېل تېره شپه ناوخته لا د مخه له خپل بام څخه ګڼ شمېر وسلوال کوهستاني اسوال لیدلي وو چې د ښار په لور را روان وو. اوس کابل ته له هر لوري او د هر قوم وسلوالو خلکو د لړۍ ویاله په سیلاب بدله شوه. میرزا عطا لیکلي: «عبدالله خان اڅکزي او امین الله خان لوګري رضاکارو وسلوالو ته چې له هر لوري په اتڼ، ډولونو او خوښۍ راتلل، ښه راغلاست وویل. دوی یې د اسلامي جګړې په ستندرد له دېوالونو څخه بهر راغونډ کړل او د برید امر یې ورکړ.»[۱۸]

په هغه سهار چې د برنز پر هستوګنځي یرغل وشو، د مخالفینو شمېر شاوخوا ۳۰۰ کسه و، خو ۴۸ ساعته وروسته د جنګیالو شمېر چې په ښار کې راټول شوي وو، څه نا څه ۳۰۰۰ کسانو ته اوچت شو، درې اونۍ وروسته د دوی شمېر نږدې یوې بېسارې ۵۰۰۰۰ زره کسیزې کچې ته ورسېد چې په دې کې بېلابېلې ډلې له بیلابېلو ګیلو او انګېزو سره راټولې شوې وې چې پر انګرېزانو یرغل وکړي. لکه څنګه چې دغه بېلابېلې ډلې، چې کله کله سیالې هم وې، جلا جلا راورسېدې، دوی ځان ته بېل کمپونه جوړ کړل: په حقیقت کې او په ځانګړې توګه په پیل کې، انګرېزانو هېڅ کله دا خیال نه کولو چې دغه مخالفین د دوی پر ضد یوه متحده قوه وه. د بارکزیو پلویانو په شاه باغ کې چې د شاه جهان د یو تفریحي باغ مخ په نړېدو پاتې شونی و، ځای ونیو، کوهستاني تاجکانو په دهمزنګ کې کمپ جوړ کړ، سوېلي غلزي د محمد خان په کلا کې غونډ شول او سدوزي پلوه شاهي غوښتونکي، لکه امین الله خان لوګری په زاړه ښار کې ګڼ شمېر درلود. ډېر راغلي خلک سدوزي نخبه ګان نه، بلکې له څه ناڅه وړو ډلو څخه وو: ځیني یې د کابل سوېل او ختیځ ته د درو او غاښیو او د کوه دامن او لوګر نارامه پښتانه وو، خو داسې برېښېدل چې په لمړیو کې دا دوامداره یاغي کوهستانیان وو چې ډېری یې جوړ کړی و. یو کال مخکې دوی د برنز او سېل زیانمنوونکي جزایي کمپاین ډېر اغېزمن کړي وو او اوس نقشبندي پیرانو، په تېره بیا د میر مسجدي خپلوان، میر افتاب هڅولي وو چې له ده سره په ګڼ شمېر کې د نومبر د درېیمې په ماښام راشي. ځیني خلک لکه لوګریان له خپلو مشرانو سره راغلي وو، نور په انفرادي ډول د سني رادیکال علماوو په نارو او همدا راز د لوی لوټ د ګنګوسو په اورېدو راغلل. شاه شجاع وروسته لیکلي چې د ده په باور: «دغه خلک د دین له پاره نه، بلکې د دغې نړۍ د شتمنۍ له پاره راغلي وو چې دوی خپل ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې ورکوي او له مرګ څخه وېره نه لري.»[۱۹] خو بې اړنګه، مخالفینو د جهاد یا دین له پاره د جګړې خبرې کولې چې خلک د جګړې له پاره جلب او خپل انقلاب توجېه کړي - دا د افغانســتان په کورني تاریخ کې څه نا څه یو نوښـــت و ځکه چې مخکښې ډېرې شخړې په خپله د مسلمانانو تر منځ نښـتې.* محمد حسـین هراتي لیکلي: «ټول اتباع، لوی او کوچني، بډای او بې وزله، ملکي او پوځي خلکو ته پر قران سوګند ورکول کېده چې د جګړې ملاتړ وکړي.»[۲۰]
د مخالفینو لمړنۍ نښـې د ښــار او اډې تر منځ یو شـــمېر برجونه او کلاوې وې چې انګرېزي بیوروکراتو د زېرمې له پاره غوره کړې وې. هراتي لیکلي: «دغه ټولې کلاوې ښار ته نږدې پرتې وې. چریکانو ته د باغونو او لښتیو لرې، چې ګڼو ونو پوښلې وه، دا کار شـونی کړی و چې په اسـانۍ دغه کلاوو ته ورنږدې شي.»[۲۱] د داسې نښـو غوره کول تصادفي نه وو: د مخالفینو مشـــران پوهېدل چې انګرېزان د خپلو اکمالاتو د ســـاتنې له پاره په اجراتو کې پاتې راغلي وو. دوی خپل اکمـالات پـه اډه کې د ننـه نـه، بلکې د جعفرخـان، نشــــان خـان او محمـد شــریف پـه کلاوو کې زېرمـه کړي وو. دوی پوه شـول چې که دغه کلاوې ویجاړې او یا ونیسـي، انګرېزان به یا له لوږې مړه شـي او یا به د مهماتو د نه شـتون له امله تسلیم شي او یا به دغه دواړه وشي؛ نو سمدلاسه د برنز له مړینې وروسته، دوی له ښار څخه ووتل چې کلاوې ویجاړې او زېرمې یې لوټ کړي. دوی د جعفر خان کلا ونړوله او اور یې ور واچولو. بیا یې د محمد شـــریف کلا ته چې اډې ته نږدې وه، مخ کړ او بیا غازیانو د دېوالونو نړولو ته پام واړولو. دوی د مېږیانو په څېر د بنســـټ په کیندلو پیل وکړ.[۲۲]
دغه سهار کپتان کالن مکنزي په درېیمه کلا کې، د نشان خان کلا، چې د برید له پاره په نښه شوې وه، وېښ شو. دغه کلا د شاه د ځواکونو اکمالاتو ته ځانګړې شوې وه او په کې د نهو میاشتو له پاره اوړه، د څارویو واښه او د انګرېزانو طبي اکمالات زېرمه وو. د کلا یوې خواته کانال او د قزلباشـو مرکز، مراد خاني پراته وو او بله خوا یې د شـاه باغ سـره نښتې وه او د انګرېزانو له اډې څخه یې یوازې څه د پاسه یو میل واټن درلود. مکنزي په ښـار کې د اړودوړ اوازې مخکې اورېدلې وې، خو د غونډ د حسـابونو په تصفیه کې ډوب و. نوموړي غوښـتل مخکې له دې چې سبا ته د پېښـور په لور له مېکناټن سره ملتیا وکړي، دغه محاسبې بشپړې کړي.

ناڅاپه یو بربنډ سړی زما مخې ته ودرېد چې پر سر د تورې له دوو ژورو او په مټ او ځان کې د دان پور د پنځه ګولیو له ټپونو په وینو سـور و. نوموړی د مېکناټن یو اسـوال [سـوار] و چې ما ته یې د یو پیغام د سپارلو له پاره رالېږلی و، خو په لاره کې د پاڅونوالو تر برید لاندې راغلی و. دا ما ته د حالاتو په اړه یو لوی خبرداری و؛ نو ســـمدلاســـه مې د دروازو د امنیت امر وکړ او په عین وخت کې مې د کپتان د کور [چې له کلا څخه په لږ واټن کې پروت و] په پاسـني دېوال کې د تیرکش ایسـتلو امر وکړ. په دغه کور کې یو بریدمل او نهه سـپاهیان ګمارل شـوي وو. په داسـې حال کې چې موږ د پورتنیو کارونو په ترسـره کولو کې بوخت وو، له ده افغانانو څخه وسـلوال وګړي د باغونو له لارې را ویهېدل او پر موږ یې ډزې پیل کړې... زما یو کس مړ او بل سخت ټپي شو.

وروسـې، بریدګرو ټول شاه باغ ونیو. که څه هم د مکنزي سړیو چې په دوامداره توګه مرګ ژوبله ور اوښته، دوی له کلا څخه تر درانه اور لاندې ونیول خو بېځایه یې نه شـوای کړی.

---

*په دغه سـیمه کې د جهاد د کلیمې د کارونې دوه مخکنۍ بېلګې شـته وې. احمدشـاه ابدالي دا کلیمه پر پنجاب باندې د یرغل د توجېه له پاره وکاروله او دوست محمد له رنجیت سېنګ څخه د پېښور په بېرته نیولو کې ترې کار واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورځې په بهیر کې مخالفینو د کانال اوبه بندې کړې وې او داسې کلکه څارنه یې ور څخه کوله چې زما یو ملاتړی یې چې د اوبو د راوړلو هڅه یې کوله وویشت، خو له نېکه مرغه، موږ یو زوړ څاه چې اوبه یې د څښلو وې، پیدا کړ. نږدې د غرمې پر وخت موږ د عسکرو په چانتو کې له مهماتو پرته نور مهمات نه درلودل. ما له کپتان ټرور سره اړیکه ونیوه. نوموړي لږ تر لږه مهمات راولېږل، خو نوره مرسته یې را ونه لېږله. د کپتان لارنس زړور وړاندیز چې که دوه ټولې ورکړل شي، زما مرستې ته به راشي، [د الفنسټون او مېکناټن له خوا] رد شو. په ماښام کې مې خوراکي توکي له دولتي زېرمې څخه ووېشل. د شپې په ترڅ کې بریدونو په وقفه یي توګه دوام درلود او موږ په ناوړه اړنګ کې وو چې دښمن مو شمال ختیځ برج کمزوری کوي.[۲۳]

هغه ماسپښین کله چې مکنزي د خپل ژوند له پاره جګړه کوله، د مخالفینو مشرانو د ښار د ننه په خپلو غوراویو بیا کتنه کوله. تر دغه ماسپښین پورې دوی ټولو خپل اسونه زین ساتلي وو چې انګرېزان د ځوابي برید په وسیله د دوی مرکزونو ته د ننه نه شي،[۲۴] خو دا په ډېرېدونکې بڼه واضح کېده چې انګرېزانو دومره ټکان خوړلی و چې په یوه واحده او مناسبه توګه یې د پاڅون ځواب نه شو ورکولی. یو شمېر مشران چې په پیل کې یې انګرېزانو ته د مرستې وړاندیز وکړ او وروسته یې د دوی وارخطایي ولیده، اوس کرار کرار شاته کېدل او پر ځای یې تلې ته کتل چې کومه خوا یې درنېږي.[۲۵] وینسنټ اییر په خپله یوه تبصره کې وایي: «پرته له دې چې عاملینو ته جزا ورکړل شي، زموږ د هېوادوالو وژنه او د دولتي او شخصي شتمنیو ورانونه له اډې څخه د یو میل په واټن کې او د بالاحصار له دېوالونو لاندې ترسره شوه. زموږ له خوا د داسې کمزورۍ ښودنه، دښمنانو خپله غښتلتیا وګڼله – همدا راز هغه خلک یې زموږ پر ضد واړول چې له پاڅون سره د یو ځای کېدو له ګروهنې سره سره، تر اوسه بې پرې پاتې شوي وو او بلاخره یې ملت زموږ د تباهۍ له پاره یووالي ته وهڅوماره»[۲۶] ؛ نو د دې له پاره د مخالفینو د مشرانو لمړنی ګام دغه پرېکړه وه چې دوی ته به دا ښه وي چې یوې چټکې وتنې ته د تیاري پر ځای، ځانونه په یو لنډمهالي حکومت کې تنظیم کړي او یو مشر وټاکي ځکه چې پرته له دې څخه د جهاد اعلان روا نه و.
لکه څنګه چې د پاڅون په پیل کې تر ټولو ډېر مخکښ اشرافیان شاهي غوښتونکي وو، د دوی لمړی اند دا و چې شاه شجاع ته د دې فرصت ورکړي چې خپل ملحد ملاتړي وشړي. له انګرېزانو څخه د شاه ناراضتیا په پراخه کچه څرګنده وه، خو د هراتي په قول، د مخالفینو دغه وړاندیز د شاه له خوا له سختې ترټنې سره مخ شو:

د مخالفینو مشرانو یو پلاوی اعلحضرت ته ولېږه او ورته وېې ویل: «تاسې زموږ پاچا یاست او موږ د بهرني اشغال پر ضد ستا د ملاتړ په لټه کې یو. موږ هیله کوو چې تاسې له دغه بهرني قوم څخه ځان بېل کړئ.» اعلحضرت ځواب ورکړ: «زما واکمني له انګرېزانو چې زه یې دېرش کاله دروند مېلمه وم، بېلېدونکې نه ده. که څه هم د نظام الدوله او وزیر په توګه د ناکاره عثمان خان ګمارنې ډېر خپګان رامنځته کړ، خو زه دوی ته په زړه کې ګرج نه لرم. هر څه چې پر دوی باندې کېږي، پر ما دې هم وشي.» مخالفین چې د شجاع د همکارۍ په خپلولو کې پاتې راغلل، نوموړی یې کافر اعلان کړ.[۲۷]

د یو سدوزي په نه شتون کې چې د دوی مشري وکړي، پاڅونوالو بارکزیو ته مخ واړولو. له څو اونیو راهیسې داسې ګنګوسې وې چې بلاخره د دوست محمد تر ټولو هوښیار او هوډمن زوی، اکبرخان له بخارا څخه تښتېدلی، خو د ده په نه شتون کې مخالفین اړ شول چې د نوموړي تر ټولو مشر د تره زوی، زمان خان ته ورشي. زمان خان هغه کس و چې موهن لال یې مخکې وژغوره. کله چې نوموړي د پاڅون په هکله لمړی واورېدل، خپل زوی یې چې شجاع نومېده او د شاه شجاع زوی بللی هم و، کپتان ټرور ته ولېږه چې د مرستې وړاندیز ورته وکړي.[۲۸] اوس یې چې کتل د تلې کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا درنېږي، نوموړي د پاڅون مشـري ومنله او مېكناټن ته يې په ادب وليكل چې «كه څه هم خوښـه يې نه وه، خو مشـري يې ځكه ومنله چې د ډېر تاوتريخوالي مخه ونيسي». ده وويل چې حاضـر دی چې د شـاه شـجاع وزير شـي او د خبرو اترو په وسـيله په سـوله ييزه توګه د انګرېزانو وتلو ته لاره هواره كړي. ناخوښ هراتي ليكلي: «دوی محمد زمان خان د خپل مشـر په توګه وټاكه. نوموړی په «بډای كوچي» نومور دی، يو اطرافي ځبن اوس په كابل كې تر ټولو ډېر واكمن شو.»[۲۹]

د پاڅون دوه رښـتيني مشـران هېر نه شـول: امين الله لوګری د محمد زمان نايب وټاكل شـو، (دغه لقب يې په وياړ د خپل ژوند تر پايه وساته) او عبدالله خان اڅكزی د مخالفو وسلوالو د اعلی سرقوماندان دنده واخيسته. ورپسې يوه اعلاميه خپره شوه: «نواب زمان خان باركزی، غازي، په نرمۍ او مهربانۍ كې د وخت ګل، او په ديني سربشندنه كې د پېر حيرت، د ټولو قومونو مسـلمانانو له خوا د ايماندارو امير او د مجاهدينو امام وټاكل شـو او ټولو په دغه لقب ومانه.»[۳۰] له دې څخه لږ وخت وروسته، ملايان او ملنګان د ښـار واټونو ته راووتل، ډولونه يې وهل او په رسـمي توګه يې جهاد اعلان كړ.

مخكې له دې چې پاڅون نور هم پياوړی شـي، په بالاحصـار كې شـاه شـجاع د يو چټک غبرګون په حياتي ارزښـت پوهېده. نوموړی مېكناټن ته هک پک و چې ولې ځوابي بريد نه كوي: د نوموړي نه يوازې چوپتيا، بلكې د سولې په وخت كې د ده ناټې چې د افغان دولت هره دقيقه يې اداره كوله، له اوسـني حالت سـره په نبغ ټكر كې وو، خو په ښـار كې له وېرې څخه له ډک وضعيت سره موازي، په اړه كې انګرېز مشـرتابه په عجيبه توګه كرار ناست و. داسې لكه چې وېرې كنګل كړی وي. هراتي ليكلي: «اعلحضرت بلاخره خپل سـرمنشي په اړه كې مېكناټن ته له دغه پيغام سره ولېږه: «اوس ځنډ يا كرار ناسـتي ته وخت نه شـته. سـمدلاسـه عسكر ولېږه چې ښـار له ټولو خواوو كلابند كړي او مخكې له دې چې نه كنټرولېدونكې كچې ته ورسېږي، دغه بلوا وځپي. مشـران يې ونيسـه مخكې له دې چې بشپړ نظم پيدا كړي، دا كار تر اوسه هم شوني دی.»» هراتي زياتوي:

له بده مرغه د مېكناټن په اند اعلحضـرت هسـې بې كچې وارخطا و؛ نو يوازې د سـپاهيانو يو بلوک يې له توپونو سـره بالاحصـار ته ولېږه چې اعلحضـرت ته سكون وركړي. اعلحضـرت يو ځل بيا يو بيړنی پيغام ورولېږه: «موږ په حاضـر وخت كې د بالاحصـار په كلا كې پوره خوندي يو، خو تر ټولو اړين د ښار امنيت دی چې بايد سـملاسي بېرته راوسـتل شي او كه نه، دغه ياغي سـړي به هېڅ كله اېل نه شي!» د مېكناټن يوازينی ځواب دا و: «ولې دومره بېړه؟» كه مېكناټن د اعلحضـرت مشـوره منلې وای او سـمدلاسـه يې مناسـب انګرېز عسـكر له هرې خوا د ښـار د كلابندۍ له پاره لېږلی وای او د مشـرانو د كورونو په سـوځولو يې نورو ته د عبرت درس وركړی وای، دې به د خدای وېره د بلواګرو په سـترګو كې ننه ايسـتلې وای او نظم به بېرته راغلی وای! خو په دغه حالاتو كې، مېكناټن زړغی• و او اعلحضرت يوازې د خپلو ساتونكو يوه وړه ډله درلوده؛ نو د مېكناټن خوښې ته يې سر ټيټ كړ.[۳۱]

په اړه كې انګرېز عيني شـاهدانو ليكلي چې مېكناټن د خپل مرسـتيال له ډاروونكې وژنې سـره سـره، په كومه كچه د حالاتو د جديت په اړه غلطه ارزونه وكړه. وينسـنټ ايېر ليكلي: «مېكناټن په پيل كې پاڅون جدي ونه ګڼلو او زموږ پر وړاندې د عـامه خلكو د احسـاسـاتو په اړه د ده څرګندونو نه يوازې ځان بلكې جنرال هم دوكه كولو، خو ناوړه

• زړغی: زړه نا زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقيقت ژر راته څرګند شــو.»[۳۲] په رښــتيا، د ماســپښــين په پيل کې د دې پر ځای چې ځوابي برید وکړي، مېکناټن د شــاټګ پرېکړه وکړه. نوموړي له اډې څخه بهر خپله ودانۍ پرېښــوده او خپله ملکي اداره يې اډې ته ولېږدوله. په عین وخت کې الفنسټون امر وکړ چې د اډې پر دېوالونو باندې د ساتونوکو شمېر دوه برابره شي. پرته له پورتنيو کړنو، د ۵۰۰۰ وســلوالو عســکرو، ګڼ شــمېر د اس توپچي او د يوه کال له پاره د مهماتو له درلودلو ســره ســره، انګرېزي قوماندانانو هېڅ ونه کړل. الفنســټون، مېکناټن ته ليکلي: «ګورو به چې ســهار به څه حال وي او بيا به فکر وکړو چې څه بايد وشـي.»[۳۳] نه ماتېدونکي مېرمن سېل په غوســه وه. نوموړې ليکلي: «هر څه په ســربدالۍ او زړغي توب کې وو. اســتازی پر خپل اس ســپور شــو او دروازې ته لاړ او بيا بېرته راغی؟...»، خو مېرمن ســېل لږ وخت وروســته په نورو کارونو بوخته شوه. د نوموړې نوی زوم، بريدمن سټرټ په تذکره کې له بالاحصار څخه په وينو کې لت پت راوړل شو. نوموړي خبرې نه شــوای کولی ځکه چې پر مخ او اوږه د ټپونو له کبله يې عصـبي رشـتې زيانمنې شـوې وې. خوله يې نه خلاصېده، ژبه يې پړسېدلې او فلج وه. د وينې د ضايع کېدو له امله ګنګس او وضعيت يې ډېر ژوبل و. پرېوتی نه شوی ځکه چې وينو يې ساه بندوله. په ډېره سختۍ او له ډېر درد سره، نوموړې د نورو په مرسته پاس وختو او هلته په کټ کې کښېنول شو. ډاکټر هارکورټ يې زخمونه وتړل. نوموړی د لسو بجو په شاوخوا کې ټپي شوی و او اوس چې يوه بجه وه، زخمونه يې وچ کلک او وينې يې ټينګې شوې وې.[۳۴]

په عين وخت کې جنرال شلټن له خپلو عسکرو سره د ښار له شا څخه ناوخته بالاحصار ته راورسېد، خو نه پوهېده چې څه وکړي. د ماسپښين په درېيو بجو جورج لارنس بېرته د شاه شجاع دربار ته راغی او د بې پلانه شلټن د پيدا کولو راپور يې وړاندې کړ:

> پر ښـار يې د خپلو دوو توپونو اټکلي ډزې پيل کړې. د برید جنرال طرزالعمل دومره حيران کړم چې څرګندولی يې نه شـم ... [هغه] ډېر ټپرا، خپه او اندېښــمن و او نه پوهېده چې څه وکړي. د نوموړي د مخ په هره برخه کې د ناتوانۍ ټاپه وهل شــوې وه. ده له ما څخه سمدلاسه پوښتنه وکړه چې څه وکړي او کله چې ما ورته وويل: «سمدلاسه ښار ته ننوځه.» ده کلک وترټلم او ويې ويل: «زما قوه بسنه نه کوي او داسې نه ښکاري چې ته په دې پوهېږې چې د واټونو جګړه څه ته وايي؟...»
>
> په دغه وخت کې پاچا څو ځله له ما څخه وپوښــتل چې عســکر ولې اقدام نه کوي او په دې ډېر ځانګاک برېښــېده چې موږ هېڅ نه کوو. شلټن د شـاه په اندېښـنه ښـه پوهېده چې دی بايد د بلوا د اراملو له پاره په فعاله توګه اقدام وکړي، خو دی په حقيقت کې په لويه کچه فلج و... [۳۵]

دغه فلج والی و چې د ناراضــه مشــرانو نابېره اعتراض ته يې لاره هواره کړه - انګرېز مشــرانو خيال درلود چې دغه اعتراض د ځای يوه بې اسرې څرګندونه ده، نه د يو لوی پاڅون ناره - چې خلک د اسلام له جنډې لاندې سره يو کړي او په نولســمه پېړۍ کې هر چېرته انګرېزان په خپله امپراتورۍ کې له يوې خطرناکې ننګونې ســره مخ کړي. په دې اړه لارنس داســې پايله ليکلې: «کومه زړغي او بې وســي چې په پوځي شــورا کې واکمنه وه، د هغو خلکو زړونه يې له کاره ايسـتلي وو چې بايد په سـبکمنتيا او پرېکندتوب يې اقدام کړی وای. د دوی د خواشـينوونکي بې زړه توب له کبله، يوه ناڅاپي بلوا چې ســمدســتي د يوه کوچني ځواک په ګمارلو ځپل کېدای شــوی، په يوه داســې پاڅون بدله شــوه چې يو زړور پوځ يې له تباهۍ سره مخ کړ.»[۳۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه شجاع چې د ماښام په ترڅ کې خپل متحدين حتی په ډېره ناهيلۍ کې په ډوبېدو ليدل، د دوی د خوشحالۍ له پاره يې د ماښـامنۍ مېلمسـتيا وړانديز وکړ، خو دغه وړانديز ته ځواب سـوړ و. افسـرانو په ځواب کې وويل چې دوی به څنګه مېلمسـتيا ته ځي، حال دا چې د دوی تشـريفاتي يونيفورم په اډه کې پاتې دی؟[۳۷] که څه هم کابل په اور کې سـوځېده او د دوی دريغ هره دقيقه کمزوری کېده، انګرېز افسـران د مناسـبو تشـريفاتي ادابو په رعايت کې تر پايه هوډمن وو.

الډرېډ پاټېنګر د نومبر د درېيمې په سـهار مخ په تېرا کېدو و. نوموړی يوازې له سـلو عسـکرو سـره په يوه مظبوطه شـوې محوطه کې ګمارل شـوی و. دا په حقيقت کې د کابل شـمال ته د ۶۰ ميلو په واټن کې په لغماني Laghmani کې د يوې غونډۍ پر سـر يو کاروان‌سـرای و. همدا راز دغه تانه په چاريکار کې لـه انګرېزي بـارکونو څخـه، چېرته چې د کوهسـتان له پاره اداري واحد جوړ شـوی و، په لنډ واټن کې پرته وه. اوس ګڼ شـمېر کوهسـتانيان چې ښـه په وسـلو سـمبال وو، د ده اوچت هسـتوګنځي شـاوخوا ته غونډ شـوي وو، ظاهراً دغه خلک په دې موخه راټول شـوي وو چې د نجراب د سـيمې ناراضـه مشـران چې په ۱۸۴۰ کال کې بغاوت ته اړ شـوي وو او د سـېل جزايي عملياتو سخت زيانمن کړي وو، د پاټېنګر له اداري سره پخلا کړي، خو پاټېنګر په ټينګه دا احسـاسـول چې هر څه سـم نه ښکاري. نوموړي وروسته ليکلي:

او کله چې دوی [د مخالفينو مشـران]، چې د [کوهسـتان د مخالفينو د مشـر] مير مسـجدي لښـکر ورڅخه جوړ و، پر کلاوو باندې بريد رد کړ، زه يو لړ احتياطي کړنو ته وهڅېدم چې د يوې نابېره پېښې پر وړاندې له خپل ځای څخه دفاع وکړای شم، خو لکه څنګه چې د خپلې بدګمانۍ ښودنه هوښيار کار نه و، زه اړ شـوم چې نيمه تدابير ونيسـم... په درېيمه ورځ زما د هسـتوګنځي شـاوخوا د خلکو شمېر په خطر ناکه توګه ډېر شـو او زه اړ شـوم چې [د کلا] برجونو ته عسکر ولېږم. سـهار هغه مشـرانو چې نجرابيان يې راوسـتلي وو، لېوال وو چې زه د دوی له ملګرو سـره وګورم، خو هغو نورو نجرابيانو چې له دوی څخه لږ موده مخکې راغلي وو، د ډاليو غوښـتنه کوله او په نه ترلاسـه کولو کې يې ناراضه وو. ما دوی ته يو شـمېر پيغامونه لېږلي وو چې که دوی هغه څه ترسره کړي چې ما ورته اشاره کړې وه، زه به نه يوازې ډالۍ ورکړم بلکې له پاچا څخه به اعزازي جامې هم ورته راوړم.

وروسـته، د پاټېنګر مرسـتيال، بريدمن چارلس رټرې* دوی ته چې ۳۰ يارډه* وړاندې په رېبل شـوي پټي کې ناسـت وو ، د سټرې مشي له پاره ورغی. ګورخه حوالدار، موتي رام دغه پېښـه داسې بيان کړې: «ښـاغلی رټري چې د يوې افغان قوې قومانده يې په لاس کې وه، وهڅول شـو چې د خدمت له پاره نوي جلبيان معاينه کړي چې دوی ورسره راوستلي وو. دغه کسـان پر اسـونو سپاره وو. کله چې رټري د دوی معاينه کوله، دوی له ښۍ او کيڼې خوا د ده په لور ورغلل او ترې چاپېر شـول. بيا يې په تومانچه وويشت.» په عين وخت کې، کله چې پاټېنګر له يو شـمېر نجرابي مشـرانو سره خبرې کولې، د

*چارلس رټري د انځورګر جېمز رټري، چې د جګړې ډېر نومور شـوي انځورونه يې کاږلي، ورور و.

* يو يارډ ۰,۹۱ متره دی. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي يو افغان عسکر ده ته ورمنډه کړه چې «له دغه خيانت څخه مې خبر کړي.»

په داسې حال کې چې ډزو موږ ځک کړو، هغه په ډېرې سختۍ وپوهولم ځکه چې په اشارو يې خبرې کولې. کوم مشران چې ما سره وو، اوچت شول او وتښتېدل. زه د دويمې پېتې دراوزې له لارې کلا ته وتښتېدم او ورپسې بام ته وختم. له بام څخه مې ښاغلی رټري وليد چې له کلا څخه شاوخوا ۳۰ يارډه ليرې سخت ټپي پروت و او تش په نامه جلبيان، د حاضرباشانو د کمپ له چور څخه وروسته په هر لوري تښتېدل. د دښمن يوې ډلې چې په پټي کې تېرېدل، ښاغلی رټري ته پام شو او د نوموړي په لور يې منډې کړې. له دوی څخه يو کس د خپل ټوپک خوله د رټري پر سر کېښوده او وېې واژه. د ډلې يو شمېر نورو کسانو هم خپل ټوپک وربانديې تش کړل او په بېلا بېلو ځايو يې ووېشت. په دغه وخت کې ساتونکي تيار سئ شوي وو، خپل ټوپک يې ډک کړل او په ډزو يې پيل وکړ چې له کبله يې ساحه پاکه شوه، خو دښمنان چې د دېوالونو او لښتيو تر شا پټ وو، موږ په دوامداره توګه تر فشار لاندې نيولي وو.[۳۸]

لکه څنګه چې پاټېنګر او ګورخه عسکر يې په چاريکار کې له اصلي اډې څخه يوازې له هغه مهماتو سره چې په چانټو کې يې وو، دغه کلا ته راغلي وو، د مهماتو د کمښـت له امله بېګا ته په تياره کې له کلابند شـوې کلا څخه ووتل او د هغه برمته افغانانو په ګډون چې د کوهستان له مشـرانو يې اخيسـتي وو، سـلاح کوټ او خزانه يې هملته پرېښـودل. دوی وکولای شـول چې په جګړه خپله لاره د درې په مَن کې د انګرېزانو اصلي بارکونو ته وباسي، چېرته چې ۷۵۰ ګورخه پوځيان او د دوی کورنۍ، شاوخوا ۲۰۰ ښـځې او ماشـومان مېشت وو. هلته دوه توپونه هم وو، خو سپاره پوځيان نه وو. دلته پاټېنګر له يوې نوې سـتونزې سـره مخ شـو. نيمايي اباد او د بې دروازو بارکونو له پاره تر اوسـه څاه نه و کيندل شوی؛ نو لږ وخت وروسته دغه کلابند شوې چونۍ اوبه نه لرلې*.[۳۹] هر ځل به چې د شپې په بهير کې يوه رضا کاره ډله څېرمه کانال ته ولېږل شوه چې اوبه راوړي، دوی به د اوبو په غاړه ووېشتل او يا ژوندي ونيول شول. که به چا لږ اوبه راوړې «سمدلاسه به چور شوې او د هر چا لاسته ته چې ورغلې، همغه به وڅښې». حوالدار موتي ليکلي:

نارينه به د شـپې له خوا يوې څېرمه چينې ته په پټه لاړل چې اوبه يې افغانانو بل لوري ته اړولې وې. چا به چې پتک درلود، ډک به يې کړ. د چا سـره به چې لوټې وې، په ټوکر کې به يې نغښـتې وې چې د اوسـپنې غږ يې دوی بربنډ نه کړي. د چا سـره به چې نه پتک او نه لوټه وه، ټوکر به يې په اوبو کې غوټه کړ او بېرته به يې لوند راوړ. کله به چې نارينه چې خطر يې په ځان منلی و، کلا ته بېرته راغلل، ټول به ترې چاپېر شـول او د يوه ګران بيه څاڅکي د ترلاسـه کولو هڅه به يې کوله، خو افغانان په دې پوه شـول او هر څوک به چې چينې ته نږدې شول، و به يې ويشتل. د کلا له دېوالونو د ننه يو څاڅکی اوبه نه پيدا کېدې او خلک له تندې لېوني شول.[۴۰]

په عين وخت کې کوهستاني قومي خلک راروان وو؛ په ۴۸ ساعتو کې، شاوخوا ۲۰۰۰ تاجکان راغونډ شول چې پاټېنګر او ګورخه پوځ يې په نيمه اباد بارکونو کې کلابند کړي. بريدمن جان هاټن John Haughton په دوبلېن کې زېږېدلی د پاټېنګر همکار ليکلي: «داسې برېښـېدل چې د سيمې ټول نارينه وګړي زموږ پر ضد غونډ شـوي وو.[۴۱] سبا ته، کلابند کوونکو يوه څېرمه کلا ونيوه چې بارکونه لاندې ورته پراته وو او د ګوليو باران زموږ د محوطې د ننه پيل شـو.» دومره وخت تېر نه و چې پاټېنګر د دان پور پر ګولۍ په ورون سـخت ټپي شـو او د ده پوځي قوماندان کپتان کرېسـټوفر کادرېنګټن Christopher Codrington په سينه کې مرګونی ټپي شو.

په راتلونکو ورځو کې دفاع کوونکي مخ په نهيلۍ وو. هاټن ليکلي: «[زموږ وروسـتۍ پاتې] اوبه هغه پوځيانو ته ورکول کېدې چې جګړه يې کوله، هر سړي ته نيمه پياله چې ډېری يې ختېه وه... ډېرو کسانو د پسه خامه غوښه ځبېښله چې

*دغه بارکونه تر اوسه شته او په بګرام کې د امريکا له هوايي اډې څخه په لنډ واټن کې پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله تنده ماته کړي. جګړه په خپله یو وچ کار دی، خو پرته له اوبو جګړه ناشـونې ده. کړاو ډېر زیات و... ژر زموږ غېږ بوغ شـو، شـونډې مو وچاودې، مخونه مو په دوړو او لوګي سـپېره شـول او سـترګې مو لکه وینې سـرې شـوې.» هاټن زیاتوي:

غرمې ته لږ وخت پاتې و چې توپلي چونۍ اله ګوپي پیل کړه. ما ته وویل شــول چې د کابل له لوري یوه ډله ســرې را روان ښــکاري. زه ســمدلاســه لاړم چې ویې وینم. ما بې اړنګه ولیدل، خو ایا دا تازه دمه مرســتندویه ځواک دی چې موږ یې له ډېره وخته په تمه وو او یا دښمن؟ په یقین سره مرستندویه ځواک، ما په تېلسکوپ کې سم ولیدل. په سر کې یې اسوال وو، زموږ پنځمه سپره قوه، دا حقیقت د دوی د سپینو خولیو څخه څرګندېده. موږ یو بل ته مبارکي ورکړه او د خوشحالۍ اوښکې مو له سترګو وبهېدې، خو دریغې! ډېر ژر څرګنده شوه چې موږ وغولېدو. د ځلوب• عجیبه لوبې موږ د غواوو په یوې پادې تېرایستو.[۴۲]

پـه ټول افغـانســتـان کې همـدې تـه ورتـه وضــعیـت و. نـاڅـاپـه او پـه چټکۍ هر کلی پـه دښــمن بـدل شــو. د خیبر غاښـي په پشـپولاق کې پر یوه ډله ځارګر انګرېز عسـکرو برید وشـو او دې ته اړ شـول چې پېښـور ته شـاتګ وکړي.[۴۳] د نومبر په درېیمه د کابل سوېل ته د کپتان کرافورډ Crawford تر مشرۍ لاندې د سپاهیانو یوې کوچنۍ ډلې یو شـمېر د افغان مخالفینو نیول شـوي مشـران له کندهار څخه غزني ته لېږدول. «موږ ټوله شـپه مزل وکړ او په لمر ختو کې موشکۍ Mooshky ته ورسېدو.» دغه خبره د همت بنایه Himat Baniah په نوم یو سـپاهي کړې چې له پېښې وروسته په پوځي محکمه کې یې پوښتنو ته ځواب ویلو. نوموړی زیاتوي:

د سـهار شـاوخوا اته بجې د موشـکي او څېرمه کلیو خلک غونډ شـول او ناڅاپه څه نا څه ۵۰۰ خلک چې په چقمقي ټوپکو او تورو سمبال وو، پر موږ په ډېر شـور راغلل. زموږ ډېر کسـان یې ووژل او پاتې کسـان مو وتښـتېدل. موږ ټول له یو بل څخه جلا شـوي وو، یو په یوه کلا کې او بل په بله کې. ما واورېدل چې بریدمن کرافورډ تر موني Mooni پورې رسـېدلی و. کله چې دغه ۵۰۰ خلک پر موږ راغلل، له ما څخه یې هر څه واخیسـتل، حتی زما جامې یې هم یوورې. له دې وروسـته زه په لږ لنډ واټن کې وتښـتېدم. په پنځو بجو دوو اسوالو زه پیدا کړم او ویې نیولم. بیا یې د اسیر په څېر د غرده Ghardeh په نوم یوې کلا ته بوتلم. [۴۴]

لنډه موده وروسـته د غلزیو یوې لویې قوې غزنی کلابند کړ. یوازې کندهار د جنرال ناټ د څکو سـترګو لاندې ارامه و. نوموړي لیکلي: «زه به د کابل ملګرو په څېر په خوب کې ګیر نه شــم. د هېواد د دغه برخې د خوندیتوب له پاره ما هر راز تابیا نیولې ده.»[۴۵]

خو پـه همـدې وخـت کې پـه کـابل کې د دوو هغـو حیـاتي کلاوو کلابنـدي نوره هم ټینګېـده چې زېرمتونونـه پـه کې وو. د کپتان ټرور برج لرونکی کور د شـاه د زېرمتون کلا ته مخامخ پروت و. د نومبر په درېیم وروسـته له دې چې دی له خپلې کورنۍ سره له شاتنۍ دروازې په تیاره کې وتښـتېد، سمدلاسـه مخالفینو یې پر کور یرغل وکړ. که څه هم په دغه کلاوو کې د ټول ژمي له پاره انګرېزانو ته خوراکه اکمالات راغونډ شـوي وو، خو نه الفنسټون او نه مېکناټن عسـکر ور ولېږل

•ځلوب: سراب: هغه حالت چې په ګرمۍ کې له لیرې واټن څخه په دښته یا د سړک پر سر اوبه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه يې مهمات ور واستول چې د دواړو کلاوو له دفاع کوونکو سره مرسته وکړي حال دا چې د مقاومت مرکز له اډې نه د يو نيم ميل څخه په لږ واټن کې ليرې و او په اډه کې ۵۰۰۰ سپاهيان بېکاره ناست او امر ته تم وو. په زياتېدونکې توګه خوابدې مېرمن سېل په خپله ياد ليکچه کې ليکلي: «لا تر اوسه هېڅ پوځي اقدام نه دی شوی چې د کلابندۍ په صورت کې د پايښت يوازينۍ وسيله خوندي وساتي. په دغه (خرابه زړه) کلا کې چې مرو کمزورې کړې، ټولې بنګالي اکمالاتي زېرمې دي. که چېرې يې مخالفين ونيسي، موږ به نه يوازې خپل ټول اکمالات له لاسه ورکړو بلکې له ښار سره به مو اړيکې هم غوڅې شي.»[46]

جنرال شلټن نور اغېزمن نه و. موهن لال ليکلي: «شلټن له پيل څخه دومره ډېر بې اسرې ښکارېده چې پر هر جنګيالي يې زهرجن اثر واچاوه.»[47] جورج لارنس په دې اړه همغږی و او ليکلي يې دي: «که څه هم له شلټن سره د هغه قوې په پرتله ډېر ځواک و چې په رڼا ورځ يې د قلات پر کلا يرغل وکړ او ويې نيوه، خو نوموړی په بشپړه توګه هېڅ ونه خوځېد او حتی د [زاړه مغول] شاه باغ او همدارنګه د محمد شريف کلا ته [چې اډه لاندې ورته پرته وه] چې ساتل يې په وضاحت اړين وو، هېڅ پام ونه کړ که څه هم دوی زموږ تر منځ پرتې وې او پر زېرمتونونو د پوځ پايښت تړلی و.»[48] د نومبر په څلورم د شاه شجاع د ځواکونو د تنخواوو معتمد هيو جانسن، الفنسټون ته ورغی او وضعيت يې په ډېر وضاحت ورته بيان کړ. نوموړي جنرال ته وويل چې «په اډه کې يوازې د دوو ورځو له پاره خوراکه توکي پاتې دي... او په څېرمه کلاوو کې د دښمن د شتون له امله نه شي کولی په شاوخوا سيمو کې څه وپېري. که چېرې د هر راز خطر په منلو سره زېرمتونونه خوندي ونه ساتل شي؛ نو د لوږې له کبله زموږ د ځواکونو تباهي [خامخا] ده». الفنسټون زړه نا زړه د جانسن شننه ومنله، او د کلا دفاع کوونکي، اېنسېن وارن Ensign Warren ته يې پيغام ولېږه چې د شپې په دوو بجو به مرستندويه قوا ورولېږل شي. وارن د بومبې پلې قوې افسر و. دی يو ارامه او د پرېکنده زړورتيا څښتن و، خبرې به يې لږ کولې او په خپل کار پسې به له دوه کوچياني سپيانو سره روان و، خو الفنسټون خپله ژمنه پوره نه کړه که څه هم وارن يو لړ استونې ور ولېږلې چې د سملاسي مرستې غوښتنې يې په کې کړې وې او ورته ويل يې چې که پرته له ځنډه مرسته ور ونه لېږل شي، د خپلو مورچلونو پرېښودلو ته به اړ شي. نوموړي په پيل کې ۷۰ عسکر درلودل چې ډېر يې وتښتېدل. سبا سهار په پنځو بجو د زېرمتون کلا بالاخره پرېښودل شوه. وارن او ورسره لږ شمېر عسکرو يې په زړورتيا د الفنسټون له ژمنې څخه وروسته، پوره درې ساعته نور هم په کلا کې پاتې شوي وو. مېرمن سېل ليکلي: «ورپسې دښمن سمدلاسه کلا ونيوله او موږ يې د پايښت له [کابو] يوازينۍ وسيلې څخه محروم کړو.»

اوس يوازې يو د اکمالاتو انګرېزي مرکز پاتې و. د کالن مکنزي تر قوماندې لاندې د نشان خان کلا چې د شاه شجاع د قوې له پاره پرېمانه اکمالات په کې راغونډ کړل شوي وو. لکه څنګه چې مکنزي ليکلي : «عسکرو له سنجونو څخه د ټرور د زېرمتون د لوټ صحنه په پرېشانۍ کتله او دښمن د کلا په سر کې چې زما دفاعي ليکه لاندې ورته پرته وه، موضع ونيوله. دوی په خپلو تور ټوپکو داسې کره نښه ويشتله چې زه دې ته اړ شوم چې لوېديځه دفاعي کرښه پرېږدم.» نوموړی زياتوي:

زه به په خاپوړو په څو زينو کې پورته شوم او يو په يو به مې په چټکۍ له دروازې څخه هغه برج ته وکتل چې کمزوری کېده. کله چې يو ځل بيا د برج ليدو ته لاړم، زما يو عسکر راته وويل چې يو افغان له مخامخ تېر کش څخه نښه نيسي، ما چې مخ ور واړولو، د عسکر سترګه څيرې او ټنډه يې په مردکۍ غار، زما له پښو سره مړ ولوېد... ماسپښين، دښمن د دېوال يوه لويه برخه پر موږ ونړوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټوټې یې زموږ د یو برج پاسنۍ برخه ولړزوله. زموږ د وروستیو مهماتو بشپړه ناکاري، ناهیلي زیاته کړه... افغانانو د سوند لرګي راوړل او د اوږدو لرګیو په سر کې یې احتراقي څېزونه ایښي وو. د سوند لرګي یې د دېوال په بېخ کې کېښودل چې زما دروازه وسوځوي.

اوس د مکنزي ځینو اسوالو په «یو ډول نیمه بغاوت» پیل وکړ او غوښتل یې چې پر اسونو وتښتي: «زه له یو دوه میله ټوپک سره دوی ته ورغلم چې دغه هڅه یې شنډه کړم. مرمۍ مې په ټوپک کې تېره کړه او دوی ته مې امر وکړ چې دروازه بنده کړي او ګواښ مې وکړ چې نه اطاعت کوونکي به وولم. دوی ته زما پرېکندتوب څرګند شو ځکه چې زه مرګ ته چمتو وم؛ نو دوی مې اطاعت ته سر ټیټ کړ.» ماښام ته چې مکنزي او سړیو یې «پرته له دمې شاوخوا ۴۸ ساعته کار او جګړه» کړې وه، له بریده وتلي ستومانه وو:

زه د خپلو وطنوالو له خوا په ښکاره توګه بشپړې نابودۍ ته پرېښودل شوم، خو زما افغان پلویان تر پایه په کلکه راسره وو که څه هم دوی ته ډېر هڅوونکي وړاندیزونه وشول چې له ما سره خیانت وکړي. کله چې بلاخره حتی د یو ډز له پاره د مرمیو قحطي رابانده راغله، حسن خان [د مکنزي افغان تورټوپکوالو قوماندان] ما ته راغی او وېې ویل: «زما په اند موږ خپله دنده ترسره کړه. که ته دا اړینه بولې چې موږ دلته مړه شو؛ نو موږ چمتو یو، خو فکر کوم چې موږ هر څه وکړل.»[49]

ورپسې مکنزي ومنله چې د شاتګ له پاره تیاری ونیسي. د روژې میاشت وه؛ نو دوی پلان جوړ کړ چې وروسته له ماښامه چې د کلابند کوونکو د روژه ماتي وخت وي، سمدلاسه وتښتي. د حسن خان افغان نښه ویشتونکي تور ټوپکوال به مخکې روان وي او ورپسې به ټپیان په سملاسي جوړو شوو تذکرو کې له ښځو او ماشومانو سره یو ځای لېږدول کېږي او په اخر کې به مکنزي روان وي. پلان داسې و چې له کلیو څخه لیرې د کانال لاره تر هغه وخته ونیسي تر څو یې چې اډه تر سترګو شي او بیا به په پټیو کې د اډې په لور ځي. ټول بکسونه او خوراکه اکمالاتي توکي به پرېښودل کېږي.[50]

د تېښتې امر اسانه خو ترسره کول یې سخت وو. مکنزي لیکلي:

په ټولیزه توګه، د شپې شاتګ له مصیبت څخه ډک وي او څرګنده شوه چې زموږ شاتګ هم مستثنی نه و. زما رټ امر ته چې ټول کالي او بکسونه باید پرېښودل شي، غوږ ونه نیول شو. ډېرو بېوزلو ښځو خپل شته پر خپلو اوږو وړل او ماشومان یې په پښو روان کړي وو. د دوی ژړا زموږ د بربندېدو خطر زیاتولو. زه د ښځو منځ ته لاړم چې د خپل امر په اطاعت ځان ډاډه کړم، یوه ځوانه ۱۶ یا ۱۸ کلنه ګورخه نجلۍ چې خپله اوږده لمن یې د پښو تر منځ شا ته تېره او بیا پرملا تړلې وه او پر کمربند کې یې توره ورکړې وه، زما مخې ته ودرېده او خپل ټول شته یې زما له پښو سره وغورځول او راته وېې ویل: «صاحبه، تا سمه خبره وکړه، ژوند تر شتمنۍ بهتره دی.» نوموړې یو ښایسته مخلوق و، سپین مخ او غټې تورې سترګې، کالي یې تر ځان تاو کړي او اندامونه یې خلاص وو، د ژوند یو انځور، روح او انرژي. بیا مې هېڅ کله ونه لیده او وېرېږم چې یا به وژل شوې او یا به په همغه شپه یرغمل نیول شوې وي.

مخکې له دې چې دوی یو میل مخ‌ته لاړ شي، ډزي پیل شوې. د مکنزي ډله ډېر ژر له تور ټوپکوالو څخه چې مخکې روان وو، بېله شوه او دی په خپله له یو چپراسي او دوه اسوالو سره د ښځو او ماشونو په منځ کې چې چیغې یې وهلې، یوازې پاتې شو او تر سختو ډزو لاندې و. لږ شېبه وروسته کلابند شو. ده لمړی فکر وکړ چې خپل کسان یې دي، خو «دوی ډېر ژر زما تېروتنې ته په دغه ناره پام کړ: «پرنګی دی» او په تورو او چړو یې رابانديې برید وکړ.» مکنزي خپل اس چو او ګرد یې تاو کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توره مې له ښـی خوا څخه کيڼې ته وهله. د خدای په مهربانۍ زما ضـربو د دوی ډېرې ضـربې شـنډې کړې او زه دومره بختور وم چې د يوه ځاځمن بريدکوونکي لاس مې غوڅ کړ. توره مې سيده د دغه سړي تر مټ تېره شوه، خو له دې وروسته، ما د سر په شاتنۍ برخه کې سـمدلاسـه داسې يو لوی ګوزار وخوړ چې د دښـمن په لاس کې تورې لاو وکړ او زه يې نږدې له اس څخه غورځولی وم. په يوه پښـه ځړېدم... بيا مې دومره په ياد دي چې پر زين نبغ ناسـت وم، دښـمنان راپسـې وو او ټولې ډلې ډزې راباندې کولې. زه د دان پورو له دوه جوپو ډزو څخه ژوندی ووتم او تېي نه شـوم. دغه ډله راپسې وه، خو زه په ډېره چټکۍ له څو پټيو څخه تېر شـوم او له دوی څخه مې ډېر واټن ونيولو... په داسې حال کې چې په ډېر پام مخته روان وم، په ډېر وحشت مې پام شو چې لاره مې د افغانانو يوې ګڼې ډلې بنده کړې. شـاتګ ناشـونی و؛ نو خدای ته مې ځان وسـپارو او د دوی منځ ته مې اس په دغه هيله په منډو کړ چې د اس وزن به لاره راته خلاصه کړي په داسې حال کې چې توره مې د وروستۍ جګړې له پاره چمتو نيولې وه، خو ښـه وشـول چې دغه پرېکړه مې وکړه ځکه چې دغه افغانان زما خپل تور ټوپکوال وو.

بلاخره، دوی اډې ته ورسېدل. مکنزي ليکلي: «د شپې په ترڅ کې، زما د ډلې ګڼ شمېر خلک چې ډېری يې ملکي کسان وو، اډې ته راورســېدل. په ټوله کې، زما څه نا څه دوولس کســه ووژل شــول. له هغه غلطيو څخه چې زموږ د زوال وجه شــوې، تر ټولو بده يې زما د تانې نه غښــتلي کول وو. حتی هر هوښــيار افغان ويل چې که زما ســره د يو دوه غونډونو مرسته شوې وی، موږ به د ښار واکمنان پاتې وای.»[۵۱]

هيو جانســن چې د خپلې خزانې په ژغورلو کې د جنرالانو غلطيو هک پک کړی و، د بلوا په يوازې ۳۶ ســـاعتونو کې د ټولو خوراکي اکمالاتي توکو له لاســه وتلو حتی نور هم حيران او په غوســه کړی و. نوموړي په خپل يادښــت کتاب کې ليکلي:

د څلور لکو روپيو په ارزښت اوړه، وربشې، واين، بير او هر راز اړين توکي پرته له ځوابي ګوزار څخه دښمن ته تسليم کړل شـول. يو شـمېر خلک، په ځانګړې توګه غټه او د نفوذ خاونده د قزلباشـو قبيله تر دې وخته بې پلوه پاتې شـوې وه. دوی به د يوې يا دوو ورځو له پاره زموږ په نه کارنتوب او د خزانې د ورکاوۍ او همدا راز زموږ د مامورينو د وژلو په اړه زموږ په ښکاره بې غورۍ خورا ډېر حيران شـوي وي. دوی حتی په خوب کې دا نه وو ليدلي چې ۵۰۰۰ کسـيزه انګرېزي ځواک چې دوی يې د ښـه دسـپلين، زړورتيا او د مشـرانو د هوښياری په اړه ستاينې اورېدلې وې، کرار کښېني او يو څو بې لارې خوار بربريان يې د خپلې اډې په دروازه کې جګړې ته وننګوي.
خو اوس د ټول افغان ملت سـترګې خلاصې شـوې وې. هر سـړی زموږ دښـمن شـو. د هغه اوچت کرکټر پر ځای چې موږ تر دې وخته درلود، اوس موږ ته په ډېره سـپکه سـترګه کتل کېدل. په دغه ورځ د زېرمې کلا د مېړيانو غټې ځالې ته ورته وه. د غرمې په وخت کې له ليرې ځايونو څخه په زرګونو خلک غونډ شوي وو چې د سپيو انګرېزانو په غنيمت کې ونډه واخلي.[۵۲]

افغان سـرچينې وايي چې افغانانو په څلورويشـتو سـاعتونو کې د درې کلونو پوځي او خوراکي اکمالات تر لاسـه کړل او هر څه يې ښــار ته د ننه ولېږدول. منشــي عبدالکريم ليکلي: «دوی د غنيمت مالونه پر خپلو ســرونو وړل او د غلې زرګونه انبارونه يې کوچيانو او د کليو اوســېدونکو ته ووېشــل، بيا به دوی هم د غلې له ترلاســه کولو وروســته په بلوا کې ګډون وکړ. هر هغه څه چې ډېر درانه او د لېږدولو نه وو، وران به کړل شول.»[۵۳]

مېرمن سـېل په وضاحت د پېښې په جديت داسې ليکلي: «دغه حالت دښـمن ته نه يوازې باور بلکې ډېر لوټ هم ور په برخه کړ او د اروپايانو په منځ کې چې خپل شــراب يې له لاســـه وتلي وو، ډېره کرکه رامنځته کړه. تر ټولو لوی زيان د طبي اکمالاتو، د ناروغانو له پاره ځاښـکو، د ونو له رېښـو څخه جوړه شـوې نشـايسـته، واين او شـمپاين له لاسـه ورکول وو.»[۵۴] څو اونۍ وروسته کله چې د پېښې خبر جورج براډ فوټ ته د جلال اباد په کلابند ښار کې ورسېد، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله يادليکچه کې يې ځاځمنه يادونه کړې:

کالن مکنزي د ښار په لمن کې په يوه زړه کلا کې و. دوه ورځې يې جګړه وکړه او بيا وتوانېد چې هغه لوی ځواک ته ځان ورسوي کوم چې بايد ده ته يې ځان رسولی وای. نوموړي خپل ټول سري او د ښځو او ماشومانو ګڼه ګوڼه په خوندي توګه اډې ته راوستل او په خپله دوه ځايه په توره ټپي شو، داسي اتلولي هېڅ کله نه وه ترسره شوې. له خپکان څخه ډک ماشومان او ښځې د همغه وخت وروسته تري تام او يا په مريتوب او وينځتوب ونيول شول ځکه چې ۵۰۰۰ پوځيانو هغه څه ونه شوای کړی چې ده له پنځوسو کسانو سره ترسره کړل.[۵۵]

په کلابند شوې اډه کې لوږه ډېر ژر پيل شوه. عسکرو ته نيمه ځيره ورکول کېده، خو لکه دوه کاله مخکې د بولان د مارش په بهير کې، دلته هم لمړی د اډې ملکي وګړي او بار وړونکي څاروي وکرېدل. يوه اونۍ وروسته جانسن په خپله يادليکچه کې ليکلي: «زموږ څاروي له څو ورځو راهيسې له لوږې سره مخ دي. نه د وښو يو خسړی، نه د بوسو يو خلی او نه يوه دانه ترلاسه کېدای شي.* زېرمه شوې وربشې د اډې ملکي وګړو ته په ځيره ورکول کېږي. دوی ته د ورځې يوازې د کيلو يوه پر څلورمه برخه ورکول کېږي. زموږ څاروي د ونو په منډرکيو•، ځانګو او پوستکو پايي او د بار وړلو توان نه لري.»[۵۶] يوه اونۍ وروسته وضعيت نور هم خراب شو: «له تېرو دوو ورځو راهيسې، زموږ د اډې ملکي وګړي د خوړلو له پاره هېڅ نه لري پرته له دې چې د هغه مړو اوښانو او اسونو مرداره وخوري چې له لوږې مړه شوي وو. منډرکي او د ونو پوستکي ته نور لاس رسی نه شته. په اډه کې ټولې ونې لوڅې لغړې دي.»[۵۷]
جانسن په چټکۍ د خوراکي توکو يوازينۍ سرچينه پيدا کړه. د صوفي زيارت په کلي، بي بي مهرو کې چې انګرېزانو د بې مارو په نوم پېژانده** او له اډې څخه نيم ميل شمال ته پر يوه ټيټه غونډۍ پروت او د اډې شاتنۍ برخه لاندې ورته پرته وه، نوموړي له يوه مشر سره يوه سودا وکړه او لږ اوړه اډې ته راوړل شول، خو دې يوازې د څو ورځو اړتيا پوره کوله.[۵۸] سړې هوا کړاو نور هم زيات کړ او د ژمي لمړنۍ واورې پر ځمکه سپين ګرد غوړولی و. په همدغه وخت کې مخالفينو په هغه توپونو چې په ښار او د زېرمتونونو په کلاوو کې يې نيولي وو، د اډې پر بمبارۍ پيل وکړ، خو په بمبارۍ کې مېتود او ښه وړتيا نه وه او د ټولې جګړې په بهير کې افغانانو د توپچي په پيدا کولو کې ستونزې درلودې، خو په اډه کې د اټکلي ګوليو لګېدل د کلابند عسکرو وېره ډېروله.
د توپونو د ډزو سربېره، د محمد شريف له کلا څخه چې مخالفينو نېولې وه، د دان پورو ارابې هم پر اډه پيل شوې. له دغه کلا څخه د اډې دروازه مخامخ ښکارېده او څنګ ته يې د ښار سړک پروت و چې افغانانو پرته له مقاومت څخه

*د غلزيو يوه دنده اډې ته د غلې او وښو برابرول وو، خو کله چې مېکناټن پر دوی باندې اعانه ودروله، دوی په ځواب کې اډې ته د دغه اکمالاتو برابرول ودرول.

• منډرکی: د ونې ښاخ

**دغه کلی او زيارت تر اوسه شته چې د هوايي ډګر واټ ته پاس پروت دی او د ايساف لويه اډه او د رېک په کڅوړو پټ د امريکا سفارت ترې لاندې ښکارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيو. همدا راز په نيول شـوي کلا کې افغانانو سـمدسـتي تيرکش وايسـتل څو د اډې له اصلي دروازې څخه د انګرېزانو د هر چابک برید هڅه په ډزو شـنډه کړي. د نومبر په شـپږم، الفنسـټون د انګرېزانو د مقاومت مخه نوره هم ونيوه او د افغانانو د ډزو په ځواب کې يې ډزې په دې دليل منع کړې چې د شـکمنې مېرمن سـېل د ليکنې پر بنسـټ: «باروت لږ دي، حال دا چې په هغه وخت کې يې د دوولسو مياشتو کلابندۍ ته بسنه کوله.»[۵۹]

اوس ټولو ته ځرګنده وه چې الفنسټون ټول په خطر کې اچولي. مېرمن سېل ليکلي: «خلک بې اړنګه وايي چې دغه مشر بايد ګوښـه کړل شي. د خوارکي جنرال پام بېلابېلو وړاندې شـوو نظريو مغشـوش کړی او هغه بده ناروغي چې دی ترې کړېږي، د ده ځواک کمزوری کړی. ډېر د غندنې وړ شــورماشــور روان دی: د شـــاټګ په اړه خبرې، او پايله يې چې مسلمان عسکر به له پوځ څخه وتښتي پر خلکو بد اغېز کوي.»[۶۰] دې په رښـتيا حقيقت درلود: د ناڅاپي باور بايلل او د مشـرتابه نه شـتون، عسـکر هک پک او په وېره کې اچولي وو. سـپاهي سيتا رام ليکلي: «د پوځ روحيه ډېره ټيټه وه. هر چېرته جګړه روانه وه او لکه څنګه چې اروپايي عسکرو ته سمه ډوډۍ نه وه، دوی خپله روحيه بايلوله او داسې جګړه چې دوی پخوا کوله، اوس يې نه کوله.» حالت نور هم خراب شو.

يخني دومره ډېره شـوه چې د پوځ هغه برخه يې نړدې له کاره وايسـتله چې له سـپاهيانو څخه جوړه وه... موږ شـپه او ورځ د ټوپونو له ډزو څخه ځورېدو. داسې برېښـېدل چې د دښـمن شـمېر په زرګونو ډېرېده او د دوی اوږدو چقمقي ټوپکو په اوږده واټن کې زموږ دان پور ټوپک بې اغېزې کړي وو. که څه هم دوی د يو منظم يرغل پر وړاندې درېدلی نه شـــوای، خو د دېوالونو، کورونو او داســې نورو ځايونو تر شـا ډزو يې موږ ډېر کړولو... ټول پوځ په يو خواشـينوونکي وضعيت کې و... د خوراکه توکو بيه د لېونتوب کچې ته رسـېدلې وه او هر څوک له ناوړه ربړو سـره لاس او ګرېوان وو. ما ډېر صاحبان وليدل چې د ربړو او کړاوونو له امله يې ژړل او خپل مشـران او جنرالان يې د دغسې شرمېدنې په هکله ګرمول. دوی به ويل چې د دوی مشران ډېر زاړه او په حقيقت کې بې ګټې دي.[۶۱]

دا چې الفنسـټون د معيوبوونکي روماتيزوم او پرله پسې ماتو له امله په ژور خپګان کې ډوب شـوی و، مېکناټن د نومبر په نهم پرېکړه وکړه چې د ده د ځای ناسـتی له پاره شـلټن له بالاحصـار څخه راولي. دا يوه بله غلطي وه. شـلټن نه يوازې کټ مټ د الفنسـټون په څېر بې ارادې و بلکې د انګرېزانو د دريځ په ناهيلۍ قانع و. کالن مکنزي ليکلي: «ده نه مرسـته او نه هوسـاينه راوسته او په ښکاره يې د شاټګ خبرې کولې.» کله چې راورسېد، مکنزي په خندا ترې وپوښتل چې څنګه دی. ده په ځواب کې وويل: «په تن کې ډېر ښـه.» مکنزي وويل: «ښـه، په داسې سختو حالاتو کې دا هم غنيمت دی.» بريـد جنرال پـه ډېره غمجنـه ونګـه مخ ور واړولو او داســې يې وويـل: «لـه خـاورو جوړ يې او خـاورو تـه بـه ځې.»[۶۲] د شـلټن راټګ انګرېزي جګپوړي قومانده هم ووېشـله. مېکناټن په دې باور و چې دا د چونۍ دنده ده چې په هره بيه له خپل موقعيت څخه بايد دفاع وکړي په داسـې حال کې چې شـلټن جلال اباد ته پر شـاتګ ټينګار کولو. وېنسـنټ ايير ليکلي: «د داســې حياتي موضــوع په اړه د نظريو توپير خواشــينوونکې پايلې رامنځته کړې. دغه توپير، جنرال په اړين وخت کې د همغږۍ له اغېز څخه محروم کړ.»[۶۳]

اډې ته د شـــلټن غوښـــتنه په بالاحصـــار کې د انګرېزانو د نه شـــتون او د يوې مظبوطې او په اکمالاتو بســيا کلا د پرېښــودنې په مانا وه. د اډې د دريځ کمزورتيا هر چا ته ځرګنده وه. ښــايي يوه ډېره ښــه ســتراتيژي به دا وای چې اډه پرېښـودل شـوې وی او عسـکر بالاحصـار ته لېږدول شـوي وای. مکنزي په دې اند و: «که څه هم موږ له لوږې سـره مخ وو او اسـونه او اوښـان مو خوړل، خو که بالاحصـار ته لېږدېدلي وای، موږ تر يو کال پورې خپله دفاع کولای شـوی؛ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوو اونیو په ترڅ کې به پاڅون په کرار شوی وای. دا یوه داسې مضبوطه کلا وه چې ټول ښار لاندې ورته پروت و او د مخالفینو د بشپړې قوې پر وړاندې درېدلی شوی، خو هېڅ شي قوماندانان دې ته ونه هڅول چې هلته لېږد وکړي.»[۶۴]
د کلا د بنسټیزې دفاع په کمزورتیا هېڅوک دومره نه پوهېدل لکه بریدمن سټرټ ځکه چې ده ډیزان کړې وه. دا چې هر څه سم مخ ته نه تلل، نوموړی اندېښنو کابو لېونی کړی و؛ نو د ناروغۍ له کټ څخه اوچت او په پای جامه کې راووت او په وار وار یې قوماندانانو ته پیغامونه ولېږل چې د شاه شجاع له لرغوني کلا څخه باید نه یوازې شته پوځیان را ونه غوښتل شي بلکې اړه هم باید هلته ولېږل شي. مېرمن سېل په خپله یادلیکچه کې لیکلي: «که چېرې د سټرټ مشورې ته غوږ نیول شوی وای، د پرېمانه مهماتو له لېږد څخه وروسته به موږ ټولو یوه شپه له هغه څه سره چې پر اسونو وړل کېدای شوی، په زړورتیا د بالاحصار په لور مارش کړی وای. هلته به موږ د مېشتو خلکو په کورونو کې اوسېدلو (که څه هم زما په اند هوساینه به نه وای). دوی د ژمي له پاره خپلې غلې او نورې اړتیاوې پوره کړې وې؛ نو موږ به په هره بیه ورڅخه پېرودنه کوله او په دې توګه موږ د ټول افغانستان پر وړاندې د ډېر وخت له پاره پاتې کېدای شوی.»[۶۵] خو د سټرټ د پلان په ځواب کې قوماندانانو وویل: «اړه څنګه پرېښودی شو په داسې حال کې چې موږ ډېر لګښت ورباندې کړی؟»
د شلټن له تګ څخه وروسته، شجاع د خپلو پاتې عسکرو او په دوی پورې تړلو له څو انګرېزانو سره په بالاحصار کې یوازې پرېښودل شو. د مېرمن سېل د لیکنو پر بنسټ:

[دی] د خپل حرمسرای له دراوزې سره هستوګن شو او د کلابندۍ په ټول بهیر کې هملته پاتې شو. ټوله ورځ به په کړکۍ کې چې اړه ترې ښه ښکارېده، ناست و. تېلسکوپ به یې په لاس کې او په اندېښنه به یې د پېښو ننداره کوله. په ناهیلۍ او خپګان کې ډوب و. د څه وخت له پاره یې ټول شاهي تشریفات پرېښودل او له افسرانو څخه یې غوښتل چې له څنګ سره یې په څوکۍ کښېني. مزاج به یې له ډېر خپګان څخه ناڅاپه په خوښۍ او له خوښۍ څخه خپګان ته بدلېدلو.[۶۶]

د نومبر په دویمه اونۍ په بالاحصار او د اړې په شاوخوا کلاوو کې انګرېزي تانې یا له لاسه ووتې او یا پرېښودل شوې او جګړې په بې بې مهرو کې تمرکز وکړ. دا هغه ځای و چې د ناچارو انګرېزانو وروستۍ اکمالاتي سرچینه ګرځېدلې و. دلته د کلاوو په شاوخوا کې چې کلې او اړه لاندې ورته پراته وو یو لړ بې پایلې جګړې وشوې. د نومبر په لسمه، یاغیانو چې په شمېر کې «له مېږیانو او ملخو ډېر وو»، د غونډیو دواړه غاړې ونیولې او د کلابندۍ کړۍ یې انګرېزانو ته تنګه کړه. همدارنګه د مخامخ غونډۍ پر سر یې د رکاب باشي په نوم کلا ونیوله.[۶۷]
مخالفینو درې ورځې وروسته دوه نیول شوي توپونه د خپلو سړیو په وسیله دغه غونډیو ته وخېژول. د پخوا په څېر، شلټن د دې په ځواب کې د کومې کړنې ترسره کول په دې وجه ونه منل چې د ماتې خطر په کې ډېر و. ځاځناک مېکناټن بلاخره وویل: «جنراله، ته دښمن پرېږدې چې تا وننګوي. که تر ماښامه دې برید ونه کړ او دغه دوه توپونه دې ونه نیول، نو ته باید هرې شرمېدنې ته چې پر موږ نازلېږي چمتو اوسې.»[۶۸] د سهار په سپېدو کې بلاخره شلټن یو لوی لښ او چټک پلی برید وکړ، خو سمدلاسه یوې غښتلې افغان سپرې قوې چې نېغه د ده د پوځیانو لیکو ته ورننوته، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی برید وکړ . میرزا عطا لیکلي: «افغانانو خپل ځواک راغونډ کړی و او له غونډیو څخه یې اسونه ښکته په ځغاسته کړل. په سلګونو انګرېز عسکر یې داسې وربېل لکه واښه. په دواړو خواوو کې زړورتیا او مرګ ژوبلې لیدل کېدې.»[٦٩]

انګرېزانو وکړای شول چې یو توپ سوری او بل اډې ته کش کړي، خو د ۸۰ عسکرو د ژوند او نږدې ۲۰۰ ټپیانو په بیه.[٧٠] دا په زیاتېدونکې توګه د زړورو او په ځان باورمنو افغانانو پر ضد د ټپرا عسکرو اغېزمنتیا ته ښه بېلګه نه وه.

د نومبر په پنځلسمه د انګرېزانو مورال یوه بله ضربه ولیده. دوه شدلې خبرې وتوانېدې چې د کلابندۍ له لیکې تېرې شي او اډې ته بد خبر راوړي. داسې برېښدل چې د چاریکار په ۷۵۰ کسیزې چونۍ کې یوازې الډرېډ پاټېنګر او جان هاټن ژوندي پاتې شوي وو.

له لسو ورځو کلابندۍ څخه وروسته، پاټېنګر سختې تندې پسې اخیستی و او له پوځ څخه په زیاتېدونکې توګه د عسکرو د تېښتې په اړه اندېښمن و. همدا راز په کلابندۍ کې د ګډون له پاره د تاجکانو او صوفیانو شمېر مخ په ډېرېدو و؛ نو پرېکړه یې وکړه چې یوازېنۍ هیله د کابل په لور تېښته وه. نوموړي وروسته لیکلي: «پوځ په بشپړه توګه د لوږې او تندې د کړاوونو له کبله بې نظمه شوی و. د خپلو عسکرو په کنټرول کې د بومي افسرانو بشپړه بې کفایتي، د دوامداره پیره دارۍ له کبله د عسکرو ستړیا، او په بشپړه توګه د اوبو او نورو خوراکي توکو د نشتوالي له امله ما سوچ وکړ چې د لوا حتی د یوې کوچنۍ برخې د ژغورنې یوازېنۍ لاره د کابل په لور شاتګ و که څه هم دا کار ډېر له خطر څخه ډک و. ما هیله درلوده چې کېدای شي هغه جره فعال او چابک خلک چې د مېړمنو او بچیانو له کبله نه ځنډېږي په خوندي توګه په تېښته بریالي شي.»

خو لکه د زېرمتون له کلا څخه د مکنزي د شاتګ په شپه، دلته هم ګډوډي نږدې په هغه دقیقه پیل شوه چې د پاټېنګر عسکرو له ودانۍ څخه وتل پیل کړل. نوموړي په یو رسمي راپور کې داسې اعتراف کړی: «وروسته له دې چې له دروازې څخه ووتو، دا ما ته ناشونې وه چې نظم وساتلی شم.[٧١] ما هڅه وکړه چې دوی ته لارښوونه وکړم خو کومه ګټه یې ونه کړه. تښتېدونکي عسکر چې لکه لېونیان د اوبو په لټون کې وو، ویشتل کېدل. ټول ۳۰۰ ټپیان چې شا ته پرېښودل شول او هغه سپاهیان او د دوی ښځې چې ژوندي ونېول شول، د تاجک مشرانو تر منځ ووېشل شول او ورپسې سمدلاسه د مریيو او وینځو په څېر خرڅ شول.»[٧٢]

پاټېنګر او هاټن، چې دواړو اسونه لرل، وکولای شول چې کابل ته ورسېږي. دوی به له اصلي لارې څخه لیرې د کوهدامن د لوېدیځ اړخ په اوږدو کې د شپې له خوا مزل کولو او د ورځې به پټېدل، خو د دوی یوازې څو سپاهیان په دوی پسې ونکوښېدل. یو له اسیرانو او ورپسې مریيو څخه حوالدار موتي رام و چې په بې ساري توګه یې د خپل اسیر توب بیان پرېښی دی. موتي رام د ډېرو نورو سپاهیانو په پرتله ډېر مخ ته تللی و او داسې ځای اسیر شو چې خپل منزل یې تر سترګو کېده. نوموړي لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه وخت کې چې جګړه پیل شــوه، له موږ ســره دوه ګورخه فقیران وو چې په افغانســتان کې د بېلابېلو هندو زیارتونو د زیارت له پاره راغلي وو. دوی د وسلې او مهماتو غوښتنه کوله. زموږ افسرانو یې غوښته ومنله. دغه خړیسو• او سپېڅلو څېرو په خپلو زړورو کارنامو ټول هک پک کړل. زموږ څخه هېڅ‌چا د افغانانو په وړاندې دومره ښــه جګړه نه شــوای کولی لکه دوی چې کوله. موږ ټولو یو ځای د شــپې په ترڅ کې تګ پیل کړ او پرته له کوم مزاحمت څخه تر یو کلي پورې چې قره باغ ته څېرمه و، ورســېدلو. دلته ډزې پیل شــوې او موږ د سهار تر درې بجو پورې په جګړه مخ ته روان وو، خو دغه مهال زموږ خوځښت دښــمن ته ښکاره شــو او دوی هره دقیقه په ګڼ شمېر تر موږ چاپېرېدل. سړک د قره باغ په منځ کې تېر شوی و او په دواړو خواوو کې یې دېوالونه او انګورباغونه وو چې افغانانو په کې لیکې جوړې کړې وې. دوی ډېرې مرګونې او پرله پسې ډزې راباندې وکړې. یو شمېر مړه شوو او بلاخره بشپړه ماته راکړل شــوه. د انګورو د یو باغ ور د ســړک یوې غاړې ته وتلی و او زه له همدغه وره څخه باغ ته په منډه د ننه شــوم. یو افغان مې جامو ته لاس واچولو چې ما ونیسي، خو ځان مې ترې خلاص کړ او بیا مې منډه کړې او دې ته مې پام و چې دان پور مې باید راسره وي. زما په چانته کې یوازې پنځه ګولۍ پاتې وې.

کله چې انګرېزي اډې ته نږدې کېده، موتي رام پوه شـو چې د افغان کلابند کوونکو په منځ کې روان دی. «زه سـمدلاسـه پوه شـوم چې نور نو د تېښتې ټولې هیلې لاړې. ما په خپل کمربند کې سل روپۍ لرلې چې د شاه په چوپړ کې مې ټولې کړې وې. دغه پیسـې مې خښـې کړې او یوه تیږه مې په دې موخه ورباندې کېښـودله چې بیا یې پیدا کړی شـم. ورپسـې کرار کښـېناسـتم او دې ته تم وم چې څه به پېښ شـي. لنډه شـېبه وروسـته، د اسـوالو یوه ډله چې شـمېر یې څه ناڅه ۲۵ کســانو ته رسـېده، دغه ځای ته چې زه په کې ناســت وم نږدې شــول. ځینو یې له ښــو او ځینو له اوږو ونیولم.»[73] افغانانو درې ځلې هڅه وکړه چې په خپله د موتي رام په ټوپک نوموړی وولي، خو ټوپک به بند شــو. حوالدار ورته وویل چې مسـلمان دی او دا به د خدای رضـا نه وي چې ووژل شـي. بیا ورڅخه وغوښـتل شـول چې کلیمه ووایي، او ده وویله.

ورپســې زما له ســتوني څخه توره لیرې کړل شــوه او دوی [خپل مشــر] بهاوالدین ته بوتلم. زما کوټ، پتلون، د ورېښــمو دســمال، تومانچه، بوټ او ځینې نور توکي یې واخیســتل او یوازې یوه جوړه پای جامه یې راته پرېښــوده. د کلي خلکو په دومداره توګه په مرګ ګواښـلم، خو په پای کې بهاوالدین ازاد کړم. زه به دوه میله نه وم تللی چې د سـړک پر غاړه یوه سـړي چې یویې یې کوله ودرولم. نوموړي په مرګ وګواښـلم که چېرې زه یوېې ورته ونه کړم. کله چې زه له ده سـره وم، هره شـېه به ډېر کړېدم - هوا ډېره سـړه وه، او ما پرته له خپلې چوخې څخه بل څه نه لرل چې پر ځان یې واچوم. زه د ورځې بام ته وختم او ما ته داسې څرګنده شـوه چې که له مک• څخه څو خښتې لیرې کړم، کېدای شي چې څوک مې ونه ویني او وتښـتېدلی شم. ټوله شپه مې همداسې وکړل او وتښـتېدم.

خو تېښـته یې بیا بریالۍ نه شـوه.«زه ښـکته د جلال اباد سـړک په لور څه نا څه لس میله لاړم چې د یوه سـردار زوی چې پلار یې په کابل کې جګړه کوله، په ما پســې څو اســوال راولېږل چې ما ده ته بوځي. د کلي ټول خلک، زاړه او ځوانان، ښـځې او نر راغونډ شول او داسې چیغې یې وهلې: «کافر یا پرنګی: مړ یې کړئ، مړ یې کړئ.» خو دغه ځوان مشر له اخ وډب څخه وسـاتلم او راته ویې ویل چې اس یې بورس کړم. نوموړي په دوامداره توګه په یوه تلسکوپ کې د کابل په لور کتل او ویې ویل چې پلار ته یې دغه تلسکوپ سېر الکساندر برنز ډالۍ ورکړی و.»[74]

---

•خړیس: غټ او بې کچې مزی سړی

• مک: دودکش

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نومبر په شـلمه د مخالفينو ډزې ناڅاپه ودرېدې او درې ورځې پر اډه باندې ډزې ونه شـوې. د نومبر د درویشـتم په سـهار څرګنده شـوه چې مخالفينو دغه درې ورځې د مهماتو او باروتو په جوړولو تېرې کړې وې. په دغه سـهار له لمر ختو څخه مخکې، د میرمسـجدي تر قوماندې لاندې ګڼ شـمېر کوهسـتانيان له اډې څخه پاس غونډیو ته وختل، خندقونه او سـنګرونه يې وکيندل او په بې بې مهرو کې يې د انګرېزانو خوراکي اکمالات په بشـپړه توګه ودرول. ورپسـې يې په توپونو د اډې بمباري پيل کړه. شلټن سمدستي ورولېږل شو چې د ساحې د پاکولو هڅه وکړي.

میرزا عطا ليکلي: «د توپونو ډزو داسې درزاری کولو لکه تندر. غازي عبدالله خان اڅکزي د درنې جګړې غږ واورېد او په بيړه يې په بې بي مهرو کې جهادیانو ته مرستندویه قوه ولېږله: دوی انګرېزي عسکر د خپلو اسونو تر کوښـو لاندې کړل. انګرېزان يې په خپلو تېرو تورو ووژل. بيا يې انګرېزي توپونه ونيول، د الله اکبر نارې يې وهلې او پر انګرېزانو يې يرغل وکړ.»

د اسـوالو پر وړاندې د دفاع په موخه، شـلټن د غونډۍ په سـر کې له خپلې پلې قوا څخه دوه مربعې جوړې کړې. دا د يرغل پر وړاندې انګرېزي دفاعي ستندرد و چې په واټرلو کې د ناپليون د نېزه وهونکو اسوالو پر ضد ډېر اغېزمن و، خو په افغانسـتان کې دا يو له مصيبت څخه ډک تکتيک ثابت شـو. افغانان شـا ته شـول او د تورټوپک نښې ويشـتونکي رامخته شـول. دوی د کمرونو او ډبرو تر شـا له خپلو مرچلو څخه په ګڼو انګرېزي ليکو ډزې پيل کړې په داسـې حال کې چې د انګرېزي دان پوړ ټوپکو ګولۍ دوی ته نه شـوای رسـېدی. انګرېزان په اسـانۍ نښـه کېدل ځکه دوی د روښـانه سـره يونيفورم داسې يوه جامده کتله وه چې څو سـاعته هېڅ نه خوځېده او سـيوری يې پر موږه اچولی و: له انګرېزي قوا سـره د تعميراتي چارو سـل عسـکر مل وو«چې له تورټوپکو څخه زموږ د عسـکرو د بشـپړې سـاتنې او عسـکرو ته د خونيتوب د احسـاس ورکولو په موخه خندقونه او سـنګرونه وکيندي... خو داسې دفاعي خندقونه جوړ نه شـول.»[۷۵]

نو عسـکر د غونډۍ پر سـر ښـه په نښـه کېدل او ليکې به يې يوه په بله پسې په ځمکه غورځېدې. شـلټن تر ډزو لاندې کلک درېدلی و او هېڅ نـه خوځېده. په حيرانوونکې توګه زړور خو په مرګونې توګه په نوښـــت کې ډېر پڅ، ظاهراً نـه پوهېدو چې د خپلې لوا د تباهۍ په ځواب کې څه وکړي.

د دوی مصيبت هغه وخت لا ډېر شـو کله يې چې يو توپ دومره ګرم شـو چې اوس يې د افغانانو د تورټوپکو په ځواب کې نه شـوای کارولی. يو له ټپيانو څخه وېنسـنټ ايير و چې ګولۍ يې تر کيڼ لاس تېره شـوې وه چې «د اوس له پاره يې زما خدمت پای ته ورسولو»، او کالن مکنزي په کينه اوږه کې پر ګولۍ ټپي شو. وروسته مکنزي ليکلي:

د مربعې يوه خوا درې ځلې له سـره جوړه شـوه ځکه چې مخکنۍ ليکې په بشـپړ ډول تباه کړل شـوې. زموږ مهمات کابو خلاص شـول. ماسپښين په يوه بجه عسکر د تندې او ستړيا له کبله کمزوري شوي وو، خو اوبو ته لاس رسی نه و او د مرګ ژوبلې شمېر هره شېبه ډېرېده. ما شـلټن وډومارو چې د شـاتګ امر وکړي، خو په ځواب کې يې راته وويل: «اه، نه. موږ به غونډۍ د اوس له پاره نه پرېږدو.» کله چې شـلټن د شـاتګ وړانديز ونه مانه، ډګروال الېور Olive چې يو هډور او پلونډ سـړی و، وويل چې حتمي پايله به اډې ته يوه ډله ييزه تېښـته وي. لکه څنګه چې نوموړی په خوځښـت کې ډېر سـوکه و، دا يې غوره وګڼل چې هر څومره ژر ټپي شـي، همدومره به بهتره وي؛ نو د دښمن ډزو ته يې ځان برابر کړ او مرګونی ټپي شو.[۷۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمن سېل او پاتې نورو کسانو د اډې له بامونو څخه په وېره او حيرانتيا د جګړې ننداره کوله – «ما له بام څخه د جګړې ډګر سم ليدلی شوای. له دوامداره ګوليو څخه مې چې زما له څنګه په سغاري تېرېدې، د مګ تر شا ځان نيولی و.» د عبدالله خان په مشرۍ اوس د غازيانو يوه لويه ډله پر يو پټ کندو د مربعو په لور په خاپوړو راپورته شوه. دوی د انګرېزي پلې قوا له سترګو پنا وو، خو مېرمن سېل ته واضح ښکارېدل.[۷۷] څو شېبې وروسته را پورته شول او پر سره رنګه کوټوالو يې ورمنډه کړې. د تاريخ سلطاني پر بنسټ: «عبدالله خان اڅکزي چې په زړورتيا کې نوم درلورد او د همدغه سهار په لمانځه کې يې ځان‌ته د شهادت دعا کړې وه، ناره کړه: «دالله په فضل، بريا بې اړنګه نږدې ده!» او له خپلې ډلې سره يې لکه يو ځاځناک زمری يا لکه د معطره مرغې يو لوی مار بريد پيل کړ. ده د انګرېزانو توپ ونيو او پلې عسکر يې خواره واره او شاته وتمبول. انګرېز عسکرو د دغه بريد پر وړاندې مقاومت ونه شوای کړی، نو مخونه يې واړول او وتښتېدل.»[۷۸]

په څو دقيقو کې تر ټولو نږدې مربع ماته شوه او افغانانو د نيول شوي توپ په کش کولو پيل وکړ. مېرمن سېل ليکلي: «دا هغه صحنو ته ورته وه لکه په صليبي جګړو کې چې کارل شوې دي. دښمن زموږ په عسکرو پسې مخ پر وړاندې داسې روان و لکه يو لېوه چې د پسونو رمه په منډو کړې وي. کله چې دوی زموږ توپ نيولو، زموږ توپچيان لکه اتلان وجنګېدل. د توپ له څنګ سره دوه توپچيان ووژل شول. بريدمل مولهل Mullhal درې ځايه ټپي شو. خوارکی لېنګ Laing په داسې حال کې وويشتل شو چې توره يې د توپ په سر خوځوله او عسکر يې په اوچت غږ ستايل. دا يوه اندېښمنه او ډاروونکې صحنه وه چې زموږ زړونه يې په درزاري کړل.»[۷۹]

خو شلټن وتوانېد چې خپله يوه مربع له زيانمنېدو څخه وساتي او خپل بېګل وال ته يې امر وکړ چې د تيارسۍ بېګل وغږوي. بيا يې د برچو ځواب بريد پيل کړ، توپ يې بېرته ونيو او دواړه، مېرمسجدي او د مخالفينو پوځي قوماندان عبدالله خان اڅکزی يې ووژل. سلطان محمد خان دراني ليکلي: «د غازي مړينې هر مسلمان او په خاصه توګه د قبيلې غړي يې په وير کې پرېښودل. که غازي خپل ژوند له لاسه نه وی ورکړی؛ نو ده به په همغه ورځ انګرېزي اډه نيولې وی.»[۸۰]

د يوه وخت له پاره داسې برېښېدل چې انګرېزان اوس برلاسي وو، خو کله چې افغانان شا ته شول او د مربعو پاتې عسکر بيا راغونډ شول، تورټوپک نښه ويشتونکو بيا ډزې پيل کړې او د سپاهيانو د لا ډېرو ليکو پر ځمکه غورځېدل پيل شول. جورج لارنس چې د اډې له دېوالونو څخه يې په وېره ننداره کوله، ليکلي: «له جنرال څخه په ټينګار او اندېښمنه بڼه غوښتنه وشوه چې له پرېکنده فرصت څخه ګټه واخلي او پر دښمن يرغل وکړي، خو د کومې ناڅرګندې وجې له امله، هېڅ شي ونه شوای کړی چې نوموړی له غونډۍ څخه وخوځوي.»[۸۱]

بيا د ياغي تورزنو دويمه ډله چې د وروستي يرغل له پاره چمتو وه، په پټ کندو کې راغونډه شوه. دا ځل ټولو عسکرو ليکې ماتې کړې او په داسې حال کې دوی اډې ته وتښتېدل چې افغان اسوال ورپسې وو. جورج لارنس يادونه کړې:

ټول نظم په ختمېدو و. ما له خپلې تانې څخه مخ په تېښته عسکر ليدل چې په چټکۍ دښمنان ورپسې او پر دوی ور ګډ وو او له هر لوري يې په ګڼ شمېر وژل. دغه صحنه دومره وېروونکې وه چې زه يې هېڅ کله هېرولی نه شم. عسکر په تېښته اډې ته په ننوتو وو او موږ پوره باور درلود چې افغانان به په دوی پسې اډې ته ننوځي، خو له نېکه مرغه او چې هېڅ تمه يې نه کېده، افغان اسوال ناڅاپه بېرته خواته وګرځېدل. موږ وروسته پوه شوو چې د دوی قومانده عثمان خان بارکزي کوله. نوموړی يو له هغه مشرانو څخه و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له سېر ویلیم مېکناټن سره په اړیکه کې و، خو څوک د هغه شپې د وېرې او زمورړ د لړیکې انځور کاږلی شي ځکه چې مورړ د حتمي مرګ احساس وکړ؟ په یقین سره، هېڅ شی زمورړ د عسکرو چلند توجېه کولی نه شي، خو د برید جنرال بشپړه ناتواني، په بې پروایي د غونډۍ په سر کې په ساعتونو د خپلو عسکرو درونه، او په سرتمبګی په ټوله ورځ کې له یو شمېر فرصتونو څخه، لکه د دښمن لندمهاله تېښته چې بېرته ځان تنظیم کړي، نه کار اخیستنه هېڅ د توجېه ور نه دي - د نوموړي بریا د عسکرو کمزوري کول وو، هغه عسکر چې په داسې یو مشر بې باور بایلود چې د قوماندې ورتیا یې نه لرله.[۸۲]

په جګړه کې دا د بدلون ورځ وه. دغه ورځ له مصیبت څخه ډکه وه. له ۱۱۰۰ کسانو څخه چې سهار له شلټن سره ستانه شول، ۳۰۰ یې ووژل شول او په داسې حال کې چې ښځو او بچیانو یې د غونډۍ په ببځ کی بې اسرې ورته کتل، د پرېښودل شوو ټپیانو کولې وایستل شوې. ډېر نور چې لاره یې ونیول شوه او وېې نه کړای شول چې اډې ته ځان ورسوي، یاغیانو لټول چې وېې نیسي. فیض محمد لیکلي: «هغه پوځیان چې له جګړې څخه ژوندي پاتې شول او د اډې په لور یې تېښته وکړه، لاره ترې ورکه شوه، نو هڅه یې وکړه چې په وړو نا اشنا لارو او چاک او چولو کې پټ شي. دوی یو په بل پسې راغونډ کړل او ووژل شول.هر هغه کنټرول چې ښایي انګرېزانو پر پېښو درلود، د دغه ورځې مصیبت ترې واخیست او دوی په حقیقت کې بې اسرې پاتې شول.»[۸۳]

رښتیا همداسې وو. انګرېزانو وروسته له دې بیا هېڅ د کوم نوښت هڅه ونه کړه. مکنزي لیکلي: «د شلټن نه ورتیا د افسرانو اتل ولې شنډه کړه. دوی روحیه بایللې وه او دسپلین یې کابو له منځه تللی و.»[۸۴] اییر په دې اړه له مکنزي سره همغږی و او په همدغه ماښام یې په خپله یادلیکچه کې لیکلي: «حتی هغه افسرانو چې تر اوسه یې په خپله ګټه د پېښو د بدلون هیلې درلودې، اوس یې زمورړ د راتلونکي برخلیک په اړه غمجنې اندېښنې لرلې. زمورړ قوا یوې داسې بېړۍ ته ورته وه چې د تېرو او د کبانو د ګلو تر منځ د ټوټې ټوټې کېدو په خطر کې وه ځکه چې یو تکړه مانو نه و چې په خوندي توګه یې د تېرو له منځ څخه تېره کړي. حتی اوس هم که د وضعیت اشتېرېنګ یو ور لاس ونیسي، کېدای شي مورړ له ورانی څخه وژغورل شو، خو د داسې کس په نه شتون کې، دا واضح او څرګنده ده چې یوازې خدای مو ژغورلی شي.»[۸۵]

په همدغه شپه بد خبرونه اډې ته لا را روان وو. د ښه راغلاست جوپه یېره ډوزو د اکبرخان رارسېدل په ډاګه کړل. نوموړی د دوست محمد تر ټولو ننګیالی او له پوځي اړخه تر ټولو اغېزمن زوی وو چې لږه شېبه مخکې د مېرولي ازبک له ۶۰۰۰ اسوالو سره راورسېد او سمدلاسه یې د مقاومت چارې په غاړه واخیستې.

اکبرخان لمړی څو ورځې د ده په اړه د خلکو په ستاینو او لیدو باندې تېرې کړې. مولانا کشمیري لیکلي:«د ده راتګ داسې و لکه پسرلی چه بڼ ته ژوند ورکړي.»

ټول مشران او اشرافیان د درناوي له پاره راغلل

نران او ښځې، ځوانان او زاړه ورته په دعا راووتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ورته وویل، اې زمونږ ټولو ساتونکیه
زمونږ پناه او اصل او اساسه، زمونږ دفاع کوونکیه
داسې په اوچت اواز د دعاوو ترانه له څمکې پورته شوه
چې په جنت کې له عیسې څخه وپوښتل شول چې دا شور د څه دی[۸۶]

اکبر ډېر ژر خپل ځان هغســې دښــمن ثابت کړ لکه انګرېزانو یې چې په اړه وېره درلوده. د څو ورځو په ترڅ کې یې په ملږي ځل پر اډه باندې په اغېزمن بندیز لګولو د پاڅون بنه بدله کړه. ټولو څېرمه کلیو ته یې ملایان ولېږل چې بزګران پر انګرېزانو باندې د اکمالاتي توکو له پلورلو منع کړي.[۸۷] شا ته پراته کلي ونیول شول او جنګیالي په کې ځای پر ځای شــول. د کلیو ملکان په ســملاســې مرګ وګواښــل شــول که دوی حتی یوه بوری غله او یا واښــه پر پرنګیانو وپلورل. د کابل سیند پر سـر نوی له لرګیو جوړ شـوی پل چې اډه یې د بالاحصـار او جلال اباد له واټ سـره نښـلوله، وسـوځول شـو. مېکناټن په غوسه و چې د پله د ویجاړونې په مخنیوي کې اډې هېڅ هڅه ونه کړه او دوی یوازې د سنج تر شا کرار ننداره کوله که څه هم هغه افغانانو ته چې د پله په ورانی کې ښــکېل وو، په اســانی د ټوپک ګولی ور رســېدې. لکه څنګه چې دوه شـاهي پلوه مخکښـه مشـران د بي بي مهرو په لوړو کې وژل شـوي وو، مخکنی د قوماندې څه ناڅه ماته مشـرتابه بېرته په کلکه یو موټی او د اکبرخان او د ده د بارکزیو تر شـا ودرېده. ګرومجن مېکناټن لیکلي: «دا په بشـپړه توګه عجیبه ده چې [مخالفین] خپل یووالی ساتي.»[۸۸]
له وزیراکبر خان سـره د غلزیو د یو واکمن مشـر، محمد شـاه خان د لور واده د مقاومت قومي جوړښـت بدل کړ. په داسـې حال کې چې عبدالله خان اڅکزی مړ شــو او د میر مســجدي له مړینې څخه وروســته، کوهســتاني تاجک په ډېرېدونکې توګه څندې ته شــول او ډېری پلویان یې له جنازې ســره لاړل چې خپل پیر ښــخ کړي، اوس ســاده خو نه ماتېدونکي غلزیو په پاڅون کې ډېر واک درلود. دوی خپله اډه د ښـار له دېوالونو څخه لږ وتلې د محمدخان په کلا کې جوړه کړه او دا دوی وو چې اوس یې په ډېرېدونکې توګه په غونډیو کې چې تر چوپې او وېرېدلې اډې چاپېر وې، د لیکو کړی ډکې کړې وې. دلته د بارکزیو ځواکونو چې د غونډۍ په لمن، شاه باغ کې یې اډه جوړه کړې وه، د دوی ملاتړ کولو. د اډې د دېوالونو د ننه، فشـــار ډېر شـــدید شـــو ځکه چې د واورې ســـاړه توپان او لوږې مورال نور هم ټیټ کړی و. اسـونه دومره وږي وو چې د کېږدیو مړوي یې ژوول او خپل خوشـایه یې څو ځلي خوړل. مېرمن سـېل یو وږی اس ولید چې د بل اس لکۍ یې په غاښـو ترې غوڅه او په چټکۍ وخوړله په داسې حال کې چې د هغې خپلې اسـې د کراچۍ عرابه په غاښـونو شـکوله. لکه ډېر نور افغانان، میرزا عطا د دغه یو وخت اډمارو• انګرېزانو له سـپکاوي او ناخوالو څخه خوند اخیسـت: «اوس دومره واوره وورېده چې انګرېز عسـکر چې هېڅ کله یې د خراسـان واوره نه وه لېدلې، داسې ویلې کېږي لکه له واوری جوړ شـوي سړي. ډېر یې له لوږې مړه شـول، نورو یې د بار اوښـان او غوایه ووژل چې مسلمانان یې غوښــه او هندوان یې پوســتکي وخوري! په دغه ســختو حالاتو کې، لکه د دوزخ په تر ټولو ټیټ پوړ کې، ټول مذهبي مناسـک او نا رواوې هېرې شـوې.»[۸۹] د کمپ ملکي کسـانو چې مړه اسـونو او اوښـانو ته یې لاس رسـی نه درلود، لیدل کېدل چې د کوڅو بې څښتنه سپي وریت او سیخ کباب کوي.

• اډمار: مغرور، کبرجن، له خپل ځان څخه خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبرخان له یوه اوږده کال ربړوونکي بند څخه وروسته، یوازې یوه میاشت مخکې په بخارا کې د زندان له ډوغل څخه ازاد کړل شوی و. د مولانا کشمیري په قول، لږه موده مخکې چې له زندان څخه ازاد شي، اکبرخان یو صوفي بزرګ په خوب کې لیدلی و او ده ته یې وویل چې خپله لونګۍ پر سر کړي، توره پر ملا وتړي او لاړ شي چې خپل هېواد وساتي، هغه هېواد چې ده ته خدای ورکړی.[۹۰] میرزا عطا چې دغه بارکزی وارث یې ډېر خوښ شوی و، د نوموړي له پلویانو څخه یې د کیسې دغه بڼه اورېدلې: «د بخارا اشرافي ښار علما، حاکم ناصرالدوله ته لاړل او د سردار محمداکبر خان او د ده د ملګرو د ازادولو شفاعت یې وکړ. د کابل مشرانو اکبر ته د ښه راغلاست لیک ولېږه او د ده په ازادۍ یې خپله خوښي څرګنده کړه. همدا راز یې په لیک کې زیاته کړې وه چې له وروستیو جګړو څخه راپه دېخوا انګرېز پوځ خورا کمزوری شوی او د مقاومت توان نه دی ورپاتې؛ نو د سردار راتګ ډېر په نېکمرغه وخت کې دی: اوس هغه وخت را رسېدلی چې د خپل پلار، د بې جوړې امیر!، غچ واخلي.» اکبر خان نېغ کابل ته لاړ او هلته مشرانو او نورو د پام وړ خلکو ده ته د انګرېزانو د بې عدالتۍ په اړه خبرې وکړې او له ده څخه یې د عدالت غوښتنه وکړه. وروسته بیا سردار په یو لیک کې له مېکناټن څخه د لیدو غوښتنه وکړه؛ نو د دوی د لیدنې تابیا ونیول شوه:

سبا ته سردار محمد اکبر خان او د ده څو د اعتبار وړ ملګري له کابل څخه ټاکلي ځای ته پر اسونو لاړل. په همدې توګه مېکناټن هم له اډې څخه دغه ځای ته ورسېد. دوی د زړه له تله یو بل ته غېږې ورکړې او د خصوصي خبرو له پاره ګوښه شول. یوازې دومره په دې اړه راپور ورکړل شوی چې سردار، انګرېز استازي ته وویل چې نور په کابل کې د ده پاتې کېدل مناسب نه دي او نوموړی باید خپل یو افسر د برمته په ډول ده ته تسلیم کړي او دوی باید د هند په لور وخوځېږي. کله چې د سردار دروند پلار، بې جوړې امیر، د انګرېزانو له توقیف څخه خلاص او خراسان ته راوګرځېد، بیا به دغه برمته انګرېز په عزت ازاد کړل شي.
مېکناټن هوکړه وکړه او دغه هوکړه لیکلې بڼې ته راوړل شوه. ټول انګرېزان په دې باور وو چې له دغې هوکړې وروسته به نوره جګړه نه وي.[۹۱]

خو حقیقت لږ ډېر پېچلی و. د موهن لال په وسیله چې په ښار کې فعال پاتې و، مېکناټن د پاڅون له پیل څخه د مخالفینو له یو شمېر قوماندانانو سره په اړیکه کې و او د څو اونیو راپه دېخوا یې د پوځي ملاتړ د پېرودو شونتیا لټوله چې د افغان پوځي ډلو ترمنځ بېلتون راولي او یا له هېواد څخه انګرېزانو ته یوه عزتمنه وتنه برابره کړي. د شلټن له سختې ماتې څخه دوه ورځې وروسته، استازي د افغان مخالفینو له یو پلاوي سره چې د انګرېزانو بې قید او شرطه تسلیمي یې غوښتله، وکتل. مېکناټن په یوه نوټ کې چې د نوموړي له مرګ وروسته یې پر مېز پیدا شو، داسې لیکلي:

زما په نوښت، په پنځه ویشتمه نېټه د مخالفینو یو پلاوی اډې ته راولېږل شو او ماته یې له هېواد څخه په سوله ییزه بڼه زموږ د وتنې پر بنسټ مقدماتي سرېزه وسپارله. ما دوی ته یوازې د هغو شرطونو وړاندیز وکړ چې زما په اند په درناوي به ومنل شي. سبا ته، دوی ما ته د مخالفت لیک راولېږه چې که موږ خپلې وسلې ور تسلیم نه کړو او اعلحضرت خپل برخلیک ته پرې نږدو، نو سملاسي به له جګړو سره مخ شو. دغه لیک ته ما په ځواب کې ولیکل چې موږ د ژمنې د ماتولو په پرتله مرګ غوره ګڼو او لوی څښتن به زموږ دواړو خواوو په اړه پرېکړه کوي.[۹۲]

مېکناټن چې اکبرخان ته یې د شجاع او د ده د کورنۍ تسلیمول ونه منل او اړیکې یې وشلولې، انګرېزانو د لوړې او اندېښنې غځېدل غږنتیا دوه نورې اونۍ تېرې کړې. مېکناټن اوس خپله ستراتیژي پر یوه پیکه هیله تړله چې له جلال اباد، غزني او یا کندهار څخه به یوه مرستندویه قوه د اډې د ټېټ مورال پوځ وژغوري. نوموړي په وار وار له مکګرېګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه چې په جلال اباد کې د سېل د غونډ سیاسي افسر و، د مرستې غوښتنه وکړه: «یو درجن لیکونه ولیکل شول چې په کې د سېل له غونډ سره کابل ته ستاسې د سملاسي راتګ غوښتنې وشوې. که چېرې تاسې تر اوسه راتګ نه وي پیل کړی ، زه د زړه له تله درته زاری کوم چې همدغه شېبه راروان شئ. زموږ حالت ډېر نازک دی، خو ستاسې په مرسته به موږ ټول په ښه توګه مخ ته لاړ شو؛ نو که چېرې زموږ ژوند او زموږ د هېواد عزت درته ارزښت لري، باید مرسته راسره وکړئ.»[۹۳] خو وروستنی ځری چې د خردکابل له غاښې تېر شو، د داسې پیغام سره راغی چې په جلال اباد کې سېل په خپله کلابند دی او د خپل پوځ د شمېر په پرتله له ګڼ شمېر مخالفینو سره مخ دی؛ نو له کابل سره د مرستې توان نه لري. نوموړي دا راپور هم ورکړ چې خیبر له لاسه تللی؛ نو له پېښوره د ممکنه مرستندویه ځواک لاره هم بنده شوې ده. د ډسمبر په اوومه کله چې درنې واورې لاره بنده کړه، له کندهاره د مرستندوی ځواک راتګ لږ تر لږه تر پسرلیه د واورې تر ویلې کېدو پورې ناشونی برېښېده. د انګرېزانو وروستی اړه چې په غزني کې وه هم کلابنده شوې وه او په کابل کې یې د خپلو وطنوالو د مرستې توان نه درلود.[۹۴] اوس چې یوازې د یوې ورځې خوراکي توکي پاتې وو، هېڅ کومه هیله نه وه پاتې. لوږه را نږدې کېده او پوځي مشرتابه فلج پاتې و. دواړه الفنسټون او شلټن په ناهیلیو کې ډوب وو. مات او وړي عسکر د بغاوت په مورګه وو. د افغان مقاومت شمېر اوس ۵۰۰۰۰ ته رسېده چې د انګرېزانو په پرتله پنځه برابره ډېر و.

د ټولو دغه لړیکو او اندېښنو پایله د ډسمبر د اتمې په ماښام د انګرېزي قوماندانانو یوه بېړنۍ غونډه وه. په دغه وخت کې الفنسټون، شلټن او مېکناټن له یو بل سره د ناراضتیا له کبله ډېرې لږ خبرې کولې او د ماشوم په څېر چیغې وهونکی شلټن په ځانګړې توګه د مېکناټن په اړه له سپکاوي ځخه ډک و: «زه یې په ملنډو سپکوم، زه غواړم چې سپک یې کړم.»[۹۵] د جګړې په شورا کې نوموړی په ښکاره د جنرال په وړاندې لړاک و. پرغولي یې برستن تر ځان تاو کړې وه او کله کله به چې د څه په اړه د ده نظر وغوښتل شو، ځواب به یې اوچت خرېدل وو.

په دغه غونډه کې الفنسټون هغه لیک ولیکه چې مېکناټن ورڅخه غوښتی و. نوموړي په رسمي توګه د تسلیمۍ د خبرو اترو د پیلولو مسولیت په خپله غاړه واخیست. په لیک کې یې داسې لیکلي وو:

د کلابندۍ پر وړاندې د دربېو اونیو له مقاومت وروسته، د خوراکي توکو او ښو نه شتون، زموږ د عسکرو بد وضعیت، د ټپیانو او ناروغانو ګڼ شمېر، د لوېې او بد موقعیته اډې په دفاع کې ستونزې، د ژمي راتګ، د اړیکو شلېدل، د مرستندویه قوې د راتګ ناشونتیا او زموږ پر ضد د ټول هېواد د وسلوال کېدو پر بنسټ، زه په دې اند یم چې نور په دغه ځای کې خپله دفاع شونې نه ده او ته باید د خبرو له وړاندیز ځخه چې تا ته شوی کار واخلې.[۹۶]

نورو افسرانو هم په رسمي توګه د انګرېزانو له اډې ځخه دفاع ناشونې وبلله «خپل بې اړنګه او پرېکنده نظر یې ورکړ چې عسکر په خپل اوسني حالت کې د نورو پوځي عملیاتو توان نه لري؛ نو هندوستان ته د خوندي شاتګ په موخه د خبرو اترو له پاره باید هېڅ وخت ضایع نه شي، خو دلته شاه شجاع او د نوموړي ګټو ته هېڅ اشاره نه وه شوې ځکه چې د دوی لمړنۍ دنده په اډه کې د دوی تر قوماندې لاندې د انګرېزي عسکرو د عزت او سوکالۍ برابرول وو.»[۹۷] د پوځ چمتووالی چې شجاع یوازې پرېږدي، انګرېزانو ته د نوموړي له بې ساري وفادارۍ سره نېغ په ټکر کې و حال دا چې د مخالفینو له خوا ډېر هڅوونکي وړاندیزونه ورته وشول چې خپل ناګرانه کافر متحدین پرېږدي. مېکناټن په وار وار خبرداری ورکړ چې د شجاع یوازې پرېښودل به انګرېزانو ته «تل پاتې بدنامي» پرېږدي، خو چا پام ورته ونه کړ او امر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وشـــو چې له اکبرخان ســـره وګوري چې په کومو شـــرطونو له افغانســـتان څخه د انګرېزانو د ســـمدســـتي وتنې خونديتوب تضمين کېدای شي.

د دغه دواړو تر منځ لمړنۍ ليدنه د کابل سـيند پر کنګل شـوې غاړه د سـوځېدلي پله د سـکرو له پاتې شـونو څخه لږ وړاندې ترسـره شـوه. له مېکناټن سـره لارنس، ټرور او مکنزي مل وو. اکبر د مخالفينو ټول مخکښ مشـران له ځان سـره راوسـتلي وو.[۹۸] مېکناټن، لکه څنګه چې د ده ځانګړتياوې وې، له صـداقت څخه ليرې د خپل ځان په برحق ښودنه يې سريزه چې په روانه درباري پارسي يې لوستله، پيل کړه: «لکه څنګه چې له وروستيو پېښو څرګنده شوه چې د شـاه شـجاع الملک د ملاتړ له پاره په افغانسـتان کې د انګرېزي پوځ شـتون افغان ملت ډېری ناراضـه کړي او لکه څنګه چې انګرېز دولت پرته د افغانانو له وحدت، خوشـحالۍ او سـوکالۍ څخه بله موخه نه لري؛ نو چې شـتون يې د موخې د مخنيوي وجه ګرځي، دوی د پاتې کېدو هيله نه لري.» ورپســې د مېکناټن د تړون د مســودې غوښــنه برخه راورسـېده: «لمړی؛ په کابل کې به انګرېز عسـکر پېښـور او بيا هند ته په بشـپړه عملي شـونتيا سـره ژر سـتنېږي. دوهم؛ سـرداران به له انګرېزانو سـره په خوراکي اکمالاتو او ترانسـپورت کې مرسـته کوي او دا به تضـمينوي چې انګرېزي عسکرو ته به د لارې په اوږدو کې زيان نه رسېږي او له دوی سره به په عزت چلند کېږي.»[۹۹] مېکناټن په خپل نوټ کې ليکلي چې په دغه شېبه کې «اکبرخان مداخله وکړه او راته وېې ويل چې موږ اکمالاتو ته اړتيا نه لرو ځکه چې سبا سهار ته زموږ په تګ کې کوم خنډ نه شته. زه دا په دې موخه يادوم چې د دغه ځوان بې پامه احساساتي بڼه وښيم. نوموړی، نورو مشـرانو پرځای کښـېناوه او پرته له دغه مداخلې څخه يې نور چلند درووند و او په ښـکاره د خپل بخت ناڅاپه بدلون لوړ مقام ته رسولی و.»[۱۰۰]

دوه سـاعته وروسـته دوی هوکړې ته ورسـېدل. انګرېزان به درې ورځې وروسـته، د ډسـمبر په ۱۴ مه وځي او د دوی د خونديتوب تضـمين شـوی و. کپتان ټرور به د برمته په ډول دوی ته سـپارل کېږي، انګرېزان به له جلال اباد، غزني او کندهار څخه هم وځي، د لوړې بيانې په بدل کې ډوډی، غله او د ترانسـپورت څاروي به انګرېزانو ته لېږل کېږي چې په لاره کې ورسره مرسته وشي. شاه شجاع ته به په کابل کې د يوه عامه وګړي په توګه د پاتې کېدو او له انګرېزانو سره د تګ خوښـه ورکول کېږي. لمړی به له بالاحصار څخه پاتې شو انګرېز افسران وځي او ورپسې به بالاحصار اکبر خان ته سـپارل کېږي. په عين وخت کې به دوسـت محمد په لوديانې کې له نظربندۍ خلاص او خپل تخت ته به د بېرته راګرځېدو اجازه ورکول کېږي. افغانان به پرته د انګرېزانو له خوښـې، له بهرني قدرت سـره ائتلاف نه کوي او په بدل کې انګرېزانو ژمنه وکړه چې «انګرېز پوځ به افغان خاورې ته نه ننوځي مګر دا چې په خپله افغان مشـران ترې غوښـتنه وکړي.»

د مېکناټن په اند، د دغه شـرطونو منل دومره ښـه وو لکه په هغسې حالاتو کې چې ده يې تمه کوله، خو لکه تل ساده او د غلط قضـاوت څښـتن، اکلنډ ته يې وليکل: «موږ به له افغانانو څخه لکه ملګري روان شـو او زه خوښ يم چې له دې وروسته هر دولت چې جوړېږي، زموږ سره به د ښه پوهاوي ګروهنه ولري.»[۱۰۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه کس سره چې په دې اړه مشوره ونه شوه، شاه شجاع و - هغه سړی چې په نوم یې جگړه او اشغال پیل شو. د دغه هوکړې د شرطونو په اړه چې مېکناټن منلي وو، د شاه شجاع د غبرگون په هکله یوازینی بیان چې تراوسه پاتې دی، د نوموړي د ژوند لیکونکي، محمد حسین هراتي دی:

کله چې اعلحضرت ته د دغه هوکړې په هکله پټ راپور راغی، مېکناټن ته یې داسې ولیکل: «زه دې بېرته دغه هېواد ته یوازې د دې له پاره راوستم چې دښمن ته مې وروسپارې؟ ته لا تر اوسه د بارکزیو او د دغه هېواد د خلکو په بې ایمانی نه پوهېږې؟ پر دغه کساتي خلکو باندې د پیسو په شنلو سره، ته نه یوازې خپله بلکې زموږ مرینه او تباهي هم گړندی کوې! ایا دا معقول کار دی؟» مېکناټن په ځواب کې یوازې وویل: «اوس په دغه هوکړه کې د بدلون راوستلو له پاره ډېر ناوخته دی.» اعلحضرت ډېر خپه او له اندېښنو څخه ډک لکه د سیمابو مایع یو پر بله تلو، شپه او ورځ به یې لاسونه موښل او ویل به یې: «مېکناټن له سده وتلی - او د دې پایله به زموږ دواړو مرگ وي! »

مېکناټن په بالاحصار کې پاتې انگرېز عسکرو ته امر وکړ چې له بالاحصار څخه ووځي او اکبر خان ته یې پیغام ولېږه چې بالاحصار پرېښودل شو او دی کولی شي خپل سړي په کې ځای پر ځای کړي.
اکبرخان سـمدلاسـه ۲۰۰۰ تورټوپکوال ورولېږل. د کابل پاک اندو اوسېدونکو وېره درلوده او ویل یې : «که چېرې اکبرخان د بالاحصار کلا ونیسي، د شاه شجاع ښځینه، ماشومانو او پر ده پورې تړلي خلکو ته به څه پېښ شي!»

د ژر پېښېدونکي جنسي تېریو او لوټ په اړه اندېښنو اعلحضرت د خپگان په گرداوې کې ډوب کړی و، خو د بالاحصار ډېری اوسېدونکي پخواني کارکونکي وو چې په همدغه ودانۍ کې زېږدلي وو او همدا راز وفادار چوپړیالان وو چې د شاهي کورنۍ تر ساتنې او ملاتړ لاندې لوی شوي وو. دوی لږ ترلږه له ناچارۍ وار خطا نه کړ او سمدلاسه د انگرېزانو له وتلو څخه وروسته یې، په جرئت دروازې په ځان پسې وتړلې او د مخالفینو هغه عسکر یې ووژل چې کلا ته مخکې ننوتلي وو. د اکبر خان عسکر په ناهیلۍ شاتګ ته اړ شول.[۱۰۲]

د ده عسکرو دوه ځلې بیا د بالاحصار په اصلي دروازې د برید هڅه وکړه، خو د شاه شجاع کورني عسکرو چې انگرېزانو له پخوا څخه «یوه بېکاره د گړ بړ ډله» بلله، په بریالیتوب شاته وتمبول او سخته مرگ ژوبله یې ور واړوله. لارنس لیکلي : «موږ د ده [د شجاع] چټک غبرگون او زړورتیا په داسې کړکېچنه شېبه کې د ستاینې وړ بولو او د زړه له تله مې ارمان درلود چې زموږ خپلو مشرانو داسې سېکمنتیا او انرژي له ځانه ښودلې وای، هغه مشران چې لا تر اوسه داسې برېښېدل چې زموږ د عزت او خوندیتوب د تضمین توان یې نه درلود.»[۱۰۳]
په داسې حال کې چې انگرېزانو د شجاع خبرداریو ته پام ونه کړ او سرونه یې ټیټ کړل او تسلیم شول، په خپله شجاع په قوت پاتې شو او په بریالۍ توگه په بالاحصار کې تر هغه وخت پورې پاتې شو چې څو میاشتې وروسته په خپله خوښه د خپلې ښځې اکمال شوې کلا څخه د پسرلي په پیل کې ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې چې مېکناټن په پټه شاه شجاع قرباني کولو، لارډ اکلنډ په نابېره توګه تر يوې کچې د شجاع پخوانی سيال، دوست محمد د نڅا په يوه مېلمستيا کې خوشحاله ساتلو. د شېملې له «تازه او سپکمنوونکې» هوا څخه وروسته، د ايډن کورنۍ د کلکتې د اوړي تودې او نمجنې هوا حيرانه کړې وه. ايملي خپلې يوې ملګرې ته ليکلي: «مور له افغان سياست سره د خپلې مينې پام له ژوندي کبابېدو څخه د ځان ساتنې په اړه ورځنيو ستونزو ته واړولو. زه بايد ووايم چې مور دغه لوړې موخې ته له دې امله پام وګرځولو چې په دې دواړو کې يې ارزښت ډېر او ترلاسه کول يې هم ستونزمن دي؟...»[۱۰۴] ډېرې ګرمۍ د نوموړې او د دې د اند پخلی وکړ او اوس دا وخت را رسېدلی و چې دوی د اسيا له ربړو څخه په چټکۍ بېرته کېنزنګټن Kensington ته لاړ شي: «زمونږ جورج په هند کې ښه دنده ترسره کړه، که څنګه؟ ته پوهېږې چې دی زمونږ ډېر خوښېږي او درناوی ورته لرو، حتی د ګرمۍ په موسم کې چې ډېر د خندا وړ دی... اوس زما په اند ده ډېر څه وکړل او ښه به وي چې دی هم وطن ته لاړ شي، خو په وطن کې هېڅوک دې ته غوږ نه نيسي او د دغه مياشتې استونو زه بې اسرې کړې يم.»[۱۰۵]

خو دنده، دنده وه. د ملکې ويکتوريا د زېږندې په کليزه کې، د بنګال په خيشته او نمجنه جون مياشت کې، «په هند کې تر ټولو بده هوا چې تر اوسه حس شوې وه»، دغه خويندو د يوې مېلمستيا د جوړولو پرېکړه وکړه. له مېلمستيا څخه لږ وروسته ايملي ليکلي: «زمونږ د ملکې ميلمستيا ډېره له پرتم څخه ډکه وه، زه ډېره هېله منه يم چې دا به زمونږ وروستۍ مېلمستيا وي او ډېره خوشحاله يم چې ښه تېره شوه. ما خپلې د الماسو ګانې اچولې وې!» د مېلمستيا معظم مېلمه، چې ټولو ته له يوې خوا د حيرانتيا وړ او له بلې خوا د اکلنډ د بهرنۍ پاليسۍ د لوېې بريا ځرګندونه وه، په خپله امير و. ايملي زياتوي:

دوست محمد، زامنو او درباريانو يې زمونږ په مېلمستيا کې برخه اخيستې وه. دا لمړی ځل و چې نوموړي اروپايي مېرمنې په خپلو بې شرمو جامو کې وليدې، خو ده د نڅا ننداره ونه کړه - جورج بلې کوټې ته بوت. دی ډېر شاهي سړی دی او خپل نيمه بندي او نيمه ارزښتمن موقف په ډېره هوښياري تمثيلوي. ما له دوست محمد څخه غوښتنه وکړه چې د سطرنج لوبه وکړو څو جورج ته له مېلمه سره د ناستې لږ څه دمه ورکړم. مونږ پرله پسې لوبه وکړه او ما ته دا يوه بريا وه که چېرې د ځايي سطرنج لوبې توپير زمونږ د سطرنج لوبې سره په پام کې ونيسو. د لوبې په بهېر کې ده په دوامداره توګه نوي قوانين جوړول؛ نو که دی دوست نه وی، ما به دغه کار له نصاف څخه ليرې ګڼلی وی.[۱۰۶]

وروسته ايملي له خپل سطرنج ملګري څخه پوښتنه وکړه که چېرې اجازه ورکړل شي چې د ده او پلويانو يې يو انځور وکاږي. دوست محمد ومنله چې د نوموړي پنسل ته کښېني. خو وروسته، لکه دومره چې د کلکتې هوا هک پک کړې وه، په همدې کچه لوديانې ته د دوست محمد تګ، پرته له دې چې خبره يې کړې او انځور بشپړ کړي، حيرانه کړه. څه نا څه ځانځانکې ايملي خپلې خور ته په انګلنډ کې ليکلي: «ما د دوست محمد او د ده د کورنۍ انځور کاږلو، خو سهار د برو ولايتونو په لور روان شو حال دا چې يو وراره يې ما تر اوسه انځور کړی نه و. زه سهار په ډېره بيړه اوچته شوم او کالوېن له انګوټ څخه دغه هلک بېرته راوست او له سهارنۍ څخه مخکې مې مخ ته کښېناست چې انځور يې بشپړ کړم. دغه هلک ډېر د جوډيز ايسکريت Judas Iscariot انځور ته ورته و، خو ډېر ښه هلک و. که څه هم کالوېن سهارنۍ نه وه کړې، خو په پارسي يې په اشارو په زړه پورې خبرې کولې.»[۱۰۷]

وروسته له دې چې دوست محمد له کلکتې څخه لاړ، په افغانستان کې حالات په چټکۍ مخ په خرابېدو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه اونۍ وروسته خبر راورسېد چې په لندن کې محافظه کار حکومت تاکل شوی. اکلنډ چې په خپلو غوراوېو سوچ وکړ؛ نو د لوی والي له څوکۍ څخه یې استعفا غوره کړه. لارډ الېنبوره چې په پیل کې یې هغه یادښتونه ولیکل چې له کبله یې برنز لس کاله مخکې اباسین ته ولېږل شو، د اکلنډ ځای ناستی وګمارل شو.

یوه اونۍ وروسته، د برنز د وژنې او د لارډ اکلنډ د ټولې افغان ستراتیژۍ د چټکې ناکامۍ خبرونه بنګال ته د ډاګې په وسیله راورسېدل. لمړنی خبر چې د لوی والي ادارې ته ورسېد د جنرال سېل له خوا په یو استولي لیک کې و چې نوموړي درې اونۍ مخکې په جلال اباد کې لیکلی و. ده اکلنډ ته په کابل کې د لمړني مصیبت د ګنګوسو په اړه او همدا راز د خپلې کلابندۍ په هکله لیکلي وو. اکلنډ، اعلی سرقوماندان سېر جسپر نېکولز Sir Jesper Nicholls ته ولیکل: «اړینه نه ده چې درته ولیکم چې دغه استونې مې څومره ځوروي. دا ډېرو جدي او ژورو فرضیو ته لاره خلاصوي. زه به د خپل اند په اړه څه درته ونه وایم، خو پوښتنه دا ده چې څه باید وکړل شي؟»

ورپسې نوموړي بېلابېل غوراوي جوړ کړل، خو داسې ښکارېدل چې لکه په کابل کې د خپلو جنرالانو په څېر، دی هم د خواشینوونکو خبرونو لړۍ فلج کړی و او له پیل څخه یې د یو سملاسي پوځي ځواب د نظرېې مخالفت وکړ. نوموړي په دې اړه ولیکل: «زه سبا ته د یوې خاصې شورا د درلودو وړاندیز کوم، خو ماته څرګندېږي چې موږ باید داسې ځای ته د بیا نیولو په موخه د تازه دمې عسکرو په لېږلو فکر ونه کړو چې اوس مو ښایي له لاسه لاړ شي... زه وېره لرم چې په ټولیزه توګه د افغانانو ملي احساس پارېدلی دی.»[۱۰۸]

خو په حقیقت کې اکلنډ څو میاشتې مخکې پوه شوی و چې د ده ټوله افغان پالیسي یوه له ناورین څخه ډکه تېروتنه وه او ټول هندي دولت یې د دېوالیه توب• له خطر سره مخ کړی و. اوس چې مصیبت په ډېرېدو و او د نوموړي خزانه تشه وه، په دې کې یې هېڅ اړنګ نه درلود چې په دغه ټوله پروژه خط کش کړي او نورې سرچینې په دغه جګړه ونه لګوي ځکه چې په ښکاره له ناکامۍ سره مخ وه؛ نو شاه شجاع، مېکناټن او حتی د ده پخوانی د سیسی ښکار ملګری «الفي بې Elphy Bey» یې پرېښودل چې د دغه ګډوډۍ چاره په یوازېتوب په خپله وکړي. له کلکتې څخه هېڅ مرسته ور ونه لېږل شوه.

د ډسمبر په دویمه اونۍ په کابل کې ډېره واوره ووربده. وربځې له هندوکش څخه ښکته راغلې او سمدلاسه یې د ښار په شاوخوا کې ګردجنې او خړې غونډۍ سپینې او ځلانده کړې. د اډې پر بامونو پنډه واوره پرېوته او د کابل سیند کنګل شو. میرزا عطا لیکلي: «سردارانو او غازیانو ته واوره ستونزه نه وه ځکه چې دوی په کې عادت و، خو له هند څخه راغلی پوځ له واورې سره عادت نه و؛ نو ډېر مړه شول او ډېرو نورو د زیاتې یخنۍ له امله د جګړې توان له لاسه ورکړ.»[۱۰۹]

---

• دېوالیه توب: افلاس، د یوې کمپنۍ داسې حالت ته وایي چې د پور د بېرته ورکړې توان ونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېکناټن ته واوره تر ټولو کوچنۍ اندېښــنه وه. لکه څنګه چې هوکړه شــوې وه، نوموړي پاټې کلاوې چې له اډې څخه پاس پرتې وې تســلیم کړې او اکبر خان ته د ۲۰۰۰۰ روپیو په ګډون، لویه بیانه چې ســردارانو یې غوښــتنه کوله هم تحویل کړه، خو لا تر اوســه خوراکي توکي او واښــه په ډېره کوچنۍ پیمانه اډې ته رســېدل او پوځ او د بار څاروي د لوږې په مورګه وو.[۱۱۰] له ژمنې سره سم د بار وړونکو څارویو او کراچیو کوم څرک هم نه لګېده چې انګرېزانو د بېرته تګ په وخت کې د خپل مال د لېږد له پاره ورته اړتیا لرله؛ نو له دې کبله د دســمبر څوارلســم چې د انګرېزانو تګ ته ټاکل شوی و، پرته د دوی له کوچني خوځښت څخه تېر شو. په عین حال کې، کومه سرکشي چې په اډه کې پاټې وه، په وېرېدلې اندېښنې او ډار بدله شوه. مکنزي لیکلي:

د تعقل کمښــت دومره ډېر و چې په ســلګونو دښــمنان چې په وســلو ښــه ســمبال وو، پرېښــودل شــول چې اډې ته ننوځي او د اډې په شاوخوا کې د ننه څارګرېزه مالومات ټول کړي. له یو ډک شپېږ پونډه توپ څخه څو یارډه لیرې، یو غلزي پر بریدمن سټرټ خپله توره راوایسته یوازې له دې امله چې دغه افسر د نوموړي د رډسټرګو ملګرو مخه ونیوه. زموږ عسکر په داسې ربټ ډول له ډزو منع شوي وو چې د اډې ملکي کارکوونکي او زموږ افغان ملګري به ډېر ځلې زموږ له دېوالو څخه یوازې څو یارډه هاخوا لوټ او حتی وژل کېدل. زموږ د بامونو له مورچل څخه ۱۵۰ یارډه لیرې، د ټولې اډې تر سترګو لاندې د پنځمې سپرې قوا د پسونو رمه یوړل شوه.[۱۱۱]

اکبرخان چې د انګرېزانو په ناچاره وضعیت پوه شــو، اوس یې خپلې غوښــتنې زیاتې کړې. ډېر توپونه باید ورته تسـلیم کړل شي او نور کسـان دې هم د برمته په توګه ور وسپارل شي. مېکناټن چې په یو بې ښخه څاه کې خپل لوېدل لیدل، خپلو قوماندانانو ته یې بیا بالاحصــار ته د لېږد او حتی د افغانانو پر وړاندې، چې اوس دومره څک نه وو، د جګړې د بیا پیلولو خبره وړاندې کړه. د لارنس په قول: «مېکناټن وویل چې په ناڅاپي ډول د جګړې له پاره خپلې لښــکرې کابل ته د ننوتو په موخه وباســو او د ښــار د دېوالونو لاندې له دښــمن ســره جګړه پیل کړو. نوموړي د زړه له تله هیله درلوده چې لکه څنګه چې پوځ یې اوس له بالاحصــار څخه د تازه دمو پوځیانو په راتګ غښــتلی شــوی، جنرال به یوه واضح او څرګنده لاره غوره کړي.»[۱۱۲] خو یو ځل بیا، شلټن او الفنسټون د ټولو پلانونو مخالفت وکړ او د هر وخت په پرتله، اوس ډېر هوډمن ښــکارېدل چې له افغانســتان څخه هر څومره ژر چې شــونې وي ووځي. لارنس لیکلي: «په همدغه ماښـام کلاوې تشې شـوې او سـمدلاسـه افغانان ور ننوتل. زه او اسـتازی جومات ته څېرمه پر یوه ډومبسـکه درېدلي وو او له کلاوو څخه د خپلو عســکرو د وتنې ننداره مو کوله. زه پرته له دې چې وشــرمېږم غواړم ووایم چې له خپګان او غوسې څخه مې سـترګې پر اوښـکو لمدې شـوې کله مې چې کلاوو ته کتل، هغه کلاوې چې په کابل کې زموږ د لږزانده ځواک وروستنۍ ستنې وې، هغه کلاوې چې نیول او دفاع یې زموږ د ډېرو وینو په بیه وې او هغه کلاوې چې پر له پسې مو بېرته خپل بې وفا او د بریا له هلهلو څخه ډک دښمن ته ورغولې.»[۱۱۳]

لږ وروسته، د رڼا او هیلو یو ناڅاپه څرک ښکاره شو. د نومبر په شلم هغه نظام الدوله یا صدراعظم چې مېکناټن پر شجاع تپلی و، خبر ورکړ چې د نوموړي پخوانی ملاتړی، د بارکزیو مشر نواب زمان خان چې په پیل کې یې د بلوا مشري په غاړه اخیســتې وه، «خوابدی شــوی ځکه چې خلک اوس پر محمد اکبر راټول شــوي او اوس یې پیغام راولېږه چې غواړي د انګرېزانو متحد شي. انګرېزانو چې د افغانونو له تېرو تورو څخه د امان په لټون کې وو، دې ته یې له اسمان څخه د زېري په ســترګه وکتل».[۱۱۴] په همدې مهال دا خبر هم راورســېد چې د خوراکي توکو د لوږې بېې له امله، ډېر یاغیان له اکبر خان څخه ناراضه شـوي.[۱۱۵] مېکناټن سـمدلاسـه د ببل یې کړه، اېل یې کړه په نویو هڅو پیل وکړ. دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـخت کرپابه و چې د ژمي په نيمايي کې د هند په لور له شـاتک څخه ډېره وکړي چې په بدورده غرونو کې له بالقوه ناورين څخه په امان کې شـي؛ نو څو توطيې يې په يو وخت کې په لاره واچولې، «ده هر نوي ترکيب ته چې د مخکني په پرتله يې ډېرې هيلې پيدا کولې، لاس اچولو» نو د موهن لال په وسـيله، د قزلباشـو او غلزيو مشـرانو ته د ۲۰۰۰۰ روپيو وړانديز وشـو چې له ياغيانو څخه جلا شـي او د انګرېزانو ملاتړ وکړي. مېکناټن دا هم په ډاګه کړل: «که د افغانانو کومه برخه په هېواد کې زموږ د پوځ پاتې کېدل غواړي، زه به د هغه هوکړې په ماتونه کې خپل لاس خلاص وګنم کومه مې چې د وتلو په هکله کړې ده. دا هوکړه په دې باور شوې ده چې افغانان زموږ وتل غواړي.»
خو مېکناټن په ناچاره توګه له خپل توان څخه په وتلي حالت کې ښـکېل و. نوموړي موهن لال ته په سـربېرالی ليکلي: «ډېره سـخته ده، نه پوهېږم چې څه وکړم.» [116] دی د خپښـې په قوت چې اکبرخان يې له غلزيو سـره نښـلولی و، نه پوهېده او حتی په دې هم نه پوهېده چې په کومه کچه ډېر افغانان د خپل هېواد له کافرو اشغالګرو څخه کرکه لري. سربېره پر دې، موهن لال تر ځار لاندې و او د اکبر ځارګرو د مېکناټن اماتوري توطيو په اړه ده ته په تفصيل مالوت ورکول. همدا راز، د ياغيانو په منځ کې زيانمنې ګنګوسـې وې چې مېکناټن هر هغه چا ته چې اکبر او يا د دښـمن نور مشـران ووژني، د پيسـو د ورکړې ژمنه کړې. د ميرزا عطا په قول: «مېکناټن په پټه مشـرانو ته يو ليک ولېږه چې هر هغه چا چې د سـردار محمد اکبر خان غوڅ سـر ده ته وروړ، د ۱۰۰۰۰ روپيو انعام به ورکړل شـي او د اسـتازي د مرستيال په توګه به وګمارل شي. کله چې خانانو دغه ليک ولوست، سمدلاسه يې اکبر ته وسپاره او اکبر دغه ليک له ځان سـره وسـاته.»[117] کېدای شي دغه کيسـه رښـتيا وي. په يقين سـره، د موهن لال له ليکونو څخه داسې شـواهد ليدل کېږي چې د عبدالعزيز په نوم يو هدفي وژونکي د عبدالله خان اڅکزي د وژنې په بدل کې موهن لال ته حواله لېږلې وه. نوموړي ويلي وو چې د نومبر په درويشـتم کله چې عبدالله خان اڅکزی د شـلټن پر وړاندې په جګړه بوخت و، ده په زهرجنه ګولۍ په شا کې وويشت؛ نو دا خود د دې مانا ورکوي چې د مخالفينو د مشرانو د وژلو په موخه، موهن لال د پيسـو ژمنې کولې[118] او دا هېڅ شـونې نه وه چې نوموړي د دې جرئت کړی وای چې له اسـتازي څخه د صلاحيت اخيستنې پرته دغسې کار وکړي.

اکبرخان چې له دې څخه خبر شـو، نو پرېکړه يې وکړه چې مېکناټن ته يوه اړکۍ• کېږدي چې دوه مخي يې بربنډه کړي. د ډسمبر د دوه ويشتم په ماښـام يې خپل دوه د تره/ ترور زامن اډې ته ولېږل. کپټان جېمز سکېنر د سپرې ډلې يو ځوان انګرېز- هندوستانی قوماندان و. د ده پلار د سېکنرهارس Skinner's Horse يا د سکېنر سپرې قوا بنسټ اېښـودونکی و چې د پاڅون په لمړۍ ورځ په داسې حال کې ونيول شـو چې له ښـار څخه يې په چادرۍ کې د تېښـتې هڅه کوله. کپټان جېمز سـکېنر د اکبرخان دغه دوه کسـه بدرګه کړل. د ماښـامنۍ په ترڅ کې، د بارکزيو اسـتازو مېکناټن ته يو حيرانوونکی نوی وړانديز وکړ. دوی وويل چې انګرېزان کولی شي تر پسـرلي پورې په افغانسـتان کې پاتې شي او شجاع هم پاچا پاتې کېدای شي که چېرې انګرېزان د وزير په توګه د اکبر د ګمارنې ملاتړ وکړي او ده ته د رښـتيني واک چارې ورکړي. سـربېره پر دې، که چېرې مېکناټن په ليکلې بڼه له اکبرخان سـره د مرسـتې ژمنه وکړي، يوه خورا اوچته د ۳۰۰۰۰۰ پونډو بيانه او په کال کې ۴۰۰۰۰ پونډه ورکړي؛ نو اکبرخان به په خوښـۍ د امين الله خان لوګري سـر ورته

• اړکۍ : دام

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي. مېکناټن ته ظاهراً داسې فرصت ورکړل شـو چې مخکنۍ هوکړه څېړې کړي او له اکبرخان سـره یوه پټه معامله وکړي. د انګرېزانو بیخي کمزوري موقف ته په کتو سـره، دغه وړاندیز په شـکمنه توګه لـه سـخاوت څخه ډک برېښېده، خو لکه څنګه چې مېکناټن تر پایه د خپل ښاغ ساتنه کوله، داسې ښکارېدل چې ځان یې په دې باور کړی و چې توطیې یې دومره اغېزمنې وې چې اکبر یې جوړجاړي ته اړ ایسـت څو خپل موقف وسـاتلی شي. د امین الله خان سر یې رد کړ او ویې ویل چې یوازې د نوموړي نیول او د بندي په څېر یې انګرېزانو ته سپارل بسنه کوي، خو پاتې ښکاردانه یې تر سـتوني تېره کړه او یو پارسـي سـند چې خپله رضـا یې په کې څرګنده کړې وه، لاسـلیک کړ. د موهن لال په قول: «داسې نه وو چې اسـتازي دغه وړاندیز ته هېڅ د شـک په سـترګه نه کتل، خو لکه څنګه چې د پوځي مرسـتې هیله یې هېڅ نه درلوده او د شـاتګ نظریه یې د برتانيې نوم ته شـرم ګڼله، دی داسـې و لکه سـېلاب وړی چې شـاوړي ته لاس اچوي.»[119]

دا اکبرخان ته داسې ګواهي وه چې د مېکناټن د دوه مخۍ د ثبوت لپاره یې ورته اړتیا لرله. دغه سـند یې امین الله خان ته وښـود او نورو مشـرانو ته یې د مېکناټن له خوا له دوی سره د شـوو هوکړو د ماتونې لېوالتیا او همدا راز د دوی تر شا د نوموړي د پټو معاملو په اړه خبرداری ورکړ. بیا یې مېکناټن ته پیغام ولېږه چې سـبا ته بیا له ده سـره وګوري چې د توطيې جزیات بشـپړ کړي. مېکناټن یې غوښـتنه ومنله او سـهار د لمرختو په وخت کې یې جورج لارنس، مکنزي او ټرور له دغه وړاندیز څخه خبر کړل. د لارنس په قول، مېکناټن وویل چې:

دی له هر اړخه موجه هیله لري چې دا به زموږ اوسـنۍ سـتونزې ژر او په خوښـې پای ته ورسـوي او اکبر به موږ ته امین الله خان د بندي په توګه وسپاري. بیا سېر مېکناټن ما ته وویل چې وروسته ځان دې ته چمتو کړم چې په چارګام پاچا ته ځان ورسوم او د اکبر د وړاندیز په هکله یې خبر کړم. ما یو ځل بیا یادونه وکړه چې دغه طرح خطرناکه ښکاري او له ده څخه مې وپوښـتل چې د کومې درغلۍ شک دې ورباندې ونه کړ، ده ځواب راکړ: «هو، خطرناکه ده، خو که بریالۍ شي، د هر راز خطر ارزښت لري. یاغیانو د هوکړې حتی یوه ماده هم عملي نه کړه او زه په دوی هېڅ باور نه لرم. که چېرې په دغه وسیله موږ خپل عزت وساتلی شو؛ نو هر څه به سم شي، خو په هر صورت، زه سل ځلي مرګ غوره ګڼم، نه چې بیا د تېرو شپږو اونیو ژوند ولرم.»

په دغه شـېبه کې، د مکنزي د تورټوپکو مشـر، حسـن خان چې په ایمانداری یې د زېرمتونونو له کلا څخه د شـاتګ لارښـوونه کړې وه، خبرې پیل کړې او «په وار وار یې له افغان مشرانو سره د خطرناکې ناستې د وژونکې پایلې د شـونتیا په اړه سېر ویلیم ته خبرداری ورکړ. نوموړي استدلال کولو چې د خپلو وطنوالو د نیت په ارزونه د سېر ویلیم په پرتله ډېر پوهېږي او هغه څه ته چې موږ یې خیانت بولو، دوی یې بې حرمتي نه ګڼي.» مکنزي هم وویل چې دغه وړاندیز ډېر شـکمن ښـکاري، خو مېکناټن په ځواب کې وویل: «یوه توطیه! ما ورته یوازې پرېږدئ - په دې هکله په ما باور وکړئ!» الفنسټون چې همدې ته ورته اعتراض وکړ، مېکناټن په ښاغ ورته وویل: «ما ته یې پرېږده. په داسې شیانو زه تر تا ډېر پوهېږم.»

داسې پرېکړه شـوې وه چې شـلېټن له مېکناټن سـره یوه پوځي بدرګه ولېږي، خو د هر وخت په څېر، سـېره قوا بې نظمه وه او اسـوال تر اوسـه تګ ته چمتو نه وو. له لږ انتظار وروسـته، بې صـبره مېکناټن پرېکړه وکړه چې د خپلو درېو مرستیالانو، لارنس، ټرور او مکنزي په ملتیا یوازې له خپلې وړې شخصي ساتونکې ډلې سره لاړ شي. اکبرخان په ټاکلي ځای کې چې هوکړه ورباندې شـوې وه دوی ته تم و. ده له ځان سـره خپل خپلوان سـلطان جان بارکزی او خپل خسـر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غلزیو مشـر محمد شـاه خان راوسـتي وو. همدا راز اکبر خان یو درېیم مشـر چې انګرېزانو ونه پېژنده خو په حقیقت کې د امین الله خان کشر ورور و هم راوستلی و چې د مېکناټن د خیانت شاهد شي.

غونډه په پوره درناوي پیل شوه. مېکناټن اکبر ته یو اس چې مخکې یې نوموړي ستاینه کړې وه ډالۍ کړ. د یاغیانو دغه ځوان مشـر له مېکناټن څخه په درناوي مننه وکړه چې پرون یې یوه دوه میله تومانچه او له خپلې بګۍ سـره یوه جوړه اسـونه ورلېږلي وو. دوی له اسـونو څخه ښـکته شـول او د اسـونو جالوغونه یې پر یوې هغه وړې غونډۍ وغوړول چې افغانانو ورته اشـاره وکړه چې واوره پرې نه وه پرته. دغه غونډۍ له اډې څخه څه نا څه پنا وه. ورپسې اسـتازی د اکبر خان تر څنګ کښـېناسـت او ټرور او مکنزي د ده څنګ ته کښـېناسـتل. لارنس د مېکناټن تر شـا ودرېد. وروسـته اکبر خان ورته ټینګار وکړ؛ نو دی پر یوه ګونډه کښـېناسـت. بیا، لارنس د افغانانو ډېرېدونکي شـمېر ته چې په همدې ځای کې غونډېدل، اشـاره وکړه او وېې ویل که چېرې د دغه غونډې خبرې پټه بڼه لري؛ نو ښـه به وي چې دا نور افغانان لاړ شـي. همدغه خبره مېکناټن یو ځل بیا اکبر ته وکړه او ده په ځواب کې ورته وویل: «دوی ټول په دغه راز کې شـریک دي.» لارنس وروسـته لیکلي: «اکبر لا دغه خبره بشـپړه کړې نه وه چې زما لاسـونه وتړل شـول، تومانچه او توره مې له کمربند څخه واخیستل شوې او زه یې په زور له ځمکې اوچت او بیا یې ځان سره کش کړم. محمد شاه خان غلزي چې زه کلک نیولی وم راباندې چیغه کړل: «که د ژوند ته ارزښـت ورکوې، راسـره راځه!» زه تاو شـوم او ومې کتل چې مېکناټن پروت دی، سـر یې چېرته چې مخکې یې پوندې وې، لاس یې اکبرخان پر خپلو لاسـونو کلک نیولی او حیرانتیا او وېره یې په ونګه کې خوره وه.»[۱۲۰] د میرزا عطا د بیان په قول:

په داسې حال کې چې لارنس لیرې کش کول کېده، سـردار [اکبر] پر مېکناټن چیغه کړه: «ته د یو لوی پاچا وزیر یې، د یو پرتمین پوځ مشر یې، ټول بهرني لورپوري خلک ستا د پوهې او لاسته راوړنو درناوی کوي، خو زه له هغوی څخه نه یم. زه تا یو داسې ځبن ګڼم چې په خبرو دې باور نه شـي کېدی او خپل باطني خیانت په هغه څه کې ښـې چې لیکې یې! موږ دې په جګړه کې مات نه شـوای کړی او اوس غواړې په درغلۍ موږ تباه کړې. ته بې ایمانه یې، ټګماره دوکه ماره! ته دومره تېز یې چې زموږ په هوکړه کې خیانت کوې! څه خیال دې درلود چې زه به په کابل کې د خپلو وطنوالو پر ځای په تا باور وکړم؟ څه فکر دې کولو چې د خپلې ګټې له پاره به موږ دومره په اسـانۍ یو د بل په تباه کولو کې ښـکېل کړې؟ ته پوهېږې چې له ځان څخه دې څومره یوه مسـخره څېره جوړه کړې؟ شـرم وکړه، ته د ملنډو او مسخرو اله یې. زما دا نیت و چې له کابل څخه د وتلو پر مهال په عزت د هند په لور بدرګه کړل شـې، خو سـتا توطیه دا وه چې ما په چا ووژنې. ستا دماغ له تور لوګي ډک او له انساني ارزښتونو تش دی. اوس ماسره د کابل ښار ته راشـه!»

وحشـت وهلي مېکناټن د تېښـتې هڅه وکړه، «لکه یوه کوتره چې وزرې وهي څو د باز له منګولو وتښـتي». اکبر «لاس ور واچاوه، خپله تربې توره یې راوایسـته او بیا یې د اسـتازي ځګر څېرې پرانیسـت او سـر یې له تنې غوڅ کړ. د نومور لوی وزیر مېکناټن صاحب له بې سـره تنې اندامونه غوڅ شـول او لکه د لېوني سـپي مرداره، تنه یې ښـار ته کش کړل شـوه. بیا یې له سر او خولۍ سره په څلور پوړیز بازار کې وځړول شـو.»[۱۲۱]

کالن مکنزي چې په غونډه کې و، دغه بهیر لږ بل شـانته بیان کړی. نوموړي لیکلي، کله چې د افغان وسـله والو یوه ډله ناسـتو کسـانو ته رانږدې شـوه، اکبر خان مېکناټن ته وویل چې څنګ ته یې نږدې شـي چې پټه خبره ورته کوي. کله چې مېکناټن د ده خواته کوږ شـو، اکبرخان ناڅاپه چیغه کړه «بګیریش! بګیریش» یعنې «وې نیسـه! وې نیسـه!» او مېکناټن یې کلک ونیوه. د اکبر مخ «د یوې ډېرې شیطاني غوسې» بڼه خپله کړې وه او د مېکناټن مخ له «هیبت او حیرانتیا ډک»

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. کله چې اکبرخان تر ملا ونیو او تومانچه یې ورته ونیوله چې پر اس سپور شي او له ده سره ښار ته لاړشي، مېکناټن چیغه کړه «از برای خدا» یعنې «د خدای له پاره». «استازي نه غوښتل چې ورسره لاړ شي او ویې پوښتل: «پر ما څه کوې؟»» ورپسې سلطان جان، اکبر خان ته وویل: «ژر شه، که نه ، مورږ به ټول هغه عسکر ونیسي چې له اډې څخه را روان دي» نو اکبر خان پر هغه دوه میله تومانچه استازی وویشت چې نوموړي لږ وخت مخکې ورکړې وه. مېکناټن لا تر اوســـه ژوندی و، خو اکبر خپل یو چوپړیال ته امر وکړ چې پر خپل تورټوپک یې ختم کړي؛ نو همدې د برتانیې د اســتازي ژوند ته د پای ټکی کېښــود. بیا یې اکبر ســر غوڅ کړ او امر یې وکړ چې د کپتان ټرور له مړي ســره چې مخکې سلطان جان وواژه، یو ځای د ده مړی په واټونو کې کش کړي.[۱۲۲]

کله چې تاوتریخوالی پیل شـو، د مېکناټن شـخصي شـپاړس کسیزه سـاتونکې ډله سـمدلاسـه وتښتېده او د افسـرانو د ژغورلو له پاره یې هېڅ هڅه ونه کړه.[۱۲۳] کله چې دوی د اډې په لور خپل اسـونه چارګام کړي وو، له اډې څخه د بدرګې ځنډېلې سپره ډله په مخه ورغله. دوی هم بېرته وګرځېدل او د اډې په لور وتښـول. لارنس لیکلي:

[له اډې څخه] حتی یو سـړی هم را ونه لېږل شـو، نه د کشـف په موخه یوه ډله راولېږل شـوه، نه یو چټک او لنډ برید ترسـره شـو او حتی یو ډز هم ونه شـو، خو د دښـمن سـپرو او پلي ډلې ولیدل شـوې چې په بېړه د محمدخان کلا ته روانې وې او یو شـمېر افسـرانو وویل چې په خپلو لرکوتو کې یې د غونډې په ځای کې په وضاحت دوه سـړي لیدل چه پر ځمکه پراته وو. د دوی د مړیو د ترلاسـه کولو له پاره هېڅ هڅه ونه شـوه؛ نو زمونږ له مورچلونو څخه زمونږ د دان پورو په واټن کې د ننه، په رڼا ورځ، د برتانیې اسـتازی په وحشـي توګه ووژل شـو او د ده ټوټې ټوټې مړی په سـاعتونو همله پروت و. بیا یې یوې اکاړې بلوا هر راز سـپکاوی وکړ او په ټول ښـار کې یې وګرځولو، خو د دوی د ژغورنې له پاره هېڅ هڅه ترسره نه شوه او نه د دغه بېساري سپکاوي غچ واخیستل شو.[۱۲۴]

په عین حال کې، مکنزي او لارنس وتښـتول شـول. «د غلزیو یوه کړی توري په لاس او له ډکو تور ټوپکو سـره له دوی دواړو چاپېر شوه او د «دا کافران ووژنئ » چیغې ډېرې احساساتي کېدې. .. » خو اکبر وژغورل. مکنزي په منندویه بڼه لیکلي: «ده خپله توره راوایستله او خپل ځنګ ته یې په مېړانه کېښـوده، خو کله چې ډاډه شـو چې زه اوس خوندي یم، غرور یې په درانه چلند لاس برى شـــو، ما ته یې مخ واړولو او په بریمنه توګه یې په وار وار په ســـپکه بڼه راته وویل: «شـــما ملک ما ره میګیرید!» یا «تاسـې زمونږ هېواد نیسـئ!»[۱۲۵] لارنس هم پر همدغه مهال د غلزیو یوې ځاځمنې ګڼې ګونې چې د قرباني نارې یې وهلې، د ټوپک په زور او ترلې د محمد خان کلا ته چې د غلزیو مرکز و، بوتللو او دوی دواړه یې په یوه کوټه کې واچول. مخکې له دې چې د کوټې دروازه بنده کړي، یو ســـړي پر خپله توره په مکنزي ګوزار وکړ. محمد شاه خان غلزی چې نږدې ولاړ و، تر مکنزي یې لاس چاپېر کړل. توره د ده په اوږه ولګېده او غوڅه یې کړه.[۱۲۶]

لږ شېبه وروسته، امین الله خان لوګری چې د مېکناټن د توطیې فرضي قرباني و، د دغه دوه بندیانو کوټې ته په چټکۍ ننوت او دوی ته یې وویل چې ژر به د توپ په خوله کې والوزول شي. د دوی له کوټې څخه بهر غلزي غونډ شـوي وو چې دغه دوه کافر بندیان وځځېر•ي. دوی به له ارګنې څخه پر دوی نارې تو کولې او د خپلو تورو څوکې به یې ارګنې ته د ننه کړې او ټوپک بـه یې ورتـه نیول. پېره دار یوازې دومره وتوانېـد چې دغـه ګڼـه ګونـه پرې نږدې چې دوی ووژني. څو دقیقې وروسـته، یو بل شـورماشـور جوړ شـو. بندیان اوچت شـول چې وګوري څه پېښـږي. دوی د نېزې په څوکه کې د یو سړي غوڅ لاس ولید. غلزیو دوی ته نارې کړې: «ښـه یې وګورئ، ډېر ژر به ستاسې هم همداسې کېږي.»

---

• ځځېرل: سپکول، ښکنځل


(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د مېکناټن لاس و. د مېکناټن او ټرور ســرونه د نېزو په څوکو کی گرځول کېدل او تنې يې په کوڅو کې کش کېدی. بیا پوست کړل شـول، او پوسـتکي يې په بازار کې د غوښـې په چنگک کې وځړول شـول.[۱۲۷] حتی د مېکناټن لویې شـنې عینکې نندارې ته کېښـودل شوې.[۱۲۸] میرزا عطا لیکلي:


ټول نندارې ته راغلل او د کرکې نارې يې ور تو کولې. د یوه سـړي په کړنو کې صـداقت او بشـپړ درناوی داسـې طلایی سـکې دي چې لکه اسـعار هر چېرته اعتبار لري او خپل څښـتن په ډېرو کړکیچنو حالاتو کې له سـپکاوي سـاتي. «که ته ایمانداره او صـادق اوسـې، په خلکو به گران وې. په درغلی کې به خلک کرکه درڅخه وکړي او له پامه به دې وغورځوي!» نو له همدې کبله د ســردار نومیالتوب عام شـو او هر چا په وار وار ویل چې د انگرېزانو ټوله لاسـته راوړنه دا وه چې د خپلې ناکامه ځانپالنې وړي خره بېرته هند ته وچلوي او د هند ښــځې دې ته اړ باســې چې د خپلو مېړونو په ماتم کې د کونډتوب غمجن څادر پر ســر کړي! دا ټولو ته څرگنده وه چې هغه انگرېزانو چې په پالیسی کې يې د هوښـیارۍ او ښـه قضـاوت او په جگړه کې د زړورتیا غورې کولې، د خراسـان د سـردارانو په پرتله بې ارزښته وو. دوی په حقیقت کې په ختو کې بندې کچرې وې![۱۲۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بنګال لوا د مارش صحنه. دغه لمړي پرله پسې انځور شوي انځورونو ښايي د اباسين پوځ ښيې چې د سند له لارې افغانستان ته نږدې کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دادور Dadur څخه بولان ته ننوتنه. د ۱۸۳۹ کال په پسرلي کې د سپرجان کېن تر مشرۍ
لاندې یو ۱۲۰۰۰ کسیز انګرېز- هندي د اباسین پوځ د بولان له لارې کندهار فتح کړ. د دغه
یرغل موخه دا وه چې شاه شجاع د دوست محمد ځای ناستی کړي ځکه چې شاه شجاع ته د
انګرېز پلوي په سترګه کتل کېدل


(c) ketabton.com: The Digital Library






د اباسین پوځ د بلوچستان په تنګو غاښیو کې د هغه بلوڅانو غلچکي بریدونو په وړاندې ډېر ناتوانه او زیانمنونکی و چې په تنګیو کې پټ وو. نښتې او په لیرې واټن کې هدفي ډزې معمول وې. د سپاهي سیتا رام دغه ځای داسې په یاد دی: « دا د دوزخ خوله وه. بلوڅانو به په شپنې بریدونو کې موږ ربړولو او د اوښانو اوږده کتارونه یې ځان سره وړل. دوی به چې فرصت پیدا کړ، هر څوک یې وژل او د غره له ارغاړو څخه یې لوی کمرونو زموږ په لور ښکته رغړول

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ۱۸۳۹ کال په اپریل کې د اباسین پوځ کندهار پرته له جګړې ونیو. دلته شاه شجاع داسې ځای یو دربار جوړ کړ چې د خپل نیکه احمدشاه ابدالي د مقبرې ګمبذه ترې ښکارېده



پر غزني باندې یرغل. وروسته له دې چې د اباسین پوځ له بولان څخه تېر او کندهار یې ونیو، د غزني د نه ماتېدونکو او مظبوطو دېوالونو په لور یې پرمختګ ته دوام ورکړ. د غزني ښار پنډ او شپېته فوټه اوچت دېوالونه لرل. دا انګرېزانو ته یوه لویه ستونزه شوه ځکه چې دوی خپل درانه توپونه په کندهار کې پرېښي وو. د برنز ارزښتمن څارګر مشر،موهن لال کشمیري مالومات ترلاسه کړل چې د ښار یوه دروازه په خښتو نه ده پټه شوې او کچېرې نابېره یرغل پرې وشي، نیول یې شوني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په کابل کې د شاه شجاع الملک دربارخانه. د غزني له نیولو وروسته دوست محمد له کابل څخه وتښتېد او شاه شجاع د ۱۸۳۹ کال د اګستې په میاشت کې پر تخت کښېنول شو. ده به په بالاحصار کې خپل دربار په دغه دالان کې چې مغولي بڼه یې لرله، جوړولو. نوموړي به همدلته خپل اشرافیان او انګرېز افسران څورول. دوی به یې په ساعتونو تم ساتل چې د ده سره لیدنه وکړي. یو برتانوي افسر، لاکییر وېلېس هارټ چې وروسته انځورګر شو لیکلي: « له دغه بڼې او تشریفاتو څخه افغانانو کرکه لرله او دا د پاچا لوی عیب و چې کله کله به د لېونتوب کچې ته ورسېد.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انګرېزي اشغال په وخت کې د کابل ښار




د کابل ښځې اشغالګرو عسکرو ته زړه وړونکې وې – دې له ناورين څخه ډکې پايلې وزيږولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه شجاع الملک درباریان. په دغه انځور کې د اکبر خان خسر، محمد شاه خان غلزی (په کیڼ لوري کې) چې انګرېز- سدوزي رژیم ته راوستل شو، په دربار کې د جلات مشر وېروونکی تشریفاتي لقب ورکړل شو. دی وروسته یو له مخکښو مخالفینو څخه و او د ۱۸۴۲ کال د شا تګ په بهیرکې د غلزیو په لوړو غاښیو کې، نوموړي د هر چا په پرتله د انګرېزي چونۍ د ټول وژني ډېره پېره په غاړه درلوده.



د رټري یوه خاکه چې د اشغال په لمړیو ورځو کې مخکې له دې چې اډه جوړه شي د خېمو لیکې ښیي. د بالاحصار لوړه د انځور په شاتنۍ کینه خوا کې لیدل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر دوست محمد، انګرېزي استازي ته د ۱۸۴۰ کال د نومبر په میاشت کې تسلیمېږي.
مېکناټن او مرستیالان یې کابل ته څېرمه د قلعه قاضي درې ته پر اسونو چکر ته تللي وو
کله چې دوست محمد ورته تسلیم شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا، بې اغېزې او روماتيزم ځپلی جنرال ويليم الفنسټون په افغانستان کې د انګرېزانو نظامي قوماندان و. کله چې پاڅون پيل شو، دی له ډېرې وارخطايي داسې حالت ته لاړ چې د پتېينې توان يې نه درلود



د انګرېزي اشغال پر ضد افغان پلي سرتېري په کره او اوږد ميل لرونکو تورټوپکو په اډه کې پر داسې انګرېزي ځايونو ډزې کوي چې دفاع يې انګرېزانو ته ناشونې ده.



افغان پاڅونوال له کابل څخه بهر پر انګرېزي اډه د برید تیاری نیسي. دغه انځور ښيي چې څرنګه له ښکېلاکي ډولي اډو څخه له هرې خوا غونډۍ چاپېر وې او دفاع يې کابو ناشونې وه. په دغه انځور کې د انګرېزي ماموريت اډه کيڼې خوا ته ليدل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کپتان کالین مکنزي د پاڅونوالو پر ضد د اکمالاتي کلا قومانده په لاس کې درلوده. دی او لارنس (ښي لورې ته) کله چې له افغانستان څخه بېرته لاړل، ډېر نومور شول او په افغاني جامو کې یې انځور ته له درېدو څخه خوند اخیست



مېرمن سېل په اسارت کې پټکی پر سر کړی.



تورن جنرال سېر رابرټ هنري سېل چې خپلو عسکرو یې د «جګړه مار باب» په نوم پېژانده ځکه چې هر وخت به یې سختو جګړو  ته ور ودانګل.



الکساندرینه، د خرد کابل په غاښي کې له ټول وژني وروسته، اکبرخان یرغمل ونیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






انځورګر اییر، دلته یې خپل انځور کاږلی.



کپتان سکېنر، دلته مخکې د انګرېزانو له وتلو څخه اسیر دی. د ۱۸۴۲ کال د شاتګ په بهیر کې د جګدلک په غاښي کې د جګړې په ترخ کې ووژل شو




د هغه کلا انګړ چې انګرېز اسیران په کې ساتل کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو د څلورڅلوېښتمې پلې قوې وروستي ژوندي پاتې پوځیان د ګندمک د غونډۍ په سر کې ولیدل او بیا یې کلابند کړل. که څه هم د انګرېزانو شمېر د افغانانو په پرتله ډېر لږ و، دوی وروستي مقاومت ته مخه کړه. دوی د دفاع له پاره یوه مربع جوړه کړه او څو ځله یې افغانان تر هغه وخت پورې د غونډۍ لمنې ته وځغلول تر څو چې د دوی مرمۍ خلاصې شوې. بیا یې په برچو تر هغه وخت پورې جګړه وکړه تر څو چې یو پر بل پسې ووژل شول

په جلال اباد کې د انګرېزانو چونۍ چې له اوچت برج څخه یې یو تېزسترګي افسر په لیرې واټن کې ډاکتر براېډن ولید چې د کلا په لور ور روان و او بیا یې ژغورونکي ورولېږل



(c) ketabton.com: The Digital Library



د *یوځ پاتې شونې* په نوم د مېرمن بټلر نومور انځور چې د جلال اباد دېوالونو ته د ډاکټر برایډن ستومانه رارسېدنه ښيي. په دغه انځور کې د رسامي او نقاشي له پاره له ځانګړو تیلو څخه کار اخیستل شوی



(c) ketabton.com: The Digital Library




دقیق خو بې رحمه تورن جنرال پالک د کساتي پوځ قوماندان و چې سوېل ختیځ افغانستان یې وران ویجاړ کړ او کابل یې وسوځلو.



جنرال ویلیم ناټ په هند کې د کمپنۍ یو مشر جنرال و. دی یو ځیرک ستراتیژست و او خپلو تکړه زړورو سپاهیانو ته تل وفادار او له دوی سره یې بې کچې ډېره مینه درلوده. نوموړی په انګرېزي جنرالانو کې تر ټولو اغېزمن ثابت شو. د ۱۸۴۲ کال د اګسټ په میاشت کې یې د افغانستان له یوه سره تر بله پوري مارش وکړ او ټول هغه ځواکونه یې مات کړل چې د نوموړي پر ضد لېږل شوي وو او د سپټمبر په اولسمه، دوه ورځې وروسته چې جنرال پالک د کابل ښار بیا ونیو، کابل ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کساتي پوځ د ۱۸۴۲ کال د سپټمبر په میاشت کې کابل ته ورسېد. وروسته له دې چې انګرېز اسیران یې ازاد کړل، دغه پوځ د کابل لوی چارچته سرپټی بازار وران کړ، هغه نوی جومات یې له خاورو سره برابر کړ چې د انګرېزانو د ماتې په ویاړ جوړ شوی و او د ښار بېلابېلو برخو ته یې اور ورته کړ.« داسې چیغه پورته شوه چې کابل لوټ ته پرېښودل شوی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد ( د نڅاګرو د کړۍ کېنې خوا ته ناست دی) کابل ته د بېرته تګ په لاره کې په لاهور کې هرکلی ورته وویل شو. وروسته له دې چې شاه شجاع په خاینه بڼه د خپل زوی بللي په لاس ووژل شو او انګرېزان په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووتل، دوست محمد بېرته په ۱۸۴۲ کال کې پر تخت کښېنول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ۸
# د بېګلو کوکې

د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ په شپږم، د سهار له نهو بجو څخه وروسته له کابل څخه سمدلاسه شاتګ پیل شو. تېره شپه بریدمن سټرټ چې اوس څه نا څه جوړ شـوی و، د شـاتنۍ دروازې کیڼ لوري ته د دېوال په یوه برخه کې ماینونه ښخ کړل چې یوه پراخه چوله رامنځته کړي څو پاتې ۳۸۰۰ سپاهیان، ۷۰۰ اروپایي سپره او پلې قوا او ۱۴۰۰۰ د اډې ملکي کارکوونکي او پر اډې پورې تړلي ملکي خلک ترې تېر شـي. ماینونه د لمرختو پر وخت وچول شـول او دېوال بهرني لوري ته داسې ړنګ شو چې د خندق پر سر یې پل جوړ کړ.

د کلا د ړنګ کړل شوي دېوال له یوې غاښورې چولې څخه په کتو، له کابل نه چاپېر د برېښنده سپینو غرونو له کړۍ څخه لمر راپورته شـو او د یوې ښـایسـته رڼې او سـړې ورځې پیلامه یې څرګنده کړه. پر ځمکه کابو یو فوټ واوره پرته وه،[۱] خو د اډې د ننه له څه ناڅه خوندي دېوالونو څخه د افغانستان په غرونو کې د یو نا څرګند برخلیک په لور تګ ته تم عسکرو یوه نه الهام ښـونکې صحنه جوړه کړې وه. ګرومجن جورج لارنس چې له کالن مکنزي سره یوځای ازاد شـو څو د شـاتګ په څارنه کې مرسـته وکړي، په دې اړه خپل اند داسې څرګند کړی: «یو په پښـو لړزانده، په ملا کوږ او روحیه بایللی پوځ له هغه څه څخه ډېر په توپیر کې دی چې څه موده مخکې د سرېو یوه منظمه او خوشحاله ټولګه ښکارېده.» داسې واورې ته په رسېدو سره چې تر اوسـه ګام په کې نه و ایښـودل شـوی «په هر ګام کې به [سـمدلاسـه] سړې یو فوټ په واوره کې ننوتل... زما زړه ولوېده ځکه چې زه پر دې باور شـوم چې موږ خامخا یو سټ ځواک یو».[۲]

اوس له هغه ورځې څخه دوې اونۍ تېرې شـوې وې چې انګرېزانو په یقیني توګه واورېدل چې اکبرخان د دوی سـیاسـي مشـر سېر ویلیم مېکناټن وواژه. د متناقضـو ګنګوسـو په ترڅ کې، له دوو ورځو اندېښـمن انتظار څخه وروسـته د پوځ تر ټولو بده وېره په حقیقت بدله شوه. هو، انګرېزانو خپل مشر او مېرمن مېکناټن خپل مېړه له لاسه ورکړ.

د افغانانو په منځ کې د هغه حیرانوونکې بشـپړې ناکامۍ په پار چې اډمارو پرنګې اشـغالګرو وګاله، د خوښـۍ جشـن و، خو لږ تر لږه د شـــاعرانو په منځ کې د مېرمن مېکناټن په اړه مودبه خواخوږي هم شـــته وه. په اکبرنامه کې مولانا کشـمیري د مېرمن مېکناټن په ژبه کې د وېر درد انځور کړی، هغه درد چې نومورې وروسـته له دې څرګند کړ چې ورته وویل شـول مېړه یې بیا نه راځي.

غم یې اوج ته ورسېد او له خپل خاوند څخه د محرومیت ساندې یې پیل کړې

دې چیغه کړه: اې د پرنګې هېواد شهزاده

تا ته په روم کې درناوی کېږي او په اېتوپیا کې نومور یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دغه هېواد کې ته په مرګ محکوم شوې
دلته ستا مرګ حتمي و
بېرته راشه! زه له تا سره په بې وزلۍ کې خوشحاله یم
د دغسې لوړ موقف په پرتله دروېزه ښه بولم
نن سپین سترګي او فاسد غله
ستا پر رغړېدونکي سر داسې لوبې کوي لکه پر پنډوسکي
بېرته راشه، اې ویاړمنه فاتح
تا هغه تخت او تاج ته اعزاز ورکړ چې ستا و
خو نن په کابل کې، د واټونو د دوړو پر سر
ستا بې سره تنه پرته ده، او سر دې بې تاجه دی[۳]

خو د مولانا د خواخوږۍ ځرګندونه هغه ډاډمنتوب پیکه کړې وه چې د ځواکمنو انګرېزانو فوق العاده چټک زوال له هر څه نه ډېر د خدای د ناراضــتیا له کبله و: دروغجنو او درغلګرو کافرانو ته خپله موجه ســزا ورکړل شـــوه او د مولانا په اند، د دې وروستی ثبوت په کابل کې د واورې بېساری توپان و چې له امله یې د خدای په غضب اخته کافرانو ربړې او شرمېدنې لا ډېرې شوې:

د دومره غم او ماتم، درد او بدبختیو له ګاللو سره سره
خدای د دوی ربړونه لا نه وه بس کړې
نو د دوی د بشپړې تباهۍ له پاره یې
په کابل تر ټولو سوړ ژمی راوست
له اسمانه داسې یوه بلا راښکته شوه
چې حویلۍ او بام له واورې یو شول
په بهانده سیند کې نورې اوبه نه وې
په ځلانده لمر کې نوره تودوخه نه وه
ځارویو بهر انګولاوې او رمباړې وهلې
د سیلۍ په وژونکو چړو ټوټې ټوټې شوې
د پرنګیانو ډلې ته چې لا د مخه مصیبت ځپلې وه
د واورې او د واورې د توپان غبږ اورېدنه لکه ناورین و
عسکر ډېر خو ډوډۍ یې لږ وه
مصیبت شا ته او مرګ یې مخ ته ولاړ و
پاتې کېدل یې بې عقلي وه او تګ یې ناشونی
نه د سولې هیله، نه د جګړې فرصت[۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه پړاو کې، انګرېزانو هم دا احساس وکړ چې کوم غضب وربانديې نازل شوی دی. حتی سرکښې او تل هوډمنې مېرمن سېل ومنله چې اوس کلابند عسکرو ته هر څه ډېر بد برېښي، خو په خپله یادلیکچه کې یې بیا هم، لکه څنګه چې د نوموړې ځانګړتیا وه، حالات دومره جدي نه دي بیان کړي:

یوه خپګانوونکې د کرېسمس ورځ ده او زما حالت له خوښۍ ډېر لیرې دی. لارنس د ننه راغی، ډېر ستومانه او د اندېښنو له کبله لس کاله زوړ ښکارېده... نایب شریف د سېر الکساندر برنز د خښېدو لګښت له خپله جیبه ورکړ، خو بیا هم خښ نه کړل شو او د مړي یوه ټوک ټوک برخه یې لا تر اوسه د خپل باغ په ونو کې ځړېږي. [اوس] د استازي سر په چوک کې د پوزي په یوه کځوړه کې ساتل کېږي او اکبر وايي چې دا به بخارا ته ولېږي چې پاچا ته وښيي چې څنګه یې دلته پرنګیان ونیول او څه ورسره کوي... که موږ له یوه ترږون پرته او یا د یوه ترږون پر بنسټ هم لاړ شو، زه وېره لرم چې لږ خلک به مو ولایاتو ته په رسېدو کې ژوندي پاتې شي... [۵]

نوموړې زیاتوي کله چې د هغه مالونو او کالیو په راټولولو بوخته وه چې په شاتګ کې یې له ځان سره وړل، د تامس کمبل Thomas Campbell د شعري ټولګې یوه کاپي یې ومونده،

کتاب مې چې خلاص کړ، په هواېنلندن Hohenlinden مې سترګې ولګېدې چې یوې څلوریزې یې شپه او ورځ ځورولم:

لږ او لږ به له هغه ځایه لاړ شي چېرته چې ډېرو سره لیدل
واوره به د دوی کفن شي
او د دوی تر پښو لاندې هر چم به
د یوه عسکر مقبره شي [۶]

د انګرېزانو په منځ کې وضعیت لا نور خراب شو. انګرېزي عسکر اوس یوه شول چې مېکناټن داسې وخت ووژل شو چې له افغانانو سره یې د لاسلیک کړې هوکړې د ماتولو هڅه کوله. دوی نه یوازې وړي، په خپل چل کې پر او بندیز وهلي وو، بلکې اوس په دې هم پوه شول چې له اخلاقي اړخه یې هم موضع له لاسه ورکړې ده. سربېره پر دې، د دوی هغه تصور هم غلط وخوت چې هغه افغان جنګیالي چې په شمېر او ځېرکتیا کې پر دوی برلاسي وو، ټول ځانګړي غرني جنګیالي نه وو، بلکې - لږ تر لږه یوه برخه یې - یوازې «د ښار سوداګر او کسب کار وو؛ نو په خپل خپګان کې مو حتی دغه تسلیت هم له لاسه ورکړ چې موږ له قومي جنګیالیو سره په جګړه بوخت یو».[۷]

د مېکناټن له مړینې وروسته، اوس الډرېډ پاټېنګر چې سخت ټپي شوی و، د انګرېزانو تر ټولو لوړپوړی ژوندی سیاسي افسر و. سره له دې چې نوموړي الفنسټون او شلټن ته وویل چې پر اکبر باور ونه کړي او دوی ته یې ټینګار وکړ چې یوازینۍ هیله د بالاحصار په لور تګ دی، خو شلټن په شاتګ باندې ټینګار ته دوام ورکړ او پاټېنګر یې په یوه ډولۍ کې کښېناوه او د تسلیمۍ او شاتګ د شرطونو په اړه یې د خبرو اترو له پاره ولېږه. نوموړي وروسته لیکلي: «زه یې په ناروغۍ کې له خپلې کوټې څخه په زور وایستلم او دنده یې راکړه چې د یوې داسې ځینې ډلګۍ د خوندیتوب له پاره خبرې اترې وکړم چې یوازې په خپله تباهۍ کې تکړه وه.»[۸] اکبر اوس د خوندي لارې او اکمالاتو په بدل کې د دوی د خزانې او ټولو توپونو د سپارلو غوښتنه کوله.

خوراکي توکو او بار وړونکو څارویو ته د انتظار په بهیر کې انګرېزان په دوامداره توګه ځځېرل کېدل. تر ټولو ډېر تېرې کوونکي د غلزیو ډېرېدونکی شمېر و چې په ډله ییزه توګه به د اډې دروازو شاوخوا ته راټلل چې د اوس مهال بې اسرې اشغالګر او د دوی لا تر اوسه پاتې افغان ملګري وځوروي، وې کنځي او لوټ یې کړي. وېنسنټ ایېر لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دغه خلکو مو هره ورځ ډېر ځور ګاللو. دوی بې ازاره پلورونکي چې له ښار څخه به له غلې او وښو سره راغلي وو، وروسته له دې چې له اډې څخه به ووتل، سمدلاسه لوټول. زموږ په سپاهیانو یې ډېر ځلې بریدونه کول او په دغسې شېبو کې پر دوی باندې د ډزو د اجازې غوښتنه په وار وار رد شوه که څه هم دا ټولو ته ځرګنده وه چې د دوی مشرانو په خپله موږ ته مشوره راکړې وه چې په دغسې حالاتو کې پر دوی ډزې وکړو... نو پایله یې دا وه چې زموږ عسکرو هره ورځ تر ټولو سپک او له حقارته ډک پیغورونه او کړنې له داسې چا څخه زغمل چې د یوې برچې برید به دوی ټول داسې خواره کړي وی لکه پخلې.[9]

ترټولو عذابوونکې پوهېدنه دا وه چې ټولو هغه افغانانو چې له انګرېزانو سره په اړیکه کې وو په بشپړه توګه یقین درلود چې انګرېزان په خپله د اړکې په لور روان دي. د ۱۸۴۱ کال د ډسمبر په نهه ویشتمه، هیو جانسن په خپله یادلیکچه کې داسې لیکلي:

په ښار کې زما یو شمېر ځایي ملګري هره ورځ زما لیدو ته راځي. پرته له دې چې په خبرو کې یې توپیر وي، په یو غږ وایي چې د بلوا په پیل کې د خپلې بېغمۍ او ځنډتوب له کبله مو ټوله دغه بلا په خپله پر ځان راوستې. دوی دا هم وایي چې د شاتګ په بهیر کې زموږ خوندیتوب یوازې په خپله موږ پورې تړلی دی او د هېڅ مشر په ژمنو باید تکیه ونه کړو ځکه چې دوی هر یو مخکې تر مخه نیت کړی چې تر وروستۍ کچې به هڅه وکړي چې موږ یو پنا کړي.[10]

موهن لال چې په ټول کابل کې یې بېساري اړیکې لرلې، پر له پسې خبرداري ولېږل چې انګرېزان د غلچکي برید په لور نېغ روان دي او د قزلباش مشرانو هغه صریح ځارګریز مالومات یې ورولېږل چې انګرېزان به له ټولوژنې سره مخ شي، خو ده ته پام وا نه اړول شو.[11] هیبتناکه ګنګوسې خورې وې چې افغانان به انګرېز ښځې ونیسي او ټول نارینه انګرېز به پرته له یو کس څخه ووژني چې نوموړی به د خیبر د غاښې په خوله کې بې پښو او لاسونو پرېږدي او پر سینه به یې یو نوټ وټومبي چې انګرېزانو ته خبرداری ورکړي چې هېڅ کله بیا افغانستان ته د ننوتلو هڅه ونه کړي. مېرمن سېل چې تل یې سپینې خبرې کولې، له شاتګ څخه یوه شپه مخکې په خپله یادلیکچه کې په ناهیلۍ لیکلي: «افغانان موږ ته وایي چې له حتمي مرګ سره مخ یو.» [12]

د ټولو په پرتله، په خپله شاه شجاع انګرېزانو ته د هغه برخلیک په اړه چې دوی ته تم و ډېر خبرداری ورکړ. محمد حسین هراتي لیکلي: «اعلحضرت پاټېنګر ته ویلکل: «په دغه ساړه ژمي کې د اډې پرېښودل د ځنډتوب وروستۍ کچه ده. باخبر، جلال اباد ته د تګ پرېکړه هېڅ باید ونه کړئ. که تاسې خامخا له اډې څخه وځئ؛ نو راځئ ژمی له موږ سره په بالاحصار کې تېر کړئ او دلته به یو ځای د ژمي پای ته تم شو. که چېرې مو اکمالات خلاص شي، موږ به په شاوخوا سیمو کې د لوټ له پاره چټک او لنډ بریدونه وکړو»، خو دغه وړاندیز ونه منل شو...»[13]

لکه څنګه چې موهن لال ورته اشاره کړې، د انګرېزانو دغه پرېکړه چې شاه شجاع یوازې پرېږدي، په رښتیا لویه بې وفایي وه. نوموړي لیکلي: «د درې ګوني تړون مادو ته هېڅ درناوی ونه شو او د شاه شجاع دولت چې موږ تېر دوه کاله وساتو، د خپلو دښمنانو منګولو ته پرېښودل شو. که چېرې موږ د یو خپلواک پاچا په څېر پرېښی وای، ده به خپل بارکزي دښمنان له منځه وړي وای او خپل ځان او موږ به یې اوس له دغه وژونکو پایلو څخه ژغورلي وای.» [14]

شجاع د انګرېزانو په بې وفایۍ خپه او ګیله من نه ښکارېده، خو د خپلو متحدینو سوډرتوب هک پک کړی و. په لودیانې کې له خپلو انګرېزي کوربه والو سره له مکررو اختلافونو سره سره، د څو کلونو په ترڅ کې یې د هندي کمپنۍ روان اداري اغېزمنتوب خوښ شوی و، خو په تېرو شپږو اونیو کې یې چه څه ولیدل، د دوی په اړه د ده له باور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نبغ ټکر کې وو. څنګه انګرېزانو، په تېره بیا واکمن او یو وخت پوه مېکناټن داســې ســاده بدانګه کار وکړ؟ «ســېر ویلیم مېکناټن ماته غوږ ونه نیو.» دا هغه څه دي چې بې اسرې شـاه شـجاع، اکلنډ ته لیکلي او زیاتوي چې مېکناټن ته یې په وار وار وویل چې:

د دغه خلکو له وژلو او یا زولانې کولو څخه پرته بله چاره نه شته. زه دوی ښه پېژنم، خو زما خبرې بې ګټې وې...
ما ډېر ځلې وویل چې زه هېواد پرېږدم ځکه چې یو پاځون به خامخا کېږي، خو اســتازي به راته ویل چې غم ونه کړم او هېواد به په یو ځو لواوو ارامه کړي. ما بیا ورته وویل: «پام کوه چې ته غولېدلی یې او زه له هېواد څخه وځم» ، خو مخه مې کورنی نبولې وه. ژمی راغی او زه لاړ نه شـوم او ورپسې اړودوړ پیل شـو. دغه خلک څه سپي دي! ما هیله درلوده چې له خراسـانه تر پارس پورې ټول هېواد ارامه کړم. داسې څوک شـته وو چې زما مخه یې نیولې وای؟ خو دوی دا موضـوع کافر او مسـلمان ته واړوله چې له کبله یې ټولو خلکو له ما څخه مخ واړولو.[۱۵]

شـاه شـجاع په ځانګړي ډول د مېکناټن د وروسـتیو خبرو اترو بښې ډېر ځاځناک کړی و چې په خپله د ده له بودیجې له اوږدمهاله سپما څخه وروسته یې د پیسو دومره لوی رقم اکبر خان ته ورکړ او په دې توګه یې ده ته مناسبې سرچینې پرې نه ښودې چې د ښې دفاع له پاره یې وکاروي:

محمد اکبر او نور له لوړې مړه کېدل - تا په خپلو پیسـو دوی په پښـو ودرول. تا خپل دښـمن ته پیسـې ورکړې چې په خپله تا ووژني. دی به ستا په پیسو څه کوي، خو که ستا پیسې نه وای، لس ورځې به نه و پایېدلی.
ما پرته د سېر ویلیم مېکناټن له اجازې حتی اوبه هم نه څښلې او په وار وار مې ورته وویل چې موږ به نابود شـو. کپتان لارنس ژوندی دی، د ده پر وړاندې مې دا ورته ویلي. کپټان برنز اوس مړ دی، ده خپل زړه ته کتل او د خلکو خبرو تېر ایســته. ما ورته وویل چې خلک ور څخه خوښ نه دي او ســتا په اړه بد نیت لري، مه غولېږه، خو زما خبرو څه ګټه نه لرله... په یوه یا بله وســیله زه تر اوســه پایېدلی یم، خو اوس سـړي رالېږي او وایي چې شـجاع اسـلام ډوبوي او خلک وایي چې زه له تاسې [انګرېزانو] سـره یم، نو له دې امله خلک له ما څخه لاړل.

لکه څنګه چې د نوموړي ځانګړتیا وه، خپل لیک ته یې داســې پای ورکړی: «څه چې د خدای رضــا وي، هغه به پېښ شي.»[۱۶]

جورج لارنس یوازینی ژوندی پاتې افسـر و چې له شـاه شـجاع سـره یې نږدې اړیکې لرلې؛ نو دا د ده په خوښې پورې اړه درلوده چې د شـاه شـجاع وروسـتی بېړنی پیغام جنرال ته ورسـوي. په پیغام کې یې له جنرال څخه هیله کړې وه چې اډه پرې نږدي او د اکبرخـان په ژمنو په هېڅ وجـه بـاور ونـه کړي. پـاچـا ټینګار کړی و چې: «تر هغـه پورې چې موږ لـه خپـل موقعیت څخه ســاتنه کوو، دوی به موږ ته زیان ونه شــي رســولی، خو که خپل ځایونه پرېږدو، نو بیا به په مړو کې شـمېرل کېږو.» لارنس لیکلي: «پاچېنکر مې په مناسـبه توګه له دغه خبرداریو څخه خبرولو. ده به الفنسـټون ته بوتلم او هغه ته به مې خبرداري تکرار کړل... خو موږ ته به یې وویل چې اوس پاتې کېدل ګټه نه کوي او موږ بـاید شـــاتګ وکړو.»[۱۷]

شـــاه شــجاع چې د اډې واکمنان د خوندي شـــاتګ په ناشـــونتیا قانع نه شـــوای کړی؛ نو هڅه یې وکړه چې خپل ځو اشنایان وژغوري. په دې اړه وېنسنټ ایېر لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ده] له بریده وتلې هڅه وکړه چې مېرمن مېکناټن او ورسره مل ښځینه ودوماري چې له پوځ څخه چې له منځه به یوړل شي، بېلې شي او د نوموړي تر ســاتنې لاندې په بالاحصـــار کې پاتې شـــي. ده له برید جنرال انکټیل Anquetil څخه چې د ده د پوځ قومانده یې په لاس کې وه، همدې ته ورته غوښتنه وکړه: «چې د اړتیا پر وخت یوازې پرې نه ښودل شي او له هغه پوځ څخه محروم نه شي چې تر اوسه ورته ویل کېدل چې خپل پوځ یې دې وګڼي.» خو دغه ټولې غوښتنې بې ګټې وې. جنرال او د جګړې شورا هوډمن وو چې باید شاتګ وکړي او ویې کړ.[18]

د مېرمن سېل په قول، د جنورۍ په پنځمه د شپې ناوخته شاه شجاع د وروستي ځل له پاره له خپلو متحدینو هیله وکړه او په لاس چټک لیکلي «پیغام کې یې غوښـــتنه وکړه چې که چېرې لږ تر لږه د ده د پوځ یو افســـر ورســـره پاتې شي؟»[19]

خو اوس یې چې شاه شجاع یوازې پرېښود او مشورو ته یې پام ونه کړ، دغه افسران د خپل ژر پیلېدونکي حرکت په تیاریو بوخت وو او حتی د نوموړي پیغام ته یې د ځواب فکر هم ونه کړ.

د جنورۍ په شپږمه د سهار په نهه بجو د بیګل او ډولونو له غږ سره سم، لمړني انګرېز عسکر له اډې څخه ووتل او د جلال اباد په ســـړک د خردکابل غاښـــي په لور تر ګونډو پورې په واوره کې یې کرار او کمزوري درانه ګامونه اخیســـتل پیل کړل. له ځلانده لمر سره سره، د مېرمن سېل ترمامیتر د تودوخې درجه «له صفر څخه ډېره ټیټه ښودله».[20]

د خوشبینۍ څه نښې علامې شته وې: په داسې حال کې چې شاوخوا ۱۰۰ افغانان راغونډ شوي وو چې د اشغالپال پوځ د وتلو ننداره وکړي، هغه غازیان چې د اډې په دروازو کې به غونډېدل، په مرموزه توګه تري تام وو او د پوځ مخکښــــه ســاتونکې ډله پرته له دې چې له کوچني مقاومت سره مخ شي، وړاندې روانه شوه. حتی د کلاوو هغه کرۍ چې تر اډې چاپېر وه او په تېرو شـــپږو اونیو کې ورڅخه په اډه باندې ډزې کېدې، په بشـــپړ ډول چوپه وه. هیو جانس چې اوس یې زړه ارامه شوی و، لیکلي: «حتی یو کس هم د کلاوو پر دېوالونو نه لیدل کېدو.» نو له دې کبله مخکښه ساتونکې ډله ډېره خوشحاله وه:

په اډه کې د ننه، د دوو میاشتو او درې ورځو له بند څخه وروسته، چې په لږ کې یې موږ یو شمېر جګړې بایللې، د خپلو افسرانو او عسکرو یوه لویه برخه مو له لاسه ورکړه او په اډه کې مېشتو خلکو سخته لوږه، یخني او اضافه کاري وګالله، سپاهیان په دې تمه ډېر خوشحاله وو چې بلاخره په دغه موسم کې له داسې سړې هوا څخه روانېږي او په تېره بیا په داسې وخت کې چې د ټول ژمي له پاره د سوند لرګي خلاص وو او د اډې کابو ټولې د مېوې ونې وهل شوې او سوځول شوې وې.[21]

مېرمن ســېل خپله وروســتۍ ســهارنۍ د خپل خوړنځي د مېز په لرګیو پخه کړه. بیا یې دســتار پر ســر کړ او د پســه له څرمنې جوړ افغان پوســتین یې چې افغان ملګرو یې د اغوســتو مشـــوره ورکړې وه، واغوســـت. دې خپله شــل کلنه امیندواره لور هم ځان ســره مل کړه. نوموړې د کپتان لارنس وړاندیز چې د دوی ســاتنه به وکړي، ونه منلو او پرځای یې د سکښر له هغې سپرې قوا سره روانه شوه چې روښانه یونیفورم یې درلود او مخکښه ساتونکې ډله ترې جوړه وه. د هغه بدرګې ډلې نښې نه لیدل کېدې چې مشرانو یې ژمنه کړې وه چې له انګرېزانو سره به ولېږل شي، او نه د کابل په کنګل سیند کې هغه په بېړه جوړ شوی او پر اوبو اېښی خوځنده پل په ټاکل شوي وخت کې کار اخیستنې ته چمتو و؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو عسکر به یو ساعت په لیکه کې درېدلي وو چې پر پله تېر شي. که څه هم د مېرمن سېل زوم، بریدمن سټرټ ټپي و، نوموړي ټوله شپه تر ملا پورې په اوبو کې تېره کړې وه چې د توپونو د لېږد کراچۍ په سیند کې ډوبې او پر سر یې تختې کېږدي، خو د پله له کبله د ټول هغه ځنډ او ګډوډۍ سره سره چې په زرګونو بېرېدلو، وږو او کرختو د اډې هغه ملکي خلکو جوړه کړې وه چې د خوندیتوب په موخه په خپله له سپاهیانو سره ګډ شوي وو، داسې ښکارېدل چې د افغانانو د تورو په پرتله، اوس هم مخ په تېښته عسکرو ته واوره ډېره خطرناکه وه. جورج لارنس لیکلي: «هوا کرغېچوونکې او کنګلوونکې وه. خوارکیو بومي عسکرو او د کمپ ملکي خلکو ته زما ډېر زړه بد شو چې تر ګونډو پورې په واوره او چیکړو کې روان وو. ما هغه کسان چې مسوولیت یې زما په غاړه و یو ځای نه شوای ساتلی. ځینې د توکو حاملین به چټک مخ ته روان وو، خو ځینې نور به چې د ماشومانو او ښځو ډولۍ لېږدولې، ډېر شاته پاتې کېدل.»[۲۲]

لمړنۍ ستونزه وروسته له یوولسو بجو سملاسي هغه وخت رامنځته شوه چې نواب زمان خان اڅکزي انګرېزانو ته پیغام ولېږه چې خپل تګ ودروي او نور مخ ته لاړ نه شي ځکه چې د دوی د خوندي تګ له پاره یې تر اوسه ټول تیاری نه دی بشپړ شوی. په دغه شېبه کې بلاخره مخکښې ساتونکې ډلې د سټرټ له بیړني جوړ پله څخه تېرېدل پیل کړي وو او عسکر چې د برید له خطر سره په بې وسۍ مخ وو، په سړه هوا کې د اډې او سیند تر منځ په اوږده لیکه کې تم وو. الفنسټون چې د تل په څېر اوس هم زړغی و، د درېدو امر وکړ او بیا نه پوهېده چې اوس څه وکړي. په همدغه مهال، د هغو غازیانو په ګډون چې تر اوسه تري تام وو، د افغانانو یوه لویه جوپه له بې بې مهرو څخه په داسې بڼه راښکته شوه چې فضا یې له بریمنو نارو څخه ډکه کړې وه او د ماموریت د تشې شوې ودانۍ چې د اډې اصلي ودانۍ شمال ته نېغه پرته وه، په لوټ او سوځولو پیل وکړ. د لوګي لوخړو او د نږدې ډزو غبر وېره رامنځته کړه چې له کبله یې جوالیانو او د کمپ ملکي وګړو لیکې ماتې کړې او«په عسکرو ورګډ شول چې له امله یې په دوی کې بشپړه ګډوډي رامنځته شوه».[۲۳]

غازیان یو ساعت وروسته د ماموریت د ودانۍ پر دېوالونو وختل او پر تم عسکرو یې ډزې پیل کړې. د ساتونکو شاتنۍ ډلې د اډې له سنجونو څخه پر دوی ځوابي ډزې کولې. تر یوې بجې پورې، د اروپايي پلې پوځي ډلې پنځوس کسه په واوره کې مړه او یا ټپي پراته وو. مکنزي پوه شو چې ټول وژنه په پېښېدو ده او الفنسټون اوس هم زړغی دی؛ نو له امر څخه په سرکښۍ یې خپل اس چارګام کړ - جنرال په کمزوره غبر ورپسې ناري کړې: «مکنزي، دا کار ونه کړې.» مکنزي پله ته ځان ورسولو. هلته یې شلټن ته وویل چې تګ بېرته پیل کړي. د مکنزي له پرېکنده کړنې سره سره، ورځ په تیاره کېدو وه او بلاخره په پنځو بجو د شاتنۍ ساتونکې ډلې وروستی سپاهي له اډې څخه ووت. دوی په سړه هوا کې یوولس ساعته د اډې پر بامونو کې پرته له ډوډۍ تېر کړل.[۲۴] د دوی په وتلو سره، غازیانو د تشې شوې اډې په لور منډه وکړه، بامونو ته یې وختل او سمدلاسه یې په خپلو اوږدو تورټوپکو پر عسکرو باندې ډزې پیل کړې.

په دغه پړاو کې چې د عسکرو لویه برخه د بګرامیو سیمې ته چې د لمړنۍ شپې د تېرولو له پاره ټاکل شوې وه، په نږدې کېدو وه، ډېری بارونه او ټول مهمات لا تراوسه له پله څخه تېرېدو ته تم وو. غلزي غازیانو چې دوی د خپلو تورټوپکو د ګولیو د واټن د ننه ومونDل، د کمپ ملکي کسان او د شاتنۍ ساتونکې ډلې وروستني عسکر به چېرته چې درېدلي وو، هملته به پر ځمکه وغورځېدل. دوی داسې ترهېدلي وو چې لمړی په ټمبه او ټېله او بیا یې یو بل سره په جګړو له پله څخه د تېرېدو هڅې کولې. د وېرې په دغه صحنه کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د [کالن] مکنزي د دغه شـرموونکې ورځې يوه تر ټولو زړه دردوونکې صـحنه تل په ياد وه. د نوموړې سـترګې ناڅاپه په يوې کوچنۍ هندوستاني ماشومې ولګېدې چې په بشپړ ډول بربنډه په واوره کې ناسته وه. مور يا پلار يې تر څنګ نه ليدل کېدل. دغه ښايسته ماشومه شاوخوا دوه کلنه وه، يوازې دومره لويه وه چې د خپلو کوچنيو پښو پر سر نېغه ناسته وه. ولول وېښته يې تر نرم او کوچني ستوني تاو راتاو وو او ښايسته تورې سترګې يې چې د خپلې نورماله کچې په پرتله دوه برابره غټې شوې وې، په تېرېدونکو وسلوالو او اسوالو او همدا راز په نورو عجيبو صحنو کې خښې وې...نوموړي ډېر داسې نور کوچني وژل شوي ماشومان په لاره کې وليدل. همدې ته ورته، ښځې چې اوږده تور وېښتان يې په خپلو وينو کې خيشته وو، مړې پرتې وې... [لږ ځنډ وروسته] افغانانو [په واوره کې ګڼه ګوڼه جوړه کړه او مخ په مرګ کسان يې ختمول] او په خپلو چړو يې ټپي پوځيان وهل.[۲۵]

که څه هم سټرټ، جنرال ته ياده کړې وه چې له پله څخه لږ وړاندې سيند دومره ژور نه دی او اوښان او اسونه په کې تېرېدی شي، خو داسې برېښېدل چې دغه مالومات له چا سره شريک شوي نه وو. د اډې له سنجونو څخه په ډېرېدونکې توګه د ډزو له دوام سره سره، د ښځو او ماشومانو په ګډون، سپاهيانو هڅه کوله چې د توپونو له کراچيو څخه پر نوي جوړ شوي پله تېر شي؛ نو مازديګر ناوخته کله چې لمر د غرونو تر شا ښکته کېدو او سيوري په چټکۍ اوږدېدل، د سيند غاړه په يوه «کنګل شوي» ډنډ بدله شوه او دومره ښويه شوه چې د بار اوښانو ته ناشونې وه چې حتی سيندغاړې ته ور نږدې شي. لکه څنګه چې د اډې له سنجونو څخه ډزې کره او ډېرېدې، خېمې، د باروتو بېلرونه، د دان پورو د ګوليو بکسونه، د جامو او خوراکه توکو بستې په لويه پيمانه د کابل په سيندغاړه کې پرېښودل شول. د اډې د اور لمبو، پر پرېښول شوو بوريو او زين کڅوړو باندې رڼا اچولې وه. شاتنۍ ساتونکې ډله دې ته اړ شوه چې د هغه نهو توپونو څخه چې د وړلو اجازه يې انګرېزانو ته ورکړل شوې وه، دوه يې سوري کړي ځکه په واوره کې کش کول يې دوی ته ناشوني وو. په پای کې وېره او ترور دومره زيات و چې کابو ټول بارونه له پله څخه تېر نه کړل شول؛ نو په دې توګه د کلابندۍ له پيل څخه تر اوسه الفنسټون د دويم ځل له پاره تر ټولو لويه تېروتنه وکړه او هغه دا چې اوس بيا د اکمالاتو په خوندي ساتلو کې پاتې راغی.

ايير ليکلي: «شپه رانږدې شوه، خو غازيانو چې د ماموريت ودانۍ او د اډې کابو هرې ودانۍ ته اور اچولی و، د اور لمبو د سيمې شاوخوا څو ميله رڼا کړې وه. دې يوه بېسارې وېروونکې صحنه جوړه کړې وه.»[۲۶] کله چې وروسته له لمر لوېدو هوا نوره هم سړه شوه، اووه ميله وړاندې په بګراميو کې اوس د عسکرو اصلي برخه د ډوډۍ، سوند لرګيو او د خېمو رارسېدو ته بې ګټې تم وه. څو ساعته وروسته په داسې حال کې چې شپه لا ډېره سړه او تياره کېده، داسې خبرې خورې شوې چې خوراکه توکي او نور بارونه له لاسه وتلي دي. د شاتګ د څو ساعتونو په ترڅ کې دغه ځواک اوس يو ځل بيا خپل ټول اکمالات له لاسه ورکړل.

په دغه شپه په بګراميو کې ګډوډي واکمنه وه. د شاتنۍ ساتونکې ډلې وروستي عسکر د شپې په دوو بجو کمپ ته راورسېدل. «دوی په ټوله لار کې له جګړې سره مخ وو او د هغه بدبخته خوارکيو نارينه، ښځينه او ماشومانو له دوامداره ليکو څخه تېر شول چې د يخنۍ او يا ټپونو له کبله مړه او يا د مرګ په مورګه پراته وو. په دغه ليکو کې ځينو به چې د خوځښت توان له لاسته ورکړی و، له خپلو ملګرو څخه وغوښتل چې مړه يې کړي او عذاب ته يې پای ورکړي.»[۲۷] د ساتونکو شاتنۍ ډلې حتی د کمپ تر خولې پورې «د شلګونو سپاهيانو او د کمپ ملکي کسانو ليکه وليده چې په ناچارۍ مرګ ته په واوره کې تم وو».

په دغه شپه کې يوازې څو نېک بخته کسانو لږ خواړه درلودل. مېرمن مېکناټن چې له ځان سره يې خپل خوراکي توکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږدول، جورج لارنس ته يې «لږ سره غوښه او هسپانوي واين» ورکړل. نور کابو ټول خلک وږي پاتې شول او «دې ته اړ شول چې پرته له ډوډۍ، اور او سرپناه په واوره کې څملي... د سړيو چوپه چوپتيا د دوی د ناهيلۍ او بې وسۍ څرګندونه کوله، هېڅ غږ نه اورېدل کېده».[۲۸]

مېرمن سېل د ډېرو نورو خلکو په پرتله نېک بخته وه. که څه هم خپل ټول مال يې له لاسه ورکړی و او د خوراک له پاره يې څه نه درلودل، خپله هغه برېستن يې د خپلې لور چوپړيالې ته ورکړه چې پر اس وربانده کښېناستله؛ نو په غير معموله توګه مېرمن سېل او په دې پورې اړوند کسانو داسې څه درلودل چې په دغه شپه يې پر ځان واچوي. څو نورو کسانو هم ښه بخت درلود. د ببلګې په توګه، بدخويه ډاکټر مګرت يوه تشه ډولۍ وموندله چې په کې ويده شي، خو اوس دا څرګنده شوه چې بنګالي سپاهيان نه پوهېدل چې له واورې سره څرنګه مقابله وکړي. د دوی دغه ناتواني د مکنزي وفاداره تورټوپکوالو د وړتيا سره په نېغ ټکر کې وه. دوی وښوده چې له دغسې حالت سره څرنګه مقابله وکړي. ايير چې د دوی وړتيا اغېزمن کړی و، ليکلي: «کمپ ته له رسېدو سره سم، لمړی يې يو کوچنی ځای له واورې څخه پاک کړ او ورپسې ټول څنګ په څنګ يو بل ته ډېر نږدې د کړۍ په بڼه داسې پرېوتل چې پښې يې د کړۍ منځ ته وې او ټولې تودې جامې چې دوی درلودې، په برابره او مساوي توګه يې پر ځان واچوالې. په دغه ساده بڼه د يو او بل د وجود د تودخې له توليد څخه په کار اخيستنې، دوی له يخنۍ وهنې څخه ځانونه وژغورل. کپتان مکنزي چې له دوی سره پروت و، وويل چې له يخنۍ څخه يې هېڅ د ناراحتۍ احساس ونه کړ.»[۲۹]

د دغه تخنيک اړينتوب سبا ته څرګند شو. ډېر عسکر د يخنۍ له کبله مړه شوي وو. جورج لارنس ليکلي: «زما خېمې ته نږدې، سپين وېښته بوډا لارښود مګرېګر د ډېرې يخنۍ له کبله شخ پخ مړ پروت و. دی له ډېرې ستومانۍ هلته پرېوتلی و او په دې توګه يې ځان مرګ ته سپارلی و.»[۳۰] ډېری د ځانيخود سکاټلنډي په لته کې شول. نوموړی دېرش کلن ويليم برايډن William Brydon و چې د شاه شجاع د پوځي ډلې د ډاکټر د مرستيال دنده يې درلوده. ده په خپل پوستين کوټ کې چې د پسه له څرمنې جوړ و، توده شپه تېره کړې وه او اوس په سباون کې يې هغه خلک چې لا تر اوسه ژوندي وو په بيړه هڅول چې ښکته پورته ټوپونه ووهي. ده په خپله يادليکچه کې ليکلي: «ما بوميانو ته چې زما څنګ ته پراته وو وويل چې جګ شي، خو يوازې څو کسانو د جګېدو توان درلود. ځينو يې په حقيقت کې پر ما وخندل چې زه دوی خوځېدو ته هڅوم او په عين وخت کې يې خپلو پښو ته اشاره وکړه. د دوی پښې داسې تکې تورې شوې وې لکه د لرګيو د سکرو ګرګې. دغه خوارکي يخنۍ سوي وو او هملته پرېښودل شول.»[۳۱]

د شاتګ دويمه ورځ د لمړۍ ورځې په پرتله لا ډېره له شرغوبل څخه ډکه وه. وېنسنټ ايير ليکلي: «اوس له نيمايي څخه لږو عسکرو د دندې ترسره کولو وړتيا درلوده. يخنۍ حتی د ډېرو تکړه سړيو لاسونه او پښې داسې سوي وو چې د دوی ځواک يې اوبه او د دندې توان يې ترې اخيستی و.» حتی اسوالو د دې توان نه درلود چې پر خپلو اسونو سپاره شي؛ نو دوی «خپلو اسونو ته اوچت کړل شول... د اسونو په کوښو د کلکې واورې غونډاري داسې ټينګ سرېښ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پر ســوټک او څولۍ• یې ترې لیرې کول. کومه هوا چې موږ تنفس کوله، په بېرته راوتلو کې به په خوله او ســږمو کې کنګل شــوه او زموږ په برېتو او ږیرو کې به یې کوچني د کنګل ګړونګي جوړ کړل... اوس یوازې څو ســوه د جګړې وړ سرې پاتې وو.»[32]

عسکر نه یوازې له فزیکي اړخه ډېر کمزوري شوي وو بلکې د دوی اراده او پر ځان باور او کنټرول لا ډېر زیانمن شوي وو. هیو جانسن په خپله یادلیکچه کې لیکلي: «د سهار د اونیمو بجو په شاوخوا کې، پرته له دې چې امر ورته وشي او یا بېګل وغږول شــي، مخکښــې ســاتونکې ډلې تګ پیل کړ. دســپلین مخ په ختمیدو و.»[33] پاتې بکســونه او بارونه پر اوښــانو او غوېو لا بار شــوي نه وو چې یو لوی شــمېر افغانان د غرونو له ارغاړو راښــکته شــول او هر څه چې لاســته ورتلل، له ځان سره یې وړل. د افغانانو یوې ډلې پر درېیو توپونو چې سپاهیانو پر کچرو کش کول، هغه وخت ناڅاپه مخامخ برید وکړ کله چې کمپ ته څېرمه د خښتو له یوې کوچنۍ کلا څخه تېرېدل. دغه توپونه افغانانو ونیول او هغه سپاهیان چې باید د توپونو ســاتنه یې کړې وای، ســمدلاســه وتښــتېدل. په لاره کې د عسکرو له مخې ته تګ سره سم د افغانانو شــمېر ډېرېده. دوی له انګرېزانو ســره موازي د لیکو په دواړو خواوو کې روان وو او پر مهاجرو چې د دوی تر منځ یې په ټمبه او ټېلې او شرغوبل منډې وهلې داسې اټکلي ډزې کولې لکه شپانه چې په ماهرانه ډول د ترهېدلو پسونو یوه رمه کنټرولوي. ترهېدلو سپاهیانو د ځوابي جګړې اراده لا د مخه بایللې وه.

یوه بشــپړه هندوســتاني لوا - د شــاه شــجاع ۲۹مه لوا- همغه ســهار اکبرخان ته واوښــته. ډېر نور ســپاهیان چې یخنۍ داسې سوي وو چې نور یې د مخته تګ توان نه درلود، خپله وسله ایسته واچوله او بېرته کابل ته په دې هیله وتښتېدل چې د دوی د زخمونو له کبله به په ښــار کې د مریبو ســوداګر پر دوی غرض ونه کړي او بل دا چې «د هغه حتمي مرګ په پرتله چې دوی له پوځ سره په تګ کې لیدلو، اسارت یې غوره ګڼلو». څو میاشــتې وروســته په ســلګونو دغه پخواني سپاهیان د کابل په بازارونو کې ولیدل شول چې ګوډ او مات نګوښېدل او خیر یې ټولولو.

که څه هم اوس دومره خوراکه توکي او مهمات پاتې نه وو چې د پوځ اصــلي برخې له پاره تر جلال اباد پورې بســنه وکړي، خو پوځ پنځه میله لا مزل نه و کړی چې په دویم ماسپښین الفنستون د بت خاک د خرد کابل د لوی غاښي په خوله کې د درېدو غږ وکړ؛ نو لکه څنګه چې جانسن یې یادونه کړې،«یوه بله ورځ یې هم له لاسه ورکړه».

موږ له کابل څخه یوازې د ورځنۍ ځیرې یوه پر څلورمه برخه چې د پنځو ورځو له پاره یې بســنه کوله له ځان ســره درلوده چې تر جلال اباد پورې مو ورســوي. د ځارویو له پاره مو هېڅ واښــه نه درلودل او نه یې د پیدا کولو هیله وه؛ نو په دغه بنه یې بدبخته عسکر چې یخنۍ کابو فلج کړي وو، په واوره کې پرته له سرپناه څخه د یوې بلې شــپې تېرولو ته اړ ایســتل. عسکرو ته ځایونه نښــاني شــوي نه وو، بشــپړه ګډوډي او ســربدالي واکمنه وه. د ســپاهیانو درې پر څلورمه برخه د کمپ له ملکي خلکو ســره ګډ شــول او نه پوهېدل چې د دوی پوځي قرارګاوې چېرته وې.[34]

مېرمن ســېل په همدې کچه د جنرال مشــرۍ ته په غوســه وه او نوره هم په دې باور شــوه چې په لویه کچه ټولوژنه ژر پېښېدونکې ده. نوموړې لیکلي:

• څولۍ: سکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه نااړينې تمبدنې، موږ د خوراکي توکو له کمښت سره مخ کوي او ټول افسران يا عسکر د سرپناه د نه شتون له امله سم فلج شوي...

لا تر اوسه يو فوټ واوره پرته ده، د سړيو له پاره ډوډۍ او د څارويو له پاره واښه نه شته او حتی له څېرمه سيند څخه د اوبو ترلاسه کول سخت دي ځکه کله چې زموږ سړي د اوبو راوړلو هڅه وکړي، پر دوی باندې ډزې کېږي، خو له دې سره سره، زموږ حاکمان دومره ړوند اخلاص لري چې موږ ته وايي چې سرداران وفادار دي او اکبرخان زموږ ملګری دی او او او، او دلته يې زموږ د پاتې کېدو غوښتنه ځکه وکړه چې ښايي سرداران خپل عسکر غاښيو ته ولېږي چې موږ ته يې امنيت ونيسي! هو، په دې کې اړينګ نه شته چې دوی به خپل عسکر هلته ولېږي، خو هر څه هغسې پېښېږي لکه څنګه چې موږ ته مخکې له حرکت څخه ويل کېدل.[۳۵]

نو د دويمې شپې له پاره عسکر په وړې نس په ډېره واوره کې پرېوتل*. خو دا ځل شاوخوا ټولې ارغاړې له افغانانو ډکې وې او ټوله شپه يې پر دوی ډزې کولې. داسې ګنګوسې خپرې شوې چې په خپله اکبرخان دوی ته د ډزو لارښوونه کوي. ايير ليکلي: «يوه د لوږې، يخنۍ، ستړيا او مړينې شپه وه او د هر راز مړينې خيال چې زه يې کولی شم، يو يې دومره دردمن نه دی لکه کنګليزه يخنې چې د سړي د بدن هر حساس غړی تر هغه وخته شکنجه کړي تر څو چې ډېر سخت روح په خپله د انسان د بې کچې رېړې او ځور له امله لاړ شي.»[۳۶]

خو د راتلونکو ورځو په پرتله، د لمړيو دوو ورځو رېړې هېڅ وې.

بتخاک د خردکابل د غاښي له اوچتو کړنګونو څخه بر په لنډ واټن کې پروت دی*. همدلته، د غاښي خولې ته څېرمه، دوه مياشتې مخکې د جګړه مار باب پر غونډ باندې لمړی ځل داسې وخت برید وشو کله چې دوی د شپې تېرولو له پاره تم شوي وو. اوس همدغه کړنګونه د سباوون په بهير کې د لا ډېر خونړي غلچکي بريد شاهدان شول. د پخوا په څېر، وژنې وروسته له دې پيل شوې چې د تورټوپکو د ډکولو ډاروونکي غيبي غږونه واورېدل شول.[۳۷]

له لمر خاته څخه لږ مخکې، يو لوی شمېر افغانان په تياره کې د کمپ په شاتني لوري کې ټول شوي وو. کله چې سپاهيان پاڅېدل چې د يخنۍ له کبله هغه مړه کسان ولټوي چې پر ځمکه د څو پاتې خېمو شاوخوا ته پراته وو، په همدغه شېبه جګړه پيل شوه. هيو جانسن ليکلي:

په لمرختو کې دغه صحنه ډاروونکې وه. زموږ ځواک په بشپړه توګه بې نظمه و. داسې ښکارېدل چې هر سړی د يخنۍ له کبله داسې

---

*د شاتک پوځ ته به دا ډېره ښه وای چې د شپې له خوا يې مزل کړی ځکه چې واوره به کنګل وی او غلزيو به په شپه کې کره نښې نه شوی ويشتی. په ۱۹۸۰ مو کلونو کې له همدې کبله افغان مجاهدين په همدغه تک لوري د شپې له خوا مزل کړلو، خو دا يو داسې پوځ و چې د غرونو او ژمنۍ جګړو له پاره روزل شوی نه و او نه يې د داسې جګړو له پاره سم تجهيزات لرل.

*پوځ کولی شوای چې د لته بند تک لوری ونيسي چې ډېر له خطر څخه ډک نه و. دا تر اوسه مرموزه پاتې ده چې دوی ولې دا کار ونه کړ. د افغان انګرېز په دويمه جګړه کې، انګرېزي پوځ همدغه تک لوری ونيو او د خردکابل او تيزين له وېروونکو غاښيو څخه يې ډډه وکړه چېرته چې ډېرې وژنې ترسره شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلج شوی و چې کابو خپل دان پور یې په لاس کې نه شوی نیولی او یو ګام یې نه شوی اخیستی. ځینې دښمنان د کمپ په شاتنۍ برخه کې راښکاره شول. د کمپ ټولو ملکیانو د کمپ مخکنۍ برخې ته لویه ډله یېزه منډه وکړه، سرې، ښځې او ماشومان... ځمکه د مهماتو په بکسونو او بېلابېلو مالونو پټه وه. دښمنان ډېر ژر په ګڼ شمېر راغونډ شول. که چېرې دوی پر موږ یرغل کړی وای، موږ به هېڅ مقاومت نه و کړی او هر یو به وژل شوي وای.[۳۸]

خو افغانانو د دې پر ځای چې دلته برید پیل کړي، دوی د پوځ تر ټولو مخکښــه برخه او ملکیان د خردکابل غاښــي د خولې په لور په ډېره ځیرکۍ سم کړل. د ښځو مشري مېرمن سېل کوله - «زه د یو ګیلاس هسپانوي واین په څښلو، چې په نورو حالاتو کې یې ښــايي د بې تهذیبې ښــځې احســاس راکړی وای، ډېره مننـدویه وم.» په عین وخت کې، جنرال الفنسټون او کارکوونکو یې د افغان اسـوالو یوه ډله ولیده چې شـاته په یو واټن کې د یوې جنډې لاندې درېدلي دي او په وضاحت د تګ لارښوونه کوي. د انګرېزانو انګېرنه چې دا اکبرخان و سمه وخته؛ نو مکنزي او لارنس وروليږل شول چې د خوندي تګ له پاره چې په کابل کې ژمنه ورســره شــوې وه، ورســره بیا خبرې اترې وکړي. اکبرخان ومنله چې که ملګري یې، مکنزي او لارنس، ده ته د یرغمل په څېر وسپارل شي، دی به خپل تر ټولو بانفوذه خلک له انګرېزانو څخه مخکې «غاښـي ته چې غلزیو نیولی و، ولېږي څو نومورې ترې وباسي» او د انګرېزانو امنیت خوندي شي.[۳۹] دغه شـرط ومنل شو.

لارنس لیکلي: «موږ چې د اکبر دوه اړوند کسـان راسـره وو، د دښـمنانو په منځ کې تر هغه وخته وړاندې لاړو چې اکبر خان ته ورسـېدو. دی د یوې غونډۍ څنګ ته ناسـت او سـباناری یې کولو. موږ ته یې په درنښـت سـت وکړ او خپلو کسانو ته یې امر وکړ چې زموږ وسلې راځخه واخلي... بیا، موږ کښېناستو، خو د داسې سړي له کاسې څخه خوراک چې لږ وخت مخکې یې اسـتازی وژلی و، موږ بې لړزې پرې نه ښـودو.»[۴۰] وروسـته کله چې اکبر په نرمۍ دغه دوه ځوان افسـران ترټل چې ولې انګرېزانو مخکې له دې چې دی یې د لارې د امنیت له پاره تابیا ونیسـي، له کابل څخه حرکت پیل کړ، دوی د غاښــي له منځه د دان پورو ډېرې ارابې واورېدې. دلته، د ســاتونکو مخکښــه ډله یوه ښــه ترســره شــوي غلچکي برید ته ورپورې وهل شوې وه.

وروسته څرګنده شـوه چې غلزیو څو ورځې دغه شېبې ته تابیا نیوله. پټمونه، تېشلي• خندقونه او د تیږو سنګرونه په داسې واټن کې په پام جوړ شـوي وو چې د انګرېزي دان پورو ګولۍ نه ور رسـېدې، خو د درې بېخ ته دومره نږدې وو چې انګرېز ځواکونه د افغان تورټوپکو د ویشــتنې په واټن کې د ننه وو. لکه څنګه چې اوس باید په اتوماتیک ډول د پلو ځواکونو کړنه وای، هېڅ داسې هڅه تر سره نه شوه چې جناحي ډلې مخکې تر مخکې اوچتو ځایونو ته د کتار د امنیت له پاره ولېږل شـي - نو اوس چې د پوځ مخکنۍ برخه ښــه د غاښــي خولې ته ننوتلې وه، غلچکی برید پیل شــو. په همغه شپه مېرمن سېل لیکلي*: «موږ لا نیم میل مخته نه وو تللي چې درنې ډزې راباندې پیل شوې. هغه افغان مشران چې له مخکښــې ډلې ســره وو، زموږ څخه یې وغوښــتل چې دوی ته نږدې روان اوســو. بې اړنګه، دوی له خپلو ملاتړو څخه

---

• تېشلی: هغه ځای چې لږ ژور وي

*په حقیقت کې، جبارخیل او خروټي غلزي چې په دغو غاښیو کې ګزمه کوله، د بارکزیو د مشرانو په نه اطاعت کې به یې دومره د ملامتیا احساس نه وي کړی. غلزیو له بارکزیو څخه دومره کرکه درلوده لکه له سدوزیو څخه. مېکناټن دوی ته د پیسو په اړه خپله ژمنه ماته کړې وه او اوس دوی غوښتل چې خپلې پیسې ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل چې په لوړو کې خلکو ته ور چیغه کړي چې ډزې ونه کړي، خو ملاتړو یې دغه کار په اغېزمنه توګه ونه کړ. دغه مشـران له همداسې خطر سـره مخ وو لکه موږ چې ورسـره وو، خو زه ډېره په دې باور یم چې دوی به په انفرادي ډول ځان قربان کړی وای چې خپل وطن له موږ څخه خلاص کړي». نوموړې دوام ورکوي:

وروســته له دې چې له ډېرو درنو ډزو څخه تېر شــوو، د جګړن تېن Thain اس مخې ته راغی چې د ملا او د شــا پښــو تر منځ په ګولۍ لګېدلی و. کله چې موږ څه ناڅه خوندي ځای پیدا کړ، خوارکی سټرټ بېرته پر اس سپور شو چې د جګړن تېن غم وخوري. نوموړی پر اس سـپور و چې اس یې ولګېد او کله چې دی له ځمکې بېرته اوچتېده، په ګېډه کې سـخت ټپي شــو. دی پر یو ټټو په ډېره سـختۍ دوه کسانو نیولی و او د خرد کابل کمپ ته یې راوړ.
هغه ټټو چې د سـټرټ مېرمن وربانديې سـپره وه، په غوږ او ورمېږ کې ټپي شـو. زه له نېکه مرغه یوازې پر یوه ګولۍ په مړوند کې ولګېدم. درې نورې مې اوږې ته نږدې له پوسـتین څخه، پرته له دې چې ما خوږ کړي، تېرې شـوې. پر موږ باندې له پنځوسـو یاردو څخه په لږ واټن کې ډزې کېدې، خو موږ خپل اســونه ډېر چټک په داســې لاره کې وځغلول چې په نورمال حالت کې به مو ډېر په پام پرته له دې چې پرې سپاره شو تېر کړي وای؛ نو په دې توګه موږ ته زیان ونه رسېد...

د ډېر شـرغوبل له کبله غابنې ډېر ژر بند شو او «په داسې حال کې چې چېرته خوځېدی نه شوای، موږ د ډېر وخت له پاره د درنو ډزو لاندې پاتې وو... اوه دېرشـم [غونډ] پرته له دې چې یو ډز وکړي، کرار کرار وړاندې خوځېدلو. دوی له یخنۍ څخه دومره فلج شـوي وو چې د افسـرانو هېڅ راز ډومارنې نه شـوی هڅولی څو دښـمنان چې له ځینو څخه یې نه یوازې دان پور بلکې د دوی د تن جامې اخیســتې وې، شـــاته وتمبوي. د څلور څلوېښـــتمې قوې یو شـــمېر ســـړیو د ســـپاهیانو له چانټو څخه ګولۍ واخیســتې... په ټول دغه بهیر کې زموږ خلک له لوړو څخه د ډزو له کبله په دوامداره توګه پر ځمکه غورځېدل... [لړترلږه] پنځه سوه عسکر او ۲۵۰۰ په کمپ پورې تړلي ملکیان ووژل شـول...»[۴۱]
خو د مل کسـانو د ویناوو پر بنسـټ، د عسـکرو لمړۍ ځپه چې مېرمن سـېل هم ورسـره وه، څه نا څه لږ زیانمنه شـوه. هیو جانسـن لیکلي: «د پوځ مخکښـې سـاتونکې ډلې د پام وړ زیانونه وزغمل، خو که چېرې د پوځ له شـاتنۍ برخې سـره پرتله شي، دوی بیا هم ډېر نېک بخته وو.»

هلته د وژنو صحنې ډېرې وېروونکې وې. د دغه ډاروونکي غابښي په ټوله لاره کې چې کابو پنځه میله ده، موږ د دښـمن له ډزو سـره مخ وو. ټول بارونه پرېښـودل شـول. دښـمنانو نه یوازې د لوړو په دواړو خواوو کې له هر کمر او غار څخه پر موږ د ډزو باران جوړ کړی وو بلکې درې ته هم راښکته شـول او سړي، ښځې او ماشـومان یې ووژل. ټوله پنځه میله اوږده لاره په مړیو او د مرګ په مورګه ټپیانو پټه وه. اوه دېرشـم بومي پلي غونډ له نیمايي څخه ډېر پوځیان له لاســه ورکړل او په همدغه تناسـب نور ځواکونه هم زیانمن شـول. حتی هغه څوک چې ژوندي پاتې شـول، په ډېره سختۍ خوځېدی شـوای ځکه چې لاس او پښې یې یخنۍ سـوي وو. زموږ کړاو هغه وخت لا ډېر شو کله چې د واورې ورېدل پیل شـول.[۴۲]

په داسـې حال کې چې د دان پورو د ډزو انعکاس ته یې په دره کې غوږ نیولی و، لارنس او مکنزي ټول سـهار له اکبرخان سـره په وړو خبرو اترو تېر کړ. مکنزي چې یو ښـه ژبپوه و، ویلي چې اکبرخان به په دري ژبه چې د ډېرو انګرېزانو زده وه، خپلو خلکو ته چیغه وکړه چې انګرېزان «وســپموئ» او بیا به یې په پښــتو ژبه چې د قبیلو ژبه وه او یوازې د مکنزي او څو نورو افسـرانو زده وه، ورته وویل چې ټول ووژنئ. ماسـپښـین ناوخته، دوی دواړه یو ځل بیا لکه د مېکناټن د وژنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورځ، د اسیرانو په څېر روان کړل شول، خو دا ځل د اکبرخان د تره زوی، سلطان جان بارکزي تر ساتنې لاندې وو. د هغه لارې صحنه چې دوی پرې تېر شول په ښېسارې توګه وېروونکې وه. لارنس یې داسې څرګندونه کړې:

له هرې خوا څخه ســپاهیان او د کمپ ملکیان لوټ کېدل او چا به چې د خپلو پیســو او یا ارزښــتمن مال له ورکولو ډډه وکړه، سمدلاسه به په چړو ووهل او یا ووژل شول... دوی به چې کله موږ ولیدو، دغه خوار مخلوق به موږ ته د مرستې چیغې وکړې. د دوی ډېرو زه وپېژندلم او ما ته به یې زما په نوم اخیستلو غږ وکړ، خو موږ څه کولای شوی... غلزیو اوس د وینو خوند څکلی و او په ښکاره یې خپل پرانګغونی طبیعت ښودلو. له موږ سره د دوی چلند تند او بې رحمه کېدلو او غوښتل یې چې موږ د ژوند هیله هېره کړو او قربانۍ ته ځان وسپارو. خپلې په وینو ککړې اوږدې چاړې به یې زموږ مخ ته خوځولې او راته به یې ویل چې شاوخوا د مړیو انبارونو ته وګورو ځکه چې موږ به هم ډېر ژر د دوی په منځ کې پراته وو. دوی به چیغې راباندې وکړې: «تاســې کابل ته د مېوو له پاره راغلي وئ، کنه؟ اوس یې خوند درکړ؟»

کله چې لارنس د یو انګرېز مړی ولید چې په لاره کې اوږد پروت و، پر اس نږدې ورغی او ګورې چې ژوندی دی:

دغه خوار ملګري ســر پورته کړ، زه یې وپېژندلم او چیغه یې راته وکړه: «د خدای له پاره کپتان لارنس، ما دلته مه پرېږده! » ما له خپل اس څخه ټوپ کړ، ده ته ورغلم. سلطان جان خپلو دوه کسانو ته امر وکړ چې ما سره مرسته وکړي؛ نو د دوی په مرسته مې پورته کړ. نوموړی د څلورڅلوېښتمې قوې یو بریدمل و او لمړی داسې ښکارېدل چې یوازې کیڼ لاس یې له لاسه ورکړی، خو په ډېره خواشــینۍ او وېرې، کله مې چې پورته کړ، ګورم چې له ورمېږ څخه تر ملا پورې ټوک ټوک غوڅ و. افغانانو وویل: «د ده د پورته کولو ګټه څه ده؟ په څو دقیقو کې به مړ شي.» زه زړه نا زړه ور ټیټ شوم او دغه خوار ملګري ته مې وویل چې موږ ده ته هېڅ نه شو کولی، بیا ده راته وویل: «نو داسې چې ده، د خدای له پاره، ډز راباندې وکړه.» ما په غمجنه توګه ورته وویل: «زه حتی دا هم نه شـم کولی.» بیا یې راته وویل: «نو همدلته مې پرېږده چې مړ شم.» موږ همدغسې کړنې ته اړ شولو...
کله چې موږ وړاندې روان وو، د دښــمن ګڼ شــمېر ســپاره او پلي مو ولیدل چې له راز راز لوټ کړل شــوو مالونو ســره د کابل په لور ستانه وو. یو بد عمله، یوه کوچنۍ هندي نجلۍ‌خپل شاته پر اس کښېنولې وه... [۴۳]

په دغه شـپه چې انګرېزان د غاښـي سـر ته رسـېدلي وو، دغه ځای ورته د تېرې شـپې په پرتله لا ډېر سـوړ ښـکاره شـو. ماښـام د واورې ورېدل پیل شـول او د شپې په نهو بجو دغه ورېدل په توپان بدل شـول. د ټول پوځ له پاره یوازې څلور خېمې پاتې وې چې یوه یې مېرمن سېل او د هغې لور ته ځانګړې شـوه. د سـوند او خوراک له پاره هېڅ نه وو، خو لږ تر لږه له ځینو ډاکټرانو ســره تر اوســه د دوا کڅوړې شــته وې. د ډاکټر برایډن ملګری او ســکاټلندي وطنوال، ډاکټر الکسـاندر برېس Bryce «راغی او د سټرېټ ټپونه یې وکتل». دا مېرمن سـېل لیکلي او نوموړې زیاتوي: «د ده پر ټپونو یې ټپۍ کېښـودې، خو له ونګې یې زه پوه شـوم چې د ژوندي پاتې کېدو هیله یې ورته نه لرله. بیا یې زما له مړوند څخه ګولۍ وایسـتله او زما پر دواړو ټپونو یې ټپۍ کېښــودې...[دغه شــپه] نیمه یخنۍ وهلي ســپاهیانو او د کمپ ملکیانو په زور هڅـه وکړه چې نـه یوازې زموږ خېمې بلکې زموږ د خوب کټونو تـه راننوځي... د دغـه کمبختـه خوارکیو ډېری د خېمې شاوخوا ته په دغه شپه مړه شـول... ډېرې ښځې او ماشومان وتښتول شول.»[۴۴]
اییر لیکلي: «واوره ټولو ته د خوب توشکه وه او له سهار څخه مخکې ډېرو ته کفن شـوه. دا ډېره عجیبه وه چې موږ په هر صـورت په هغه وېروونکې شـپه کې ژوندي پاتې شـوو.» مولانا کشـمیري دغه فکر ته په اکبرنامه کې داسې انعکاس ورکړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمي له خپلې بې رحمۍ سره
د کابل په زړورو خلکو مينه وروله
که کافران د واورې له کبله مړه نه شول
او يا د لوټمارانو له تورې څخه
ځنګلي سپيو، لېوانو او شغالانو ته له هر لوري
ګيدړې غړ کړ او دوی يې د غوښو مېلمستيا ته را وبلل
بازانو پورته ګردې الوتنې کولې
ټولو ښکاري ژوو ته يې سخاوتمنده بلنه ورکوله
په هغه لاره څو کسه ژوندي وتښتېدل؟
ټول ښکته وغورځول شول او په واوره کې پرېوتل [۴۵]

د جنورۍ په نهمه د شاتک په څلورم سهار، د تودوخې په منفي درجه او د لوړو او د توپان په منځ کې بلاخره وارخطايي بشپړې ناهيلۍ ته لاره ورکړه. د شاه شجاع د پوځي ډلې يو وروستی افسر چې ژوندی پاتې شوی و ليکلي: «د سړېو له پښو څخه به غوښې پټرې پټرې غورځېدې. په دغه شپه کې په شلګونو خلک د يخنۍ له کبله مړه شول.»[۴۶]
لکه څنګه چې د هر وخت په پرتله د واورې توپان په ډېر شـــدت دوام درلود، په ټوله ورځ کې يوازې يو ميل پرمختګ وشو. منشي عبدالکريم ليکلي:

په هر لوري کې اسمان له واورو ډک و. د اسمان څنډه نه ليدل کېده او داسې سخت باد پيل شو چې ونې يې له بېخه وايستلې. تورې تخته وربځې له تندر او برېښنا سره خورې شوې. د ډېرې واورې په ورېدو سره يخنې ډېره شوه او هر څه په سپين پوډر داسې پټ وو لکه کافور. انګرېز عسکر يخنۍ ووهل، د دوی د ګوتو سرونه ټوټه ټوټه لوېدل، نرمې حجرې يې له هډوکو غورځېدې او حتی پښې يې له ښونګرو جلا کېدې. په کنګل شوو ضايعاتو کې د خوځښت په نه شتون کې د مړي او ژوندي توپير نه شوی کېدای. افغان قبيلې چې له دغسې سختو حالاتو سره روږدې وې، غونډۍ ډکې کړې وې او په يرغل ښکته شول چې بې وسه انګرېز عسکر لوټ کړي. کله چې ور نږدې شول، افغانان پوه شول چې دوی نيمه مړه دي، يخنۍ داسې کلک کړي وو لکه تيږه، نور يې د خپلو وسلو، سرو زرو او نورو شتمنيو پروا نه لرله، يوازې دومره په خود کې وو چې په خپل ربړن وضعيت پوهېدل.[۴۷]

همدغه ماښام الفنسټون په عمل کې ومنله چې د ده عسکر له تباهۍ سره مخ دي او ټولې ښځينه انګرېزانې يې - يا لږ تر لږه هغه انګرېزانې چې د افســری رتبې يې لرلې* - اکبرخان ته په لاس ورکړې. ټوله ورځ اکبر په پوځي کتار پســې و او ټينګار يې کولو چې تر خپلې وسې هڅه کوي چې د غلزيو مخه ونيسي، خو دا ادعا يې کوله چې اوس يې حتی د دوی خپل

*د افسر له رتبې ټيټو انګرېزي ښځو ته ووېل شول چې دوی د خپل غم په خپله وخوري. په دغه غاښيو کې د يو قومي کس د وينا پر بنسټ چې ما خبرې ورسره وکړې، د ډېرو دغو ښځو ځايي حرمونه کورونه شول او نورې چې دومره د خيال نه وې، د وينځو په څېر خرڅې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران هم مخه نه شي نيولی ځکه چې اوس دوی د وينې خوند څکلی. پر ځای يې، نوموړي د ښځو، ماشومانو او هغه ټپي افســـرانو چې ده ته ځانونه ســـپاري د ســـاتنې وړانديز وکړ. په پای کې ۱۹ کســـان، دوه نارينه، اته ښـــځې او نهه ماشـومان د اکبرخان خلکو بوتلل. مېرمن سـېل او لور يې، الکسـاندرين د سـترګې مړينه هغه وخت وليده کله چې دی د يو لړزانده ټټو په شـا تړل شـوی و. مېرمن سـېل ليکلي: «ډېرې خوځېدنې د ده کړېدل ډېر او مړينه يې ګړندی کړه، خو دی لا هم په سـد کې و او پوهېده چې زه او ښځه يې ورسره يوو. موږ په خېګان کې دغه تسليت درلود چې د ده مړی مو په عيسوي مراسمو خښ کړ...» لږ وروسته نوموړي بيا ليکلي:

کورني خپګان او کړاوونو دومره زور راباندې اچولی و چې نه ما او نه مېرمن سترټ په خپله دا پرېکړه کولای شوی چې د سردار د ساتنې وړانديز ومنو او يا نه. لږ پيکه هيله مو درلوده چې جلال اباد ته به په خوندي توګه ورسېږو؛ نو موږ هم په دغه بېړ پسې شـوو... په يوه ډېره اوږده لاره د خرد کابل کلاوو ته بوتلل شـوو. هلته مو محمد اکبر خان له نورو يرغملو سـره وليد. موږ ته درې کوټې ځانګړې شـوې وې. هرې کوټې يو کوچنی ور درلود، خو کړکی په کې نه وې؛ نو ډېرې تياره او چټلې وې... په نيمه شـپه کې موږ ته د پسـه غوښـه او ډېرې غوړې وريجې راوړل شــوې. ټول هغه څه چې زه او مېرمن ســترټ يې اوس لرو په تن کې مو هغه جامې دي چې له کابل څخه په کې روان شوو.[48]

د انګرېزانو له پاره هغه چا ته د خپلو ښـځو سـپارل چې دوی د اکاړانو په سـترګه ورته کتل تر ټولو شـرموونکې شـېبه وه. برعکس، د انګرېزي مېم صاحبانو د ساتنې وړانډيز د افغانانو له پاره د مېړانې نښـه وه. منشي عبدالکريم ليکلي:

قوماندان اکبرخان په بې رحمه جګړه کې ښـکېل شـو، خو کله يې چې د ښـځو او ماشـومانو وېروونکې وضعيت وليد، ډېر زړه يې ورته بد شـو. له خدای سـره د مينې او د حرمت په پار يې امر وکړ چې ژوندي له مړو څخه جلا کړل شـي او ژوندي دې تاوده ځای ته يوړل شي او د پسه پوستين او د سمور چپنې دې ورکړل شي. ډېرې يخنی د دوی په رګونو کې وينه درولې وه؛ نو اکبرخان دوی نغري ته نږدې ځای پر ځای کړل چې بېرته په سد کې شي. افغان مېلمه پالنه داسې ده! حتی وروسته له ډېرې درنې جګړې څخه دوی له کمزورو سره چې له سخت کړاو سره مخ وي، داسې مرسته کوي لکه د خپلې کورنی غړي يې چې وي ځکه چې که د خدای رضا وي حتی کافر د ثواب وجه کېدای شي.[49]

خو هغه خلکو ته چې تر اوسـه په شـاتګ کې وو ربړو دوام درلود. د جنوری د لسـمې په سـهار، د خردکابل په لوړو کې د دويمې شـپې له تېرولو وروسـته، هيو جانسـن واضح ليکلي: «د کابل له ټولې قوا څخه اوس حتی يو سـپاهي نه دی پاتې. زموږ د بارونو هره کوچنی برخه له لاســه ووته. موږ ټولو خپل ځانونه ضـايع بللي... زموږ په منځ کې هر سـړی دا فکر کوي چې په راتلونکو ساعتونو کې په مرګ محکومېږي، يا به يې يخني يا لوږه او يا به يې دښمن وژني... سترګې مې واورې وړې دي، ډېر درد کوي او کابو داسې يم لکه ړوند. څو افسران اوس ليد نه لري.»[50]

دغه سهار ډاکتر برايډن نېک بخته و چې د مېرمن مېکناټن د خوراکه توکو توښـه يې ومونده. کله چې نوموړي اکبرخان ته وسـپارل شـوه، دغه توکي ترې پاتې شـوي وو. هغه غوښـه او هسـپانوي واين چې مخکې يې له جورج لارنس سـره هم شريک کړي وو، اوس خلاص وو خو هګی او يو بوتل واين تر اوسه پاتې وو... هګی ابشـولې نه وې خو يخنی کلکې کنګل کړې وې. واين هم داسـې ټينګ شـوي وو لکه شـات...«برايډن ښـه بخت درلود چې د پايښـت له پاره يې لږ څه موندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې د شاتګ تر ټولو بده ورځ لا نه وه رارسېدلې». يخنۍ وهلي او واورې ړانده کړي عسکرو د تيزين غاښي په تنګو لارو کې تيندک• وهلو او دلته يو ډېر دقيق غلچکی برید ورته تم و. برايډن په خپله يادليکچه کې ليکلي:

دغه يو ډېر هيبتناکه تګ و. پر مورچو باندې د دښـمن دوامداره ډزې وې او ګڼ شـمېر افسـران چې د واورې له کبله يې سـترګو څه نه ليدل او نه پوهېدل چې کومه خوا روان دي، غوځ غوځ شـول. زه په لوړو کې ډېره لاره د يوناني سـوداګر، ښـاغلي بنېس Bannes مخ ته روان وم او هغه ته مې لاره ښوده او ډېر ځلې مې دومره د ړوندوالي احساس وکړ چې يو موټی واوره به مې په سترګو وموښله او نورو ته مې هم همدا سپارښتنه کوله ځکه چې درد يې ډېر ارامه کولو. کله چې د تيزين په لور ښکته کېدو، سپين والی دومره ډېر نه و او کله چې لمر ولوېد، زمونږ نابينايي هم ورکه شـوه، خو اوس چې مونږ غاښي ته ننوتلي وو، دښـمن ډېر رانږدې شـو او ډزې يې ډېرې شـوې. دا يوه لويه تباهي وه.

په ټوله لار کې دښمن له اړخونو او شا څخه پر مونږ ډېر زور اچولی و او کله چې ماښام د تيزين درې ته ورسېدو، له بومي غونډ نه چې له کابل څخه روان شوی و، يوازې څو کسه ژوندي پاتې وو... څنګه چې ډاکټر برېس غاښي ته ننوت، په سينه کې ولګېد او د مړينې پر وخت يې خپل وصيت ليک کپتان مارشال ته ورکړ.[51]

الفنسـټون په خپل رسـمي يادښـت کتاب کې حکومت ته ليکلي: «سـپاهيانو لږ يا هېڅ مقاومت ونه کړ. د دوی ډېرو د لاس يا پښـو ګوتې له لاسـه ورکړې وې او له واورې څخه ډک دان پور يې دومره کارنده نه وو؛ نو حتی که دوی يې د کار اخيسـتنې توان هم درلودای، ګټه يې نه لرله. وژنې ډېرې وېروونکې وې او کله چې مونږ کبار جبار [خاک جبار] ته ورسېدو، د پوځيانو او د کمپ د ملکيانو تر منځ په سختۍ توپير کېدای شوای. ډېرو پوځيانو خپلې وسلې او تجهيزات ايسته اچولي وو او په اسانۍ زمونږ د وينو تږي او ځنګلي دښمنانو ښکار شـول.»[52] د تل په څېر، د الفنسـټون اوامرو يوازې حالات لا ډېر خرابول. لارنس ليکلي: «زمونږ پوځي مشـرتابه چې د شـاتګ د بهير په اداره کې يې خپله ناتواني داسې ثابته کړه لکه له شـاتګ څخه مخکې په عملياتو کې يې چې ښکاره کړې وه، په ډېره عجيبه ناقصـه توګه يې زمونږ سـرېو ته د ځوابي ډزو امر ورنـه کړ چې پـايلـه يې زمونږ ليکو تـه د دښـــمن ننوتل او پرتـه لـه توپيره تر تزين پورې زمونږ د بې مقاومته خلکو وژنه وه...»[53] سـتړي او بې اسـرې جانسـن ليکلي: «مونږ داسـې يوه لويه ګڼه ګوڼه وو چې هر ډز زمونږ د کتار يوې يا بلې برخې ته مرګ ژوبله اړوله.»[54]

د جنورۍ د يوولسـمې په ماښـام، وروسـته له يوې بلې ټولوژنې چې ټوله ورځ يې دوام وکړ، کله چې په دوامداره توګه لړېدونکی کتار د تيزين له غاښي په تيندک ووت اود جګدلک حاصلخېزه کلي په لور روان و چې د درې په ښکتنۍ برخه کې پروت دی، د مرګ ژوبلې شمېر ۱۲۰۰۰ کسانو ته رسېدلی و. يوازې ۲۰۰ پاتې عسکر مخ په وړاندې روان وو. شاتنۍ کوچنۍ سـاتونکې ډله د شـلټن تر قوماندې لاندې وه. نوموړي د لمړي ځل له پاره خپل ځواک وښـود او د کتار په شـا کې يې د افغانانو د نږدې کېدو مخنيوی کولو. جانسـن ليکلي: «هېڅوک د شـلټن زړورتيا ته نه شي رسـيدای. هغه داسې و لکه يو ګلډانګ• سـپی چې له هرې خوا د ګڼ شـمېر څو رګه سـپيانو تر بريد لاندې وي او هڅه کوي چې سـر، لکۍ او څنګ ته يې خولې واچوي. اسـوالو او پلو د شـلټن په کوچنۍ ډله بريد وکړ او که څه هم دوی په شـمېر کې پنځوس ځله

• تيندک: په منډه يا تګ کې پر ډېره يا بل شي باندې د پښې لګېدل او کابو لوېدل

• ګلډانګ: غټ خولی سپی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شـلېټن د سـرېو په پرتله ډېر وو، خو چا د نږدې کېدو جرئت ونه کړ... کله چې درې ته ښـکته کېدو، موږ په رښـتيني انګرېزي بڼه شلېټن ستايلو او په دغه شېبه کې موږ هم طاقت ونه شو کړی او په غونډيو کې د دښمن نښې ويشتونکو ته به نېغ ودرېدو.»

په دغه شپه، په داسې حال کې چې پاتې عسکر د جګدلک په يوه د ختيو کوچنۍ او ورانه ودانۍ کې کلابند او وږي پاتې وو، اکبر خان، الفنسټون او شـلېټن د خبرو اترو له پاره ور وغوښـتل. هيو جانسـن له دوی سـره مل و او ليکلي يې دي: «سـردار او ډله يې په ازاده هوا کې په يو لنډمهاله کمپ کې وو. دغه مشـر موږ ته په بېسـارې مهربانۍ او ظاهري خواخوږۍ سـترې مشـي وويل او کله چې پوه شـو چې موږ وږي او تږي يو، سـمدلاسـه يې چېرته چې موږ ناسـت وو په ځمکه د دسـترخوان د غوړولو امر وکړ.»[55] دوی ته يې په خپل کمپ کې د اوړ غوړو لمبو څنګ ته د ناستې بلنه ورکړه، ماښـامنۍ يې ورکړه، خو بيا يې پرې نه ښـودل چې بېرته خپلو عسـکرو ته سـتانه شـي. شـلېټن په ځاځ و او د افسـر او عسـکر په توګه يې د دې حق غوښـتنه کوله چې بېرته پرېښـودل شـي، د خپلو سـرېو مشـري وکړي او په جګړه کې مړ شي، خو غوښتنه يې ونه منل شوه.

د راتلونکې شـپې په نهو بجو وروسـته له دې چې ټوله ورځ د دومداره ډزو لاندې وو او دا څرګنده شـوه چې پاتې ټول مشران يې اسير او يا وژل شوي، د پاتې ژوندیو ډېری «چې اوس له لوږې او په ځانګړې توګه له تندې کابو لېوني شوي وو او د څلورويشـتو سـاعتونو را پدېخوا په مزل کې وو، يا که رښـتيا وويل شـي د څلورويشـتو سـاعتو را پدېخوا لکه ژوي د ښـکار اله وو» پرېکړه وکړه چې د ژوندي پاتي کېدو يوازينۍ هيله يې په شـپه کې د تګ دوام دی، خو د دوی لاره څېرۍ ته ورته اغزنو بوټو چې تر يو بل ښـه تاو کړل شـوي او شـېږ فوټه اوچت وو، بنده کړې وه. «دغه بوټي لږ شـېبه مخکې د غابني په تر ټولو تنګه لاره کې ځای پر ځای شـوي وو.»[56] هر هغه چا به چې په لوځو لاسـونو د بوټيو د نړولو او يا په منګولو د ختلو هڅه وکړه، و به ويشـتل شـول. يوازې څو کسـه په تېرېدو برياله شـول. يو له هغه کسـانو څخه چې په تېرېدو کې پاتې راغی، سيتا رام و. نوموړي ليکلي چې ولې:

کله چې جنرال صـاحب لاړ، ټول دسـپلين له منځه لاړ چې له کبله يې افغانانو ډېر ځورولو... يو شـمېر سـپاهيان او د دوی اړوند ملکيان د خپل ژوند د ژغورلو له پاره دښـمن ته واوښـتل. زما غونډ تری تام شـو؛ نو زه د اروپايي غونډ له پاتې کسـانو سـره يوځای شـوم. ما دا فکر وکړ چې له دوی سـره په يوځای کېدو به زما چانس ډېر شـي چې له دغه کرکجن هېواد څخه ووتلی شـم. خو دريغې، دريغې، څوک له برخليک سـره مقابله کولی شـي؟ موږ په جګړه اخته وو او د لارې په هر ګام کې مو سـرې له لاسـه ورکول. پر موږ مخامخ، له شـا او د غونډيو له سـر څخه بريد وشـو. په حقيقت کې هر څه راته دوزخ وو. زه نه شـم کولی هغه وېره بيان کړم. په پای کې موږ يو اوچت دېوال ته چې لاره يې بنده کړې وه، ورسـېدو. کله چې موږ د تېرېدو هڅه وکړه، زموږ ټوله ډله تباه شـوه. سـرېو د خدايانو په څېر جګړه کوله، خو د مقابل لوري شمېر پر دوی غلبه درلوده. زه د تورټوپک پر ګولۍ د سر په يو اړخ ولګېدم.

سيتا رام بې سده شوی و او کله چې په سد کې راغی، پوه شو چې:

د اس پر شـا تړل شوی او په چټکۍ له جګړې څخه د کابل په لور وړل کېږم. زه پوه شـوم چې زه يې نيولی يم څو د مريي په څېر مې خرڅ کړي. ما زارۍ وکړې چې ما په ټوپک وولي او يا مې سـتونی غوڅ کړي او افغانانو ته مې په خپله او پښـتو ژبه ښـکنځلې وکړې... خو زما تښـتوونکو وګوابښـلم چې که چوپ نه شـم، ما به په همدی ځای سـمدلاسـه مسـلمان کړي. څه يوه ډاروونکې ټول وژنه مې په دغه لاره کې وليده! پښې او لاسونه له واورې څخه راوتلي وو، اروپايان او هندوستانيان نيمه ښخ وو... دا داسې صحنه وه چې تر څو ژوندی يم هېره به مې نه شي.[57]

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو له څو کســانو څخه چې وتوانېد د بوټیو له دېوال څخه تېر شــي، وروســتی ژوندی پاتې برېدمل ډاکټر برایډن و. د نوموړي په یاد وو چې:

ډېره ناوړه سـربدالي وه، او دغه چیغې «ودرېږئ، ودرېږئ، اسـوال شـاته کړئ» دوامداره وې. وروسـته له دې چې له غاښـي څخه تېر شـوو، ما سـمدلاسـه په ډېره سختۍ ځان د کتار سـر ته ورسـولو. موږ په تیاره کې دومره ډېر مزل نه و کړی چې زه په دې پوه شـوم چې کلابند شـوي یوو. په دغه شـېبه کې زما چوپړیال په بېړه ما ته راغی او وېې ویل (چې) ټپي شـوی او ټټو یې ورک دی. له ما څخه یې هیله وکړه چې ځان ســره یې په اس ســپور کړم، خو مخکې له دې چې اس مې څنګ ته ودروم، یو افغان په ســر باندې پر چاړه ووهلم او ښـکته وغورځېدم. که چېرې مې په عسـکري خولۍ کې د بلک وډ Blackwood مجلې یوه برخه نه وای ایښـې، زه به خامخا وژل شـوی وی ځکه چې زما له ککرۍ څخه د هډوکي یوه پرخچه غوڅه شـوه او زه کابو بې سـده شـوم. کله چې بېرته په ګونډو پاڅېدم، ګورم چې دویم ګوزار راباندې کېږي؛ نو ما خپله توره ورمخته کړه، ګمان کوم چې د توري ژۍ مې د برېدکوونکي ګوتې غوڅې کړې ځکه چې چاړه یې پر ځمکه ولوېده. ده یوه لوري او ما پرته له خولۍ بل لوري ته منډې کړې. چوپړیال مې مړ شـوی و او هغه کسـان چې ما سـره وو، بیا مې هیڅکله ونه لیدل. زه له خپلو عسـکرو سـره بېرته یوځای شـوم او پر ونو باندې، چې په غاښـي کې لاره پرې بنده کړل شـوې وه، پر لاس او پښـو ختلو. یو افغان له غونډۍ رامنډه کړه، او ما ته یې په اوږه کلک ګوزار راکړ.[۵۸]

برایډن چې سخت ټپي و د یو افسـر د اس رکاب یې ټینګ نیولی و او د ګڼې ګوڼې او سـربدالۍ له صحنې څخه لیرې کش کړل شــو؛ نو په دې توګه وژغورل شــو. د ســپوږمۍ په رڼا کې یې پر نورو ډېرو مړیو تیندک کولو چې ســترګې یې په مرګونې بڼه پر یو ټپي شـوي اسـوال ولګېدې. د ده له سـینې څخه ګولۍ تېره شـوې وه او په سـره یونیفورم کې وینې ترې بهېدې. نوموړي، برایډن پر لاســونو کلک ونیو او ورتـه ویې ویل چې ټټو یې دی واخلي مخکې لـه دې چې بل څوک یې بوځي. بیا، اسوال شاته ولوېد او مړ شو. برایډن چې له دغه خیر رسوونکي څخه مننـدوی او د نورو ژوندي پاتې ټپیانو په پیدا کولو کې هڅاند و، پر ټټو سپور او په تیاره کې ستون شو.

څو نور کســان هم په حیرانوونکي توګه په تېښــته بریالي شــول. په چاریکار کې د ګورخه له چونۍ څخه یو وروســتی ژوندی پاتې کس، حوالدر موتي رام و چې بیا کابل ته له رسېدو سره سم مریېتوب ته ونیول شو. نوموړي اورېدلي وو چې د کابل انګرېزي اډه مخ په وتلو وه او وتوانېد چې له خپل نیوونکي څخه یو ځل بیا د جنورۍ د شــپږمې په شــپه وتښتي.

کله به چې افغانانو دی درولو، ده به ورته وویل چې یو اوښـبون دی او د شـاه شـجاع له خدمت څخه وشـړل شـو. ده هغه تیږه وموندده چې د خپل ژوند توښـه یې ترې لاندې ایښـې وه او بیا وتوانېد چې له خپلو همکارانو سـره داسې وخت یو ځای شي چې دوه ورځې وروسته د خردکابل په ټولوژنه کې حاضر و. نوموړي وروسته لیکلي:

په جګدلک کې انګرېزي ځواک د اکبرخان اســوالو کلابند کړی و او څومره یې چې توان و، دومره خلک یې ووژل. ما له دغه عاموژنې څخه په تیاره کې ځان خلاص کړ او د غونډیو سـر ته مې یو ځل بیا پناه یوړه. هلته یوه ورځ پاتې شـوم او شـپږویشـت سـاعته مخکې مې چې لږ ډوډۍ خوړلې وه، بیا مې څه نه وو خوړلي. له یخنۍ مې حس له لاسـه ورکړی و... ما د مرګ هیله کوله چې له دغه کړاو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نور د زغملو نه و، خلاص شم؛ نو لاړې ته په دې هوډ ښکته شوم چې زه به لمړني افغان ته چې مخ ته راشي ځان ښکاره کړم څو د یوې زړه سواندې تورې ګوزار وپاروم. ما یوه ډله ولیده چې رانږدې کېده او ځان سره مې وویل چې زما د مرګ شېبه راورسېده.

خو دغه ډله پنځه هندو سوداګر وو*.

سوداګرو راته وویل: «دا چې ته هندو یې، موږ به د ژوند وژغورو، خو لمړی باید موږ ته پیسې راکړې.» زه یې ولټولم او زما له کمربند څخه یې همغه سل روپۍ واخیستې او بیا یې لس روپۍ بېرته راکړې. دوی یو درمسال ته چې یو هندو فقیر په کې و، بوتلم. له هغه څخه مې هم د ژغورنې غوښته وکړه او همغه پاتې لس روپۍ مې ده ته ورکړې. نوموړي ما ته د فقیرانو سرې جامې را واغوستې، زما په مخ یې ایرې وموښلې او راته وې ویل چې د زیارت کولو په پلمه به هارډورHardwar ته ستانه شو او زه به د ده د مرید په ډول چلند کوم. لږ وخت وروسته یوه ډله د مېوې سوداګر راورسېدل. زه، فقیر او هغه نور سوداګر له دوی سره یوځای شوو او له اوچتو لارو څخه د پېښور کېږ لوري ته ښکته شوو. تر هغه چې زه د سېر جسپر نیکولز Sir Jasper Nicholls کمپ ته چې له لودیانې څخه یو مزل دېخوا و، نه وم رسېدلی، ډېر ګوښه مزل مې کولو.[۵۹]

تر ټولو کم بخته په سلګونو هغه سپاهیان او ملکیان وو چې نه په تېښته وتوانېدل، نه د مړیو په توګه ونیول او نه ووژل شول. یوازې د تیزین په غابښې کې، افغانانو له ۱۵۰۰ دغه کسانو څخه مالونه او جامې واخیستې او بیا یې هلته په واورو کې پرېښودل چې له لوږې او یخنۍ مړه شي. د دوی انګرېز ګمارونکو دوی یوازې پرېښودل او افغان نیوونکو یې سپک چلند ورسره وکړ.[۶۰] مېرمن سېل او نور بندیان چې کله کابل ته تلل، دوی ډېر داسې څه په راتلونکو ورځو کې ولیدل. نوموړې په خپله یادلیکچه کې لیکلي:

لاره په ناوړه او ټوټې ټوټې بربنډو مړیو ډکه وه. موږ څه نا څه له دوو سوو مړیو څخه تېر شوو. ډېری یې اروپایان وو. ټول بربنډ او په خلاصو ټپونو پټ وو... یو شمېر د کمپ ملکیان مو ژوندي ولیدل خو وږي او یخنۍ سوي وو. خپل حواس یې له لاسه ورکړي او د لېونو په څېر وو... دغه ډېره وېرروونکې صحنه وه. د وینو بوی خوا بدوونکی و او دومره ډېر مړي پراته وو چې ورته نه کتل ناشوني وو ځکه چې اس ته مې باید لارښوونه کړې وی چې پر دوی پل کېنږدي.

دوی د کمپ له یو شمېر ملکیانو سره مخ شول چې د غارونو او کمرونو له شا څخه راپورته شول. «د کمپ دغه ملکیانو د افغانانو له وژونکو چړو او له ډېرې سړې هوا څخه هلته پناه وړې وه.»

له دوی څخه هر څه اخیستل شوي وو او یوازې څو کسانو د دې توان درلود چې پر لاسونو او ګونډو خاپوړې وکړي. پښې یې یخنۍ سوې وې. دلته، جانسن خپل دوه چوپړیالان وموندل: د یوه لاس او پښې یخنۍ سوي وو، په یوه لاس یې د تورې ډېر سخت ټپ و او د دانپور یوه ګولۍ یې په ګېډه کې ننښتې وه. د بل ښی لاس په مټ کې په بشپړه توګه غوځ و. دواړو د اغوستو هېڅ نه لرل او پنځه ورځې یې د ډوډۍ څکه نه وه کړې... دغه ټپیانو او وږیو له بوټیو او ونو څخه اور بل کړی و او یو ځای راغونډ او یوبل ته نږدې راټول شوي وو چې تاوده وي. وروسته مو واورېدل چې له دغه خوارکیو څخه هېڅ یو له دې ناورین څخه ژوندی ونه وت او دوی د پایښت له پاره خپل مړي خوړل.[۶۱]

*دا د ملتان او شکارپور کاتري Khatri سوداګر وو چې د بخارا او سند تر منځ د منځنۍ اسیا په سوداګرۍ کې یې لوی لاس درلود. دغه وګورئ: Arup Banerji, Old Routes: North Indian Nomads and Bankers in Afghan, Uzbek and Russian Lands, New Delhi, 2011, p.2.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنوری د دوولسمې په شپه، له پوځې ډلې څخه یوازې اتیا کسان وتوانېدل چې د جګدلک د اغزنو بوټیو له دېوال څخه تېر شي.

د دوی ډېری - د شلېټن د څلور څلوېښتمې پلې قوې شاوخوا شل افسران او پنځه څلوېښت عسکر او یو څو توپچیان او سپاهیان - لس میله وړاندې د ګندمک د غونډۍ پر سر په سپېدو کې ولیدل شول او بیا کلابند شول په داسې حال کې چې لاره یې ورکه کړې وه او نه پوهېدل چې په کومه لاره لاړ شي. د دښمن په پرتله دوی په شمېر کې بیخي لږ وو - او «له هرې جونګړې څخه خلک د وژلو او لوټ له پاره راووتل.» - یوازې د شلو دان پورو او هر یوه د دوه ګولیو په لرلو سره، دغه پوځیانو پرېکړه وکړه چې خپله وروستۍ مقابله وکړي. دوی ته د رحم او بښنې وړاندیز وشو خو دوی ونه منلو. ټولو دا احساس کولو چې د دوی غونډ کله چې د نومبر د درویشتم په ماښام د بې بي مهرو له غونډۍ څخه وتښتېد، سپک او وشرمول شو او اوس دوی پتېیلې وه چې تر مرګه وجنګېږي څو د خپل غونډ عزت بېرته اعاده کړي. دوی یوه مربع جوړه کړه او له ځان څخه یې دفاع وکړه .تر څو چې د دوی ګولۍ خلاصې شوې «څو ځله یې افغانان له غونډۍ څخه ښکته وځغلول». او بیا یې په برچو جګړې ته دوام ورکړ».[۶۲] بیا، یو پر بل پسې ووژل شول*. افغانانو یوازې نهه کسه اسیر ونیول. له دوی څخه یو کپټان تامس سوټر Thomas Souter و چې د څلور څلوېښتم غونډ رنګینه پیټې یې تر ملا تاو کړې وې. غلزیو فکر وکړ چې دغه سړی چې رنګینې جامې یې په تن دي، کېدای شي د پیسو په بدل کې یې د ازادولو هڅه وشي. نوموړي لیکلي: «زما ډولي بې ته په کتو سره دوی فکر وکړ چې زه یو لوی سړی یم. وروسته له دې چې په تومانچه کې مې ګولۍ خلاصې شوې او اوږه مې داسې سخته غوڅه شوه چې توره مې له لاسه ولوېده، دوه کسانو ونیولم او له دغه ځای څخه یې په بیړه لیرې بوتلم، پرته له خولۍ او پرتوړ څخه، نورې جامې یې راباندې وایستلې او یو کلي ته یې بوتلم.»[۶۳]

پنځلس نور اسوال وتوانېدل چې تر فتح اباد پورې ورسېږي. دوی د ځینو کلیوالو سباناری ومنلو او کله چې ورته کښېناستل، لس کسه یې ووژل شول، څلور نور یې کله چې پر اس سپرېدل څو له کلي څخه ووځي، د بامونو له سره وویشتل شول. وروستی یې د الډرېډ پاټینګر ځوان وراره/ خوریې ، تامس و چې خلک پسې شول، ویې نیوه او سر یې ترې غوڅ کړ. نوموړی د شاه جهان د نیملې په باغ کې د ښایسته سروو او ویالو په منځ کې پټ و چې ونیول شو. دا هغه ځای و چې شاه شجاع ته په ۱۸۰۹ کال کې ماته ورکړل شوه او نوموړي خپل تخت له لاسه ورکړ.

یوازې یو سړی له دغه ځای څخه وړاندی په تګ بریالی شو. ډاکټر برایډن لا تر اوسه پنځلس میله د جلال اباد له خوندي ځای څخه لیرې و. ده لیکلي:

زه یوازې مخ ته روان وم چې یوه څه نا څه شل کسیزه ډله مې تر سترګو شوه چې زما په خوا راروانه ده. کله چې زه ورنږدې شوم، دوی غټې ډبرې په لاس کې واخیستې... نو ما په ډېره سختۍ خپل ټټو په ډګ ډګ کړ. کله چې د دوی له منځه تېرېدم، ملونه مې په خوله کې

*کله چې لیکوالان، ننسي او لویس ډوپري Nancy and Louis Dupree په ۱۹۷۰مو کلونو کې ګندمک ته لاړل، دوی له کلي څخه بر، د غره په ټیرو کې هډوکي، د ویکتوریایې وسلو او پوځي وسایلو ټوټې موندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیوه او ښی او کیڼې خوا ته مې توره وهله. د دوی چاړې ما ته نه رسېدلې، خو پر یوه یا دوه ډېرو ولګېدم. لږ وړاندې، دې ته ورته یوه ډله مخ ته راغله. ما هڅه وکړه چې له دوی څخه هم همداسې تېر شم لکه د مخکنۍ ډلې څخه، خو دلته دې ته اړ شوم چې ټټو مې د تورې په څوکه په ډګ ډګ کړم. په دغه ډله کې له لارې څخه لږ لیرې پر یوه ډومبسکه یوه سړي ټوپک درلود او پر ما یې ښکته ډز وکړ. زما توره یې ماته کړه او یوازې شپږ انچه اوږده په لاستي کې پاتې شوه.

براېډن وتوانېد چې له دغه برېدکوونکو څخه ځان خلاص کړي، خو یوه شو چې ګولۍ په خوارکي ټټو لګېدلې او«په ملا ټپي دی».

بیا مې پنځه اسوال ولیدل چې سرې جامې یې په تن وې. ما فکر وکړ چې دوی زموږ غیر منظم پوځي اسوال دي؛ نو د دوی په لور روان شوم، خو کله چې نږدې ورغلم، پوه شوم چې افغانان دي او د کپتان کالیر Collyer اس یې تر مخ کړی. ما هڅه وکړه چې وتښتم، خو ټټو په ډېره سختۍ خوځېده. دوی یو کس په ما پسې راولېږه. نوموړي د تورې ګوزار راباندې وکړ. کله چې ما خپله ماته توره د دفاع له پاره د ده د ګوزار پر وړاندې ونیوه، له لاستي څخه ولوېده. دی مې له څنګه تېر شو، خو بېرته راوګرځېد او زما په لور یې بیا یرغل وکړ. دا ځلې، کله یې چې پر ما ګوزار کولو، ما د تورې لاستی د ده سر ته وار کړ چې ځان ترې بچ کړم، خو زما د کیڼ لاس شا غوڅه شوه او لاس مې له کاره ولوېد. بیا مې ښی لاس اوږد کړ چې ملونې ونیسم، فکر کوم چې دښمن مې د تومانچې خیال ورباندې وکړ ځکه سمدلاسه یې مخ وګرځلو او په ډېره چټکۍ بېرته لاړ. وروسته مې تومانچې ته لاس کړ چې ما په جیب کې اېښې وه، خو هغه هم نه وه. زه اوس بې وسلې وم او پر یو داسې خوارکي ځاروي سپور وم چې وېره مې درلوده چې تر جلال اباد پورې به مې ونه شي رسولای.

دغه ډاکټر ناڅاپه د بشپړې کمزورۍ احساس وکړ: «زه وارخطا شوم او له سیورو وېرېدم. ما په رښتیا دا فکر کولو چې له زین څخه به ښکته ولوېږم، خو د دې په اوج کې ...» د جلال اباد د کلا له برج څخه، نوموړی یو تیز سترګي افسر ولید او سمدلاسه د مرستې له پاره ژغورونکي ورولېږل شول.

له لمړنیو کسانو څخه یو کپتان سېنکلر Sinclair و چې چوپړیال یې خپل یو بوټ ما ته راکړ چې پښو یې کړم. زه د تعمیراتو خوړنځي ته بوتلل شوم. ډاکټر فارسایډ Forsyth زما په ټپونو پټۍ وتړلې او وروسته له یوې ښې ماښامنۍ څخه مې په ډېره مننډوېۍ له ښه خوب څخه خوند واخیست... کله چې معاینه کېدم، زه پوه شوم چې سربېره په کیڼ لاس، په کیڼ زنګون هم په توره ټپي شوی یم او یوه ګولۍ مې لږ اوچته له پرتوږ څخه تېره شوې او څرښنده زما په پوستکي لګېدلې وه... خوارکی ټټو نبغ شپاله ته بوتلل شو. هلته پرېوت، خو بیا هېڅ کله پورته نه شو. وروسته له دې چې ما حالت بیان کړ، جنرال سېل سمدلاسه یوه ډله ولېږله چې هوارې ولټوي... خو دوی یوازې د کپتاین هاپکېنز Hopkins او کالیر او ډاکټر هارپر Harper مړي وموندل...[۶۴]

په دغه شپه د جلال اباد پر دروازه څراغونه ولګول شول او بېګل وغږول شول چې که څوک ژوندي پاتې وي لاره ور وښيي، خو هېڅوک رانغلل. کپتان تامس سیټن لیکلي: «له سوبل څخه تېز باد لګېده چې د بېګلو غږ یې ټول ښار ته خپرولو. د بېګلو دغه وېروونکي کوکې به هېڅ کله هېرې نه کړم. دا زموږ وژل شوو عسکرو ته د ماتم کوکې وې چې ټوله شپه اورېدل کېدې. دې یو نه څرګندوونکی غمجن اغیز درلود. د ډاکټر براېډن کیسې د ټولو په زړه کې وېره واچوله ... ټول پوځ تباه شو. یوازې یو کس په تېښته بریالی شو چې دا وېروونکې کیسه بیان کړي.»[۶۵]
په راتلونکو ورځو کې، د ډاکټر براېډن د ملګري ښاغلي بنېس Banness یوناني سوداګر او د یو شمېر سخت سره ګورخه پوځیانو په ګډون، څو نور ژوندي پاتې کسان ګوډ او مات راورسېدل. په لنډ وخت کې دا افسانه خپره شوه چې په افغانستان کې د انګرېزانو ټول پوځ پوپنا شو. یقیناً چې داسې نه وو، په کندهار او جلال اباد کې لوېې چونۍ ژوندۍ پاتې شوې او حتی د کابل له پوځ څخه ۲۰۰۰ سپاهیان له ۳۵ انګرېز افسرانو، ۵۱ خصوصي عسکرو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ښځو او ۲۲ ماشومانو سره بلاخره بېرته خپلو کورونو ته راغلل. دوی ټول یا یرغمل (اروپایان) نیول شوي وو او یا بېرته کابل ته تللي کسان (هندوستانیان) وو چې هلته یې دروېزه کوله، خو دا انګرېزانو ته یوه خارق العاده ماته او افغان مقاومت ته کابو یوه معجزوي بریا وه. د انګرېزي امپراتورۍ په اوج کې، په داسې وخت کې چې انګرېزانو د نړۍ دومره ډېره وېه کنټرولوله چې بل هېڅ وخت یې په دې کچه بیا تر کنټرول لاندې رانغله او په داسې وخت کې چې دودیز ځواکونه د صنعتي ښکېلاکي پوځونو له خوا په هرځای کې له ټولوژنې سره مخ کېدل، دا د ښکېلاکي پوځونو د بشپړې سپکاوۍ یوه لږموندې شېبه وه.

دغه کیسه سمدلاسه افغان شاعرانو او سندرغاړو بیا بیان کړه. هر ځل به چې بیا دغه کیسه ویل کېده، د مرګ ژوبلې او د بریا کچه به هم ورسره اوچتېده. میرزا عطا لیکلي :

داسې ویل کېږي چې ۶۰۰۰۰ انګرېز عسکر - نیمایې یې له بنګال څخه او پاتې نیمایي یې له نورو ولایتونو څخه - پرته له دې چې چوپړیالان او د کمپ اړوند ملکي کسان ورسره وشمېرل شي، افغانستان ته لاړل، خو یوازې څو کسه ګوډ او مات بېرته ژوندي ووتل. پاتې یې پرته له ګور او کفن څخه پر ځمکه داسې خواره پراته وو لکه خوسا کېدونکې خره. د انګرېزانو پیسې او سره زر دومره خوښېږي چې پر هره شتمنه سیمه لاس ابېردي، خو په افغانستان کې دوی څه ګټه وکړه پرته له دې چې له یوې خوا یې خپله خزانه تشه کړه او له بلې خوا یې خپل پوځ له سپکاوي سره مخ کړ. داسې ویل کېږي چې د انګرېزانو له ۴۰۰۰۰ کسیز پوځ څخه چې په کابل کې و، ډېر یې اسیران شول، ډېر یې معیوب او دروېزګر په کابل کې پاتې شول او پاتې یې په غرونو کې پوپنا شول؛ داسې لکه یوه بېړۍ چې ډوبه شي او بیا موندل یې ناشوني وي؛ نو څکه د خراسان د سلطنت اشغال او اداره کول اسانه کار نه دی.[۶۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ۹
# د یوه پاچا مړینه

د انګرېزانو د بشــپړ پوځ د تولوژني خبر په چټکۍ په ټوله ســیمه کې خپور شــو. د بخارا امیر دغه خبر د خپلو دوو انګرېزي بندیانو، چارلس کانولي او ارتر ســتاډرډ Charles Connolly and Arthur Stoddard په وژلو ونمانځلو. په هرات کې وزیر یار محمد پوه شو چې اوس نه شاه شجاع او نه انګرېزان د ده مخه نیولی شي، له دغه فرصت څخه په کار اخیســتنې یې خپل ســلطان، کامران شــاه ســدوزی پانســي کړ. دغه خبر حتی په هند کې ډېر هیاهوی جوړ کړ. په ډهلي کې د چاندني چوک بازار بانکوالو دغه خبر د ښــکېلاکي اداري په پرتله دوې بشــپړې ورځې مخکې ترلاســه کړ. د دودیزې سوداګرۍ د لیک استونې سیستم د ښکېلاکي سوکه ډاګي سیستم Harkara په پرتله ډېر چټک او اغېزمن و.[1] مخکې له دې چې کلکتې ته ورســېږي، دې خبر لا د مخه د هندوســتان په ســور او اوړدو کې د کمپنۍ د واکمنۍ ډېرو مخالفینو ته هیلې او ډومارنې زېږولې وې. په ۱۸۵۷ کال د لوی بغاوت پیلېدل تصادفي نه و. بغاوت د سپاهیانو په هغه لوا کې پیل شــو چې انګرېزي افســرانو یې د خردکابل په واورو کې یوازې پرېښــي وه او همدا راز په هغه ملکي مرکزونو لکه اګره، لکنهو او کنپورکې بغاوت رامنځته شــو چې پارســي مطبوعاتو د انګرېزانو د ماتې په اړه افغان حماســي شعرونه او نثرونه په څوبمنۍ بیا چاپ کړل.[2]

لارډ اکلنډ کابو تر ټولو وروستی کس و چې د دغه ناورین په هکله یې واورېدل. د ډاکټر براېډن د کیسې چټکه استونه پوره په دوه اونیو کې د لوی والي مقام ته د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ په ډېرشـمه ورسېده. لکه څنګه چې ایملي ایډن ویلي، دغه خبر«خوارکی جورج» په لسو ساعتو کې لس کاله زوړ کړ. ده چیغه وکړه، ډېر په توغمه• شو او بیا خپل کټ ته لاړ. نوموړی بېرته نیمایي فلج راښــکاره شــو او داســې باور کېده چې کوم ډول مغزي ســکته یې کړې وي.[3] په راتلونکو ورځو کې، د ده خور ورځ تر بلې اندېښمنه کېده او په ناهیلۍ به یې خپل ورور ته کتل چې د مخ رنګ یې ژېړ، د ورځې په برنډه کې ښــکته پورته ګامونه اخلي او د شــپې په چمن کې پړمخې اوږد پروت وي او د راحت له پاره مخ پر یخ چمن موښي. یوازې څو اونۍ مخکې، د ده اعتباري سلاکار، مېکناټن له کابل څخه ده ته لیکونه استول او ورته یې لیکل چې د خلکو په منفي خبرو باور ونه کړي او هر څه ســم روان دي. اوس د نوموړي ټوله ښــکېلاکي ســتراتیژي او «د عامه ښــېګڼې او امنیت له پاره زما ټول هغه پلانونه چې ډېره پانګونه مې پرې کړې وه، د داســې یو افت او بلا له امله شــنډ شــول چې په تاریخ کې لږ ســاری لري».[4] په یقین ســره «که څه هم څومره یې چې بیان ناشــونی دی په همدې کچه بوږنوونکی هم دی»، دغه ټول ناورین په خپله د اکلنډ له لاسه و. لا نور بد خبرونه را روان وو او هغه دا چې اکبر او د مقاومت نور مشــران اوس په جلال اباد، غزني او کندهار کې د پاتې درې نورو انګرېزي چونیو د ختمولو په لور روان

---

• توغمه: غوسه، غضب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. په هند کې ګنګوسې خپرې شوې چې لکه څنګه چې اوس د هند د پوځ ډېره برخه په چین کې د اکلنډ د ترياکو په جګړه اخته ده، افغانان به له خيبر څخه ښکته راوبهېږي او د پخوا په څېر به د هند ډاګونه بيا لوټ کړي. لندن يوه بله اونۍ وروسته د پېښې په هکله خبر شو. د ټايمز ورځپاڼې اولس ته د لمړي ځل له پاره دغه خبر خپور کړ: «په خواشينۍ سره خبر ورکوو چې هغه ځارګريز خبرونه چې موږ ته نن راورسېدل، تر ټولو ډېره غمجنه او له خپګان څخه ډکه بنه لري.» څو ورځې وروسته يوه د معمول په څېر روس کرکجنه مقاله خپره شوه چې په دغه پېښه کې د روسي لاس لرلو ته په کې څه ناڅه نېغه خو ناسمه اشاره شوې وه او ليکل شوي وو چې لمړنۍ سرۍ چې هدفي وژنې ته په نښه شو، بل څوک نه، بلکې الکساندر برنز و چې د ويتکېويچ سرسخته سيال او «د روسي اجنټانو لېوال دښمن» و.[۵]
د سېر رابرټ پيل Sir Robert Peel نوی محافظه کار حکومت دې ته چمتو و چې له افغانستان څخه پوځ وباسې او د ټولې هغه چټلۍ څخه چې مخکني لېبرال حکومت رامنځته کړې وه لاس ومينځي، خو اوس کابينې په دې سلا وکړه چې لمړی دې د هېواد پوځي حيثيت بېرته اعاده کړل شي. د اباسين د پاليسۍ بنسټ اېښودونکی اېډيالوجست، لارډ اېلېنبوره چې د لوی والي اکلنډ د ځای ناستي په توګه لېږل شوی و، د دغه ناورين په اړه هغه وخت خبر شو چې بېړۍ يې د فبرورۍ په يوويشتمه په مدراس Madras کې لنګر واچولو. نوموړي د ولايت له مقام څخه سمدلاسه رابرټ پيل ته وليکل چې افغانانو ته د داسې سبق ورکولو نيت لري چې دوی به يې هېڅ کله هېر نه کړي: «په افغانستان کې زموږ د وسلوال پوځ وياړ بايد بېرته اعاده شي... د هند د ساتلو له پاره چې له هر راز سختۍ سره مخ کېږو، بايد پرې برلاسي شو.»[۶] کله چې اېلېنبوره کلکتې ته ورسېد - په داسې حال کې چې په ستونزو کې ډوب او سپک شوي مخکني والي او د هغه د خور سره يې کابو هېڅ خبري نه کولې - يو بل خبر راورسېد چې غزنی هم د غلزيو لاس ته لوېدلی او خلک يې يا ژوندي نيول شوي، يا وژل شوي او يا مريتوب ته اړ ايستل شوي.
په دغه وخت کې يو ښه په وسلو سمبال مرستندوی ځواک چې له شپږو لواوو څخه جوړ و او د کساتي پوځ ناولی نوم ورکړل شوی و، د مېروت او فېروزپور له اډو څخه مخکې تر مخکې لېږل شوی و چې د سوتلج Sutlej له سيند څخه تېر او د پېښور په لور روان شي. دوی ته امر شوی و چې د ورانونې او ويجاړونې له پاره چمتو شي. د دغه ځواک د قوماندې له پاره د اکلنډ لمړنی خوښه، لکه الفنستون يو بل زوړ او په نظامي چارو کې پوخ جنرال و، خو عسکر نېک بخته وو چې دغه لړزانده او کمزوری بوډا، سېر هري لملي Sir Harry Lumley د روغتيايي ستونزو له وجې وړ ونه ګڼل شو؛ نو پر ځای يې، تورن جنرال جورج پالک ته قوماندانی ورکړل شوه. نوموړی په اګره کې د خپلې بنګلې پر برنډه ناست و او خپل سهارنی نری سيګار يې څکولو چې دغه امر يې ترلاسه کړ. پالک يو دقيق، حساس او سخت سری کارنده لندنی و چې په هند کې له دېرشو کلونو څخه ډېر د کمپنۍ افسر و او په نيپال او برما کې يې په جګړو کې برخه اخيستې وه. لکه څنګه چې د جورج لارنس کشر ورور، هنري ويلي وو: «پالک د هر ښه جنرال په څېر د دغه دندې وړتيا لري.» کله چې په جلال اباد کې د کلابند دېوالونو د ننه جورج براډفوت له دغه ګمارنې خبر شو، ده هم خپله خوښي څرګنده کړه. نوموړي ليکلي: «که څه هم پالک ناپليون نه دی، خو په دغه سيمه کې د ټولو هغه افسرانو په پرتله وړ کس دی چې تر اوسه يې ما د پېژندنې فرصت موندلی .»[۷] په عين وخت کې کله چې پالک د خپلې ګمارنې په هکله خبر شو، د دوست محمد ساتونکي، کپتان نېکلسن Nicholson ته امر ولېږل شو چې له افغان پولې څخه خپل بندي ليرې کړي او په انزوا کې يې تر ځارنې لاندې ونيسي. د شمال لوېديځې پولې اجنټ جورج کلاک George Clerk، نېکلسن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر وکړ: «ته باید د دغه لیک له ترلاسه کولو سره سم، پرته له ځنډه تر ټولو کلک ګامونه د دوست محمد په توقیف کې پورته کړې. نوموړی کوټه قلفي کړه او پرته له دې چې ته اجازه ورکړې، د ده ســره يې د افغان او یا هندوســتاني سلاکارانو د هر راز اړیکو مخه ونیسه.»[۸]

د څو ورځو په ترڅ کې، دوســت محمد له مســوري Mussoori څخه بر، په لوړو غونډیو کې یوې ګوښــه ودانۍ ته ولېږدول شـو. د خپل بندي د سـاتلو په اړوند د نېکلسـن دغه کړنو هغه له کچې وتلې وېره او بدګماني څرګندوله چې په دغه وخت کې په هند کې پر انګرېزانو واکمنه وه. د سپاهیانو د یوې کوچنۍ ساتونکې ډلې پر ځای، د ملکې له لوا څخه لېترلېږه یوسل او لس کسيزه نوې راغلې انګرېزي ډله وګمارل شـوه. حتی د سکېنرز هاړس اسـوال غونډ چې د سکېنر د زوی، جېمز په ګډون، یو کنډک يې له کابل څخه د شـاتګ په بهیر کې یو پنا شـو، له سـیمې څخه لیرې کړل شـو ځکه چې «د محمدیانو شمېر په کې دومره ډېر و چې دا ډېر غوره او ښه برېښېدل چې داسې عسکر دندې ته ونه ګمارل شي چې مـذهـب یې - کـه هـر څـومره مـوږ تـه ګـروهـنـه ولـري- د خپـلې دنـدې نـه تـرســـره کـولـو تـه وهڅـوي». ښــه ارزول شــوي اقدامات ونیول شــول چې د دوســت محمد د تېښــتې او له افغان مخالفینو ســره یې د اړیکو ټینګولو مخه ونیسي. نېکلســن لیکلي: «د امیر په حریم کې عســکر ګمارل شــوي او همدارنګه له لنډور او راجوپور څخه راغلې لارې په دوامداره توګه د عسکرو تر څارنې لاندې دي. زما له اجازې پرته هېڅ بېګانه ته د ننوتلو اجازه نه ورکول کېږي. یوازې د اړتیا په وخت کې مې که چا ته اجازه ورکړه؛ نو له هغه سره به یو اروپايي عسکر مل وي.» د اړیکو د مخنیوي په موخه نورې احتیاطي کړنې هم ترسره شوې:

... ما د غونډۍ په بېخ کې یوه کوچنۍ تانه جوړه کړه چې له لوېدیځ اړخه د هر راز بېګانه کســانو، په ځانګړې توګه د افغانانو او کشـمیریانو د راتګ څار وکړي او د هر شـکمن بني ادم په اړه سـمدلاسـه خبر راکړي... سـربېره پر دې، زه دا ورانډېز هم کوم چې زما په اوسـني ماموریت کې داسې یو کس وګمارل شي چې د اباسـین شـاوخوا ته د ټولو هېوادونو په ژبه خبرې وکړی شي او له ده سـره به یو هندو چپړاســي او څلور غرني کوچیان مل وي. د دوی دنده به دا وي چې هر شـــکمن کس په پټه د غونډیو لـه لارې تر ټولو نږدې عسکرو پورې راولي او بیا يې هغه ساتونکو ته ور وسپاري چې د امیر کور ته څېرمه به وګمارل شي.

یوه بله کړنه به دا وي چې ټول کشمیریان د مسوري غونډیو ته له راتګ څخه منع شي، مګر دا چې دوی ځانګړې اجازه لیک ولري.

ځکه یو افغان ځری به هڅه ونه کړي چې په خپله له دوست محمد سره چې تر کلکې څارنې لاندې دی، نېغې اړیکې ونیسي؛ نو د داسې چا په مرسته به دا کار وکړي چې ډېر شک ورباندې نه کېږي. دا ډېره شونې ده چې داسې سړی به کشمیری وي.

د ځری په توګه د دوی کرکټر ټولو ته دومره څرګند دی چې د یادولو اړتیا يې نه شته او زه په ځانګړې توګه پر دوی ډېر شکمن یم؛ نو له دې وچې غواړم دا وړاندیز وکړم چې په لودیانه او امباله Amballah کې امر وشي چې هېڅ کشمیري، پرته ستا له اجازه لیک څخه د دون Dhoon درې یا غونډیو ته پرې نه ښودل شي. که چېرې د امباله ولسوالۍ پولیس د هر کشـمیري یون کوونکي په اړه ما ته د ډاګي په وسـیله مالومات راولېږي، دا به ښـایي زما له هڅو سـره هم مرسـته وکړي او په دې وسـیله به زه د خپلې تانې خلک هم د څار په اړه کنټرول کړی شم.

کلاک ســربېره پر دې چې د نېکلســن ټول اقدامات يې منظور کړل، نوموړي ته يې ځانګړی واک ورکړ چې «هر شــکمن سړی ونیسي او سم يې تلاشي کړي».[۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عین وخت کې، ټولو د ملامتیا ګوتې اکلنډ ته نیولې. په هغه شپه چې براېډن جلال اباد ته ورسېد، تامس سیټن په خپله یادلیکچه کې لیکلي: «بې اړنګه، د الفنسټون ځبنتوب د دغه سپکاوي او سونځ ناورین نېغ لامل دی، خو اصلي عامل یې هغه څوک دی چې داسې سختې او له مسولیت څخه ډکې څوکۍ ته یې داسې یو سړی غوره کړ چې روماتیزوم په لاس او پښو ګوډ او دماغ یې د بدن دردونو ته سرټیټ کړی و او په هېڅ وجه یې د دغه دندې توان نه درلود.» [۱۰] ډېر ژر، د انګرېزي مطبوعاتو او د ولسي جرګې د ډېرو غړو په ګډون، هر څوک همدغه پایلې ته ورسېدل. په تېره بیا، د ولسي جرګې یو محافظه کار ځوان غړي، بېنجمېن ډېسرېلي Benjamin Disraeli د اکلنډ پر ضد په ولسي جرګه کې یو دوامداره کمپاین په لاره واچولو.

کلکتې ته په رسېدو سره، ایلېنبوره د مخکني لوی والي په وړاندې دومره لړاک و چې جورج په لندن کې خپل ملګري، هاب هوس Hobhouse ته ولیکل چې داسې برېښي لکه ایلېنبوره چې بیخي لېونی شوی وي. [۱۱] اکلنډ بله چاره نه درلوده، مګر دا چې ډېره پړه په خپله غاړه واخلي او بېرته په بې حرمتۍ کور ته لاړ شي. په دغه وخت کې د ده لیکونه، چې د پوهاوي وړ دي، له ناهیلیو ډک وو. نوموړي هاب هوس ته لیکلي و: «زه ډېر خپه یم. په افغانستان کې زموږ پېښې نه جبرانېدونکې ګڼم، خو موږ باید د هر هغه څه له پاره چې ژغورل یې شو نور خطر په غاړه واخلو چې له نورې تباهۍ څخه یې وژغورو... زه وېرېږم چې زموږ په برخلیک کې د نورو مصیبتونو په اړه اورېدل هم شته.» [۱۲]

خو اکلنډ نه پوهېده چې هغه رژیم چې ده په کابل کې جوړ کړی و په هېڅ وجه ختم نه و. انګرېزانو شاه شجاع تل له پامه غورځولی و او کمزوری یې ګڼلو. اوس چې برنز او مېکناټن دواړه مړه وو او د دوی د کابل پوځ کنګل شوي مړي د غلزیو په واورو پټو غاښیو کې د ټپوسانو خوراک شول، شاه شجاع د بالاحصار د اوچتو دېوالونو تر شا خوندي او په امنیت کې پاتې شو. په رښتیا، اوس چې د ده انګرېزي متحدین نه شته وو، په کابل کې یې د خلکو او مشرانو په منځ کې نومورتوب په ښکاره توګه مخ په ډېرېدو و. د مېکناټن د بدو مشورو په نه شتون کې، شاه شجاع چې د تل په څېر د مصیبت پر وړاندې کلک او هوډمن درېده، وتوانېد چې په افغان قومي سیاست کې خپله ځیرکتیا وښیي.

شاه شجاع اوس د هغه دوه پاتې لمړنیو مخالفینو، امین الله خان لوګري او نواب زمان خان بارکزي، له حسادت څخه ګټه پورته کوله چې د اکبر خان پر وړاندې یې درلود ځکه اکبرخان په دې وروستیو کې راوړسېد او د پاڅون مشري یې په داسې وخت کې په لاس کې واخیسته چې دوی انګرېزانو ته ماته ورکړې وه. شاه شجاع د څو ورځو په ترڅ کې له دوی سره په داسې وخت کې خبرې اترې پیل کړې چې اکبرخان له کابل څخه ډېر لیرې انګرېز اسیران په لغمان کې یوې خوندي کلا ته بوتلل او بیا بېرته کلابند شوي جلال اباد ته لاړ. شاه وتوانېد په دې هیله یو نوی ائتلاف جوړ کړي چې دی په واک کې پاتې شي او اکبر خان ګوښه پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجاع دغه دوه کسانو ته په دې موخه ورنږدې شو چې بېلابېلې پانګې خپلې کړي. د اکبرخان تره، نواب زمان خان د بارکزیو د مشرۍ د وراثت په لړۍ کې د مشرۍ مدعي و او په کابل کې یې یوه لویه شتمني - ټول ټپې او ناروغه انګرېزان- تر کنټرول لاندې وه، خو نوموړي لږ نظامي وړتیا او همدارنګه ډېرې لږ مالي او د ذکاوت سرچینې درلودې. برعکس، بوډا خو لا تراوسه ډېر ځیرک نایب امین الله خان لوګري، په دې ورستیو کې ډېره شتمني غونډه کړې وه. ده هغه پیسې چې له انګرېزانو څخه یې د تسلیمۍ د هوکړې پر بنسټ ترلاسه کړې وې، د کابل هندو بانکوالو سره یې په معاملو کې لا ډېرې کړې وې. دغه پیسې یې د سپاهیانو د یوې قوې په جوړولو او همدا راز په لوګر کې په خپلو قومي خلکو ولګولې. نوموړي دا ویاړ هم درلود چې یو له هغه کسانو څخه و چې انګرېزان یې په بشپړه توګه په کابل کې وځپل، خو دا چې نوموړی نه سدوزی او نه بارکزی و او څه نا څه د ټیټې کچې له کورنۍ څخه و، ظاهراً یې د دې توان نه درلود چې د دغه یوې یا بلې قبیلې له ملاتړ څخه پرته واک ته ورسېږي؛ نو له نواب زمان خان او شاه شجاع سره په ائتلاف یې وکړی شول چې د دواړو قبیلو ملاتړ ترلاسه کړي.[13]. نایب امین الله خان تل سدوزي سلطنت ته وفاداره و. نواب زمان خان له خپل جذاب وراره څخه کرکه درلوده لکه یو عادي سړی چې کله کله د خپلې ځانپالنې له وجې له یو ربښتیني استعداد څخه ولري. دغه ائتلاف دوامداره ښکارېده ځکه چې دې ټولو ښکېلو خواوو ته څه ورپه برخه کول او هر لوري ائتلاف ته داسې څه راوړل چې بل ورته اړتیا درلوده.

د شاه شجاع د ژوند لیک لیکونکي، محمد حسین هراتي د لیکنو پر بنسټ، شجاع هر څه په بې عیبه دقت پلان کړي وو. نوموړي لیکلي:

د بارکزیو پروپاګند، چې اعلحضرت له انګرېز یرغلګرو سره هېڅ توپیر نه لري، خپلې ریښې په لویو او عامه خلکو کې غځولې وې. له دې سره د مقابلې له پاره او د ښې مشورې په پلې کولو سره چې له اوسني پاڅون څخه چې سلطنت یې ګواښلو، د وتلو یوازینۍ لاره وه، شاه شجاع له مهربانه او فاضل امین الله خان لوګري سره د بیا پخلاینې لاره خپله کړه. ده خپل تر ټولو ګران او وړ زوی، شهزاده شاپور د امین الله کور ته ولېږه او نواب زمان خان ته یې د ۲۰۰۰۰۰ روپیو د ورکړې ژمنه وکړه؛ نو اوس امین الله او ډېرو نورو خانانو د اعلحضرت ملاتړ ځکه وکړ چې مخکې نواب د امیر په توګه له دې وجې ټاکل شوی و چې اعلحضرت د بهرنیانو او کافرانو د ګټو له پاره چوپړ کولو، خو اوس یې چې خپل استقلال بېرته ترلاسه کړی او بېرته یو ربښتینی مسلمان پاچا شوی، امیر ته نوره اړتیا نه شته او زمان خان به د وزیر څوکۍ ته چې یو واکمن مقام دی، خوشحاله وي. اکبر خان په دغه نوي ائتلاف کې برخه نه درلوده.

د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ په اولسمه، د شاه شجاع زوی، شهزاده شاپور، امین الله خان لوګری او زمان خان بارکزی په بالاحصار کې د شاه دربار ته لاړل چې دغه هوکړې ته رسمي بڼه ورکړي. هراتي لیکلي: «دوی له خپلو جنډو، اسوالو، دراني خانانو، غلزیو، د کابل اوکوهستان پارسي ژبو سره یو ځای د اعلحضرت لیدنې ته لاړل چې له ده څخه امر واخلي. له دغه شېبې څخه وروسته، هر سهار او ماښام دغه دود ترسره کېده او اعلحضرت دغه نوي متحدین د څوکۍ، اعانو او نقدي انعامونو په ژمنو بوخت ساتلي وو. په عین وخت کې یې جورج مککرېګر او په جلال اباد کې د انګرېزانو قوماندان ته ولیکل چې بلاخره اوس حالات تر کنټرول لاندې راځي.»[14]

د فبرورۍ د میاشتې د دویمې اونۍ په پای کې، د تېرو درې میاشتو مصیبتونو سره سره، دا په ډېرېدونکې بڼه واضح کېده چې د اکبرخان ښکاره بریا په هېڅ وجه یوه حتمي پایله نه وه ځکه چې شاه شجاع لا تراوسه هر څه درلودل چې د خپل پایښت له پاره ترې کار واخلي. بې اړنګه، د شاه شجاع د بخت یوه عجیبه بېرته ویښېدنه چې د ده ژوند یې اغېزمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی، دغه وه چې ښـايي نومورې اوس د خپلې واکمنۍ د هر وخت په پرتله، د خپلو پلرني سیمو ډېر کنټرول په لاس کې درلود. د درانیانو او قزلباشـو ډېرو مشـرانو چې ولیدل د تلې کومه خوا درنه ده، خپله ګټه يې په شـاه شـجاع پورې تړلې وګڼله او يو په بل پســې د نوموړي دربار ته لاړل چې ښـــنه ترې وغواړي او خپله وفاداري ورته څرګنده کړي. مولانا کشمیري لیکي: «کله چې نوی ائتلاف سم ټینګ شـو، شاه به خپل حضور ته ټول خانان په دربار کې منل.»

ده ټول اوچت خانان نور هم اوچت کړل

او په پوځ يې د مهربانۍ باران جوړ کړ

کابل له تاوتریخوالي او پارونو خلاص شـو

حکومتولي يو ځل بیا د شاه کار او بار شـو

خو اکبر ته يې کومه څوکۍ ورنه کړه

په زړه کې يې د کرکې اور لا سوړ شـوی نه و... [15]

حالات تر اوسـه نازک وو. شـجاع لا تر اوسـه له بالاحصار څخه د وتلو جرئت نه درلود او پر خپلو دوو نويو متحدينو، په ځانګړې توګه د امین الله خان پر متو متکي پاتې و. د میرزا عطا په خبره: «شـاه شـجاع څه نا څه شـکمن و ځکه چې د کابل دغه دوه مشـران يو وخت د دوسـت محمد خان ملاتړي وو: ایا دوی د شـجاع د وژلو توطیې په جوړولو بوخت وو؟ او په تېره بیا په داســې وخت کې چې ویل کېدل انګرېزان اوس بیا رانږدې کېږي او کېدای شــي د خراســان د بیا اشـغال هڅه وکړي. شـجاع د پانې او پړانګ تر منځ و، خو پاچا په دغه وخت کې څه نا څه لس زره کسيز پوځ، دوولس توپونه، بېشمېره خزانې او د باروتو پرېمانه زېرمې لرلې.» [16] دغه ارقام ښـايي خوشبینانه وو، خو له خپلو ټولو ستونزو سره سره، د تېرو څو میاشـتو په پرتله د شـاه راتلونکې اوس روښـانه وه. [17]

د فبرورۍ په اوومه، شـجاع په خپل لاس د زړه له تله يو لیک «زما ګران زوی» شـهزاده تیمور ته چې له جنرال ناټ سره په کندهار کې و، ولېږه. موهن لال کشـــمیري چې په کابل کې پاتې و او له ټولوژني څخه يې ځان وژغوره، ژمنه وکړه چې دغه لیک د خپلې ځارګرې شـــبکې او ځرو په وســـیله کندهار ته ورســـوي. ده خپل لیک د برخلیک په بنه د الهي نه پوهېدونکې رضا د منلو او په هغه څه چې پېښ شـول د شـرم او خپګان په څرګندولو پیل کړ. «دلته موږ د هغه صحنو تکرار ولید چې د دغه سـیمې خلکو په وار وار ترسـره کړې دي.» نوموړي لیکلي: «ما د هغه څه په اړه چې پېښــېدونکي وو، ډېر ځلې انګرېزانو ته خبرداری ورکړ - خو دوی ما ته هېڅ پام ونه کړ. برخلیک داسـې صحنې رامنځته کړې چې ما يې هېڅ کله د پېښـــېدو هیله نه کوله. د کابل خلکو د ملحدانو پر ضـــد د جګړې اعلان وکړ او حتی له ما څخه يې مخ واړولو او ویل يې چې شـاه د انګرېزانو سـره دی.» بیا يې خپل زوی ته څرګنده کړه چې د ځان د ژغورلو له پاره دې ته اړ شـو چې خپله بڼه بدله کړي: «ما دوی ته وویل چې انګرېزان ماته څه ارزښـت لري؟ خو انګرېزانو، بې اړنګه، له ما سـره په مهربانۍ چلند کړی و او زه د دغه ملت اوږد مهاله مېلمه وم - خو څه مې کړي وای؟ دا ما ته نه ښـایېدل - خدای دې ما له دغه شـرم څخه [ چې له خپلو ملګرو منکر شـوم ] وسـاتي چې زه يې احسـاسـوم. که چېرې د خدای رضـا وه او بیا مو سره ولیدل، زه به د خپل زړه رازونه درته ووایم. دا به زما په قسمت کې وو چې داسې وکړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې شـــهزاده تیمور ته د خپلو هیلو په هکله لیکلي وو: «غم مکوه، اوس حالات ښـــه دي او هر څه ســـم روان دي. خوښ او خوشحاله اوسه - مور به اوس هم هغه څه ترلاسه کوو چې په اړه یې ناهیلي شـوي وو او زه به پر تا پوره پام وکړم. زه هغه جزیات چې زه یې غواړم نه شـم درلېږلی ځکه چې لارې له خطر څخه ډکې دي. د ویلو له پاره ډېر څه شـته - که چېرې حالات زما له هیلو سره سم شول او وضعیت په خوشحالۍ واوښت، هر څه به ډېر ژر درته ووایم.» [۱۸]

اوس چې د مخالفینو مشرتابه لا تراوسه یو موټی نه بلکې ټوټې ټوټې وه، د شجاع لیکونو د ده د ډېرېدونکي ډاډمنتوب څرګندونه کوله. په یو لیک کې یې مککرېګر ته ټینګار کړی و چې د یو چټک پرمختک په موخه د کابل په لور راروان شي. مخکې له دې چې د بارکزیو د بې وفایۍ په اړه خپل زوړ مضمون بیا پیل کړي، له مکرېګر سره یې دغه ژمنه وکړه : «ســتا یوه پشـۍ به هم ژوبله نه شـي.» بیا، نوموړي په ځانګړې توګه خپل زوړ دښــمن، امیر دوســت محمد خان ته د انګرېزانو درناوی وغنده چې تر اوسه یې ورته کولو. ده مککرېګر ته داسې لکچر ورکړ:

د داسې پېښو سره سره، ولې دوست محمد او کورنۍ یې په عشرت کې هلته پاتې دي؟ تاسې له دغه سپي سره څرنګه چلند کوئ او په بدل کې تاسې له دغه بې ایمانه څه ترلاسه کړي. د صاحب (مېکناټن. ژباړن) په غیږ کې چې په دغه هېواد کې مړ شـو، زما هیله ده چې محمد اکبر، دوسـت محمد، ښـځې او ماشـون یې په بې وزلۍ کې د هندوسـتان په بازارونو او واټونو کې ولیدل شـي. خدای د زما د زړه دغه هیله ترسره کړي! که چېرې اکبر زما لاسته راشي؛ نو څرنګه چلند به ورسره وشي! [۱۹]

دا چې انګرېزانو له دوســت محمد څخه په هغه بڼه غچ وانه خیسـت چې شـجاع یاده کړې وه، یوه وجه یې دا وه چې له اکبرخان ســره د جګړې ډېر اســیران وو. ځینې یې هغه ټپیان وو چې په کابل کې پرېښــودل شــول، ځینې یې د تړون پر بنسـټ د یرغمل په څېر ورسـپارل شـوي وو او پاتې یې یا تسـلیم شـوي او یا ژوندي نیول شـوي وو چې له هغه کلیو او غارونو څخه را ایســتل شـــوي وو چې دوی پناه ور وړې وه. په ټوله کې، ۱۲۰ اروپایان راغونډ کړل شـــوي وو چې د نه ماتېدونکې مېرمن سـېل او امیندواره ماتم وهلې لور، کونډه شـوې مېرمن ټرور او د مېرمن مېکناټن او د هغې د پشـۍ په ګډون (لکه چې طوطي یې د کابل نه له شاتګ څخه ژوندی نه و وتلی) ، څه نا څه ځلوېښت کسان یې اکبر نیولي وو.

لمرنۍ څو ورځې تر ټولو سختې وې. د اکبرخان بندیان د غاښـیو په لاره چې په واوره پټ وو، بوتلل شـول او د غره پر سر په چټلو کلاوو او لیرې برجونو کې سـاتل کېدل. اسـیران څو ورځې په «سـوځوونکي یخ » باد کې په داسـې لاره سـپاره روان کړل شـــوي وو چې د دوی د ملګرو له وینو څخه ډک او ټوټې ټوټې مړي په کې پراته وو. کله کله به یې خپل نږدې ملګري په کې وپېژندل. د ښېلګې په توګه، جګډلک ته څېرمه مکنزي د جېمز James یا ښـاغلی جیم سـکېنر Gentleman Jim Skinner د مړي پاتې شـونی ولید چې د نورو مړیو په انبار کې پروت و. بیا یې د درېدو اجازه وغوښـته چې یو تېښـلی قبر ورته وکیندي. دوی د «بربنډو، ټپي او یخنۍ ســـویو ســـپاهیانو له کوچنۍ ډلو څخه تېر شـــول چې یو بل ته نږدې راغونډ شـوي وو... افسـوس! موږ دغه ځپل شـوو خوارکیو ته هېڅ مرسـته نه شـوی کولای او په راتلونکو څو ورځو کې له دوی څخه یو هم ژوندی پاتې نه شـو». [۲۰] د دې ارزونه سـخته ده چې اسـیر انګرېز افسـرانو به څه توان درلود چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سپاهیان وژغوري، خو له غاښیو څخه ډېر ژر ګنګوسو هند ته لاره وموندده چې انګرېز افسران یوازې د ځان ژغورنې په هڅه کې وو او خپل سرې یې مریتوب او مرګ ته پرېښودل.

د یوې کلا اوسېدونکو نه غوښتل چې اسیران ورسره هستوګن شي او ویل یې چې «موږ کافران یو» او دوی یې اړ ایستل چې د«غواوو په یو خرابه شپول» کې واړوي.[21] دوی د کنګلېزه پنجشېر سیند له یو شمېر ځانګو څخه «چې نه یوازې ژورې بلکې اوبه یې هم ډېرې چټکې بهېدې»، تېر شول. یو ځل له سیند څخه د تېرېدو په مهال «د افغانانو یوې لوټمارې ډلې پر ټولو هغو کسانو برید وکړ چې د سیند په غاړه پاتې وو... ډېرو له ناچارۍ ځانونه سیند ته واچول او ډوب شول».[22] بیا، پر یو ډېر ستوغ غاښي ختل پیل شول. مېرمن سېل لیکلي: «لاره دومره ستوغه وه چې زه اړه شوم چې د اس یال• کلک ونیسم څو زه او زین مې یو ځای ښکته ونه غورځېږو.» د غاښي په سر کې دوی د قبیلوي دښمنۍ په یوه خپلمنځي نښته کې ګیر شول، خو هغه د ګولیو باران چې دوی په خرد کابل کې لیدلی و، دا ورته په تاوتریخوالي کې کابو هېڅ وه، لېټرلېږه مېرمن سېل ته : «یو څو د تور ټوپکو ډزې وشوې او د اوچتو خبرو ډېر شور و. لږ وروسته بیا هر څه پای ته ورسېدل.» اوس یو ډېر کوچنی خوند هم دوی ته لوی عشرت ښکارېده. مېرمن سېل یو سهار لیکلي : «موږ له مخ مینځلو څخه ډېر خوند واخیست او د دال او تربوچې• لوی سبانارۍ مو وخوړ.» [23]

خو کله چې دوی د اکبر خان د خسر کلا ته ورسېدل، د اسیرانو وضعیت سمون وموند. د ټولو افغان او یو شمېر هندي مسلمانانو په لیکنو کې پر خپلو بندیانو د اکبرخان مهرباني ډېره ښه او ښېلګه یېزه یاده شوې او په حماسي شعرونو کې د ادب، صداقت او مهربانۍ بیلګه او یا یو ډول افغان صلاح الدین یاد شوی چې تر اوسه په کابل کې په همدې ځانګړتیاو یادېږي. د منشي عبدالکریم بیان یې یوه ښېلګه ده:

کله چې د قوماندان اکبر خان مېلمانه ورغېدل او د درېدو او د بدن د سویو غړو د خوځېدو توان یې پیدا کړ، دغه قوماندان کلا ته راوګرځېد چې د ادب او درناوي په پار د دوی لیدنه وکړي.

بندیان ټول په لیکه کې لړزانده او په وېره کې ودرېدل چې خپله مننوونه څرګنده کړي. اکبرخان دوی ته ډاډګېرنه ورکړه او جنرال الفنسټون او د وزیر کونډې ته یې ډېر درناوی څرګند کړ. ده هر یو ته یوه د چرمو چپنه ورکړه چې ژۍ یې د سمور د پوستکي وې او په خپله یې د دوی پر اوږو واچولې. همدارنګه دوی ته یې په داسې حال کې د پسه پوستین ورکړ چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې او وېې ویل: «هېڅوک وړاندوینه نه شي کولی، هېڅوک برخلیک او الهي حکم نه شي بدلولی. ما ته په کابل کې زما د پوځ سپینږیري وایي چې په ژوندي تاریخ کې دومره ډېره سړه هوا او واوره په دغه سیمه کې نه وه شوې. هېڅ مه وېرېږئ، زه به ستاسې ساتنه وکړم او د لغمان تودې هوا ته به مو ولېږم چې ورغېږئ او تر هغه وخته په کې هوسا ژوند وکړئ تر څو چې هوا توده شي، واورې ویلې شي او د هندوستان لارې یو ځل بیا پرانیستل شي.» د قوماندان اکبرخان بېساري ښه چلند، تواضع او زړه سواندې پاملرنې د ټولو درناوی او خوښي وکټه او د ژوند تر پایه یې د مننوونې سوګند وکړ. کله چې اسیر مېلمانه لغمان ته ورسېدل، د مېرمنو له پاره پراخه هستوګنځي ځانګړي شوي وو او چوپړیالانې نجونې یې چوپړ ته ګمارل شوې وې. ډوډۍ هم ورته پرېمانه وه: غلې، دانې او غوښې، د پسه لم، چرګان، هګۍ او هر راز تازه او وچې مېوې.[24]

هغه څه چې ښایي ډېر د حیرانتیا وړ وي، دا دي چې په داسې حال کې چې ځینې انګرېز بیانونه د جګړې د بندیانو په

---

• یال: د اس پر غاړه اوږده وېښته

• تربوچه : سره مولۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځور او کړاو تمرکز کوي، خو ډېر نور انګرېزان د اکبرخان ستاينه کوي چې دوی ته يې پاملرنه درلوده. پاتېنګر په رسمي توګه جنرال پالک ته ليکلي وو څو داډ ورکړي چې «په افغاني بنه، دوی ته ټوله هغه پاملرنه شوې چې يو بندي يې تمه لري او کله که کوم بد چلند راسره شوی، هغه د اکبرخان له خوښې پرته، د ټيټو کچو خلکو کړی او کله چې په دې اړه ده ته سرټکونه شوي؛ نو تر خپلې وسې يې سرغړوونکي ترټلي دي.» [۲۵] لارنس ليکلي چې «اکبرخان خپله ډولۍ مېرمن سېل او مېرمن مېکناټن ته ورکړه. او تل يې په ادب کې چلند کولو» په تېره بيا له مېرمن مېکناټن سره او مېرمنو ته يې داډ ورکړ«چې دوی يې» درانه مېلمانه دي او هر څه چې دوی غواړي، دی به يې ورته راوړي او وروسته له دې چې لاړې خوندي شوې، دوی به سمدلاسه جلال اباد ته ولېږي. په عين وخت کې دوی کولی شي په ازاده توګه خپلو ملګرو ته ليکونه وليکي. کله چې لارنس اکبر ته وويل چې بنديان لږ پيسو ته اړتيا لري، ده ته يې سمدلاسه ۱۰۰۰ روپۍ ورکړې: «ما چې د پيسو رسيد پاڼه ورکړه، ده څيرې کړه او ويې ويل چې داسې کاغذونه د سوداګرو تر منځ وي، نه د ښاغلو تر منځ.» وروسته کله چې لارنس د يو چوپړيال په اړه چې دی يې ښکنځلی و، اکبرخان ته سرټکونه وکړه، «سردار دغه سړی ښه وډبولو او ويې ويل: «که يې دا بس نه وي او ته خوشحاله کېږې، زه به يې غوږ غوڅ کړم.»» [۲۶] په حيرانوونکې بڼه، بنديانو په پراخه توګه د افغانانو په ښو ځانګړتياوو اعتراف کړی. کالېن مکنزي په خپل اسارت کې ليکلي: «په دې کې هېڅ اړنګ نه شته چې افغانان او اروپايان د هندوستانيو او اروپايانو په پرتله ډېر ښه سره جوړېږي. افغانان ډېر سخت سره، زړور او خپلواک نسل دی، ډېر هوښيار او د مجلس له پاره د خبرو تياره او خوندوره ژبرمه لري چې له دوی څخه ډېر په زړه پورې مل او ملګري جوړوي... افغان ښاغلي په ادب کې ډېر حساس دي او دوی په خپله اعلی چلند لري.» [۲۷] وېنسنټ ايير په دې اړه همغږی و او ليکلي يې دي: «افغان ښاغلي ډېر په زړه پورې يون ملي دي.» که څه هم سلطان جان يوازې يوه مياشت مخکې د لارنس ملګری، کپتان ترور وژلی و، خو کله يې چې ډېره اشنايي ورسره پيدا کړه، نوموړي داسې ويلې: «سلطان جان په طبيعي توګه د ښه مزاج خاوند و او له ماشومانو سره يې ډېره مينه لرله»* [۲۸]

خو دغه بنديان له ځينو خپلو هغه انګرېزانو څخه په لويه کچه ناراضه وو چې يو ځای ورسره بندي وو. مېرمن مېکناټن چې تر يوې کچې يې خپل بکسونه ژغورلي وو، چا ته يې خپلې جامې او واين نه ورکول؛ نو په دې توګه د ټولو بده اېښېده. انګرېزه-هندوستاني مېرمن وېډ لا ډېره د دوی نه خوښېده. لغمان ته له راتګ څخه لږ وخت وروسته، نوموړې خپل انګرېز مېړه طلاق کړ او پر ځای يې له خپل يو يرغمل نيوونکي سره د واده په نيت اړيکې ټينګې کړې او

*دغه اندونه په ځانګړې توګه بايد حيرانوونکي نه وي او بايد د ستاکهولم سنډروم Stockholm Syndrome يوه بېلګه ونه ګڼل شي. (ستاکهولم سنډروم يو داسې رواني حالت دی چې يرغمل شوي له يرغمل کوونکو سره د خپل پايښت له پاره خواخوږي پيدا کوي. ژباړن) د افغانانو په اړه د انګرېزانو اند په دوديزه توګه مثبت او ستاينوکی دی. د مونټسټورټ الفنسټون په اند افغانان برسکاټلنډيانو Scottish Highlanders ته ورته دي. (د دې په هکله د بېن هاپکېن Ben Hopkins ډېره ښه شننه وګورئ The Making of Modern Afghanistan). د نولسمې پېړۍ په وروستيو او د شلمې پېړۍ په لمړيو کې انګرېز افسران د افغانانو په دغه ځانګړتياوو يوه شول او د دوی پوله ييزه جګړې يې د ښونځې په ډرامو او ډګري سپورتونو کې ليدلې دي. دغه ځانګړتياوو د کلېپلېنګ Klipling په ليکنه کې هم لاره موندلې ده. د «اصيل پښتون» نظريه تر اوسه ژوندی ده په تېره بيا د وروستي اشغال په بهير کې په انګرېزي څواک کې چې افغانانو ته يې د «ذاتي جنګياليو» په سترګه کتل. د دغه ځانګړتيا د استعارې يوه ډېره کمرنګه بېلګه د رامبو ۳ Rambo III په نوم د سلوېسټر سټلون Sylvester Stallone په فلم کې ليدلی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانه شوه، «د مسلمانانو دود او دستور یې خپل کړ او د خپل دین د بدلولو څرگندونې یې کولې... نوموړې د ځینو پلانونو په اړه چې اسیرانو د تېښتې له پاره جوړ کړي وو مالومات بربنډ کړل چې کابو د ټولو د سرونو د غوڅولو وجه گرځېدلې وو... خپل وینده ته یې وویل چې مېړه یې څرنگه د سرو زرو سکې په خپله چپنه کې پټې کړې دي؛ نو ښکاره وه چې بیا دغه سره زر ترې واخیستل شول.»[۲۹] له بدخویه شلېڼ څخه تر ټولو ډېره کرکه کېده. ده کابو له هر بندي سره شخړه کوله حتی هغه وخت چې دوی ټول د فبرورۍ په نولسمه زلزلې کابو مړه کړي وو، ده یوه پلمه پیدا کړه چې شخړه جوړه کړي. کله چې زلزله پیل شــوه، مکنزي د کلا په هوار بام کې و او د همدغه بام لاندې په کوټه کې شــلېڼ په څوکۍ ناست و:

ده په غوسه شاوخوا وکتل چې څوک یې څوکۍ ښوروي. مکنزي چیغه وکړه: «زلزله ده، جنراله!» او په داسې حال کې چې مېرمن سېل ته یې چیغه کوله، په هغه زینو کې یې ښکته منډه کړه چې شاوخواته یې چاکېدې او نړېدې. دوی ټول د خدای په مهربانی په خوندي توگه ښکته شول. ماښام ته شلېڼ راغی څو مکنزي په دې پوه کړي چې په کومه کچه یې ده ته سپکاوی کړی؛ نو په ډېره رسمي او درنه بڼه یې مکنزي ته وویل: «مکنزي، غواړم تا ســره خبرې وکړم.»، «ډېر ښــه جنراله.» ورپســې شــلېڼ ورته وویل: «مکنزي، نن ته تر ټولو لمړی ښکته لاړې.» مکنزي په ډېره سره سینه ځواب ورکړ: «په زلزله کې همداسې باید وشي، جنراله. دا مې په مانیلا Manila کې له هسپانیوي توکمو څخه زده کړي.»[۳۰]

مېرمن سېل د معمول په څېر د زلزلې په هکله خپله روحیه داسې بیان کړې: «زموږ د کوټې بام په هیبتناکه اوچت غږ ولوېد. کله چې زه ښکته کېدم، زینې نړېدې، خو زه ژوبله نه شوم. زه مېرمن سټرټ ته اندېښمنه وم، خو ما یوازې د خاورو ځځلو یو انبار لیدو او کابو گیچ او گوله وم چې یو خوشحاله غږ مې واورېد: «مېرمن ســېل، دلته راځه، ټول جوړ او روغ دي.» او ټول مې په حویلۍ کې روغ رمټ ولیدل...» نوموړې زیاتوي : «د مېرمن مېکناټن پشـۍ، تر خاورو لاندې وه خو بېرته راویستل شوه.»[۳۱]

په همدغه سهار د فبرورۍ په نولسمه، د جلال اباد له سوېلي دروازې څخه تامس سیټن له یو مېټي• سره ولېږل شو چې د یوې کارکرې ډلې مشري وکړي.

ده او سړیو ته یې امر شوی و چې له ښار څخه لرې بهر نیمه نړېدلې د خاورو دېوالونه چپه کړي. د دغه دېوالونو تر شا افغان اسوالو هغه ډلې ځورولې چې انگرېزانو هره ورځ په وښــو پسې لېږلې. سیټن ته ویل شــوي وو چې دغه دېوالونه چپه کړي څو په دروازه کې د توپ د ډزو مخه پرانیستل شي او د سیمې دغه ټوله برخه اس ساتونکو او د کمپ هغه ملکیانو ته خوندي شي چې واښه رېبي او بیا یې وچوي. په دې کې بېړه پکار وه او سیټن ته کلک دستور ورکړل شوی و چې له لمر لوېدو څخه مخکې دا کار بشپړ کړي ځکه چې جاسوسانو راپور ورکړی و چې اکبرخان او پوځ یې له جلال اباد څخه د اس په مزل یوازې یوه ورځ لیرې دي: کله یې چې خپل بندیان داســې ځای خوندي کړل چې انگرېزانو نه شــوی

• مېټي: دوه سرې تسکوره، کلنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژغورلی - یا یې ســیالانو نه شــوی تښــتولی- اکبر بېرته راوګرځېد چې په هېواد کې د پاتې انګرېزانو شــتون ختم کړي. له یوولسو بجو څخه لږ وخت وروسته، سیټن خپل مېتی کېښود او ښکته د درې له منظرې څخه یې خوند اخیست. دغه شېبه یې یوه پیکه لړزه تر پښو لاندې احساس کړه او ورپسې یې ټیټ غوړمباری تر غوږ شو. بیا یوه وقفه راغله او ورپسې:

سمدلاسه غوړمباری ډېر شو او داسې د تندر غږ ترې جوړ شو لکه ۱۰۰۰ بګۍ چې په کنډو او کپړ لاره کې په چټکۍ روانې وي. زما زړه بد شو، خوا مې ګرځېده او سخته وېره مې بدن ته ننوته. ځمکه لکه سمندر پورته او بیا بېرته ښکته شوه او ټول ډاګ د څپو په څېر زموږ په لور راروان شو. خوځېدنه دومره ډېره وه چې زه نږدې لوېدلی وم او هره شېبه مې د ټول ښار د بلع کېدو تمه کوله. زما سترګې کلا ته واوښتې او کتل مې چې دېوالونه، مورچل او کورونه په ډېر شدت پورې وورې ښوري او په بشپړه توګه نړېږي. سوېل او لوېدیځ لوري ته، ســنجونه چې موږ په ډېر زیار او ســتومانۍ جوړ کړي وو داســې نړېدل لکه رېګ. ټوله کلا د دوړو په یوه لویه وریځ کې ورکه شوه او د هیبت او ترور چیغې ترې راپورته شوې.

کله چې «دغه سونځ غږ او لړزه» ودرېده، چوپه چوپتیا جوړه شوه. «سړي مې له وېرې تک شنه وو او زه د مړي په څېر تک ژېړ وم. د درې شاوخوا ته مې چې وکتل، هر ځای مې د دغه الهي غضب ناوړه نښې نښانې ولیدې. هره کلا، هر کلی او ښار د دوړو په ټینګو لوخړو کې پټ وو. له ځینو دوړو څخه داسې څه پورته کېدل لکه هغه ځای چې اور اخیستی وي. له نورو ځایونو څخه د بړبوکۍ په څېر داسې اوچتې ټینګې لوخوړې پورته کېدې لکه ماین چې په کې چاودلی وي.» دا څرګندده وه چې نه یوه کلا، نه یو کلی او نه یو ښار جوړ پاتې و.

کله چې وږمې د جلال اباد له ښاره دوړې لیرې کړې، د ورانۍ او ویجاړۍ یوه ناوړه صحنه راښکاره شوه. د کورونو بنیالي او تراشلې پاسني پوړونه چې څو دقیقې مخکې د مورچلونو شاته پاس درېدلي وو، ټول له منځه تللي وو او تیرونه، پایې، کړکۍ، دروازې، خادې د دېوالونو وړې ټوټې، د بامونو څنډې، خاورې او دوړې ټول ګډ او وډ انبار پراته وو. دېوالونه هم په همدې کچه په ډېر بد حال وو او شاوخوا ته یې مورچلونه نړېدلي او د دېوالونو بېخ ته یې د خاورو خځلو انبارونه جوړ کړي وو. په ډېرو ځایونو کې دېوالونه چاودلي او ډېرو برجونو درزونه کړي وو. په ختیځ دېوال کې دومره لویه چوله جوړه شــوې وه چې دوه ټولي څنک په څنک ترې تېرېدی شــوی... د سلو درنو توپونو د یوې میاشتې ډزو به دومره ورانی نه وی کړی لکه د څو ثانیو زلزلې چې وکړ.[۳۲]

په راتلونکو ســاعتونو کې، ســر انجنیر جورج براډفوټ، جنرال ســېل د ورانو دفاعي لیکو کتنې ته بوت. ســېل د ورانۍ کچې هک پک کړ. نوموړي کلکتې ته ولیکل چې هغه وخت چې دوه میاشــتې مخکې جلال اباد ته ورســېد، «د جلال اباد دېوالونه په داســې حالت کې وو چې د دفاعي شــونتیا له پلوه یې زموږ ناهیلي توجېه کوله». کلا یې پر خپلو لاســونو په ســوچه فزیکي کار په ډېر زیار خوندي کړه او «د کپتان براډ فوټ د حیرانوونکي هوډ او پوهې په مرســته، عســکرو په سـخت او بې دمې کار دغه ښــار بېرته په ښــه توګه د دفاع وړ کړ.» اوس باید دفاع کوونکي هر څه بېرته له ســره پیل کړي ځکه چې زلزلې «ټول سنجونه وران کړل، د ښار یوه پر درېیمه برخه خلک یې ژوبل کړل، د پېښور لوري په دفاعي دېوال کې یې یوه لویه چوله جوړه کړه او د کابل لوري دروازه یې په یوه بې بڼې کنډوله بدله کړه»[۳۳]
پرته له دې چې ټوله چونۍ په کارګرې ډلې بدله شي او سمدلاسه چاک او چولې بېرته جوړې شي، بل بدیل نه شته و. کله چې کار لږ مخته روان و، «لمر لوېدو ته نږدې، د اکبر له کمپ څخه یوه کوچنۍ اســواله ډله د ښار له پاره راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپچي اوګسټس ابټ Augustus Abbot چې پيره یې کوله، پر دغه ډلې د توپ یو ډز وکړ او دوی په ځغاسته له سترګو پنا شول».[۳۴] براډ فوټ وېسېډ: «د اکبر له پاره اوس ښه وخت دی.»[۳۵]
دفاع کوونکي نېک بخته وو ځکه چې پنځه داسې پرېکنده ورځې افغانان ونه لیدل شول چې زلزلې انګرېزانو ته له کلا څخه دفاع ناشونې کړې وه؛ نو داسې برېښېدل چې زلزلې کلابند کوونکي دومره سخت ژوبل کړي وو لکه کلابند شوي چې ژوبل شوي وو. په دغه وخت کې خلکو په چونۍ کې کابو هېڅ خوب نه کولو. سیټن لیکلي: «هر سړی به په سپېدو کې اوچت شو او له لږ رڼا کېدو سره سم به کار ته چمتو و. افسرانو او عسکرو به ورکړل شوي کارونه په عزم کول... د څلورويشتم په ماښام د برجونو رغونه بشپړه شوه، د کلا شاوخوا سنجونه داسې جوړ شول چې په ډېرو ځايو کې يې د پخوا په پرتله دوه برابره قوت درلود. کار ډېر سخت و، د ماښامه به مې لاسونه دومره پړسېدلي وو چې د خوراک له پاره مې پنجې او چاکو ته ګوتې نه شوی راټولولی. په دغه څلورو ورځو کې نه یو افسر او نه کوم عسکر جامې بدلې کړې. هر څوک په خپل سنګر کې د دفاعي دېوالونو تر شا ویده کېدل او د برید په صورت کې دفاع ته چمتو وو.»[۳۶]
د فبرورۍ په پنځه ویشتمه بلاخره اکبرخان له سیند څخه تېر شو او د ازبک اسوالو د راتګ دوړې یې د ښار په سوېل کې غونډۍ Piper's Hill ته د ختلو په مهال له لیرې ښکاره شوې، «ټول په بنیالۍ بنه سپاره وو ، جنډې ورسره وې او یوه ښایسته ننداره یې جوړه کړې وه». څو دقیقي وروسته، اسوالو په وښو رېبونکو او وښو راوړونکو پسې چې په منډو یې تېښته کوله له غونډۍ څخه ښکته خپل اسونه په ځغاستو کړل. دراوزې وتړل شوې او«افغانان له لوی ځواک سره راغلل او لوی شمېر پلي سرتېري تر موږ چاپېر شول». د ښار کلابندي اوس په ډېر شدت بیا پیل شوه، خو اوس هغه شېبې تېرې وې چې چونۍ په اسانۍ زیانمنه کېدای شوی.
لکه په کابل کې، اکبرخان سمدلاسه اغېزمنې کړنې په لاره واچولې چې ښار ته د اکمالاتو مخه ونیسي. نوموړي د ټولو کلیو اوسېدونکي په مرګ وګواښل که چېرې دوی پر پرنګیانو باندې خوراکي توکي، ګوګړ، ښنګلې مالګه• او مهمات خرڅ کړي. دومره وخت نه و تېر چې سیټن په خپله یادلیکچه کې د خپلې ډېرېدونکې لوږې په هکله لیکل پیل کړل: «د مارچ دویمه، هوساینه په چټکۍ له منځه ځي. چای ډېر وخت مخکې خلاص شوی، کافي نن خلاصه شوه، بوره په خلاصېدو ده، کوچ خلاص دي، غواوو ته واښه نه شته، شمعې نه شته او واین او الکول اوس تېر یادونه دي. په راتلونکو څو ورځو کې به زموږ د غوایه مالګینې غوښې او د لواړې بورې ځېره نیم پونډ ( ۲۲۶ ګرامه. ژباړن ) ته راټیټه شي او تمه کېږي چې نوره ځېره به هم لږ شي.» څو ورځې وروسته یې بیا په لا ډېره بدمرغۍ لیکلي : «ناری یا ناشتا مو نن ونه کړه او غوښه ډېره لږمونډې کېږي. [۳۷] سبل د مارچ په درویشتمه جنرال پالک ته په پېښور کې احوال ورکړ چې نور د مقاومت توان نه لري: نوموړي خپل ټول باروړونکي اوښان له منځه وړي وو چې پاتې واښه اسونو ته ورکړي او ده ارزولې وه چې مالګینه غوښه به د اپریل په څلورم خلاصه شي.[۳۸] د دان پورو له پاره ګولۍ هم اوس په خطرناک ډول مخ په خلاصېدو وې.
اکبر یو ځل بیا د اسلام د اتل درېځ غوره کړ او د یو سپېڅلي جنګيالي په توګه يې له خپل نوي نومیالتوب څخه کار واخیست چې نور ملاتړ او متحدین حتی د هغه خلکو په منځ کې ترلاسه کړي چې د ده په مشرۍ شکمن وو. لکه څنګه

• ښنګلې مالګه: پوتاشیم نایټرېټ، هغه مالګه چې د دارو، باروتو او سرې په جوړونه کې کار ورڅخه اخیستل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مکګرېګر د مارچ په نیمایي کې پالک ته لیکلي: «دی اوس ځان داسې سړی ښيي چې کور، کورنۍ، له چا سره کوم تړښت او کومه موخه نه لري، خو د ربښتیني دین بیا اعاده او د دښمنانو نابودي غواړي.»[۳۹] له لغمان څخه د جلال اباد په لاره کې يې چې هر ځای شپه کوله، له وخت څخه په کار اخیستنې يې افغان اشرافیانو ته پیغامونه لېږل چې د ده ملاتړ وکړي. نوموړي به د جهاد ژبه په داسې نېغه او نوښتیزه بڼه کاروله چې نه ده او نه بل چا تر اوسه کارولې وه.[۴۰] ده دا رموز هم وکړ چې هر څوک چې له شاه شجاع سره متحد کېږي، له هغه سره به د مرتد چلند وشي. هېڅوک به بې پلوه نه پاتې کېږي. اکبر خان، سید احیاالدین ته چې د شاه شجاع یو نږدې متحد اشرافي و، داسې لیکلي:

ښه ډاډه اوسه: ته چې له پرنګیانو سره د اړیکو ساتلو ته اړ شوی وې او اوس يې که چېرې د پایلو په اړه وېره لرې، زه له تا څخه هیله کوم چې په دې اړه په زړه کې هېڅ وېرې ته ځای ورنه کړې، ځکه تا د وخت له غوښتنې سره سم عمل کړی. هر سړی، لوی او کوچنی، د خپلو ګټو له پاره دې ته اړ و چې له پرنګیانو سره څه نا څه تړښت ولري، خو اوس د دغه کرکجن نسل کتاب په باد شیندلو پانو بدل شوی او اوس چې د اسلام د پوځ لیکې په کلکه یو موټی شوې، ستا د شا ته کېدو وجه څه کېدای شي؟ زه دغه لیک درته لیکم چې کلکه هیله در څخه وکړم چې هر راز پردیتوب پرېږده او زما کور خپل کور وګڼه. که چېرې مور سره ولیدل، ته به پرته له ځنډه بېرته راوګرځې او زمونږ ملګرتیا به نوره هم ډېره شي. زه باور لرم چې ته به دغه لوري ته اوښتنه سمدلاسه پیل کړې.[۴۱]

اکبر، تره باز خان ته چې یو بل اشرافي و، په خپل لیک کې حتی ډېر روښانه مذهبي - او حتی تصوفي - عرض وکړ: دی باید پرنګیان پرېږدي او د ربښتینو ایماندارو ټولنې ته راوګرځي. ده لیکلي:

داسې ښارګریز مالومات مې ترلاسه کړل چې تا لالپوره پرېښې او غونډیو ته دې پناه وړې. له دې څخه ځرګندېږي چې ته له اسلامي نسل څخه د بېلتون نیت لرې. زما درنه ملګریه، دغه الهي کلام اوس خپور دی. د تېرو څلورو میاشتو په بهیر کې د دغه خاورې هوښیارو او سپېڅلو سړیو ښایسته خوبونه لیدلي او داسې لیدلوري يې ترسترګو شوي چې پاک پیغمبر او څلورو یارانو يې د اسلام له پاره خپلې توري تر ملا تړلې وې. ټول اسلام یو موټی او یو زړه شوی او موږ له کفارو سره په جګړه کې ښکېل شوو. د کافرانو نسل مغلوب او ټول تباه شو. دا د انسان پرېکړه نه ده بلکې د خدای حکم دی. ته باید د خپل مذهب په ګټه خپلې سترګې خلاصې کړې... په خپله قضاوت وکړه، زه او ته باید د مسلمانانو په منځ کې په عزت او درنښت ژوند وکړو او یا خپل ژوند د کفارو په منځ کې تېر کړو؟ که ته د اسلام ښېګڼه غواړې؛ نو زما خپل کور او شتمني خپل وګڼه، خو که ته د کفارو سره چې موږ نه غواړو اړیکې ورسره ولرو، ملګرتیا ته دوام ورکوې؛ نو ما ته ژر خبر راکړه.[۴۲]

دغه نارو او غوښتنو خپل بشپړ اغېز درلود. د اکبر خان پوځ په لوړه کچه لوی شو په داسې حال کې چې د یو بریالي مجاهد په توګه يې د لوړېدونکي حیثیت خبرونه په غرونو کې خپرېدل. د ده له ډېرو ستایونکو څخه یو میرزا عطا و:

غازي سردار محمد اکبرخان د انګرېزي چوڼی کلا بندي پیل کړه او تبلیغیان يې اطرافو ته ولېږل چې دغه تبلیغ کړي: «هر څوک چې ربښتینی مسلمان دی؛ نو د قران دغه ایت باید اطاعت کړي: «د خدای په لاره کې په خپلو مالونو او سرونو جهاد وکړئ. دا ستاسې له پاره ښه دي که پوهېږئ.»» ده هرڅوک هڅول چې د عیسویانو پر ضد جګړه کې ګډون وکړي. د دغه اعلان په پایله کې ۲۰۰۰ لښوال ځوان جنګیالي د اکبرخان له پوځ سره یوځای شول. کله چې دغه ځوان اتل د بخارا له بند څخه ازاد شو او کابل ته راغی، ده دولت او شتمني نه درلودل، خو اوس يې خزانه له انګرېزي لوټ کړل شوو مالونو څخه تر سرمو ډکه وه او وسله تونونه يې په دان پورو او باروتو ډک وو. د ده په بریمنو رکابونو پسې په زرګونو زړور جنګیالي روان وو. ده پلان درلود چې لکه په کابل کې، انګرېز افسران ژوندي ونیسي او خزانه يې ترلاسه کړي چې د خپل پلار، امیر دوست محمد خان چې په هند کې يې په اسارت کې ژوند کولو، ازادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تضمین کړي؛ نو دوه میاشتې یې د جلال اباد له ښار څخه بهر د چونۍ په کلابندۍ او د خندقونو او سنګرونو په جوړولو کې تېرې کړې.[۴۳]

د مارچ په پای کې کلابندکوونکي په بریالیتوب نږدې راغلل او د کلابندۍ ماشین او لرګین دېوالونو یې د ښار دېوالونه ته د اتیا یاردو په واټن کې نږدي راوړل. اوس هېڅ خوراکي توکي ښار ته نه د ننه کېدل او اکمالات ورځ تر بلې مخ په کمښت وو. اکبرخان یوازې یوې ښې توپخانې ته اړتیا لرله چې کلا ته لاره پیدا کړي، خو د سېل په شتون کې، اکبرخان د کابل په پرتله له یوې لوړې روحیې لرونکي دښمن سره مخ و. د کلا د دېوالونو د ننه، د کمپ هر چوپړیال ته وسله ورکړل شوه او حتی اوښبونو او د اسونو ساتونکو ته نېزې جوړې او ورکړل شوې چې له عسکرو سره د سنجونو تر شا په مورچلو کې مرسته وکړي او په ځانګړې توګه هغه وخت چې عسکر لنډ او چټک برید ترسره کوي. کله به چې دفاع کوونکي د مهماتو له کمښت سره مخ وو، دوی به یوه خولۍ چې د دوو خواوو څنډې یې پورته اړول شوې وې، یوې لوېې سرې ته ورته نانځکې ته ور په سر کړه او له دېوال څخه به یې پورته ونیوله چې دزې پرې وشي. بیا په ماښام کې کله به چې کلابند کوونکي بېرته خپل کمپ ته لاړل، دوی به بهر ووتل او د ګولیو ټول پوچک به یې راټول کړل چې وروسته یې ویلې کول او په قالب کې به یې هغه څه ترې جوړ کړل چې چونۍ ورته اړتیا لرله. سیټن لیکلي: «موږ ټول په خپلو ځانګړو دفاعي ځایونو کې ویده کېدو. افسرانو توري له ملاوو کابو هېڅ نه لیرې کولې او ښايي خپلې موزې یې هم نه ایستلې. هېچا یونیفورم نه اغوست - او په ډېر پام مو په خپل ځای کې اېښي وو- خو موږ د اوښ شړۍ اغوستې. پر دوی باندې کیندلو، لوېدو، نم، دوړو او خټو اغېز نه کولو او نه په کې ښکاره کېدل... دومره وخت تېر نه و چې اکبرخان په دې حقیقت پوه شو چې د ده د بریا یوازېنی چانس دا دی چې لوږه موږ بهر راوتلو ته اړ کړي.»[۴۴]
د اپریل په لمړۍ نېټه دفاع کوونکو له کلابند کوونکو څخه په بریالیتوب غلا وکړه او خپله د خوراکي توکو زېرمه یې ډېره کړه. دا کلابند کوونکو ته یو لوی ګوزار و. اکبر د مارچ میاشتې په وروستیو ورځو کې پرېکړه وکړه چې چونۍ له هغه لږو وښو څخه هم محرومه کړي چې په مرغه کې پاتې وو. ده د اسوالو تر ساتنې لاندې یوه رمه پسونه څرځایونو ته ورخوشې کړل چې پاتې واښه خلاص کړي. د کلابندۍ کړۍ ورځ تربلې ټینګېده او شپانه دومره زړور شول چې د مارچ په یودېرشم یې خپلې رمې تر څلور سوه یاردو نږدې د کلا ارغاړې بیخ ته راوستې. په لمرلوېدو کې وږیو دفاع کوونکو په داسې حال کې چې «د پسونو د غوښو ټوټې او ورنونه یې په خیال کې ګرځېدل، رمو ته یې کتل چې لاړې او له سترګو یې پنا شوې»، خو سبا ته، سېل دوی ته تابیا نیولې وه.
سېل امر وکړ چې په سپېدو کې اسوال پوځیان باید د ۶۵۰ کسیزه پلې قوې، رضاکاره نېزه والو او د براډفوت تعمیراتي انحرافي قوې سره یو ځای په چوپه چوپتیا انتظار وباسي. کله چې پسونه دومره نږدې شول چې دوی ور رسېدی شوی، له شمالي دروازې څخه سمدلاسه د تعمیراتو عسکر ووتل او د دښمنانو په سنګرونو یې ډزې پیل کړې چې د کلابند کوونکو پام ځان ته واړوي. په عین وخت کې، د سوېل دروازه په چوپتیا خلاصه کړل شوه او اسوالو په ډېره تېزۍ د رمو په لور ځغاسته پیل کړه. شپانه او د دوی ساتونکي وتښتېدل. سپرو عسکرو په چټکۍ پسونه راغونډ او کلا ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوچتېدونکي پل draw bridge* په لاره د ننه کړل دغه ټول مانور تر لســـو دقیقو لږ وخت ونیو. تر څو چې افغان اسـوال راښـکاره کېدل، عسـکر او پسـونه کلا ته په خوندي توګه ننوتلي وو. په همدغه شـپه کله یې چې د نمانځنې په ماښـامنۍ کې د پسـه کباب وخوړ، سیټن په خپله یاد لیکچه کې لیکلي: «موږ ټولو لوړه روحیه درلوده. کله چې دښـمن د توغمې نځا کوله، موږ له دېوالونو څخه د اوچتې خندا سـلامۍ ورته کولې، «بئئئه-بئئئه!» څلور سـوه او یو اتیا پسـونه او څو وزې مو په دغه ورځ کلا ته د ننه کړې او دې د شـپاړسـو ورځو له پاره د غوښې د ورځنۍ څېرې درې په څلورمه برخه راته برابره کړه... په درېیمه ورځ یو جاسـوس کلا ته راغی او ویې ویل کله چې اکبرخان خبر شـو چې موږ یې پسـونه وړي دي، دومره ځاځناک شـو چې خپل سـړي یې له وېرې نه شـوی ورنږدې کېدی.»[۴۵]

له دې څخه لږ وخت وروســته، اکبرخان یو ډېر سـخت زیان وګالو. نوموړي ټوله ورځ په کلا باندې د یو برید مشــري وکړه او ماښـام بېرته کمپ ته لاړ چې د خاجراني Khajrani قبیلې یوې ډلې ته چې ده ته د چوپړ له پاره راغلې وو، سـټړي مشې ورکړي. د هغه راپورونو پر بنسټ چې له انګرېزانو سره یو خواخوږي افغان قومي مشر انګرېزانو ته ورکړي وو:

وروسـته له دې چې له نویو راغلو خلکو سـره یې سـتړي مشې وکړل، سـردار اکبرخان چې ټوله ورځ یې څه نه وو خوړلي څو ګامه څنګ ته شــو چې ورته راوړې ډوډۍ وخوري او د برید په موخه د جلال اباد دفاعي لیکو ته د خاجرانیو نږدې کېدل وګوري. نوموړی چېرته چې ولاړ و، د یوه دوه میله ټوپک پر ګولۍ سخت ټپي شـو. ګولۍ یې د مټ په غوښـې برخې ولګېده او له سینې څخه یې تېره شـوه. د ده د سـرتېرو روحیه ډېره ټیټه شـوه. دوه کسـه ونیول او په دې کړنې تورن شـول. یو له دوی څخه د شـاه شـجاع پېش خدمت و. دوی ویل چې ټوپک په تېروتنه خلاص شـو. سـردار په خپل ځای کې پروت و او پرته له محمد شـاه خان غلزي [خپل خسـر یې] بل هېڅوک نه ور پرېښـودل کېدل... [۴۶]

ټولو افغان سـرچینو دغه پېښـه د هدفي وژنې یوه هڅه ګڼلې. میرزا عطا د داسې ګنګوسـو راپور ورکړی چې په دې کې د انګرېزانو لاس و. ده لیکلي: «جنرال سـېل بې ګټې له هر راز وسـیلې څخه په کار اخیسـتنې غوښـتل چې سـردار له خپل مورچل څخه وشــړي، خو په پای کې په دې بریالی شـــو چې د ســردار یو اعتباري شـخصـي چوپړیال ته دوه لکه روپۍ ورکړي چې ســـردار ووژني. دغه بدبخته خپل ایمان او عزت د پیســـو په بدل کې خرڅ کړل او یو فرصــت ته تم و چې سردار وولي. که څه هم اکبر خان په ګولۍ ټپي شـو، خو خدای وساتو او مړ نه شـو.»[۴۷]

خو ډېرو کتونکو سدوزیو ته ګوته نیوله. د فیض محمد د لیکنو پر بنسټ:

ځینې حاضرینو دغه ناشکره سړی چې اکبرخان یې ټپي کړ، سمدلاسه ونیو او وروسته له دې چې د اکبر خان په ټپ پټۍ ولګول شوې، ده ته یې راوست. اکبرخان نوموړی وترټلو او د وچې پوښتنه یې ترې وکړه. نوموړي پښېماني څرګنده کړه، ځمکه یې مچې کړه او د شاه شجاع یو لیک یې راوایسـت چې په کې د اکبر د وژنې په بدل کې یې د ۵۰۰۰۰ روپیو ژمنه ورته کړې وه. ده دا هم وویل چې شـاه شـجاع او انګرېزانو ۲۵۰۰۰ روپۍ مخکې تر مخکې ورکړې وې او پاتې ۲۵۰۰۰ روپۍ به وروســته د اکبرخان له وژنې ورکړي. سـردار د شـجاع لیک ځان سره وساتو او لکه څنګه چې دغه سړي رښتیا وویل، سردار وبښلو، خو غازیانو دی او ملګری یې چې په دغه دسیسه کې

* draw bridge داسې پل دی چې یوه خوا یې پورته کېږي څو له لاندې یې غټې بېړۍ تېرې شي او په پخوا وختونو کې د هغه کلاوو په دېوال کې به همداسې پل جوړ شـو چې څلورو خواوو ته یې د دېوالونو بېخ ته خندقونه کیندل شـوي وو څو دښـمن کلا ته د ننوتلو لاره ونه لري. د دغه پل هغه سـر به په رسـیو تړل شـوی و چې د خندق په بله غاړه کې و. کله به چې د کلا اوسـېدونکو د خطر احســـاس وکړ، د پله دغه ســر به یې پورته کړ؛ نو پل به د کلا له دېوال سره داسې ودرېد لکه دروازه. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره شریک و، ونیول او دواړه یې ووژل.[۴۸]

د هغه راپورونو پر بنسټ چې اسیرانو ته د دوی نیوونکو ورکړي، داسې برېښي چې دغه ممکنه هدفي وژونکی ژوندي کباب کړل شو.[۴۹]

کله چې د مارچ میاشت په اپریل بدله شوه، یوازې اکبر تر فشار لاندې نه و. په کابل کې د شاه شجاع نوی ائتلاف اوس تر ګواښ لاندې و ځکه چې د ده دوه نویو ور اوښتیو متحدینو، امین الله خان لوګری او نواب زمان خان، دواړو د واک او د ښار په نورو سرچینو د کنټرول څنګلې وهلې. د مارچ په نیمایي که د دوی سرېو د ضرابخانې او د ګمرک له ادارې څخه د مالیو د اخیستلو د حق په سر په واټونو کې وسلوالې نښتې وکړې.[۵۰]
بله ډېره ګواښوونکې خبره دا وه چې د اکبرخان د وسلوال جهاد د نارې له وجې اوس د مسلمانانو د مشر په توګه، د شاه شجاع اعتبار تر پوښتنې لاندې و. په دې اړه فیض محمد لیکلي:

اکبرخان شاوخوا سیمو ته لیکونه ولیکل چې دغه پیغام خلکو ته ورسوي: «که چېرې شاه له مسلمانانو سره په صداقت چلېږي، د انګرېزانو سره مینه نه لري او ستاسې په ګټه د دولت او مذهب چارې مخته وړي؛ نو تاسې غېږ ورباندې وکړئ چې جهاد اعلان کړي چې مور تول یو موټی پر انګرېزانو برید وکړو او د دوی له شتون څخه دغه هېواد خلاص کړو.» سردار په دوامداره توګه په خلکو باندې تر هغه وخته د جهاد غږ وکړ تر څو چې د ده په دستور عالمانو او د دوی زده کوونکو د اولیاوو له زیارتونو څخه قرانونه په سر کېښودل او کلي په کلي، بانډه په بانډه خلکو ته ورغلل او له ملا امامانو او مؤذنانو څخه یې وغوښتل چې خلک جهاد ته وهڅوي؛ نو د خلکو وړې او لویې ډلې د شاه د ماڼۍ دروازو مخې ته راغونډې شوې او ده ته یې چیغې وهلې چې د جهاد اعلان وکړي. دوی به په اوچت غږ وویل: «راځئ چې انګرېزان له دغه هېواد څخه وباسو.»[۵۱]

دغه کړنو شاه په ډېر سخت موقف کې پرېښود. په عامه توګه، نوموړی دې ته اړ ایستل شو چې له خپلو انګرېز ملاتړو څخه لاس واخلي او په دربار کې د کافرانو د نابودولو اعلان وکړي،[۵۲] خو په خصوصي توګه، ده تر اوسه ځان د انګرېزانو د احسان پوروړی احساساوه او په دې باور و چې د بارکزیو د ماتولو له پاره د دوی مرستې ته اړتیا لري؛ نو له همدې کبله یې مکګرېګر ته یو لړ لیکونه ولېږل او زاری یې ورته کولې چې ژرترژره کابل ته انګرېز عسکر ورولېږي او په ډېرېدونکې ناچارۍ یې دا پوښتنه هم کوله چې عسکر به څه وخت ورورسېږي. لکه څنګه چې محمد حسین هراتي لیکلي:

اعلحضرت له پرېکړې څخه ځان تېرولو. ده به ژمنې کولې چې انګرېزانو ته ځري ورلېږي چې دوی ودوماري چې په خپله خوښه دغه هېواد پرېږدي، خو په حقیقت کې یې انګرېزانو ته د خپلې وفادارۍ ډاډ ورکولو. لمړی یې خپل منشي، عنایت الله خان بامیزی، بیا یې خپل شخصي چوپړیال، دین محمدخان انګرېزانو ته ولېږه. درېیم ځل یې په پټه دوی ته ولیکل: «څرنګه د دغه دسیسه جوړونکو او درغلګرو بارکزیو او پارېدلو کابلیانو له فشار څخه ځان خلاص کړو؟» مکګرېګر بېرته په ځواب کې ورته ولیکل چې اعلحضرت دې دوه نورې اونۍ په کابل کې ځان ټینګ کړي ځکه چې له پېښور څخه مرسته راروانه ده. اعلحضرت په پرله پسې پلمو دوه نورې میاشتې تېرې کړې، خو کومه مرسته ور ونه رسېده.[۵۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شجاع تېر ته په کتو سره، له انګرېزانو سره د ده په خواخوږۍ تر اوسه په پراخه کچه په کابل کې شک کېده او ډېر مشران په سمه په دې باور وو چې دی خپلې اصلي موخې پټوي. په سراج التواریخ کې راغلي: «لکه څنګه چې شاه ځنډمن عمل کولو، بارکزیو عوامو ته ویل: «شاه شجاع د انګرېزانو مینه وال دی. د ده په داسې خبرو مه غولېږئ چې له عمل سره یې په ټکر کې دي. که دا خبره رښتیا نه وي؛ نو ولې تراوسه جلال اباد ته نه دی تللی او له هغه اسنادو سره سم چې ده انګرېزانو ته ورلېږلي، ولې دوی تر اوسه نه دي وتلي.»»[۵۴] په داسې حال کې چې د مارچ میاشت وړاندې روانه وه او په جلال اباد کې د اکبرخان د زړورتیا کیسې په کابل کې خورېدې، د شجاع د اصلي متحد نایب امین الله خان لوګري په ګډون، ډېرو ملاترو یې ده ته ټینګار کولو چې سمدلاسه جلال اباد ته په تګ سره خپله ژمنتیا وښيي او یا لږترلږه په خپل استازیتوب، خپل یو زوی هلته ولېږي.[۵۵]

دا چې شجاع اوس د پاڼ او پړانګ تر منځ ایسار شوی و او نه یې غوښتل چې انګرېزانو ته بې اعتباره شي؛ نوموړي یو شمېر مشرانو ته رشوت ورکړ چې له ده څخه پرته لاړ شي. د مارچ په دویمه شهزاده تیمور ته امر وشو چې جلال اباد ته لاړ شي، خو دی د خرد کابل له خولې، بت خاک څخه وړاندې لاړ نه شو.[۵۶] د مارچ په اتلسمه، امین الله او نور بارکزي په بالاحصار کې د شاه دربار ته لاړل او د خلکو په شتون کې یې پر نوموړي غبرګ وکړ چې له کلا څخه راووځي او د یو ۸۰۰۰ کسیز پوځ مشري وکړي چې د کافرانو پر ضد جګړه کې له اکبرخان سره یو ځای شي.[۵۷] مولانا حمید کشمیري د شجاع دوه مخې پالیسي د اکبرخان له زړورې جګړې سره پرتله کړې:

یوه ورځ یوه ډله مشرانو او جنرالانو
د شجاع د دربار کتنخونې ته لاره ومونده
دوی ورته وویل: «اې نوموړه پاچا!»
ته څه غوارې وکړې؟ موږ ته ووایه!
ته شاهي څوکۍ په خپل واک کې لرې
ځکه چې ستا په چوپړ کې موږ په خپله ژمنه ټینګ ولاړ یو
موږ باور درلود چې ته به له هېواد څخه دفاع وکړې
چې ته به پر قانون عمل او د قانون ساتنه وکړې
نو راته ووایه چې اکبر څه ناروا کړې
چې تا د ده د تباهۍ له پاره ملا تړلې
پرته له دې چې ته یې د دغه خاورې پاچا کړې
او شیطاني ځواکونه یې ګوډ او مات کړل
د دې پر ځای چې هغه ته اوچت مقام ورکړې
ته هڅه کوې چې ښکته یې وغورځوې
تا د ده د وژلو دنده یو چا ته سپارلې
خاصو سړیو او بې ایمانه ځناورو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه او ورځ د خپل قلم سولوې
زمونږ دښمنانو ته لیکونه لیکې؟ [۵۸]

د اپریل په څلورم پر شـــاه بانديٍ فشـــار نور هم هغه وخت ډېر شـــو چې د کابل د علماوو مشـــر میر حاجي، په دې وروستیو کې د وژل شـوي میرمسجدي ورور هم د جهاد له نارې سـره یو ځای شـو او د جمعې د لمانځه په وعظ کې یې شجاع د کفارو پر ضد د اسلامي پوځ مشرۍ ته وسکونډو. موهن لال د میرحاجي په هکله لیکلي: «خاین او ریاکاره میر حاجي د جلال اباد په لاره کې خېمه ودروله او تبلیغیان یې ښـــار ته ولېږل چې مذهبي جګړې ته د ده د تګ اعلان وکړي او دا تبلیغ کړي چې هر هغه مسلمان چې له ده سره نه یو ځای کېږي، کافر به وګڼل شي.» [۵۹] او هراتي لیکلي: «بیا یې د ځنګلي فقیرانو یو اوږد لاریون د جلال اباد په لور روان کړ. دوی د جګړې جنډې، قران شـــریفونه، له زیارتونو څخه سـپېڅلي توکي ځان سـره لېږدول او په پراخه لاریون کې یې مذهبي شـعارونه ورکول. دا کېدای شـوی د ځان له پاره د میرحاجي یوازې او یوازې سیاسي ګټه اخیستنه وه، خو اعلحضـرت پوه شـو چې که چېرې له دوی سـره لاړ نه شي، یو نوی بغاوت به په کابل کې پیل شي.» [۶۰]

وضـعیت اوس ډېر کړکېچن و. په دغه شـپه، نواب زمان خان د یوه مهر شـوي قران سـره خپله ښـځه مانۍ ته ولېږله چې شـجاع ته د خپلې وفادارۍ ډاډ ورکړي. «د نوموړي ښــځې شــاه شـجاع ته زارۍ وکړې چې پرته له وېرې له بارکزیو سـره جلال اباد ته لاړ شـي او د دې مېړه به دغه داعیې ته وده ورکړي او د یو وفادار چوپړیال په څېر به د اعلحضـرت تر څنګ ودرېږي. د میرحاجي نارې ته په پام سره او د ټولو مشرانو ټینګار ته په کتو سره، شاه بلاخره دې ته اړ شو چې خپله خېمه ولېږي او له دوی سره جلال اباد ته لاړ شي.» [۶۱]

د جګړې شـاهي خېمه په سیاسـنګ کې د جلال اباد په لاره ووهل شـوه. اندېښـمن موهن لال لیکلي: «زه کابو هېڅ باور نه کوم چې دی به جلال اباد ته کوم وخت روان شي او که داسې وکړي بارکزي به یې یا ژوند او یا ووژني.» [۶۲] شاه یو بله اونۍ په بالاحصـار کې سـودایي پاتې شـو چې جنرال پالک به وتوانېږي چې خپل پوځ له خیبر څخه دې لوري ته راواړوي. نوموړي په ناچارۍ مکګرېګر ته لیکلي: «اوس کابو یوه میاشت کېږي چې جلال اباد ته مې د عسکرو لېږل ځنډولي، خو په دغه وخت کې مې ستا څخه هېڅ لیک ترلاسـه نه کړ. زه سـتا د نیت په هکله کابو هېڅ نه پوهېږم. که انګرېز عسـکر په راتلونکو لسو، پنځلسو ورځو کې راورسېږي، ښه به وي، خو هرڅومره چې ژر راشي دومره به ښـه وي او که چېرې را ونه رسېږي، څه باید وکړل شي؟ دا داسې موضوع نه ده چې عادي چلند ورسره وشي. هر څه چې ته د مشورې وړ ګڼې، ما ته یې په ساده بڼه ولیکه چې سم پرې پوه شم او په اړه یې تابیا ونیسم.» نوموړي زیاته کړې: «ستا له لاسه ما د ټولو محمدیانو په منځ کې خپل ګرانښت له لاسـه ورکړ، خو ته لا تر اوسـه په دې نه یې پوه شـوی. هیله کوم ځان پوه کړه. دوی وایي چې زه غواړم رښتینی ایمان له منځه یوسم. دا د ژوند او مرګ موضوع ده... خدایه، ته مې وساته.» [۶۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تورن جنرال جورج پالک د بېړې ســـړی نه و. ده په ډېر پام په پلان جوړونه او په ډېر دقیق لوجســـتیک کې نوم درلود. د جنوری په میاشـــت کې د کابل پوځ ټولوژنې ته په کتو ســـره، نوموړي هوډ درلود چې دې ته به اړ نه کړل شـــي چې حتی یوه شـــېبه هم مخکې له دې چې بشـــپړ تیاری ونه لري خوځېدل پیل کړي. په دې هکله، په کلکته کې اعلی ســـر قوماندان ســـېر جســـپر نېکلس Jasper Nicholls د ده تر شـــا ولاړ و او لندن ته یې ولیکل: «ډېره ښـــه ده چې د کمپنۍ د پوځ یو متین او پامیالی افسر قومانده په لاس کې ولري. هره هغه بېړنۍ کړنه چې یو جنرال یې د نومورتوب له پاره کوي، تر ټولو بد اغېز به ولري.»[۶۴]

پالک د فبروری په پنځمه پېښـــور ته ورســـېد. دلته د پوځ روحیه ډېره ټیټه او ډېر ســـپاهیان په روغتون کې بســـتر پراته وو. ۱۸۰۰ کســـان د ناروغۍ په نوملړ کې لیکل شـــوي وو. همدارنګه په شـــاتګ کې د ژوندي پاتې یخنۍ ســـویو ســـپاهیانو نرۍ لیکه ګوډ او ماته پېښـــور ته رارســـېده. دوی به د ماتې د بهیر او د افسرانو په اړه چې دوی یې یوازې پرېښې وو کیسې کولې؛ نو فضا په چټکۍ بغاوتي شـــوې وه. پالک پوه و چې دغه ناراضتیا باید له منځه یوسي؛ نو سمدلاسه یې سپاهیانو ته ډاډګېرنه پیل کړه. د ده لمړنۍ کړنه ســـپاهیانو ته د وړیو لاس ماغو او اوږدو جورابو ورکړه وه چې له یخنۍ څخه یې وساتي. نوموړي نېکلس ته لیکلي: «زه باید په وار وار د دوی د لیدنې له پاره روغتون ته لاړ شم او په هره وسیله د دوی په هوساینه کې ډېروالی راولم، دوی ته باید دا وښیم چې زه ناتې ورسره لرم.» دومره وخت نه و تېر چې د ناروغانو شمېر ورځ تر بلې ټیټېده او په ښکاره په کمپ کې فضا مخ په ښه کېدو وه.

په راتلونکو دوو میاشـــتو کې نورې لواوې او د اکمالاتو واګونونه راورســـېدل. پالک کرار کرار خپله قوا راټولوله. هر ماښام به پر اس سپور شو او په لرکوت کې به یې هغه منظمې دفاعي لیکې او سنګرونه کتل چې افریدیو په خیبر کې د انګرېزانو د پرمختګ د مخنیوي په موخه جوړول. ده دا محاســـبه کړې وه چې ۲۷۵۰۰۰ ګولیو ته اړتیا وه چې د پوځ هر کس ته ۲۰۰ ورســـېږي او دا ټول د مارچ په نیمایي کې ورته راورســـېدل. نوموړی د اوښـــبونو د تېښـــتې له وجې دوې نورې اونۍ وځنډېد چې پوځ یې بېرته د لېږد وړتیا پیدا کړي. له فېروز پور څخه یې د اســـوالو د یوې بلې لوا او یو شـــمېر د اسونو نور توپونه هم راوغوښتل. په عین وخت کې یې په ډېرېدونکې توګه ناچاره سېل ته په جلال اباد کې ولیکل: «ستا وضـــعیت هېڅ کله زما له پامه نه دی غورځېدلی ... زه یوازې د اړتیا له کبله تراوســـه دلته پاتې یم؛ نو ځکه له تا څخه هیله کوم چې پرته له هېڅ اړنګه ما ته ووایې چې تر کومې ورځې مقاومت کولی شې.» سېل په ځواب کې د وریجو په اوبو کې، چې یوازې له ایودین iodine څخه په کار اخیســـتنې ښـــکاره کېدل، ورته ولیکل چې مالګینه غوښـــه یې د اپریل په څلورم خلاصېږي.[۶۵]

بلاخره اوښـــان، د اســـوالو لوا او توپخانه د مارچ په ۲۹ مه راورســـېدل. په دغه شـــپه پالک امر وکړ چې کمپ دې پرېښـــودل شي او هر څه دې د خیبر په خوله کې د جمرود کلا ته ولېږدول شـــي. یوه اونۍ وروســـته، د اپریل په پنځم، د سهار په درېیو بجو یې خپلو عسکرو ته امر وکړ چې په درې ډلو ووېشل شي او په تیاره کې په چوپتیا د خیبر د لوړو په لور تګ پیل کړي. له لمر ختو سره، افریدیانو ولیدل چې د پالک سپاهیان د دوی له سنګرونو څخه پاس د لوړو دواړه خواوې نیولې. په برېځر کې قبایلو خپل په دقت جوړ شـــوي ســـنګرونه پرېښـــودل او په بېړه یې شـــاتګ ته مخ کړ. د ماسپښـین په دوو بجو د پالک منځنۍ ډلې د علي مسجد کلا نیولې وه او بیا په ډلو وېشـل شـوي وو او دې ته چمتو وو چې د جلال اباد مرستې ته روان شي.[۶۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه سهار چې د پالک سپاهيان د خيبر په لوړو کې روان وو، شاه شجاع بلاخره له خپلو انګرېزي متحدينو څخه لاسونه مينځلي وو. ده چې له مکګرېګر څخه د خپل وروستي بې اسرې ليک ځواب ترلاسه نه کړ، اوس يې بله چاره نه لرله پرته له دې چې په کلا کې له خپلې سرپناه څخه ووځي او د جلال اباد په لور روان شي.

ده يوه بې خوبه شپه تېره کړه. «ښکته پورته ناارامه ګامونه يې اخيستل، خدای يې يادولو، او په وار وار يې له خپل خواجه چوپړيال څخه د وخت پوښتنه کوله.» بيا يې اودس وکړ، له خپلو ښځو سره يې خدای په اماني وکړه او له خپلو پاتو الماسو، ياقوتو او ملغلرو يې کوچنۍ غوټه جوړه کړه. «د سپېدو په لمړيو شېبو کې يې دوه رکعته سنت لمونځ په خپل محرم هستوګنځي کې وکړ او غوښتل يې چې دوه رکعته فرض لمونځ د سياسنګ په کمپ کې وکړي. دی په خپله ډولۍ کې کښېناست او ډولۍ وړونکو ته يې ټينګار وکړ چې چټک لاړ شي چې لمونځ قضا نه شي. اعلحضرت يوازې لږ شمېر چوپړيالانو بدرګه کولو.»[۶۷]

د نومبر د دويمې راهيسې کله چې بغاوت پيل شو، تېره ورځ چې د اپريل څلورمه نېټه وه، شاه شجاع د لمړي ځل له پاره له بالاحصار څخه ووت. دی خپلې خېمې ته د سياسنګ په لور روان شو او هلته يې عسکر معاينه کړل او د کابل اشرافيانو سره يې کتنه وکړه. په دغه ناسته کې يې په رسمي توګه جلال اباد ته خپل تګ اعلان کړ او تر بېرته راتګ پورې يې خپل ګران زوی شهزاده شاپور په کابل کې خپل وليعهد وګمارو او نصرالله چې د امين الله خان لوګري مشر زوی و، د شاپور لندمهاله لوی وزير وټاکه. د ميرزا عطا د ليکنې پر بنسټ: «پاچا له ځان سره ۲۰۰۰۰۰ روپۍ او يو شمېر دوه بره شالونه راوړي وو چې د کابل مشرانو ته يې د دوی له منصب او موقف سره سم ډالۍ کړي. د شاه په ځانګړې توګه امين الله خان لوګری ډېر خوښ و ځکه چې د ده تر ټولو نږدې همرازه شوی و. بيا، له خپل زوی سره په ډولۍ کې کښېناست او بېرته بالاحصار ته لاړ چې خپله وروستۍ شپه له خپلې کورنۍ سره تېره کړي.»[۶۸]

خو شاه شجاع په دې نه پوهېده چې د ټولو په حضور کې امين الله خان ته د اعزاز ورکړه د ده د بل متحد، نواب زمان خان د قصدي سپکاوي تعبير وګرځېد. نايب امين الله خان او نواب زمان خان له يو بل سره کابو هېڅ خبرې نه کولې او اوس په سياسنګ کې د ټولو پر وړاندې له امين الله سره د شاه صميميت ښودنې، د نواب په کمپ کې لوی سپکاوی رامنځته کړ په داسې حال کې چې دی د امين الله په پرتله له ډېرې لويې کورنۍ څخه و. ميرزا عطا په دې هکله ليکلي :

زمان خان يو لوی سړی و او ډېر جنګيالي يې درلودل حال دا چې امين الله خان په دې وروستيو کې يوازې يو د ده له چوپړيالانو څخه و. د سياسنګ په دربار کې، نواب زمان خان او نورو هغه مشرانو ته چې امير دوست محمد خان ته نږدې وو، اعزازي چپنې ورنه کړل شوې او د شاه په خوښۍ او پاملرنه کې ډېر ناديده وګڼل شول. د بخت دغه بدلېدنه په نواب ښه ونه لګېده. که چېرې شاه په مساوي توګه دوی ته د اعزاز په سترګه کتلي وای، کېدی شوای چې د دوی پټ اختلاف د ډېرېدو پر ځای لږ شوی وای، خو په داسې حال کې چې نواب او ملګري يې له ډېرې غوسې خوټېدل، پاچا يې پام ورته ونه کړ.

د زمان خان مشر زوی، شجاع الدوله تر ټولو ډېر خپه و. پر نوموړي باندې دغه نوم د ده پلار بللي [شاه شجاع] ايښی و چې په زېږېدنه کې يې هم حاضر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجاع الدوله، چې د زړور او یا اتل مانا ورکوي او دغه نوم د ده په شخصیت اغېز کړی و، خپل پلار ته داسې سر وټکاوه: «امین الله خان لوګری زموږ چوپړیال و او اوس نورو کوچنیو مشـرانو چې په ټولنه کې دومره نفوذ نه لري، د پاچا ټوله پاملرنه او لورینه ځانته اړولې او ټولې اعزازي څوکۍ دوی ته ورکړل شوې دي. په عین وخت کې، موږ ته هېڅ پام نه کېږي. تاج او پاچاهۍ ته زموږ ټول چوپړونه او قربانۍ هېرې شوې. موږ په وچو شـونډو ګورو چې موږ ته یو کور ودانی نه ویل کېږي، خو د نورو سـتاینې کېږي. که زه یې توان پیدا کړم، پاچا به ووژنم.» که څه هم پلار یې ورته وویل چې اوس د دې خبرو وخت نه دی او باید د انګرېزانو پر ضـد جګړې ته پام واړول شي، خو دغه هلک د پلار خبرو ته هېڅ پام ونه کړ او د یوه غلچکي برید پلان یې جوړ کړ چې هغه وخت یې ترسره کړي کله چې شاه له کلا څخه د کمپ په لور روان شي. له سـپېدو څخه مخکې، دی له پنځلسـو وسـلوالو سـره تر هغه پټ ناسـت و چې د بدرګې شـاهي اسواله ډله رانږدې شوه.

کله چې د شاه شجاع ډله له بالاحصار څخه په کږو وږو لاره روانه شوه، د نواب زوی راښکاره شو او د خپل پلار بللي په ډولۍ یې غږ وکړ. د ډولۍ وړونکي ودرېدل او ډولۍ یې پر ځمکه کېښـوده. شـاه له پردې څخه بهر وکتل او په دغه شېبه کې تم وسـلوال ډز وکړ. په وینو ککړ شاه شجاع له ډولۍ څخه راووت او په نکوښـېدو یې هڅه کوله چې له پټیو څخه تېر شـي. یو له هدفي وژونکو څخه چې د تېښـتې په حال کې و، شـاه شـجاع ولید او په خپل ګمارونکي یې چیغه وکړه چې ختم یې کړي؛ نو شـجاع الدوله ورپسې روان شـو او پر پرېوتلي پاچا یې توپ کړ. په داسې حال کې چې په بې رحمۍ یې په توره وهلو، دغه چیغې یې وربانـدې کولې: «همدا اوس هغه اعزازي چپنه راکړه!» ده لـه مړه پـاچا څخه ګاڼې، د سرو زرو وښي، کمر بند او توره واخیستل - دې ټولو د یو میلیون روپیو ارزښت درلود - د پاچا نرمه تنه چې د وړیو نرمو بخملي بالښـتونو ته زېږېدلې وه، اوس له پښـو څخه نیول شـوې او په کنډ او کپر او ډبرینه ځمکه خندق ته کش کړل شوه.[۶۹] هراتي په تبصره کې لیکي:

دغه بې عیبه پاچا د دوه لمونځونو په منځ کې شـهید کړل شـو. په خپلو سـهارنیو دعاوو کې یې د خدای سـپېڅلی نوم په وار وار واخیست، خو قاتلینو ابدي جزا ترلاسه کړه! شهنواز چې د شاه یو چوپړیال و د مقاومت هڅه وکړه او دوه هدفي وژونکي یې ټپي کړل. بیا چې کله پوه شـو چې سـاحه کې اوس څوک نه وو او د ګاڼو غوټه هلته پرته وه، غوټې ته یې لاس کړ او د کلا په لور یې منډه کړې. دغه غوټه یې په دې نیت د یو زاړه دېوال په یوه چوله کې پټه کړه چې وروسـته یې خرڅه کړي، خو دی په دې کار کې ولیدل شـو، او دغه غوټه د شجاع د وژونکي او د هغه پلار، نواب زمان خان لاسته ولوېده.
افسـوس دغه سـلطان ته چې یو وخت یې د شـاهي باغ په لارو کې ګامونه اخیسـتل، خو هېڅ کله یې د خپلو هیلو او موخو ګلان ونه شکول او پر ځای یې، په وینو او دوړو کې پرېوت او مړی یې پرته له دې چې ښخ شي په ډاګ پروت و. دی د سفر میاشتې په درویشتمه مړ شـو او خپل تل پاتې هسـتوګنځی یې په جنت کې ځانته جوړ کړ. «ځکه چې موږ د خدای بنده ګان یو او ده ته به موږ بېرته ورځو.»[۷۰]

شهزاده شاپور سمدلاسه بالاحصار ته لاړ چې د شاهي ښځو او ماشومانو ساتنه وکړي. د پلار مړی یې څلورویشت سـاعته د وژنې په ځای کې پروت و. سـدوزیو د کلا دروازه بنده کړه او د ړانده زمان خان په مشـرۍ سـره راغونډ شـول. په داسـې وخت کې چې دوی د یوې سـتراتیژۍ په جوړولو بوخت وو چې خپل موقف وسـاتي او له قاتلینو څخه غچ واخلي، «بارکزیو په خوښـۍ د مبارکۍ چیغې وهلې او میرحاجي چې جهاد یې پلمه کړی و، له خپلو جنډو سـره سـمدلاسـه راوګرځېد او داسې اعلان یې وکړ: «موږ لوی صـاحب [شـاه شـجاع] ولېږه چې له کوچني صـاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



[مېکناټن] سره یو ځای شي.» ټولو یو بل ته مبارکۍ ورکولې او داسې یې ویل: «اوس مو د کافرو بهرنیانو ریښې له هېواد څخه وایستلې.»»[۷۱]

یوازې یو سړي دا خپله دنده وګڼله چې د شاه شجاع مړي ته ورشي. دا سړی د شاه شجاع سقاو، مهترجان خان اسحاقزی و چې په لودیانه کې یې په تبعید کې د شاه شجاع ملتیا کړې وه. دی په همغه شپه ناوخته د شجاع مړي ته ورغی او ورسره پاتې شو چې له ټوټې ټوټې کولو څخه یې وساتي. سهار ته، ده او د شاه یو بل چوپړیال، عظیم ګل خان چې د عرض بیګي دنده یې لرله، د شـــاه مړی د خښــولو له پاره چمتو کړ. دوی دواړو یوازې د ده د وژنې ځای ته څېرمه په یو نږېدلې جومات کې یو تېښـــلی قبر وکیندلو او هلته یې ښـــخ کړ. د قبر پر ســـر یې د ده ډولۍ کېښوده. دوی په هغه ځای کې هم تیرې غونډې کېښودې چېرته چې وژل شوی و.

د همغه دوبي په پای کې، په وینو ککړه ډولۍ او تیرې تر اوســـه په هغه ځای کې شـــته وې چېرته چې د شـــاه دوه وفادارو چوپړیالانو پرېښې وې.[۷۲]

د شلمې پېړۍ په پیل کې، تاریخپوه فیض محمد ته ویل شوي وو چې وروسته شاه شجاع د خپل پلار، تیمورشاه په ښایسته مغول ډوله مقبره کې ښخ کړل شو. همداسې به وي او دا شونې ده چې د مقبرې په تلخونه کې له درې قبرونو څخه یو د ده وي، خو که دا رښتیا وي، د نوموړي قبر نښه شوی نه دی او څه نه دي پرې لیکل شوي چې دا د شاه موقف په نني افغانستان کې ښيي.

حتی د شاه شجاع په خپل دوران کې، د دغه دوو قبیلو ترمنځ د شخړو په اړه د بریال بارکزیو اند په هغه بڼه اغېز اچولی چې افغانانو د جګړې په اړه لیکنې کړې دي، څکه چې دوی لږ تر لږه د هغه شـــاعرانو ملاتړي او خواخوږي وو چې دغه لیکنې یې کولې. د بېلګې په توګه، مولانا حمید کشمیري د شجاع د وژونکي په خوله کې دغه وینا اچوي چې د شاه په ځانکندن کې په چیغو ورته وایي: «اې بې رحمه مستبده! ته څه وخت شاه وې چې ځانته شاه وایې؟» او بیا زیاتوي:

دغه هېواد چې تا ته یې د شاه لقب درکړ
تا د ورانۍ سیورې پرې واچاوه او ویجاړ دې کړ
لکه لېونی پیل داسې نښه وې
تا پرنګي ځواکونه وهڅول او مرسته دې ورسره وکړه
په کابل او غزني ناتار راغی
د ظلم لاس هر کور ته ورسېد

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا د اسلام خاوره د کفارو په خاوره بدله کړه
تا د کفر بازار سېکمن او ځواکمن کړ
ستا ظاهري بنه لکه په مکه کې د یوه حاجي ده
خو په باطن کې د مسلمانانو د وينې تږی یې
تا زما ډېر ورونه ووژل
او ته وایې چې زه تا وژنم؟
زه له قانون سره سم د غچ وینې وباسم
ستا د ستوني په وینو به تا ومينځم چې له وینو پاک شې[۷۳]

دا په يقين سره رښتيا دي چې شاه عيبونه لرل او د قضاوت او ارزونې ډېرې غلطۍ يې وکړې. هغه په جګړه کې کابو هېڅ اغېزمن مشر نه و او د پاچاهۍ په ټول دوران کې، د ده غرور او ځان لوړ ګڼنې ډېر بالقوه ملاتړي ورڅخه پردي کړل. لکه څنګه چې ویلیم فرېزر وروسته له دې چې شاه شجاع په لمړي ځل د انګرېزي هند له پولې په ۱۸۱۶ کال کې تېر شو، ليکلي: «بې اړنګه، دی په خپلو غوښتنو او تمو کې له بريده وتلی شاهانه و.»[۷۴] د شجاع دغه د برم او پرتم شاهانه نظر د تیموریانو له سلطنت څخه سرچينه اخيستې وه: نوموړي په ۱۸۳۴ کال کې لارډ بېنټېنک Lord Bentinck ته ليکلي و چې دی باور لري چې «د خدای د ځانګړې ساتنې لاندې دی».[۷۵]
خو له ټولو دغه نيمګړتياوو سره سره، شجاع يو د پام وړ سړی و: د ډېرې پوهې خاوند، هوښيار، هوډمن او په عزم کې تر ټولو ډېر نه ماتېدونکی و. د خپل ژوند په بهير کې يې په وار وار ډېرې بدمرغۍ وزغملې چې وچې يې ډېرې وخت د ده له کنټرول څخه وتلې وې، خو دی هېڅ کله ناخوالو ته تسليم نه شو او نه يې نهیلی ته مخ کړ. نوموړي په خپله ځوانۍ کې، کله چې ورور يې خلع قدرت او ړوند کړل شو او دی په تېښته کې و، داسې ليکلي: «کله چې له سختيو سره مخ شوې، هيلې له لاسه مه ورکوه، تورې وريځې ډېر ژر رڼه باران ته لاره ورکوي.»[۷۶] د ده په ټول ژوند کې دغه خوشبينۍ ده ته قوت ورکړی و. کټونکو، حتی په ډېرو خرابو حالاتو کې په وار وار د ده د «ظرافت او درنښت» يادونه کړې.[۷۷] انګرېزانو، دی ناکاره او بې اغېزې بللو او برنز په ځانګړې توګه مسخرې ورباندې کولې او ويل يې نوموړی داسې يو سړی دی چې د خپلو نيکونو سلطنت يې بايلود، خو کله چې د ۱۸۴۱ کال د نومبر په مياشت کې د پاڅون کړکېچنې شپې راغلې، شجاع يوازينی کس و چې د پاڅون پر وړاندې يې يو اغېزمن ځواب وړاندې کړ. همدارنګه، نوموړی يوازينی سړی و چې د برنز د ژغورنې هڅه يې وکړه که څه هم برنز تل هڅه کوله چې نوموړی سپک کړي.

شاه شجاع تل په غير معمولي توګه خپلو متحدينو ته په درنښت وفادار او خپلو تړونونو او هوکړو ته په داسې سيمه کې صادق و چې په دې دوارو کې يې ښه نوم نه درلود؛ نو ځکه نوموړي هېڅ کله بارکزي له دې کبله ونه بښل چې هغه جوړښت يې مات کړ چې د ده د نيکه، احمدشاه ابدالي او د دوست محمد خان د نيکه، حاجي جمال خان تر منځ شوی و او هغه دا چې سدوزي به پاچاهي کوي او بارکزي به د دوی وفاداره چوپړيالان وي. ده خپل ځانته د ډېر باکلتوره پارسي ژبو صفويانو او تیموریانو د تمدن د رښتيني وارث په سترګه کتل او په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې ډېر پوهان لکه مونټ ســټورټ چې په ۱۸۰۹ کال کې يې د شــجاع په دربار کې وخت تېر کړی و، په ډېره حيرانتيا پوه شــوي وو. د خپلې پاچاهۍ په اړه د ده ليدلوری يو شــاته پاتې غرنی او په انزوا کې ســلطنت نه بلکې داسې يو سلطنت و چې له نړۍ سره په اتحادونو تړلی او د عام پارسي تمدن په وسيله د سيمې له نورو هېوادونو ســره له ديپلوماتيکي، کلتوري او وټه ييز اړخه وحدت ولري. په خواشــينۍ ســره، دغه ليدلوري ته حتی نن هم د رسېدو نښې نه ليدل کېږي که څه هم دغه نظريه هېڅ کله په بشپړ ډول مړه شوې نه ده.
د شجاع واکمنۍ خپلو تېروتنو نسکوره نه کړه، بلکې په افغانستان باندې د يرغل او اشغال له ناورين څخه ډکې غلطې ادارې چې مشري يې اکلنډ، مېکناټن او په پای کې الفنسټون کوله، د نوموړي واکمنۍ له زوال سره مخ کړه. دغه ادارې نوموړی په يو داسې بېخونده او سخت حال کې راوست چې له يوې خوا انګرېزو اعتبار پرې نه کولو او دوی غلط کار ورڅخه اخيســته او له بلې خوا په ټول هېواد کې د کافرانو د نانځکې په توګه ورته کتل کېدل، خو بيا هم، د ۱۸۴۱ کال پاڅون د شــاه شــجاع پر ضــد نه، بلکې په ځانګړي ډول د انګرېزانو پر ضــد و. بې اړنګه، له افغان سرچينو څخه په ښکاره څرګندېږي چې د پاڅون ډېرو برخه والو خپله موخه دا بلله چې شاه له هغه زرين قفس څخه ازاد کړي چې د دوی په اند انګرېزانو د خپلو ګټو له پاره په کې اچولی و. ده ته پاڅون کوونکو حتی د پاڅون د مشــرۍ وړانديز وکړ او هغه وخت يې له ده ســره مخالفت پيل کړ چې نوموړی له خپلو انګرېز ملاتړو څخه ليرې نه شو. پاڅون ډېر وروسته هغه وخت د سدوزيو- بارکزيو د واک په شخړه بدل شو چې اکبرخان کابل ته راورسېد. کله چې اکبرخان له کابل څخه جلال اباد ته لاړ، ډېر اشرافيان بېرته شاه شجاع ته واوښتل. په دغه بهير کې نوموړي په حيرانوونکې توګه خپل ګرانښــت درلود او کابو د ټولو هغه کســانو په پرتله ډېره موده ژوندی پاتې شــو چې په دغه ناکامۍ کې ښــکېل وو: شجاع نه يوازې د برنز، مېکناټن او د کابل د پاتې پوځ په پرتله، بلکې د هغه سرې، رنجيت سېنګ په پرتله هم ډېر وخت ژوندی پاتې شو چې د ده تر ټولو ګرانبيه شتمني يې اخيستې وه.
د شاه شجاع تر ټولو لويه تېروتنه دا وه چې د خپلو بې کفايته انګرېزي ملاتړو په عسکرو يې ډېره ډېره وهلې وه. ده بايد په ۱۸۳۹ کال کې وروســته له دې چې واک ته ورســول شــو، د ټولو انګرېزي ځواکونو په بېرته تګ ټينګار کړی وای. لکه څنګه چې په هغه وخت کې د افغانستان په هکله تر ټولو حساس او پوه انګرېز کتونکي، چارلس مسون ياده کړې وه: «افغانانو پر دغه جوړې باندې اعتراض نه درلود، خو د ترغيب او مينې په بنه يې خوښ نه وو.»[۷۸]
لکه څنګه چې په ۱۸۴۲ کال کې له کابل څخه د انګرېزانو له وتنې وروســته، د ده ګرانښــت بېرته اعاده شــوی و، د ســـدوزيو د واکمنۍ د ملاتړ له پاره لا ډېر څه شــته وو، خو ده باور او تکيه پرې ونه کړه. پر ځای يې، ده د تل له پاره په خپلو ناګرانه متحدينو ځان غوټه کړی و او نه يې غوښتل چې له انګرېزانو سره خپلې اړيکې تروې کړي چې همدا يې د زوال وجه وګرځېده.
نو په پايله کې، د شــاه شــجاع توپاني ژوند چې ډېره برخه يې په ناکاميو کې تېره شــوې وه پای ته ورســېد. د ده بې وخته مړينې خپلو ځای ناســـتو ته کوم وراثت پرې نه ښــود: لکه څنګه چې مولانا کشــميري ليکلي، د ده زامن او لمســيان اوس داســې وو«لکه په يو څرځای کې چې يوه رمه شــپون ونه لري». که څه هم د کابل پوځ له ټولوژنې وروسته داسې برېښېدل چې د سدوزيو د واک بيا را ژوندي کېدل شوني وو، خو د نوموړي له مرګ څخه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ده زامن او ړوند ورور، شـاه زمان په یو ناهیلي وضـعیت کې پاتې شـول او ډېر لږ فرصـت ورته پاتې و چې د خپلې کورنۍ واک مضــبوط کړي. په دې اړه هراتي دغه یادونه کړې: «ســدوزیو ته ورځ په توره شــپه بدله شــوه... اعلحضـرت ۶۵ کلن و چې ووژل شـو: ده د خپل اوږده ژوند د بریا او بدبخت خوند څکلی و او په دې پوه شـوی و چې په خپل بې وفا او هوبي• لاس لاندو باور ونه کړي. شــاه شـجاع الملک چې له یوې اشـرافي کورنۍ څخه و، هېڅ کله نه غوښتل چې د انګرېزانو د ډېرو کلونو مېلمه پالنې د احسان په هېرولو ځان وشرموي، خو د مېکناټن پر له پســې غـلـطـو پـرېـکـړو نـومـوړی داســې کـمـزوری کـړ چې بـېـرتـه اوچـتـېـدل یـې نـاشـــونـي وو.»[۷۹] خو د شــاه شـجاع مړینې، نه جګړو او نه وژنو ته د پای ټکی کېښــود ځکه چې په داســې وخت کې چې د ده مړی د کابل په دوړو کې پروت و، د پالک کســاتي پوځ لا د مخه د جلال اباد په لور روان و او لکه څنګه چې مېرمن ســېل له خپلو اندېښمنو بندي کوونکو څخه واورېدل، دغه پوځ نه اسیر نیولو او نه یې په چا رحم کولو.[۸۰]

•هوبي: مذبذب

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ۱۰

# د ناښنده موخې له پاره یوه جګړه

د ۱۸۴۲ کال د اپرېل د شپږمې په ماښـام، د جلال اباد په شـاوخوا کې د اکبر خان توپخانه په درزاري شـوه او یو لړ د خوښۍ رڼاوې یې د توپونو په پرله پسې ډزو جوړې کړې. ټوله شپه ډزو دوام وکړ - دغه ډزې د چونۍ له دېوالونو څخه اورېدل کېدې - او ورپسې به د خوښۍ نارې او د ساز او نڅا غږ د کلابندۍ له لیرې لیکو څخه راغې.

اکبرخان د توپخانې د ډزو امر ورکړی و چې د شجاع مړینه او پر سدوزي سیالانو او دښمنانو د بارکزیو مرګونی ګوزار ولمانځي، خو د کلابند ښـــار له دېوالونو د ننه، په ډزو دغه لمانځنه په یوه بله مانا تعبیر شــوه. په چونۍ کې پوځیان پوهېدل چې پالک به د خیبر د نیولو په موخه د سـختو او ســتونزمنو عملیاتو هڅه وکړي؛ نو په چونۍ کې انګرېزانو داســې وګڼل چې د توپونو ډزې د پالک د ماتې په خوشــحالۍ کېږي. د انګرېزانو د یو جاســوس یو غلط راپور د دغه تېروتنې پخلی وکړ او دا په کې زیاته شوې وه چې اکبر خان مرستندویه ځواکونه خیبر ته لېږلي چې د پالک پاتې پوځ ختم کړي.

ســېل د جلال اباد د دفاع له پاره خپله ټوله ارزونه په دې خیال کړې وه چې پالک به ډېر ژر د دوی ژغورنې ته ورځي او اوس چې مهمات نږدې خلاص وو او یوازې ۵۰۰ پسونه د عسکرو د خوراک له پاره پاتې وو، سېل په دې باور شـو چې اوس دومره بدیلونه نه دي ور پاتې؛ نو په ژور خپګان کې ډوب شـــو. د نومورې ځوانو افســـرانو دی وډومارلو چې ټول خطرونه په ځان ومني او د کلابندۍ د ماتولو له پاره یوه وروســتۍ هڅه وکړي که څه هم له غلزیو او شـینوارو څخه جوړ د اکبرخان لوی پوځ په شـمېر کې لږترلږه درې برابره د چونۍ د پوځیانو په پرتله ډېر و. ورپسې د جګړې یوه شـورا جوړه شوه او د شورا په غونډه کې «هر چا خپل اند څرګند کړ چې که دوی ستېږي؛ نو ښه به دا وي چې وسله په لاس د نرانو په څېر مړه شــي». لکه څنګه چې ریوېرډ جورج رابرټ ګلیګ لیکلي: «دوی به خپله وروســتۍ هڅه وکړي او په خپله وروستۍ جګړه کې به ښکېل شي. پایله یې چې هر څه شوه، شي دې، خو دوی ته به د دان پورو دومره ګولۍ پاتې نه شي چې په یوه بله هڅه کې یې وکاروي؛ نو ځکه دا اړینه ده چې د دوی بریا نه یوازې حتمي بلکې بشپړه هم وي، دومره بشپړه چې دوی ته د خیبر او ښایي له خیبر څخه ورآندې لاره هم خلاصه شي.»[1]

په همدغه ماښـام وروســته له ډېرو خبرواترو، یوه ســاده ســتراتیژي جوړه شــوه. ټې عسـکر او د کمپ ملکیان به له خپلو جوړو کړو نېزو ســره په کلا کې په دفاعي ســنګرونو کې درېږي او پاتې ټول جوړ عسـکر به په درېیو ډلو وېشــل کېږي. درې واړه به «مخامخ د اکبرخان پر کمپ یرغل کوي، کمپ به ســوځوي، اکبرخان به د ســیند په لور شـــاته تمبوي، او ټولې وسلې به یې چونۍ ته راوړي».[2] دوی د ماتې په صورت کې بل پلان یا بدیل نه درلود. د راتلونکې ورځې له ساړه سباونه مخکې، د اپرېل د اوومې د سپېدو په رڼا کې د ښار دروازې خلاصې شوې او د ډسمبر د پای راهیسې کله چې د ســېل قوا جلال اباد ته راورســېده، په لمړي ځل ټوله چونۍ د ښــار له دېوالونو بهر راووته. د ســېل تمه وه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر پر دفاعیانو نابېره برید وکړي، خو د جنرال د دغه قمار خبره په یو ډول نه یو ډول د اکبرخان سـړیو ته رسـېدلې وه. کله چې د جلال اباد په ختیځ کې د غرونو تر شـا لمر راپورته شـو، عسـکر پوه شـول چې اکبرخان مخکې له مخکې خـبر شـوی و او خـپـل ټـول پـوځ یـې «چې پـه زرګـونـو پـوځـیـان وو»، جـګـړې تـه چـمـتـو کـړې و.[۳] ډزې سـمدسـتي پیل شـوې او لمرنۍ مرګ ژوبلې ترټولو ختیځ لوري ډلې ته ورواوښـتې. د دغه ډلې قومانده اوږد ږیري تعمیدي شراب نه څښـونکي هنري هولاک کوله. اکبر خپل ټول اسـوال د ده په لوري د یرغل له پاره واسـتول. کله چې «د اسـوالو لویه ډله» ورنږدې کېده، هولاک په کراره خپلې ډلې ته امر وکړ چې مربع جوړه کړي. ورپسـې یې له دوی څخه چاپېر اسوالو ته سخته مرګ ژوبله واړوله او یرغل یې شاته وتمبولو. نوموړي وروسته لیکلي: «ما تل دا احساس کولو چې خدای زما په پلو دی.» په کلا کې د کلابندۍ په بهیر کې د ده له وعظ څخه عسـکر ډېر سـتړي شـوي و، خو دلته د جګړې په ډګر کې، د ده په کابو مرموزه بڼه سـره سـینه یې ډېره خوښـه شـوه. په دې اړه یې یو عسـکر داسې لیکلي: «دی له ډزو لاندې داسې ارامه درېدلی و لکه چې له مېرمنو څخه په یوه ډکه حجره یا مېلمه خونه کې ولاړ وي.»[۴]
د جګړې په ټول بهیر کې، د ښـار له دېوالونو څخه توپخانې په ډېره ځیرکۍ له دغو درېیو انګرېزي ډلو سـره مرسـته کوله. دا هغه څه وو چې انګرېز پوځیانو په کابل کې هېڅ کله سـم کار ترې نه و اخیسـتی. خو دلته، لکه د اشـغال په لمړنیو جګړو کې، د توپخانې کره او اغېزمنو ډزو د افغان قبایلو پر ضد جګړه کې ډېر توپیر راوست ځکه چې افغانان د توپ له مردکیو څخه ډکو ګولیو او له مډرنو چاودېدونکو مرمیو سـره اشـنا نه وو. سـربېره پر دې، د جلال اباد هوار ډاګونه هم د دسـپلین لرونکې پلې قوا د انګرېزي ډوله جګړې په ګټه وو او دلته افغانانو له غرنیزه چریکي تکتیکونو څخه چې په غاښـیو کې انګرېزانو ته ډېر زیانمنوونکي وو، کار نه شـوی اخیستی؛ نو سمدلاسـه دا څرګنده شـوه چې له شپږو میاشتو وروسته اوس وضعیت د انګرېزانو په ګټه بدلېده.
کله چې سېل خپل مرسـتیال ویلیم ډني ته امر وکړ چې د ختو په هغه کوچنۍ کلا یرغل وکړي چې د ښـار او اکبرخان د کمپ تر منځ ولاړه وه، په پرمختګ کې لږ وقفه راغله. په ګډوډۍ کې، کله چې ډني - هغه سـړی چې په ۱۸۳۹ کال کې یې پر کندهار بریالی یرغل وکړ او یو کال وروسـته یې دوسـت محمد خان ته په بامیانو کې ماته ورکړه - د خپلو سـړیو په سر کې په منډه د کلا له دروازې څخه د ننه کېده، په ګولۍ ولګېد او مړ شو، خو له دې سره سره پرمختګ دوام وکړ. د اکبرخان لیکو ته په نږدې کېدو سـره، افغانانو پر انګرېز پوځیانو ډزې پیل کړې. انګرېز پلې ډلې خورې شـوې او له برچو سره یې پر افغانانو ورمنډه کړې. تامس سیټن چې یو له هغه کسانو څخه و چې تر نورو مخکې وو، داسې لیکلي:

زموږ ډلې ډېر ژر د اکبرخان کمپ ته د ننه شـوې. موږ ورمنډې کړې او پرته له کوم خنډه وړاندې لاړو. دښـمن په ونو کې مخ په تېښـته شـو. موږ د دوی ګڼ شـمېر ولیدل چې په سـیند کې یې ځانونه واچول. د سـیند اوبه دومره ډېرې او چټکې وې چې ډېری یې مړه کړل. د دښـمن اسـوالې ډلې د څه وخت لپاری مقاومت وکړ، خو کله یې چې د دوی پر ضـد زموږ د اسـوالو او توپونو ننداره ولیده، دوی هم د سـیند په غاړه شـا ته شـول. د اکبر ټول کمپ زموږ لاس ته ولوېد. د ده توپونه، مهمات، جنډې، د لوټ مال او نور هر څه یې چې درلودل، موږ ونیول. وروسـته، د بېګل په غږ زموږ پلې جنګیالیو ته د بېرته تګ امر وشـو او زه له څو کسـانو سـره له دوی څخه بېل شـوم چې خېمو او څپرو ته چې د ونو له ځانګو او درمو څخه جوړې وې، اور واچوم. دغه څپرې او خېمې بیخي ډېرې وې او لوګی یې دومره ډېر و چې ټولې درې ته یې زموږ د بریا خبر ورکړ. یو شـمېر اوښـان او د غلې ډېرۍ هم لاسـته راغلې... د دښـمن پر تاڼو باندې د برید په ترڅ کې له خواشـینوونکې تېروتنې سـره سـره [د ډني وژل کېدل]، زموږ مرګ ژوبله په حیرانوونکې توګه لږ وه. په ټوله کې زموږ یوولس کسه ووژل شول.[۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام په اوو بجو هر څه پای ته ورسېدل. ځېل شوي او تپي افغان کلابند کوونکي ژر د ګندمک په لور بېرته ستانه شول او غرمې ته نږدې د اعاشې او اباتې کارکوونکي لا د وخته ښار ته په ډېره پیمانه د نیول شوو باروتو، د توپ او ټوپک ګولیو او د غلې په لېږدولو بوخت وو. همداراز «ډېر چرګان او هیلۍ چې هاخوا دېخوا الوتل» هم راوړل شول. خوشحاله ګلیګ لیکلي: «بریا هېڅ کله دومره بشپړه نه وه لکه دا چې وه. اکبر او ځېل شوی پوځ یې د کابل په لوري وتښتېدل او په دې بل لوري کې د سیمو مشرانو خپلې تسلیمۍ راولېږلې.»[۶]

نهه ورځې وروسته کله چې بلاخره د پالک مرستندویه ځواک ترسترګو شو، د چونۍ پوځیانو د دې توان درلود چې د دوی بدرګې ته پر اسونو ورشي. کساتي پوځ په دې خیال و چې دوی به اوس د چونۍ کلابند شوي پوځیان په اوږدو ږیرو، ستړي ستومانه مخونو، خیرې او زړو جامو کې ویني، خو پر ځای یې دوی «کتل چې دغه ټول پوځیان چاغ، ګلابي، د ښې روغتیا خاوندان، په ډېر پام او پاک ږیرې خرېیلي او داسې پاکې جامې یې په تن وې لکه د هند په یوه تر ټوله منظمه اډه کې چې هستوګن وي. خو برعکس، موږ د مرستدویه ځواک سرېو، له دوی سره ډېر توپیر درلود... زموږ کوټونه او پرتوګونه خیرې او چټل وو او لمر مو شونډې او مخونه تناکې کړي وو.»[۷]

په داسې وخت کې چې د پالک ځواک ښار ته د ننه کېدلو، دوی ته مخامخ باجه غږول کېده او داسې پخوانۍ یعقوبي• Jacobite سندره یې ورته بلله: «اه، تاسې باید ډېر مخکې راغلي وای.»

د تل په څېر، چا جنرال پالک بیړې ته نه شوی اړ ایستلی او پرمختګ یې په بې رحمۍ له تاوتریخوالي ډک او په ډېره مېتودیکي بڼه و.

کله چې ده پر خیبر خپلې منګولې ټینګولې، د ده سپاهیانو د افغانانو د مخکنیو ظلمونو په بدل کې غچ اخیستنه پیل کړه. دوی به د هغه افریدیو چې دوی وژلي وو تنې ټوټې ټوټې کړې او د خپلو ټوپکو «برچې به یې د دوی په ککریو کې وهلې وې او د بریا د نښې په څېر به یې کمپ ته راوړلې». په وژل شوو کې یو شمېر افریدۍ ښځې هم وې*. د پالک یو افسر دویم بریدمن ګرین ووډ Greenwood دغه سپاهیان وترټل، خو یوه یې په ځواب کې ورته وویل: «صاحبه، په دغه ناولي غابښي کې ما خپل دوولس پوځي ورونه له لاسه ورکړي؛ نو زه به په ډېره خوشحالۍ خپله برچه په یو میاشتني خیبري ماشوم کې چې د مور په غېږ کې یې هم وي، خښه کړم.»[۸]

پالک په دې اړه داسې څه ونه کړل چې د دغه ګروهنې مخنیوی وکړي او کله چې د جلال اباد په لور روان و، د ده کساتي پوځ به هغه کلي وسوځول چې دښمن به وګڼل شول. دوي یوه بانډه چې د لوټ مال او د وژل شوو عسکرو یونیفورم یې په کې وموندل، په مېتودیکي ډول له خاورو سره برابره کړه. پالک په یوه استونه کې په بې پروا بڼه لیکلي:

---

• د برتانیې په تاریخ کې په ۱۶۸۸ کال کې د معزول او تبعید شوي پاچا، دویم جېمز پلویانو ته یعقوبیان وایي. ژباړن

*کېدای شي دغه ښځو جنګیالیو ته اوبه وروړلې. په جګړه کې دا د پښتنو ښځو دود و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د علي بوغان Ali Boghan ویجاړونه د نابېره احســـاســـاتو د پارېدنې پایله وه چې هېڅ تمه يې نه کېده او مورږ يې د مخنیوي له پاره احتیاطي چارې اړینې نه وې ګڼلې.»[۹]

جلال اباد ته چې ورســېد، پالک بیا هلته تم شــو. که څه هم په چوڼۍ کې دېرو کســانو غوښــتل چې پرته له ځنډه په اکبرخان پســې چې کابل ته په تېښــته کې و، لاړ شــي، خو پالک هوډمن و چې هېڅ څه د بخت ازموینې ته پرېنږدي. لکه څنګه چې چوڼۍ خپل ټول اوښــان د کلابندۍ په بهیر کې خوړلي و، پالک په دې اند و چې د پوره اکمالاتو د لېږد له پاره د بار ځاروي لږ دي؛ نو مخکې له دې چې د کابل د بیا نیولو په موخه وړاندې لاړ شــي، لږترلږه ۹۰۰۰ نورو اوښــانو ته اړتیا وه.[۱۰]

ســرېېره پر دې، تراوســه دا هم څرګنده نه وه چې نوی لوی والي به ده ته د څومره وړاندې تګ صــلاحیت ورکړي او په ډېرېدونکې توګه داسې ښېي، ښـاڼي لیدل کېدې چې ایلېنبوره چې یو وخت جګړه پال و، اوس په وېره کې و او اړنګ یې ډېرېده. ایلېنبوره د کلکتې د تشې خزانې په هکله اندېښــمن و؛ نو پالک او ناټ ته یې پیغامونه لېږل چې اوس چې جلال اباد نیول شــوی او اکبرخان ته ماته ورکړل شــوې ده، دوی باید د عملیاتو پای ته رســول پیل کړي او بېرته هند ته د راتګ تابیا ونیســي. که چېرې اړتیا وي، بندیان او یرغمل دې خپل برخلیک ته پرېښــودل شــي. د جلال اباد او کندهار چوڼیو هېڅ باور نه کولو چې دوی د کابل له بیا نیولو څخه منع کړل شول، هغه هم په داسې وخت کې چې اکبرخان مخ په تېښـته و. کله چې براډ فوټ دغه خبر واورېد، داسې یې ولیکل: «داسې ښـکاري چې په دغه هېواد کې تېروتنې زموږ په برخه دي. د پلازمېنې په لور یو ځواکمن پرمختګ به یې اړنګه بریالی وي او دا هم کابو یقیني ده چې پایله به یې د هېواد بشـپړه تسـلیمي وي... [خو] جنرال ته د حکومت له خوا هېڅ ډول دسـتور نه دی ورکړل شـوی او حتی که همدا اوس یې کولی هم شوای، ده به یرغل په لاره نه و اچولی ځکه چې نوموړی نه پوهېږي چې مشران څه غواړي.»[۱۱]

په کندهار کې کله چې لارنس - چې په انګرېزي هند پورې یې د ټول افغانستان د ضمیمه کولو کمپاین کولو - د کندهار په ګډون د ټول افغانســتان د پرېښـودلو په هکله ولوستل، هک پک شـو او داسې یې لیکلي: «د کندهار د پرېښـودلو بې وخته امر داســې و لکه زموږ پر ســر چې ټکه ولوېږي.» جنرال ناټ لا ډېر زړه توری شـــو چې د بریا شـــېبې ورڅخه واخیستل شوې. نوموړي خپلې لور ته لیکلي:

> په واک کې خلک یا ټول لېوني دي او یا خدای د یوې ښــې موخې له پاره ړانده کړي دي. زه له کار څخه ډېر ډېر ســـتومانه یم. له دغه هېواد څخه ستړی یم او د خپلوهېوادوالو له ځېنتوب څخه ستړی یم... زما عسکرو څلور میاشتې تنخوا نه ده اخیستې. د کندهار په خزانه کې حتی یوه روپۍ نه شته او پور هم نه اخیستل کېږي. د ناروغانو او ټپیانو له پاره هېڅ درمل نه لرم. د عسکرو له پاره د غوایو کراچۍ نه لرم او نه یې د پېرودلو او یا کرایه کولو له پاره پیسـې شـته او مهمات مې لږ دي. د تېرو شـپږو میاشـتو راهیسې مې د دغه ټولو غوښـتنه کړې ده او کوم یې، خو یوه کوچنۍ مرسـته هم راسره نه ده شـوې... څومره مې په اسـترالیا کې یوه ښـایسـته ځای ته زړه کېږي.[۱۲]

جنرال پالک او ناټ دواړو بېرته تګ نه غوښــت؛ نو هر څه یې ځنډول او ایلنبوره ته یې پرله پســې پلمې لېږلې چې ولې تر اوسه په بېرته ورتګ نه دي توانېدلي - خرابه هوا، د لېږد د وسیلو نشتوالی، پیسې او داسې نور - او په عین وخت کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هند او برتانيه کې تندلاري پاليســي جوړوونکي هڅول چې ايلېنبوره اند بدلولو ته وډوماري. ډيوک اف وېلېنګټن* Duke of Wellington، چې د جګړې ډېر پلوی و، لوی والي ته وليکل: «دا ناشــونې ده چې په هغه کلکه بنه چې زه يې غواړم تا ته ټينګار وکړم چې په ختيځ کې زموږ د پوځ د حيثيت بيا اعاده څومره ارزښـــت لري.»[۱۳] پالک هم کلکتې ته په پرله پسې ليکونو کې همدغه خبره کوله او ويل يې: «زموږ د وتلو په اړه زه وېره لرم چې په اوسني وخت کې به دا تر ټولو بده اغېزه ولري. دا به يوه ماته وګڼل شــي او د يو ځواکمن ملت په توګه به زموږ حيثيت د نړۍ په دغه برخه کې له منځه لاړ شي.»[۱۴] ايلېنبوره پوه شو چې نوموړی به په دې تورن شي چې يو ښه فرصت يې له لاسه ورکړ چې له اکبرخان څخه يرغمل ازاد او د انګرېز پوځ حيثيت بېرته اعاده کړي؛ نو د داســې لارې په لټه کې شـــو چې خپل دريځ بېرته بدل کړي.

پالک دې ته تم و چې ايلېنبوره يې پرې ورخوشې کړي، خو په عين وخت کې يې له هغه افغانانو غچ اخيسـت چې د ده لاس وررسـېده. نوموړي جزايي ډلې د جلال اباد د درې قبيلو ته لېږلې چې د «دوی د کورنو د بامونو په نړولو او د هر هغه څه چې سـوځول کېدل، په سـوځولو» دوی ځانته تابع کړي.[۱۵] يو غونډ په سـوبل کې د شـينوارو سـيمې ته ولېږل شـــو چې ټولې کلاوې او ټول کلي وســوځوي او ټولې ونې يې چپه کړي. يوازې په يوه ورځ کې يې ۳۵ کلاوې وســوځولې. د توپچي اګســـتس ابټ Agustus Abbott تر قوماندې لاندې يو بل غونډ د ګندمک په لور ولېږل شـــو چې د کليو اوســـېدونکو ته چې د څلورڅلوېښـــتمې قوې وروســـتي ژوندي پاتې يې په ټوليزه توګه وژلي وو، ســـزا ورکړي. نوموړي وروســـته ليکلي: «موږ د انګورو ټول باغونه له منځه يووړل او د دوه پېړيو زړو ونو چاپېر مو ژوره کړۍ وکينده. د دوی کلاوې او کورونه مو وران کړل، دېوالونه مو والوزول او د دوی ښـايسـته ونې مو وچېدو ته پرېښــوې**. دغه غچ په خپل اغېز کې بشــپړ او دوامداره و. دغســې بد چلند د خواشــينۍ وړ و، خو د درس داســې ورکړه اړينه وه.»[۱۶] د پوځ سياسي افسر، مکګرېګر هم د دغه ظلم او ورانۍ په پلوۍ ليکلي چې کېدای شي وران دېوالونه ژر ورغول شي، خو د ونو داســې له منځه وړل چې يو متمدن اند ته به بربريت ښـــکاره شــي، يوازينۍ لاره وه چې افغانانو ته «زموږ د ځواک کچه ښکاره شي ځکه چې دوی د خپلو ونو له سيوري خوند اخيست». داسې امر شوی و چې «سمدلاسه د هر هغه کلي چې له اکبرخان سره د مرستې ګمان پرې کېده، کلاوې، کورونو، ونې، غله او واښه له منځه يووړل شي».[۱۷]

په عين وخت کې، په جلال اباد کې د تودوخې او له وجې يې د مرضـــونو راتګ د پوځيانو ناخوښــي او ځورېدنه ډېروله. لمړی بريدمن ګرين ووډ په دې هکله ليکلي:

د افسرانو په منځ کې ناهيلي او د عسکرو په منځ کې د ناراضتيا بنګاری هغه وخت ډېر شو چې دوی لمړی په ورځو او ورپسې په اونيو بېکاره پراته وو... هره ورځ ګڼ شـــمېر اوښـــان او نور د بار وړلو څاروي مړه کېدل او د دوی له مردارو او په کمپ کې د چټلۍ تووږم د زغملو وړ نه و. د مړو څارويو مردارو چې په هره خوا کې پراته وو، په ميليونونو مچان وزېږول او له دوی څخه به فضـــا توره وه. دې زموږ ربړه دومره ډېره کړه چې يوه دقيقه ارامتيا راته ناشـونې شـوه. تدارکات خراب او لږ وو. د سـړيو په منځ کې ناروغي خوره شـوه او

*ډيوک اف وېلېنګټن هغه ايرلندي انګرېز پوځي و چې ناپليون ته يې په ۱۸۱۵ کال کې په واټرلو کې ماته ورکړه او وروسته له ۱۸۲۸ کال څخه تر ۱۸۳۲ کال پورې د برتانيې صدراعظم و. (ژباړن)

**په ۱۹۹۰ مو کلونو کې کله چې طالبانو په پروان کې چې تاجک کلي په کې ډېر دي، خپل زغم بايلود، د باغونو او انګور تاکونو پر ورانډې يې همدغســې تکتيک وکارولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به په ترخه بڼه سرټکونه کوله چې د دې پر ځای چې سمدلاسه د دښمن په لور د خوځېدو قومانده ورکړل شي، دوی د دې له پاره دلته راوستل شول چې د ډارنو په څېر په دغه طاعون وهلي ځای کې مړه شي.[18]

د تودوخې درجه ډېر ژر ۴۳ سانتي ګرېډ ته اوچته شوه او ډېرو افسرانو به خپل وخت د کورونو په سرو تلخونو کې تېرولو.

په کلا کې يو سري په ځانګړې توګه ډېر غمجن ښکارېده. تامس سيټن ليکلي: «هر ماښام، کله به چې عسکرو ماښامنۍ پيل کړه، جنرال سېل به غلی ووت چې ظاهراً زمونږ د کار د پرمختګ کتنه وکړي، خو په حقيقت کې به د خپلې ښځې او لور د ناچاره وضعيت په اړه په فکر کې ډوب و او له ځان سره به يې ارزونې کولې چې دوی څرنګه وژغوري.» سيټن پوه شو چې اوس خو کلابندي ماته شوې او په دې اړه د سېل اندېښنې ليرې شوې وې؛ نو د نومونړي فکر خامخا د خپلې کورنۍ د برخليک په اړه ډېر څرخي، په ځانګړې توګه اوس چې اېلېنبوره له افغانستان څخه د پوځ د ايستلو په اړه سوچ کولو او داسې ښکارېدل چې د جګړې يرغمل او نور برمته کسان به په اسارت کې پرېښودل شي. د کلابندۍ په وخت کې داسې ګنګوسې هم وې چې اکبرخان به مېرمن سېل د ښار د دېوالونو مخته راولي او هغې ته به د سېل پر وړاندې شکنجه ورکړي چې تسليمۍ ته يې اړ کړي. يو ماښام سيټن په پيره درېدلی و او په دې مهال سېل هم يوازې ورښکاره شو. دلته، سيټن خپل زړه راغوند کړ او له جنرال څخه يې پوښتنه وکړه چې که دغه ګنګوسې رښتيا شي، دی به څه وکړي: «زما لوري ته يې، ژېړ خو جدي مخ واړولو او په کېېدلو ژورو احساساتو يې داسې ځواب راکړ: «زه به د هر توپ ميل د هغې په لور واړوم، زما زاړه هډوکي دې د دغه کلا په رنګو کې ښخ شي، خو زه به هېڅ کله تسليم نه شم.»»[19]

داسې ښکارېدل چې د سېل له خوا د اکبرخان ماته، مېرمن سېل او نورو اسيرانو ته يو له ښو او بدو څخه ګډ خبر و. لکه د جلال اباد په چونۍ کې، دوی غلطې ګنګوسې اورېدلې وې چې پالک ته ماته ورکړل شوې؛ نو دوی په ژور خپګان کې ډوب شوي وو، خو کله چې د سېل د بريا او د خيبر له لارې د پالک له بريالي راتګ څخه خبر شول، دوی ته د ابهام حالت بيا راژوندی شو او له يوولسو اونيو ثبات وروسته، بيا پر اسونو کښېنول او د شمال په لوري ولېږل شول چې د انګرېزانو د ژغورنې له ممکنه هڅې ليرې وساتل شي. دوی وروسته خبر شول چې د جلال اباد له جګړې څخه وروسته، ډېرو مشرانو - په ځانګړې توګه د ختيځ غلزي مشرانو - «غوښتنه کوله چې دوی ټول ووژل شي، خو يوازې په خپله اکبرخان د دوی د ژغورنې له پاره مداخله کوله.»[20]

مخکې له دې چې دوی بيا لالهانده ولېږل شي، د اکبر خان خسر او په لغمان کې د بابکرخيل غلزيو مشر چې دغه بنديان يې په اسارت کې وو، د دوی د مالونو غوره توکي واخيستل. مېرمن سېل ليکلي: «ده د مېرمن مېکناټن ټولې ګاڼې واخيستې چې له يو لک روپيو څخه يې ډېر ارزښت درلود او همدا راز د دېرش - څلوېښت زره روپيو په ارزښت شالونه يې هم ترې واخيستل.» خو مېرمن سېل نه غوښتل چې په اسانۍ لوټ شي. نومونړې دوام ورکوي: «دوی زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



جعبه لرونکی بکس په ډېره خوښۍ واخیست - خو ما هسې بې ارزښته چتیات او یو څو کوچني بوتل چې ما ته بې ګټې وو، په کې اېښي وو. هیله منه یم چې افغانان د دغه بوتلو مواد د دارو په خیال وخوري او اغېزمن ورته تمام شي. په یو بوتل کې نایتریک اسید او په بل کې د سپلورنایټرېټ محلول و.»[۲۱]

څو ورځې وروسته د اسیرانو کاروان د ټیپي اکبرخان له کاروان سره چې د کابل په لوري روان و، مخامخ شو. کله چې جورج لارنس د دوی له څنګه تېرېده، اکبر خان یې په ډولۍ کې ولید . نوموړي لیکلي:

اکبرخان په رنګ ژېړ او ناروغه ښکارېده او ټپي لاس یې په غاړه کې اچولی و. زموږ سلام ته یې په ډېر ادب ځواب ورکړ او کله یې چې زه له څنګه تېرېدم، ما ته یې موسکا وکړه او په اشاره یې راته وویل چې ورسره یوځای شم. نوموړی په ډېره ازاده بڼه او د یو سرتېري په څېر د سپل د بریا او د خپلې ماتې په هکله وغږېد. زموږ د عسکرو زړورتیا او همدا راز د سپل ښکاره بڼه یې چې د خپلو عسکرو په سر کې پر خپل سپین اس سپور و، وستایله. ده ومنله چې سرېو یې په بېړه تېښته وکړه او دی په خپله اړ شو چې له خپلې ډولۍ ووځي او په اس وتښتي. که چېرې په ده پسې زموږ ځواکونه څو میله د سیند تر غاړې تللي وای، هغه حتماً یرغمل نیول کېده ځکه چې نوموړی څو ساعته هلته تم و څو یوه جاله ورته برابره کړل شي چې له سیند څخه یې تېر کړي.[۲۲]

وروسته اکبر خان دوی ته د خدای په امانۍ لاس وخوځولو او د کابل په لوري روان شو. بندیان په یوه بله لاره د تېزین غاښي په سر کې یوې کلا ته ولېږدول شول. په لاره کې دوی یو ځل بیا د جنوری د میاشتې د شاتګ په لاره تېر شول او په وار وار هیبتناکه تېر یادونه یې تازه کېدل. لارنس لیکلي: «ډېر هغه مړي چې په واوره کې پټ پاتې وو، لږ خراب شوي وو خو ډېر نور په اسکلېټ بدل شوي وو.»[۲۳] تر ټولو غمجنه صحنه د سپاهیانو د لښکر د ببرو او ځنګلي شوو پاتې عسکرو لیدل وو چې ځینې یې تر اوسه د اوچتو غاښیو په غارونو کې پټ وو. مېرمن سېل یو غار ولید چې مخې ته یې د انسانانو ډېر هډوکي انبار پراته وو «او د غار خولې ته څېرمه له وینو څخه داسې ښکارېدل چې د پایښت له پاره دوی یو بل خوړل. په غار کې لږ د ننه، ما د اروا په څېر درې څېرې ولیدې چې په خاپوړو خوځېدلې او د تېرېدو په مهال کې مې له دوی څخه د مرستې غږ واورېد».[۲۴]

په راتلونکو څو ورځو کې د یرغملو جبري یون په باران او ډېرو ختو کې و. سروبي ته څېرمه باران دومره ډېر شدید شو چې بلاخره ناروغه الفنستون یې ختم کړ. لکه څنګه چې ده ډېر مخکې وړاند وینه کړې وه، دی به بیا هېڅ کله په پوله کې د ښایسته سیسیو دیدن ونه شي کړی. که څه هم د دغه ناورین پړه چې د بندیانو دغه حالت ته یې لاره هواره کړه، یوازې او یوازې د ده په غاړه وه، خو د ده د شخصي جذابیت له وجې، نورو یرغملو یې په وفادارۍ تر پایه پالنه وکړه. ده ته مکنزي او لارنس په ځانګړې توګه زړه سوی درلود او د نوموړي د چوپړیال، مور Moore سره یې په نوبت د دغه بوډا جنرال چې ورځ تر بلې یې حالت خرابېدو، پرته له درمل څخه پالنه کوله. مکنزي «وتوانېد چې د انارو له پوټکي څخه د سپکمنتیا شربت جوړ کړي او تر یوې کچې د الفنستون وروستیو ځورېدنو ته ارامتیا ورکړي».[۲۵] لارنس لیکلي: «ده په وار وار راته وویل چې  هیله او حتی دعا کوي چې مړ شي. د شاتګ ډاروونکی هیبت یې په خوب او ویښه کې تل د سترګو مخې ته ولاړ و. زموږ ټولو زړه ډېر ورته بدېده او هڅه مو کوله چې دغه بوډا ته ډاډګېرنه او ارامتیا ورکړو، خو هېڅ ګټه یې نه کوله ځکه چې ذهن او ځان یې له کاره وتلی و او په ښکاره یې د شاتګ پېښو زړه مات کړی و. زخمونه یې جوړ نه شول، خو ده یې پروا نه لرله. د ذهن ربړېدنه یې دومره ډېره وه چې حتی د خپل وجود دردونو ته یې پام نه کېدلو ...»[۲۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند په خپله وروستۍ شپه کې، الفنستون له خپل چوپړيال څخه يوه کاسه اوبه او يو پاک کميس وغوښت. له مينځلو او کميس بدلولو وروسته، نوموړي مکنزي ته وويل چې هغه دعاوې ولولي چې مړينې ته په نږدې خلکو لوستل کېږي او خپل له ژړا څخه ډک چوپړيال ته يې وويل چې سر يې اوچت کړي. د دغه مهال په اړه لارنس داسې ليکلي:

زه خوارکي جنرال ته نږدې په وچ غولي پرېوتم. [ده] ټوله شپه هېڅ سترګې پټې نه کړې ځکه چې له ډېر درد څخه ځورېده. ما څو ځلې خبرې ورسره وکړې، خو ده به يوازې مننه راڅخه کوله او و به يې ويل چې زه ده ته هېڅ نه شم کولی او ډېر ژر به هر څه پای ته ورسېږي... درد يې ډېر زيات و، خو ده به په زغم او منلو ګاللو. په وار وار يې ما ته وويل چې ډېر خواشينی دی چې د شاتګ په بهير کې ونه وژل شو. د ده د مهربانه او نرم طبيعت او د نورو په کارو کې د نه غرض له کبله، موږ ټولو ورته درناوی کولو او که څه هم ده ته يې خپله مړينه تر ټولو خوشحاله خلاصون و، خو موږ ټول يې په مړينه خواشيني وو.[۲۷]

کله چې اکبرخان د جنرال له مړينې خبر شو، په درناوي او ادب يې امر وکړ چې مړی يې له چوپړيال سره جلال اباد ته ولېږدول شي، خو دا به د الفنستون په برخليک کې وو چې حتی په مړينه کې هم وځورېږي. بېرته د جلال اباد په لاره کې يوه ډله لاروي غلزي پوه شول چې څه لېږدول کېږي. دوی تابوت خلاص کړ، بيا يې مړی لوڅ لغړ کړ او په تيږو يې وويشت. اکبر يوه بله اس واله ډله ولېږله چې مړی او ساتونکي يې وژغوري. بيا يې دواړه، مړی او چوپړيال، په جاله کې د کابل سيند له لارې د جلال اباد دروازو ته ولېږل.

هلته د اپريل په دېرشمه، پالک او سېل دغه کم بخته جنرال په بشپړو پوځي تشريفاتو خښ کړ *.

کله چې د اکبرخان د بشپړې ماتې خبر کابل ته ورسېد او د ده ځپل شويو جنګياليو د اپريل د اتمې په ماښام کابل ته نګوښېدل پيل کړل، هلته ډېره وېره رامنځته شوه او د بارکزيو ډېرو ملاترو غونډيو ته تېښته پيل کړه.[۲۸]

د فتح جنګ او سدوزي شهزادګانو چې د خپل پلار له وژنې راهيسې وارخطا په بالاحصار کې ايسار پاتې وو، هيلې بيا راژوندۍ شوې. دوی د خوراکي توکو، وسلو او مهماتو په غونډولو پيل وکړ او د دوی د اصلي متحد، امين الله خان لوګري په هڅونې يې د کوهستان له تاجکانو سره خبرې اترې پيل کړې چې نور عسکر خپلې داعيې ته جلب کړي. لکه په وار وار د پخوا په څېر، کابل د سدوزيو او بارکزيو تر نفوذ لاندې سيمو وېشل شوی و او نواب زمان خان په نهيلۍ د امين الله او د ده د سدوزي متحدينو پر وړاندې له خپلو اډو څخه دفاع کوله. د اپريل په لسمه جلال اباد ته په خپله يوه استونه کې موهن لال کشميري داسې راپور ورکړی: «د امين الله خان لوګري واک ورځ تر بلې ډېرېږي. دی د شاه او فتح جنګ د خزانې واک په لاس کې لري او د خپلې قبيلې سړي، لوګريان راټولوي.»[۲۹]

* په پای کې پالک د ده مړی هند ته ولېږدولو او د کلکتې په پارک سټريټ Park Streetهديره کې داسې ځای ښخ شو چې د هغه مقبرې څخه دومره ليرې نه دی په کومه کې چې مېرمن مېکناټن د خپل مېړه هغه پاتې شوني ښخ کړل چې نوموړې يې په موندلو بريالۍ شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمن سـېل د تل په څېر د دغه پېښــو په اړه ســپينه خبره وکړه او په خپله يادليکچه کې يې ليکلي: «په کابل کې مېلمســتياوو زور اخيســتی. نواب زمان خان وايي چې دی به پاچا شـي، اکبرخان او جبارخان هم همدغه خبره کوي او امين الله خان هم لکه محمدشاه خان او شهزاده فتح جنګ دې ته ورته خيال لري.» نوموړې زياتوي:

عسـکر هره ورځ د جګړې له پاره روان وي... اوس د ګوزار وخت دی، خو يوازې له دې کبله چې موږ څو کسـه د اکبرخان په لاس کې يو، زه د وخت پر ضايع کېدو اندېښمنه يم. زموږ د هېواد د درنښت او عزت په پرتله، زموږ ژوند څه ارزښت لري؟ داسې نه ده چې زه د خپل سـتوني غوڅېدو ته حاضـره يم. برعکس، زه هيله منه يم چې د بريا برتانوي توغ يو ځل بيا په افغانسـتان کې ووينم، بيا به د امير دوست محمد خان واک ته د رسېدنې په هکله کومه نيوکه ونه لرم. راځئ چې موږ يوازې دوی ته وښيو چې ماتولی يې شـو، د دوی خاين مشران وشرموو او د خپلو عسکرو د ناوړه وژنې غچ واخلو او راځئ چې لکه يو په متروکو شړل شوی سپی، له دغه هېواد څخه په پټه وتلو سره د انګرېزانو نوم بد نه کړو... پرېږده چې زموږ لوی والي او اعلی سر قوماندان په دې فکر وکړي او زه خپلو لمسيانو ته د جرابو اوبدل وکړم، خو زه له ډېر وخت راهيسې د يو سرتېري ښځه يم؛ نو نه شم کولی په داسې حال کې ارامه کښېنم چې زموږ پر عزت لکه ولګول شـي... که ما واک درلودای، افغان مشــرانو به هېڅ کله زه نه وای هېره کړې ځکه چې ويل کېږي د ښــځې غچ ډېر هيبتناکه وي، خو له اکبر، سلطان جان او محمد شاه څخه به هېڅ راز غچ اخيستنه زما د غچ تنده ماته نه کړي.[30]

رکود او ابهام د مې مياشـتې په نهمه هغه وخت مات شـو چې اکبرخان کابل ته ورسـېد. په خپله معموله سـېکمنتيا او پرېکندتوب يې سـمدلاسـه د سـدوزيو کلا کلابند کړه او يو لړ لوی ماينونه يې د تر ټولو اسـانه زيانمنېدونکو برجونو لاندې کېښــودل. دلته يې هم له هغه تکتيک څخه کار واخيســت چې په جلال اباد کې ورته د ملاتړو په ټولولو کې ډېر اغېزمن و. نوموړي يو ځل بيا خپل ځان د اســلام د اتل په څېر ځرګند کړ او ســدوزي يې د انګرېزانو ملګري او خاين وبلل. ده نورو مشــرانو ته وليکل: «دا د ګمراه کافرانو پر وړاندې د رښــتيني ايمان د خاوندانو د يو موټی کېدو د بېسـاري ارزښـت خبره ده؛ نو ځکه د رښـتيني ايمان مخلصـو پلويانو په دې خوښـه وکړه چې ما د خپل مشـر په توګه ومني او زما پر لارښوونه عمل وکړي.»[31]

يوازې په يوه اونۍ کې اکبرخان وتوانېد چې امين الله خان ته رشــوت ورکړي چې د ســدوزيو ملاتړ پرېږدي. يوه اونۍ وروسته يې ميرحاجي خپل کړ چې په وسيله يې د «کابل علما او کوهستانيان» هم د ده پلويان شول.[32] نوموړي له هغه سپاهيانو څخه هم يو غونډ جوړ کړ او وسلوال يې کړل چې د شـاتګ په مهال يې انګرېزي پوځ پرېښی و. د مې مياشـتې په پای کې، ۱۲۰۰۰ کسـه د ده تر جنډې لاندې ودرېدل چې د سدوزي دفاعيانو په پرتله درې برابره ډېر وو.[33] وروسته له دې چې فتح جنګ يوه مياشــت تر بمبارۍ او ماين چاودنو لاندې و او د باروتو زېرمه او د توپ ګولۍ يې خلاصــې شــوې، دی بلاخره تسـليمۍ ته اړ شــو. د جون په اوومه، اکبرخان ته په بالاحصــار کې بلنه ورکړل شــوه. د همدغه مياشـتې په پای کې فتح جنګ اړ ايسـتل شــو چې ټول واک اکبرخان ته چې رسـماً يې ځان وزير ټاکلی و، وسـپاري؛ نو اکبرخان ســمدلاســه ټول واک ترلاســه کړ. فتح جنګ وروســته بيا اړ ايســتل شــو چې په يو ليک کې پالک ته دغه توضـيحات ورکړي: «ما سـردار محمد اکبرخان ته د ټولو شـتمنيو او هر راز چارو بشـپړه اداره وروسـپارله او د تل له پاره مې د هر څـه پـه هکلـه د ټولو موضــوعګانو د ارزونې او حل واک ورکړ. نوموړی چې د انګرېزانو ســره هر راز جوړښت کوي، زه يې منم او منظوروم او څه بدلون به په کې نه راوستل کېږي.»[34]

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکاري چې په پيل کې اکبرخان لا تراوسه د يو سدوزي تش په نامه مشرۍ ته د اړتيا احساس کولو چې خپله واکمني مشروع کړي: د هغه تورې لکې سره سره چې سدوزيو د کرکې وړ کافرانو سره اتحاد کړی و او دغه لکې سدوزي زيانمنول، خو د احمد شاه دراني د اولادې داسې کرشمه وه چې اوس هم اکبرخان د دې اړتيا احساسوله چې د هېواد مشرۍ ته يو سدوزی وساتي،[۳۵] خو د جولای مياشتې په پيل کې اکبرخان له دغه ناسمې عقيدې څخه ستړی شو او کله يې چې د مياشتې په نيمايي کې د فتح جنګ او پالک تر منځ يو ليک کشف کړ، ده سمدلاسه ټول سدوزي شهزادګان او ړوند بوډا شاه زمان راغونډ او د بالاحصار په سر کې يې بنديان کړل. فيض محمد ليکلي: «دغه ليک د عزت، غيرت او وفادارۍ له ټولو دودونو سره په ټکر کې و او هغه تړون يې ماتولو چې شاه د ده سره کړی و؛ نو ځکه يې بندي کړ او ټولې هغه ګانې او ګران بيه توکي يې ضبط کړل چې فتح جنګ ترلاسه کړي وو، خو د اکبرخان لا تراوسه زړه تش نه و. نوموړي غوښتل چې شاه ته په متروکو جزا ورکړي او ټول شته يې ضبط کړي.»[۳۶]
کله چې اکبرخان د وزير په توګه د خپل واک په اوج کې و او د بالاحصار ماڼۍ يې په واک کې وه، ده پرېکړه وکړه چې هغه انګرېز افسران ماښامۍ ته راوغواړي چې د غزني په سقوط کې يرغمل نيول شوي وو او د ده په امر په دې وروستيو کې کابل ته راوستل شوي وو چې له نورو يرغملو سره يې يو ځای کړي. د دوی په منځ کې يو پېټ خولۍ الستړی ځوان هم و چې وروسته يې د هند د تاريخ بهير بدل کړ. نوموړی کپتان جان نېکلسن نومېده او داسې سړی و چې په اسانۍ چا اغېز نه شوی پرې کولی، خو وروسته يې خپلې مور ته داسې ليکلي: «زه هېڅ کله له داسې ښاغليو او مهذب سړيو سره نه وم ناست. دوی ډېر ښايسته دي او د افغان سردارانو په توګه، د ډېر درنښت او وقار خاوندان دي... ما چې د دوی ناستې کړې ته له يوه سره تر بله وکتل، دواړه، پاچا وژونکي او خپلوان وژونکي سړي مې تر سترګو شول - په دې مېلمستيا کې زموږ د استازي قاتل ښايي داسې سړی و چې ترټولو يې لږ لاس پر وينو سره وو.»[۳۷] د نېکلسن همکار، دويم بريدمن کرافورډ هم د اکبرخان بې عيبه چلند هک پک کړی و. نوموړي وروسته ليکلي:

موږ ته په ډېره مهربانۍ ښه راغلاست وويل شو. ما هېڅ باور نه کولو چې داسې مېړنی، خوش خويه، په زړه کې مهربانه او صادق سړی به چې زموږ د روغتيا او په مزل کې د ستړيا په اړه يې پوښتنې وکړې د مېکناټن قاتل او زموږ د عسکرو د ټولوژنې مشر وي... ده د ماښامۍ غږ وکړ او په پاټېنګر او ټروپ Troup پسې يې سړي ولېږل چې زموږ ليدو ته راشي. کله چې دوی راورسېدل موږ ټول داسې ښې ماښامۍ ته کښېناستو چې ما په مياشتو نه وه خوړلې. د ماښامۍ په ترڅ کې وزير په بېلابېلو موضوعګانو خبرې او ټوکې کولې ... سبا سهار ته، دغه شيطان ډېر ښه سباناری راولېږه... او د جامو او داسې نورو توکو چې موږ اړتيا ورته لرله يو نوملړ يې وغوښت څو موږ ته يې برابر کړي.[۳۸]

يو سړی چې د نوي وزير له خوا دومره په درنښت چلند ورسره ونه شو، د برنز پخوانی منشي او د څارګرو مشر موهن لال کشميري و. اکبرخان د موهن لال او انګرېزانو تر منځ يو لړ مکاتبې کشف کړې وې او په دې هم خبر شوی و چې دغه منشي په فعاله توګه فتح جنګ ته وسلې او مهمات راټولول. د هغه چلند برعکس چې اکبر خان له انګرېزانو سره وکړ، موهن لال سم دلاسه کوټه قلفي او وډبول شو او وروسته شکنجه ورکړل شوه.
موهن لال په يو ليک کې چې په زندان کې يې په چټکۍ له ډېرو ګرامري تېروتنو سره ليکلی و او بيا وتوانېد چې په قاچاقي توګه يې انګرېزانو ته ولېږي، داسې ليکلي: «زه يې څملولم. بيا پر ما باندې يوه اوږده ځوکۍ (کوچ) کښېښودل شوه چې خلکو يې په سر ټوپونه وهل. دوی زه په لرګي وهلم او په ډېره لړاکه او بې رحمه بڼه يې شکنجه راکوله. اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰۰۰۰ روپۍ له ما څخه غواړي او وايي چې که يې ورنه کړم، زما سترګې به وباسي. زما ټول ځان ډېر سخت ډبول شوی. زه د دولت له امر پرته، د هېڅ شي ژمنه نه شم کولی مګر دا چې د خپلې تباهۍ ننداره وکړم. زما پښې له ډېرې قف پايي څخه پړسېدلې دي.»[۳۹]

يوه اونۍ وروسته موهن لال بيا يو خبر ولېږه چې حالت يې ډېر خراب شوی دی: «کله کله له لاس او پښو څخه کلک نيول کېږم او په شا مې يوه درنه تيږه اېښودل کېږي او په عين وخت کې مې سره مرچ د سترګو او پزې سره سوځول کېږي. کله کله قف پايي کېږم. له هر راز کړاو څخه چې تصور يې کېدای شي، ځورېږم. دی له ما څخه ۳۰۰۰۰ روپۍ غواړي. وروسته له دې چې په لړاکۍ يې له ما څخه کار واخيست، ۱۲۰۰۰ روپۍ يې ترلاسه کړې او وايي که چېرې پاتې روپۍ ورنه کړل شي، زما سترګې به وباسي او په سره اوسپنه به مې وسوځوي.» موهن لال د خپل ليک په دوام کې وايي چې که ووژل شي، حکومت بايد په ډهلي کې د ده د ښځې، دوه ماشومانو او بوډا پلار پالنه وکړي. له څو نورو ورځو شکنجو وروسته، نوموړی په ناهيلۍ کې ډوب شوی و او د داسې ليکونو ليکل يې پيل کړل لکه دی چې بل څوک وي او د موهن لال په هکله داسې خبرې کوي چې اوس مړسته ورته بې ګټې او ناوخته وه: «موهن لال درې ځله ډېر سخت ووهل شو او ډېر ظالمانه او بې عزته چلند ورسره وشو. دی تر اوسه د ۱۸۰۰۰ روپيو ورکړې ته اړ ايستل شوی او خدای خبر دی چې ده ته به نور څه پېښ شي. په خپله مهربانۍ مو له دغه ربړو څخه د ده د ژغورنې له پاره څه وکړئ.»[۴۰] خو د برنز په نه شتون کې چې له ده ساتنه وکړي، موهن لال د پالک په پوځ کې داسې څوک نه لرل چې له ده سره مرسته وکړي؛ نو له جلال اباد څخه يې کوم ليک يا ډاډګېرنه ترلاسه نه کړه. يوازېنی کس چې د ده د خلاصون له پاره يې د پيسو پيدا کولو هڅه وکړه، په ډهلي کې د نوموړي پخوانی د کالج ملګری او اوس ځارګر او د وېړ منشي، شهامت علي و چې په اېندور کې يې د کابل له هندو بانکرانو څخه د پور اخيستنې هڅه وکړه چې د ده د خلاصون ته لاره هواره کړي او په دې کې بلاخره بريالی شو.[۴۱] په دې اړه اکبرخان ته د پالک له خوا يو ناوخته اعتراض ليک هم مرستندويه و، خو ظاهراً موهن لال تر هغه وخته پرېنښودل شو ترڅو چې مسلمان نه شي.[۴۲]

په عين وخت کې، اکبرخان د بالاحصار دفاعي برخې بيا جوړې کړې، خندقونه يې وکيندل او خوراکي توکي او مهمات يې زېرمه کړل څو که چېرې انګرېزان د کابل د بيا نيولو هڅه وکړي د دفاع له پاره چمتو وي.[۴۳] همدارنګه، د تيزين او خردکابل د غاښيو تنګو برخو ته يې سرې ولېږل چې سنګرونه او مورچلې وکيندي.

له درې مياشتو انتظار وروسته، د جولای په دوه ويشتمه بلاخره پالک او ناټ هغه امر ترلاسه کړ چې دوی ورته تم وو. اېلېنبوره له داسې کليمو څخه په کار اخيستنې چې ټول مسووليت يې د دغه دوو جنرالانو پر غاړه اچولو، دوی ته يې امر وکړ چې که دوی غواړي «نو کولای شي د کابل په لاره له هېواد څخه ووځي». دغه امر يې هم ورکړ چې «د انګرېزي پوځ د ځواک پرېکنده ثبوتونه هلته پرېږدي».[۴۴] نو اوس د دغه جنرالانو تر منځ لوبه پيل شوه چې څوک به ژرترژره کابل ته ورسېږي که څه هم د ناټ مزل ډېر اوږد و - شاوخوا ۳۰۰ ميله حال دا چې د پالک پر وړاندې ۱۰۰ ميله پراته وو.

ناټ همدغه ماښام په احساساتي بڼه خپلې لور ته ليکلي: «دوی مې ترېلي لاسونه خلاص کړل. ما ته اوس ګوره، زه به سمدلاسه لاس په کار شم. زه دلته ناست يم او په ډاډمنه توګه ليکم چې زما ښايسته او اصيل غوندونه به دوی ته سم سبق ورکړي.»[۴۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل سړي چې دغه خبر ډېر خوشحاله کړی و، جنرال سېل و چې په دې هکله یې لیکلي: «د خوښۍ احساساتو دومره غلبه راباندې کړې چې سم لیکل نه شم کولی.»

جنرال ناټ د تلوسې او ګډوډۍ په حال کې بلاخره د اګست په اتم له ۶۰۰۰ پوځیانو سره له کندهار څخه ستون شو.[۴۶] د کندهار اداره یې د شاه شجاع کشر زوی، شهزاده صفدرجنګ ته وسپارله. دغه شهزاده چې ویل کېږي د یوې لودیانۍ نڅاګرې زوی و، سوګند وکړ چې ښار به د سدوزیو تر ولکې لاندې ساتي که څه هم ناټ اړنګ درلود چې دی به ډېر دوام ونه شي کړی او په شخصي توګه په دې باور و چې «د انګرېزانو له وتلو وروسته به په کندهار کې ډېره ګډوډي او وینه تویونه رامنځته شي».[۴۷] خو دغه ځوان شهزاده هوډمن و چې که وکړای شي، ښار به تر خپلې ولکې لاندې وساتي. کله چې ناټ له کندهار څخه لاړ، صفدر جنګ ډېر ژر په یو لیک کې داسې ورته ولیکل: «مور له تینګ هوډ څخه پرته بل څه نه احساسوو چې د پاچا د وینې غچ واخلو. همدا اوس زما وینې داسې په خوټېدو دي چې پرته له ښې غچ اخیستنې بل فکر نه شم کولی. زما دې په خدای قسم وي چې تر څو ژوندی یم، زه به بل کار ونه کړم او تول پام به مې غچ اخیستنې ته وي: یا به زما برخلیک هم د پلار په څېر شي او یا به د ده د مرګ بدل واخلم.»
یوولس ورځې وروسته، پالک له لږ لوی پوځ، ۸۰۰۰ عسکرو سره له جلال اباد څخه حرکت وکړ، خو د ده لاره ډېره خپګانوونکې وه. څومره ډېر به چې کساتي پوځ وړاندې تله، همدومره ډېر مړي به یې ترسترګو کېدل او همدومره ډېر به د دوی تګ هیبتناکه کېده. لمړی یې د «شپېتو خلکو اسکلیټونه د ګندمک په غونډۍ کې خواره واره» ولیدل. د افسرانو توپیر په اسانۍ کېدی شوی ځکه چې «اوږده وېښته یې تر اوسه پر ککریو سرېښ وو». وروسته چې پوځ جګدلک ته ورسېد، تامس سیټن د خپلو سترګو لیدلی حال داسې بیان کړی: «غابۍ له مړیو څخه دومره ډک و چې لاره یې بنده کړې وه. موږ اړ شولو چې دوی یوې خواته کړو چې توپونه مو تېر شي. دا یوه ناوړه صحنه وه او موږ ته ژور احساس پیدا شو چې د دغه ناورین په بدل کې به هېڅ راز غچ بسنه ونه کړي... د ټولې لارې په اوږدو کې، په هره شېبه او په هر ګوټ کې له کابل څخه د تښتېدلو هغه خلکو اسکلیټونه او مړي پراته وو چې یا وژل شوي او یا له ستومانۍ یا ډېرې یخنۍ مړه شوي وو.»[۴۸] همدارنګه لمړی بریدمن ګرین ووډ داسې لیکلي:

د ځینو یوازې اسکلیټونه پاتې وو او ځینې نور مړي تر اوسه سم پاتې شوي وو او بڼه یې په بشپړه توګه سمه پاتې وه، خو رنګ یې بدل شوی و. د دوی سترګې په ښکاره لیدل کېدې چې ښکاري مرغانو خوړلې وې. دغه مرغانو په هوا کې په دوامداره توګه زما پر سر دورې وهلې او داسې برېښېدل چې زه یې په خپل حریم کې یو پردی او نابللی مېلمه ګڼلم. کله چې د یو لوی کمر ګوټ ته واوښتلو، پنځه، شپږ مړي سر په سر پراته وو او یو ګرګس چې په خوړلو یې اخته و، په لنډ واټن کې یې ها خوا بې پروا ټوپ واچولو او دومره سپین سترګی و چې پرته له دې چې والوزي، خپل لوی وزر یې رپول. ما په خپه زړه له دغه خوابدوونکې صحنې څخه مخ واړولو او په دې هوډ شوم چې زه به پر خپل ټول توان هڅه وکړم چې د افغانانو د غچ دغه پور ادا کړم.[۴۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی له دې څخه بدتره حالت لا نه و ليدلی او هغه دا چې جګدلک ته څېرمه د غونځو په دېوال کې يې په سلګونو مړي وليدل چې په تياره کې هغه وخت ويشتل شوي وو چې د ختلو په موخه يې پر اغزن دېوال منګولې ښخې کړې وې او تر اوســه هماغه ځای پراته وو چېرته چې ويشـــتل شـــوي و. له دې ځخه لږ وړاندې، د جګدلک د خاورينې کلا د ټيټو دېوالونو د ننه چېرته چې د شاتګ په بهير کې پوځيان يوه ورځ او دوه شپې پاتې شوي وو، دوی له اتياوو تر سلو د مړيو اســکليټونه وليدل چې کوټه پراته وو. دغه مړي له دوو خواوو څخه هغه وخت د غلزيو د تورټوپکو د ډزو لاندې راغلي وو چې شـــلټن او الفنســـټون اکبرخان ته د خبرواترو له پاره ورغلي وو او دوی يې بې ګټې بېرته راتګ ته تم وو. ســـيټن ليکلي: «دوی په ليکو کې ويشـتل شـوي وو او همداسې مو په ليکو کې پراته وموندل. غوښې يې لا تر اوسـه شـته وې او هر مخ په بشـپړه توګه هغه چا ته د پېژندنې وړ و چې مخکې يې پېژندلو.» دې ته څېرمه، د درې په سـر کې يو ګرد د ځار برج و. دلته يې د سـلګونو هغه سـپاهيانو او ملکيانو مړي وموندل چې افغانانو ژوندي نيولي وو، وروسـته يې کالي ترې ايستلي او بيا يې واورو ته شړلي وو چې مړه شي.

حتی تر بام پورې، ټول برج له اسکليټو او مخ په ورسـتېدو مړيو څخه ډک و او د مړيو يوه ډېرۍ له برج څخه بهر وه. د دغه ډېرۍ يو سـر له دروازې څخه نيمايي د ننه او بل سـر يې د برج له دېوال څخه نيولې تر اووه ويشـتو فوټو پورې اوږد پروت و او زينې ټولې پر مړيو پټې وې. ډېره هيبتناکه صحنه وه. داسې ښکاري چې دغه خوارکيو دلته پناه اخيستې وه. هغوی چې وروسته برج ته د ننه کېدل، هغه چا ته به يې هوا بنده کړه او مړه به شـول چې له دوی څخه مخکې د ننه شـوي وو او بيا به يې د دوی مړي ايسـته واچول چې ځان ته ځای پيدا کړي خو د نورو په راتګ سره به دوی هم له منځه لاړل - تر پښو لاندې به شول، ساه به يې بنده شوه او مړه به شول او هغه چا به ايسـته واچول چې له دوی څخه وروسـته راغلي وو. جګړه له ځانسـره تر ټولو هيبتناکه بلا لېږدوي - د غچ روحيه زېږوي، پالنه ورکوي، د بدنيتۍ ټولې هغه جذبې پاروي چې د سـړي په زړه کې لاسـبرې دي او داسـې کړنو ته يې هڅوي چې د خدای مخلوق ته نه، بلکې يو شـيطان ته ښـايي... اوس سـپاهيانو هر چېرته چې کولی شـول هلته يې له ژونديو او که ژوندي نه وو له مړيو څخه غچ اخيست.[۵۰]

په هر هغه ځای کې چې باور کېده له اکبرخان سره يې تړاو درلود په ځانګړي ډول سخت چلند کېده. يو ښـايسـته کلي چې باغونه او بڼونه ترې چاپېر وو، د سپاهيانو په اند د اکبر خان د خوښې دوبنی هستوګنځی و او که څه هم هستوګن يې پرته له جګړې تسليم شـول، د کلي «هر کور وران کړل شـو، ونې يې يا چپه او يا يې پوټکي وايسـتل شـول او وروسـته د ښکېلو سپاهيانو ډلې د پام وړ ګڼ شمېر سخوندر، پسونه او وزې راغونډ او کمپ ته يې راوستل».[۵۱]
په پيل کې د پالک په پرتله د ناټ پرمختګ ډېر له دســـپلين څخه ډک او تاوتريخوالی يې لږ و، خو کله چې په يو کلي کې يو شـمېر عسکر مړه شـول او بيا د غلزيو مشـران په رسـمي توګه تسـليم شـول، يوه بشـپړه ټولوژنه پيل شـوه. ټول بالغ نارينه په برچو ووژل شـول، پر ښـځو جنسـي تېري وشـول او مالونه يې لوټ شـول. نوېل چمبرلېن ليکلي: «اوښـکو او زاريو ګټه نه کوله. دان پور به په لوی لاس اوچت کړل شـو، ماشـه به کش کړل شـوه او خوښ به هغه څوک وو چې سمدلاسه به مړه شـول. دغه زلنده• قتلونه (چې د خدای پر وړاندې يوازې او يوازې ډېر ناوړه دي) په رښـتيا ډېر ناوړه وو... دا په افغانسـتان کې يوه تر ټوله ښـايسـته دره ده، خو موږ ورانه او ويجاړه کړه. هندوسـتانيان د افغانانو پر ضد

---

•زلند: جابر، ظالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره پاړېدلي وو چې هر څه یې ورانولی شـــوی وران یې کړل او ټولو کلاوو او مانیو ته یې چې لاس رســـېده اور ورته کړ.»[۵۲]

د ناټ په پوځ کې عیســـوی ملا رېویرډ ای. اېن. الن Rev. I. N. Allen ته دغه پېښـــو لا ډېر ټکان ورکړی و او لیکلي یې و چې یو مذهبي مشـــر کابو هېڅ کله د دغســـې صـحنو لیدو ته نه و اړ ایســـتل شـــوی او زیاتوي: «هره دروازه به په زور خلاصه کړل شـوه، هر سړی به له لیدو سره سم ووژل شـو. پوځیان انګړ په انګړ، برج په برج په دوی پسې وو او ډېر لږ کسان په تېښـتـه بریالي شـول. یوه دروازه چې د کور اوسـېدونکو نه خلاصوله پر شـېبږ- پوندړه توپ والوزول شـوه او د کور ټول اوســېدونکي پر برچو ووژل شــول.»[۵۳] یو عســکر چې په ســبا د دغه کلي کلا ته لاړ، ووېل چې «شـاوخوا ۱۰۰ مړي خواره پراته او شـېږ یا اته ماشـومان په نیمه سـوېو سـکرو کباب او د سـوځېدلو خځلو د کوټې لاندې پټ کړل شـوي وو. په کلا کې یوازې یوه ښځه ژوندۍ وه او بې اسرې د پلار، ورور، مېړه او ماشـومانو مړیو ته چې شـاوخوا ته یې پراته و، ناسته وه. وروسته یې د دوی مړي یو ځای ته کش کړل او په منځ کې یې کښېناسته».[۵۴]

کله چې ناټ غزني ته نږدې شـو، د ولایت د بارکزي والي په مشرۍ ۱۲۰۰۰ درانیانو یوه لنډه خو سخته جګړه د دوی پر ضـد پیل کړه. کله چې دفاعیان بېرته د ښـار دېوالونو ته د ننه شـول، پالک هم داسې ځای واړول چې د توپونو ګولۍ نه ور رسـېدلې. په راتلونکې سـهار ټول ښـــار په بشـپړ ډول تش و. غلزي وېرېدلي وو که څه هم د ســلطان جان په مشـرۍ مرستندویه ځواک په دې وروستیو کې ور رسېدلی و، خو د شپې په بهیر کې یې ښار پرېښی و. له سپېدو سره سم، ناټ د ښـــار دروازې والوزولې. نوموړي وروســـته په خپل راپور کې ډېر لنډ لیکلي: «ما د غزني د ښـــار، د کلا او ټولو اړونده هنري توکو د ورانولو امر وکړ.»[۵۵]

خو یوازې د یو وروستي دود سرته رسونه پاتې وه. د هند د تاریخ په نوم یو نوموړ کتاب اېلېنبوره لوستی و. که څه هم د دغه کتاب لیکوال جېمز مېلر James Mille هېڅ کله هندوستان ته نه و تللی، نه یې کوم هندوستاني پېژنده او نه یې کومه هندي ژبه زده وه، خو په کتاب کې یې اېلېنبوره یوه بشـــپړه غلطه نظریه منلې وه چې د دې ادعا یې کوله چې د ســـلطان محمود غزنوي (۹۹۸ - ۱۰۳۰) د مقبرې دروازې له چندڼ لرګي څخه جوړې هغه افســـانوي دروازې وې چې نوموړي په ګجرات کې د سومنات لوی معبد د لوټ په مهال پټې کړې وې، خو په حقیقت کې په خپله مقبره او دروازې یې په یولسـمه پېړۍ کې د سـلجوقیانو د هنر زېږنده وې- رالېنسـن یې هم په لیدو سـمدلاسـه پوه شـو چې په دروازو کې حکاکي شـوي لیکنې په عربې ژبه وې چې په اسـلامي بڼې په شـېبږ ګوټه سـتوریو کې چې پېچلې عربي مېناتورۍ ترې چاپېر وې، لیکل شـــوې وې، خو هر څه چې وو، پروا یې نه کوله ځکه چې اېلېنبوره دغه دروازې غوښـــتې وې؛ نو خامخا به ورکول کېدې.

نو لکه څنګه چې تمه یې کېده، اېلېنبوره د شـــمالي او ختیځ هند مشـــرانو او شـــهزادګانو ته په خطاب کې یوه اعلامیه خپره کړه چې څنګه یې د ۸۰۰ کلونو ســـپکاوي غچ واخیســـت او څنګه یې له ښـــکېلاکي پېر څخه مخکې پر هندوانو باندې د افغانانو د پېړیو تســـلط برعکس کړ. د انګرېزانو له برکته، هغه دروازې چې یو وخت د هندوانو د ســـپکاوي نښې وې اوس له پوځي اړخه د اباسـین پر ها خوا هېوادونو باندې د هند د ځواکمنتیا په نښـو بدلې شـوې. وروسـته، دغه دروازې له یوې جبرې تشـریفاتي ډلې سـره یو ځای په هند کې سـمې وګرځول شـوې او په تشـریفاتو به هک پک لارویو ته د نندارې له پاره اېښودل کېدې چې د هند خلکو ته د انګرېزي حاکمیت مهرباني او پیاوړتیا وښیي، خو هندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــهزادګانو کوم غبرګون ونه ښـــود. همـدې تـه ورتـه، د هنـداونو غبرګون لا ډېر ســـوړ و ځکـه چې پـه دې هکلـه نـه شهزادګانو او نه هندوانو څه اوريدلي وو.[56] کله چې رالينسن د دغه ښايسته سلجوقي دروازو د ايستلو مديريت کولو، نوموړی پوه شــو چې دوی به په سـختۍ پـه سـومنات کې کېښــودل شـي ځکه چې د سـومنات نه وې. دغه معبد د زرو کلونو راپدېخوا په کنډوالو بدل شوی و او بل دا چې په خپله هندوانو د دغه ټولې ډرامې هيڅ پروا نه لرله.[57]
افغانان هم د دروازو په وړلو دومره خپه نه وو. د رالينســـن د ليکنې پر بنســـټ، د مقبرې منجور هســـې په بې پروايۍ خپلې اوږې وخوځولې او ويې ويل: «دغه زاړه لرګي به ســتاســې څه په کار شــي؟»[58] خو په دې هکله ميرزا عطا داســې سپينه خبره کړې: «اېلېنبوره امر وکړ چې دروازې هند ته ولېږدول شي چې د خراسـان بيا نيول تشـهير کړي او په داسې يو هېواد کې لوی لګښتونه توجيه کړي چې ډېر لږ عايدات يې لرل. لکه څنګه چې وايي، رښتيني ځواک لباسي پروپاګند ته اړتيا نه لري! تر نن پورې د دغسې ځواک دوامداره نښې د ګڼ شـمېر انګرېزي پوځيانو خوسا کېدونکي مړي دي چې تر اوسه يې د خراسان کوچنۍ او لويې لارې بندې کړې دي.»[59]

د جولای په ټوله مياشـــت کې، د يرغملو د تبادلې په هکله څو ځلې د خبرو اترو هڅې وشـــوې. لمړی مکنزي او بيا لارنس جلال اباد ته ولېږل شـول چې له پالک سره يوې هوکړې ته ورسېږي، خو په پای کې خبرو څه پايله ورنه کړه. دوی دواړه بېرته په درناوي خپل اسارت ته لاړل ځکه چې له اکبرخان سره يې همداسې ژمنه کړې وه.
پاتېنګر يو ځانګړی ليک پالک ته ولېږه او د داسې هوکړې په هکله يې خبرداری ورکړ چې ټول انګرېز نارينه او ښځې ازاد کړل شي خو ګڼ شـمېر بې اسـرې سـپاهيان په افغانسـتان کې بند پرېښـودل شي. نوموړي ليکلي: «که چېرې موږ يوازې د يو څو انګرېزانو د ازادۍ له پاره پيسـې ولګوو؛ نو د انګرېزانو نوم او حيثيت به په هند کې د خپل رعيت او عسـکرو پر وړاندې زيانمن شي.»

په داسې حال کې چې په زرګونو بومي عسکر او په دوی پورې تړلي د کمپ ملکي خلک په دغه هېواد کې د مرييتوب حالت ته اړ ايستل شــوي، ډېر نور کم بخته چې خپلې پښـې، لاسـونه او يا د بدن نور غړي يې له لاســه ورکړي خپل ناځرګند پايښــت ته په دروېزه دوام ورکوي. که دغه خلک هم ازاد نه کړل شي او که چېرې ټول نه، خو ډېری يې په راتلونکي ژمي کې مړه شي؛ نو ما ته داسې ښـکاري چې حکومت به د ځان پر ضد کرکې ته لاره هواره کړي او که يوازې انګرېزان د پيسـو په بدل کې ازاد کړل شي، د ناښـنده پلوۍ تور به پرې ولګېږي.[60]

سـرېېره پر دې، د بند پاتې هنديانو حال ډېرې پاملرنې ته اړتيا لرله. د مرييو يو ســوداګر چې هغې کلا ته راغلی و چېرته چې يرغمل په کې ســاتل کېدل، مېرمن ســېل ته ويلي و چې «څلور ســوه هندوســتانيان په کابل کې په دې ډاډګېرنې بند پاتې دي چې جلال اباد ته به په خوندي توګه ورســول شــي... نارينه په شــپږ څلوېښــت او ښـځې په دوه ويشــت روپيو خرڅېږي». له ازبک ســوداګرو څخه چې د کابل په مارکېټ کې ډېری وو او د مرييو ســوداګري يې کوله، ډېره وېره کېده ځکه چې دوی په ځانګړي ډول عادتاً پر خپلو مرييو باندې بې رحمه او ظالم وو. کله چې جوســـايه هارلن د خلم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه تېر شـــو، د ازبکانو «شـــيطاني نوښـــتونه» يې بيان کړل او هغه دا چې ازبکانو به خپل يرغمل ســـم پر خپل زين ګنډلي وو: «چې يرغمل د دوی تر شا سم روان وي او شا ته پاتې نه شي، دوی به د اس د وېښتو يوه کوځۍ په يوه ستن کې چې چنګک غوندې کېږه وه پېودې وه او بيا به يې دغه کوځۍ د يرغملو په ګروي کې د ســـينې له هډوکي څو اېنچه لېرې تېره او غوټه کړې وه او بل ســر به يې له يوه پړي ســره غوټه او پړی به يې د اس پر زين تړلی و؛ نو لاس تر شـا تړلي بې اســـرې يرغمل به اړ وو چې د اس څنګ ته چټک روان وي.»[٦١] کله چې اکبر، پالک ته ګواښ وکړ چې که دی د کابل د بيا نيولو هڅه وکړي، د جګړې ټول انګرېز يرغمل به ســـمدلاســـه شـــمال ته ولېږل شـــي چې د مرييو په څېر د بخارا په مارکېټ کې خرڅ شي، يرغملو ته د اندېښنو له پاره يو بل ښه دليل پيدا شو.

خو له کابل څخه بهر په يوه کلا کې انګرېز يرغملو څه ناڅه په هوســـاينه کې ژوند کولو. دغه مهال اکبرخان واورېدل چې د پالک او ناټ پوځونو له دوه لوريو د ده د پلازمېنې په لور حرکت پيل کړی. د نوموړي تر ټولو نږدې متحد، محمد شاه خان غلزي دی وډومارو چې د کافرانو پر ضد د وروستۍ جګړې، مرګ يا ژوند له پاره تياري ونيسي. ده خپل زوم ته وويل: «دوی جګړه غواړي؛ نو د خپلو وينو تر وروســـتي څاڅکي ورســـره وجنګېږه. راځه چې دوی ټول نيســـت او نابود کړو»[٦٢] نو د جمعې په ورځ اکبرخان پر اس د پلچرخي جومات ته لاړ او له منبر څخه يې د انګرېزانو پر ضد د وروستي او پرېکنده جهاد له پاره له احساساتو څخه ډکه غوښتنه وکړه.

کله چې يرغملو د اګســـټ په پنځه ويشـــتمه شـــپه د خوب له پاره تابيا نيوله، دوی ته دغه بدمرغه خبر ورکړل شـــو چې ژرترژره به د شـمال په لور هندوکش ته ولېږدول شي. همغه شـپه د سـپوږمۍ په رڼا کې دوی ته امر وشـو چې خپل پاتې مالونه په هغه ټټوګانو او اوښـانو بار کړي چې اکبرخان ورلېږلي وو. ښځو ته د لمړي ځل له پاره وويل شـول چې افغاني بورکې واغوندي. مکنزي ســـخته تبه لرله او فکر يې کولو چې مړ کېږي. دی په يوه کجاوه کې چې د اوښ په يوه خوا کې تړل شـوې وه کښېنول شـو.[٦٣] دوی د کابل په لمن کې د بابر د مقبرې د دېوالونو له څنګه تېر او د کوهستان په لاره روان کړل شـــول او ورته وويل شـــول چې لمړنی منزل يې د شـــمال لوري ته د اکبرخان هغه کلا ده چې په باميانو کې د بودا لرغونې دره لاندې ورته پرته ده. دغه دره د بودا د مجسمو په لرلو نوموړه ده.[٦٤]

دوی يوې څلور سوه کسيزه اسوالي ډلې لېږدول. د دغه ډلې مشري د صالح محمد خان په نوم يو قزلباش اسوال افسر کوله. نوموړی د شـاه شـجاع په چوپړ کې و، خو کله چې دوســـت محمد په ۱۸۴۰ کال کې له بخارا څخه بېرته راغی، د شـاه شـجاع چوپړ يې پرېښـود او له دوست محمد سـره يوځای شـو. جورج لارنس او هيو جانسـن له همغه وخته لږ پېژنده او د ساتونکو په ډله کې پاټېنګر خپل لس پخواني عسکر چې له ده سره يې په ۱۸۳۸ کال کې د هرات د کلابندۍ په بهير کې مرســـته کړې وه، وليدل. په دوی کې حتی دوه هغه تورټوپکوال هم وو چې د اډې د کلابندۍ په وخت کې يې د انګرېزانو په پلوۍ لـه مکنزي ســـره څنګ په څنګ جګړه کوله.[٦٥] ټول، پاټېنګر، لارنس، جانســـن او مکنزي ژر د يو فرصت په شتون پوه شول او له دوی سره يې خبرې پيل کړې چې که له دوی څخه کوم يو رشوت اخيستلو ته څوبمن وي. په لمړيو کې دوی په ســـنګينۍ ځان ډډې ته کولو، خو کله چې د شـــمال په لور د کولو Kulu د بې رحمه غرونو په لړۍ کې د کاروانونو د تګ لوري په ســتغه لاره ختل او ورپسـې د هزاره ګانو د سـيمې په اوچتو چاودلو ځمکو کې روان وو او کله چې د پالک او ناټ د غوڅو بريااوو د راپورونو رارسېدل پيل شول، د دغه ساتونکو چلند بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو لمړی جانسن، صالح محمد ته خبره یاده کړه. نوموړی په دې هکله د اګسټ په ۲۵مه په خپل ژورنال کې داسې لیکلي:

صالح محمد یو خوش طبعه او خوشحاله انډیوال دی او له موږ غوندې کافرانو سره تعصب نه لري. نوموړی د پیسو عسکر دی او د یرغملو دومره پروا نه لري. دی څو میاشتې مخکې په بخارا کې د قاسم په اسارت کې و. زه ټوله لاره ورسره مل وم او د ده کیسو ته مې سات تېر و. دی په خپل اټکل یو لوی اتل دی. د اتلولۍ کیسې یې پای نه لري او زه د دوه دلیلونو له کبله ورته سم غوږ نیسم. لمړی دا چې زما سات تېرېږي او دویم دا چې زما په غوږ نیونه د درناوي او خوښۍ احساس کوي او زه هیله من یم چې په دې به د ځان د ګټې له پاره ترې کار واخیستی شم.

څو ورځې وروســته کله چې دوی دواړه یوازې ناســت وو، جانســن خبره ور یاده کړه. نوموړي لیکلي: «کله چې زموږ له قوماندان سـره زما اشـنایي ښــه ډېره شــوه، یوه ورځ چې موږ دواړه یوازې ناســت وو او زه ډاډه وم چې درېیم کس زما خبرې نه اوري او لکه څنګه چې زه نه پوهېدم چې غبرګون به یې څرنګه وي؛ نو په نیمه ټوکه او نیمه جدي بڼه مې ورته وویل چې موږ به د پیسو یو غر ورکړو که چېرې د بامیانو پر ځای موږ مخالف لوري ته د ناټ د پوځ په لور بوځي او په عین وخت کې مې په هند کې د خوندونو غورې ورته کولې چې که زموږ د ازادولو وروســـته دی هم هند ته د تګ ګروهنه پیدا کړي. لمړی زما په وړاندیز هک پک شـو.» ۶۶ خو دومره وخت تېر نه شـو چې نوموړي په وضاحت وویل چې «غواړي پوه شــي چې موږ د خپلې ازادۍ له پاره څه ته تیار یو» او له بندیانو یې غوښــتنه وکړه چې پرته له ټوکو ده ته خپل وړاندیز ورکړي.۶۷

کله چې دوی بامیانو ته ورسېدل، خبرو اترو دوام درلود. موهن لال چې تل د ښـه تدبیر څښـتن و، د دغه خبرو اترو له دوام سره یې مرسته وکړه. ده په کابل کې د خپلو قزلباشـو ملګرو په وسیله یو لږ له ژمنو ډک لیکونه یرغمل سـاتونکو ته ولېږل. وروســـته اکبر خان په یو لیک کې صـــالح محمد ته امر وکړ چې بندیان نور هم د شـــمال په لور، خلم ته وخوځوي؛ نو لارنس خپله بولۍ اوچته کړه او صـالح محمد ته یې د ۲۰۰۰۰ روپیو نغدې بیانې د سـملاسـي ورکړې او همدارنګه د نوموړي د ژوند تر پایه په میاشـــت کې د زرو روپیو د ورکړې وړاندیز وکړ. لکه څنګه چې عطا محمد لیکلي: «سره زر عجب شی دي: په لیدو یې سترګې خوښې مومي او غږ یې خپګان لیرې کوي»؛ نو دغه وړاندیز د صالح محمد پام ځانته واړولو او دې ته تیار شو چې یرغمل ازاد کړي.۶۸

د صـالح محمد په مرسـته، یرغملو په یوې اشـارې د هغه کلا کنټرول په خپل لاس کې واخیسـت چې دوی په کې سـاتل کېدل. بیا یې له خپلو پخوانیو سـاتونکو سـره د څلورو میاشـتو اضـافي تنخوا ژمنه وکړه که چېرې د کلا په دفاع کې د دوی تر ژغورنې ورسـره مرسـته وکړي. کله چې صـالح محمد د دفاع له پاره بندیانو ته ټوپک ورکړل، دوی چې اوس له څو میاشتو لټ اسارت وروسته بلاخره خپل برخلیک په خپل لاس کې درلود، دومره هک پک شـول چې اوس پیره دارۍ ته په رضا کاره توګه نه حاضرېدل. په دغه شېبه کې مېرمن سېل اوچته شوه چې وروسته یې په اړه داسې لیکلي: «زه په دې اند شـوم چې ښـایي سـړي د خپلې دندې په ترسـره کولو کې وېره ولري؛ نو لارنس ته مې وویل چې ما ته ټوپک راکړي چې د پیره دارۍ مشري زه وکړم.»۶۹

د مېرمن سـېل د څکو سـترګو لاندې ډېر وخت تېر نه و چې یرغملو دومره زړه پیدا کړ چې انګرېزي جنډه یې په لکړه کې ورکړه. پاټېنګر هم لکه په کوهسـتان کې د سیاسي اجنټ په توګه دنده پیل کړه او د څېرمه سـیمو ټولو مشـرانو ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلنه ورکړه چې د ده دربار ته ورشي او اعزازي جامې ترلاسه کړي. د سپټمبر په څوارلسم جانسن په خپله یادلیکچه کې لیکلي:

زموږ توطیه نوره هم په غوړېدو وه. له څو میلو شـاوخوا سـیمو څخه کابو ټول بانفوذه مشـران زموږ لیدلو ته راغلل...موږ ته یې د وفاداری ژمنې وکړې او د اړتیا په وخت کې یې د جنګیالیو د مرستــې ژمنه هم راســره وکړه. موږ نه پوهېدو چې زموږ پوځ څه کوي او چېرته دی، خو داسې مو ګڼل چې دوی به کابل ته نږدې شوي وي او ښایي له اکبرخان سره په جګړه بوخت وي؛ نو که همداسې وي، دا د حیرانتیا ځای نه دی چې ښـایي اکبرخان له پنځه، شپږ سـوه اسـوالو سـره هره شـېبه په دغه دره کې راښکاره شي. اوس موږ خپل ټول پام له کلا څخه د دفاع مضـبوطتیا ته اړولی او د مورچلو د غارونو مخې ته مو چې هر څه د لید مخنیوی کولو، لیرې کړل چې که چېری زموږ په کلا تېری وکړي، دوی ته تود هر کلی ووایو.[۷۰]

یوه اونۍ وروسـته، دغه پخواني یرغملو د مېړمن سـېل په مشـری، حتی له تېرېدونکو کاروانونو څخه د مالیې اخیسـتل پیل کړل.

سهار د وخته د سپټمبر په لومړۍ نېټه، د پالک له کمپ څخه بهر یو اسوال د پالک د یوې ځارونکې ډلې په لور مخامخ روان و. کله چې یو عسکر ودراوه، دغه اسوال خپل ځان د شاه فتح جنګ په نوم وروپېژانده.

د اګسـت په پای کې په بالاحصـار کې داسې ګنګوسې وې چې وروسـته له دې چې اکبرخان د سـدزویو د تاج دغه ځوان وارث په سرو اوسپنو داغي کړ، اوس یې د وژلو پلان جوړوي. د دغه اوازې په خپرېدو، د بالاحصار پخوانیو کارکوونکو د زندان په خاورین بام کې یو سـوری جوړ کړ او فتح جنګ یې د یو تونل له لارې چې د دېوال لاندې جوړ شـوی و، له کلا څخه وایســته او په چندولو کې یې د قزلباشـــو مېنې ته بوت. هلته اســونه تیار ورته زین شـــوي وو او نوموړي څلورویشت ساعته وروسته له جنرال پالک سره سباناری وکړ.[۷۱]

د هغه ویناوو پر بنسـټ چې فیض محمد په دې هکله کړې دي، دغه ځوان شــاه پر انګرېزانو تور ولګاوه چې د ده پلار یې یوازې پرېښـود او د دې غوښـتنه یې کوله چې انګرېزان باید په هغه ژمنه عمل وکړي چې د ده له کورنۍ سره یې کړې وه. داسې ګڼل کېږي چې فتح جنګ انګرېزانو ته دغه لاندې خبرې هم وکړې:

«انګرېزانو د افغانســـتان په اشـــغال کې بله موخه نه درلوده پرته له هغه څه چې د دوی په اند پایله به یې بلاخره دوی ته ګټوره وي. دوی هېڅ کله زما له پلار سره مرسته ونه کړه او حتی هېڅ پام یې ورته نه کولو... خو له دې سره سره، زه تر اوسه [درې اړخیزه] تړون ته چې زما د پلار او انګرېزي دولت تر منځ شوی، ځان ژمن ګڼم. زه اوس ځکه تاسې ته راغلی یم چې که تاسې په خپله ژمنه ولاړ یاست؛ نو له ما سـره به مرسـته وکړئ او د یرغل په موخه به د کابل په لور وخوځېږئ، او که نه، بیا زه هم انګرېزي دولت ته کومه ژمنتیا نه لرم او سـتاسې ځان غوښـتونکې موخې او بدنیتي به ټولو ته ښکاره شي.» جنرال پالک د فتح جنګ د خبرو په اورېدو د شـرم احساس وکړ؛ نو د متانت له وجې او چې د خلکو له شونډو پر انګرېزانو پورې تړلی بد نوم لیرې کړي، د ده مرستې ته تیار شو.[۷۲]

دا څرګنده نه ده چې د فتح جنګ او انګرېزانو تر منځ پورتنۍ خبرې شـــوې او که نه، خو پالک په رښـــتیا د فتح جنګ ښـه هر کلی وکړ او له پیل څخه یې داسې په ادب او درنښـت چلند ورسـره کولو لکه مېکناټن چې له شـاه شـجاع سـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې کاله مخکې هغه وخت کولو چې نوموړی په همدغه دره کې د خپل تخت د بيا نيولو له پاره روان و، خو په شخصي توګه، فتح جنګ د پالک خوښ نه و او په اړه يې داسې ليکلي: «دغه ناخوښ شهزاده ... په ښايسته بڼه ډنګر او د ښايسته ونګې څېښتن دی، خو په ماغزو کې د استعداد څه نه لري او نه په اخلاقو کې د درناوي وړ دی. په دې هکله زه د شاه هغه ګروهنې ته اشاره کوم کله چې په ۱۸۳۹ – ۱۸۴۰مو کلونو کې يې په کندهار کې دنده درلوده.«نوموړي کله کله د چوڼۍ پر عسکرو جنسي تېری کولو.»»[٧٣] پالک دا هم ليکلي چې ده په لوی لاس له شاه څخه دغه حقيقت پټ کړ چې دوی به له کابل څخه وروسته له دې ووځي چې خپلو هغه محدودو موخو ته ورسېږي چې اېلنبوره ورته ټاکلې وې: د اکبرخان ماتول، د جنګي بنديانو او يرغملو ازادول، د دومره سپاهيانو موندل چې څومره يې شونتيا وي او افغان قبيلو ته د انګرېزانو په اند د دوی د خيانت په بدل کې د جزا ورکول.[٧۴]

يوه اونۍ وروسته د سپټمبر په اتمه، د پالک ځواکونه پر کابل باندې د يرغل له پاره وروستي مزل ته چمتو وو؛ نو له جګدلک څخه يې د تېزين غاښي د خولې په لور حرکت وکړ. د غونډيو له سر څخه پر دوی ډزې د ورځې له تېربدو سره سمې ډېرېدې. که څه هم پالک په شااوخو ټولو لوړو کې څارونکې ډلې ځای پر ځای کړې وې، خو کله چې تياره خوره شوه، د تور ټوپکو غيبي ګولۍ د انګرېزي ځواکونو پر کمپ ورېدې. لمړی بريدمن ګرين ووډ ليکلي: «عسکر بېر ته راوغوښتل او تيارسئ وساتل شول. دښمن په دوامداره توګه زموږ پر کمپ له هغه لوړو څخه ډزې کولې چې زموږ په کنټرول کې نه وې او د دوی ګولۍ لکه ګلۍ زموږ د خېمو په منځ کې ورېدلې. د غونډيو اړخونه زموږ د عسکرو د دان پوړو او د دښمن د تور ټوپکو د ډزو له څرک څخه رڼا وو.»[٧۵] سبا سهار په سپېدو کې، د پالک د څارنې مخکښې ډلې خبر ورکړ چې د محمد شاه خان غلزي او امين الله خان لوګري په ملاتړ، اکبرخان په خرد کابل کې له خپلو جوړو کړو مورچلونو څخه له ۱۶۰۰۰ عسکرو سره په دغه لور خوځېدلی او اوس له دوی څخه لږ وړاندې د تېزين په لوړو کې دی.

پالک خپل ځواکونه په درې ډلو ووېشل. هغه ډلې چې له برسکاټلنډيانو او په اوږدو جامو پټ له افغان تورټوپکوالو څخه جوړې شوې وې، د غاښي په دواړو ارغاړو يې پورته ختل پيل کړل او د غاښي په بېخ کې، د سېل تر قوماندې لاندې توپچي او د اسوالو مخکښه ډله په احتياط وړاندې روان شول. ګرين ووډ ليکلي: «موږ په ډله ييزه بڼه مخته روان وو، خو په هېڅ لوري کې مو د دښمن د شتون څه نښې نښانې ونه ليدې. کله چې څه ناڅه دوه ميله تنګي ته ننوتلو، ناڅاپه د لوړو له دواړو خواوو څخه يوه اوږده لمبه خوره شوه او ګڼ شمېر ګوليو زموږ د سرونو شاوخوا ته په شپېلي او بزاري تېرې شوې. غونډۍ د دښمن له ليکو ډکې وې او پر موږ يې ډېرې درنې ډزې پيل کړې.» [٧۶] په دغه ځای کې يو له هغه کسانو څخه چې نږدې مړ شوی و، ډاکټر برايډن و چې د لوا د ډاکټر په توګه يې خپله دنده بيا پيل کړې وه. «دی د بانس پر يو تير چې ډولۍ پرې وړل کېده ناست و کله چې د دښمن يوه شپېړ پونډه ګولۍ ولګېده او بانس يې په پرخچو بدل کړ، خو دی هېڅ ټپي نه شو.»[٧٧]

د تېر ځل برعکس چې برايډن له خپلو همکارانو سره چې سترګې يې واورې وړې وې او په دغه غاښي کې نکوښېده، دا ځل د پالک عسکرو چمتووالی درلود. ابټ د توپ ډزې پيل کړې او په عين وخت کې «سېر رابرټ [سېل] ديارلسمې لوا ته امر وکړ چې ښي لوري ته پر لوړو وخېژي او پر دښمن يرغل وکړي او نهمې او يودېرشمې لوا ته يې د کيڼ لوري پر لوړو د ختلو امر وکړ.» دا هغه څه وو چې ګرين ووډ بيان کړي او نوموړی زياتوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



موړ په بېړه او سربداله پورته ختلو. غونډۍ داسې ډېره لوړه او ستغه وه چې سړی په اسانۍ نه شواى ختلى، خو د دښمن ډزو زموږ ختل ګرندي کړل او په لنډ وخت کې دوی ته وررسېدو. د دښمن ډزې بيخي ډېرې وې او زموږ په منځ کې ګولۍ له هر لوري په شپېلي تېرېدې او هاخوا دېخوا لګېدې. دښمنان بېشمېره ډېر وو او داسې ښکارېدل چې دوی د خپل ژوند تر وروستۍ شېبې له غونډۍ څخه د دفاع هوډ درلود، خو کله چې زموږ سړي د غونډۍ سر ته ورسېدل او په خپلو ټوپکو کې يې برچې ورکړې او بيا يې په لوړه چيغه د هورا په ويلو پر دښــمن ورمنډه کړې... افغانانو د جګړې چيغې «يا الله يا الله» پيل کړې او په داســې حال کې چې موږ يې په بېلابېلو ښايسته نومونو لکه سپيو، کافرانو او داسې نورو نومولو، زموږ په لور رانږدې کېدل او موږ ته يې ډاډ راکولو چې هېڅ کله به کابل ته ونه رسېږو. د کپتان براډ فوټ عسکرو دوی ته همدې ته ورته سپکې سپورې ويلې.[۷۸]

کله چې افغانان د خپلو مورچلو پرېښــودلو ته اړ ايســتل شــول، د ســېل په قومانده، انګرېزي پوځيانو د موړې په اوږدو کې افغانان څوکه په څوکه په غونډيو کې ځغلول. په عين وخت کې د غونډيو په بېخ کې اســوالو د اکبر خان پر توپونو يرغل وکړ. دا هغه توپونه وو چې نوموړي د الفنسټون له ځواکونو نيولي وو او اوس يې توپچيان هغه سپاهيان وو چې د خپل بخت ازمويلو له پاره اکبرخان ته ور اوښــتي وو. کله چې اســوال ورنږدې شــول، دغه بدبخته تښــتېدلي ســپاهيان ســمدلاســه «ووژل شــول».[۷۹] جګړې ټوله ورځ دوام وکړ. افغانانو په ډېره زړورتيا خپل مقاومت ته دوام ورکولو او حتی يو انچ هم نه شاته کېدل. بلاخره انګرېزي پوځ پر دوی برلاسی شـو او د برچو په زور له هرې پرله پسې څوکې څخه وشړل شـول. ماسپښـين ناوخته، انګرېزانو د ټولو غونډيو څوکې ونيولې او د اکبرخان سـړيو ته بله چاره پاتې نه شـوه پرته له دې چې شـاته شي او په داسې حال کې وتښتي چې دوی مخته او د دوی مشـر او نور غلزي مشـران په دوام داره توګه ورپســې روان وو. د دوی ماته دومره بشــپړه وه چې ســبا ته انګرېزان د خردکابل په لا ډېرو لوړو او ستغو لارو کې داسې تېر شول چې حتی يو ډز ته هم اړ نه شول.

د سـپټمبر د پنځلســمې په ماښــام د پالک ســتومانه پوځ بلاخره کابل ته ننوت، خو اوس د اکبرخان په ګډون کابو ټول وګړي له ښار څخه تښتېدلي وو. په دغه شپه، انګرېزانو د اس د ځغاستې په هغه ډګر کې واړول چې درې کاله مخکې د مېکناټن په امر جوړ شــوی و. په راتلونکې ورځ کې فتح جنګ په بالاحصــار کې پر تخت کښــېنول شــو، خو دا ځل د بالاحصار د بيرغ پر لکنه د انګرېزانو توغ ورپېد.

ناټ او د کندهار پوځ يې دوه ورځې وروسـته کابل ته ورسـېدل او د سـپټمبر په يوويشـتم، انګرېزانو ته په کابل کې خبر ورســېد چې د جګړې ۱۲۰ يرغمل هم راروان دي.* پالک د خپل يو ځوان افســر، ســېر رېچمانډ شــېکســپير Sir Richmond Shakespeare په مشــرۍ ۶۰۰ قزلباش اســوال د دوی د موندلو له پاره ولېږل. دغه افســر خبر نه و چې يرغملو په خپله ځان ازاد کړی؛ نو کله يې چې دوی وليدل چې د زندان د ســاتونکو تر ســاتنې لاندې د ده په لور ډاډمن روان دي ، نوموړی هک پک شـو. ورپسې د خوښۍ او خوشحالۍ چيغې پورته شوې «موږ وژغورل شوو» خو يوازې يو کس ناراضه ښکارېدلو. د دغه کس په اړه مېرمن سېل داسې ليکلي: «جنرال شلټن د يو لوړپوړي افسـر په توګه دا نه هېرول چې بايد درناوی ورته وشي. کله چې سېر رېچمانډ پر ده باندې تر ټولو لمړی غږ ونه کړ او د ده د رارسېدنې راپور يې په مناسبه بڼه تېر نه کړ، سخت د سپکاوي احساس يې وکړ.»[۸۰] مکنزي له ډېرې تبې مغشوش او دومره ډېر ناروغه

---

* قزلباش د يرغملو د ازادولو په خبرو اترو کې انګرېزانو ته ډېر ګټور وو او د يرغملو د ازادۍ له پاره يې د رشــوت د اړينو پيســو په برابرولو کې مرســته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و چې له ځمکې اوچتېدی نه شــوی او کله چې ورته وویل شــول چې وژغورل شــول یوازې «اه» یې وکړل: «او کله یې چې سـېر رېچمانډ او صـالح محمد ولیدل چې یو بل ته خپلې لونګۍ ورکوي، یوازې یوه لته پوښـتنه یې په سـر کې وګرځېده چې داسې یو ښاغلي لکه رېچمانډ ته په کټو سره چې د یو داسې کرغېړن کس لکه صالح محمد سره راکړه ورکړه کوي؛ نو د شېکسپیر به هم له داسې چټلیو سره سروکار و او کنه.»[81]

یوه ورځ مخکې له دې چې یرغمل کابل ته ورسـېږي، جنرال سـېل د شـمال په لور د دوی مخې ته د سـتړي مشـي له پاره ورغی. مېرمن سـېل چې کابو یو کال خپل مېړه نه و لیدلی، د بیا لېدو په هکله یې داسې لیکلي: «دا موږ ته ناشـونې ده چې د ده د راتګ په هکله خپل احساسات په سمه توګه بیان کړو. ما او لور ته مې د خوښۍ راتګ دومره ډېر ځنډنی شوی و چې د ده لیدل په نابېره توګه راته دردمن شــول او سـتوني مو داسـې ډک شــول چې په ژړا یې راحت نه موندلو.»[82] مکنزي چې تر اوسه تبه لرله په تیندک جنرال ته ورغی او ورته ویې ویل: ««تاسې ته مبارکي وایم جنراله!» دغه زړور بوډا ده ته مخ واړولو او د ځواب هڅه یې وکړه، خو احسـاسـاتو یې پرې غلبه وکړه. د مخ ونګه یې پرله پسې تروشـه او تروه کېده، بیا یې اس ته چوکه ورکړه او په چارګام له دې ځایه چټک لاړ.»[83]

کله چې د جګړې یرغمل کابل ته ورسـېدل، دوی ته د توپ پر یوویشـتو ډزو هرکلی وویل شــو او کمپ ته د ننوتلو په حال کې په کتار کې ولاړ پلي عسـکرو دوی ټولو ته د خوښـۍ نارې وهلې. اېنسـېن ګرېنول سـتیپلټن Ensign Greville Stapylton وایي: «دوی یوه خارق العاده بڼه خپله کړې وه. ټولو اوږدې ږیرې او برېت پرېښـي وو او افغاني جامې یې پر تن وې. خلکو په سختۍ خپل ملګري په کې پېژندل.»[84]

کسـاتي پوځ په کابل کې یوازې دوه اونۍ پاتې شـو. عسـکرو لمړۍ څو ورځې د کابل له باغونو څخه د تازه انګورو او مېوو خوړلو په مشـغولا او د ښـار په لیدلو تېرې کړې او ډېری هغه ځایونو ته لاړل چې تېر کال ظلمونه او وژنې په کې شـوې وې. هغه چا چې کابل د اشـغال په وخت کې لیدلی و، اوس یې په لیدو حیران شـول. انځورګر جېمز رټري لیکلي: «زما په نه شـتون کې ډېر ناوړه بدلونونه راغلي وو. بشـپړ ویجاړ کورونه او تور دېوالونه مې تر سـترګو شـول. هېڅوک نه ښکاره کېدل. خلکو ښـار پرېښـی و، هسـتوګنځي یې تش او تیاره وو. موږ په واټونو کې پر اس سـپاره روان وو خو هېڅوک مو ونه لیدل او پرته د یو بې ځېښـتنه سـپي له انګولا څخه، چې ښـایي انګرېزي وینې یې څکلي وې، بل هېڅ غږ مو تر غوږ نه شـو. زموږ د نیولي غږ او «اسـونو د کوښـو انعکاس» د تړلي بازار په اوږدو کوڅو کې خورېدلو.»[85] په ۱۸۳۹ کال کې نوېل چېمبرلېن د وروسـتي ځل له پاره د برنز کور ته د کرېسـمس په مېلمسـتیا کې د ګډون له پاره تللی و. په دغه مېلمستیا کې برنز د بر سکاټلند جامې اغوستې وې او په خپله سکاټلندي لمن کې یې د مېز پر سر سکاټلندي نڅا وکړه. اوس یې د اور لمبو کور له خاورو سـره یو کړی و او سـوځېدلي او تور بنسـټونه یې خلکو د خزانې د موندلو له پاره کیندلي وو. چمبرلېن په خپل ژورنال کې لیکلي: «د سـېر الکسـاندر کور چې ما ډېرې د خوښۍ شـېبې په کې تېرې کړې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کنډواله بدل شــوی و او اډه چې ډېرې پيســې مو پرې لګولې وې، ټوله ويجاړه پرته وه. هلته نه يو کور، نه يو بارک او نه کومه ونه پاتې وه.»[۸۶]

هيو جانس لا ډېر هک پک و او وروسته له دې چې کابل ته بيا لاړ، په خپل ژورنال کې يې سمدلاسه داسې وليکل: «کله چې د خپل پخواني کور د کوڅې په ګوټ کې تېرېدم، و مې نه شو کړی چې پرته له ليدو يې بېرته لاړ شم. که څه هم زه په دې تمه وم چې د ټول کور بامونه به نړېدلي وي، خو داسې يوې بشپړې ورانۍ ته تيار نه وم. نه زما د کور او نه زما د کور څنګ ته د سېر الکساندر برنز د کور يوه خښته پر بله ابنې پاتې وه. پرته د خټلو او خاورو له کوټې څخه چې زموږ د کم بخته خلکو مړي يې لاندې پراته وو، بل څه نه ليدل کېدل. د ســېر الکســـاندر د حويلۍ په انګړ کې هغه ځای هم راوښودل شـو چې دی په کې ښخ و. روح يې دې ارامه وي!»[۸۷]

خو د ګوډو او ماتو سـپاهيانو ليدنه ډېره زړه دردوونکې وه. دوی د کابل په واټونو کې په سـوال او دروېزه له سـاړه ژمي ژوندي وتلي وو. هغه افسران چې ډېر راستمن وو د خپلو غونډونو د سپاهيانو په راټولولو کې يې هڅې پيل کړې: په دې هڅه کې لمړی بريدمن جان هاټن، هغه څوک چې له پاټينګر سـره يوځای له چاريکاره تښـتېدلی و، تر ټولو بريالی و. دی چې د کابل په پټيو، کوڅو او د مړيو په مارکېټ کې د دوی په لټون کې و، لږترلږه ۱۶۵ ګورخه يې پيدا کړل او په دوی کې يې ډېری حتی له مريتوبه ازاد کړل.

په دې بهير کې دا جوته شـــوه چې په ټوله کې شـــاوخوا ۲۰۰۰ ســـپاهيان او د کمپ ملکيان ژوندي پاتې وو. دوی ټول راغونډ کړل شـول او دوه افسـران ورته وګمارل شـول چې د دوی د درملنې چارې مخته يوسي. په دې بهير کې د ځينو د بدن غړي هم پرې کړل شـول.[۸۸]

د هغه زرګونو انګرېزانو او هندوستانيانو د خښولو له پاره هم ډلې وګمارل شـوې چې تر اوسـه يې مړي په ښـار کې هر ځای پراته وو. لکه څنګه چې موهن لال ويلي: «دوی موږ ته چيغې وهې چې غچ يې واخلو.»[۸۹] دومره وخت نه و تېر چې عسـکرو پر پالک زور واچولو چې د کابل خلکو ته په جزا ورکولو خپل ځواک څرګند کړي. پالک هم همدا غوښـتل او دومره ډومارنې ته يې اړتيا نه لرله.

اکبرخان له ماتې وروسـته د شـمال په لور خلم ته تښـتېدلی و او هلته د انګرېزانو لاس نه شـوی ور رسـېدی، خو امين الله خان لوګري او قوميانو يې د پروان له غازيانو ســره يو ځای پرېکړه کړې وه چې له کابل څخه يوازې پنځه دېرش ميله د شمال خواته د مېلو او چکر په سيمه، استالف کې خپله دفاع مضبوطه کړي.

په افغانسـتان کې اسـتالف يو له هغه ځايونو څخه و چې په ښـايســت کې يې تل نوم درلود - په شــپاړســمه پېړۍ کې امپراتور بابر په دغه ځای مين شـــو او په خپل دوبني هســـتوګنځي او د ګلابو په بڼ کې به يې د واين مېلمســـتياوې جوړولې. درې ســـوه کاله وروســـته، برنز به همدغه ځای ته راتلو او د کابل له ديپلوماتيکې پېچلتياوو څخه به يې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمه کوله. د بدړ او غوز ونو سرېږه، دغه سيمې «تر ټولو ډېر حاصلخيز د انګورو او نورو مېوو باغونه» لرل. له غره څخه د بهانده اوبو ويالې يې له کبانو ډکې وې. پالک د غچ اخيستلو له پاره همدغه ځای ته پام واړولو.
کله چې د نوموړي پوځ له کابل څخه د شـــمالي په هوارو کې د انګور باغونو په منځ کې تېرېده، لکه له دوی څخه مخکې چې ډېرو يون کوونکو پر دغه ځای زړه بايللی و، د عســکرو زړه هم په غونډۍ کې د ښــارګوټي شــاوخوا ته د رڼو اوبو ويالو او شـنو پټيو يووړلو، خو سـره له دې يې دغه ځای وران ويجاړ کړ. ښـارګوټی يې کلابند کړ، بيا يې بريد ورباندې وکړ او ورپسـې يې په سـيسـتماتيکه توګه لوټ او تالا کړ. کله چې پوځيانو پنځه سـوه مرييتوب ته اړ ايسـتل شـوي سپاهيان وموندل چې په ربړن وضعيت کې په ځنځيرونو تړلې په تلخونو کې ساتل کېدل، دوی په ډلو ډلو ټپي افغانان راغونډ کړل او بيا يې «د خپلو قربانيانو د کتان جامو ته اور واچاوه» او ژوندي يې وسـوځول. بيا يې د اسـتالف ښـځې په خپل منځ کې د کمسايي د دانې په اچولو ووېشلې.[۹۰]
د نوېل چمبرلېن اسوال د شاتنۍ ساتونکې ډلې يوه برخه وو. کله چې نوموړی هلته ورسېد، خپل د سترګو ليدلی حال يې داسې بيان کړې:

د دغه صحنې ليدنه له بيان څخه وتلې خبره ده... کېږدۍ، بکسونه او هر شی په لارو کې او د هغه کم بختو مړيو څنګ ته پراته وو چې له دې ځای څخه يې په تګ کې ځنډ کړی و او يا يې په زړورتيا تېښـتې ته مخه نه وه کړې او نه يې غوښـتل چې ښـځينه او ماشـومان يې مخکې له دې چې دوی يې په دفاع کې ځانونه قربان کړي، زموږ لاس ته ولوېږي. لکه څنګه چې پوهېږئ، له څوارلس کلنو څخه پورته خلکو باندې دريغ ونه شـو... څو کسـه زما پر وړاندې ووژل شـول، کله کله به ځينې يوازې ټپيان وو او په دويمه ګولۍ به ووژل شـول... ځينې پوځيانو (په بنه کې نه، خو په زړه کې بې رحمه خونکارانو) غوښـــتل چې له ښـځو غچ واخلي...له دغه بريد څخه مخکې، د کابل په لور زموږ د پرمختګ له خبرېدو سره سم، د کابل د مالونو لويه برخه او د غټو مشرانو ښځينه مخکې له مخکې استالف ته لېږدول شوي وو ځکه چې افغانانو دغه ځای نه ماتېدونکی ګڼلو... د تاړاک صحنې هيبتناکه وې. هر کور له انګرېزي او بومي عسکرو ډک و او په حويليو کې د ننه يې هر څه په بشـپړ ډول له خاورو سـره برابر کړي وو. سـامان، اسـباب، کالي او په کورونو کې چې هر څه وو ټول لارو کوڅو ته غورځول شـوي وو... ځينو وسـلې واخيسـتې، ځينو ګاڼې او ځينو کتابونه... کله چې عسـکرو خپل زړه تش کړ، د کمپ ملکيانو ته وار ورســـېد او دوی د ورانونې او ويجاړونې کار بشـــپړ کړ... عســـکرو ته دغه ټوله ورځ دنده ورکړل شـــوې وه چې ښــــار وسوځوي او عسکرو او د کمپ ملکيانو هر هغه څه اخيستل چې د لرلو ارزښت يې درلود.

پر نوېل چمبرلېن باندې د استالف د بېګناه ښځو او ماشومانو ربړو ډېر سخت اغېز وکړ:

کله مو چې ښـار نيولو، ما يو ټنډ مخې کوچنۍ ماشـوم په لاره کې ناسـت وليد چې داسې يې ژړل لکه زړه يې چې پرک چوي. دغه خوراکی يوازې پرېښــودل شـوی و او يا د ډېرې بيړې له کبله له مور او پلار څخه يې پاتې شـوی و... په يو بل ځای کې مې د يوې بوډۍ ښـځې په ليدو چې مړه پرته وه سـخت ټکان وخوړلو. د دې له څنګ سـره يو د درېيو- څلورو مياشـتو ژوندی ماشـوم هم پروت و، خو دواړه ورنونه يې په ګوليو سوري او ځيري وو. دی کمپ ته ولېږدول شـو، خو ځورېدنې ته يې مرګ ډېر ژر د پای ټکی کېښـود. لړ وړاندې يوه بله ښـځه له خپل ټپ څخه نالېده او ټوله شـپه يې پرته له سـرپناه څخه هملته تېره کړې وه؛ يو ماشـوم يې کلک په غېږ کې نيولی و او داســې برېښـــېدل چې د خپلو دردونو په زياتېدو يې په ماشـــوم باندې عاطفه ډېرېده... په لاره کې د زړو او وړو، بډايو او بېوزلو مړي پراته وو... کله چې زه خپه او زړه توری بېرته کمپ ته تلم، يوه ډنګره بوډۍ مې ولېده چې له خپل پټنځای څخه په دې خيال راپورته شـوې وه چې موږ د وخته بېرته تللي يو. نوموړې په سختۍ د يوې وړې ويالې په لور روانه وه چې خپله تنده ماته کړي... ما يې کوزه ورته ډکه کړه، خو په بدل کې يې يوازې دغه راته وويل: «په پرنګيانو د لعنت وي!» زه په داسې حال کې بېرته کمپ ته لاړم چې له خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان، نږۍ او اکاړ مسلک څخه مې کرکه پیدا کړه. په حقیقت کې موږ له جواز لرونکو وژونکو څخه پرته بل هېڅ څه نه یو.[۹۱]

کساتې پوځ په استالف کې له غرونو ښکته شو او د ولایت مرکز، چاریکار یې لوټ او وسوځولو. دا هغه ځای و چې یو کال مخکې پاټېنګر او هاټن له خپلو ګورخه پوځیانو ســره کلابند پاتې وو. په تاریخ ســلطاني کې ســلطان محمد دراني داسې لیکلي: «کساتي پوځ ټولې ولسوالۍ ته اور ورته کړ.» او بیا د لوټ له مال سره «بېرته کابل ته روان شو.»[۹۲]

کله چې بېرته کابل ته ورسـېدل، دوی پوه شـول چې په کابل کې د دوی پاتې همکاران هم کرار نه وو ناسـت: د براډفوټ عسکرو د لوی سرپټي او څلور پوړېزه یا چار چته بازار په طاق کې چاودېدونکي توکي ایښي وو. دغه بازار د شـاه جهان په واکمنۍ کې جوړ شــوی و او نه یوازې یې د مغلو د اعلی مهندســۍ د عجایبو په توګه نوم درلود بلکې په ټوله منځنۍ اسیا کې یوه تر ټولو ښه ودانۍ هم وه. ځینې خلکو ویلي چې دغه ښکلې ودانۍ چې په زره پورې کاشي کاري شوې وه او د لرګي ګومبزې چتونه یې نقاشي شـوي وو، په افغانسـتان کې یوازېنۍ تر ټولو ښـایسـته ودانۍ وه، خو پالک یې د ورانولو هوډ کړی و ځکه چې په همدغه ځای کې د مېکناټن مړی په چنګک کې د سـپکاوي له پاره ځړول شــوی و. مېرزا عطا د دې ودانۍ ورانول د انګرېزانو د کمزورتیا او دوه مخۍ یوه بله نښــه ګڼلې: «کله چې انګرېزان کابل ته ننوتل، د شــانداره څلورپوړیزه بازار په ګڼون یې د ښــار لویې ودانۍ په توپونو ورانې کړې. هغه متل دی چې وایي: «په اوښ یې زور نه رســېده، په خره باندې بار کجاوې ته یې لرګي ونیول! »»[۹۳] دغه ورانونې د جګړې یو له هغه تناقضــاتو څخه وې چې انګرېزانو په لمړي ســر کې برنز د خپلو ګټو او ســوداګرۍ د پراختیا له پاره اباســین ته لېږلی و، خو اوس له دغه ناورین څخه ډک داستان وروستۍ پېښـه په دې سیمه کې د سوداګرۍ د اصلي مرکز کساتي ورانونه وه؛[۹۴] نو په اباسین کې د بېړۍ چلولو له بریده وتلې ســتایل شــوې طرحه هېڅ شــوه او اوس مخکې له دې چې انګرېزان د ســوتلېج بلې غاړې ته بېرته لاړ شي، په منځنۍ اسیا کې یې تر ټولو لوی مارکېټ له خاورو سره برابر کړ.

لکه په استالف کې، د لوی بازار ورانونې په کابل کې لوټمارېو، وژنو او جنسي تېریو ته لاره هواره کړه. چمبرلېن وروسته له دې چې په اووم د اکتوبر بېرته کابل ته لاړ، داسې لیکلي: «د کندهار او جلال اباد د اډو پوځیان او ملکیان په ښار کې په تالا بوخت وو. هر ځای، دلته او هلته، د لوګي تورو لوخړو د مشــرانو د کورونو د ســوځېدنې څرګندونې کولې... همدارنګه، د ښــار یوه برخه هم په لمبو کې وه.»[۹۵] دغه لمبې هسې تصادفي نه وې. په دې هکله لمړی بریدمن ګرین ووډ لیکلي: «کله مو چې په کابل کې شـاوخوا دوه اونۍ تېرې کړې، یو ماښام [موږ ته] امر وشـو چې سبا ښار ته د تګ له پاره چمتو اوسو. د تګ موخه راته ونه ویل شـوه، خو موږ ښه پوهېدو چې هلته به څه کوو او په دې اړه زموږ اټکل سـم وخوت. سـبا ته مو ټول اصـلي چوکونه او بازارونه والوزول او په ښـار کې مو ډېرو ځایونو ته اور واچولو. کورونه مو هم په ډېر لږ وخت کې وران کړل او کالي، د ســان جامي، پوســتینچې، برســتنې او د اغوســتلو هر څه مو بهر راویستل او له منځه مو یوړل... زموږ ځینې سرېو یو شمېر د سیسي او نورو غوښـو سرتېرلي انګرېزي کوتي پیدا کړل او ځانونه یې ښه پرې ماړه کړل... »

دغه ویجاړونې د تیارې تر خورېدو او د پوځیانو تر ستومانۍ پورې دوام وکړ:

له اور او لوګي څخه زموږ ډېر پوځیان داسې ښکارېدل لکه مګ پاکي. په راتلونکو ورځو کې نورې ډلې ښار ته ولېږل شوې چې په پای کې پرته له بالاحصار او د قزلباشو له مېنې څخه ټول کابل په بشپړ ډول وران او سوځول شوي و... ټول کورونه له وچو لرګیو جوړ شوي وو؛ نو کله به یې چې اور واخیست، بیا یې ژغورنه ناشـونې وه. اور لګونو تر هغه وخته چې موږ په څېرمه سیمه کې وو دوام درلود... یو لوی جومات چې افغانانو د الفنستون پر پوځ باندې د بریا په ویاړ جوړ کړی و، والوزول او ویجاړ کړل شو.[۹۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ګرین ووډ دغه د خوښۍ څرګندونې د هغه څه په اړه وضاحت نه ورکوي چې د خپلو فرضي دښمنانو د تشو هتيو او کورونو د نړولو سربېره، انګرېزي لوټمار پوځ داسې کړنې ترسره کړې چې هغوی ته په اوسني وخت کې د خپلو قزلباشو او هندو متحدينو پر ضد د جنګي جرمونو نوم ورکول کېږي. بې اړنګه، د کابل هندي سوداګرو سوله منه ټولنه په پېړيو د راز راز افغان واکمنانو له لوري د پيسو د ترلاسه کولو په موخه خپل سري نيونې او شکنجې ګاللې وې، خو بيا هم تر اوسه په کابل کې پاتې وو او اوس يوازې په اته ځلوېښتو ساعتو کې انګرېزي لوټوماری دوی پوپناه کړل. لکه څنګه چې په دې هکله يوې رسمي پلټنې اعتراف کړی: «له بده مرغه په کابل کې له ډېر تشدد څخه کاراخيستنه رښتيا ده.» اګستس ابټ وروسته اېلېنبوره ته داسې اقرار وکړ:

مخکې له دې چې موږ ور ورسېږو، ټولو افغانانو ښار پرېښی و او يوازې هندوان او پارسيان هلته پاتې وو. هندوانو چې زموږ د کابل پوځ له تباهۍ څخه وروسته يې لوی خطر پر ځان منلی و او زموږ په سلګونو کم بخته عسکرو ته يې ډوډۍ او پناه ورکړې وه، په طبعي توګه تمه درلوده چې موږ به يې ساتنه وکړو؛ نو دوی په خپله مېنه کې په بشپړه توګه له خپلو کورنيو او شتمنيو سره پاتې شوي وو. پارسيانو [قزلباشو] زموږ د يرغمل افسرانو او عسکرو په موندلو کې راسره مرسته کړې وه؛ نو دوی ته هم د دوستانو په سترګه کتل کېدل، خو د هندوانو د سيمې په پرتله، چندول چې قزلباش په کې اوسېدل دومره کمزورې مېنه نه وه چې له امر څخه د يوې سرغړوونکې ډلې تر خطر لاندې وي. لږ لنډ وخت وروسته، د ۱۸۴۲ کال د اکتوبر په نهمه، يوه ډله انجنيران ووتل چې د ښار ماركېټ وران کړي. په پوځي کمپ کې داسې يوه عمومي انګېرنه رامنځته شوې وه چې کابل به چور ته پرېښودل شي؛ نو سپاهيان، ډېر اروپايي عسکر او په زرګونو د کمپ ملکيان د ښار په لور وخوځېدل او ښار ته چې نيمګړي دېوالونه ترې چاپېر وو، پرته له کومې ستونزې ننوتل. هغه عسکر چې د انجنيرانو د ساتنې له پاره لېږل شوي وو، د ښار په يوه يا دوو دروازو او همدار راز مارکېټ ته نږدې په يو ځای کې غونډ شوي وو؛ نو دوی له هغه تاوتريخوالي څخه هېڅ خبر نه وو چې د هندوانو په مېنه کې ترسره کېده. هلته، د کورونو دروازې ماتې کړل شوې، په ښځو جنسي تېري وشول، شتمنۍ په زور لوټ او مالکان يې لکه سپي په ډزو وويشتل شول... [۹۷]

هنري لارېنسن، هغه سړی چې په ۱۸۳۷ کال کې يې د افغانستان پولې ته څېرمه د وېتکېويچ په ليدو سره د جګړې لمړنيو ګامونو ته لاره هواره کړې وه او تر دغه وخته يې د انګرېزي واکمنۍ پر مهربانۍ باور درلود، د کابل د اشغال په وروستيو ورځو کې د انګرېزي ځواک داسې سپکې ځان ښودنې يې سخته کرکه وپاروله. نوموړي په خپل ژورنال کې داسې ليکلي:

ګڼ شمېر خلک بېرته کابل ته راغلل ځکه چې زموږ د ساتنې په ژمنو يې تکيه کړې وه. ډېرو يې خپلې هڅې بېرته پرانيستلې، خو اوس دغه خلک له خاورو سره برابر کړل شول. مال يې تالا شو او د دوی مخته يې کورونه وسوځول شول. هندوانو، چې شمېر يې څه نا څه ۵۰۰ کورنيو ته رسېدلو، هر څه له لاسه ورکړل او دې ته اړ شول چې په زاريو زموږ د پوځ تر شاه هند ته ستانه شي. چندول هم نږدې د همدغسې برخليک سره مخ شوی و. که چېرې غلام خانې [د قزلباشو د مېنې خاص ساتونکي] وسلې ته لاس نه وی اچولی او د خپل ژوند تر پايه يې له خپلې شتمنۍ څخه د دفاع هوډ نه درلودی، نو زموږ لوټماران به د دوی په لور هم ورغلي وی.[۹۸]

ناټ هم په همدې کچه ناهيلی شوی و. ده په نهم د اکتوبر ليکلي: «پرته له دې چې د افغانانو او د ټولې نړۍ د خندا وړ شوو، زه بيخي نه پوهېږم چې موږ د څه له پاره دلته پاتې يوو.»[۹۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکتوبر په لسـم سـهار، انګرېزانو د ژمي لمړنۍ واوره ولېده چې د کابل غونډۍ یې ګردجنې کړې وې. اوس یې چې کابو ټول ښـار سوځولی و، پالک په همدغه سهار امر وکړ چې دوې ورځې وروسته به له افغانستان څخه وځي څو د داسې واورې له توپان سره مخ نه شي لکه کوم چې د الفنسټون د پوځ په تباهۍ کې یې مرسته کړې وه.

انګرېزانو له افغانسـتان څخه خپله وتنه پټه سـاتلې وه او د کابل ډېر اشـرافیان چې له انګرېزانو سـره یو ځای شـوي وو، داسې ګڼلې وه چې اشـغال به د پخوا په څېر دوام ولري. موهن لال چې ډېر کله یې د انګرېزانو او افغان اشـرافیانو په منځ کې اړیکې ټینګولې سـخت خوا بدی شـو او دا یې په نېغه له دې افغانانو سـره خیانت وبللو. نوموړي وروسـته لیکلي: «زموږ د تګ په وخت کې مې دوی ته نه شوی کتلی. دوی ټول په ژړا راغلل او ویې ویل: «موږ خپل ملګري وغولول او جزا مو ورکړه او دې ته مو اړ ایسـتل چې د خپلو وطنوالو پر ضـد ودرېږي او اوس یې د زمریانو خولې ته یوازې پرېږدو.»» د موهن لال پـه ګـډون ټول پوهېدل چې د انګرېزانو لـه تګ وروســتـه بـه اکبر خـان کابو پـه یقیني توګـه سـمدلاسـه بېرته کابل ته راشي او«ټولو هغه خلکو ته به جزا ورکړي چې زموږ پلوي یې کړې وه، بندیان به یې کړي او په زور به پیسې ورڅخه واخلي».[۱۰۰] شـاه فتح جنګ هم په همدې اند و. د پالک له اعلان څخه یوه ورځ تېره شـوې نه وه چې نوموړي خپل تخت پرېښـود او اعلان یې وکړ چې له خپل ړانده تره، شـاه زمان سـره هند ته ځي. د ده کشـر ورور او پر شـجاع باندې تر ټولو ګران زوی، شـاپور په خپله دې ته حاضـر شـو چې د شـاه فتح ځای ونیسـي، خو ډېرو کمو خلکو دا باور درلود چې د ده واکمني به له څو اونیو څخه ډېر پایښت ولري.

په یوه هڅه کې پالک غوښـتل چې د شـاپور واکمنۍ ته د پایښـت یو فرصـت برابر کړي؛ نو د اکتوبر په یوولسـم یې د کابل پاتې اشرافیان په زور وهڅول چې بالاحصار ته لاړ شي او شاپور ته د وفادارۍ سوګند وکړي. هلته، یو د وفادارۍ د ژمنې سـند په بېړه جوړ کړل شـو او دوی ټولو خپل مهرونه پرې ولګول. بیا دوی جلا جلا په قران لاس کېښـود چې د خپلې ژمنې پخلی وکړي: «په دغه خوشحاله شېبه کې چې سلطان (شـاپور) چې د سلطان زوی دی زموږ حاکم شـوی او موږ سوګند یادوو او خدای او پیغمبر ته یې او ټولو پیغمبرانو ته... د دې پخلی کوو چې موږ به له دغه دروند او نومیالي حاکم څخه پرته بل حاکم غوره نه کړو. موږ بـه لـه ده څخـه خپل چوپړ ونـه سـپموو او دا پر خپل ځـان، هېواد، عسکرو او وګړو فرض ګڼو چې امرونه یې سرته ورسوو.»[۱۰۱] خو د راټول کړل شویو اشرافیانو له غوښتنو سره سره، پالک دوی ته د وسـلو او مهماتو ورکړه ونه منله؛ نو په دې توګه یې دوی ته دا ناشـونې کړه چې خپلې ژمنې او سـوګند وساتي.[۱۰۲] د پوځ بیړنۍ وتنې نه یوازې انګرېز پلوه اشـرافیان د مرګ له خطر سـره مخ کړل بلکې خپل ډېر سـپاهیان یې هم په اسارت کې پرېښـودل. خوابدي مکنزي په دې هکله لیکلي: «موږ باید د خپلو عسکرو د موندلو له پاره ډېره موده پاتې شوي وای. په سلګونو دغه سپاهیان په مرییتوب کې بند پاتې شـول.»[۱۰۳]

کلونه وروسـته، مکنزي یو داسـې سـپاهي ولید چې مرییتوب ته اړ ایسـتل شـوی و او بیا په تېښـته بریالی او هند ته بېرته راغلی و. لکه څنګه یې چې همداسـې ګمان کولو، دغه سـپاهي ورته وویل چې «په هغه وخت کې غرونه له اسـیرانو ډک وو. [وروسته] ډېر اسیران د مرییو په څېر بلخ ته ولېږدول شـول. په دوی کې انګرېزان هم وو. که چېرې زموږ عسکرو ته د څو نورو ورځو د پاتې کېدو اجازه ورکړل شـوې وای؛ نو دغه اسیران به یې ازاد کړي وای.»[۱۰٤]

د ۱۸٤۲ کال د اکتوبر په دوولسمه له لمرختو سره سم، انګرېزانو له بالاحصار څخه انګرېزي توغ ښکته کړ. ربو. ای. ان الن د دغه شېبې په اړه داسې لیکلي: «خپلو پخوانیو شرمېدنو او اوسني ځاځ ته مو شا واړوله - دا یوه د خپګان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې عزتۍ صحنه وه.»[۱۰۵] نوېل چمبرلېن د دوی تر شا د خپلو سترګو ليدلی حال داسې بيان کړی: «ټول اسمان د اور له لمبو څخه سور رنګ درلود.» پرته له يو څو مېنو څخه چې تر اوسه شته وې، د کابل ټول ښار يا د بېنونو ښار چې د برنز په اند په سيمه کې تر ټولو ښکلی و، اوس په خوګلنو ويجاړو بدلېدلو. منشي عبدالکريم ليکلي: «ورانونې او غچ اخيستنې د کورنيو او هستوګنځايونو بېخ وايسته. ډېر لږ معزز ښاريان بې زيانه پاتې شول. بازار ويجاړ کړل شو، تش ځايونه په مړيو ډک کړل شول او چټلۍ او توږم هوا ککړه کړې وه. داسې ځايونه چې يو وخت ښايسته باغونه وو اوس ګرګس او کونګ په کې ګرځېدل. خلک داسې ناچاره شول چې اوس د دروېزګرو په څېر له سختې بې وزلۍ سره لاس او ګرېوان وو.»[۱۰۶]

که ډېر عسکر دې ته خوشحاله وو چې بېرته د هند په لور خپلو اډو ته ستانه دي، خو له کابل څخه دغه د تګ لړۍ يوه له خپګان څخه ډکه ننداره وه ځکه چې ډېرې بېلابېلې ډلې چې د اکلنډ د ناکامې او خطرناکې تجربې ښکار شوې وې، په انګرېزانو پسې په غناسکي• وې: هغو اشرافيانو چې د انګرېزانو پلوي يې کړې وه، په تېره بيا انګرېز پلوه قزلباشانو اوس بله چاره نه لرله پرته له دې چې په خپلو بېرته تلونکو متحدينو پسې لاړ شي. پر دوی سربېره، د هغه ګوډ او ماتو سپاهيانو اوږدې ليکې هم ورپسې وې چې د الفنستون افسرانو د شاتګ په وخت کې يوازې پرېښې وو او اوس چې د ډېرو يې د بدن غړي ترې غوځ شوي وو په ډوليو او د اوښانو په کجاوو کې په منجېدو لېږدول کېدل. هغه پنځه سوه بې وزله هندو کورنۍ هم په دوی پسې روانې وې چې لوټ شوې وې، کورونه يې وران کړل شوي وو او جنسي تېري ورباندې شوي وو. د کتار په شا کې، د سدوزي کورنۍ پاتې ژوندي غړي او د شاه شجاع، شاه زمان او فتح جنګ حرم و چې د پاچاهۍ د بېرته ترلاسه کولو هيلې يې بې کفايته او ناګران اشغال شنډې کړې وې او اوس بيا په يو پردي هېواد کې د ناڅرګنده راتلونکې سره مخ کېدل. لکه څنګه چې محمد حسين هراتي د پايلې په څېر د خپل کتاب، واقعيت شاه شجاع، په پای کې ليکلي: «نو په دې توګه انګرېزانو د سدوزيو شاهي کورنۍ تباهي بشپړه کړه!»[۱۰۷]

کله چې پالک خپل ستومانه پوځ د خردکابل له کړوونکې او غمجنې* لارې چې اسکلېټونه هاخوا دېخوا په کې پراته وو، بېرته روان کړی و او د الفنستون د پوځ له پاتې شونو څخه تېرېدلو - «داسې توکو لکه جرابې، لاس ماغو، ړمنځې، مات چيني لوښي او د توپونو ارابې چې د مړو عسکرو په ککريو لګېدلې وې، موږ ته د خپلو عسکرو سپکاوی رايادولو» - په همدغه وخت کې خبر راغی چې اېلېنبوره له هغه کورنۍ سره د يو وروستي خيانت مشري وکړه د کومې په نوم چې انګرېزي دولت پر افغانستان يرغل کړی و.[۱۰۸] دوه اونۍ مخکې، د اکتوبر په لمړۍ نېټه، له شبملې څخه لوی والي يوه اعلاميه خپره کړه چې له سدوزيو سره يې د انګرېزي دولت د اړيکو د شلولو خبرتيا په کې ورکړې وه. نوموړي دغه پرېکړه په بشپړو ناسمو دليلونو کړې وه او هغه دا چې شاه شجاع داسې کړنې ترسره کړې چې له کبله يې«خپله وفاداري هغه دولت ته تر پوښتنې لاندې راوسته چې دی يې واک ته رسولی و». دا په ښکاره دروغ خبره وه: له خپلو ټولو ناکاميو سره سره، شاه شجاع انګرېزانو ته کلک وفادار پاتې و او حتی هغه وخت هم چې انګرېزانو په يوه اړخيزه توګه

---

•غناسکي: په ربړو او کړاو تګ

*دلته ليکوال د دولاروسه Dolorosa کليمه کارولې چې د غم يا درد او عذاب لارې ته وايي او د عيسويانو په باور په بيت المقدس کې هغه لاره ده په کومه چې عيسی ع پر صليب باندې مېخ کولو ته بوتلل شو. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده سره کړې تړون مات کړ او دی یې د ۱۸۴۱ کال د ډسمبر په میاشت کې خپل برخلیک ته یوازې پرېښود. اېلېنبوره په اعلامیه کې خپلو ځرګندونو ته داسې دوام ورکړی: «لوی والي به افغانان پرېږدي چې په اوسنۍ انارشۍ کې چې د دوی د خپلو جرمونو له کبله رامنځ ته شوې، یو حکومت جوړ کړي.» د دغه اعلامیې په پای کې داسې څه لیکل شوي وو چې د اوولین Orwellian* له نظریې سره یې ښه سمون درلود: «د یو ملت له خوښې پرته پر دوی د یوه حاکم تپل به د برتانیې د حکومت له پالیسیو سره په ټکر کې وي. لوی والي به په خوښۍ هر هغه حکومت په رسمیت وپېژني چې د خلکو په خوښه جوړ شوی وي او د خپل ګاونډ هېوادونو سره ښې اړیکې وپالي.»[۱۰۹]

په حقیقت کې اېلنبوره په دې باور و چې یوازې یو سړی کولی شي په افغانستان کې بېرته نظم راولي. د پورتنۍ اعلامیې له خپرولو سره سم، امیر دوست محمد خان په چوپتیا له څارنې څخه په مسوري کې ازاد کړل شو. میرزا عطا لیکلي:

امیر مخکې له دې چې فېروز پور ته لاړ شي، ټولو ته یې یوه د خوشحالۍ مېلمستیا ونیوله. هلته یې له لوی والي سره وکتل او وروسته، د فېروز پور په لور په رسمي توګه ۵۰۰ اسوالو او پلو عسکرو بدرګه کړ. د بار د لېږد له پاره د غوایو بګۍ، پیلان او اوښان هم ورکړل شول. د امیر زوی حیدر خان [چې د غزني په سقوط کې ژوندی نیول شوی و] او حاجي خان کاکړ [چې د اوټرم د پلټنې ډله یې وځنډوله او دوست محمد ته یې بخارا ته د تېښتې فرصت ورکړ] لودیانې ته ولېږل شول چې د امیر له بدرګې سره یوځای شي. دوی دوه میاشتې وروسته د افغانستان په لور حرکت وکړ؛ لارډ اېلېنبوره یوه ګران بیه اعزازي چپنه ورکړه او یوه اوږده خصوصي ناسته یې ورسره درلوده. نوموړي دوست محمد ته په ټینګار وویل چې هېڅ کله د برتانوي دولت پر وړاندې ونه درېږي او مخالفت یې ونه کړي، له سېکانو سره ښې اړیکې ټینګې کړي او له دښمنۍ څخه لاس واخلي. ده دا مشوره هم ورکړه چې خپل زوی، اکبرخان لارې ته راولي. ورپسې دوی خدای په اماني وکړه او اېلنبوره امر وکړ چې د دوست محمد ورځنۍ خرڅ دې تر هغه وخت پورې ورکړل شي څو چې خیبر ته نه وي تللی.[۱۱۰]

له کابل څخه دویم شاتګ په ارامۍ پیل شو. د عسکرو، مهاجرو او د کمپ د ملکیانو اوږدې لیکې د خردکابل او تیزین له غاښیو پرته له دې چې یو ډز وشي تېرې شوې، خو کله چې له جګدلک څخه لږ مخکې د غلزیو اصلي سیمې ته نږدې شول، نښې ویشتونکې ډزې پیل شوې. نوېل چمبرلېن چې د پوځي ډلې په وروستۍ برخه کې و، لیکلي:

په داسې حال کې چې زه ټوپک په لاس او د قوماندې پر اس سپور د ټولو هغه پوځیانو شاته روان وم چې زما تر قوماندې لاندې وو، سپین سترګي دښمن پر ما او ما پر دوی ډزې کولې. په دغه وخت کې مې د اس له ورمېږ څخه ګولۍ تېرې شوې او بیا څو ګامه وروسته زه په خپله په ګولۍ ولګېدم. له لګېدو سره سم ګرد وچورلېدم او په ځمکه ولوېدم، خو ډېر ژر بېرته اوچت شوم او له ډېر درد سره وړاندې نګوښېدم. ما هوډ درلود چې افغانان به زما د وژل کېدو خوند ونه ویني. کله مې چې خپلې شا ته لاس کړ، ما فکر وکړ چې ژوند مې نور په ختمېدو دی، خو کمپ ته له رسېدو وروسته، موږ ته ځرګنده شوه چې ګولۍ مې تر پوستکي نه وه تېره شوې او کله چې

* اوولین یو ستاینوم دی چې د جورج اوویل George Orwell د ټولنیز وضعیت په اړه هغه نظریې ته اشاره کوي کومه چې نوموړی یې یوې ازادې ټولنې ته زیانمنه بولي. دا نظریه هغه پالیسۍ ځرګندوي چې د پروپاګند، څارنې، له حقیقت څخه په انکار او د غلطو مالوماتو په خپرولو ډېر سخت قوانین رامنځته کوي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر ګوته وروړه، ګولۍ لاندې د ډاکتر پر مېز ولوېده.[۱۱۱]

خو ځيني نورو دومره ښــه بخت نه درلود. چمبرلېن ليکلي چې د لمړي شــاتګ په څېر اوس د کمپ ملکيان او مهاجر د لارې په غاړه چپه کېدل. دوی هملته پرېښــودل شــول «چې غلزي يې ووژني ځکه چې موږ د دوی د لېږد له پاره کومې وســيلې نه لرلې. ما خپلو ســرېو ته وويل چې له اســونو ښــکته شــي او خپل اس مې هم ورکړ چې دغه خوارکي پرې ولېږدوي، خو دوی داسې کمزوري شــوي وو چې پر اســونو يې ځانونه نه شــوی نيولی؛ نو زه دې ته اړ شــوم چې دوی د هغه بې رحمه بدماشــانو چړو ته پرېږدم چې د بې وزله، ډنګر او بې اســرې مخلوق د ســتوني په غوڅولو يې جلال موندلو. له هرې سيمې څخه چې موږ تېرېدو، د هغه خلکو مړي به مو ليدل چې له موږ څخه مخکې ډلو پرېښي وو».[۱۱۲]
کله چې چمبرلېن جلال اباد ته ورسېد، براډفوټ د هغه کلا په دېوالونو کې ماينونه خښول چې دوی دوه ځله بيا رغولې او په بريالیتوب يې ترې دفاع کړې وه. د هر برج لاندې ډېر لوی ماينونه او د ســنجونو په اوږدو کې لږ واړه مينونه کېښودل شول.[۱۱۳] د اکتوبر په ۲۷، وروسته له دې چې پالک حرکت وکړ، سمدستي يوه لويه چاودنه وشوه او د کابل په څېر، جلال اباد هم د ويجاړۍ په لوګيو کې پرېښودل شو.[۱۱۴]
د شــاتګ په دويم پړاو کې کله چې خيبر ته ښــکته کېدل، انګرېزان له تر ټولو ســخت مقاومت ســره مخامخ شــول. افريدي د معمول په څېر د خپلو غرنيو کليو څخه را و بهېدل چې پر انګرېزانو يرغل وکړي، ويې وژني او لوټ يې کړي. دلته انګرېزانو بيا په غچ اخيســتنې پيل وکړ. د اکتوبر په ۲۹مه شــپه چمبرلېن په چټکۍ ليکلي: «په چا رحم نه کېدلو. موږ له ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰ کســه ووژل ... ټولې زېرمې او کلي تالا او وســوځول شــول.» د نومبر په لمړۍ نېټه، جان نېکلســن د لنډ وخت له پاره له خپل کشــر ورور الکســاندر ســره وليدل مخکې له دې چې د غاښــي په ســر کې د کتار وروستۍ برخې ته ولېږل شي څو له چمبرلېن سره يو ځای شي.
سبا ته، د عيسوي ملا، الن په ملتيا، چمبرلېن او نېکلسن له علي مسجد څخه ښکته په کږه وږه لاره مزل پيل کړ. کله چې په لاره کې يو تېره ګوټ ته واوښتل، هلته يې لاره د خپلو هغه همکارانو له مړيو څخه ډکه وليده چې پرون ماسپښين له دوی څخه بېل شوي وو. د دوی ټوله ډله د افريديو د غلچکي بريد لاندې راغلې وه او افريدي ورباندې برلاسي شوي وو. اوس د دوی «ټوک ټوک او لوڅ او لغړ مړي دلته، هلته پراته وو او په غوښــو يې سپيانو او ښکاري مرغانو له وخته پيل کړی و. په دوی که دوې بومي ښځې هم وې چې يوه يې ځوانه او ښايسته وه».[۱۱۵] په مړيو کې د نېکلسن کشر ورور هم لوڅ لغړ او ټوټې ټوټې پروت و. د افريديو د دود سره سم، د الکساندر د بدن تناسلي غړي غوڅ او په خوله کې يې ورکړل شوي وو.[۱۱۶] دغه پېښې، نېکلسن په يو احساساتي عقلي ناروغ بدل کړ او له ټولو مسلمانانو سره يې داسې کرکه پيدا شوه چې د دوی د تباهۍ هيلې يې په سر کې پاللې. نوموړي په راتلونکو ډېرو کلونو کې کله کله د دوی پر ضد جګړو کې برخه اخيستله او د ۱۸۵۷ کال په لوی پاڅون کې يې خپل زړه تش کړ.[۱۱۷]
سبا سهار چې په افغانستان کې د دوی وروستۍ ورځ وه، دا ځل د چمبرلېن وار و چې تر غلچکي بريد لاندې راشي. دی يو ځل بيا په شاتنۍ ساتونکې ډله کې و او کله چې د لارې په وروستۍ برخه کې د جمرود کلا په لور ښکته کېده، تور ټوپک نښې ويشتونکو چې په لوړو شېلو کې پټ وو، د ده پر ډله يې د ګوليو باران جوړ کړ. چمبرلېن ليکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه له خپلې ډلې څخه څو ګامه مخکې پر اس سـپور روان وم، ډزې ډېرې نږدې لګېدې. ما خپلې ډلې ته مخ واړولو او یو افسـر ته مې وویل: «دغه خلک په نښه کې دومره بد نه دي.» دا رښتیا وه او یوه شېبه وروسته زه ولګېدم. ګولۍ داسې کلکه رابانديې ولګېده چې غږ یې زما یو ملګري واورېد او راته وې ویل: «زړه انډیواله، ولګېدې.» خو ما یې خبرېدو ته اړتیا نه لرله. لوا خپل اسـونه په چارګام کړل چې له ډزو څخه ځانونه وباسـي. زه دې ته اړ شـوم چې له اس څخه ښـکته شـم یا که رښـتیا ووایم له اس څخه نیمه لوېدلی وم چې ښکته شوم او بیا په داسې حال کې چې یو سپاهي نیولی وم څو ونه لوېږم، اس مې وړاندې کش کولم. بیا، د یو لوی کمر شاته پرېوتم چې له ډزو څخه خوندي اوسم تر څو چې لږ وخت وروسته یوه ډولۍ راته راوړل شوه او د جمرود کمپ ته ولېږدول شوم.[118]

چمبرلېن د جګړې په وروسـتۍ ګولۍ ټپي شـو. جمرود لکه یوه پوله چې په سـترګو نه لیدل کېده هغه ځای و چې د افغانستان له وژنو څخه ډک تاوتریخوالی په کې ناڅاپي په ټپه ودرېد. ریو. ای. ان الن د پېښور په لمنو کې یوې بلې بدلې نړۍ ته په ماښـام کې ورسېد. نوموړي په حیرانتیا لیکلي: «خلک د واټونو په غاړه ناست او غله دانه او خواږه خوراکي توکي یې خرڅول. موږ چې له څو میاشتو راهیسې پرته له دښمن څخه بل انسان نه و لیدلی، دا موږ ته عجیبه صحنه ښکارېده.»[119]

وړېسې د پنجاب له لارې د کمپنۍ تر واکمنۍ لاندې، فېروزپور ته څېرمه د سـوتلېج سـیمې ته د پنځو اونیو اوږد یون پیل شـو. چمبرلېن ټوله لار په ډولۍ کې یووړل شـو: «دومره ناجوړه وم چې له منظرو څخه مې خوند نه شـوی اخیستی... د یون په بهیر کې په سـلګونو خلک د ډېرې سـتومانۍ او ټپونو له کبله مړه شـول. زه د نورو په پرتله، یو له نیک بختو څخه وم چې ژوندی پاتې شوم. زه هیله لرم چې بیا هېڅ کله له داسې ربړو سره مخ نه شم.»[120]
د پوځیانو لمړنۍ ډله له کرېسـمس څخه لږ وړاندې د ډسـمبر په درویشـتمه فېروزپور ته ورسـېده. کله چې له کښـتیو څخه په جوړ شـوي پله تېرېدل، لارډ ایلېنبوره د سـیند په بله غاړه کې د دوی د ښـه راغلاسـت له پاره درېدلی و او د لوا یوې تشـریفاتې ډلې دغه سـندره غږوله: «سـوبمنو• اتلانو ته ګورئ چې راغلل.» د کالن مکنزي ښـینې/ وربنداري جولیه مارګرېټ کمرون Julia Margaret Cameron چې یوه لمړنۍ مخکښه عکاسه وه، د ایلنبوره په هکله داسې د یادښت وړ خبره کړې: «ایلېنبوره په ټولو اداري موضـوعګانو کې جګړه مار او له ادارې وتلی دی... [خو] په پوځي موضـوعګانو کې بې کچې څوبمن او لېوال دی او یوازې پوځي چارو د ده پام ځانته اړولی دی.»
د ښـه راغلاسـت له پاره، د بانس یو لوی طاق درول شـوی او د کتان په رنګینو ټوټو ښکلی شـوی و. مکنزي لیکلي: «دغه طاق د پانسي یو لوی دار ته دومره ډېر ورته و چې له لاندې یې عسکر په کړسارې خندا تېرېدل.»[121] له دې څخه پاس د ۲۵۰ پیلانو دوه میله اوږده لیکه د لارې په اوږدو کې جوړه وه. پر پیلانو ښـکلې نملې اچول شـوې وې او په خپله لوی والي د دوی د شـونډکونو په رنګولو کې برخه اخیسـتې وه.[122] نوموړي د لمانځنې یوه لړۍ رسـم ګذشـتونه هم په هغه ځایونو کې په لاره واچول چې دوی ورڅخه درې کاله مخکې د افغانسـتان په لور سـتانه شـوي وو څو د ده په خبره د پوځ بریالی بېرته راتګ ولمانځي. د سـېل، پالک او ناټ د درناوي له پاره د توپ یوویشـت ډزې وشـوې. حتی د هغه دروازې له پاره چې د سـومنات د معبد یې ګڼله، هغه وخت د توپ یو ډز وشـو چې د جعفري ګلانو په هارونو کې پټه اډې ته راوړل شوه. وړېسې په تجېرونو کې پرله پسې مېلمستیاوې جوړې شوې که څه هم وروسته له هغه څه چې په پوځیانو باندې تېر شـوي وو، ډېرو کسـانو د داسې خوشحالیو ناټ نه درلود. په یوه مېلمسـتیا کې مکنزي بېرته خپلې کېږدۍ ته

---

• سوبمن: بریالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ او وېې لیکل: «ډېرو لږو کسانو هغه خوشحالي احساسوله چې دوی یې تمه کوله... ټول [پخواني] یرغمل له روحي خپګان څخه ځورېږي، ځینې لکه اییر بیخي ډېر اغېزمن شوي او ځینې مېرمنې هغه څه په خوب وینې چې دوی یې هره شپه د څو میاشتو له پاره شاهدانې وې.»[۱۲۳]

اعلی سر قوماندان سېر جسپر نېکولس هم دغو لمانځنو ناهیلی کړی و. وروسته له دې چې د یو څه وخت له پاره یې د عسکرو د مارش ننداره وکړه، بېرته خپل دفتر ته لاړ چې یو رسمي راپور ولیکي چې ولې د ده پوځ د داسې بېساري مصیبت سره مخ شو. نوموړي لیکلي: «ما به د هېڅ راز درناوي او اعزاز په بدل کې د دغه یرغل مشوره نه وای ورکړې.»[۱۲۴] او بیا یې په پایله کې داسې لیکلي: «دغه ګران بیه جګړې چې قانونیت یې شکمن و، وروسته له دې چې نه یوازې ډېرې تباهۍ او تاوانونه یې راواړول بلکې د انګرېزانو د وسلوال پوځ پر عزت او شهرت یې تور داغ ولګاوه او د انګرېزانو واکمنې یې کمزورې کړه، وروسته له دې چې پنځلس میلیونه پونډه پرې ولګول شول [په اوسني وخت کې له پنځوسو ملیاردو پونډو څخه ډېر] چې له کبله یې د هند خزانه تشه شوه، د هند د بانکي پور شبکه یې د ړنګېدو مورګې ته بوتله او د تل له پاره یې د ختیځ هند کمپنۍ د پور د بېرته ورکړې توان زیانمن کړ، وروسته له دې چې ښایي ۴۰۰۰۰ خلک ووژل شول او ۵۰۰۰۰ اوښان له منځه لاړل او وروسته له دې چې د بنګال پوځ یې داسې راڅخه پردی کړ چې اوس د بغاوت له پاره چمتو دی، انګرېزانو افغانستان داسې له لاسه ورکړ لکه په کومه توګه یې چې ترلاسه کړی و.» په داسې وخت کې چې دوست محمد له جلا وطنۍ څخه بېرته هېواد ته د تګ په درشل کې او د تخت د بیا لاسته راوړنې په مورګه کې و، د چټک ډاکې په وسیله خبر راورسېد چې په قبیلوي اړودوړ کې شهزاده صفدر جنګ په کندهار کې او شهزاده شاپور په کابل کې بارکزیو دښمنانو د واک پرېښودلو ته اړ ایستل.

په حقیقت کې پرته له یوازې غوریالي لوی والي څخه، افغانان خو پرېږده، بل هېچا د انګرېزي بریا خبره نه کوله. په دې هکله میرزا عطا لیکلي:

کله چې پاتې عسکر په خوندي توګه له افغانستان څخه ووتل، لوی والي په خپلو وېناوو دوی ته ښه راغلاست وویل. هغه متل دی چې وایي: افغانستان د بازانو کور دی، خو هند د خوساکېدونکو مرو کارغانو ځای دی. ... وایي چې انګرېزان د دویم ځل له پاره افغانستان ته یوازې په دې موخه ننوتل چې انګرېز یرغمل ازاد کړي، خو په لکونو پیسې یې افغانانو ته په رشوت ولګولې چې لاره ورکړي او له دې سره سره یې په زرګونو نور سرې هم له لاسه ورکړل. بیا یې د کابل مارکېټ په ورانولو خپله اصلي څېره وښوده او سمدلاسه بېرته هند ته لاړل. دوی هیله درلوده چې په افغانستان کې ځانته ځای پیدا کړي چې د روسې د پرمختګ مخه ونیسي - خو د ډېرو پیسو د لګولو او د خپلو ډېرو خلکو له قربانولو سره سره، یوازېنۍ پایله یې خپله تباهي او شرمېدنه وه. که انګرېزانو د دې توان درلودی چې افغانستان فتح او اشغال ته یې دوام ورکړي؛ نو دوی به له داسې هېواد څخه بېرته تللي وی چې څلور څلوېښت ډوله انګور لري او نورې مېوې لکه مڼې، انار، ناشپاتي، رواشې، توت، خوږې هندوانې، موشکي خټکي، خوبانۍ او شفتالو لري؟ او داسې سړې اوبه چې په ټول هند کې نه موندل کېږي؟

پر افغانستان باندې د انګرېزي هند یرغل چې پیسې او پوځي وسیلې یې ضایع کړې او د ډېرو عسکرو، د سپینو او تورو، ژوند یې واخیست، د خاینو هندي کارغانو او زړورو افغان بازانو تر منځ یې یوه بې انډوله جګړه رامنځته کړه: کله به چې دوی یو غر ونیو، دې ته به څېرمه بل غر تل په بغاوت کې و. په حقیقت کې انګرېزانو به هېڅ کله، هېڅ وخت او حتی په کلونو کلونو خراسان اېل کړې نه وی. د انګرېزانو او د دوی کارغانو ته ورته عسکرو هډوکي د افغانستان دغرونو په ارغاړو کې خواره او ناخښ پراته دي. په دې جګړه کې زړوورو افغانانو شهادت ته هوډ کړی و او هم په دې نړۍ او هم په هغه بله کې د بریا څښتن شول: بې اړنګه، رحمت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چا دی چې د شهادت جام يې وڅښه![۱۲۵]

دا چې د میرزا عطا غازیانو له جګړې څخه وروسته په افغانستان یا په جنت کې رحمت ترلاسه کړ او کنه، څرګنده نه ده، خو دا بې اړنګه رښتیا دي چې د ډېرو لړو هغو خلکو، په تېره بیا د انګرېز- سدوزي نظام پلویانو، چې په جګړه کې يې برخه اخیستې وه، ژوند سمون وموند. حتی له جګړې څخه مخکې، ډېرو افغانانو انګرېزانو ته خبرداری ورکړی و چې کم بخت شاه شجاع ته ښېرا شوې؛ نو ځکه يې تر ټولو ښه پلانونه هر کله په مصیبت ختمېږي.[۱۲۶] د شاه شجاع له مړینې ډېر وخت وروسته؛ دغه بد بخت داسې برېښېده چې هر هغه چا ته په برخه شوی و چې له واک څخه د دوست محمد د شړلو په هڅه کې يې برخه اخیستې وه. رنجیت سېنګ، ویتکېویچ او مېکناټن خو لا د مخه مړه شوي وو. د خالصه په غوښتنه، وېډ په پوله کې له هغه څوکۍ څخه لیرې کړل شو چې ده يې په حسادت ساتنه کوله او د منځني هند په اندېور کې یوه کم ارزښته څوکۍ ورکړل شوه. د برنز هغه کم بخته د بار اسونه چې په ډېره سختۍ يې اباسین ته لېږدولي وو، هم مړه شول: کله چې دا په ډاګه شوه چې دغه اسونه د ځغاستي نه وو، د رنجیت سېنګ مینه ورسره پای ته ورسېده او شپول يې ځای شو؛ نو لکه څنګه چې خلک نه پوهېدل چې له دوی سره څه وکړي، دومره وخت نه و تېر چې مړه شول.

چارلس مسون، هغه کس چې له جګړې څخه وړاندې هم په کابل کې و، له یو خواشینوونکي برخلیک سره مخ شو. په ۱۸۳۷-۱۸۳۸ کلونو کې د برنز له ناکامه ماموریت څخه وروسته، کمپنۍ له مسون څخه پام واړولو او دی يې ګوښې ته کړ ځکه چې اوس دغه کمپنۍ له افغانستان سره د جګړې په تیارېو بوخته شوې وه که څه هم نوموړی د هر بل انګرېز په پرتله د افغانستان په اړه ډېر پوهېده. دی په ۱۸۴۰ کال کې د کابل په لور په هغه لاره روان شو چې د اباسین پوځ پرې تللی و او بیا نوموړي ویلي وو چې په دغه لاره د پوځ د تېرېدو له کبله سیمې ډېرې زیانمنې شوې وې. دی تر کلات پورې ورسېد او کله چې انګرېزانو د کلات پر ښار یرغل وکړ، دی يې ونیو او د خیانت او جاسوسۍ په تور يې بندي کړ. ده په شپږو میاشتو کې خپله بېګناهي ثابته کړه او ازاد کړل شو. بیا، کله چې لارېنسن وروسته له ډېرو پلټنو په کراچۍ کې پیدا کړ، په لیدو يې هک پک شو چې په دغه سړي څه شوي وو چې ده يې د سیمې د یو لوی لرغونپوه په توګه ډېر درناوی کړلو. په دې هکله يې وروسته داسې لیکلي:

کله چې د کراچۍ په کمپ کې وم، ښار ته لاړم چې د هغه سړي (مسون) لیدنه وکړم چې ما يې په هکله ډېر اورېدلي او لوستلي وو. دی مې په یوه خرابه کوډخه کې له څو بلوڅانو سره نیم لوڅ او نېشه پیدا کړ. زه څو ساعته ورسره پاتې شوم او د هر څه په لیدو يې سخت ودردېدلم. په پیل کې يې داسې پوچه ژبه کاروله چې ما د لېونتوب خیال ورباندې وکړ، خو وروسته يې راته وویل چې تېره شپه په لیکنو بوخت و او یو بوتل واین يې د ماښامنۍ په خوړلو کې څښلی و او اوس چې ورځ شوې وه، نېشه يې تر اوسه په سر کې وه، خو له دې سره سره، زه په دې اند شوم چې نوموړی به خپل سد له لاسه ورکړي. ما ته يې خپلې یو شمېر لیکنې راکړې، خو په داسې ګونګه او ټوکماره بڼه لیکل شوې وې لکه څنګه چې دی پرې غږېده او ما ته داسې ښکارېدل چې خپل ټول مالومات يې د خپلو لیکنو په بڼه کې ګونګ کړي وو. د برنز، اکلنډ او وېډ په اړه يې کابو ترخې خبرې کولې... د خپلو یونونو په هکله او په افغانستان کې د خپل کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه یې تر اوسه دوه ټوکه کتابونه بشپړ کړي وو او اوس په درېیم ټوک بوخت و. د کتابونو ډېرې برخې یې چې ما ته وښودې عجیبه او غیر معمولي وې؛ نو دغه کتابونه به چاپ او خپاره نه شي - لیکنې یې رواني نه دي او تسلسل نه لري. همدارنګه نظرېې یې داسې په ګونګه توګه خیالي او لنډې لیکل شوې چې د اوسني وخت په خوند برابرې نه دي. که پاټېنګر یې په همدې بنه چې اوس دي د چاپ اجازه ورکړي، مسون به د یو ځانمن غبي په توګه وپېژندل شي، نه د یو خواریکښ، راستکاره او شعوري سړي په څېر چې دی په رښتیا همداسې دی. زه هیله لرم چې بمبیې ته د ده د تګ له پاره څه لارې چارې ترسره شي.[۱۲۷]

خو په دې هکله هېڅ څه ترسره نه شول او مسون دې ته اړ شو چې پر خپل ځای کرار کښېني او په افغانستان کې د مېکناټن د مرګونې تېروتنو ننداره وکړي. نوموړي بل څه نه شوی کولی پرته له دې چې رسنیو ته بې نومه ترخې لیکنې ولېږي. په یوه لیکنه کې یې داسې لیکلي: «نن مې ستاسې په ورځپانه کې ولوستل چې ځینې خلک به په افغانستان کې وګمارل شي. د دغه کړنې دلیل څه کېدای شي؟ ایا دغه اوښان هلته ستړي شوي دي؟ دغه ځینې چې په سیاسي ځانګو کې له ډېر وخت راهیسې کار کوي، ایا په پوځي چارو کې د دوی ګمارل د یو نوي سیستم پیلامه ده چې په پوځ کې یوشانتوب رامنځته شي؟»[۱۲۸] نوموړی بلاخره انګلنډ ته لاړ چېرته یې چې خپرونو داسې سړې کره کتنې وزېږولې لکه څنګه چې لارېنسن یې وړاندوینه کړې وه او په هېواد کې مېشتو سیالانو یې د یو لرغونپوه په توګه نومورتوب زیانمن کړ. دی په بېوزلۍ کې پاټرز بار Potter's Bar ته څېرمه په ۱۸۵۳ کال کې «د مغزو د یوې ناځرګندې ناروغۍ له کبله مړ شو»، خو نوموړی په دې نه پوهېدو چې ۱۶۰ کاله وروسته به د افغان لرغونپوهنې د پلار په توګه درناوی ورته وشي.
الډرېډ پاټېنګر چې په افغانستان کې د خپل چوپړ په بدل کې کوم انعام ترلاسه نه کړ، په کمپنۍ کې یې له دندې څخه استعفا وکړه او خپل تره/ ماما، سېر هنري پاټېنګر ته د اوسېدو له پاره هانکانګ ته لاړ. هانکانګ ته د ده له تګ څخه لږ وخت مخکې، مشر پاټېنګر چینایان دې ته اړ ایستلي وو چې دغه ټاپو ده ته وروسپاري؛ نو هلته له رسېدو سره سم، د لوېې لوبې پخواني لوبغاړي خپل ځان د دغه ټاپو لمړنی والي کړ. نوموړی همملته په ۱۸۴۳ کال کې د خپلو ټپونو، سخت ژوند او د فزیکي او روحي خپګان د اغېزو له کبله مړ شو.[۱۲۹]
برید جنرال شلټن ته په څه نا څه حیرانوونکې توګه په پوځي محکمه کې د هغې پرېې په هکله برأت ورکړل شو چې د پاځون پر وړاندې یې له ناورین څخه ډک چلند کړی و، خو له نوموړي څخه د تل په شان کرکه کېدله. په ۱۸۴۴ کال کې کله چې په دوبلېن کې له اس څخه ولوېد او مړ شو، لاس لاندې یې د پریټ ډګر ته راووتل او د ده مرګ یې د خوشحالۍ په درېیو چیغو ولمانځه.
په افغانستان کې د مېرمن سېل او د هغې د مېړه د ژوند په اړه د نوموړې یوه نسخه په استلي سرکس Astley's Circus کې د ډرامې په یوه نوموره لوبه بدله شوه. دغه لوبې ته «د کابل یرغمل» نوم ورکړل شوی و، خو درې کاله وروسته په ۱۸۴۵ کال کې د انګرېزانو او سېکانو تر منځ د جګړې په بهیر کې، په خپله «جګړه مار باب» سېل له جورج براډفوټ سره یو ځای د موډکي Moodki په جګړه کې هغه وخت مړ شو چې کمپنۍ له فرصت څخه په کار اخیستنې غوښتل د پنجاب شتمنې سیمې تر خپل واک لاندې راولي. وروسته کونډې مېرمن سېل سوېلي افریقا ته مهاجرت وکړ او په ۱۸۵۳ کال کې په کېپ ټون Cape Town کې مړه شوه. د قبر په شناخته یې داسې لیکل شوي: «له دغه تیږې لاندې مېرمن سېل پرته ده.»[۱۳۰]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر برايډن چې له کابل څخه د انګرېزانو د شاتګ په بهير کې د کمپنۍ يوازينی اروپايي کس و چې جلال اباد ته ژوندی ورسېد، په راتلونکو کلونو کې په يو بل لوی ښکېلاکي ناورين کې ښکېل شو: پنځلس کاله وروسته په ۱۸۵۷ کال کې په سيمه کې د لوی پاڅون په بهير کې نوموړي د لارنس د کشر ورور، هنري تر مشرۍ لاندې په لکنهو کې د ولايتي ادارې په دفاع کې برخه واخيسته. بلاخره دی په ۱۸۷۳ کال کې هغه وخت په خپل کټ کې مړ شو چې د تقاعد ارامه ژوند يې په نېګ Nigg کې چې په برسکاټلند کې مخامخ بلک ايل Black Isle ته پروت دی تېر کړ.

اکلنډ خپل پاتې ژوند په څه ناڅه شرم کې په کېنزېنګټن کې تېر کړ او يوازې په ۶۵ کلنۍ کې په ۱۸۴۹ کال کې مړ شو. درې مياشتې وروسته يې خور، فني هم ورپسې لاړه.[۱۳۱] وروسته دا هم ثابته شوه چې د امپراتورۍ جوړونه د دغه کورنۍ په استعداد پورې تړلې نه وه: د دغې کورنۍ راتلونکي غړي، انتوني ايډن Anthony Ede يوسل او څوارلس کاله وروسته بيا همداسې هڅه وکړه او په سوېز کې له شرموونکې ناکامۍ سره مخ شو.*

اتل او ځيرک موهن لال ته هغه لوی پورونه چې د کلابندۍ په بهير کې د مېکناټن په ګټه د ځان په نامه اخيستي وو چې د افغان مخالفو مشرانو د هدفي وژنو له پاره پيسې برابرې کړي او بيا هغه نور پورونه چې په ۱۸۴۲ کال کې يې واخيستل چې د يرغملو په ازادولو کې يې وکاروي، هېڅ کله بېرته ورنه کړل شول. ده ويل چې په ټوله کې ۷۹۴۹۶ روپۍ پوروړی و؛ نو له دې امله نوموړی د خپل ژوند تر پايه په پورونو کې ډوب پاتې شو. د عدالت د اعادې له پاره، دی بلاخره له خپل هم پوړي منشي شاه محمد علي سره برتانيې ته لاړ چېرته چې د کمپنۍ د مشرانو د ملاتړ ترلاسه کولو په هڅو کې يې نوي تقاعد شوي ډګروال وېډ او ځواني ناوې يې په ايل اف وېټ Isle of Wight کې مېلمه پالنه وکړه. دی سکاټلند ته هم لاړ چې په مانټروز کې د برنز کورنۍ ته د نوموړي ليکونه او ژورنال وروسپاري. په اېډنبوره کې نوښتګرو سکاټلنډي عکاسانو، ډېوډ اکټېويوس هېل David Octavius Hill او رابرټ ادمسن Robert Adamson د ده عکسونه په ګډو افغان-کشميري جامو کې واخيستل. دغه جامو ته د ټايمز مجلې د «شانداره هندي جامو» نوم ورکړ.[۱۳۲] په برتانيه کې يې له برنز سره د خپلو يونونو يو يادښت کتاب چاپ کړ او همدارنګه د دوست محمد ژوندليک يې په يوه لوی نهه سوه مخه ييزه کتاب کې په دوه ټوکونو کې خپور کړ. ده حتی له ملکې وېکتوريا او شهزاده البرټ Albert سره هم ليدنه درلوده، خو افغان جګړې يې پر ژوند اغېز کړی و او د ده کاري ژوند ته يې عملاً د پای ټکی اېښی و.

کله چې بېرته هند ته لاړ، ده ته د لکنهو او حيدراباد په معتبرو ولايتي ادارو کې د پارسي منشي په توګه هغه څوکۍ ورنه کړل شوې چې ده يې غوښتنه کړې وه. انګرېزي مامورينو پر ده اعتبار نه درلود او په وار وار يې د ده په هکله ليکلي وو چې دی «ځانمن» دی او له «خپل ملګي څخه پېښې ډېرې اوږدې غځوي». نوموړی نه يوازې دا چې اوزګاره پاتې شو، بلکې خپلې کشميري پنډېټ ټولنې يې هم ورټلو او له ټولنې يې وشړلو. د ۱۸۵۷ کال په پاڅون کې، بغاوتي سپاهيانو په دې تور چې د انګرېزانو خواخوږی دی د ده د وژنې تکل درلود، خو دی په تېښته بريالی شو. دی بلاخره په بېوزلۍ او ورکنومۍ کې په ۱۸۷۷ کال کې په داسې حال کې مړ شو چې ښکېلاکي او تر ښکېلاک لاندې خواوو له ځانه شړلی و.[۱۳۳]

د سدوزيو شهزادګانو همدې ته ورته برخليک درلود. د ۱۸۴۳ کال د مارچ په مياشت کې دوی ټول په لاهور کې بند پاتې

---

* خو په نيوزيلنډ کې د ايډن کورنۍ ځان ته يو تل پاتې نوم جوړ کړ. د دغه هېواد د هغه وخت پلازمېنه د جورج په نوم ونومول شوه او د کرېکټ اوسنی لوبغالی د ايډن پارک په نوم دی. لارډ اېلېنبوره چې په هغه وخت کې صدراعظم و، خپل نوم ته يې د استراليا په نقشه کې ځای وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو چې نه بېرته افغانســـتان ته او نه انګرېزي هند ته تللی شـــوی او لکه پلار يې دېرش کاله مخکې، هره ورځ يې په دې وېره کې تېروله چې ســـېک کوربه وال به يې پاتې شـــتمني لوټ کړي.[۱۳۴] دوی ته بلاخره له پولې څخه د تېرېدو او خپل د کوچنيوالي ښار ته د تګ اجازه ورکړل شوه، خو دا هم په واضح توګه ورته وويل شول چې دوی ته به يې د پلار په څېر لوی هستوګنځي ورنه کړل شي او خرڅ به يې هم کوچنی وي.[۱۳۵] په پای کې ټول سدوزي په پورونو کې ډوب شول او په ملي ارشيفونو کې د دوی د پورورکونکو او حکومت تر منځ يوه لړۍ مکاتبې شته چې پر دوی باندې يې د پور د نه ورکړې عريضې کړې وې. دوی ټول، پرته له کومې استثنا په بې وزلۍ کې مړه شول.

کالن مکنزي چې په لوديانه کې د ســـرحدي غونډ د جوړولو له پاره ګمارل شـــوی و، په داســې حال کې چې نوی واده يې کړی و، په ۱۸۴۷ کال کې لوديانې ته ورســـېد. هلته يې د افغان مهاجر ټولنې په اړه له خپګان څخه ډکه ليکنه کړې. دغه افغانان په ورځني ژوند کې د پايښـــت له پاره له ډېرو ســـتونزو ســـره لاس او ګرېوان وو. مکنزي په خپل يادښـــت کتاب کې ليکلي: «کومې ربړې چې مورږ په خپل تېري هغه خلکو ته ورواړولې چې مورږ يې د مرستې ادعا کوله بايد هېرې نه شي. په خواشينۍ سره، ډېر لوړ پوړي او معزز خلک اوس د بشپړې بې وزلۍ کچې ته راټيټ شوي دي. يو پلار او زوی چې د شاه شجاع له کورنۍ سره يې نږدې اړيکې درلودې، هېڅ کله د دوی ليدو ته يوځای نه ورتلل ځکه چې يوازې يوه چوخه يې درلوده. يو بل لوړ پوړی سړی دې ته اړ شو چې حتی خپله توره د ډوډۍ په بدل کې وپلوري. د شاه شجاع يو پخواني چوپړيال په خپګان وويل: «زه له لوږې روژه نيســـم او کومه ورځ چې لږ دال پاخه کړو، زمورږ په کور کې اختر وي.»»[۱۳۶]

د ړانده او بوډا شـــاه زمان غوښـــتنه چې د ســـرهند د صـــوفيانو په زيارت کې د درويش په څېر ژوند وکړي، د پټيالې Patiala مهاراجا ونه منله،[۱۳۷] خو کله چې په ۱۸۴۴ کال کې مړ شـــو، دغه مهاراجا له ځانه نرمښـــت وښـــود او د شـــاه زمان مړی يې پرېښـــود چې په دغه زيارت کې د خپلې ورېنداړې، د شـــاه شـجاع مشـــره ښـځه او د دوســـت محمد خور وفابېګم، د قبر تر څنګ خښ شي.[۱۳۸]

د سدوزي شهزادګانو وروستی څرک د رابرټ واربرټن Robert Warburton په يادښت کتاب کې موندل کېږي. دی د يو انګرېز افسـر او شـاه جهان بېګم د خوشـحاله واده ثمره و. شـاه جهان بېګم د دوسـت محمد خورځه/ورېره وه چې د لوديانې په افغان تبعيدي ټولنه کې ستره شوې وه.

دوی چې په دولتي او اولســي کچه هرې نيمګړتياوې لرلې، هغه وخت زما عمر دومره نه و چې زه يې قضـــاوت وکړم، خو پر ما باندې له هغوی څخه د ځينو مهرباني چې په کلونو يې دوام درلود تل يو شـانته او نه بدلېدونکې وه. زه د دوی له حرمسـرای څخه نه منع کېدم او په پارسي ژبه کې زما بلدتيا ما ته د دې توان راکړی و چې زه د ټولو شـهزادګانو له ښځو سره خبرې اترې وکړم... هلته دوه ورونه وو، شـهزاده شـاپور او شـهزاده نادر چې دواړه د بدقسـمته شـاه شـجاع الملک کشـري زامن وو. دغه دواړه په ځانګړې ډول زما ځکه ډېر خوښ شـول چې په خپلو جنجالونو کې يې له زغم څخه کار اخيسـت، په هر هغه چا مهربانه وو چې له دوی سره په اړيکه کې کېدل او د نورو خلکو احساساتو او هيلو ته يې پام اړولو. ما په دغه بنه ډېر لږ رښـتيني ښـاغلي ليدلي لکه دوی چې وو. هندي دولت د مياشـتې ۵۰۰ روپۍ مشـر ته او ۱۰۰ روپۍ کشـر ته ورکولې - دا په رښـتيا ډېرې کمې پيسـې وې چې دوی نه يوازې خپلې کورنۍ ورباندې چلولې بلکې هغه چوپړيالانو ته يې هم اذوقه پرې برابروله چې په کابل کې له خپلو کورونو څخه شـړل شـوي وو او د هند په تودو ډاګونو کې يې په دې هيله مزل کړی و چې دغه شاهي کورنۍ يې مرستندويه شي.[۱۳۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې افغان برېمنو ته هم خوشــحاله پایلې ور په برخه نه شــوې. دوســـت محمد خان په چټکۍ نواب زمان خان بارکزی ګوښې ته کړ او نوموړي ته بیا هېڅ کله لویه دولتي څوکۍ ورنه کړل شـوه.[۱۴۰] امین الله خان لوګری اخلالوونکی او ډېر ځانپاله وګڼل شـو او د جګړې له پای څخه سمدلاسه وروسته په عمري قید محکوم شو. نوموړی د خپلې هغه ګروهنې له وجې بندي شـو چې د فیض محمد د لیکنې پر بنسټ: «سـوله من خلک بې ناوړه کړنو ته هڅول.»[۱۴۱] د امین الله ورور چې په لودیانه کې مهاجر شـوی و، مکنزي ته وروســته وویل چې دوســت محمد «د امین الله له لور ســره واده وکړ او وروسته یې په خپلو لاسونو د ده پر خوله بالښت کېښود، ساه یې پرې بنده کړه او مړ یې کړ».[۱۴۲]

د انګرېزانو له تګ څخه وروســـته، وزیر اکبرخان یو کال په واک کې پاتې شـــو، خو کله یې چې پلار په ۱۸۴۳ کې بېرته راغی، دی د لغمان او جلال اباد د والي په توګه هلته ولېږل شـــو. بیا، دومره وخت نه و تېر چې د نوموړي دربار ته د دوست محمد د مخالفینو د مرکز په سترګه کتل کېدل. کله چې اکبرخان ته په ۱۸۴۷ کال کې زهر ورکړل شول، ډېرې پراخه ګنګوسې خپرې شـوې چې دا کار د ده د پلار په امر ترسـره شـوی.[۱۴۳] له مړینې څخه لږ وخت مخکې، اکبر په یو لیک کې له مکنزي څخه «په مینه ګیله کړې وه چې په ملګرتیا کې ســست دی او خپل حال او احوال ده ته نه ورلېږي». دولت، مکنزي منع کړ چې د لیک ځواب ورکړي «ځکه چې دغه لیک د دښـمن له خوا و»،[۱۴۴] خو مکنزي د محمد شـاه خان غلزي یو لیک ته ځواب ورکړ. له محمد شاه خان سره هم د دوست محمد ناتې لږ شوی و ځکه چې د ده په اند، واک یې بې کچې ډېر شـــوی و؛ نو د خپل زوم له مړینې څخه وروســـته، دی هم ســـمدلاســـه د لتاړونې ســـره مخ او په کافرسـتان کې تبعید ته اړ شـوی و. نوموړي مکنزي ته یو لیک ولېږه چې خپله ملګرتیا ور په یاد کړي او ترې وپوښـتي چې ایا د مکنزي په اند دغه ملګرتیا تر اوسه شته؟

مکنزي ته یو ســید لیک راوړی و. محمد شــاه خان دغه ســید ته یوه نښــه هم ویلې وه چې د لیک له ورکړې څخه مخکې یې له مکنزي څخه ځواب وغواړي چې د ده په اړه د نوموړي مزاج مالوم کړي. سـید خبرې داسـې پیل کړې: «محمد شـاه خان له تا نه پوښـتي: «کله چې [د مېکناټن له مرګ څخه وروســـته] د محمدخان په کلا کې ســـتا ژوند په خطر کې و، ما څه وکړل؟»» مکنزي په ځواب کې ورته وویل: «کله چې پر ما باندې یو چا توره پورته کړه، محمد شاه خان زما تر غاړې لاسونه تاو کړل؛ نو توره د ده په اوږه ولګېده او وینې یې کړه.» بیا سید لیک ورکړ او د لیک له لوستلو وروسته، مکنزي وویل: «زه یې تل خپل ملګری ګڼم.»[۱۴۵]

یوازینې ســـړي چې د افغان - انګرېز له لمړۍ جګړې څخه ګټه پورته کړه هغه څوک و چې د تخت د چپه کولو په موخه یې جګړه پیل شوې وه. د ۱۸۴۳ کال د اپریل په میاشت کې وروسته له دې چې له خالصه سېکانو سره یوه موده مېلمه و، دوست محمد پېښـور ته ستون شـو او د خیبر غاښې په سـتغو لارو علی مسجد ته ورسېد. هلته، اکبرخان د ښـه راغلاســت له پاره ورغلی و او دی یې تر کابل پورې بدرګه کړ. فیض محمد لیکلي: «د ښــار په لارو کې خلک په لیکو کې ولاړ وو او زړو او ووړو یې پر راتګ خوشـحالی کوله. په لیدو به یې د ملاتړو ســترګې رڼا او ســینې به یې له ویاړ څخه ډکې شـوې. خوښې او خوشحالۍ بیخي ډېره وه. اووه ورځې او شپې د خوښۍ لمانځنې ترسره شوې. پر څراغونو شپې روښانه شــوې وې او د ورځې به غزلې او ســندرې ویل کېدې. د جشــنونو او ښــادیو انګازې اوچتېدې او هر ځای د خوشــحالۍ چیغې وې.»[۱۴۶]

کوم ښارګرېزه راپورونه چې انګرېزانو په افغانســـتان کې له خپلو جاســـوســـانو او خواخوږو څخه په ۱۸۴۳ کال کې ترلاسه کول، د دې څرګندونه کوله چې «د امیر او د ده د کورنۍ واکمنې هسې په نامه ده او له کوهستانیانو، غلزیو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنړ له خلکو او خيبريانو څخه هېڅ شی نه اخلي. دوست محمد خپل وخت او پيسې پر بې ګټو هڅو لګوي چې دسپليني کنډکونه جوړ کړي او هسې په شوده ګی د هندي شهزادګانو تقليد او له دوی سره سيالي کوي».[۱۴۷]

خو لکه پخوا، انګرېزي څارګرې ادارې د دوست محمد د وړتيا په اړه سم اټکل نه و کړی. امير کرار کرار خپل واک ډېر کړ او په ختيځ افغانسـتان کې يې خپله واکمني پراخه کړه؛ نو په دې توګه يې د خپلو راتلونکو لاسـته راوړنو له پاره بنسټ کېښـود چې لمړی باميان او بيا بدخشـان او ورپسې خلم او ټول شـمالي افغانسـتان فتح کړي. د ۱۸۵۰ مو کلونو په پيل کې يې د غزني په شاوخوا کې غلزي قبيلې ځانته تابع کړې او په ۱۸۵۵ کال کې يې په کندهار کې خپل ميړني ورونه له واکه وشـړل. دی د خپلې مړينې تر وخت، ۱۸۶۳، پورې له انګرېزانو سـره کړو تړونونو ته وفادار پاتې شـو، د ماليې راټولونه يې له ۲،۵ ميليونو څخه ۷ ميليونو ته ورسوله او د مېړن افغانستان پر کابو ټولو سيمو يې واکمني درلوده. د هرات په ګډون، د دوست محمد د فتحو وروستۍ پولو د اوسني افغانسـتان پولې جوړې کړې، خو له ده څخه پېښـور پاتې شو - دغه سيمه تر اوسه د افغانانو، په تېره بيا د پښتون نشنلېستانو د ناراضتيا سرچينه ده.

عجيبه دا وه چې له هغه اداري اصلاحاتو څخه دوست محمد ګټه پورته کړه کوم چې مېکناټن ترسره کړل څو د شاه شـجاع واکمني مضـبوطه کړي. مېکناټن د دراني قبيلو د مشـرانو واک لږ کړ، يو مسـلکي پوځ يې جوړ او د ماليې راټولولو يو کارنده جوړښـت يې رامنځته کړ.[۱۴۸] بې اړنګه، دا يوازې يوه له هغه ګڼ شـمېرو کړنو څخه وه چې انګرېزي ښـکېلاک د افغان دولت په داسې جوړونه کې ونډه واخيسـته چې له اشـغال څخه د مخکني وخت په پرتله اوس په افغانسـتان کې د يو دولت شـتون په ښکاره احساسـېده، خو اوس دغه سـم راغونډ او منظم افغانسـتان چې دوسـت محمد په کې واکمني کوله، په خپل تاريخ کې د هر وخت په پرتله ډېر بېوزله او په انزوا کې و. دغه هېواد نور د ورېښمو شـتمنه څلورلاره نه و او نه د تيموريانو پارسـي کلتور پرتمينې ورځې بېرته راتلې. په خپل تاريخ کې د لمړي ځل له پاره د بارکزيو تر واکمنۍ لاندې افغانستان څه نا څه وروسته پاتې هېواد شو.

هرات وروسـتی ښـار و چې دوسـت له خپلې مړينې څخه لږ مخکې کلابند او بيا فتح کړ. د خپل سـيال، شـاه شـجاع برعکس چې ښـايي بې نومه قبر يې د خپل پلار، تيمورشـاه د مقبرې په تل خونه کې وي، دوسـت محمد هملته د ګذرګاه په صوفي زيارت کې چې په افغانسـتان کې تر ټولو ښکلی زيارت دی، ښخ کړل شـو. نوموړی له يوه ښايسته او لوی ځلي لاندې چې په حکاکي شـوو مرمرو ښکلې شوی، د سيمې د يو ډېر پېژندل شـوي بزرګ صوفي او شـاعر، خواجه عبدالله انصــاري څنګ ته د معززو په ځای کې ښــخ دی. د دوســت محمد اولادې د ۱۹۷۰ مو کلونو تر انقلابونو پورې پر يو موټي افغانستان واکمني وکړه.

اوس په افغانسـتان کې هرات تر ټولو ارامه او ښېرازه دی او ګذرګاه تر اوسـه د زيارت کولو له پاره ډېر نومور ځای دی. رابرټ بايرن Robert Byron په ۱۹۳۰ مو کلونو کې ليکلي: «هر څوک ګذرګاه ته ځي، بابر تللی و، همايون لاړه، شـــاه عباس يې د اوبو رسـونې سيسـتم ته سـمون ورکړ او تراوسـه د چکر له پاره د هراتيانو د خوښې ځای دی.» او اوس چې اتيا کاله تېر شـوي، همغسې ښـکلی ځای پاتې دی. دغه زيارت د هغه غونډېيو په څنډه کې دی چې تر ښـار چاپېرې دي. يو لوی تيموري وړ، يو ارامه او سـاړه انګړ ته لاره پرانيزي چېرته چې پر قبرونو او يادګاري ځليو ډېرې ښـکلې خطاطۍ شـوې دي. توتکۍ د نښـتر او څېرۍ په ونو کې په چټکۍ ها خوا دېخوا الوتنې کوي، زاړه سـړي په سـيورو کې په خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویده او خپل سپین دستارونه یې سر ته بالښت کړي وي، ځینې نور په نرمۍ خپلې تسبېح اړوي او شاوخوا ته یې کوترې کو کو غاړې کوي.

د افغانستان او پاکستان په نورو ځایونو کې، د طالبانو له بېرته راتګ سره د صوفیت مریدي چې د دوی له عقیدې سره په ټکر کې ده منع کړل شوه: زیارتونه یا وتړل او یا والوزول شول او د سازندګانو د موسیقي الې ماتې کړل شوې، خو په ګذرګاه کې صوفیان پرته له دې چې څوک څه ورته ووایي تر اوسه شته. کله چې په ۲۰۰۹ کال کې زه هلته وم، د مریدانو یوې ډلې سمدلاسه د دوست محمد د مقبرې شاته په ذکر پیل وکړ. دوی ټول په ګونډو ګرد ناست وو او کله چې یو د اوږدو څنو مشرسندرغاړي د خواجه صیب یو شعر په اوچت اوازه بللو، نورو چکه ورته وهله او«حق! حق! حقیقت! حقیقت!» نارې یې وهلې او بیا یې نارې تر هغه وخته چټکې او اوچتېدې چې دوی د روحانیت وروستۍ کچې ته ورسېدل. بیا د شا په تخته پر قالینو پرېوتل او په ډېره خوښۍ او په اوږده ساه یې اسوېلي ایستل چې دمه یې جوړه شي.

د ۱۸۴۴ کال په دوبي کې وروسته له دې چې دوست محمد بېرته په تخت کښېناست او د خپلې لوټ او رنګې پاچاهۍ پر بیا یووالي او بیا رغولو یې پیل وکړ، د نړۍ په بله برخه کې تزار نېکولس سمدلاسه پرته له بلنې د وېنسر په کلا کې د ملکې وېکتوریا او شهزاده البرټ مېلمه شو.

له تزار سره یې د بهرنیو چارو وزیر کونټ نېسلروډ مل و. نوموړی هغه څوک و چې په ۱۸۳۷ کال کې یې ویتکېویچ د یو ماموریت د ترسره کولو له پاره دوست محمد ته لېږلی و؛ نو که د روسانو او انګرېزانو تر منځ سیالۍ او پر یو بل باندې بدګمانیو د افغان جګړې ناورین وزېږولو، اوس دا وخت رارسېدلی و چې د شخړې له سکاسې• څخه په سوله ییزه توګه مخ واړوي.

تزار چې له خپلو درباریانو سره په پټه او بدل نوم (کونټ اورلو) یون کولو چې د پولنډي تروریستانو د هدفي وژنې ښکار نه شي، په یو هالندي انکوټ کې په نابېره توګه د جون په لمړۍ نېټه د وولېچ Woolwich لنګرځای ته ورسېد. کله یې چې یوه شپه د روسې په سفارت کې چې د وېسټ مېنسټر په اشبرنهم هوس Ashburnham House کې و، تېره کړه، بیا په اورګاډي کې وېنسر ته لاړ.

وېکتوریا چې پنځه ویشت کلنه او امیندواره وه، د داسې اکاړ تاتار د راتګ تمه یې نه لرله او یوه بدګماني هغه وخت رامنځته شوه چې د تزار له راتګ سره سم د نوموړي یو کس کاداني ته ولېږل شو چې یوه د څرمنې کڅوړه له بوسو څخه ډکه کړي. تزار له دې څخه د توشکې کار اخیسته او د کمپ په پوځي کټ کې به هر وخت ورباندې ویده کېده، خو په پای کې، د ملکې دغه مېلمه خوښ شو. دې د جون په څلورمه خپل تره ته لیکلي:

دی بې اړنګه ډېر د پام وړ سړی دی او ښکلی هم دی، ونګه یې بنیالی او چلند یې دروند دی. خورا ډېر بانزاکته او په حیرانوونکې توګه ډېر مودب او پامیالی دی، خو د سترګو بڼه یې ډېره ډارووونکې ده او ماهېڅ کله دې ته ورته څه نه دي لیدلي. ما او البرټ ته نوموړي

•سکاسه: د انسان او یا ژوي په بڼه هغه وهمي څېره چې په شپه کې وېرېدلي کس ته ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې خيال راکړ چې دی يو خوشحاله سړی نه دی او د خپل لوی واک او ځواک دروند پيټی يې پر اوږو په دردوونکې توګه پروت دی. خندا کابو هېڅ نه کوي او کله چې وخاندي، ونګه يې خوشحاله نه ښکاري، خو له نوموړي سره مجلس ډېر اسانه دی.[۱۴۹]

د ليدنو په پای کې شـــهزاده البرټ، تزار د چېزيک هوس Chiswick House کوټۍ ته بوت - د ا د لندن په لوېديځ کې د کليوالي سيمو او پالېزونو په منځ او د تېمز سيند Thames په غاړه کې يوه وېنېټو پلېډيني* Palladian ودانۍ ده چې په عجيبه توګه هلته يوازې يوه جوړه شوې. دلته د ډېون شيير Devonshire ډيوک، هغه ځوک چې د وېک بنسټ ته ډېر ارزښـــتمن و، د تزار په وياړ يو لوی تشـــريفاتي ســـباناري جوړ کړی و چې د هېواد ډېرو واکمنو ســـياســـتوالو او ټولې ديپلوماتيکي کړۍ په کې برخه اخيستې وه. د دغه ليدنې د اصلي موضوع په هکله په يو باور نه کېدونکي ځای کې خبرې ترســـره شـــوې. دغـه ځـای د چېزيـک ســـرپټي بـازار د ســـينـدغـاړي لـه پـلې لارې څخـه لـږ بـر پـروت و. د جون په اتمه، د دوبي د يوې ځلانده ورځې په پنځه پاتې دوو بجو، شـــاهي اســـواله ډله د چېزيک هوس په دروازه ننوتله. له دغه ډلې څخه مخکې يوه د بدرګې اســـواله ډله چې ملي تشـــريفاتي يونيفورم يې درلود راغله او په عين وخت کې د کولډســـټريم ګارډس Coldstream Guards او هارس ګارډس Horse Guards هنري ډلو د روســـي ملي ســـرود وغږولو. د امپراتوری توغ د سمر پالر Summer Parlour او شـاهي توغ د ارکېډ Arcade پر سـر اوچت کړل شـول او د توپ يوويشــت ډزې له هغه توپخانې وشـوې چې د کوټۍ په انګړ کې ځای پر ځای شـوې وه. ورپسـې تزار په داسـې لاره سـالون ته بوتلل شـو چېرته چې د ډيوک څلور زرافې ولاړې وې. سـالون د منځنيو پېړيو د لوېي خېمې په بڼه تيار شـوی و. د مېلمســـتيا په بهير کې تزار ډېرې خبرې له ډيوک اف ولېنګټن ســـره کولې  او د لارډ مېلبورن Lord Melbourne او د صـدراعظم سـېر رابرټ پيل سـره يې هم مجلس وکړ. کونټ نېسـلروډ نيغ خپل پخواني سـيال، لارډ پامسـټن ته ورغی. پامسـټن په خپل دولتي کاري ژوند کې د روسـيې په مخالفت کې نوم درلود. دوی دواړو ټول ماسـپښـين له يو بل سـره په خبرو تېر کړ.[۱۵۰]

د دې ليدنې موخـه د دغـه دوو لويو قـدرتونو په منځ کې د اړيکو ټينګول وو چې د داســـې نـاســـم پوهـاوي او بـدګمـانۍ مخنيوی وکړي کومه چې په منځنۍ اسيا کې د ډېرې ويښې تويونې وجه وګرځېده. لکه څنګه چې تزار، رابرټ پيل ته وويل: «زه هيله لرم چې د خپلو دوستانه خبرو په وسيله د دغه دوو هېوادونو په منځ کې بدنيتي له منځه يوسو.»[۱۵۱] د عامه اړيکو له پلوه، د تزار ليدنه بې اړنګه يوه لويه بريا وه. نوموړي په خپله ښـــايســـته ونګې او دروند چلند د لندن ټولنې ښځې اغېزمنې کړې وې. برون سټاکمر Baron Stockmar ليکلي:«دی د ښځينه ښايست مينه وال دی او خپلو پخوانيو انګرېزي معشـوقو ته يې ډېره پاملرنه لرله»،  خو ټوکې يوې خوا ته، له ښـه نيت سـره سـره، د چېزيک سـباناري په ترڅ کې خبرو اترو د راتلونکو شخړو له پاره تخم وشينده.

تزار چې د انګرېزي پارلمان او مخالفو ســـياســـي ګوندونو د نفوذ په اړه دومره مالومات نه لرل، له برتانيې څخه په دې باور لاړ چې د ملکې او نورو مخکښـــو وزيرانو، په ځانګړې توګه د ســـېر رابرټ پيل او د ده د بهرنيو چارو وزير لارډ ابردين Lord Aberdeen سره خصوصي او شخصي خبرې اترې د حکومت د پاليسۍ په مانا وې. دی په ځانګړې توګه

---

*وېنېټو پلېډين هغه ودانيو ته وايي چې په جوړولو کې يې د مهندس انډريه پلېډيو  Andrea Palladio له ډېزاين څخه الهام اخيستل شـوی وي. نوموړی د ايټاليا د وېنيشن Venetian ښار هستوګن و. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باور و چې برتانیه به اوس له روسیې سره لاس یو کړي چې عثماني امپراتوري ټوټ کړي، خو انګرېزانو دغه خصوصي خبرو اترو ته یوازې د شخصي نظریو د تبادلې په سترګه کتل، نه د داسې کومې ژمنې په سترګه چې تزار ګڼلې وه.[۱۵۲]

ســباناری په ســمبولیک ډول په ډېره ګډوډۍ او لېونتوب پای ته ورســېد: د زاکســـنې Saxony پاچا په ګډون ځینې مېلمانه په جالو کې چې د ډیوک جالوانو چلولې له ډنډ څخه تېر شول چې د ډیون شیېر زرافې وګوري، خو زرافې په اوبو کې مخامخ لوري ته واوښتې او د چېږیک هوس د انګړ په چمن کې یې د تزار د ډلې هغه خلک تر پښو لاندې کړل چې په بله غاړه کې تم ولاړ وو. د پارک کارکوونکو، چې تشــریفاتي دولتي یونیفورم یې اغوســتی و، بلاخره زرافې له دغه ځای څخه وایستلې، خو له دغه شېبې څخه یو لړ پېښو، لفظي تېروتنو او دیپلوماتیکي ناسم پوهاویو په ۱۸۵۳ کال کې د روسیې او برتانیې تر منځ داسې یوې جګړې ته په کریمیا کې لاره هواره کړه چې مخنیوی یې ناشونی و.
دا ځل د انګرېزانو او روسانو سیالۍ د اته لکو خلکو ژوند واخیست.

د کېم Kim د کیســې په پای کې، کېپلېنګ Kipling د خپلې کیســې اتل ته دغه خبره په خوله کې ورکوي: «لویه لوبه مخکې نه، بلکې هغه وخت پای ته رسېږي چې ټول مړه شي.»
په ۱۹۸۰مو کلونو کې له ناکام اشــغال څخه وروســته، له افغانســتان څخه د روســې بېرته وتنې د شــوروي اتحاد د انحلال لاره هواره کړه. کابو شــل کاله وروســته، په ۲۰۰۱ کال کې، انګرېز او امریکایي عســکر افغانســتان ته ننوتل، داســې ځای ته چې که برتانیې ته پام واړوو، انګرېزانو د څلورم ځل له پاره په دغه هېواد کې د خپلې څلورمې ماتې له پاره خپلې متې ونغاړلې. د پخوا په څېر، د میلیاردونو ډالرو د لګولو، د ټول افغان پوځ د روزنې او د اشــغالګرو د بې ســارو پرمختللو وســلو ســره ســره، په پای کې افغان مقاومت وتوانېد چې کرکجن کافران لمړی کلابند او بیا یې شــرموونکې وتنې ته اړ باسې. په دواړو حالاتو کې، اشــغالګرې قوې د ډېرو لګښــتونو په بدل کې د لږ لاســته راوړنو له وجې د جګړې د دوام هوډ له لاسه ورکړ.
له ډېرو توپیرونو سره سره، په یوویشتمې پېړۍ کې د افغانستان د اشغال او په ۱۸۳۹- ۱۸۴۲کلونو کې د دغه هېواد د اشــغال ترمنځ بې اړنګه ورته والی هم شــته. د دواړو شــخړو په تکامل کې د ســیاســي جغرافیې اغېز په رښــتیا شــته. په خپله د کابل موقعیت یوه موضــوع ده - چې له یوه لوري د کوهســـتان تاجک وګړو ته نږدې دی او په بل لوري کې یې د ختیځ غلزي مېشت دي او بله د قبیلو موضوع ده. اوس یو بل پوپلزی، حامد کرزی د ختیځ غلزیو په مشرۍ له چریکي بریدونو ســره لاس او ګرېوان دی. کرزی د نفوذ او ملاتړ ســیمه نه لري او په حیرانوونکې توګه له هغه فرعي قبیلې څخه دی له کومې چې شــاه شــجاع و او نن غلزي د طالبانو د جنګیالیو لویه برخه جوړوي او مشــري یې یو بل قومي مشر، ملا عمر کوي چې د هوتک له حاکم ټبر څخه دی*.[۱۵۳]

*ملاعمر د سوبلي افغانستان د لمړني واکمن، میرویس هوتکي لیرې خپلوان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه کتاب له پاره د پلټنو په بهیر کې، په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ مو کلونو کې افغانستان ته زما د اوږده یون په پیل کې ما ځانته دوه موخې وټاکلې. لمړی دا چې ما غوښتل چې د دغه جګړې په هکله لږ مونده افغان سرچینې چې ما یې په شتون باور درلود ومومم. زه په دې کار کې بریالی شوم او په دغه کتاب کې مې ترې کار واخیست. دویم دا چې زه د دې کازمن وم چې پر افغان انګرېز لمړۍ جګړې پورې تړلې دومره ډېرې سیمې په خپلو سترګو ووینم څومره یې چې په داسې حالاتو کې شونتیا وه ځکه چې پر افغانستان باندې د ایساف* د کنټرول منګولې په ښکاره ورځ تر بلې سستېدې. په ۲۰۱۰ کال کې طالبانو د افغانستان په اویا سلنه خاوره کې شتون درلود او د کرزي حکومت له ستراتیژیکې اړخه له ۱۲۱ مهمو ولسوالیو څخه یوازې پر ۲۱ ولسوالیو بشپړ کنټرول درلود. په پورته یاده شوې اویا سلنه خاوره کې هغه سیمې راتلې چې د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ په میاشت کې د انګرېزانو د شاتګ لارې په کې پرتې وې. زه په دې پوهېدم چې په دغه کتاب کې د انګرېزانو د شاتګ لارې په اړه د لیکنې په موخه باید دغه سیمو ته لاړ شم چې د جغرافیې په اړه یې ځان سم پوه کړم. ما په ځانګړې توګه غوښتل چې ګندمک ته لاړ شم او هغه ځای ووینم چېرته چې انګرېزانو خپل وروستی مقاومت وکړ.

د ۱۸۴۲ کال د شاتګ لاره د غرونو هغه لړۍ ته وځي چېرته چې توره بوره او د پاکستان پوله پرته ده. د کوټې په ګڼون چې د طالبانو د جلب سیمه ده، دغه سیمې تل د غلزیو تاټوبی وې او دي. ما ته مشوره راکړل شوه چې له ځایي ساتونکو پرته دغه سیمو ته د تګ هڅه ونه کړم؛ نو بلاخره د یو سیمه ییز قومي مشر په ملتیا چې د کرزي په حکومت کې وزیر هم و، هلته لاړم. دا د جګدلک په نوم یو پلونډ سړی و چې په ۱۸۸۰ مو کلونو کې یې په جمعیت اسلامي کې د روسانو پر ضد جهاد کې نوم پیدا کړ.

د همدغه جګدلک غلزي نیکونه وو چې په ۱۸۴۲ کال کې یې انګرېزي پوځ ته ډېرې بدې مرګ ژوبلې واړولې. په خپله جګدلک هم کله چې په همغه غاښیو کې په ګاډي کې ورسره روان وم څو ځله همدغه خبره یاده کړه. ده وویل: «دوی موږ دې ته اړ ایستو چې وسله واخلو او له خپل عزت څخه دفاع وکړو؛ نو موږ دغه حرموني ټول ووژل.» که څه هم په دې موضوع پورې اړه نه لري، خو اوس خبره راغله او هغه دا چې د نوموړي دومره خبرو د ده مخه ونه نیوله چې خپله کورنۍ له کابل څخه د لندن په شمال کې د نارتالټ Northolt خوندي سیمې ته ولېږي.

په هغه ورځ چې موږ ګندمک ته تللو، ما ته ویل شوي وو چې باید د سهار په اوو بجو د جګدلک وزارت ته ورشم چې د کابل په هغه اداري محله کې و چې اوس د وزیراکبرخان په نوم یادیږي؛ نو ما هم په کړو وړو امنیتي کتنځایونو او پټري تارونو razor wire کې چې تر وزارت چاپېر وو خپله لار وایسته چې جګدلک ته ورشم. هلته مې کتل چې د جګدلک حاضرباشو ساتونکو نوموړی په بیړه د مضبوطو زغروالو اس او وي SUV ګاډو کتار ته ور د ننه کوي او شاوخوا د لاسي مخابرو شغاری دی او ټوپک ډزو ته تیار دي.

جګدلک په خپله ګاډی چلولو او تر شا یې له وسلوالو افغان ساتونکو څخه ډک د پیک اپ ګاډي روان وو. کله چې موږ له پلازمېنې وتلو، د اوسني اشغال د ناکامۍ نښې هر ځای لیدل کېدې. کابل د نړۍ یوه تر ټولو بې وزله او ګڼ وډه پلازمېنه پاتې ده. که څه هم د امریکا متحده ایالاتو شاوخوا ۸۰ میلیارده ډالر افغانستان ته وبهول، خو کابو ټولې

---

*نړیوال مرستندوی امنیتي ځواک چې په ۲۰۰۱ کال کې ملګرو ملتونو جوړ کړ او په ۲۰۰۳ کال کې یې ناټو ځای ناستی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پیسې په دفاعي او امنیتي چارو کې ورکې شوې او د پاکستان د ولایتي ښارګوټو د واټونو په پرتله چې ډېر له پامه غورځول شوي د کابل واټونه تر اوسه ډېر ویالې ویالې وو. په واټونو کې څراغونه نه وو او ظاهراً د کثافاتو د ټولولو څرک هم نه لیدل کېده. د جګدلک د خبرې پر بنسټ، دا یوازې د پېټي سردی. له ۲۰۰۱ کال څخه را په دېخوا، له څه باندې یوې لسیزې راهیسې، د یو درجن هېوادونو او کابو زر اېجنسیو له هڅو سره سره، افغانستان لاتراوسه په بد حالت کې دی: په افغانستان کې یو پر څلورمه برخه ښوونکي نالوستي دي، په ډېرو سیمو کې حکومت کابو هېڅ نه شته: نیمایي والیان خپل دفتر او ډېر یې برېښنا نه لري. د عامه خدمتونو کارکوونکي ډېرې بنسټیزه زده کړې او وړتیاوې نه لري.

موږ د کابل ښار په کنډ او کپر واټونو کې او د امریکا سفارت د استحکامي دېوالونو او د ناټو د هغه بارکونو له څنګه تېر شوو چې ټیک په هغه ځای کې یې جوړ کړي وو چېرته چې ۱۷۰ کاله مخکې انګرېزانو خپله اډه جوړه کړې وه. ورپسې بت خاک ته ورسېدلو او بیا په کږه وږه لاره د غاښیو په سپېره لیکه کې وړاندې روان وو. لمړی خردکابل او بیا تېزین ته، چې کابل له خیبر سره نښلوي ورسېدلو.

دا رښتیا ډېره ډراماتیکه او احساساتي منظره وه. زموږ په دواړو خواوو کې په اوچتو پرتو باروت رنګه کمرونو کې د ځېل شوو او ماتو ډبرو د پوړونو چاودلو لیکو هاخوا دېخوا په زګېرویو لاره ایستلې وه او پاس، د غاښورو غرونو څوکې د ګرد په ډاروونکو ورېځو کې پټې وې. د لارې په اوږدو کې جګدلک په ترخه بنه له خپل حکومت سره د لوېدیځې نړۍ د چلند په اړه سر وټکاوه. کله چې موږ له لومړي غاښي څخه په ښکته کېدو کې وو، ده په کرار غږ وویل: «په ۱۹۸۰مو کلونو کې چې موږ امریکایانو ته روسان وژل، موږ یې د ازادۍ جنګیالي نوملو، خو اوس موږ جنګسالار بولي او مخ راڅخه اړوي.» په سروبي کې، چېرته چې غرونه یوې سرې بخونې اوچتې دښتې ته غېږه پرانیزي چې په کې ځای ځای د غلزي کوچیانو خېمې لیدل کېدې، موږ له اصلي سړک څخه ووتو او د طالبانو د سیمې په لور ستانه شوو. پنځه نور د پیک اپ ګاډي چې د جګدلک له پخوانیو مجاهدینو ډک وو له یوې فرعي لارې راښکاره او له موږ سره یوځای شول. ټولو خپل راکټونه پورته پورته خوځول او خپل مخونه یې په خپلو لونګیو کې پټ کړي وو. د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ په دوولسمه، وروستي ۲۰۰ یخنۍ سوي انګرېز عسکر د جګدلک په کلي کې د زرګونو غلزیو له لوري کلابند شول. یوازې څو کسه په دې وتوانېدل چې د غونځو له دېوال څخه ها خوا تېر شي، خو شکر دی چې په دغه ځای کې موږ ته تود هرکلی وشو. دا زما د کوربه لمړی ځل و چې وروسته له وزیر کېدو څخه خپل کلي ته راغی او ویاړمنو کلیوالو یې د تېرو وختونو په یاد خپل پخواني قوماندان داسې غونډېو ته د چکر لپاره بوت چې د سارایي وېلني او ترخې بوی په کې خور و او بیا یې د غرونو لمنو ته بوت چې د خیرو پر ګلانو او د توت پر ونو پټې وې او سپېدارو خپل سوری پرې غوړولی و. دلته د شاوخوا څوکو په سر کې، د څار هغه برج ته څېرمه چې بربنډو او یخنۍ وهلو سپاهیانو په کې پناه اخیستې وه، د جدلګ د پخوانیو مجاهدینو د هغه خندقونو او تلخونو پاتې شوني پراته وو چې د روسانو پر ضد یې ترې کار اخیسته. کله چې دغه چکر پای ته ورسېد، د کلي خلکو د تیموریانو په بنه د درې په بېخ کې د خوبانیو په یو باغ کې موږ ته مېلمستیا وکړه. هلته پر قالینو د انارو د غوټیو او د انګورو تر چیلې لاندې کښېناستو او زموږ مخ ته د کباب او قابلي پلو پرله پسې غوري کېښودل شول. په داسې حال کې چې د غرمنۍ په بهیر کې کوربه والو کله کله د غونځو دېوال او په کلي کې نورو هغه ځایونو ته اشاره کوله چې په ۱۸۴۲ کال کې انګرېزان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ســتې شــوي وو، موږ د دغه جګړې په هکله د خپلو کورنیو تېر یادونه ســره پرتله کړل. ما د خپل تر نیکه د ورور، کالن مکنزي چې دغه ځای ته ځېرمه یرغمل نیول شوی و، په هکله خبرې وکړې او له دوی څخه مې پوښتنه وکړه چې د هغه وخت او اوســـې وضـعیت په هکله دوی کوم ورته والی ویني. جګدلک په ځواب کې وویل: «اوســی حالت کټ مټ همغه وخت ته ورته دی. په دواړو پېښـو کې بهرنیان د خپلو ګټو له پاره راغلل، نه زموږ د ګټو له پاره. دوی وایي: «موږ ستاسې ملګري یو او غواړو چې مرسته درسره وکړو.» خو دروغ وایي.» محمد خان، زموږ کوربه او د دغه باغ څښتن چې موږ په کې ناست وو، له جګدلک سره همغږی و او ویې ویل: «حتی اوس هم که څوک افغانستان ته راځي، دوی به د برنز، مېکناټن او ډاکتر برایډن برخلیک ولري.» ټولو حاضرینو په هوښیارۍ د هو سر وخوځولو. په خپلو هېوادونو کې د هغه پوځیانو نومونه چې د ۱۸۴۲ کال په جګړه کې مړه شـــوي وو، ډېر مخکې هېر شـــوي، خو دلته هغه پېښـــې لاتراوسه یادېږي.

یو بوډا سړي چې زما ښي لوري ته ناست و، وویل:«له انګرېزانو څخه وروسته، روسان راغلل، او دوی مو هم وشړل، خو وروســـته له هغې چې زموږ د کلي ډېر کورونه یې بمباري کړل.» نوموړي زموږ شـــاته په غونډیو کې یوې موړې ته اشـاره وکړه چې د ختو له رنګو کورونو څخه ډکه وه. بیا، محمد خان وویل: «موږ د نړۍ بام یو. له دغه ځای څخه هر ځای لیدی او کنټرولېدی شي.» ورپسې جګدلک له محمد خان سره په همغږۍ وویل: «افغانستان د هر هغه ملت له پاره چې ځواکمن کېږي، د یوې څلورلارې په څېر دی، خو موږ د دې وس نه لرو چې خپل برخلیک په خپله کنټرول کړو. زموږ برخلیک زموږ ګاونډیان ټاکي.»

د مازدیګر کابو پنځه بجې وې چې له دسترخان څخه د ډوډۍ وروستۍ ټوټه پورته کړل شوه او په دغه وخت کې موږ ته څرګنده شوه چې اوس ګندمک ته د تګ له پاره بیخي ناوخته دی. نو پر ځای یې پر اصلي لاره نېغ جلال اباد ته لاړو چې څه ناڅه خوندي ښار و. هلته پوه شوو چې موږ له لوی خطر څخه بچ شوي یو. په همغه سهار په ګندمک کې د دولتي ځواکونو او د کلیوالو د یوې ډلې تر منځ چې طالبانو یې ملاتړ کولو نښته شوې وه؛ نو د مېلمستیا لوبې کچې، اوږدوالي او زموږ خېټورتوب له دې څخه وژغورلو چې نېغ د غلچکي برید په لور ستـانه شـوو. دغه نښـته ټیک هغه ځای شـوې وه چېرته چې په ۱۸۴۲ کال کې انګرېزانو خپل وروستی مقاومت کړی و.

سـبا سـهار په جلال اباد کې د غلزیو د مشـرانو یوې جرګې ته لاړو چېرته چې د اوربند تر جنډې لاندې د ګندمک شـنه ږیري راغلي وو چې د پرونۍ نښـتې د پېښـېدو په اړه خبرې اترې وکړي. د ګډونوالو کیسـې د هغه څه په اړه وې چې ما د معمول په څېر د کرزي د حکومت په اړه اورېدلې وې او دا یې وښـوده چې څرنګه د فسـاد، بې کفایتۍ او بې احسـاسـۍ یوې ګډولۍ د طالبانو بېرته راتګ ته چې مخکې کرکه ترې کېده لاره هواره کړه.

په داسـې حال کې چې وژونکو بې پیلوټه الوتکو په څېرمه هوایي ډګر کې په دوامداره توګه ناسـتې او الوتنې کولې، غلزي سـپینږیرو د هغه پېښــو یادونه کوله چې څرنګه تېر کال دولتي عســکرو د دوی د کوکنارو حاصـلات له منځه یووړل. حکومت له کلیوالو سره ژمنه کړې وه چې که چېرې دوی یې عسکرو ته د منځه وړلو اجازه ورکړي؛ نو دوی ته به بشپړ تاوان ورکړل شـي، خو هېڅ کله تاوان ورنه کړل شـو. ورپسـې د کرنې په موسـم کې، د ګندمک خلک یو ځل بیا جلال اباد ته لاړل چې له دولت څخه غوښتنه وکړي چې د کوکنارو پر ځای د نورو حاصلاتو په کرنه کې مرسته ورسره وکړي. دولت ژمنې وکړې، خو بیا دغه خلکو ته هېڅ شی ورنه کړل شـول؛ نو دوی کوکنار وکرل او سـیمه ییزو دولتي چارواکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې خبر ورکړ چې که دا ځل یې د حاصــلاتو د له منځه وړلو هڅه وکړه، دوی به بله چاره ونه لري پرته له دې چې مقاومت ته مخ کړي. کله چې عســکر بیا هغه وخت ورغلل چې موږ ګندمک ته څېرمه په جګدلک کې وو، د کلي خلک دوی ته تیار تم ناست وو او له ځایي طالبانو څخه یې د مرستې غوښتنه هم کړې وه. په دغه نښته کې نهه پولیس ووژل شول، شپږ ګاډي له منځه لاړل او لس پولیس یرغمل ونیول شول.

کله چې جرګه پای ته ورسېده، د ګندمک دوه سپین ږیري موږ ته راغلل او په یوه چاینکه شین چای مو بنډار وکړ.

یوه یې وویل: «تېره میاشــت ځینې امریکایي افســرانو موږ یوه هوټل ته د مجلس له پاره وروغوښــتلو. د امریکایانو یو افسر له ما څخه وپوښتل: «تاسې ولې زموږ څخه کرکه لرئ؟» ما ځواب ورکړ: «ځکه چې تاسې زموږ دروازې الوزوئ، زموږ کورونو ته ننوزئ، ښځینه مو له وېښتانو کش کوئ او ماشومان مو په لغته وهئ. موږ دا نه شو منلی او ځوابیه جګړه به وکړو. ستاسې غاښونه به مات کړو او کله مو چې غاښونه مات شول، هغه وخت به تاسې بېرته داسې لاړ شئ لکه له تاسې مخکې انګرېزان چې ووتل. دا کار به خامخا کېږي .»»

«بیا هغه څه درته وویل؟»

«هغه خپل ملګري ته مخ واړولو او ویې ویل: «چې سپین ږیري یې داسې دي؛ نو ځوانان به یې څرنګه وي؟» په حقیقت کې دلته ټول امریکایان پوهېږي چې خبره یې خلاصه ده. یوازې د دوی سیاستوال له دغه حقیقت څخه انکار کوي.»

ورپسې هغه بل سپینږیري وویل: «دا د امریکایانو وروستۍ ورځې دي. بل ځل به د چینایانو وار وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال یادښت

په ۱۸۴۳ کال کې، کله چې په جلال اباد کې د پوځ عیسوي ملا رېو. ج. ر. گلیک د افغان-انگلیس د لمړۍ جگړې له کوتلځي• بېرته راغی، د دغه له ناورین څخه ډکې لښکرکشۍ په اړه یې یو یادښت کتاب ولیکه. نوموړی یو له هغه نیک بخته کسانو څخه و چې له دغه جگړې څخه ژوندی وتلی و. ده لیکلي: «جگړه د یوې ناښندې موخې له پاره پیل شوه، د بیړې او وېرې په عجیبه گډوله کې مخته وړل کېده او د افت، ځور او کړاو له زغملو وروسته داسې پای ته ورسول شوه چې نه یې حکومت ته چې دغه جگړه یې اداره کوله، او نه یې د پوځ لوېې برخې ته چې جگړه یې مخته وړله، کوم برم او جلال ور په برخه کړ. د دغه جگړې په ترسره کولو سره نه یوه سیاسي او نه یوه پوځي گټه ترلاسه شوه او له کبله یې له افغانستان څخه زموږ بېرته وتنه د یو مات پوځ شاتگ ته ورته وه.»[1]

د څلور څلوېښتمې پلې قوې په نوم د ویلیم بارنز ولن William Barnes Wollen یوه نوموړه نقاشي شته چې په کې د گندمک د غونډۍ پر سر یوه ډله شډل خو هوډمن عسکر داسې انځور شوي چې له برچو سره په یوه نرۍ کړۍ کې ولاړ دي په داسې حال کې چې پښتانه قبایلي جنگیالي ورنږدې کېږي. دغه نقاشي د خپل وخت تر ټولو نوموړ انځور وگرځېد. همدې ته ورته، د «پوځ وروستی پاتې شونی» په نوم د مېرمن بټلر Butler یو اثر هم ډېر نوموړ شو چې په کې ډاکټر براېډن چې گواکې یوازېنی ژوندی پاتې پوځي و داسې انځور شوی چې پر خپل ستومانه او مخ په لوېدو اس باندې د جلال اباد د کلا د دېوالونو مخې ته رسېږي.

ټیک هغه وخت چې په ۲۰۰۶ کال کې د لوېدیځ له لوري د افغانستان د اشغال خوند تریو کېده، ما ته د افغانستان د اشغال له پاره د برتانیې د لمړۍ ناکامې هڅې په اړه د یو نوي تاریخ د لیکلو اند پیدا شو. له یوې اسانه فتحې او د یو لوېدیځ پلوه گوډاگي واک ته له رسولو وروسته، کښېنول شوی رژیم له ډېرېدونکي مقاومت سره مخ کېده او تاریخ بیا تکرارېده.

د لمړنیو پلټنو په بهیر کې، زه ډېرو هغو ځایونو ته لاړم چې له پورتنۍ جگړې سره یې تړاو درلود. په افغانستان کې په لمړۍ ورځ زه د شمالي ډاگونو ته لاړم چې په چاریکار کې د الدرېډ پاټېنگر د بارکونو پاتې شوني ووینم. په بگرام کې اوس له دغه ځای څخه په لږ واټن کې د امریکایانو د هوایي قواوو اډه پرته ده. په هرات کې د دوست محمد خان مقبرې ته چې د گذرگاه په صوفي زیارت کې ده، لاړم. په جلال اباد کې د کابل په سیندغاړه کې کښېناستم او همغسې په سکرو کباب خوندور د سیند کبان، شیر ماهي مې وخوړل چې ۱۷۰ کاله مخکې انگرېزي کلابند عسکر ورباندې پایېدل او په ځانگړي ډول د «جگړه مار باب» سېل ډېر خوښېدل. کندهار ته چې ورسېدم، هغه گاډی چې په ما پسې هوایي ډگر ته استول شوی و، پر شاتنۍ ښیښه یې هغه وخت د نښې ویشتونکي گولۍ ولگېده کله چې محوطې ته نږدې کېده. وروسته زه د بابا ولي زیارت ته چې د ښار په څنډه کې و، لاړم. دا یو له هغه ځایونو څخه و چې د هنري لارنس خوښېدلو. بیا مې یوه امریکایي گزمه ولیده چې د ارغنداب له سیند څخه د تېرېدو په مهال کې پرIED ماین والوزول شوه. دا هغه ځای و چې لکه د انگرېزانو په لمړي اشغال کې، اوس یې هم د اشغال شوې سیمې او د افغان مقاومت تر واک لاندې سیمو تر منځ پوله جوړه کړې وه. په کابل کې وتوانېدم چې د بالاحصار د لیدو اجازه ترلاسه کړم. هغه

• کوتلځی: قصابخانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د شــاه شــجاع مانۍ وه او اوس په کې د افغان پوځ د ځارګرې ادارې مرکزي دفترونه دي چېرته چې د جګړې له لمړۍ کرښې څخه راغلي راپورنه ارزول کېږي او شــاوخوا یې د ۱۸۴۲ کال انګرېزي ســوري توپونه او د ۱۹۸۰مو کلونو روسي T72 ټانګونه سرچپه پراته دي.

څومره چې زه ډېر ورته ځیر کېدم، همدومره ډېر داسې راته برېښــېدل چې په افغانســتان کې د لوېدیځ له ناورین څخه ډکې لمړنۍ بند پاتې کېدنې په ښکاره هغه انګازې درلودې کومي چې اوس، زموږ په پېر کې خطرناکې نوې ښــکېلاکې neo-colonial هڅې رامنځته کړې دي، ځکه چې د ۱۸۳۹ کال جګړه د یو داســې ګواښ په اړه د تحریف شــوو ځارګرېزه راپورونو پر بنسټ پیل شـوه چې کابو هېڅ نه شـته وو: په دغه قضیه کې یوې ډلې ځانپالو او ایډیالېسـټ جګړه پلوو په کابل کې یوازې د یوه روســي پلاوي په اړه مالومات تحریف کړل او بیا یې په اړه له مبالغې څخه کار واخیســـت چې د یو خیالي روسـي یرغل په هکله وېره رامنځته کړي. لکه څنګه چې په تهران کې د برتانیې ســفیر جان مکنیل چې له روســانو څخه یې کرکه لرله په ۱۸۳۸ کال کې له تهران څخه لیکلي وو: «موږ باید دا په ډاګه اعلان کړو چې هغه څوک چې زموږ پلویان نه دي؛ نو زموږ پر ضــد دي... موږ باید افغانســـتان ونیســـو.»[۲] نو په دې توګه یوه داســې نااړینه او ګران بیه جګړه رامنځته شوه چې په بشپړه توګه یې مخنیوی کېدای شوای.

د دغه دوه یرغلونو ورته والی چې زه وربانديې پوه شـوم، نه یوازې دا چې بې بنسـټه نه دی، بلکې پر حقایقو ولاړ دی. یو ســل او اویا کاله وروســـته، همغســې قبیلوي ســیالۍ او همغســې جګړې له نویو بېرغونو، نویو ایډیالوژیو او د نویو ګوډاګي لرونکو په څېره کې دوام درلود. په همغه ښارونو کې داسې بهرنیانو چې په همغه ژبه غږېدل اډې جوړې کړې او له همغه غونډیو او اوچتو غاښیو څخه بریدونه وربانديې کېدل.

په دواړو قضــیو کې، یرغلګر په دې اند وو چې دوی به هېواد ته ورننوځي، رژیم به بدل کړي او په دوو کلونو کې به بېرته ووځي. په دواړه قضیو کې دوی ونه توانېدل چې په لویه او پراخه شخړه کې بند پاتې نه شي. همغسې چې د ۱۸۴۱ کال د پېښو په کابو کولو کې د انګرېزانو بې وسي نه یوازې د مشرتابه د ناکامۍ زېږنده وه بلکې د مېکناټن او شاه شجاع تر منځ د سـتراتیژیکو اړیکو پرېکېدنه یې هم وجه وګرځېده، اوس هم د ایسـاف د مشـرتابه او اولسـمشـر کرزي ترمنځ ســـږې اړیکې د اوســـنیو پېچلو حالاتو لوی لامل شـــوې. کله چې زه په ۲۰۱۰ کال کې کابل ته لاړم، په هغه وخت کې د برتانیا خاص استازي، سېر شېررډ کوپر کولز Sir Sherard Cowper-Coles د هالبروک Holbrook په اړه داسې وویل: «هالبروک یو داسې غوبۍ دی چې هر ځای ته ځي، له ځان سـره خپله د چیني لوښـو هټۍ وړي.» (داسې سـړی دی چې په خپلو بې پروا کړنو او خبرو وضــعیت لا ډېر ترینګلی کوي. ژباړن). دا دغســـې تعریف دی چې ۱۷۴ کالـه مخکې د مېکناټن بنه په بشـپړ ډول خلاصـه کوي. شـېررډ د «له کابل څخه تلګرافونه» په نوم یو یادښـت کتاب لیکلی. د اوسـنې اشـغال د ناکامۍ په اړه د نوموړي شـنې په حیرانوونکې توګه د اکلنډ او مېکناټن شـنو ته ورته دي: «هېواد ته ننوځو خو په دې سم نه پوهېږو چې څنګه به بېرته ورڅخه وځو.» دا کابو داسې ښکاري لکه په لوی لاس چې اصلي ننګونې نه په ګوتو کېږي. دا ځکه چې په دوامداره توګه موخې بدلېږي، یو ثابت، څرګند او منظم پلان نه شـــته، ماموریت په بېسـارې کچه ورو مخ ته څښـېږي، د سـیاسي او پوځي قوماندې په مشـرتابه کې یوالی نه شـته او داسې نه شـتون هم بېسـارې کچې ته رسېدلی. په ډېر نازک وخت کې پام بل لوري ته واړل شـو او سرچینې هم بلې خوا ته وګرځول شوې (په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنۍ قضيه کې عراق ته، او هغه وخت د ترياکو جګړې ته)، د سيمه ييزو متحدينو غوراوی ناسم و او سياسي مشرتابه کمزورې وه.[۳]
لکه اوس، هغه وخت هم په افغانستان کې بېوزلي دا ناشونې کړې وه چې له خلکو څخه مالیې ټولې کړي چې په وسيله يې خپل اشغال تمويل کړي؛ نو په ليرې پرتو سيمو کې د قانون د پلي کولو لګښت د اشغالګرو سرچينې تشې کړې. اوس امريکا په کال کې لس ميلیارده ډالر په افغانستان کې لګوي. هغه پيسې چې امريکا يې په هلمند کې د دوو سمندري کنډکونو په ساتنه کې لګوي، د هغه پراختيايي او پوځي مرستې په پرتله ډېرې دي چې دغه هېواد يې له ټول مصر سره کوي. په دواړو قضيو کې له افغانستان څخه د پوځيانو د ايستلو پرېکړه د داسې فکتورونو پر بنسټ وشوه چې له افغانستان سره يې دومره تړاو نه درلود لکه دومره يې چې د اشغالګرو هېوادونو په مالي وضعيت او د سياست په ناڅاپي بدلونونو ترېښت درلود.
کله چې زه په خپلو پلټنو کې مخته روان وم، ما ته د دې کتل حيرانوونکي وو چې اوس څنګه د ورځپاڼو په سرمقالو کې په همغسې اوږده بڼه په اخلاقي اصولو شخوند وهل کېږي لکه د افغان-انګليس د لمړۍ جګړې په ليکونو کې چې وهل کېده. لکه څنګه چې يو انګرېز افسر په ۱۸۴۰ کال کې ويلي وو، ايا موږ بايد د انسانيت ګټو ته وده ورکړو او د داسې دودونو لکه د زناکارو ښځو سنګسارولو په منع کولو سره د ټولنيزو او نوړي اصلاحاتو کلک ملاتړ وکړو؟ او يا بايد، پرته له دې چې خلک وپاروو، يوازې د هېواد اداره کولو ته خپل پام واړوو؟ که چېرې ستا متحد خپل دښمنان ژوندي سوځوي او په اوبو کې يې ابشوي، ته به مداخله وکړې؟ ايا د لوېديځ سياسي سيستمونو د پلي کولو هڅه کوې؟ لکه څنګه چې د څارګرې ادارې مشر سېر کلاډ وېډ په ۱۸۳۹ کال کې د يرغل له پيل څخه مخکې خبرداری ورکړی و : «زموږ د بنسټونو د فضيلت په اړه له هغه اوچت باور څخه پرته چې موږ ورسره اشنا يو او په يوه نوې او نه ازمويل شوې خاوره کې د دوی په پلي کولو کې زموږ د اندېښنې له څرګندونې څخه پرته، بل هېڅ داسې څه نه شته چې وېره ترې وشي او يا له هغوی څخه خوندي وساتل شي. دغسې لاسوهنه، که له تاوتريخوالي څخه ډک غبرګون نه زېږوي؛ نو لږترلږه به تل ترخې شخړې رامنځته کړي.»[۴]
د افغان-انګليس د لمړۍ جګړې ناورين، اوس په افغانستان کې لوېديځوالو ته يوه نارامه کوونکې بېلګه ده. دا هېڅ تصادفي نه وو چې په کابل کې د بهرنيو خبريالانو بنډارځای ته د ګندمک هستوګنځي نوم ورکړل شو او د افغانستان په سوېل کې د انګرېزانو پر يوې اصلي اډې د سوټر کمپ Camp Souter نوم کېښودل شو. سوټر د څلورڅلوېښتمې پلې قوې يوازينی پوځي و چې په وروستي مقاومت کې ژوندی پاتې شوی و.
خو برعکس، د افغانانو له پاره د انګرېزانو د ۱۸۴۲ کال ماته له بهرني اشغال څخه د ازادۍ سمبول وګرځېده او د هر بهرني ځواک د واکمنۍ په نه منلو کې يې د هوډ نښه شوه؛ نو له همدې کبله په کابل کې ديپلوماتيکي سيمې ته د وزيراکبر خان نوم ورکړل شوی، هغه څوک چې د بارکزيو په پروپاګند کې د ۱۸۴۱-۱۸۴۲ کلونو د ازادۍ يو مخکښ جنګيالی پاتې شوی دی.
په لوېديځ کې موږ ښايي دا هېر کړي وي چې د دغه تاريخ جزياتو د بهرنۍ واکمنۍ پر ضد د افغانانو کرکې ته بڼه ورکړه، خو دغسې جزييات د افغانانو هېر نه دي. شاه شجاع ته په ځانګړي ډول د يو داسې خاين په سترګه کتل کېږي چې بهرني اشغالګر ته يې د خپل هېواد د اشغالولو لاره ورکړه. طالبان له خپلو ځوانانو څخه پوښتنه کوي: «غواړئ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه شجاع د زامنو په خبر په یاد کې پاتې شئ او یا د دوست محمد؟» کله چې واک ته ورسېد، ملا عمر په لوی لاس د دوســت محمد په څېر په کندهار کې د محمد خرقه شــریفه له زیارت څخه راوایســته او تر ځان یې تاو کړه او لکه دوست محمد خان، خپل ځان یې امیرالمومنین اعلان کړ. دا په نېغه او لوی لاس د افغان-انګلیس د جګړې د پېښو بیا راژوندي کول وو چې په انګازو یې سمدلاسه ټول افغانان پوه شول.

تاریخ هېڅ کله سل په سلو کې یو شان نه تکرارېږي او دا ریښتیا دي چې د ځینې مهمو پېښو تر منځ چې اوس پېښېږي او په ۱۸۴۰مو کلونو کې پېښــې شــوې وې، توپیر شــته. د افغان مقاومت په هســته کې اوس یوه داســې یو موټی کوونکې څېره نه شته چې ټول افغانان یې د مشروعیت او عدالت سمبول وګڼي. ملاعمر، دوست محمد او یا وزیر اکبرخان نه دی او قومونه هم په ده پسې داسې ونه درېدل لکه په ۱۸۴۰مو کلونو کې چې د یو مشــر تر شــا ودرېدل. د محافظه کارو او په دفاع کې ښــکېل قومي پاڅون کوونکو چې د ســـدوزیو- انګرېزانو واکمني یې په ښــکېلاکي پېر کې پای ته ورســـوله او د اخواني انقلابي طالبانو تر منځ چې غواړي په افغانســـتان کې وارده شـــوې ســـوچه وهابي ایډیالوژي پر بېلابېلو مذهبي کلتورونو وتپي، څرګند توپیر شته. او تر ټولو مهم توپیر د کرزي هغه هڅه وه چې یو پراخ بنسټه او په دموکراتیکه توګه ټاکلی حکومت جوړ کړي. له ډېرو عیبونو او بې کچې فســـاد ســـره ســـره، د کرزي حکومت بیا هم د سـدوزي شاه شجاع د رژیم په پرتله ډېر استازوال او محبوب دی، خو د سیمې د توپوګرافۍ، وټې، مذهبي لېوالتیاوو او قومي جوړښــتونو د نه بدلېدو له کبله، د یوســلو اویا کلونو پخوانۍ ماته موږ ته تر اوســه ځینې مهم ګواښــونه په ګوتو کوي. اوس هم دومره ناوخته نه دی چې په ۱۸۴۲ کال کې د برتانیې لــه تېروتنو درس واخلو، او که نه، دا یقیني برېښـي چې په دغه هېواد کې د لوېدیځ څلورمه جګړه به له دومره لږو سـیاسـي ګټو سـره پای ته ورسـېږي لکه مخکنۍ درې جګړې او لکه همدغه تېرې جګړې، وروسته له شرموونکې ماتې څخه به ځواکونه په سپکاوي ترې وایستل شي، افغانسـتان به یو ځل بیا په قومي ګډوډیو کې پرېښــودل شـي او دا به ډېره شــونې شـي چې هغه څوک بیا واک ترلاســه کړي چې د پرځولو په موخه یې جګړه پیل شوه.

لږ وخت مخکې له دې چې انګرېزان دېرش کاله وروســـته بیا په شـــوده ګۍ د افغان-انګلیس په دویمه جګړه کې ځان ښـکېل کړي، جورج لارنس په لندن کې د ټایمز ورځپاڼې ته ولیکل: «اوس نوي نسـل سـر راپورته کړی او د دې پر ځای چې لـه تېرو درســـونو څخه په صـــداقت ګټه پورته کړي، دوی غواړي او د دې لېوال دي چې یو ځل بیا موږ په دغه کړکېچن او ناخوښ هېواد کې ښـکېل کړي... که څه هم کېدای شي د پوځي ناورین مخنیوي وشي او که له پوځي اړخه پرمختګ هر څومره بریالی هم وي، دا شــونې ده چې له ســیاســي اړخه به یې پایلې بې ګټې وي... له کابل څخه د شــاتګ ناورین باید د تل له پاره راتلونکو مشــرانو ته د یو خبرداري په څېر پاتې شــي څو بیا داســې پالیســۍ تکرار نه شــي لکه کومې چې په ۱۸۳۹-۱۹۴۲ کلونو کې یې ترخه مېوه ثمر شوه.

د دغه سیمې له مرکزي ستراتېژیکي ارزښت سره سره، د افغانستان د تاریخ په هکله په حیرانوونکې توګه ښې لیکنې لږ دي او کومې چې شــته دي، هرې یوې یې په انګرېزي ژبه د چاپي بیانونو او یا په لندن کې د ډېرو کتل شــوو هندي دفتر لـه ارشـــیفونو څخـه کار اخیســـتی. کـه څـه هم لـه لوی وېکتوریـایي تـاریخ درې ټوکه ییز کتـاب څخـه نیولې، د فلش من Flashman تر انتیکونو پورې، دافغان-انګلیس د جګړې کیســـه ډېر ځل ویل شـــوې ده، خو د جګړې په هکله حتی په تخصـصـي اکاډمیکو خېړونو کې هېڅ داسې چاپي څه نه شـته چې د نولسـمې پېړۍ په لمړیو کې یې له افغان معاصرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـرچینو او له داسې اسـنادو څخه کار اخیسـتی وي چې په خپله د افغانانو چې تېرې ورباندې شـوی و او تر اشـغال لاندې شــوي وو بیان په کې وي او یا د ښــکېلاک پرضــد د افغان مقاومت په اړه یې له اســنادو ګټه پورته کړې وي.[5]
د افغان-انګلیس لمړۍ جګړه په بې سـارې توګه ښـه مسـتنده ده او ما د جګړې د ټولو لوریو له بېلابېلو نویو سـرچینو څخه ګټه پورته کړه. په تېرو څو کلونو کې، د هغه انګرېزانو چې په جګړه کې ښکېل وو په سلګونو زاړه او څېرې لیکونه او په وینو ککړې یادلیکچې د خپلو کورنیو په بام لاندې تحویلخانو کې رابرسېره شوې او ما دغه نویو اسنادو ته چې د بېلابېلو کورنیو په کلکســـیونونو، په چلســـي Chelsea کې د ملي پوځ په موزیم او برتېش کتابتون کې وو، لاس رســـی وموند.
دلته په ډهلي کې د تېرو څلورو کلونو راهیســې، د هند په ملي ارشــیف کې د ۱۸۳۹-۱۸۴۲ کلونو د اشــغال په پنډو اسنادو کې پلټنې کوم. په پورتنیو اسنادو کې د اشغال په اړه کابو ټولې هغه مکاتبې، استونې او په لاس لیکلي یادښتونه شـته چې په کلکته کې د اکلنډ په پوځ او اداره کې رامنځته شـوې وې. په هغه د پام وړ څېړونو کې چې ما وموندل، په دې کیسـه کې د یو اساسي انګرېز لوبغاړي، الکساندر برنز داسې لیکونه شـته چې تر اوسـه خپاره شـوي نه وو او همدارنګه د انګرېزي پوځ د ظلمونو په اړه یوه پلټنه ده چې داسې ښـکاري لکه د وېکتوریایي د پېر ویکي لیک. سـربېره پر دې، ځینې ډېرخواشـینوونکي اسـناد هم شـته چې د هغه سـپاهیانو د پوځي محاکمو په اړه دي چې مریبتوب ته اړ ایسـتل شـوي او وروسـته په تېښـته بریالي شـوي وو. دوی چې کله بېرته خپلو غونډونو ته راغلل، له پوځ څخه د تېښـتې په تور محاکمه شـول.
د جګړې په هکله د هند په ملي ارشیف کې په فارسی ژبه یو لیکل شوی تاریخ هم و چې تر اوسـه نه و ژباړل شـوی او کار ترې نه و اخیستل شوی. دغه کتاب، *محاربه کابل و قندهار* منشي عبدالکریم لیکلی. نوموړي له یو انګرېز افسر سره چې په دغه جګړه کې ښکېل و د منشي په توګه کار کولو. ده لیکلي چې د ۱۸۵۰مو کلونو په پیل کې یې دغه پروژه په دې هیلـه پیل کړه چې پـه زاړه عمر کې د یوازیتوب پـام پرې غلط کړي او چې خپلو اولادونو او لمســـیانو تـه پـه نړۍ کې د حقایقو په هکله درس ورکړي، خو زیاته کړې یې ده چې «داسـې ښـکاري چې اوسـۍ پېښـې په ځانګړې توګه د هند په تړاو وي».[6] کېدای شي دغه خبره په هند کې د کمپنۍ پر ضـد پاڅون ته یوه پټه اشـاره وه او په رښـتیا په ۱۸۵۷ کال کې همداسې یو پاڅون رامنځته شـو. پاڅونونه لمړی په هغه غونډونو کې پیل شـول چې سـپاهیان یې انګرېز افسـرانو په ۱۸۴۲ کال کې له کابل څخه د شاتګ په بهیر کې یوازې پرېښي وو.
د پاکسـتان د لاهور په پنجاب ارشـیف کې مې د کلاډ ویډ داسې لیکنې او یادښـتونه وموندل چې تر اوسـه کار نه و ترې اخیسـتل شـوی. دی د لوبې لوبې لمړنی څارګر مشـر و او په ۱۸۳۵ کال کې د ده تر مشـرۍ لاندې د شـمال لوېدیځ پوله ییزه اېجنسـۍ North West Frontier Agency جوړه شـوه. په دغه ارشـیف کې د نوموړي د څارګرې شـبکې د هغه کارکوونکو ټول راپورونه شــته چې په پنجاب، همالیا او له هندوکش څخه هاخوا تر بخارا پورې خواره وو. همداراز، د پنجاب په ارشیف کې د شاه شجاع ټولې هغه مکاتبې هم شـته چې په لودیانه کې د ده د تبعیدي ژوند او د تخت د بېرته نیولو د هڅو په اړه دي.
په روسـي سـرچینو کې زه وتوانېدم چې د ویډ تزاري سـیال، کونټ پېروفسـکي او د ده تر نظر لاندې زده کړیال، ایون ویتکېویچ چاپي اسنادو ته لاس رسی ومومم. تل داسې ګڼل کېدل چې مخکې له دې چې د سن پیټرزبورګ په مېلمستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خپل سر په ګوله والوزوي، ویتکېویچ خپل ټول اسناد له منځه وړي وو، خو دا څرګنده شوه چې د برنز په اړه د ده د لیکنې او په بخارا کې د ټولې انګرېزي څارګرې شبکې د بربنډولو د اسنادو په ګډون، د نوموړي یو شمېر څارګرېزه راپورونه تر اوسه شته. دغه راپورنه د لمړي ځل له پاره په انګلیسي ژبه دلته ترسترګو کېږي.

خو د سرچینو په موندلو کې مې تر ټولو ښه پرمختګ په حیرانوونکې بڼه په کابل کې د افغان بډایه سرچینو موندنه وه. په ۲۰۰۹ کال کې کله چې د کرزون Curzon د دورې سوځېدلي برتانوي سفارت ته څېرمه، د رای سټیورټ د ختو په کلا کې مېشت وم، په افغان ارشیف کې مې پلټنې پیل کړې. دغه ارشیف د نولسمې پېړۍ په یوه ښایسته مانۍ کې دی چې په عثماني بڼه د کابل په مرکز کې جوړه شوې او په حیرانتیا سره زیانمه شوې نه ده، خو دلته د شاه شجاع او دوست محمد د پېر اسناد د ناهیلتیا تر کچې لږ وو، خو کله چې په ارشیف کې په پلټنو بوخت وم، له جوان شیر سره مې اشنایي پیدا کړه. دی یو ځوان افغان تاریخ پوه او د فول برایټ Fulbright فارغ دی. د یوې غرمنۍ په مهال، نوموړي د زاړه ښار په جوی شیر کې د زړو کتابونو یو پلورونکي ته بوتلم. د دغه پلورونکي د کتابونو له غرفې څخه ما ته داسې وبرېښېدل چې زما د اړتیا څه شی به ونه لري، خو وروسته څرګنده شوه چې نوموړي د ډېرو هغه اشرافیانو شخصي کتابتونونه پېرودلي وو چې په ۱۹۷۰-۱۹۸۰مو کلونو کې یې مهاجرت کړی و؛ نو له یو ساعت څخه په لږ وخت کې مې د افغان-انګلیس د لمړی جګړې په هکله اته داسې پارسي سرچینې ومونديې چې مخکې ترې کار نه و اخیستل شوی او ټولې د جګړې په وخت او د انګرېزانو له ماتې څخه وروسته په افغانستان کې لیکل شوې وې، خو یو شمېر یې د ۱۸۵۷ کال له لوی پاڅون څخه مخکې د هند په پارسي مطبعو کې د ځایي کار اخیستنې له پاره چاپ شوې وې.

په دغه سرچینو کې د اتلولۍ حماسي شعرونو دوه ټولګې دي. یوه یې اکبرنامه یا د وزیر اکبرخان تاریخ دی چې مولانا حمید کشمیري لیکلی او دویمه یې جنګ نامه یا د دغه جګړې تاریخ دی چې محمد غلام کوهستاني غلامي لیکلی. د دغه دواړو لوستل داسې دي لکه د رولند سندرې The Song of Roland• افغاني بڼه چې سرۍ لولې او دواړه په ۱۸۴۰مو کلونو کې په اغېزمنه پاړسی د لرغونې فردوسي شهنامې په څېر د افغان مقاومت د مشرانو په ستاینه کې لیکل شوي. داسې ښکاري چې د هغه شعرونو له بډایه ټولګې څخه چې افغان بریا ته ځانګړي او ډالۍ شوي وو یوازې پورتني دوه کتابونه پاتې شوي. د داسې حماسي شعرونو ډېره برخه په ګړنۍ بڼه له یو سندرغاړي څخه بل ته او له یو شارګړ• څخه بل شارګړ ته پاتې شوې ځکه چې د افغانانو له پاره د انګرېزانو پر ضد د دوی بری کابو یوه معجزه وه. دا داسې یوه لویه بریا وه چې د ټرفلګر، واټرلو او د برتانیې جګړې بریاوې یې په ګډه کچې ته رسېږي.[۷] ( Trafalgar,Waterloo, Battle of Britain د برتانیې درې بریالۍ جګړې دي. ژباړن)

د جنګنامې یوازینۍ کاپي په ۱۹۵۱ کال کې په پروان کې وموندل شوه. لمړی او وروستی پاڼې یې نه وې او ظاهراً په چاریکارو کې د ختیځ هند کمپنۍ د انګرېزي اډې پر لوټ شوو کاغذ پاڼو لیکل شوې ده. جنګنامه د مقاومت کوهستاني مشر میر مسجدي په اړه څرګندونې کوي. نوموړی نقشبندیه صوفي پیر و او په پاڅون کې یوه مهمه څېره و، خو

• د رولند سندره د هغه جګړې په اړه د حماسي شعرونو یو فرانسوی کتاب دی چې په ۷۷۸ عیسوي کال کې د فرانسې او بسک Basque (اوس د فرانسې او هسپانیا یوه برخه) تر منځ شوې وه. ژباړن

• شارګړ: مجلسي سندرغاړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګنامه وايي چې نوموړي په مقاومت کې مرکزي ونډه درلوده. اکبرنامه چې دا ځل په ۱۹۵۱ کال کې په پېښور کې وموندل شوه، د جنګنامې برعکس د اکبرخان ستاینه کوي. مولانا کشمیري لیکلي: «لکه لوی رستم، په دغه کتاب کې به د اکبرخان نوم د تل له پاره په یاد پاتې شي. اوس چې دغه حماسي شعرونه بشپړ شول، د نړۍ په هېوادونو کې به خپاره شي او د لویو خلکو مجلسونو ته به ښکلا ورکړي. دا به اوس له کابل څخه هرې غونډې ته داسې یون کوي لکه د پسرلي وږمه چې له یو بڼ څخه بل بڼ ته خوربږي.»[۸]

د عین الوقایع کتاب چې لږ ورسته لیکل شوی د پاڅون په اړه د هراتیانو د نظر څرګندوی دی. هرات د افغانستان په لوېدیځ کې له پارس سره پوله لري. د نولسمې پېړۍ دوه نور کتابونه، تاریخ سلطاني او سراج التواریخ یا د تاریخ څراغ د افغانستان د پاچاهانو رسمي درباري تاریخونه دي چې د پېښو په اړه د دوست محمد خان د ځای ناستو له انده څرګندونې کوي.[۹] په دې وروستیو کې د مقاومت د یو مخکښ مشر امین الله خان لوګري پاتې پارسي لیکونه چې په ملي موزیم کې د طالبانو تر لوټولو روغ پاتې شول، د نوموړي اولادې بیا چاپ کړل. د دغه ټولګې نوم پادشاه خدمتګذار صادقین غازي نایب امین الله خان لوګری دی.[۱۰]

د مېرزا عطا محمد ځائمن او خوابدي، خو له بصیرت څخه ډک د «نوای معرکه» کتاب د جګړې په هکله د یو شکارپوري ټیټ پوړي افسر له نظره څرګندونې کوي. (شکار پور اوس په پاکستان کې دی، خو هغه وخت هسې په نوم د کابل تر واکمنۍ لاندې و.) دغه افسر لمړی د شاه شجاع په چوپړ کې بوخت و، خو وروسته د کافرانو په مرسته د شاه شجاع ډډه لګونې ناهیلی کړ او بیا یې په ډېرېدونکې خواخوږۍ د مقاومت په اړه لیکنې کولې.د لیکنې بڼه یې د اطرافي مغلو په څېر ډېره مفصله او د هغه وخت د لیکوالانو د لیکنو په پرتله ډېره ټوکماره او ژوندۍ ده. دغه کتاب چې د انګرېزانو د ماتې په اړه په دوامداره توګه کرکجنې څرګندونې کوي، په حیرانوونکې توګه د شکارپور د لمړني انګرېز مالیې ټولوونکي، اي بی ایسټ وېک E B Eastwick په غوښتنه لیکل شوی. میرزا عطا په سریزه کې په ترهېدلې بڼه ده ته په عذر لیکلي: «هغه متل دی چې رښتیا ویل ترخه دي، که څه هم ما د ښو او بدو پېښو په بیان کې هڅه وکړه چې له داسې کلیمو څخه کار واخلم چې چا ته په کې سپکاوی ونه شي، زه هیله لرم چې د دولت لوړپوړو چارواکو سپکاوی نه وي شوی، خو په هر صورت، د دغه فاني او بې ایمانه نړۍ خوښې او غم تلپاتي نه دي.«دغه نړۍ د یو خوب په څېر ده - ته یې چې هر رنګ انځور په خپل سر کې جوړوې، جوړ یې کړه خو نړۍ تېرېدونکې ده، تر هغه وخته پورې چې ته هم په خپله له دې نړۍ څخه لاړ شې.»»[۱۱]

ښایي داسې سرچینه چې تر ټولو ډېر په زړه پورې او مهم مالومات لري *واقعیت شاه شجاع* وي. دا په خپله د شاه شجاع رنګین او د زړه خوږې کتاب دی چې له جګړې څخه یې مخکې په تبعید کې په لودیانه کې لیکلی او وروسته له دې چې ووژل شو د ده یو ملاتړي نوي مالومات ور زیات کړل. شاه شجاع په سریزه کې لیکلي: « هغه پوهانو ته چې د بصیرت خاوندان دي دا څرګنده ده چې لویو شاهانو تل د خپل سلطنت پېښې او هغه بریالۍ جګړې چې دوی په کې برخه اخیستې ثبت کړې دي. ځینو ته چې خدای استعداد ورکړی، په خپله یې د خپل سلطنت په دوران کې پېښې لیکلي، خو ډېرو دغه دنده وتلو لیکوالانو ته سپارلې ده چې دغسې د ملغلرو ټولګې د تاریخ په حافظه کې پاتې شي؛ نو د مهربان خدای په دربار کې دغه عاجز بنده هم هوډ وکړ چې له هغه وخت څخه چې په اوولس کلنۍ په تخت کښېناستم ، د خپل سلطنت د دورې جګړې او پېښې ولیکم چې د خراسان تاریخ پوهان د دغه پېښو او جګړو په واقعي تفصیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه وي او مفکر لوستونکي له دغه بېلګو څخه درس واخلي.»[۱۲] په دغه کتاب کې په افغان لوري کې د اصلي لوبغاړو هیلې او وېرې څرګندې شوې چې د دغه دورې لیکنو ته یوه حیاتي زیاتونه ده. عجیبه دا ده چې په داسې حال کې چې ډېرې دغه سرچینې دري ژبو افغان تاریخ پوهانو ته ښې مالومې وې، او دوی په نشنلستي دري تاریخونو کې په ۱۹۵۰ او ۱۹۷۰مو کلونو کې ورڅخه کار اخیستې، خو له دغه سرچینو څخه حتی یوازې له یوې څخه هم په انګلیسي ژبه د دغه جګړې په تاریخونو کې کار نه دی اخیستل شوی او یوه یې هم په انګلیسي ژبه نه ده اړول شوې که څه هم یوازې د واقیعت شاه شجاع د څو څېرکو لنډیز بنه په ۱۸۴۰مو کلونو کې د کلکتې په یوه مجله کې چاپ شوې. همدارنګه د کولمبیا په پوهنتون Columbia University کې د سراج التواریخ په بشپړه ژباړه باندې اوس رابرټ مکچزني Robert McChasney کار کوي او ما ته په سخاوت دې ته د لاس رسي فرصت راکړل شو.

دغه بډایه او مفصله سرچینې موږ ته ډېر داسې څه وایي چې اروپایي سرچینو له پامه غورځولي او یا ورڅخه خبرې نه دي. د بېلګې په توګه، برتانوي سرچینې په خپل پوځ کې د بېلابېلو ډلو په شتون ښې خبرې دي او په اړه یې لیکنې کړې، خو داسې برېښي چې په لویه کچه له هغه ترینګلتیاوو څخه خبر نه دي چې په افغان لوري کې یې د مخالفینو بېلابېلې ډلې وېشلي وې. د افغانانو په بیان کې، دا واضح څرګندېږي چې افغان مقاومت ژور درزونه لرل. بېلو ډلو د بېلو قوماندانانو تر مشرۍ لاندې په بېلو ځایونو کې اډې جوړې کړې وې او په خورا لږ همغږۍ یې چارې پر مخ وړلې. سربېره پر دې، سیالو ډلو بېلابېلې موخې درلودی او د خپلو ګټو له پاره یې تل ائتلافونه جوړول او پرېښودل. په دې اړه یوه ځانګړې حیرانتیا دا وه چې په پیل کې څومره مخالفینو غوښتل چې شاه شجاع د دوی د پاچا په څېر پاتې شي او یوازې یې له ده څخه دا غوښتل چې خپل انګرېز ملاتړي وشړي. وروسته له دې چې انګرېزي پوځ د خپلې تباهۍ په لور د خردکابل غاښیو ته ستون شو، شاهي پلوه قوې سمدلاسه بېرته شاه شجاع ته واوښتې. تېک داسې لکه د روسانو ګوډاګي چې د ټولو د تمې خلاف په ۱۹۸۰مو کلونو کې د روسانو له وتلو وروسته ډېر وخت په واک کې پاتې شو، کیدای شوی چې شاه شجاع هم تر ناڅرګند وخت پورې په واک کې پاتې شوی وای که چېرې خپل زوی بللي یې د شخصي خپګان له کبله په خاینه توګه نه وای وژلی.

د افغان سرچینو د مقاومت لوبغاړي له هغو افغان لوبغاړو څخه څه نا څه توپیر لري چې په انګرېزي سرچینو کې یاد شوي. د انګرېزي بیانونو په پرتله په افغان سرچینو کې میرمسجدي کوهستاني او امین الله خان لوګري او د ده لوګریان ډېر وتلي او څرګند دي او په تېره بیا په هغه بیانونو کې چې وروسته د بارکزیو تر ملاتړ لاندې لیکل شوي او په پاڅون کې د دغه بریمنې کورنۍ په مرکزي ونډې ټینګار کوي، هغه څه چې یوازې د انقلاب په وروستي پړاوونو کې رښتیا وو.

بله ډېره مهمه خبره دا ده چې د افغان سرچینو په برکت د افغان مقاومت مشران ناڅاپه داسې سم سړي څرګند شول چې له خپلو ټولو حواسو سره ښه انسانان وو چې خپل انفرادي اندونه او انګېزې یې درلودې، خو انګرېزي سرچینو په ټولیزه توګه یوازې د ړیرورو تنګ نظرو او متعصبو په سترګه ورته کتلي. د افغان سرچینو په برکت اوس د دې پوهېدل شوني شول چې ولې افغان مشرانو چې ډېر یې د شاه شجاع وفادار ملاتړي وو خپل ژوند په خطر کې واچولو او د کمپنۍ ظاهراً نه ماتېدونکو ځواکونو پر ضد یې وسله واخیسته. درونه او د عزت څښتن امین الله خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یو ټیټ پوړي انګرېز افسـر سـپکاوی وکړ او خپلې ځمکې یې هغه وخت له لاسـه ورکړې کله یې چې د اوچتې مالیې ورکړه ونه منله. د تند خویه ځوان عبدالله خان اڅکزي معشـوقه الکسـاندر برنز لېشـه کړه او کله یې چې د بېرته راوسـتلو هڅه وکړه، ملندې ورباندې ووهل شـوې. میر مسـجدي نږدې و چې تسـلیم شـي، خو وروسـته په دې اړه له پوهاوي او خبرتیا سـره سـره، انګرېزانو د ده پر کلا برید وکړ او ټوله کورنۍ یې ووژله. بیا یې کلا ضـبط شـوه او د انګرېزانو مرکزي ولایتي دفتر په کې جوړ شـو. ځمکه یې د دښـمنانو په منځ کې ووېشـل شـوه. د اکبرخان پرمختللې او پېچلې څېره تر ټولو بشپړه انځور شـوې. د ده یوناني ګندهاري مجسـمې خوښـېدې، غوښـتل یې چې د لوېدیځ زده کړې په خپل هېواد کې دود کړي او په کابل کې د مقاومت تر ټولو زړه وړونکی او سـرتېری مشـر ګڼل کېدلو. په اکبرنامه کې حتی د ده د واده د کټ خوندونه په تفصیل لیکل شـوي؛ نو اوس د انګرېزي سـرچینو کاریکاتورونه «خاین مسـلمانان» زموږ په سترګو کې د ماسپښـیني فلمونو په اتلانو بدلېږي.

افغان سـرچینې موږ ته یوه هنداره هم راکوي چې د الکسـاندر برنز د تره/ ترور د زوی، رابي برنز Robbie Burns په خبره «خپل ځان په کې داسـې ووینو لکه څنګه چې نور خلک مو ویني.»[13] دا ځکه چې د اروپایي بیانونو برعکس چې برنز یې یو مینه ناک سـرښـندونکی بللی، د افغان حماسـي شـاعرانو د شـعرونو پر بنسـټ، برنز یو د شـیطاني جاذبې درلودونکی دوکه باز، او په غوړه مالۍ او خیانت کې استاد و. ده د کابل اشرفیان په فساد ککړ کړل. یو اشرافي دوست محمد ته وایي: «برنز په ظاهر کې یو سـړی خو په باطن کې یو رښـتینی شـیطان دی.»[14] همدې ته ورته، د افغانانو په اند لوېدیځ پوځونه په بې رحمۍ، د ډېرو بنسـټیزو اخلاقي اصـولو په نه لرلو او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په هکله په بې پروایۍ کې د پام وړ وو. په اکبرنامه کې دوست محمد خپل زوی اکبرخان ته داسې خبرداری ورکوي: «د دوی غوسه او د زیان رسونې لېوالتیا د کورونو د سوځولو او په لمبو کې د پټو دېوالونو په مانا ده.»

نو په دې ډول دوی خپل ځواک ښيي
څوک یې چې مخې ته درېږي په ترور کې یې اچوي
د دوی دود دی چې خلک ځانته مطیع کړي
چې هېڅوک د مساواتو ادعا ونه کړي

سـربېره پر دې، په افغان سـرچینو کې په دوامداره توګه سـرټکونې شـوې چې انګرېزانو ښـځو ته هېڅ درناوی نه درلود. دوی به چې هر ځای تلل، بې عزتي او جنسـي تېري به یې کول. او «شـپه او ورځ به پرته له کنټرول څخه د شـهوت پر اس» سـپاره وو. نو په بله وینا، په افغان سـرچینو کې انګرېزان خاین ، پر ښـځو تېري کوونکي او ځېونکي ترورېسـتان دي. په داسې سترګو موږ ته کټل هغه بڼه نه ده چې موږ یې له افغانانو څخه تمه لرو.

د ټولو افغان سرچینو په زړه کې په خپله د شاه شجاع مرموزه څېره پرته ده. شـاه شـجاع د خپلو او د ده د ملاتړو له لیکنو څخه یو داسـې پېچلی او ډېر ځیرک سـړی راڅرګندېږي چې د پخوانیو تیموري شـاهانو بڼه یې ځانته غوره کړې وه. په *واقعیت شـاه شـجاع* کې د ځان په اړه د څرګندونو پخلی یې د هغه نورو لیکوالانو په لیکنو کې کېږي چې دی یې یو داسې هوډمن، زړور او نه ماتېدونکی سـړی بللی چې د خپل برخلیک د هر راز ناخوالو پر وړاندې ودرېد. دغه انځور په حیرانوونکې توګه له هغه فاسـد او بې کفایته انځور سـره توپیر لري چې انګرېزي خانتما چارواکو نوموړی له پامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځولې و حال دا چې لمړی یې د دراني امپراتورۍ دغه وارث بیا واک ته ورسـوالو او بیا یې هڅې پیل کړې چې څنډې ته یې کړي. همدارنګه نوموړی د بارکزیو د یوســل اویا کلونو له پروپاګند څخه وروســته په اوســني افغانســتان کې د یو کمزوري هېواد پلورونکي خاین په څېر بد نوم لري. شاه شجاع په خپل چارچاپېر کې یوه تهذیبي پارسي نړۍ جوړه کړې وه - هېڅ داسې نښې نه شته چې د شاه پښتو زده وه او بې اړنګه په پښتو یې لیکنه نه ده کړې. ده د یوې داسې ګرځنده پاچاهۍ ژوند وکړ لکه له ده څخه مخکې مغولو چې کړی و او په ډېرو برخو کې داســې راڅرګندېږي لکه د تیموریانو وروسـتی پاچا چې وي . نوموړي په داسې ځای کې واکمني کوله چې د ایران، منځنۍ اسـیا، چین او هندوسـتان په څلور لاره کې پروت و، نه په داسې ځای کې چې تر څنډو یې غرونه چاپېر وي لکه وروسته چې همداسې شو.

که تېر ته نظر واچول شي، د شـاه شـجاع واکمني د یوې نړۍ د پای او د بلې د پیل په مانا وه. له ډېرو ګران بیه تېروتنو سـره سـره، د افغان-انګلیس لمړۍ جګړې مهمې او اوږدمهاله اغېزې درلودې. د انګرېزانو له پاره یې یوه ثابته پوله جوړه کړه. د څو کلونو په ترڅ کې انګرېزانو پنجاب چې د سېک خالصـانو تر واکمنۍ لاندې و او د اباسـین کوزې سیمې چې د سـند امیرانو تر واکمنۍ لاندې وې ځان سـره مدغم کړې، خو دوی دغه سـبق هم زده کړ چې پېښـور به د دوی د راج شمال لوېدیځه پوله وي.

دغه جګړې د افغانانو له پاره د دوی هېواد د تل له پاره بدل کړ. کوم اصــلاحات چې انګرېزانو راوســتي وو، دوســت محمد ته په میراث پاتې شــول او دغه اصـلاحاتو ورسـره مرســته وکړه چې داسـې یو افغانسـتان مظبوط کړي چې له جګړې څخه د مخکې پېر په پرتله اوس ډېر جوت و. بې اړنګه، شاه شجاع او د ده ډېرو هم پېرو هېڅ کله د افغانستان کلیمه نه وه یاده کړې. - ده ته دا د کابل یو ســلطنت و چې د دراني امپراتورۍ وروســتۍ پاتې ټوټه وه چې د جغرافیې په یوه څنډه کې پرته او ده د خراســان په نوم بلله، خو د یو نسـل په ترڅ کې د افغانســتان نوم په پراخه کچه د هېواد د ننه او بهر په نقشــو کې شــتون وموند. په دغه هېواد کې خلکو خپل ځانونه افغان یادول. د شــاه شـجاع بېرته راتګ او ناکامه ښکېلاکي جګړه چې د ده د بیا واک ته رسولو په موخه پیل شـوه د سدوزي کورنۍ واک یې بلاخره له منځه یووړ او د دراني امپراتورۍ وروسـتي یادونو ته چې دوی یې بنســټ ایښـی و د پای ټکی کېښــود؛ نو په دې توګه دغه جګړې د اوسني افغانستان د پولو په تعریفولو کې لویه ونډه درلوده او د تل له پاره یې د یو هېواد نظریه چې نوم یې افغانسـتان دی پیاوړې کړه.

که د افغان انګلیس لمړۍ جګړې د یو هېواد په توګه د افغانسـتان په مضـبوطتیا کې مرسـته وکړه، اوس پوښـتنه دا ده چې اوسنۍ لوېدیځه مداخله به د یو هېواد په توګه د افغانستان په مړینه کې مرسـته وکړي.

دغه کتاب د لیکنې په مهال د لوېدیځ پوځ بیا د یو کمزوري پوپلزي په مشـرۍ حکومت ته د افغانســتان د پرېښــودلو تابیا نیوله. دا ناشـونې ده چې د دغه رژیم او د یو ټوټې ټوټې او وېشلي افغانستان د برخلیک وړاندوینه وشي، خو هغه څه چې میرزا عطا له ۱۸۴۲ کال څخه وروسته لیکلي اوس هم همغسې رښتیا دي: « بې اړنګه، دا اسـانه کار نه دی چې د خراسان پر سلطنت یرغل او واکمني وشي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیک

## Chapter 1: No Easy Place to Rule

1 Alexander Burnes, *Cabool: A Personal Narrative of a Journey to, and Residence in that City in the Years 1836, 7 and 8*, London, 1843, p. 273, for details of the Kabul spring.

2 Sultan Mohammad Khan ibn Musa Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 219.

3 Khurasan also included much of eastern Iran, but was not usually thought to include northern Afghanistan.

4 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Eighteenth Event.

5 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 226.

6 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Eighteenth Event.

7 Dominic Lieven, *Russia against Napoleon*, London, 2009, pp. 45—7.

8 Quoted in Sir John Malcolm, *Political History of India*, 2 vols, London, 1826, vol. I, p. 310.

9 Iradj Amini, *Napoleon and Persia*, Washington, DC, 1999, p. 112; Muriel Atkin, *Russia and Iran 1780—1828*, Minneapolis, 1980, p. 125.

10 OIOC, Board's Collections: Sec Desp to India, vol. III, Draft to Governor General-in-Council, 24 September 1807, no. 31; J. B. Kelly, *Britain and the Persian Gulf, 1795—1880*, Oxford, 1968, pp. 82—3. For the Russian nobleman beneath the barge see Peter Hopkirk, *The Great Game*, London, 1990, p. 33.

11 Amini, *Napoleon and Persia*, p.129.

12 Sir John William Kaye, *Lives of Indian Officers*, London, 1867, vol. I, p. 234.

13 There is a wonderful account of the two boys' trip written by Edward's descendant Barbara Strachey in *The Strachey Line: An English Family in America, India and at Home from 1570 to 1902*, London, 1985, pp. 100—5. The diaries of both boys survive in the India Office Library, though Elphinstone's writing is so scruffy as to be partly illegible. Mountstuart Elphinstone's is in BL, OIOC, Mss Eur F88 Box 13/16[b] and Edward Strachey's at Mss Eur F128/196.

14 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 40. The 1761 Battle of Panipat was the fifth at the site.

15 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, Introduction, pp. 1—9.

16 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 63.

17 Olaf Caroe, *The Pathans*, London, 1958, p. 262; Syad Muhammad Latif, *History of the Punjab*, New Delhi, 1964, p. 299; Robert Nichols, *Settling the Frontier: Land, Law and Society in the Peshawar Valley, 1500— 1900*, Oxford, 2001, p. 90.

18 H. T. Prinsep, *History of the Punjab, and of the rise, progress, & present condition of the sect and nation of the Sikhs [Based in part on the 'Origin of the Sikh Power in the Punjab and political life of Muha-Raja Runjeet Singh'],*

(c) ketabton.com: The Digital Library

London, 1846, vol. I, p. 260; Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 84; Mountstuart Elphinstone, *An Account of the Kingdom of Caubul, and its dependencies in Persia, Tartary, and India; comprising a view of the Afghaun nation, and a history of the Dooraunee monarchy*, London, 1819, vol. I, p. 317.

19 Mirza ʻAta, *Naway Maʻarek*, pp. 57–75.

20 Ibid., *Waqiʻat-i-Shah Shuja*, Introduction.

21 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 212.

22 *Waqiʻat-i-Shah Shuja*, Introduction.

23 Ibid., The Seventh Event.

24 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 95.

25 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 217.

26 Ibid., p. 215.

27 Ibid., pp. 244–69. Afghans still have a tendency to talk about Indians and even Pakistanis in this way. As rice and meat eaters they see themselves as infinitely superior human beings.

28 Robert Johnson, *The Afghan Way of War – Culture and Pragmatism: A Critical History*, London, 2011, p. 48.

29 B. D. Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, London, 2008, pp. 129, 159; Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 281.

30 Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 288.

31 Elphinstone, *Kingdom of Caubul*, vol. I, pp. 2–7.

32 Ibid., p. 13.

33 Ibid., p. 21.

34 Ibid., pp. 52–4.

35 BL, OIOC, Forster Papers, Mss Eur B 14/Mss Eur K 115, 12 July 1785.

36 Adapted from Caroe, *The Pathans*, p. 244.

37 Though widely attributed to Khushhal, many scholars doubt the authenticity of this celebrated couplet.

38 Elphinstone, *Kingdom of Caubul*, vol. I, pp. 67–8.

39 Private Collection, Fraser Papers, Inverness, vol. 30, p. 171, WF to his father, 6 March 1809.

40 *Waqiʻat-i-Shah Shuja*, The Twenty-Sixth Event.

41 Sayed Qassem Reshtia, *Between Two Giants: Political History of Afghanistan in the Nineteenth Century*, Peshawar, 1990, p. 18; Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 8.

42 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 86.

43 Elphinstone, *Kingdom of Caubul*, vol. I, pp. 82–3, 282.

(c) ketabton.com: The Digital Library

44 Ibid., pp. 80–1.

45 Ibid., p. 399.

46 Ibid., vol. II, p. 276.

47 Private Collection, Fraser Papers, Inverness, vol. 30, p. 149, WF to his father, 22 April 1809.

48 Johnson, *The Afghan Way of War*, p. 44.

49 Ibid., p. 42.

50 Elphinstone, *Kingdom of Caubul*, vol. II, p. 276.

51 Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, p. 1.

52 Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, pp. 164–5.

53 Johnson, *The Afghan Way of War*, p. 43.

54 Private Collection, Fraser Papers, Inverness, vol. 30, p. 177, WF to his father, 7 May 1809.

55 Elphinstone, *Kingdom of Caubul*, vol. I, p. 87.

56 Ibid., p. 89.

57 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 223.

58 Private Collection, Fraser Papers, Inverness, vol. 30, pp. 201–6, WF to his father, 19 June and 6 July 1809.

59 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 115.

60 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 229.

61 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Twenty-Sixth Event.

**Chapter 2: An Unsettled Mind**

1 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 10–12.

2 Khuswant Singh, *Ranjit Singh: Maharaja of the Punjab*, London, 1962.

3 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Twenty-Sixth Event.

4 Ibid.; Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 13–15. Sikh sources give a rather different account.

5 Prinsep, *History of the Sikhs*, vol. II, pp. 14–15.

6 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Twenty-Sixth Event.

7 Turk Ali Shah Turk Qalandar, *Tadhkira-i Sukhunwaran-Chashm-Didah*, n.d.

8 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Twenty-Sixth Event.

9 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 135.

10 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Twenty-Seventh Event.

11 Private Collection, Fraser Papers, Inverness, vol. 30, pp. 171–2, WF to his father, 9 May 1809.

(c) ketabton.com: The Digital Library

12 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 136.

13 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Twenty-Eighth Event; Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, pp. 136–7; Prinsep, *History of the Sikhs*, vol. II, p. 22.

14 Arthur Conolly, *Journey to the North of India, 1829–31*, London, 1838, vol. II, pp. 272, 301.

15 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Twenty-Ninth Event.

16 Eruch Rustom Kapadia, 'The Diplomatic Career of Sir Claude Wade: A Study of British Relations with the Sikhs and Afghans, July 1823–March 1840', unpublished PhD thesis, SOAS, c.1930, p. 18. Wade did his best to stamp out the trade: Sir C.M. Wade, *A Narrative of the Services, Military and Political, of Lt.-Col. Sir C.M. Wade*, Ryde, 1847, p. 33.

17 Jean-Marie Lafont, *La présence française dans le royaume sikh du Penjab 1822–1849*, Paris, 1992, p. 107.

18 Ibid., p. 110.

19 Punjab Archives, Lahore, from Metcalfe, Resident in Delhi, to Ochterlony in Ludhiana, 6 January 1813, book 8, no. 2, pp. 5–8.

20 Sadly this much repeated and thoroughly delightful story may well be apocryphal: certainly I have been unable to trace it back further than Edward Thompson's *The Life of Charles Lord Metcalfe*, London, 1937, p. 101, where it is described as 'local tradition . . . this sounds like folklore'. It may well have been inspired by the famous miniature of Ochterlony in the India Office Library. In his will, BL, OIOC L/AG/34/29/37, Ochterlony only mentions one bibi [an Indian consort, either a legal wife or a mistress], 'Mahruttun, entitled Moobaruck ul Nissa Begum and often called Begum Ochterlony', who was the mother of his two daughters, although his son Roderick Peregrine Ochterlony was clearly born of a different bibi. Nevertheless it is quite possible that the story could be true: I frequently found Old Delhi traditions about such matters confirmed by research, and several Company servants of the period kept harems of this size. Judging by Bishop Heber's wonderful description of him, Ochterlony was clearly Indianised enough to have done so.

21 Punjab Archives, Lahore, from Ochterlony in Ludhiana to John Adam, Calcutta, 9 July 1815, book 14, no. 226, pp. 5–8.

22 Punjab Archives, Lahore, Captain Birch to Adam, Ludhiana, 2 December 1814, book 15, no. 6.

23 Punjab Archives, Lahore, vol. 18, part II, Letters 117 and 118, p. 535. In Urdu the address reads: Banam-i Farang Akhtar Looni Sahib. Ochterlony's name – or rather its Urduised rendering, Akhtar Looni – translates as Crazy Star.

24 Punjab Archives, Lahore, Fraser, Ramgurh to Ochterlony, Ludhiana, 3 September 1816, vol. 18, part II, Case 118, pp. 538–9.

25 Punjab Archives, Lahore, Captain Murray to Sir D. Ochterlony Bart. K.C.B., vol 18, part II, Case 150, pp. 653–8.

26 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 39; *Waqi'at-i-Shah Shuja*, Introduction.

27 Punjab Archives, Lahore, Adam to Ochterlony, 5 October 1816, book 9, no. 98, pp. 637–9.

28 Punjab Archives, Lahore, Ludhiana Agency, Murray to Ochterlony, 20 January 1817, book 92, Case 17.

(c) ketabton.com: The Digital Library

29 Punjab Archives, Lahore, Adam to Ochterlony, 5 October 1816, book 9, no. 98, pp. 637–9.

30 Mohan Lal Kashmiri, *Life of Amir Dost Mohammad of Kabul*, London, 1846, vol. I, pp. 104–5. This was presumably a euphemism for rape.

31 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 29–39.

32 Patrick Macrory, *Signal Catastrophe: The Retreat from Kabul 1842*, London, 1966, p. 35.

33 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 140.

34 Punjab Archives, Lahore, R. Ross, Subhatu to Sir D. Ochterlony, Kurnal, 2 September 1816, book 18, Serial no. 116. Ross reported: 'I am writing to you in Goorkhalee libas [dress/disguise] a most perfect image in which after closing this I shall slip out of my house by a by-path into the beds of the Ganges whence I shall proceed with a Subadar and a Sipahi (*Nusseeree*), out of uniform and like myself in Goorkhalee dress to look at the royal party'.

35 Charles Masson, *Narrative of Various Journeys in Baluchistan, Afghanistan and the Panjab, 1826 to 1838*, London, 1842, vol. III, p. 51.

36 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Thirtieth Event.

37 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 39–56.

38 Josiah Harlan, 'Oriental Sketches', insert at p. 42a, mss in Chester Country Archives, Pennsylvania, quoted in Ben Macintyre, *Josiah the Great: The True Story of the Man Who Would be King*, London, 2004, p. 18.

39 Harlan's 'Sketches', p. 37a, quoted in Macintyre, *Josiah the Great*, pp. 22–3.

40 Godfrey Vigne, *A Personal Narrative of a Visit to Ghuzni, Kabul and Afghanistan and a Residence at the Court of Dost Mohamed with Notices of Runjit Singh, Khiva, and the Russian Expedition*, London, 1840, p. 4.

41 Punjab Archives, Lahore, Ludhiana Agency papers, Wade to Macnaghten, Press List VI, Book 142, serial no. 44, 9 July 1836. Shah Mahmood Hanifi, 'Shah Shuja's "Hidden History" and its Implications for the Historiography of Afghanistan', *South Asia Multidisciplinary Academic Journal* [online], Free-Standing Articles, online since 14 May 2012, connection on 21 June 2012, http://samaj.revues.org/3384.

42 See, for example, Punjab Archives, Lahore, Captain C. M. Wade, Pol. Assistant, Loudhianuh to J. E. Colebrooke, Bart., Resident, Delhi, 1 June 1828, Ludhiana Agency Records, book 96, Case 67, pp. 92–4, for one round of the slave-girl saga. See also Kapadia, 'The Diplomatic Career of Sir Claude Wade', p. 6.

43 Victor Jacquemont, *Letters from India (1829–1832)*, London, 1936, p. 162.

44 Jean-Marie Lafont, *Indika: Essays in Indo-French Relations 1630–1976*, New Delhi, 2000, p. 343.

45 Ibid.

(c) ketabton.com: The Digital Library

46 Public Records Office (now The National Archives, Kew), PRO 30/12, Ellenborough, Political Diary, 3 September 1829.

47 M. E. Yapp, *Strategies of British India: Britain, Iran and Afghanistan, 1798–1850*, Oxford, 1980, pp. 247, 111–12; Mark Bence-Jones, *The Viceroys of India*, London, 1982, p. 15.

48 Macrory, *Signal Catastrophe*, p. 39.

49 Norris, *The First Afghan War 1838–1842*, p. 15.

50 Laurence Kelly, *Diplomacy and Murder in Tehran: Alexander Griboyedov and Imperial Russia's Mission to the Shah of Persia*, London, 2002, ch. XIX, pp. 153–61.

*51* Edward Ingram, *The Beginning of the Great Game in Asia, 1828–1834*, Oxford, 1979, p. 49; Wellington to Aberdeen, 11 October 1829, Arthur Wellesley, Duke of Wellington, *Supplementary Despatches and Memoranda of Field Marshall Arthur Duke of Wellington*, ed. by his son, the 2nd Duke of Wellington, London, 1858–72, vol. VI, pp. 212–19.

52 Kelly, *Diplomacy and Murder*, p. 54.

53 Orlando Figes, *Crimea: The Last Crusade*, London, 2010, p. 5.

54 Peter Hopkirk, *The Great Game*, London, 1990, p. 117.

55 Ibid., p. 117; PRO, Ellenborough, Political Diary, II, 122–3, 29 October 1829.

56 BL, OIOC, Secret Committee to Governor General, 12 January 1830, IOR/L/PS/5/543.

57 Hopkirk, *The Great Game*, p. 119.

58 Cobden, quoted by Norris in *First Afghan War*, p. 38.

59 National Archives of India (NAI), Foreign, Political, 5 September 1836, nos 9–19, Minute of Charles Trevelyan.

60 Ingram, *Beginning of the Great Game*, p. 169.

61 James Lunt, *Bokhara Burnes*, London, 1969, p. 39.

62 The two cousins may have spelled their surnames differently, but were in fact closely related.

63 Thanks to Craig Murray for pointing out that Burnes was not educated at the Trades School as Kaye had maintained.

64 Alexander Burnes, *Travels into Bokhara, Being the Account of a Journey from India to Cabool, Tartary and Persia, also a Narrative of a Voyage on the Indus from the Sea to Lahore*, London, 1834, vol. I, p. 127.

65 Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, p. 51.

66 Jacquemont, *Letters from India*, pp. 171–3.

67 Burnes, *Travels into Bokhara*, vol. I, p. 132.

68 Ibid., p. 143.

(c) ketabton.com: The Digital Library

69 Ibid., p. 144.

70 Lunt, *Bokhara Burnes*, p. 49. The dray horses were all dead by 1843. According to Norris, they 'died in luxury, far from their Kentish meadows, from over-feeding': *First Afghan War*, p. 47. See also Yapp, *Strategies*, pp. 247, 208.

71 Sir John William Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. II, pp. 231–3.

72 Burnes, *Travels into Bokhara*, vol. II, p. 334.

73 Lafont, *Indika*, p. 343.

74 Burnes, *Travels into Bokhara*, vol. II, pp. 313, 341; vol. III, p. 185.

75 Ibid., vol. II, pp. 330–2.

76 Quoted in Norris, *First Afghan War*, p. 57.

77 BL, OIOC, Enclosures to Secret Letters (ESL) 3: no. 69 of no. 8 of 2 July 1832 (IOR/L/PS/5/122), Wade to Macnaghten, 11 May 1832.

78 Ibid.

79 Ibid., attached letter, 'Translation of a note from Shah Shoojah ool Moolk to Hajee Moolah Mahomed Hussein, the Shah's Agent with Capt. Wade'.

80 BL, OIOC, F/4/1466/5766, Extract Fort William Political Consultations of 12 February 1833: Shah Shuja to the Secretary and Deputy Secretary to Govt, received 18 December 1833, and F/4/1466/57660, Macnaghten to Fraser, 8 December 1832.

81 BL, OIOC, Board's Collections, F/4/1466/57660, no. 52479.

82 BL, OIOC, IOR/P/BRN/SEC/372, Item 34 of Bengal Secret Consultations, 19 March 1833, From the Governor General to Dost Mahomed, written 28 February 1833.

83 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Thirty-Second Event.

84 Lafont, *Indika*, p. 351.

85 Cited in Kapadia, 'The Diplomatic Career of Sir Claude Wade', pp. 178–9.

86 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 146.

87 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Thirty-Third Event.

88 NAI, Foreign, Secret Consultations, 10 April 1834, no. 20.

89 Ibid.

90 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 148.

91 Ibid., pp. 148–62.

(c) ketabton.com: The Digital Library

92 NAI, Foreign, Political Consultations, 5 September 1836, nos 9–19, Minute of Charles Trevelyan. Trevelyan and Arthur Conolly were the ones who really formed the Indus Policy of Lords Ellenborough and Auckland.

93 Macintyre, *Josiah the Great*, p. 18.

**Chapter 3: The Great Game Begins**

1 Elizabeth Errington and Vesta Sarkhosh Curtis, *From Persepolis to the Punjab: Exploring Ancient Iran, Afghanistan and Pakistan*, London, 2007, p. 5.

2 George Rawlinson, *A Memoir of Major-General Sir Henry Creswicke Rawlinson*, London, 1898, p. 67.

3 Royal Geographical Society, Rawlinson Papers, HC2, Private Journal Commenced from 14 June 1834, entry for 24 October 1834.

4 Ivan Fedorovitch Blaramberg, *Vospominania*, Moscow, 1978, p. 64.

5 Yapp, *Strategies*, pp. 138–9.

6 I. O. Simonitch, *Précis historique de l'avènement de Mahomed-Schah au trône de Perse par le Comte Simonitch, ex-Ministre Plénipotentiaire de Russie á la Cour de Téhéran*, Moscow, 1967, quoted by Alexander Morrison, *Twin Imperial Disasters: The Invasion of Khiva and Afghanistan in the Russian and British Official Mind, 1839–1842* (forthcoming).

7 Sir John MacNeill, *The Progress and Present Position of Russia in the East*, London, 1836, p. 151.

8 Rawlinson, *Memoir*, p. 67.

9 Ibid., p. 68.

10 NAI, Foreign, Secret Consultations, 17 October 1838, nos 33–4.

11 Rawlinson, *Memoir*, p. 68.

12 NAI, Foreign, Secret Consultations, 17 October 1838, nos 33–4.

13 Errington and Curtis, *From Persepolis to the Punjab*, p. 5.

14 NAI, Foreign, Secret Consultations, 17 October 1838, nos 33–4.

15 Blaramberg, *Vospominania*, p. 60; Melvin Kessler, *Ivan Viktorovitch Vitkevich 1806–39: A Tsarist Agent in Central Asia*, Central Asia Collectanea, no. 4, Washington, DC, 1960, pp. 5–8; V. A. Perovsky, *A Narrative of the Russian Military Expedition to Khiva under General Perofski in 1839*, trans. from the Russian for the Foreign Department of the Government of India, Calcutta, 1867; Mikhail Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', *Central Asian Survey*, vol. 3, no. 1 (1984), p. 72.

16 'Peslyak's Notes', *Istorichesky Vestnik*, no. 9, 1883, p. 584.

17 Letter from V. A. Perovsky, Military Governor of Orenburg, to K. K. Rodofinikin, head of the Asian Department at the Ministry of the Foreign Affairs, 14 June 1836, quoted by N. A. Khalfin, predislovie k sb. *Zapiski î Bukharskom Khanstve* (preface to Notes on the Khanate of Bukhara), Moscow, 1983.

(c) ketabton.com: The Digital Library

18 Blaramberg, *Vospominania*, p. 60.

19 Perovsky, *A Narrative of the Russian Military Expedition to Khiva*, pp. 73–5. Morrison in *Twin Imperial Disasters* points out that this passage was in fact written by Ivanin, not Perovsky.

20 Khalfin, *Zapiski î Bukharskom Khanstve* (Notes on the Khanate of Bukhara)

21 Blaramberg, *Vospominania*, p. 60.

22 Khalfin, *Zapiski î Bukharskom Khanstve* (Notes on the Khanate of Bukhara).

23 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', p. 70.

24 Khalfin, *Zapiski î Bukharskom Khanstve* (Notes on the Khanate of Bukhara).

25 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', pp. 73–4.

26 Ibid., p. 70; Morrison, *Twin Imperial Disasters*, pp. 16–17.

27 Khalfin, *Zapiski î Bukharskom Khanstve* (Notes on the Khanate of Bukhara).

28 Cited by Morrison in *Twin Imperial Disasters*, p. 16.

29 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', p. 72.

30 N. A. Khalfin, *Vozmezdie ozhidaet v Dzhagda* (Drama in a Boarding House), *Voprosy Istorii*, 1966, No. 10; also Yapp, *Strategies*, p. 234. The original source for this is Duhamel's memoirs.

31 Kessler, *Ivan Viktorovitch Vitkevich*, p. 12.

32 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', p. 74.

33 Ibid.

34 Blaramberg, *Vospominania*, p. 60.

35 Ibid., p. 64.

36 Burnes, *Cabool*, p. 104.

37 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', p. 70.

38 See Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, pp. 184–8; Masson, *Narrative of Various Journeys*, vol. III, pp. 307–9; Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, pp. 101–7; Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, pp. 15–17; Kapadia, 'The Diplomatic Career of Sir Claude Wade', p. 203.

39 NAI, Foreign, Secret Consultations, 15 May 1837, no. 08, Masson to Wade, 25 February 1837.

40 Ibid.

41 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 186. The Amir who commissioned the *Siraj* left a marginal note on the mss: 'I heard from some elderly men that Hari Singh was riding on an elephant and heading into the fray when suddenly a bullet struck him in a fatal spot and he died. It is not known who killed him.' Whatever the truth, Afghan literature has

(c) ketabton.com: The Digital Library

always assumed that it was Akbar Khan who personally despatched Hari Singh, and he is credited with the deed in Kashmiri's *Akbarnama* and several other epics.

42 Norris, *First Afghan War*, p. 114.

43 Burnes, *Cabool*, p. 139, and his letter to Calcutta, 9 October 1837, NAI, Foreign, Political Consultations, letters from Secretary of State, 28 September 1842, no. 21.

44 Masson, *Narrative of Various Journeys*, vol. III, p. 445.

45 Ibid., pp. 447–9.

46 See for example Maulana Hamid Kashmiri, *Akbarnama.*

47 Ibid.

48 Ibid., ch. 9.

49 Masson, *Narrative of Various Journeys*, vol. III, p. 97.

50 Vigne, *Visits to Afghanistan*, pp. 176–7.

51 Burnes, *Cabool*, p. 140.

52 Ibid.

53 Ibid., pp. 142–3.

54 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 162–72.

55 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 10.

56 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 192.

57 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 11.

58 Masson, *Narrative of Various Journeys*, vol. III, pp. 452–3.

59 Ibid. A more accurate translation of Garib Nawaz would be 'He Who Cherishes the Poor'.

60 NAI, Foreign, Secret Consultations, 19 August 1825, Burnes to Holland, nos 3–4.

61 Sir Penderel Moon, *The British Conquest and Dominion of India*, London, 1989, p. 492.

62 This was of course the same Macaulay who ignorantly remarked in his Minute on Education that 'a single shelf of a good European library was worth the whole native literature of India and Arabia . . . the historical information which has been collected from all the books written in the Sanscrit language is less valuable than what may be found in the most paltry abridgments used at preparatory schools in England'. In the 'anglicist' vs 'Orientalist' debate which followed, Macaulay and Macnaghten were on opposing sides. For the procession see Emily Eden, *Up the Country: Letters written to her Sister from the Upper Provinces of India*, Oxford, 1930, p. 1.

63 Emily Eden, *Miss Eden's Letters*, ed. by her great-niece, Violet Dickinson, London, 1927, p. 293.

(c) ketabton.com: The Digital Library

64 W. G. Osborne, *The Court and Camp of Runjeet Sing*, London, 1840,pp. 209–10. The Venetians, masters of a previous trading empire, had a similar approach.

65 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 263.

66 Ibid.

67 Eden, *Up the Country*, p. 18.

68 Fanny Eden, *Tigers, Durbars and Kings: Fanny Eden's Indian journals, 1837–1838*, transcribed and ed. by Janet Dunbar, London, 1988, p. 72.

69 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 299; Eden, *Up the Country*, p.3.

70 Eden, *Up the Country*, p. 156.

71 Eden, *Tigers, Durbars and Kings*, pp. 77–80.

72 Eden, *Up the Country*, pp. 4, 46.

73 Eden, *Tigers, Durbars and Kings*, p. 124.

74 Ibid., p. 60.

75 Mohan Lal, *Life of Amir Dost Mohammad*, vol. I, pp. 249–50.

76 Yapp, *Strategies*, p. 245; A. C. Banerjee, *Anglo-Sikh Relations: Chapters fromJ. D. Cunningham's History of the Sikhs*, Calcutta, 1949, p. 53.

77 Mohan Lal, *Life of Amir Dost Mohammad*, vol. I, pp. 250–2.

78 BL, OIOC, ESL 48: no. 87 of no. 1 of 8 February 1838 (IOR/L/PS/5/129), Extract of a letter from Wade to Macnaghten, 1 January 1838.

79 BL, OIOC, ESL 50: no. 18; Kapadia, 'The Diplomatic Career of Sir Claude Wade', p. 385.

80 BL, OIOC, ESL 48: no. 87 of no. 1 of 8 February 1838 (IOR/L/PS/5/129), Extract of a letter from Wade to Macnaghten, 1 January 1838.

81 NAI, Foreign, Political Consultations, 11 September 1837, no. 4.

82 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', p. 76.

83 NAI, Foreign, Political Consultations, 6 June 1838, nos 21–2.

84 BL, Broughton Papers, Add Mss 37692, fol. 71, Auckland to Hobhouse, 6 January 1838; Norris, *First Afghan War*, p. 139.

85 Johnson, *The Afghan Way of War*, p. 42.

86 Herawi, *'Ayn al-Waqayi*, p. 29; Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I,pp. 189–90.

87 Norris, *First Afghan War*, pp. 129–30.

(c) ketabton.com: The Digital Library

88 NAI, Foreign, Secret Consultations, 19 August 1825, nos 3–4, 1, 11–14. Extracts from private letters from the late Sir Alex Burnes to Major Holland between the years 1837 and 1841 relating to affairs in Afghanistan.

89 Burnes, *Cabool*, pp. 261–2.

90 BL, OIOC, L/PS/5/130, Burnes to Macnaghten, 18 February 1838.

91 BL, OIOC, ESL 48: no. 100 of no. 1 of 8 February 1838 (IOR/L/PS/5/129), Burnes to Auckland, 23 December 1837.

92 NAI, Foreign, Secret Consultations, 19 August 1825, nos 3–4, 1, 11–14.

93 Norris, *First Afghan War*, p. 141.

94 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', p. 76.

95 Masson, *Narrative of Various Journeys*, vol. III, p. 465.

96 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 162–72.

97 Norris, *First Afghan War*, p. 151.

98 NAI, Foreign, Secret Consultations, 22 August to 3 October 1838, no. 60, Pottinger to Burnes.

99 Mohan Lal, *Life of Amir Dost Mohammad*, vol. I, p. 281.

100 Michael H. Fisher, 'An Initial Student of Delhi English College: Mohan Lal Kashmiri (1812–77)', in Margrit Pernau (ed.), *The Delhi College: Traditional Elites, the Colonial State and Education before 1857*, New Delhi, 2006, p. 248.

101 Mohan Lal, *Life of Amir Dost Mohammad*, vol. I, pp. 307–9.

102 Burnes to Macnaghten, 24 March 1838, Parliamentary Papers [PP] 1839, Indian Papers 5. For fuller text see PP 1859.

103 NAI, Foreign, Secret Consultations, 22 August to 3 October 1838, no. 602, Burnes to Macnaghten.

104 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 11.

105 Volodarsky, 'The Russians in Afghanistan in the 1830s', p. 77.

106 Morrison, *Twin Imperial Disasters*, p. 22.

107 NAI, Foreign, Secret Consultations, 19 August 1825, nos 3–4, no. 04, Burnes to Holland, Peshawar, 6 May 1838.

108 BL, OIOC, ESL 49: no. 12 of no. 11 of 22 May 1838 (IOR/L/PS/5/130), Auckland's Minute of 12 May 1838.

109 Eden, *Up the Country*, p. 125.

110 Norris, *First Afghan War*, p. 161.

111 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 293.

112 BL, OIOC, ESL 49: no. 12 of no. 11 of 22 May 1838 (IOR/L/PS/5/130), Auckland's Minute of 12 May 1838.

113 Eden, *Miss Eden's Letters*, pp. 299–300.

(c) ketabton.com: The Digital Library

114 Eden, *Up the Country*, p. 186.

115 Osborne, *The Court and Camp of Runjeet Sing*, pp. 70–89.

116 Ibid., p. 90.

117 Ibid., p. 190.

118 Major W. Broadfoot, *The Career of Major George Broadfoot, C.B.*, London, 1888, p. 121; also Henry Lawrence, in Yapp, *Strategies*, p. 247.

119 BL, OIOC, Mss Eur E359, Diary of Colvin, entry for 1 June 1838.

120 Norris, *First Afghan War*, p. 182.

121 *Calendar of Persian Correspondence of the Punjab Archives abstracted into English*, Lahore, 1972–2004 vol. 2, p. 158. Mirza Haidar Ali, an attendant to Shah Shuja ul-Mulk, to the Political Agent, Ludhiana, 15 September 1837.

122 Maulana Mohammad-Ghulam Akhund-zada Kohistani, b. Mulla Timur-shah, *mutakhallis ba* 'Gulam' (or Gulami Mohammad Ghulam), *Jangnama. Dar wasfi-i mujahidat-i Mir Masjidi-khan Gazi wa sair-i mudjahidin rashid-i milli-i aliya-i mutajawizin-i ajnabi dar salha-yi 1839–1842 i. Asar: Maulina* [sic] *Muhammad-Gulam Kuhistani mutakhallis ba 'Gulami'*, Kabul 1336 AH/1957 (*Anjuman-i tarikh-i Afghanistan*, No. 48) [preface by Ahmad-Ali Kohzad, without index], pp. 184–6.

123 Osborne, *The Court and Camp of Runjeet Sing*, pp. 207–8.

124 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Thirty-Fifth Event.

125 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 290.

126 Ibid., p. 311.

127 Moon, *The British Conquest and Dominion of India*, p. 505.

128 NAI, Foreign, Secret Consultations, 21 November 1838, no.104, Mackeson to Macnaghten, 16 August 1838.

129 Masson, *Narrative of Various Journeys*, vol. III, p. 495.

130 Yapp argues convincingly for Macnaghten being the main driving force behind the invasion – see *Strategies*, pp. 246–7.

131 Colonel William H. Dennie, *Personal Narrative of the Campaigns in Afghanistan*, ed. W. E. Steele, Dublin, 1843, p. 30.

132 Sir John William Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. 2, p. 254.

133 Yapp, *Strategies*, p. 253.

134 Sir John William Kaye, *History of the War in Afghanistan: From the unpublished letters and journals of political and military officers employed in Afghanistan*, London, 1851, vol. I, p. 375.

(c) ketabton.com: The Digital Library

135 Henry Marion Durand, *The First Afghan War and its Causes*, London, 1879, p. 81.

**Chapter 4: The Mouth of Hell**

1 BL, Broughton Papers, Add Mss 36474, Wade to Auckland, 31 January 1839.

2 Yapp, *Strategies*, p. 263.

3 Dennie, *Personal Narrative of the Campaigns in Afghanistan*, p. 51.

4 Norris, *First Afghan War*, p. 254.

5 Ibid., p. 248.

6 Ibid.

7 *Calendar of Persian Correspondence,* vol. 2, p. 1119, 11 December 1838, Shah political Agent, Ludhiana

8 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 305.

9 Eden, *Tigers, Durbars and Kings*, p. 162.

10 Ibid., p. 159.

11 J. H. Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott, GCB*, London, 1854, vol. I, p. 79 .

12 Osborne, *The Court and Camp of Runjeet Singh* pp. 213–14.

13 Eden, *Up the Country*, pp. 205–6.

14 Henry Havelock, *Narrative of the War in Affghanistan in 1838–9*, London, 1840, vol. I, p. 72; Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. I, p. 392.

15 Eden, *Tigers, Durbars and Kings*, p. 182.

16 Ibid., p. 175.

17 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. I, p. 393.

18 Saul David, *Victoria's Wars: The Rise of Empire*, London, 2006, p. 27.

19 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, p. 91.

20 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 162, The English in Sindh and the Bolan Pass.

21 Ibid.

22 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. I, p. 419.

23 Ibid., p. 415.

24 NAI, Foreign, Secret Consultations, Burnes to Holland (pte), 21 March 1839, 8/43, 28 September 1842.

25 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 11.

26 Major-General Sir Thomas Seaton, *From Cadet to Colonel: The Record of a Life of Active Service*, London 1873, p. 74.

(c) ketabton.com: The Digital Library

27 Broadfoot, *The Career of Major George Broadfoot*, p. 7.

28 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 162, The English in Sindh and the Bolan Pass.

29 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 85.

30 G. W. Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain GCB*, Edinburgh, 1909, pp. 31–2.

31 *Calendar of Persian Correspondence*, vols. 2 and no. 3, contains many of the letters sent out by Shah Shuja and Wade in an attempt to raise the tribes of Afghanistan for the Sadozai restoration. E.g. vol. 3, no. 206, 19 February 1839, p. 30.

32 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. I, pp. 262–3.

33 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 198.

34 Major William Hough, *A Narrative of the March and Operations of the Army of the Indus 1838–1839*, London, 1841, pp. 83–4.

35 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 89.

36 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, p. 122.

37 Hough, *March and Operations of the Army of the Indus*, p. 68.

38 George Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, London, 1875, p. 7.

39 Sita Ram Panday, *From Sepoy to Subedar*, trans. Lt. Col. J. T. Norgate, London, 1873, pp. 88–9. This is an irresistible text, but also a somewhat problematic one. The Hindustani original, supposedly written down in Devanagari by Sita Ram in retirement, has never come to light, and the earliest version of it appeared in English in the 1870s. It was then translated *back* into Arabic-script Hindustani (as the *Khwab o Khiyal*) for use as an examination text for the Indian Civil Service (ICS). It is always possible that there is no original, and that the text was actually written by the British officer who first published it. However, having read many other letters allegedly written by sepoys to the Delhi press, and in fact clearly written by their British officers, I am inclined to accept the authenticity of this text.

40 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 170, The English in Sindh and the Bolan Pass.

41 *Calendar of Persian Correspondence*, vol. 3, p. 155, no. 1000, 9 June 1839, Shah Shuja to Colonel Wade.

42 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 171, The English in Sindh and the Bolan Pass.

43 National Army Museum, NAM 2008–1839, Gaisford Letters, p. 1, Camp Artillery Brigade Near Kabool, 20 August 1839.

44 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, p. 101.

45 National Army Museum, NAM 1983–11–28–1, Gaisford Diary, p. 1.

46 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 12–13.

47 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, p. 115.

48 National Army Museum, NAM 1983–11–28–1, Gaisford Diary, p. 1.

(c) ketabton.com: The Digital Library

49 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 206.

50 Haji Khan Kakar had already sent a verbal message to Shah Shuja, but this was the first sign that he was planning to act on his word – see NAI, Foreign, Secret Consultations, 16 October 1839, no. 70, Abstract of letters received by Shah Shooja from different Chiefs West of Indus in reply to communications addressed to them by His Majesty; sent for the perusal of Captain Wade.

51 Kashmiri, *Akbarnama.*

52 Letter of Alexander Burnes quoted by Emily Eden, *Up the Country*, p. 291.

53 National Army Museum, NAM 2008–1839, Gaisford Letter, p. 1, Camp Artillery Brigade Near Kabool, 20 August 1839.

54 BL, Broughton Papers, Add Mss 36474, Macnaghten to Auckland, 6 May 1839.

55 William Taylor, *Scenes and Adventures in Afghanistan*, London, 1842, p. 95.

56 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 104, The Thirty-Fifth Event.

57 Ibid.

58 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 225.

59 Amini, *Paadash-e-Khidmatguzaari-ye-Saadiqaane Ghazi Nayab Aminullah Khan Logari*, p. 4.

60 Rev. G. R. Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, London, 1843, p. 39.

61 Sita Ram, *From Sepoy to Subedar*, London, 1843, pp. 91–2.

62 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain GCB*, p. 35.

63 BL, Broughton Papers, Add Mss 36474, fols 63–8, Auckland to Hobhouse,18 June 1839.

64 *Calendar of Persian Correspondence*, vol. 3, p. 111, no. 762, 16 May 1839, Political Agent, Ludhiana to Shah Dad Khan; Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 169.

65 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 259; Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 43.

66 NAI, Foreign, Secret Consultations, 16 October 1839, no. 70, Abstract of letters received by Shah Shooja from different Chiefs West of Indus in reply to communications addressed to them by His Majesty; sent for the perusal of Captain Wade.

67 William Barr, *Journal of a March from Delhi to Peshawar and thence to Cabul*, London, 1844, pp. 134–5.

68 *Calendar of Persian Correspondence*, vol. 3, p. 50, no. 334, 19 March 1839, Political Agent, Ludhiana to Maharajah Ranjit Singh.

69 Ibid., p. 52, no. 356, 21 March 1839, Political Agent, Ludhiana to Maharajah Ranjit Singh.

(c) ketabton.com: The Digital Library

70 Ibid., p. 56, no. 382, 27 March 1839; p. 58, no. 399, 1 April 1839; p. 60, no. 410, 3 April 1839; p. 64, nos 443 and 444, 8 April 1839; all Political Agent, Ludhiana to Maharajah Ranjit Singh.

71 Ibid., p. 57, no. 394, 31 March 1839, Khalsa sarkar to General Avitabile.

72 Ibid., p. 87, no. 604, 1 May 1839, Political Agent, Ludhiana to Maharajah Ranjit Singh.

73 Ibid., p. 29, no. 200 and p. 104, no. 716, 13 May (for demands of the Khyber chiefs) and p. 107, no. 735, 15 and 21 May 1839, Maharajah Ranjit Singh to Political Agent, Ludhiana.

74 Osborne, *The Court and Camp of Runjeet Sing*, pp. 223–4.

75 Eden, *Up the Country*, pp. 292, 310.

76 Yapp, *Strategies*, pp. 363–5.

77 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. II, p. 264.

78 BL, OIOC, ESL 79: no. 5 of Appendix VI in no. 3 of no. 71 of 20 August 1840 (IOR/L/PS/5/160), Extract from a demi-official letter from Todd to Macnaghten, 15 June 1840.

79 BL, Broughton Papers, Add Mss 36474, Wade to the Governor General, 31 January 1839.

80 NAI, Foreign, Secret Consultations, 12 June 1839, no. 75, Wade to Maddock,18 July 1839.

81 Taylor, *Scenes and Adventures in Afghanistan*, pp. 101–2.

82 Durand, *The First Afghan War and its Causes*, p. 171.

83 BL, OIOC, Mss Eur D1 118, Nicholls letters, Keane to Nicholls, August 1839.

84 Sita Ram, *From Sepoy to Subedar*, p. 97.

85 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 39–56.

86 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, pp. 226–7.

87 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 238–42.

88 Durand, *The First Afghan War and its Causes*, p. 174.

89 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Thirty-Fifth Event.

90 Sita Ram, *From Sepoy to Subedar*, p. 98.

91 Durand, *The First Afghan War and its Causes*, pp. 178–9.

92 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, The Thirty-Fifth Event.

93 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 173–6.

94 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 17.

95 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, p. 46.

(c) ketabton.com: The Digital Library

96 National Army Museum, NAM 1983–11–28–1, Gaisford Diary, pp. 71ff.

97 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 173–6.

98 Johnson, *The Afghan Way of War*, p. 53.

99 Durand, *The First Afghan War and its Causes*, pp. 166–7.

100 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 173–6.

101 Ibid.

102 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 228.

103 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 307.

104 Havelock, *Narrative of the War in Affghanistan*, vol. II, p. 97.

105 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 236–7.

106 Johnson, *The Afghan Way of War*, p. 53.

107 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 14.

108 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 25.

109 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. I, p. 461.

110 Hough, *March and Operations of the Army of the Indus*, pp. 251–2.

**Chapter 5: The Flag of Holy War**

1 Khalfin, *Vozmezdie ozhidaet v Dzhagda* (Drama in a Boarding House).

2 BL, Add Mss 48535, Clanricarde to Palmerston, 25 May 1839.

3 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. I, p. 209n.

4 NAI, Foreign, Secret Consultations, 18 December 1839, no. 6, Translation of a letter from Nazir Khan Ullah at Bokhara to the address of the British Envoy and Minister at Kabul dated 15th Rajab / 24 September 1839.

5 Perovsky, *A Narrative of the Russian Military Expedition to Khiva*, pp. 73–5. Also quoted, in a slightly different translation, in Morrison, *Twin Imperial Disasters*, pp. 22–4. Morrison says only four letters from Vitkevitch in Kabul survive in his file in the Russian archives.

6 Khalfin, *Vozmezdie ozhidaet v Dzhagda* (Drama in a Boarding House); also Morrison, *Twin Imperial Disasters*, p. 23.

7 Khalfin, *Vozmezdie ozhidaet v Dzhagda* (Drama in a Boarding House),pp. 194–206.

8 Sungurov's notes were assembled into a memoir by his cousin I. A. Polferov in 'Predatel' (The Traitor), *Istoricheskij vestnik*, St Petersburg, vol. 100 (1905),p. 498 and note. See also Kessler, *Ivan Viktorovitch Vitkevitch*, pp. 16–18.

9 Blaramberg, *Vospominania*, p. 64.

(c) ketabton.com: The Digital Library

10 Morrison, *Twin Imperial Disasters*, p. 32.

11 George Pottinger and Patrick Macrory, *The Ten-Rupee Jezail: Figures in the First Afghan War 1838–42*, London, 1993, p. 7.

12 Yapp, *Strategies*, p. 268; David, *Victoria's Wars*, p. 35.

13 Eden, *Up the Country*, pp. 205–6.

14 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 126, The Thirty-Fifth Event.

15 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 69.

16 Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, pp. 144–8.

17 James Rattray, *The Costumes of the Various Tribes, Portraits of Ladies of Rank, Celebrated Princes and Chiefs, Views of the Principal Fortresses and Cities, and Interior of the Cities and Temples of Afghaunistan*, London, 1848, p. 16.

18 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 211–24.

19 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, pp. 69–70.

20 Ibid., pp. 71–2.

21 Rattray, *The Costumes of the Various Tribes*, p. 16.

22 Many thanks to Craig Murray for bringing this to my attention. Both Alexander and James Burnes, as well as Mohan Lal Kashmiri, were enthusiastic Masons

23 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 27.

24 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 315.

25 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 228.

26 Mohammad Ghulam Kohistani, *Jangnama*, p. 70.

27 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 20.

28 J. H. Stocqueler, *Memorials of Affghanistan: State Papers, Official Documents, Dispatches, Authentic Narratives etc Illustrative of the British Expedition to, and Occupation of, Affghanistan and Scinde, between the years 1838 and 1842*, Calcutta, 1843, Appendix I, 'The Pursuit of Dost Mohammad Khan by Major Outram of the Bombay Army', p. iv.

29 Ibid., p. ix.

30 Ibid.

31 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 211–24 .

32 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, pp. 228–31.

33 BL, OIOC, Elphinstone Papers, Mss Eur F89/3/7; Yapp, *Strategies*, p. 332.

(c) ketabton.com: The Digital Library

34 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, pp. 54–5.

35 Macintyre, *Josiah the Great*, pp. 264, 308.

36 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 71.

37 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 305–12; Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 226; Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 197.

38 Thomas J. Barfield, 'Problems of Establishing Legitimacy in Afghanistan', *Iranian Studies*, vol. 37, no. 2, June 2004, p. 273.

39 BL, Broughton Papers, Add Mss 36474, fol. 188, Auckland to Hobhouse, 21 December 1839.

40 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 127, The Thirty-Fifth Event.

41 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 32.

42 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 109.

43 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 258.

44 NAI, Foreign, Secret Consultations, 18 December 1839, no. 6, Translation of a letter from Nazir Khan Ullah at Bokhara to the address of the British Envoy and Minister at Kabul dated 15th Rajab / 24 September 1839.

45 Ibid.

46 NAI, Foreign, Secret Consultations, 8 September 1842, no. 37–38, Sir A. Burnes Cabool to Captain G. L. Jacob, Rajcote, Private, Cabool, 19 September 1839.

47 Yapp, *Strategies*, p. 339.

48 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 323.

49 Quoted in Yapp, *Strategies*, p. 344.

50 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, pp. 49–50.

51 Ibid., p. 50.

52 National Army Museum, NAM 7101–24–3, Roberts to Sturt, 10 May 1840.

53 Yapp, *Strategies*, pp. 322–3.

54 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 211–24.

55 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. II, pp. 282–3.

56 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 399.

57 National Army Museum, NAM 7101–24–3, Roberts to Sturt, 10 May 1840.

58 Jules Stewart, *Crimson Snow: Britain's First Disaster in Afghanistan*, London, 2008, p. 64.

59 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 124, The Thirty-Fifth Event.

(c) ketabton.com: The Digital Library

60 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, pp. 235–6.

61 NAI, Foreign, Secret Consultations, 5 October 1840, no. 66, Macnaghten to Auckland.

62 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 314–15.

63 BL, Broughton Papers, Add Mss 36474, fol. 188, Auckland to Hobhouse, 21 December 1839.

64 NAI, Foreign, Secret Consultations, 8 June 1840, no. 95–6, Auckland to Shah Shuja.

65 M. E. Yapp, 'The Revolutions of 1841–2 in Afghanistan', *Bulletin of the School of Oriental and African Studies*, vol. 27, no. 2 (1964), p. 342. See also Thomas Barfield, *Afghanistan: A Cultural and Political History*, Princeton, 2010,pp. 118–20.

66 BL, OIOC, ESL, 88, no. 24 of no. 32 of 17 August 1842, Lal, Memorandum,29 June 1842.

67 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 380–1.

68 Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 50.

69 NAI, Foreign, Secret Consultations, 15 January 1840, no. 75–77, Shah Shuja to Auckland.

70 Durand, *The First Afghan War and its Causes*, p. 245.

71 NAI, Foreign, Secret Consultations, 24 August 1840, covering letter of Macnaghten of 22 July 1840.

72 NAI, Foreign, Secret Consultations, 15 January 1840, no. 75–77, Shah Shuja to Auckland.

73 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 314–15.

74 Waqi'at-i-Shah Shuja, pp. 124–5, The Thirty-Fifth Event.

75 Rattray*, The Costumes of the Various Tribes*, p. 3, and Lockyer Willis Hart, *Character and Costumes of Afghanistan*, London, 1843, p. 1.

76 Shahmat Ali, *The Sikhs and Afghans in Connexion with India and Persia*, London, 1847, p. 479.

77 NAI, Foreign, Secret Consultations, 24 August 1840, Sir A. Burnes' report of an interview with Shah Shooja with some notes of Sir Wm Macnaghten to GG. Capt. Lawrence accompanied Burnes.

78 NAI, Foreign, Secret Consultations, 5 October 1840, no. 66, Macnaghten to Auckland.

79 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 245.

80 BL, OIOC, IOR L/PS/5/162.

81 BL, OIOC, ESL 74: no. 5 of no. 24 of no. 13, 19 February 1841.

82 BL, OIOC, ESL 70: no. 35 of no. 99 of 13 September 1840, Burnes Memo of a conversation with Shah Shuja, 12 July 1840.

83 National Army Museum, NAM 7101–24–3, Roberts to Osborne, 18 February 1840.

84 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, pp. 256–7 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

85 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. I, p. 272.

86 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 17.

87 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 314–15.

88 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 237.

89 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 17.

90 Ibid.

91 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 197; BL, OIOC, no. 7 of no. 122 of 16 October 1840 (L/PS/5/152), Macnaghten to Torrens, 22 August 1840.

92 Dennie, *Personal Narrative*, p. 126.

93 Mohammad Ghulam Kohistani, *Jangnama*, pp. 184–6.

94 Ibid, pp. 157–8.

95 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 349–50.

96 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 205–10.

97 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 360.

98 Mohammad Ghulam Kohistani, *Jangnama*, pp. 193–5.

99 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 49–52.

100 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 126, The Thirty-Fifth Event. For the tradition of rulers surrendering see the perceptive analysis in Barfield, *Afghanistan: A Cultural and Political History*, pp. 117–18.

101 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 209.

102 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. II, p. 98.

103 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. II, pp. 280–1.

104 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 210.

105 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 240.

106 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, pp. 126–7, The Thirty-Fifth Event.

107 Stewart, *Crimson Snow*, p. 71.

108 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, p. 211.

109 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 53.

**Chapter 6: We Fail from Our Ignorance**

1 Eden, *Up the Country*, p. 389.

2 Ibid.

3 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 334.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4 Karl Meyer and Shareen Brysac, *Tournament of Shadows: The Great Game and the Race for Empire in Europe*, London, 1999, p. 93.

5 Eden, *Up the Country*, p. 390.

6 BL, Broughton Papers, Add Mss 37703, Auckland to Elphinstone, 18 December 1840.

7 Helen Mackenzie, *Storms and Sunshine of a Soldier's Life: Lt. General Colin Mackenzie CB 1825–1881*, 2 vols, Edinburgh, 1884, vol. I, p. 65.

8 Ibid., p. 75.

9 National Army Museum, NAM 1999–02–116–9–1, Magrath Letters, Letter 9, Cantonment Caubul, 22 June 1841.

10 BL, OIOC, ESL 86: no. 38 of no. 14, 17 May 1842, Elphinstone Memo, December 1841.

11 BL, OIOC, Mss Eur F89/54, Major-General William Elphinstone to James D. Buller Elphinstone, 5 April 1841.

12 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 343.

13 BL, Broughton Papers, Add Mss 37705, Auckland to George Clerk, 23 May 1841. See also Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, p. 67.

14 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 291; Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 382; see also Yapp, *Strategies*, p. 366.

15 See for example the letter from Malik Mohamad Khan and Abdah Sultan in Ghazni to Naib Aminullah Khan Logari, undated but c.1841, reproduced in Amini, *Paadash-e-Khidmatguzaari-ye-Saadiqaane Ghazi Nayab Aminullah Khan Logari*, p. 167. The original was in an album of letters (which now seem to have disappeared) in the Kabul museum.

16 M. E. Yapp, 'Disturbances in Western Afghanistan, 1839–41', *Bulletin of the School of Oriental and African Studies*, vol. 26, no. 2 (1963), p. 310.

17 BL, OIOC, ESL 75: no. 37 of no. 34 of 22 April 1841 (IOR/L/PS/5/156), Aktar Khan's address to Naboo Khan Populzye, and forwarded by that Chief to Ata Mahomed Khan (Sirdar), who transmitted it to Candahar. Translated by H. Rawlinson, February 1841.

18 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, pp. 272–3.

19 Rawlinson, *A Memoir of Major-General Sir Henry Creswicke Rawlinson*, p. 81.

20 BL, OIOC, ESL 81: no. 64a of no. 109 (IOR/L/PS/5/162), Extract from a letter from Macnaghten to Rawlinson dated about 2 August 1841.

(c) ketabton.com: The Digital Library

21 Colonel (John) Haughton, *Char-ee-Kar and Service There with the 4th Goorkha Regiment, Shah Shooja's Force, in 1841*, London, 1878, pp. 5–6; George Pottinger, *The Afghan Connection: The Extraordinary Adventures of Eldred Pottinger*, Edinburgh, 1983, p. 117.

22 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Pottinger to Maddock, 1 February 1842.

23 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 21.

24 BL, OIOC, Board's Collections of Secret Letters to India, 13, Secret Committee to Governor General in Council, 694/31 December 1840.

25 Burnes to Wood, February 1841, in John Wood, *A Personal Narrative of a Journey to the Source of the River Oxus by the Route of the Indus, Kabul and Badakshan, Performed under the Sanction of the Supreme Government of India, in the Years 1836, 1837 and 1838,* London, 1841, pp. ix–x.

26 NAI, Foreign, Secret Consultations, 28 September 1842, nos 43, Burnes to Holland, 6 September 1840.

27 NAI, Foreign, Secret Consultations, 28 September 1842, no. 37–38, A. Burnes to J. Burnes.

28 Norris, *First Afghan War*, p. 317. For the cost of the Afghan War to the Company economy see also Yapp, *Strategies*, pp. 339–42; Shah Mahmood Hanifi, 'Impoverishing a Colonial Frontier: Cash, Credit, and Debt in Nineteenth-Century Afghanistan', *Iranian Studies*, vol. 37, no. 2 (June 2004); and Shah Mahmood Hanifi, *Connecting Histories in Afghanistan: Market Relations and State Formation on a Colonial Frontier*, Stanford, 2011. See also Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, pp. 25–30.

29 Yapp, *Strategies*, p. 341.

30 BL, OIOC, IOR/HM/534–45, Papers Connected to Sale's Brigade, vol. 39, Nicholls Papers and Nicholls's Journal, 26 March 1841.

31 National Army Museum, NAM, 1999–02–116–9–1, Magrath Letters, Letter 8 and 9, Cantonment Caubul, 21 May and 22 June 1841.

32 Lady Florentia Sale, *A Journal of the Disasters in Affghanistan 1841–2*, London 1843, p. 29.

33 Broadfoot, *The Career of Major George Broadfoot*, p. 14.

34 Ibid., pp. 15–17.

35 Ibid., p. 8.

36 Ibid., p. 121.

37 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 99.

38 Broadfoot, *The Career of Major George Broadfoot*, p. 20.

39 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 99.

40 NAI, Foreign, Secret Consultations, 25 January 1841, nos 80–82, Translation of a letter from His Majesty Shah Shooja ool Moolk to Her Majesty the Queen of England.

(c) ketabton.com: The Digital Library

41 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 54.

42 Yapp, *Strategies*, p. 315.

43 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, pp. 124–5, The Thirty-Fifth Event.

44 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, pp. 244–5.

45 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 387.

46 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. II, p. 286.

47 For the degree to which Afghan debts endangered the financial underpinnings of the East India Company, see Hanifi, *Connecting Histories in Afghanistan*, and Shah Mahmoud Hanifi, 'Inter-regional Trade and Colonial State Formation in Nineteenth Century Afghanistan', unpublished PhD dissertation, University of Michigan, 2001.

48 David, *Victoria's Wars*, p. 45.

49 Quoted in Macrory, *Signal Catastrophe*, p. 138.

50 BL, OIOC, ESL 81 (IOR/L/PS/5/162), Extract from a letter from Macnaghten to Auckland, dated Cabool, 28 August 1841.

51 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 96.

52 BL, OIOC, ESL 88: no. 24 of no. 32, dated 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Mohan Lal's Memo.

53 Barfield, 'Problems of Establishing Legitimacy in Afghanistan', p. 273; also Barfield, *Afghanistan: A Cultural and Political History*, p. 120; Hanifi, 'Inter-Regional Trade and Colonial State Formation in Nineteenth Century Afghanistan', p. 58.

54 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 319.

55 Ibid., p. 381.

56 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, pp. 131–2, The Thirty-Fifth Event.

57 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 21.

58 BL, OIOC, Mss Eur F89/54, Extract of a letter from Asst. Surgeon Campbell in Medical Charge of the 54th N.I., dated Cabool, 26 July 1841.

59 Pottinger, *The Afghan Connection*, p. 120.

60 BL, OIOC, Mss Eur F89/3/7, Broadfoot to W. Elphinstone.

61 Broadfoot, *The Career of Major George Broadfoot*, pp. 26–8.

62 BL, OIOC, Mss Eur F89/54, Captain Broadfoot's Report.

63 Macrory, *Signal Catastrophe*, pp. 141–2.

64 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 138.

(c) ketabton.com: The Digital Library

65 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 80.

66 BL, OIOC, ESL 81: no. 10 of no. 109 of 22 December 1841 (IOR/L/PS/5/162), Macnaghten to Maddock, 26 October 1841.

67 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p.11.

68 Quoted in Macrory, *Signal Catastrophe*, p. 149.

69 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 149.

70 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 15.

71 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 93.

72 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 20.

73 Ibid., p. 24.

74 Durand, *The First Afghan War and its Causes*, p. 338.

75 National Army Museum, NAM 1999–02–116–10–4, Magrath Letters, Camp Tezeen 25 October 1841.

76 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 25.

77 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 157.

78 Ibid., pp. 156–7.

79 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 118.

80 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 165.

81 NAI, Foreign, Secret Consultations, 13 December 1841, nos 1–2, Sale to Nicholls, 13 November 1841.

82 Quoted in Hopkirk, *The Great Game*, p. 238.

83 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, pp. 35–9.

84 Ibid., vol. I, pp. 350, 360.

85 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. II, p. 161.

86 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 22.

87 BL, OIOC, ESL 81: no. 64a of no. 109 (IOR/L/PS/5/162), Extract from a letter from Macnaghten to Auckland, dated Cabool, 29 September 1841.

88 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. II, p. 286.

89 Ibid., p. 287.

90 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 22, The killing of Burnes.

91 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 390–1.

(c) ketabton.com: The Digital Library

92 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 215–20.

93 Kaye, *Lives of Indian Officers*, vol. II, p. 289.

94 BL, OIOC, ESL 88: no. 24 of no. 32, dated 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Mohan Lal's Memo.

95 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 215–20.

**Chapter 7: All Order Is at an End**

1 Private Collection, The Mss Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 1, entry for 2 November 1841.

2 Ibid., pp. 1–2.

3 Pottinger, *The Afghan Connection*, p. 141.

4 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 62.

5 Ibid., pp. 63–4.

6 Ibid., p. 65.

7 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 401–2.

8 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 105.

9 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 407.

10 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 211–24, Events leading to the murder of Burnes and the great revolt.

11 Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, pp. 54–7.

12 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. II, pp. 163ff.

13 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 408–9.

14 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 22, The killing of Burnes.

15 BL, Wellesley Papers, Add Mss 37313, James Burnes to James Carnac,1 February 1842, Extract of a Persian Letter in exhortation from the Khans of Cabaul to the Chiefs of the Afreedees, a copy of which was received from Captain Mackinnon by Mr. Robertson at Agra on 20 December.

16 Macrory, *Signal Catastrophe*, p. 155.

17 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 249.

18 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 29; Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 211–24, Events leading to the murder of Burnes and the great revolt.

19 Quoted by Yapp, 'The Revolutions of 1841–2 in Afghanistan', p. 380.

20 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 132, The Thirty-Fifth Event.

21 Ibid., p. 137.

22 Ibid.

(c) ketabton.com: The Digital Library

23 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, pp. 106–7.

24 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 75.

25 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 39.

26 Major-General Sir Vincent Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, London, 1879, p. 87.

27 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 133, The Thirty-Fifth Event.

28 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 39.

29 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 133, The Thirty-Fifth Event.

30 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I, p. 369.

31 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 133, The Thirty-Fifth Event.

32 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 89.

33 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. II, p. 187.

34 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, pp. 29–32.

35 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 67–9.

36 Ibid., p. 69.

37 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 35.

38 'Personal Narrative of the Havildar Motee Ram of the Shah's 4th or Ghoorkha Regiment of Light Infantry, Destroyed at Char-ee-kar', appendix to Haughton, *Char-ee-Kar and Service There with the 4th Goorkha Regiment*, pp. 47–8.

39 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Pottinger to Maddock, 1 February 1842.

40 'Personal Narrative of the Havildar Motee Ram of the Shah's 4th or Ghoorkha Regiment of Light Infantry, Destroyed at Char-ee-kar', appendix to Haughton, *Char-ee-Kar and Service There with the 4th Goorkha Regiment*, pp. 47–8, 51.

41 Haughton, *Char-ee-Kar and Service There with the 4th Goorkha Regiment*, p. 15.

42 Ibid., pp. 21–4 .

43 Yapp, *Strategies*, p. 179.

44 BL, OIOC, ESL 88: no. 74 of no. 32 of 17 August 1842 (IOR L/PS/5/169), Court Martial of Himmat Bunneah, 'An European Special Court of Inquiry held at Candahar by order of Major Genl. Nott commanding Lower Afghanistan for the purpose of enquiring into such matter as may be brought before it', Candahar, 15 June 1842.

45 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. I,pp. 394–5.

46 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 38.

47 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 413.

(c) ketabton.com: The Digital Library

48 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 74–5.

49 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, pp. 106–7.

50 Ibid., p. 107.

51 Ibid., pp. 108–10.

52 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 8, entry for 3 November 1841.

53 Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, pp. 57–8.

54 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 46.

55 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 109.

56 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 15, entry for 2 December 1841.

57 Ibid., p. 16.

58 Ibid., p. 15.

59 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 47.

60 Ibid., p. 82.

61 Sita Ram, *From Sepoy to Subedar*, pp. 110–13.

62 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, pp. 108–10.

63 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 116.

64 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 133.

65 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 66.

66 Ibid., p. 47.

67 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 137, The Thirty-Fifth Event.

68 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 84.

69 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 211–24, Events leading to the murder of Burnes and the great revolt.

70 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 124.

71 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Pottinger to Maddock, 1 February 1842.

72 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 416; 'Personal Narrative of the Havildar Motee Ram of the Shah's 4th or Ghoorkha Regiment of Light Infantry, Destroyed at Char-ee-kar', appendix to Haughton, *Char-ee-Kar and Service There with the 4th Goorkha Regiment*, pp. 47–8, 54.

(c) ketabton.com: The Digital Library

73 ‘Personal Narrative of the Havildar Motee Ram of the Shah’s 4th or Ghoorkha Regiment of Light Infantry, Destroyed at Char-ee-kar’, appendix to Haughton, *Char-ee-Kar and Service There with the 4th Goorkha Regiment*, p. 55.

74 Ibid., p. 56.

75 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 176.

76 Ibid., p. 162; Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 121.

77 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 85.

78 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 271.

79 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 86.

80 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 271.

81 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 93.

82 Ibid.

83 Fayz Mohammad, *Siraj al-Tawarikh*, vol. I, pp. 251–3.

84 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 123.

85 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 182.

86 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 25, Akbar Khan returns to Kabul.

87 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 120.

88 Yapp, ‘The Revolutions of 1841–2 in Afghanistan’, p. 347.

89 Mirza ‘Ata, *Naway Ma‘arek*, pp. 224–9, Sardar Muhammad Akbar Khan arrives back in Kabul after being detained in Bukhara, and kills Macnaghten.

90 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 25, Akbar Khan returns to Kabul.

91 Mirza ‘Ata, *Naway Ma‘arek*, pp. 224–9, Sardar Muhammad Akbar Khan arrives back in Kabul after being detained in Bukhara, and kills Macnaghten.

92 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Enclosure AA: Macnaghten to Maddock, n.d.

93 Macrory, *Signal Catastrophe*, p. 178.

94 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Enclosure AA: Macnaghten to Maddock, n.d.

95 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 123.

96 Macrory, *Signal Catastrophe*, p. 180.

97 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 100–1.

(c) ketabton.com: The Digital Library

98 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Enclosure AA: Macnaghten to Maddock, n.d.

99 Macrory, *Signal Catastrophe*, p. 188.

100 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Enclosure AA: Macnaghten to Maddock, n.d.

101 Ibid., Macnaghten to Auckland, Encl with Lawrence to Pottinger, 10 May 1842.

102 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, pp. 138, The Thirty-Fifth Event, The death of Macnaghten.

103 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 110.

104 Eden, *Miss Eden's Letters*, p. 323.

105 Ibid., p. 329.

106 Ibid.

107 Ibid., p. 355.

108 BL, Broughton Papers, Add Mss 37706, fol. 197, Auckland to Nicholls,1 December 1841.

109 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 224–9, Sardar Muhammad Akbar Khan arrives back in Kabul after being detained in Bukhara, and kills Macnaghten.

110 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 111.

111 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 124.

112 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 111.

113 Ibid., pp. 111–12.

114 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, pp. 253–7.

115 Yapp, 'The Revolutions of 1841–2 in Afghanistan', p. 349.

116 NAI, Foreign, Secret Consultations, 28 December 1842, no. 480–82, quoted in Mohan Lal's Memo.

117 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 224–9, Sardar Muhammad Akbar Khan arrives back in Kabul after being detained in Bukhara, and kills Macnaghten.

118 Hari Ram Gupta, *Panjab, Central Asia and the First Afghan War, Based on Mohan Lal's Observations*, Chandigarh, 1940, p. 246. Mohan Lal appears to have doubted the truth of Abdul Aziz's claim.

119 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 421–2.

120 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Macnaghten to Auckland, Encl. with Lawrence to Pottinger, 10 May 1842.

(c) ketabton.com: The Digital Library

121 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 224–9, Sardar Muhammad Akbar Khan arrives back in Kabul after being detained in Bukhara, and kills Macnaghten.

122 NAI, Foreign, Secret Consultations, 28 December 1842, no. 480–82, Mohan Lal's Memo.

123 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 216.

124 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 139.

125 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 127.

126 BL, OIOC, ESL 88: no. 47a of no. 32 of 17 August 1842 (IOR/L/PS/5/169), Macnaghten to Auckland, Encl with Lawrence to Pottinger, 10 May 1842; Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. II, p.32.

127 Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, pp. 66–72.

128 BL, OIOC, ESL 82: Agra Letter, 22 January 1842, (IOR/L/PS/5/163), Pottinger to MacGregor (date unclear).

129 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 224–9, Sardar Muhammad Akbar Khan arrives back in Kabul after being detained in Bukhara, and kills Macnaghten.

**Chapter 8: The Wail of Bugles**

1 Private Collection, The Mss Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 30, entry for 6 January 1842.

2 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 143.

3 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 28.

4 Ibid.

5 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, pp. 132–4.

6 Ibid., p. 147.

7 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 96.

8 Quoted by Peter Hopkirk in *The Great Game*, p. 258.

9 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, pp. 247–8.

10 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 30, entry for 29 December 1841.

11 Gupta, *Panjab, Central Asia and the First Afghan War, Based on Mohan Lal's Observations*, pp. 176–8.

12 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 141.

13 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 138, The Thirty-Fifth Event, The death of Macnaghten.

14 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 428–9.

(c) ketabton.com: The Digital Library

15 NAI, Foreign, Secret Consultations, 1 June 1842, no. 19, Shuja's letter to the Governor General on the causes which led to the murder of Sir Wm Macnaghten (free translation).

16 Ibid.

17 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 142.

18 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 249.

19 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 142.

20 Ibid., p. 143.

21 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, pp. 30–1, entry for 6 January 1842.

22 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 144.

23 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 258.

24 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 135.

25 Ibid.

26 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 259.

27 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 145–6.

28 Ibid., p. 146.

29 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 261.

30 Ibid.

31 Brydon Diary, quoted in John C. Cunningham, *The Last Man: The Life and Times of Surgeon Major William Brydon CB*, Oxford, 2003, p. 88.

32 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, pp. 261, 265.

33 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 31, entry for 7 January 1842.

34 Ibid.

35 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 149.

36 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 264.

37 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 138.

38 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 33, entry for 8 January 1842.

39 Eyre, *The Kabul Insurrection of 1841–2*, p. 265.

(c) ketabton.com: The Digital Library

40 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 151.

41 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 155.

42 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 34, entry for 8 January 1842.

43 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 154–5.

44 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan 1841–2*, p. 155.

45 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 28.

46 BL, OIOC, Mss Eur C703, Diary of Captain William Anderson, entry for9 January 1842.

47 Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, pp. 66–72.

48 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan 1841–2*, p. 158.

49 Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, pp. 66–72.

50 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 41, entry for 9 January 1842.

51 National Army Museum, Diary of Surgeon-Major William Brydon, NAM 8301/60, entry for 10 January 1842.

52 BL, OIOC, Mss Eur F 89/54, First Elphinstone Memorandum, n.d.

53 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 163.

54 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 36, entry for 10 January 1842.

55 Ibid.

56 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 142.

57 Sita Ram, *From Sepoy to Subedar*, pp. 114–15.

58 National Army Museum, Diary of Surgeon-Major William Brydon, NAM 8301/60, entry for 13 January 1842.

59 'Personal Narrative of the Havildar Motee Ram of the Shah's 4th or Ghoorkha Regiment of Light Infantry, Destroyed at Char-ee-kar', appendix to Haughton, *Char-ee-Kar and Service There with the 4th Goorkha Regiment*, pp. 57–8.

60 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 188; Pottinger and Macrory, *The Ten-Rupee Jezail*, p. 197.

61 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 160.

62 National Army Museum, NAM 6912–6, Souter Letter, Lieutenant Thomas Souter to his Wife.

63 Ibid. The colours were later returned 'though divested of the tassels and most of its tinsel'.

64 National Army Museum, NAM 8301/60, Diary of Surgeon-Major William Brydon, entry for 13 January 1842.

(c) ketabton.com: The Digital Library

65 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 186.

66 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 230–2, Pottinger succeeds Macnaghten, leaves Kabul and is plundered.

**Chapter 9: The Death of a King**

1 *Delhi Gazette*, 2 February 1842.

2 Munshi Abdul Karim's *Muharaba Kabul wa Kandahar* was for example published in Lucknow in 1849 and in

a. Kanpur in 1268/1851; Qasim-Ali-khan 'Qasim' Akbarabadi's *Zafar-nama-i Akbari* (as in Sprenger), or *Akbar-nama* (as in Peshawar catalogue, completed in 1260/1844), was published in Agra, 1272/1855–6.

3 Charles Allen, *Soldier Sahibs: The Men Who Made the North-West Frontier*, London, 2000, p. 43.

4 BL, Broughton Papers, Add Mss 37707, fols 187–8, Auckland to Hobhouse,18 February 1842.

5 Hopkirk, *The Great Game*, pp. 270–1.

6 PRO, Ellenborough Papers, 30/12/89, Ellenborough to Peel, 21 February 1842.

7 Pottinger and Macrory, *The Ten-Rupee Jezail*, pp. 162–3.

8 NAI, Foreign, Secret Consultations, 31 January 1842, no. 70a, Clerk to Captain Nicholson, i/c of Dost Mohammad Khan, camp, Saharanpore, 12 January 1842.

9 NAI, Foreign, Secret Consultations, 15 June 1842, no. 34, Captain P. Nicholson with Dost Mohammad Khan, to Clerk, Mussoorie, 2 May 1842.

10 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 190.

11 BL, Hobhouse Diary, Add Mss 43744, 26 August 1842.

12 BL, Broughton Papers, Add Mss 37707, fols 187–8, Auckland to Hobhouse,18 February 1842.

13 There is an excellent analysis of this in Yapp, 'The Revolutions of 1841–2 in Afghanistan', pp. 350–1. See also Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. III, p. 104.

14 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 141, The Thirty-Fifth Event, The death of Macnaghten.

15 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 29, Shuja-ul-Mulk sets out for Jalalabad and is killed at the hands of Shuja-ud-Daula.

16 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 236–9, Muhammad Akbar Khan besieges Jalalabad, Shuja al-Mulk is killed in Kabul.

17 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, pp. 436–8.

18 NAI, Foreign, Secret Consultations, 8 April 1842, no. 32–3, MacGregor to Maddock, Translation of letters received from Captain MacGregor at Jellalabad on 22 March 1842.

19 Ibid., 'From Shah Shoojah to Captain Macgregor dated 8th Feb and written *seemingly* in H.M.'s own hand'.

(c) ketabton.com: The Digital Library

20 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 173–4, 168.

21 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, pp. 180–3.

22 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 173–4, 170.

23 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, pp. 180–3.

24 Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, pp. 72–4.

25 BL, OIOC, ESL 88: no. 36 of no. 32 of 17 August 1842 (IOR L/PS/5/169), Eldred Pottinger to Pollock, 10 July 1842.

26 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, pp. 173–4, 191.

27 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, pp. 146–7.

28 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 176.

29 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 237.

30 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 149.

31 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, pp. 190–1.

32 Seaton, *From Cadet to Colonel*, pp. 192–4.

33 NAI, Foreign, Secret Consultations, 29 June 1842, no. 8, To: T. A. Maddock Esq, Secr. to the Govt, Political Dept, From: R. Sale, Major General, Dated Jellalabad, 16 April 1842.

34 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 195.

35 Broadfoot, *The Career of Major George Broadfoot*, p. 82.

36 Seaton, *From Cadet to Colonel*, pp. 195–6.

37 Ibid., pp. 197–8.

38 Pottinger and Macrory, *The Ten-Rupee Jezail*, p. 167.

39 BL, OIOC, ESL 85: no. 20 of no. 3 of 21 April 1842, MacGregor to Pollock,14 March 1842.

40 See Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, pp. 75–80, 98–102, 105–7.

41 BL, OIOC, ESL 83: Agra Letter, 19 February 1842 (IOR/L/PS/5/164), Mahomed Akbar Khan to Sayed Ahai-u-din.

42 Ibid., Translation of a letter from Mahomed Akbar Khan to Turabaz Khan Ex Chief of Lalpoora.

43 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 236–9, Sardar Mohammad Akbar Khan besieges Jalalabad.

44 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 198.

45 Ibid., pp. 207–8.

46 NAI, Foreign, Secret Consultations, 8 April 1842, no. 14–15, n.d., Pollock transmits letter from Captain Mackeson on the wounding of Mohammad Akbar Khan.

47 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 236–9, Sardar Mohammad Akbar Khan besieges Jalalabad.

(c) ketabton.com: The Digital Library

48 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 272.

49 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 183.

50 For the complicated politics of Kabul at this period, see Yapp, 'The Revolutions of 1841–2 in Afghanistan', pp. 350–1.

51 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 273.

52 BL, OIOC, ESL, 86: no. 30 of no. 14 of 17 May 1842, Lal to Macgregor, 30 January 1842.

53 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 141, The Thirty-Fifth Event, The murder of the Shah.

54 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 274.

55 BL, OIOC, ESL, 86: no. 30A of no. 14 of 17 May 1842, Lal to Colvin,29 January 1842; also ESL, 84: no. 27 of no. 25 of 22 March 1842, Conolly to Clerk, 26 January 1842.

56 BL, OIOC, ESL, 85: no. 24 of no. 3 of 21 March 1842, Shuja to MacGregor, recd 7 March 1842.

57 BL, OIOC, ESL, 86: no. 30 of no. 14 of 17 May 1842 (IOR/L/PS/5/167), Lal to MacGregor, 18 March 1842.

58 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 29, Shuja-ul-Mulk sets out for Jalalabad and is killed at the hands of Shuja-ud-Daula.

59 NAI, Foreign, Secret Consultations, December 1842, no. 480–2, Mohan Lal's Memorandum of 29 June enclosed with a letter from General Pollock, Commanding in Afghanistan, to Maddock, Secretary to the Governor General, dated Jelalabad, 10 July 1842.

60 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 141, The Thirty-Fifth Event, The murder of the Shah.

61 NAI, Foreign, Secret Consultations, December 1842, no. 480–82, Mohan Lal's Memorandum of 29 June enclosed with a letter from General Pollock, Commanding in Afghanistan, to Maddock, Secretary to the Governor General, dated Jelalabad, 10 July 1842.

62 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. III, p. 109n.

63 NAI, Foreign, Secret Consultations, 8 April 1842, no31, Translation of a letter from His Majesty Shah Soojah ool Moolk to Captain MacGregor written by the Shah himself.

64 Pottinger and Macrory, *The Ten-Rupee Jezail*, p. 165.

65 Ibid., pp. 166–7.

66 Ibid., pp. 169–70.

67 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 149, The Thirty-Fifth Event, The murder of the Shah.

68 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 237–9, Shuja' al-Mulk is killed in Kabul.

69 Ibid.

70 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 149, The Thirty-Fifth Event, The murder of the Shah.

(c) ketabton.com: The Digital Library

71 Ibid.

72 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, pp. 303, 309.

73 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 29, Shuja-ul-Mulk sets out for Jalalabad and is killed at the hands of Shuja-ud-Daula.

74 Punjab Archives, Lahore, from Fraser, Ramgurh to Ochterlony, Ludhiana,3 September 1816, vol. 18, part 2, Case 118, pp. 538–9.

75 NAI, Foreign, Secret Consultations, 10 April 1834, no. 20, Wade to Bentinck, Translation of a letter from Shah Shuja, 12 March 1834.

76 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 212.

77 These were the words of Josiah Harlan on meeting Shuja for the first time in Ludhiana. Josiah Harlan, 'Oriental Sketches', insert at p. 42a, Mss in Chester Country Archives, Pennsylvania, quoted in Macintyre, *Josiah the Great*, p. 24.

78 Masson, *Narrative of Various Journeys*, vol. I, p. ix.

79 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 149, The Thirty-Fifth Event, The murder of the Shah.

80 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 200.

**Chapter 10: A War for No Wise Purpose**

1 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, pp. 158–9.

2 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 209.

3 Ibid., p. 210.

4 Quoted in Stewart, *Crimson Snow*, p. 179.

5 Seaton, *From Cadet to Colonel*, pp. 210–11.

6 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 162.

7 Charles Rathbone Low, *The Life and Correspondence of Field Marshal Sir George Pollock*, London, 1873, p. 276.

8 Lieutenant John Greenwood, *Narrative of the Late Victorious Campaign in Afghanistan under General Pollock*, London, 1844, p. 169.

9 Charles Rathbone Low, *The Journal and Correspondence of Augustus Abbott*, London, 1879, p. 315.

10 Ibid., p. 306.

11 BL, OIOC, Mss Eur F89/54, Broadfoot to Lord Elphinstone, 26 April 1842.

12 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. II, p. 35.

13 Quoted by Hopkirk, *The Great Game*, p. 273.

14 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. II, p. 57.

(c) ketabton.com: The Digital Library

15 Low*, The Journal and Correspondence of Augustus Abbott*, p. 320.

16 Ibid., p. 317.

17 Ibid., pp. 318–19.

18 Greenwood, *Narrative of the Late Victorious Campaign*, pp. 173–4.

19 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 215.

20 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 185.

21 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 203.

22 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 187.

23 Ibid., p. 197.

24 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 211.

25 BL, OIOC, Mss Eur F89/54, Broadfoot to Lord Elphinstone, 26 April 1842.

26 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 190.

27 Ibid., p. 194.

28 Gupta, *Panjab, Central Asia and the First Afghan War*, pp. 198–9.

29 BL, OIOC, ESL 86: no. 30 of no. 14 of 17 May 1842 (IOR/L/PS/5/167), Lal to MacGregor, 10 April 1842.

30 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, pp. 217, 254.

31 Kaye, *History of the War in Afghanistan*, vol. III, pp. 453–5.

32 Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 53.

33 NAI, Foreign, Secret Consultations, December 1842, no. 480–82, Mohan Lal's Memorandum of 29 June enclosed with a letter from General Pollock, Commanding in Afghanistan, to Maddock, Secretary to the Governor General, dated Jelalabad, 10 July 1842.

34 Ibid.

35 Barfield, *Afghanistan: A Cultural and Political History*, pp. 125–6.

36 Fayz Mohammad, *Siraj al-Tawarikh*, vol. I, p. 284.

37 Quoted in Allen, *Soldier Sahibs*, p. 47.

38 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. II,pp. 316–17.

39 Gupta, *Panjab, Central Asia and the First Afghan War*, p. 186.

40 Ibid., p. 187.

41 Fisher, 'Mohan Lal Kashmiri (1812–77)', p. 249.

(c) ketabton.com: The Digital Library

42 Gupta, *Panjab, Central Asia and the First Afghan War*, p. 189. Mohan Lal's conversion to Islam is recorded in the *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 282: 'An Indian munshi disobeyed this order by delivering small quantities of powder to the Bala Hisar. When it was discovered, Sardar Muhammad Akbar Khan had the man jailed. After his imprisonment, the Indian converted to Islam and was immediately freed'. Mohan Lal had long used a Shia alias and his conversion may have been part of a much longer game of double identity that he had been playing for several years.

43 BL, OIOC, ESL 88: no. 28 of no. 32 of 17 August 1842 (IOR L/PS/5/169), Pollock to Maddock, 11 July 1842.

44 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. II,pp. 79–84, 109–10.

45 Ibid., p. 43.

46 The Rev. I. N. Allen, *Diary of a March through Sindhe and Afghanistan*, London, 1843, p. 216.

47 Ibid., p. 217.

48 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 209.

49 Greenwood, *Narrative of the Late Victorious Campaign in Afghanistan under General Pollock*, pp. 191–2.

50 Seaton, *From Cadet to Colonel*, p. 221.

51 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 169.

52 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, p. 136.

53 Allen, *Diary of a March through Sindhe and Afghanistan*, pp. 241–2.

54 BL, OIOC, Mss Eur 9057.aaa.14, 'Nott's Brigade in Afghanistan', Bombay, 1880, p. 81.

55 Stocqueler, *The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott*, vol. II, p. 126.

56 Romila Thapar, *Somanatha: The Many Voices of a History*, New Delhi, 2004, pp. 174–5.

57 Yapp, *Strategies*, p. 443.

58 Rawlinson, *A Memoir of Major-General Sir Henry Creswicke Rawlinson*, p. 132.

59 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 244–69, The second coming of the English to Kabul and Ghazni.

60 BL, OIOC, ESL 88: no. 36 of no. 32 of 17 August 1842 (L/PS/5/169), Pollock to Maddock, 14 July 1842.

61 Josiah Harlan, *Central Asia: Personal Narrative of General Josiah Harlan, 1823–41*, ed. Frank E. Ross, London, 1939, p. 228.

62 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 210.

63 Mackenzie, *Storms and Sunshine,* vol. I, p. 187.

64 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 260.

65 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 189.

(c) ketabton.com: The Digital Library

66 Private Collection, The Mss Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 98, entry for 29 August 1842.

67 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 220.

68 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 348–54, The march to Bamiyan to release the prisoners.

69 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 272.

70 Private Collection, The Mss Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 111, entry for 14 September 1842.

71 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 141, The Thirty-Fifth Event, p. 147, The fate of Princes Shahpur and Timur.

72 Fayz Mohammad, *Siraj al-Tawarikh*, vol. I, p. 284.

73 Low*, The Journal and Correspondence of Augustus Abbott*, p. 349. For Fatteh Jang's alleged penchant for homosexual rape, see Yapp, *Strategies*, p. 318.

74 BL, OIOC, ESL 90: no. 30 of no. 52 of 19 November 1842 (IOR/L/PS/5/171), Pollock to Maddock, 21 October 1842.

75 Greenwood, *Narrative of the Late Victorious Campaign in Afghanistan under General Pollock*, p. 212.

76 Ibid., p. 213.

77 Ibid., p. 222.

78 Ibid., pp. 213–14.

79 Ibid., p. 223.

80 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, p. 273.

81 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 190.

82 Sale, *A Journal of the Disasters in Afghanistan*, pp. 275–6.

83 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 191.

84 National Army Museum, NAM 9007–77, Ensign Greville G. Chetwynd Stapylton's Journal, entry for 21 September 1842.

85 Rattray, *The Costumes of the Various Tribes*, p. 16.

86 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, pp. 142, 152.

87 Private Collection, Journal of Captain Hugh Johnson, Paymaster to Shah Soojah's Force, p. 116, entry for 21 September 1842.

88 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 194.

89 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 88.

(c) ketabton.com: The Digital Library

90 Joseph Pierre Ferrier, *A History of the Afghans*, London, 1858, p. 376.

91 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, pp. 143–9.

92 Sultan Mohammad Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, p. 280.

93 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 244–69, The second coming of the English to Kabul and Ghazni.

94 Hopkins, *The Making of Modern Afghanistan*, p. 69.

95 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, p. 151.

96 Greenwood, *Narrative of the Late Victorious Campaign in Afghanistan under General Pollock*, p. 243.

97 NAI, Foreign, Secret Consultations, 3 May 1843, no. 20, A. Abbott to Ellenborough, 29 March 1843.

*98 Low, The Life and Correspondence of Field Marshal Sir George Pollock,p 415*

*99 Stocqueler, The Memoirs and Correspondence of Sir William Nott, vol. II, p 163*

100 Mohan Lal, *Life of Dost Mohammad*, vol. II, p. 490.

101 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 254–69, The return of Amir Dost Muhammad Khan to Kabul.

102 Yapp, 'The Revolutions of 1841–2 in Afghanistan', p. 483.

103 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 194.

104 Ibid., vol. II, p. 30.

105 Allen, *Diary of a March through Sindhe and Afghanistan*, pp. 321, 325.

106 Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, pp. 82–4; Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, p. 152.

107 *Waqi'at-i-Shah Shuja*, p. 149, The Thirty-Fifth Event, The murder of the Shah.

108 Allen, *Diary of a March through Sindhe and Afghanistan*, p. 326.

109 The text of the Simla Proclamation is given in full in Norris, *First Afghan War*, pp. 451–2.

110 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 254–69, The return of Amir Dost Muhammad Khan to Kabul.

111 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, p. 154.

112 Ibid., p. 155.

113 Allen, *Diary of a March through Sindhe and Afghanistan*, p. 344.

114 BL, OIOC, BSL (1) 27,873, Governor General to Secret Committee 48/, 19 October 1842.

115 Allen, *Diary of a March through Sindhe and Afghanistan*, p. 352.

116 Allen, *Soldier Sahibs*, pp. 53–5.

117 I have written at length about John Nicholson's psychopathic behaviour in 1857 in my *The Last Mughal: The End of a Dynasty, Delhi 1857*, London, 2006.

118 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, p. 158.

(c) ketabton.com: The Digital Library

119 Allen, *Diary of a March through Sindhe and Afghanistan*, p. 359.

120 Forrest, *Life of Field Marshal Sir Neville Chamberlain*, p. 158.

121 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 198.

122 Ibid.

123 Ibid., p. 194.

124 BL, OIOC, HM/434, Nicholls Papers, Nicholls's Journal, vol. 40, 7 January 1843. See also Pottinger, *The Afghan Connection*, pp. xi-xii.

125 Mirza 'Ata, *Naway Ma'arek*, pp. 244–69, The second coming of the English to Kabul.

126 Lawrence, *Reminiscences of Forty Three Years in India*, p. 12.

127 Royal Geographical Society, Rawlinson Papers, HC4, Masson Diary, entry for 1 December 1839.

128 BL, OIOC, Mss Eur E162, letter 4.

129 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. I, p. 199.

130 Pottinger and Macrory, *The Ten-Rupee Jezail*, p. 167.

131 Eden, *Up the Country*, p. xix.

132 *The Times*, 25 October 1844.

133 See Michael Fisher's excellent essay 'Mohan Lal Kashmiri (1812–77)', in Margrit Pernau (ed.), *The Delhi College*, pp. 231–66. See also Gupta, *Panjab, Central Asia and the First Afghan War.* The book has an admiring introduction by the young Jawaharlal Nehru.

134 NAI, Foreign, Secret Consultations, 29 March 1843, no. 91, From the Envoy to the Court of Lahore, Ambala, 4 March 1843.

135 NAI, Foreign, Secret Consultations, 23 March 1843, no. 539, From Colonel Richmond, Camp Rooper, 18 December 1843.

136 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. II, pp. 27, 29.

137 NAI, Foreign, Secret Consultations, 23 March 1843, no. 539, From Colonel Richmond, Camp Rooper, 18 December 1843.

138 Aziz ud-Din Popalzai, *Durrat uz-Zaman*, Kabul, 1959, ch. The Private Life of Zaman Shah from His Dethronement till His Death.

139 Robert Warburton, *Eighteen Years in the Khyber 1879–1898*, London, 1900, p. 8.

140 Noelle, *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan*, p. 57.

(c) ketabton.com: The Digital Library

141 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 198. See also NAI, Foreign, Secret Consultations, 23 March 1843, no. 531, From Colonel Richmond, Agent of the Governor General in the North West Frontier, Ludhiana, 27 November 1843.

142 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. II, p. 33.

143 BL, OIOC, ESL no. 20 of 3 March 1847 (IOR L/PS/5/190), Lawrence to Curvie, 29 February 1847.

144 Mackenzie, *Storms and Sunshine*, vol. II, p. 23.

145 Ibid., p. 32.

146 Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, vol. I, p. 297.

147 NAI, Foreign, Secret Consultations, 23 March 1844, no. 531, From Colonel Richmond, Agent of the Governor General in the North West Frontier, Ludhiana, 27 November 1843.

148 Barfield, *Afghanistan: A Cultural and Political History*, p. 127.

149 *The Letters of Queen Victoria: A Selection from Her Majesty's Correspondence between the Years 1837 and 1861*, ed. Arthur C. Benson and Viscount Esher, vol. II: *1844–1853*, London, 1908.

150 James Howard Harris Malmesbury, *Memoirs of an Ex-Minister: An Autobiography*, London, 2006, vol. I, entry for 6 June 1844, pp. 289–90.

151 Quoted by Figes, *Crimea*, p. 68.

152 Ibid., pp. 61–70.

153 I'd like to thank Michael Semple for pointing this out ot me.

**Author's Note**

1 Gleig, *Sale's Brigade in Afghanistan*, p. 182.

2 J. A. Norris, *The First Afghan War 1838–1842*, Cambridge, 1967, p. 161.

3 Sherard Cowper-Coles, *Cables from Kabul: The Inside Story of the West's Afghanistan Campaign*, London, 2011, p. 289–90.

4 BL, Broughton Papers, Add Mss 36474, Wade to the Governor General,31 January 1839.

5 The one striking exception to this is Christine Noelle's remarkable *State and Tribe in Nineteenth-Century Afghanistan: The Reign of Amir Dost Muhammad Khan (1826–1863)*, London, 1997, but its treatment of the First Afghan War is very brief and she has accessed only a small number of the available Dari sources for the period.

6 Munshi Abdul Karim, *Muharaba Kabul wa Kandahar*, Kanpur, 1851, Introduction.

7 In his *Chants Populaires des Afghans*, Paris, 1888–90, p. 201, James Darmesteter mentions a whole body of song and poetry about the war, and adds that Muhammad Hayat sent him a collection from the war, but that it hadn't arrived by the time of publication.

(c) ketabton.com: The Digital Library

8 Maulana Hamid Kashmiri, *Akbarnama. Asar-i manzum-i Hamid-i Kashmiri*, written c.1844, published Kabul, 1330 AH/1951, preface by Ahmad-Ali Kohzad, ch. 34.

9 Muhammad Asef Fekrat Riyazi Herawi, *'Ayn al-Waqayi: Tarikh-i Afghanistan*, written c.1845, pub. Tehran 1369/1990; Sultan Mohammad Khan ibn Musa Khan Durrani, *Tarikh-i-Sultani*, began writing on 1 Ramzan 1281 AH (Sunday 29 January 1865) and published first on 14 Shawwal 1298 AH (Friday 8 September 1881), Bombay; Fayz Mohammad, *Siraj ul-Tawarikh*, pub. Kabul, 1913, trans. R. D. McChesney (forthcoming).

10 Muhammad Hasan Amini, *Paadash-e-Khidmatguzaari-ye-Saadiqaane Ghazi Nayab Aminullah Khan Logari* (The Letters of Ghazi Aminullah Khan Logari), Kabul, 2010.

11 Mirza 'Ata Mohammad, *Naway Ma'arek* (The Song of Battles), pub. as *Nawa-yi ma'arik. Nuskha-i khatt-i Muza-i Kabul mushtamal bar waqi'at-i 'asr-i Sadoza'i u Barakza'i, ta'lif-i Mirza Mirza 'Ata'-Muhammad*, Kabul, 1331 AH/1952.

12 Shah Shuja ul-Mulk, *Waqi'at-i-Shah Shuja* (Memoirs of Shah Shuja) written in 1836, supplement by Mohammad Husain Herati 1861, published as *Waqi'at-i Shah-Shuja. Daftar-i avval, duvvum: az Shah-Shuja. Daftar-i sivvum: az Muhammad-Husain Harati*, Kabul, 1333 AH/1954 (*Nashrat-i Anjuman-i tarikh-i Afghanistan*, No. 29) [pub. after the text of the Kabul manuscript, without notes or index, with a preface by Ahmad-'Ali Kohzad].

13 Robert Burns, 'To a Louse', *The Collected Poems*, London, 1994.

14 Kashmiri, *Akbarnama*, ch. 10.

15 Ibid., ch. 32.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**